وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ

تفسیر

جواهر القرآن پښتو

مع ترمیم و اضافه

شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب رحمة الله علیه

وحیدی کتب خانه
پشاور

القرآن الحکیم

مع

تفسیر جواهر القرآن پښتو

از افادات شیخ التفسیر حضرت مولانا حُسین علی صاحب رحمة الله علیه

ترجمه شیخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن صاحب دیوبندی رحمة الله علیه

مع

ترمیم و اضافه

شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب رحمة الله علیه

فوائد موضح قرآن :- از مولانا شاه عبد القادر صاحب محدث دهلوی رحمة الله علیه

فوائد فتح الرحمٰن :- از مولانا شاه ولی الله صاحب محدث دهلوی رحمة الله علیه

⑯ شپاړسمه - ⑰ ولسمه - ⑱ اتلسمه - ⑲ نورلسمه - ⑳ شلمه

وحیدی کتب خانه

قصه خوانی بازار پشاور ——— فون نمبر ۲۵۶۲۹۹۱

موبائیل نمبر ——— ۰۳۰۰-۹۵۹۶۱۵۰

خلورم جلد

د کتاب نوم ـــــــــــــــ تفسیر جَوَاهِرُ الْقُرْآن

مع ترمیم و اضافه ـــــــــ شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب

پښتو مترجم ـــــــــــــــ مولانا عبد المالک صیب

د قرآن مصحح ـــــــــــــــ قاری عبد الله

د تفسیر او ترجمے مصحح ـــــ مولانا عبد اللطیف سکندر فاضل جامعه بنوریه ټاون کراچي

د کاتب نوم ـــــــــــــــ ارقم جان (چارسده روډ) بخشي پل کلے خدو خیل

ـــ ناشر ـــ

وحیدی کُتب خانه

قصه خوانی پیښور ښار

فون نمبر ـــــــــ ۲۵۶۴۹۹۱

موبائیل نمبر ـــــ ۰۳۰۰ ـــ ۹۵۹۶۱۵۰

قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ

وے وئیل آیا ما تاته نه وو وئیلی چه ته به یا تے نه شے

مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٥﴾ قَالَ اِنْ سَاَلْتُكَ عَنْ

ما سره . وے وئیل که تاته رم تپوس اوکړو د څه

شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصٰحِبْنِيْ ۚ قَدْ بَلَغْتَ

خیز د دے نه پس نو ما د ځان سره مه پریږده تا کوز کړے وے

مِنْ لَّدُنِّيْ عُذْرًا ﴿٧٦﴾ فَانْطَلَقَا ۠ حَتّٰۤى

ځما د اړخه الزام . بیا دواړه روان شول تر دے

اِذَآ اَتَيَآ اَهْلَ قَرْيَةِ ِۨ اسْتَطْعَمَآ اَهْلَهَا

چه کله اورسیدل د یو کلی خلقو پورے لګه روټئ ئے اوغوښتله د هغه ځائے د خلقو نه

فَاَبَوْا اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا فَوَجَدَا فِيْهَا

هغوئ اونه منله چه هغوئ ته میلمستیا ورکړی بیائے موندلو هلته

جِدَارًا يُّرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ فَاَقَامَهٗ ؕ

یو دیوال چه راغورځیدلو هغه ئے برابر اودرولو ،

قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا ﴿٧٧﴾

اوئیل موسیٰ که چرے تا غوښتلے وے نو اخستے به دے وے پدے مزدوری فا .

قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ وَبَيْنِكَ ۚ سَاُنَبِّئُكَ

وے وئیل اوس جدائی ده ځما او ستا مینځ کښ اوس به تاته خبر درکوم

بِتَاْوِيْلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٧٨﴾

په غرض د هغه خبرو په کوم چه اونکړے شو تا صبر فا .

نکات: سا در یمه واقعه ١٢-

موضح قرآن ف۱ یعنې د کلي خلقو د مسافرو حق اُو ته پیژندلو چه میلمستیا ورکړې د هغوئ د دیوال جوړولو څه ضرورت وو. ف۲ دا محل موسیٰ علیه السلام قصدًا تپوس اُوکړو چه رخصت شي پوهه شو چه دا علم څما له ذوق سره موافق نهٔ دے. د حضرت موسیٰ علیه السلام علم هغه وو چه په هغې کښې خلق د هغهٔ پیروي اُوکړي نو په هغې کښې به ئے فائده وي او د حضرت خضر علم هغه وو چه نورو خلقو د هغې پیروي نهٔ شوه کولے

تفسیر: ۵۸ دا دریمه واقعه ده دواړه یو کلي ته اُورسیدل اُوږي شوي وو د دے وجے نه ئے د کلي خلقو نه روټئ اُوغوښتله لیکن هغوئ د روټئ ورکولو نه انکار اُوکړو هلته هغوئ یو دیوال اُولیدو چه ډیر زوړ او یو طرف ته کوږ شوے وو لکه چه را غورځیدلو. حضرت خضر علیه السلام هغه دیوال صحیح کړو. د حضرت موسیٰ علیه السلام په زړهٔ کښې خیال راغے چه د کلي والؤ خو روټئ نهٔ ده راکړے د دیوال مزدوري به دې ترینه اخستے وے دا خبره هغوئ حضرت خضر علیه السلام ته اُوکړه دے باندے هغوئ اُوئیل بس اُوس څما او ستا سو د جدائۍ وخت راغلے دے او اُوس به زهٔ تا ته اُوښایم چه د دے دریواړو واقعاتو حقیقت څهٔ دے چه د نهٔ پیژندلو په وجه تاسو د هغې کتلو سره صبر او تحمل نه کار وانخستلو.

أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِينَ يَعْمَلُونَ

هغهٔ کشتئ چه کومه وه څه نو د څو محتاجانو وه چه محنت به ئے کولو

فِي الْبَحْرِ فَأَرَدتُّ أَنْ أَعِيبَهَا وَكَانَ

په دریاب کښې نو ما اُوغوښتل چهٔ هغهٔ عیبجنه کړم او د

وَرَآءَهُم مَّلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ

هغوئ نه روستو یو بادشاه وُو چه نیوله به ئے هره یو کشتئ

غَصْبًا ﴿٧٩﴾ وَأَمَّا الْغُلٰمُ فَكَانَ أَبَوٰهُ

په زور. او کوم هلک چهٔ وُو نو وو د هغهٔ مور پلار

مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَآ أَن يُرْهِقَهُمَا

ایمان والا بیا خو ونیرو سره خطره وه چه هغوئ عاجز کړی

طُغْيَانًا وَكُفْرًا ﴿٨٠﴾ فَأَرَدْنَآ أَن يُبْدِلَهُمَا

زبردستئ سره او کافران ئے کړی ۴ بیا موږ او غوښتل چه بدله ورکړی هغوئ ته

رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَوٰةً وَأَقْرَبَ

د هغوئ رب بهتره د دینه په پاکوالی کښ او ډیر زیات نزدے

رُحْمًا ﴿٨١﴾ وَأَمَّا ٱلْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَٰمَيْنِ

په شفقت کښ ۵. او هغه دیوال چه وو نو وو د دوو هلکانو

يَتِيمَيْنِ فِى ٱلْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُۥ

یتیمانو په دے ښار کښ او د هغے د لاندے

كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا ج

مال خښ کړے شوے وو او وو د هغوئ پلار نیک

فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَآ أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا

بیا او غوښتل رب ستا چه هغوئ اورسیږی خپلے ځوانئ ته او را او باسی

كَنزَهُمَا صلے رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ج وَمَا فَعَلْتُهُۥ

خپل خښ کړے شوے د مهربانئ د رب خپل سره او ما دا او نکړل

عَنْ أَمْرِى ط ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع

خپل حکم سره ۳ څه ، دا دے غرض د هغه څیزونو په کوم چه ته اکیدے

عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾ ط وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ع ۱۱

ستا نه صبر ۶. او تپوس کوی ستا نه څه د

ٱلْقَرْنَيْنِ ط قُلْ سَأَتْلُوا۟ عَلَيْكُم مِّنْهُ

ذوالقرنین ، اوایه اوس لولم ستاسو په مخکښ د هغه څه

ذِكْرًا ﴿٨٣﴾ إِنَّا مَكَّنَّا لَهُ فِي الْأَرْضِ وَ

احوال ف۳۔ مونږ طاقت ورکړے وُ هغهٔ ته په ملک کښ ﴿٨٤﴾ او

آتَيْنَاهُ مِن كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾

ورکړے وو مونږ هغهٔ ته دَ هر څيز سامان۔

فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾

بيا روان شو په يوه لاره ف۵۔

نکات: سل دَ اولے واقعے حکمت ۱۲۔ سلا دَ دويمے واقعے حکمت ۱۲۔ سلا دَ دريمے واقعے حکمت ۱۲۔ سک دَ څلورمے جواب ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ يعنی که چرے هغه لوئے شوے وے نو شری او بد ذات به وے نو هغهٔ سره به دَ هغهٔ مور پلار خراب شوے وے دَ ځينے خلقو بنياد خراب وی او دَ ځينو خلقو فطرت نيک وی لکه تره او بادرنګ ځينے خوږ وی ځينے تريخ اګرچه په اصل کښ تره او بادرنګ خوږ وی دا شان دَ انسان فطرت هم په اصل کښ بهتر دے۔ خرابيدل او سره ځينے ميوه ترخه را ووځی دَ دے علم الله ته دے۔ پيغمبر اُوفرمائيل دَ هر انسان بنياد (فطرت) مسلمانئ باندے دے هم دا معنٰی پيژندل پکار دی۔ ف۲ دَ دغه مور پلار په کور کښ روستو يوه لور پيدا شوه يو نبی سره ئے نکاح اُوشوه او دَ هغے نه يو نبی پيدا شو چه يو اُمت قائم شو۔ ف۳ يعنی کوم کار چه دَ خدائے په حکم ضروری دے په هغے مزدوری نشته۔ يعنی وړاندے ئے قصه ذکر کړه دَ ذوالقرنين بادشاه دا هم ډيهوديانو په ښودنه دَ مکے خلقو تپوس کولو دَ پيغمبر دَ امتحان اخستلو دپاره لکه چه دَ اصحاب کهف قصه۔ ف۴ دے بادشاه ته ذوالقرنين وائی ځکه چه دَ دنيا دواړو سرو ته يادے ګرځيدلے وو په مشرق او په مغرب باندے۔ ځينے وائی دالقب دے دَ سکندر۔ او ځينے وائی يو بادشاه دے نيک الله متونکے چه مخکښ تير شوے دے۔ ف۵ يعنی سفر به آخر ته رسوی ۱۲۔

تفسير: سلکه دا دَ اولے واقعے حکمت دے حضرت خضر اُوئيل دَ دے کشتئ مالک ډير زيات غريب او مسکين وو او صرف دا کشتئ دَ هغوئ دَ معاش ذريعه وه۔ دَ وخت بادشاه ظالم وو چه

هره روغه بې عیبه کشتۍ به ئې په ظلم زبردستۍ اخستله. د دې وجې نه ما د کشتۍ سوري کړه عیب م په کښ پیدا کړو چه بادشاه ئې وانخلي. وَاَمَّا الْغُلٰمُ الخ دا د دویم واقعې حکمت دے یعنې ما غلام (هلک یا ځوان) ځکه مړ کړو چه هغه بد عمله او کافر کیدونکے وو یا هغه موجود وخت کښ بد عمله او کافر وو لیکن د هغهٔ مور پلار نیکان صالحان او مؤمنان وو نو ځموږ سره داویره ده چه کۀ چرې هغه زوند ے پاتې وې نو کفر او سرکشۍ سره به هغوئ تنګوي. د دې وجې نه موږ اراده اوکړه چه الله تعالیٰ به هغوئ ته د دۀ په بدله کښ د دۀ نه ښهٔ ځوئے ورکړي چه د دینداري په اعتبار سره او په اعتبار د شفقت او مهربانۍ سره به ډیر زیات بهتر وي. وَاَمَّا الْجِدَارُ الخ دا د دریم واقعې حکمت دے دا دیوال د دوؤ یتیمانو بچو وو چه پلار ئې ډیر نیک وو او د دغه دیوال ته لاندې د هغوئ خزانه خښه وه کۀ چرې دیوال غورځیدلے وے نو خزانه به ښکاره شوې وې او خلقو به وړې وې. د دې وجې نه الله تعالیٰ اوغوښتل چه دواړه بچي لوئې شي نو خپله خزانه به په خپل استعمال کښ راولي. د دې وجې نه ئې ما ته د دیوال برابرولو حکم اوکړو.

۳۳ کله دې دریواړو حادثو کښ ما چه څهٔ کړي دي په خپله خوښه او اختیار م نهٔ دي کړي او نهٔ د دې خبرو ما ته بذاتِ خود علم وو بلکه دا خبرې ما ته الله اوښودلې او ما چه څهٔ کړیدي ټول م د الله په حکم کړیدي دا دے د هغه واقعاتو اصلي حکمت او حقیقت د کوم د نهٔ پیژندلو د وجې نه چه تا سو د صبر او ضبط نه کار وانهٔ خستو وَمَا فَعَلْتُهٗ عَنْ اَمْرِيْ ای عن رأی واجتهادی (روح ج ۱۶ ص ۱۲) دا د دریم شبهې اصل جواب دے.

د څلورمې شبهې جواب

۳۴ کله دا د څلورمې شبهې جواب دے. شُبه دا وه چه ذوالقرنین ته الله تعالیٰ لوئې قدرت او طاقت ورکړے وو لکه چه پخپله ئې قرآن کښ هم اوفرمائیل اِنَّا مَكَّنَّا لَهٗ فِي الْاَرْضِ وَاٰتَيْنٰهُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا، دې باندې شبه کیدله چه ذوالقرنین متصرف فی الامور وو نو د هغې جواب ئې ورکړو چه هغهٔ ته کوم طاقت ورکړے شوے وو هغه صرف د ظاهري اسبابو لاندې وو او هغه هم د ضرورت په اندازه وو. لیکن په ما فوق الاسبابو کارونو کښ هغه په هیڅ څیز قادر نهٔ وو او د ظاهري اسبابو په اعتبار سره هم هر طرف ته عاجز راغې مشرق کښ د ګرمۍ په وجه او په مغرب کښ د دلدل (چقړو) د وجې نه او په شمال کښ د یاجوج ماجوج د وجې نه. یَسْـَٔلُوْنَكَ، هغوئ

ستاسو نه سوال کوی. په ظاهره دا سے معلومیږی چه د ذوالقرنین باره کښې هم د نبی علیه السلام نه سوال کړے شوے وو چه د هغې په جواب کښې آیتونه نازل شول اوکۀ په واقعه کښې سوال نۀ وے شوے نو مطلب به داوی وَاِنْ يَسْـَٔلُوْنَكَ يعنی کۀ چرے هغوئ ستاسو نه د ذوالقرنین باره کښې سوال اوکړی نو تاسو دا جواب ورکړئ.

۸۵ مونږ هغۀ ته په زمکه کښې قدرت او طاقت ورکړو او هغۀ ته مونږ بادشاهی ورکړه مِنْ كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا دلته كُلِّ استغراق حقیقی د پاره نۀ دے بلکه استغراق اضافی د پاره دے او د دینه صرف مُلکی مهمات او مقاصد مراد دی د کوم د سرته رسولو چه ذوالقرنین اراده کړے وه او هغه اُمور وو ته کوموته چه د ملک په اصلاح کښې هغۀ د پاره ضرورت وو من كل شئ سببًا ارادة من مهمات ملكه ومقاصده المتعلقة بسلطانه (روح ج ۱۶ ص ۳۱) وَالمراد به اٰتينٰه من كُلِّ شئ يحتاج اليه فى الاصلاح ملكه سَبَبًا (کبیر ج ۵ ص ۶۵۶) او د اسبابو نه اسباب عادیه مراد دی والمراد بذٰلك الاسباب العادية (روح) نو دینه معلومه شوه چه ذوالقرنین ته نۀ کلی طور باندے اختیار او تصرف حاصل وو او نۀ ما فوق الاسباب اُمورو باندے قدرت او طاقت حاصل وو.

حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا

تر دے چه اورسیدلو د ډوبیدلو د نمر ځائے ته بیا ئے موندلو لګه

تَغْرُبُ فِیْ عَیْنٍ حَمِئَةٍ وَّوَجَدَ عِنْدَهَا

چه هغه ډوبیږی په چینه د خټو کښې ملے او بیا ئے موندل هغې سره

قَوْمًا ۬ قُلْنَا یٰذَا الْقَرْنَیْنِ اِمَّاۤ اَنْ

خلق وو، مونږ اُووئیل اے ذوالقرنین لګه یا خو

تُعَذِّبَ وَاِمَّاۤ اَنْ تَتَّخِذَ فِیْهِمْ حُسْنًا ﴿۸۶﴾

نۀ خلقو ته تکلیف ورکړې او یا کیدے په دوئی کښې بو ښۀ صفت ملے ۲

قَالَ اَمَّا مَنْ ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهٗ

وے وئیل څوک چه وی بے انصاف نو مونږ به هغۀ ته سزا ورکړو

ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِ فَيُعَذِّبُهُ عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾

بیا به واپس کړے شي خپل رب طرفته هغهٔ به عذاب ورکړي هغهٔ ته عذاب بد .

وَأَمَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُ

او څوک چه ایمان راوړي او کارونه نیک اوکړي نو د هغهٔ

جَزَاءً الْحُسْنَىٰ ۖ وَسَنَقُولُ لَهُ مِنْ أَمْرِنَا

بدله ده نیکي او مونږ به حکم ورکړو هغهٔ ته په خپل کار کښ

يُسْرًا ﴿٨٨﴾ ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ

د آسانئ ف بیا روان شو په یوه بله لاره ف تر دے چه اُورسیدلو

مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ

ځائے د راختلو د نمر ته ف بیائے موندلو هغه چه راخیژي په یو قوم باندے

لَّمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾

چه نه وه گرځولے مونږ د هغوئ د پاره د نمر نه یوه پرده ف .

كَذَٰلِكَ وَقَدْ أَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿٩١﴾

هم داشان وو، او څمونږ په قابو کښ راغلي دے د هغهٔ خبر ف .

ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ بَيْنَ

بیا روان شو په یوه بله لاره . تر دے چه اُورسیدلو مینځ

السَّدَّيْنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوْمًا

د دوؤ غرونو ته ف بیائے موندل وړاندے د دغه غرونو نه داسے خلق

لَّا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ قَوْلًا ﴿٩٣﴾

چه نه وو نزدے چه پوهه شي په خبره ف .

موضح قرآن

ف د ذوالقرنین شوق پیدا شو چه اُوگوري د دُنیا
ابادي تر کوم ځائے رسیدلے ده نو د مغرب طرفته

هغه ځائے ته اُورسید وچه چقرې وے نه انسان تلے شو او نه کشتئ،
دَ الله تعالیٰ دَ ملک حد ئے بیا نه مونده و. **ف۲** هغه ته ئے دا اُوئیل یعنی
مونږ. دَ دوارو خبرو قدرت ورکړو. هر بادشاه ته هر حاکم ته قدرت
ورکولے شي. خواه هغه خلق آزاروي یا دَ خپلے نیکئ ذکر باقي پرېږدي.
ف۳ حاکم چه عادل وي دَ هغهٔ هم دا کار وي چه بدکاروته سزا ورکړي
دَ بدئ، او دَ نیکانو سره نرمي اوکړي هغهٔ دا خبره اُوکړه او طریقه ئے اختیار
کړه. **ف۴** یعني دَ بل سفر شروع ئے اُوکړه. **ف۵** کیدے شي چه هغه خلق
ځنګلیان شان وي چه کور جوړول او چتوته اچول دَ هغوئ دستور
نه وو. **ف۶** تاریخ والاکیدے شي دے ځائے کښ نور څه وائي او په
حقیقت کښ دومره وي څومره چه ئے بیان کړل. **ف۷** یعني دَ یو بل
په ژبه نه پوهیدل او دوه مانع او حائیل دوه غرونه وو په دغه ملک کښ
او دَ یاجوج ماجوج په ملک کښ هم دا دوه غرونه حائیل وو. په هغے ختل
ممکن نه وو لیکن په مینځ کښ یو کولا ؤ کنډاؤ وو په هغه لار به یاجوج
ماجوج راتلل او خلق به ئے لوټ کول او تلل به.

فتح الرحمٰن **ف۱** یعني په اعتبار دَ سرو ۱۲ **ف۲** او دا کنایه ده
دَ هغه دَ قدرت نه پدے دوؤ کارونو.

تفسیر: **۸۶** دا دَ ذوالقرنین دَ مغربي مُهم ذکر دے هغه دَ مغرب
جانب ته دومره لرے لاړو چه اُوس زیات ځکښ تللو ته
دَ چقرو یو اُوګد اوپلن سمندر هغه منع کړو او دَ مغرب جانب کښ
ګویا چه هغه دَ زمکے منتهٰی ته اُورسیدو ځکه چه دَ دغه چقرو نه ځکښ
تلل او وتل ممکن نه وو کله چه به نمر ډوبیدلو نو داسے به معلومیدلو
چه هغه په چقرو کښ پټیږي. حَمِئَةٍ. اي ذات حمأة. دَ حمأة معنی چقړے
دي عَيْنٍ حَمِئَةٍ. دَ چقرو چینه مراد تربینه چقړے دي یو قوم دَ دے
چقرو والا دَ سمندر په غاړه اباد وو.
۸۷ دَ ذوالقرنین دَ نبوت باره کښ اختلاف دے ځنو وئیلي دي چه
هغه دَ حضرت سلیمان علیه السلام په شان بادشاه وو او نبي وو او دَ
ځنو قول دے چه هغه ولي وو. په اول صورت کښ دا خطاب دَ وحي په
ذریعه دے او دویم صورت کښ دَ الهام په ذریعه. مَنْ ظَلَمَ چا چه
زما دعوت قبول نه کړو او په شرارتونو ولاړ پاتے شو. لم یقبل
دعوتي و اصر علی ما کان علیه من الظلم العظیم الذي هو الشرك (روح
ج ۱۶ ص۳۴). **۸۸** دا دَ مشرقي مُهم بیان دے کله چه ذوالقرنین دَ مشرق
منتهٰی ته اُورسیدو چه دَ هغے نه ځکښ تلل ممکن نه وو هلته هغهٔ داسے

قوم أولین وچه د ښو اخلاقو او انسانی ژوند نه ډیر لري وو او د هغوئ عادت کپړے اغوستل او کور ونه جوړول نهٔ وو. د یخنئ او گرمئ نه د بچ کیدلو د پاره به ئے غارونو کښ پناه اخستله. وَقَدْ أَحَطْنَا الخ د ذوالقرنین سره چه کوم لښکر، سازوسامان او د جنګ الات وو څومونږ علم په هغه ټولو څیزونو احاطه کوونکے دے دا ټول هرڅهٔ مونږ هغوئ ته ورکړی وو کوم څهٔ چه مونږ هغهٔ ته ورکړی وو هغه صرف هم هغه څهٔ وو او په هغے کښ هغهٔ تصرّف کولو د هغے نه علاوه هغهٔ ته هیڅ تصرّف او قدرت حاصل نهٔ وو. ۹۲ دا د ذوالقرنین د دریم مهم بیان ذکر دے متعلق د عامو مفسرینو رائے دا ده چه دا سفر د شمال طرف ته وو. السَّدَّیْنِ (دوه دیوالونو نه) هغه دوه غرونه مراد دی چه د کومو په مینځ کښ دره وه او د هغے نه یاجوج ماجوج بهر علاقے ته راتلل فساد به ئے کولو. مِنْ دُوْنِهِمَا، د دے دواړو غرونو نه وړاندے یو قوم آباد وو چه د هغوئ ژبه بالکل جُدا وه هغوئ د ذوالقرنین په ژبه نهٔ پوهیدل او نهٔ ذوالقرنین د هغوئ په خبره پوهیدو. قال ابن عباس لا یفهمون کلام احد ولا یفهم الناس کلامهم (خازن ج ۴ ص۱۸۶).

قَالُوْا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِنَّ يَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ

وے وئیل اے ذوالقرنین تحقیق دا یاجوج / ماجوج

مُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ

فساد کوونکی دی په ملک کښ نو آیا حکم کوئ چه مقرر کړو

لَكَ خَرْجًا عَلٰٓى اَنْ تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ

ستا د پاره چنده پدے شرط چه جوړ کړے ته څمونږ او د هغوئ مینځ کښ

سَدًّا ۹۴ قَالَ مَا مَكَّنِّيْ فِيْهِ رَبِّيْ خَيْرٌ

یو دیوال فلا. وے وئیل کوم قدرت چه راکړے ما ته الله څما رب هغه بهتر دے

فَاَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ اَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ

نو امداد اُوکړئ څما په محنت کښ جوړ به کړم ستاسو او د هغوئ مینځ کښ

رَدْمًا ﴿۹۵﴾ اٰتُوْنِیْ زُبَرَ الْحَدِیْدِ ؕ حَتّٰۤی اِذَا

یو دیوال محکم ف۲. راوړئ ماته تختې ف۳ د اوسپنې ، تردې چه کله ئې

سَاوٰی بَیْنَ الصَّدَفَیْنِ قَالَ انْفُخُوْا ؕ

برابر کړو دواړو څوکو پورې د غر وے وئیل پوکے درکړئ ،

حَتّٰۤی اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا ۙ قَالَ اٰتُوْنِیْۤ اُفْرِغْ

تردې چه وے کړځوله هغه (اوسپنه) اور وے وئیل راوړئ ماته چه واړوم

عَلَیْهِ قِطْرًا ﴿۹۶﴾ ؕ فَمَا اسْطَاعُوْۤا اَنْ یَّظْهَرُوْهُ

هغې باندے ویلے کړے شوے تانبه ف۳. بیا به او نۀ خیژي پدے باندے ف۴

وَمَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ نَقْبًا ﴿۹۷﴾ قَالَ هٰذَا

او نۀ به اوکړی په هغې کښ سورے ف۵ وے وئیل دا

رَحْمَةٌ مِّنْ رَّبِّیْ ۚ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّیْ

یوه مهربانی ده څما د رب بیا چه کله راغله وعده څما د رب ف۱

جَعَلَهٗ دَكَّآءَ ۚ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّیْ حَقًّا ﴿۹۸﴾

را اوبه غورځوی هغه هوار او ده وعده - څما د رب رښتونے ف۵

موضح قرآن

ف۱ خپل مینځ کښ به چنده واچوو څۀ مال به جمع کړو. کله چه ئې هغه د فوج او اسباب وصاحب حکم بادشاه اولیدو نو د هغوئی دا خیال پیدا شو چه دا کار به دے اوکړے شی یاجوج ماجوج د عربو په ژبه کښ توم دے د یو قوم د دوو نیکونو اولاد یو یاجوج او بل ماجوج معلومه نۀ ده چه په دغه ملک کښ د هغوئی توم څۀ وو د ترک ملک سره پیوست لګیدلے وو او په قوم کښ د ترک رونړه وو. ف۲ یعنی مال څما سره ډیر دے لیکن لاسونو خپو سره تاسو هم امداد اوکړئ. ف۳ اول ئې د اوسپنې لوئے لوئے تختې جوړے کړے او سر په سرئې لاندے باندے کیښودلے او یو بل سره ئې ټینګے او مضبوطے کړے کله چه ئې د دوو غرونو سره برابر کړے بیائې تانبه ویلی کړه په هغې باندے ئې د پاسه واچوله هغه په درزونو چودو کښ ننوتله او

هغه ئې بند کړل یو بل سره پیوست شول ټولې تختې سره یو ځائې شوې یو غر شان جوړ شو. ځمونږ پیغمبر ته یو سړی اُوئیل چه زهٔ سد پوره تلے یم او هغه مې لیدلے دے وے فرمائیل دَ هغهٔ دَ جوړولو طریقه بیان کړه وے وئیل لکه دَ چار خانې دَ لنګ په شان دے نبی علیه السلام وفرمائیل تهٔ رښتیا وائې هغه دَ اُوسپنې تختې ټوټے معلومیږی او په چو دوکښ دَ تانبې سرے کړخے دی. ف۴ زهٔ یو معمولی صاحب عزم او صاحب حکومت بادشاه په دے کار نهٔ یم لګیدلے. اولس شان خلقو سره دا کار نهٔ شو کیدلے.

ف۵ دَ نبی علیه السلام په وخت کښ دَ یو نے روپئې برابر سورے په هغے کښ اُوشو او دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام په وخت کښ دَ هغوئي راتلو وعده ده ټوله دنیا به دَ جنګ نه عاجزه کړی آسمان ته به غشي ولی هغه به په ویتو سرهٔ واپس راشي. آخر دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام په بد دُعا بئي او خیرو سره به په یو ځل ټول مرهٔ شي. ذوالقرنین په یو داسے محکم دیوال باندے هم انتظار کوونکے وو چه آخر دا به هم فناء شي. نهٔ دَ هغه باغ والا په شان چه په خپل باغ مغرور او متکبر وو.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی قیامت نزدے شو ۱۲.

تفسیر: ۸۰ داخبرے دَ ترجمان په ذریعه اُوشوے دغه خلقو دَ یاجوج ماجوج نه شکایت اوکړو چه هغوئي دَ دے غرونو نه بل اړخ ته اُوسیږی او دے دړے نه راوُځي او فساد کوی. قتل او ډاکه کوی او تر و تازه شنه فصلونه تباه برباد کړځوی مونږ به دَ ټول قوم نه چنده واخلو ډیر رقم به جمع کړو او تا ته به ئې حواله کړو تا سو یو مضبوط دَ اُوسپنې دیوال او وهئې دا دره (کنډاؤ) بند کړئې دِ دے دَ پاره چه دا فسادی قوم دلته نهٔ راځي. خرجًا ای جعلًا من اموالنا (روح ج ۱۶ ص۳۹).

۸۱ ذوالقرنین جواب ورکړو چه ځما دولت ته ضرورت نشته کوم دولت چه الله ما ته راکړیدے هغه کافی دے تا سو خلق صرف دَ مټو دَ طاقت او کار کولو سره ځما امداد اُوکړئې زهٔ به خپل خرچ سره یو مضبوط دیوال اُوهم. ردمًا، ډیر لوئے او مضبوط دیوال. حاجزًا حصینا وحجابا متینا (روح ج ۱۶ ص۴۰) ځنی خلق وائي دینه دَ چین دیوال مراد دے چه شپږ دیرشت زره ګزه اُوګد دے. لیکن دا صحیح نهٔ ده.

۸۲ زُبَرَ، دَ زُبرَةٌ جمع ده او دینه مراد دَ اُوسپنې ټکړے دی. الصَّدَفَيْنِ دَ الصَّدَف تثنیه ده چه دَ دینه مراد دَ غر یو طرف دے یعنی چه کله دَ دواړو غرونو مینځ کښ تعمیر کړے شوے دوه غیږکه دیوال دَ دواړو

څوکو برابر شو. قَالَ انْفُخُوْا، نو ذوالقرنین اُوئیل چه اُوس اُوسپنه ویلې کړئ کله چه هغه ویلې شوه نو د هغې سره ئې تانبه شامل کړه. قِطْرًا یعنی تانبه. ۸۳ کله چه د اُو سپنې او تانبې نه د دواړو دیوالونو مینځنئ حصه ډکه کړې شوه. نو ذوالقرنین اُوئیل چه دا دیوال دومره مضبوط کړې شو چه اُوس یاجوج ماجوج نهٔ خو په دے راؤړیدې شي او نهٔ ئې سورے کولے شي چه ستاسو علاقې ته داخل شي. فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّیْ الخ کله چه څما د پروردګار د وعدے مطابق قیامت راشي نو د غرونو پشان به دا دیوال هم ټوټې ټوټې شي د یاجوج ماجوج بارہ کښ مفسرینو او مؤرخینو مختلفې خبرے کړې دي د څنو قول دے چه یاجوج ماجوج د یو داسے قبائیلو مجموعه ده چه جسمانی او معاشرتی لحاظ سره دیو عجیبه او نا اشنا ژوند تیرولو والا مخلوق وو. مثلاً د یو ے لویشتے یا یو ے تیمے لویشتے یا د زیات نه زیات یو ګز قد ئې لرلو او څنے غیر معمولی طویل القامت وو او د هغوئ دواړه غوګونه لوئے وو چه یو ئې د خوړ ولو او بل ئې د اغوستلو کار کولو. څنو یو برزخي مخلوق ګرځولے دے یعنی هغوئ د حضرت آدم علیه السلام د نطفې نه خو دي لیکن د حضرت حواء د بطن (خیټې) نه نهٔ دي. لیکن د محققینو په نزد دا دواړه خبرے صحیح نهٔ دي لکه چه مؤرخ ابن کثیر فرمائي. هو قولٌ حکاه الشیخ ابو زکریا النووی فی شرح مسلم وغیره ضعفوه وهو جدیر بذلك اذلا دلیل علیه بل هو مخالف لما ذکرناه من ان جمیع الناس الیوم ذریة نوح بنص القرآن (البدایة والنهایة ج ۲ صلللہ). د دے وجے نه صحیح هغه قول دے کوم چه محققینو لیکلے دے چه یاجوج ماجوج د یافث بن نوح اولاد دی. حضرت قتاده فرمائي. ویاجوج وماجوج قبیلتان من ولد یافث بن نوح الخ (فتح الباری ج ۶ ص۲۹۷) داشان علامه آلوسی د وهب بن منبه او د نورو اماما نو نه نقل کړیدي. ان یاجوج وماجوج قبیلتان من ولد یافث بن نوح علیه السلام وبه جزم وهب بن منبه وغیره واعتمده کثیر من المتاخرین (روح المعانی ج ۱۶ ص۳۶)

منګولین (تاتاریان) قبائیل د یاجوج ماجوج اولاد دے او د هغوئ د څنو قبائیلو په مخکښ ذوالقرنین دیوال وهلے وو د کوم ذکر چه دلته کړے شویدے حاصل دا چه یاجوج ماجوج د دُنیا د عام انساني آبادئ پشان د حضرت نوح علیه السلام اولاد دے او یاجوج ماجوج د منګولیا (تاتار) هغه وحشي قبائیلو ته وئیلے شي چه د یورپ او روس قوم منبع (چینه) او منشا دی دا وحشي قبائیل د کاکیشیا په انتهائی علاقو کښ اُوسیدل

اود قفقاز په غرونو کښې د وا ړیال دړے ته به اُوتل او په میاني علاقو
کښې اُوسیدونکو خلقو باندے به وړ تلل او لوټ مار به ئے کولو. د دے
وا ړیال دړے مینځ کښې ذوالقرنین دیوال وهلے وو دے د پاره چه
یاجوج ماجوج وحشیان د هغه ځائے نه د غرونو ته دے پلو راوُنه ړی.
دا دیوال په شمال کښې د بحر خزر په غاړه واقع دے.

وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَّمُوْجُ فِيْ

او پریږده به یدو مونږ خلق لله په دغه ورځ نښوتونکی په

بَعْضٍ وَّنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَجَمَعْنٰهُمْ

یو بل کښې او پُوکے به اُوهوشله په شپیلئ کښې بیا به راجمع کړو مونږ هغوئ

جَمْعًا ﴿٩٩﴾ وَّعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ

ټول ټل او به ښایو کړو مونږ دوزخ په دغه ورځ

لِّلْكٰفِرِيْنَ عَرْضًا ﴿١٠٠﴾ الَّذِيْنَ كَانَتْ

کافرانو ته مخامخ د چا په

اَعْيُنُهُمْ فِيْ غِطَآءٍ عَنْ ذِكْرِيْ وَكَانُوْا

سترګو لله چه پرده پریوتلے وه د یاد ځما نه او

لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَمْعًا ﴿١٠١﴾ اَفَحَسِبَ الَّذِيْنَ

نه ئے شو کولے آوریدل ټل اُوس څۀ خیال کوی لله

كَفَرُوْٓا اَنْ يَّتَّخِذُوْا عِبَادِيْ مِنْ دُوْنِيْٓ

انکار کوُنکی چه وے نیول بندګان ځما سِوا ځما نه

اَوْلِيَآءَ ؕ اِنَّآ اَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ

امداديان ، مونږ تیار کړیدے دوزخ د کافرانو

نُزُلًا ﴿١٠٢﴾ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ

میلمستیا. ته اُوایه مونږ اُوښایو تاسوته چه ډیر زیات تباه شول د چا

اَعۡمَالًا ﴿۱۰۳﴾ اَلَّذِیۡنَ ضَلَّ سَعۡیُهُمۡ

عملونه ئله هغوئ خلق چه ورک شو دَ چا کوشش

فِی الۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَا وَهُمۡ یَحۡسَبُوۡنَ اَنَّهُمۡ

په ژوندا دَ دُنیا کښ او هغوئ خیال کوی چه

یُحۡسِنُوۡنَ صُنۡعًا ﴿۱۰۴﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا

ښهٔ کار کوی ف۱ هم دغه کسان دی چه منکر شول

بِاٰیٰتِ رَبِّهِمۡ وَلِقَآئِهٖ فَحَبِطَتۡ اَعۡمَالُهُمۡ

دَ ایتونو دَ رب خپل نه او دَ ملاقات دَ هغهٔ نه نو برباد شول عملونه دَ هغوئ

فَلَا نُقِیۡمُ لَهُمۡ یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ وَزۡنًا ﴿۱۰۵﴾

بیا به اُونهٔ دروُو مونږ دَ هغوئ دَ پاره په ورځ دَ قیامت تله ف۱ ف۲

ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمۡ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوۡا

دا بدله دَ هغوئ ده جهنم په دے چه هغوئ منکر شول

وَاتَّخَذُوۡٓا اٰیٰتِیۡ وَرُسُلِیۡ هُزُوًا ﴿۱۰۶﴾

او وے گرځولے ځما خبرے او ځما رسولان ټوقے۔

نکات: ف۱ تخویف اُخروی ۱۲۔ ف۲ تخویف اُخروی ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ یعنی دا به دَ قیامت په ورځ وی چه دَ خدائے وعده ده ۱۲۔ ف۲ یعنی دَ خپل عقل ستړکے ئے نهٔ وی چه قدرتونه اُوینی یقین اُوکړی او دَ چا خبره ئے نهٔ آوریدله چه پو پوهلو سره پوهه شی۔ ف۳ یعنی کوم کوشش چه ئے اُوکړو دَ دُنیا دَ پاره او آخرت ئے وران کړو۔ ف۴ هغوئ آخرت منلے نهٔ وو نو دَ هغے دَ پاره ئے هیڅ کار اُونهٔ کړو نو بیا به یو چا برے تخنګه اُو تللے شی۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی او داکنایه ده دَ ذلیل کیدو او بے قدرئ نه ۱۲

تفسیر: ۸۴ ه دا تخویف اُخروی دے دَ مشرکانو دَ ځلورو واړو

شبهاتو جواب ورکولو نه روستو هغه مشرکانو ته تخویف اخروی ذکر شو چا چه په دنیا کښ دَ الله دَ ذکر او دَ هغهٔ دَ توحید نه سترګے بندے کړے او دَ الله دَ توحید اوریدلو دَپاره تیار نهٔ وو. څنو مفسرینو دا آیت یاجوج او ماجوج سره متعلق کړے دے لیکن صحیح هغه دے کوم چهٔ محققینو بیان کړے دے چه دَ بعضهم ضمیر نه خلق مراد دے. او یموج دَ مَوْجٌ نه دے او دیته بے آرامی او پریشانی مراد ده یعنی چهٔ کله دویم ځل شپیلئ کښ پوکے او وهلے شی نو خلق به دَ قبرونو نه پهٔ ویره ویره راپاڅی او په دریږی او دَ ډیرے پریشانئ په وجه به بے آرام او پریشان وی. والموج مجاز عن الاضطراب ای یضطربون اضطراب البحر یختلط انسهم وجنهم من شدة الهول (روح ج ۱۶ ص۴۳) وَتَرَكْنَا وَجَعَلْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضُ الْخَلْقِ يَوْمَئِذٍ يَّمُوْجُ يَخْتَلِطُ فِيْ بَعْضٍ ای یضطربون و یختلطون انسهم وَجنهم حیارے (مدارک ج۳ ص۲)

ف۵ دیته مراد دویمه شپیلئ ده ځکه چه دَ دے نه روستو کلام پدے دلالت کوی. الظاهران المراد النفخة الثانیة لانه المناسب لما بعد (روح ج۱۶ ص۴۲)

ف۸ دا دَ مشرکانو دَ الله دَ توحید نه دَ سخت اعراض کولو نه کنایه ده. والمراد منه شدة انصرافهم عن قبول الحق (کبیر ج ۵ ص۵۵۵)

ف۷ دا تخویف اخروی دے دے ځائے نه تر آخر پورے ذکر شو ځلور شبهاتو باندے تفریع ده. اَنْ يَّتَّخِذُوْا عِبَادِيْ مِنْ دُوْنِيْٓ اَوْلِيَآءَ. دا په اوله شبه باندے تفریع ده. بالذات او دَ دویمے شبهے په جواب باندے بالتبع په طور دَ لف نشر مرتب یعنی دَ الله تعالیٰ نیک بندګان او اولیاء الله متصرف او کارساز نهٔ دی نو پهٔ شیطانانو کښ پهٔ طریقه اولیٰ دا صلاحیت نشته.

ف۱۱ دا دَ مشرکانو دَ بدحالئ او انجام بد بیان دے پهٔ آخرت کښ به هغوئ دَ ټولو نه زیاته خساره او تاوان کښ وی دَ هغوئ ټول اعمال برباد او ضائع وی په دنیا کښ هغوئ مشرکانه اعمال کوی غیر الله متصرف او کارساز ګنړی په غائبانه حاجتونو کښ ئے رابلی او دَ هغوئ پهٔ نوم نذر نیاز ورکوی او دا ټول کارونه دَ ثواب کارونه او نیک کارونه ګنړی. اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ دا خلق چونکه دَ الله تعالیٰ دَ توحید آیتونو او دَ قیامت نه منکر دی دَ دے وجه نه دَ دوئ ټول اعمال ضائع او بے فائدے دی او په آخرت کښ به دَ هغوئ اعمال تللے هم نشی ځکه چه وزن سره دَ نیکو او بدو اندازه کول مقصود وی او دَ مشرکانو دَ نیکئ چا برے خو هډو شته نهٔ دے دَ هغوئ ټول عبادتونه. دَ هغوئ مونځونه، روژے او حجونه او نور اعمال صالحه خو دَ شرک په وجه سره په دنیا کښ ضائع شوی دی. لان المیزان انما یوضع لاهل الحسنات والسّیّاٰت من الموحدین لتمییز مقدار الطاعات ومقدار السَّیِّاٰتِ (کبیر ج ۵ ص۷۶)

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

کوم خلق ۸۹ چه ایمان ئے راوړو او کړی ئے دی نیک کارونه

كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ۝١٠٧

هغوئ د پاره دی د ېخوسورو باغونه میلمستیا.

خَالِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا ۝١٠٨

همیشه به اوسیږی په هغې کښې نه به غواړی د هغې نه د بدلیدو ځائے.

قُلْ لَوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِكَلِمَاتِ رَبِّي

او وایه که چرے دریاب ۹۰ سیاهی وی چه اولیکی خبرے زما د رب

لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَنْ تَنْفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي

بیشکه ختم به شی دریاب تر اوسه او خبرے به نه وی پورے شوی زما د رب

وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا ۝١٠٩ قُلْ إِنَّمَا أَنَا

او اګرچه یله هم مونږ راوړو هم هغه شان هغه د مدد د پاره - ته او وایه زه وروره

بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ

یو انسان یم لکه چه تاسو یئ حکم راځی ما ته چه معبود ستاسو لکه معبود

وَاحِدٌ ۖ فَمَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ

یو دے نو بیا چه د چا امید وی د ملاقات د خپل رب سره

فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ

نو هغه دِ کوی ځه نیک کار او شریک دِ نه جوړوی

بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ۝١١٠ ع ۱۲

په بندګئ کښې د خپل رب هیڅوک.

نکات: ۸۹ بشارت اخروی ۱۲-

تفسیر ۸۹ بشارت اخروی دے یعنی کومو خلقو چه دَ الله تعالیٰ په توحید باندے ایمان راؤړو او نیک کارونه ئے اوکړل او دَ شرک نه بچ شول هغوئ دَ پاره جنت الفردوس دے چه په هغے کښ به هغوئ همیشه اوسیږو۔

۹۰ دا دَ دریم شبهے جواب دے بالذات او دَ څلورم شبهے په جواب باندے بالتبع متفرع دے۔ دے آیت کښ دَ الله تعالیٰ دَ معلوماتو دَ فراخئ ذکر دے دَ کلمات نه دَ الله تعالیٰ معلومات او دَ هغهٔ حکمت مراد دے۔ قاله قتادة (روح) یعنی دَ الله تعالیٰ دَ معلوماتو لیکلو دَ پاره که چرے دَ دُنیا ټول سمندرونه سیاهی شی نو هغه به هم ختم شی لیکن دَ الله تعالیٰ دَ علم او دَ هغهٔ دَ حکمت احاطه به او نکړے شی۔ کله چه دا ثابته شوه چه په غیب خبردار صرف الله تعالیٰ دے انبیاء علیهم السلام ته صرف هغومره معلومه ده څومره چه الله تعالیٰ هغوئ ته اوښودل لکه چه حضرت موسیٰ او حضرت خضر علیهما السلام ته ئے اوښودل دا شان اولیاء الله ته هم صرف هغومره علم دے څومره چه هغوئ ته ورکړے شو لکه چه ذوالقرنین ته۔ نو چه کله انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرام غیب دان او حاضر ناظر نهٔ دی نو متصرّف او کارساز هم نشی کیدے۔

۹۱ دلته ئے نبی علیه السلام باندے دا اعلان اوکړو چه زهٔ غیب باندے خبردار او کارساز نه یم بلکه یو انسان یم چه الله تعالیٰ دَ انسانیت ډیره اوچته مرتبه دَ نبوت ئے راکړے ده او ماته دَ الله تعالیٰ وحی راځی دا اعلان ئے وربانده ځکه اوکړو چه څوک خلق هغهٔ په غیب خبر او دَ خدائیئ سره شریک اونهٔ گنړی۔

۹۲ په آخر کښ ئے دَ توحید مسئله ذکر کړه چه دَ هغے باره کښ دَ شبهاتو جواب ورکړے شو۔ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا الخ کوم سړے چه دَ مرگ نه روستو ژوندے کیدلو او دَ الله سره دَ ملاقات اُمید لری هغهٔ له خو پکار ده چه نیک کارونه په ځائے راوړی او دَ خپل رب په عبادت او رابللو کښ هیڅ قسم شرک نهٔ کوی نه جلی (ښکاره) لکه چه مشرکانو به کولو او دَ اصحاب کهف، فرښتو، پیریانو په نومونو باندے به ئے نذرونه منښتے ورکولے او متصرّف، کارساز به ئے گنړلو۔ رابلل به ئے۔ او نه خفی (پټ) لکه دَ ریاکارئ نه خپل عملونه بچ ساتل او خالص دَ الله دَ رضا دَ پاره هر کار کول۔

سورة کهف کښ د توحید آیتونه او د هغې خصوصیات

① اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ عَلٰی عَبْدِهِ الْکِتٰبَ ــــ نه تر ــــ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا د کارساز د ټولو صفتونو مالک الله دے او صرف هغه متصرف او کارساز دے او د هغهٔ څوک نائب نشته.

② وَرَبَطْنَا عَلٰی قُلُوْبِهِمْ اِذْ قَامُوْا ــــ نه تر ــــ وَیُهَیِّئْ لَکُمْ مِّنْ اَمْرِکُمْ مِّرْفَقًا (ع۲) نفی د تصرف د اولیاء الله (اصحاب کهف) نه.

③ وَکَذٰلِکَ بَعَثْنٰهُمْ لِیَتَسَآءَلُوْا ــــ نه تر ــــ رَبُّکُمْ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ (ع۳) نفی د علم غیب د اصحاب کهف نه.

④ وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَایْءٍ اِنِّیْ فَاعِلٌ ذٰلِکَ غَدًا الآیة (ع۴) نفی د تصرف او اختیار د حضور صلی الله علیه وسلم.

⑤ قُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوْا ــــ نه تر ــــ وَلَا یُشْرِکُ فِیْ حُکْمِهٖٓ اَحَدًا (ع۴) نفی د علم غیب د غیر الله نه.

⑥ وَاتْلُ مَآ اُوْحِیَ اِلَیْکَ ــــ نه تر ــــ وَکَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا نفی د شرک فی التصرف.

⑦ لٰکِنَّا هُوَ اللّٰهُ رَبِّیْ ــــ نه تر ــــ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ (ع۵) نفی د شرک فی التصرف.

⑧ هُنَالِکَ الْوَلَایَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ (ع۵) نفی د شرک فی التصرف.

⑨ اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّیَّتَهٗٓ اَوْلِیَآءَ ــــ نه تر ــــ وَمَا کُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّیْنَ عَضُدًا (ع۷) نفی د شرک اعتقادی او نفی د نائب الله تعالی دپاره.

⑩ نَسِیَا حُوْتَهُمَا ــــ نه تر ــــ فَاِنِّیْ نَسِیْتُ الْحُوْتَ (ع۹) حضرت موسیٰ علیه السلام او د هغهٔ د ملګری نه نفی د علم غیب او د هغوئ د احتیاج اثبات.

⑪ قَالَ لَهٗ مُوْسٰی هَلْ اَتَّبِعُکَ ــــ نه تر ــــ مَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ خُبْرًا (ع۹) نفی د علم غیب موسیٰ علیه السلام نه ۱۲

⑫ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِیْ بِمَا نَسِیْتُ ــــ نه تر ــــ قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَّدُنِّیْ عُذْرًا (ع۱۰) نفی د علم غیب حضرت موسیٰ علیه السلام نه.

⑬ وَمَا فَعَلْتُهٗ عَنْ اَمْرِیْ. نفی د تصرف اختیار د حضرت خضر علیه السلام نه.

⑭ اِنَّا مَکَّنَّا لَهٗ فِی الْاَرْضِ (ع۱۱) ذوالقرنین ته ما فوق الاسباب قدرت حاصل نهٔ وو موږ ظاهری اسباب هغه ته ورکړے وو.

⑮ اَفَحَسِبَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْٓا اَنْ یَّتَّخِذُوْا عِبَادِیْ مِنْ دُوْنِیْٓ اَوْلِیَآءَ. نفی د شرک فی التصرف ۱۲

⑯ قُلْ لَّوْ کَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّکَلِمٰتِ رَبِّیْ. الآیة عالم الغیب صرف الله تعالی دے د هغهٔ علم محدود نهٔ دے.

⑰ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُکُمْ یُوْحٰٓی اِلَیَّ الآیة نفی د علم غیب نبی علیه السلام نه.

۱ سورۂ مریم

ربط :- سورۂ کهف کښې د مشرکانو د ځلورو شبهاتو ازاله اوکړې شوه کوم شبهات چه باقي پاتې وو د هغې جواب سورۂ مریم کښې ورکړې شوې دې
ګویا چه سورۂ مریم سورۂ کهف د پاره په منزله د تتمه دے۔

خلاصه :- سورۂ مریم د مضمون په اعتبار سره دوو حصو کښې تقسیم دے
اوله حصه د سورت د شروع نه واخله د رکوع ۴ اخر هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ سَمِيًّا پورې
ده. دویمه حصه د رکوع ۵ د شروع وَيَقُوْلُ الْاِنْسَانُ نه واخله تر اخره د سورت پورې ده.

دوميځ برخه

اوله حصه کښې د مشرکینو د شبهاتو جواب ورکړې شوې دے څنې شبهات
د انبیاء علیهم السلام سره متعلق دي. یوه شبه د حضرت مریم صدیقه باره
کښې او یوه د فرشتو باره کښې۔
اوله شبه د حضرت زکریا علیه السلام باره کښې وه یهودیانو هغه متصرف
ګنړلو او وازبه ئې ورته کولو د هغوئ خیال وو چه د هغهٔ په اخري عمر کښې
د عادت نه خلاف د هغهٔ ځوئے پیدا کیدل دینه معلومیږي چه هغه د الله
نه ځهٔ اوغواړي نو هغه کولے شي او الله تعالیٰ د هغهٔ خبره نهٔ ردکوي په اوله
رکوع کښې د هغې جواب ورکړې شو چه خارق عادت (د عادت نه خلاف) کار
الله تعالیٰ ظاهر کړې وو او الله تعالیٰ نه زکریا علیه السلام د ځوئے ورکولو سوال
کړې وو. دویمه شبه د حضرت مریم او حضرت عیسیٰ علیهما السلام باره کښې
وه د عیسایانو خیال وو چه حضرت مریم ته به بے موسمه میوې راتللے او حضرت
عیسیٰ علیه السلام به مړي ژوندي کول ابرص مرض والا او پیدائشيړانده
به ئې صحتیاب ګرځول او د خټې نه به ئې مارغهٔ جوړ کړو په هغې کښې به ئې روح
اچولو. لکه چه په سورۂ ال عمران رکوع ۴، ۵ کښې ذکر شوي دي نو دینه معلومیږي
چه هغوئ دواړه د ما فوق البشر طاقت او قدرت مالکان وو د دے وجې نه
هغوئ ته اواز کول پکار دي. په دویمه رکوع کښې د دے شبهې جواب ورکړې شو
حضرت مریم صدیقه خو پخپله د الله تعالیٰ په حضور کښې عاجزي کوي او دا شان
حضرت عیسیٰ علیه السلام هم صفا اعلان کوي چه الله تعالیٰ زما او ستاسو د
ټولو معبود دے۔ دریمه شبه د حضرت ابراهیم علیه السلام باره کښې وه یهودیانو
او نصاراؤ او عربو مشرکانو به هغوئ کارساز ګنړلو او را بللو به ئې۔ دریمه
رکوع کښې د دے جواب ورکړې شو چه هغه خو پخپله د باطلو معبودانو نه

بیزار وو او هغهٔ د دوئ خلاف اٰواز اُوچت کړے وو چه دا هیڅ نهٔ شي کولے د دے وجے نه دوئ په غائبانه حاجتونو کښ مهٔ رابلئ او د دوئ نه علاوه د دریو پیغمبرانو (حضرت موسیٰ، حضرت اسماعیل او حضرت ادریس علیهم السلام) مختصر ذکر اُوکړے شو دے دریوا ړو ته هم اٰواز کړے شوے وو د حضرت موسیٰ علیه السلام باره کښ ئے اُوفرمائیل وَنَادَیْنٰهُ الخ موسیٰ علیه السلام ته مونږ نبوت ورکړو او هارون علیه السلام مونږ د هغهٔ معاون اُوګرځولو هر څیز مونږ هغهٔ ته ورکړو د دے وجے نه هغه هم کارساز نهٔ شي کیدلے داشان حضرت اسماعیل علیه السلام هم ځمونږ ډیر تابعدار بنده وو پخپله ئے هم ځمونږ عبادت کولو او کورِ والؤ ته به ئے هم د خدائے واحد د عبادت حکم ورکولو. د دے وجے نه هغه هم د رابللو لائق نهٔ وو. داشان ادریس علیه السلام ته هم مونږ اُوچتے درجے ورکړے وے د دے وجے نه هغه هم کارساز نهٔ شي کیدلے.

د دے نه روستو ئے د ټولو پیغمبرانو باره کښ اُوفرمائیل هغوئ ټول د الله تعالیٰ مخلوق او د خپلو پلارانو نیکو اولاد وو او محتاج وو د دے وجے نه هغوئ کارساز او متصرف نهٔ شي کیدلے. د فرشتو باره کښ داشُبه وه چه هغوئ هر وخت الله تعالیٰ سره نزدے اُوسیږی. د دے وجے نه الله تعالیٰ ځنی خپل اختیارات هغوئ ته ورکړی دی. مشرکانو وائی هغه د الله تعالیٰ لونړه او د هغهٔ نائب دی. وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ ـــــ تا ـــــ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا (ع ۴) کښ د دے جواب ورکړے شو چه فرشتے په خپله د الله تعالیٰ محکوم دی او اقرار کوی چه هغوئ د الله تعالیٰ د حکم نه بغیر زمکے ته راتللے هم نهٔ شي د دے وجے نه څوک چه عاجز او محکوم وی هغه کارساز نهٔ شي کیدلے.

مینځ کښ د حضرت عیسیٰ علیه السلام د ذکر نه روستو فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَیْنِهِمْ کښ او بیا د شپږو پیغمبرانو د ذکر نه روستو فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ الخ د یو مقدر سوال جواب ورکړے شوے دے. سوال دا وو چه کله ټول انبیاء علیهم السلام خدائے ته اٰواز کوی نو بیا هغوئ ولے متصرف ګڼړلے شي او رابللے شي نو د دے جواب ئے ورکړو چه د هغوئ نه روستو ناخلف (بدعمله) خلق، علماء سوء او بدکار پیران پیدا شول چه هغوئ خالص د نفساني خواهشاتو پیروی اُوکړه او خلق ئے ګمراه کړل او هغوئ ته ئے د شرک تعلیم ورکړو. د دے حقے په

اخر کښې رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الخ کښې شبهات لرې کولو نه روستو په طور دَ ثمرې اصلي دعوه ذکر کړې شوه چه دَ زمکې او اسمان خالق او مالک صرف الله تعالیٰ دے دَ هغۀ سره هیڅوک سیال او هم صفت نشته دَ دے وجې نه په حاجتونو کښې صرف هغۀ ته اواز کوئ۔

دویمه برخه

دَویمه حصه کښې شکوے، زجرونه، تخویفات، بشارتونه او نبي علیه السلام ته دَ تسلئ ذکر دے او دَ سورت په اخر کښې هم هغه مضمون دوباره ذکر شوے دے کوم چه دَ سورۀ کهف په شروع کښې ذکر شو هغته ئې فرمائیلي وو قرآن هغه خلقو ته ویره ولو دَ پاره نازل کړے شوے دے څوک چه الله تعالیٰ دَ پاره ولد یعني نائب تجویز کوي او وائي چه الله تعالیٰ خپل اختیارات خپل غوره بندګانو ته سپارلي دي او هغه خلقو ته خوشخبري ورکولو دَ پاره څوک چه په الله تعالیٰ باندے ایمان راوړي او نیک کارونه کوي. دلته هم هغه مضمون ذکر کړے شوے دے لیکن دَ اول تولي نه ئې قَوْمًا لُّدًّا (جهګړالو خلق) سره او دویم تولي ته اَلْمُتَّقِیْنَ (الله تعالیٰ نه ویریدونکي او دَ شرک نه ځان ساتونکي سره) تعبیر کړیدے، دِے حصّه کښې دوه خصوصي خبرے ذکر دي اول۔ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً الخ (ع ۵) دَ باطل معبودانو عبادت نه دَ مشرکانو مقصود دا وو چه هغوئ په دُنیا کښې دوئ امداد اُوکړي او کارونه ئې برابر کړي۔ دویم لَا یَمْلِکُوْنَ الشَّفَاعَةَ الخ (ع ۶) دَ شفاعت قهري نفي یعني دا باطل معبودان به دَ مشرکانو سفارش نۀ شي کولے او نۀ به دَ هغوئ په کار راشي۔

سُوْرَةُ مَرْيَمَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ وَّتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورۂ مریم لے په مکه کښ نازل شوا ود پکښ دوه کم سل ایتونه دی او شپږ رکوعات

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لهٔ شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

كٓهٰيٰعٓصٓ ﴿١﴾ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ

کۤ دا ذکر دے د رحمت د رب ستا په بنده خپل

زَكَرِيَّا ﴿٢﴾ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ نِدَآءً خَفِيًّا ﴿٣﴾

زکریا باندے ۲ کله چه هغه آواز اوکړو رب خپل ته آواز پټ سره ۳

قَالَ رَبِّ اِنِّيْ وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ وَاشْتَعَلَ

وے وئیل اے ربه زما هډوکی زاړهٔ شول هډوکی زما او شعله ښکاره شوه

الرَّاْسُ شَيْبًا وَّلَمْ اَكُنْۢ بِدُعَآئِكَ

د سرنه د بوډاوالی او نهٔ یم هیڅکله سوال کوونکو سره ستا نه

رَبِّ شَقِيًّا ﴿٤﴾ وَاِنِّيْ خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَّرَآءِيْ

اے زما ربه محرومه شوی ۴. او زهٔ ویریږم زهٔ د خپلوانو نه د روستو زما نه

وَكَانَتِ امْرَاَتِيْ عَاقِرًا فَهَبْ لِيْ مِنْ

او ده ښځه زما شنډه نو راکړه ماته د

لَّدُنْكَ وَلِيًّا ﴿٥﴾ يَّرِثُنِيْ وَيَرِثُ مِنْ اٰلِ

جانبه خپل نه یو کار اوچتولو والا ۵. چه کیني زما په ځائے او د اولاد

يَعْقُوْبَ ۖ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ﴿٦﴾ يٰزَكَرِيَّآ

د یعقوب (په ځائے) او اوګرځوه هغه اے ربه غوره کړے شوے ۶. اے زکریا

اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمِ ۨاسْمُهٗ يَحْيٰى ۙ لَمْ

مونږ زیرے درکوو تاته د یو هلک چه نوم دے د هغهٔ یحیی نهٔ دے

نَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا ۝٧ قَالَ رَبِّ
ګرځولے موږ د دینه مخکښ په دے نوم هیڅوک. وے وئیل اے ربه څه

اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّكَانَتِ امْرَاَتِيْ
ځنګه به وی ځما د پاره هلک او ده ښځه ځما

عَاقِرًا وَّقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا ۝٨
شنړه او زۀ بوډا شوم تر دے چه ډیر کمزورے شوم ف٥

قَالَ كَذٰلِكَ ۚ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ
وے وئیل هم دا شان به کیږی اُوفرمائیل رب ستا هغه په ما آسان دے

وَّقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْئًا ۝٩
او ما پیدا کړے تۀ اول او نۀ وے تۀ څۀ څیز ف٦

قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ۭ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا
وے وئیل اے ربه مقرر کړه ځما د پاره څۀ نښه وے فرمائیل نښه ستا دا ده چه

تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ۝١٠
خبرے به نۀ شے کولے تۀ خلقو سره درے شپے روغ جوړ به اُوسے.

موضح قرآن

ف١ یعنی په زړۀ کښ ئے دُعا اُوکړه یا به ئے آواز کړے وی په خلوت کښ. په پټه ئے آواز اُوکړو دے د پاره چه په بوډا والی کښ ئے ځوئے غوښتلے و وکۀ چرے ملاګړ نۀ شی نو خلق به در پورے خاندی. ف٢ د بوډا والی شعله سپین ویښته.
ف٣ چه خپلوان نیکه لاره خرابه نۀ کړی دا ویره به ورسره پیدا شوے وی.
ف٤ الله تعالیٰ د هغۀ قائمقام او د تیرشوؤ پیغمبرانو اُوګرځولو لیکن د هغۀ په مخکښ هغه د دۀ نه روستو قائمقام اُو نۀ ګرځیدو.
ف٥ عجیبه نا آشنا څیز ئے چه غوښتلو نو تعجب ئے کولو کله چه ئے واؤریدۀ چه دا سے به کیږی هغه وخت ئے تعجب اُوکړو.
ف٦ دا فرښتے اُوئیل.

اوّله حصّه

تفسیر: **۲ه** لکه چه مخکښ ذکر شوے دے دا سورت دَ مضامینو په اعتبار سره دوو حصوکښ تقسیم دے اوله حصّه دَ سورت دَ ابتداء نه واخله دَ رکوع ۴ آخر هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ سَمِيًّا پورے ده دِے حصّه کښ دَ انبیاء علیهم السلام او اولیاء الله او فرشتو بارہ کښ دَ مشرکانو دَ شبها تو جواب ورکړے شوے دے. **۳ه** حروف مقطعات دَ متشابها تو نه دی او دَ دے تاویل دَ الله تعالیٰ نه علاوه بل هیڅوک نهٔ پیژنی دَ دے تفصیلی تحقیق دَ سورهٔ بقرے په تفسیر کښ تیر شوے دے صفحه ۱۹۲ تفسیر ع ۲ اُوګورئ.
۴ه دا دَ اولے شبهے جواب دے دَ دے پورهٔ واقعے نه دَ حضرت زکریا علیه السلام عجز او احتیاج ظاهریږی هغهٔ دَ ځوئے دَ پارهٔ ډیرے زیاتے عاجزئ سره دُعا کړے وه دَ دے وجے نه هغه متصرّف او کارساز نهٔ شی کیدے. رَحْمَتِ مصدر دے خپل فاعل طرف ته مضاف دے او عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا مبدل منه او بدل دواړه دَ هغهٔ مفعول دے دا مجموعه یو ځائے دَ ذِكْرُ مضاف الیه دے او مرکب اضافی مبتداء محذوف هٰذَا دَ پارہ خبر دے او مطلب دا دے چه هغه رحمت چه ستا دَ رب دَ طرف نه په خپل بنده زکریا علیه السلام باندے شوے دے دَ هغے ذکر دے. نِدَآءً خَفِيًّا یعنی په مزه او په پټه دا دَ نَادٰی مفعول مطلق دے. حضرت زکریا علیه السلام دُعا په پټه او مزه اُوکړه ځکه چه الله تعالیٰ ته ښکاره او پټ برابر دے نو په دُعا کښ پټوالے بهتر دے چه دَ ریاء نه خالی او اخلاص ته نزدے ده. رَاعٰی سنة الله فی اخفاء دعوته لان الجهر والاخفاء عند الله سیّان فکان الاخفاء اولیٰ لانه ابعد عن الرّیاء وادخل فی الاخلاص (کبیر ج ۵ صفحه ۵۲۶).
۵ه دا دَ ماقبل بیان دے حضرت زکریا علیه السلام په دُعا کښ خپلے بدنی کمزورئ بیان کړے اول دا چه دَ هغهٔ بدن بالکل کمزورے شوے دے دویم دا چه دَ بوډاوالی په وجے سره دَ هغهٔ دَ سر ویښتهٔ سپین شوی دی کوم سړے چه دومره عاجز دے چه دَ دے کمزورئ نه دَ خپل ځان حفاظت نهٔ شی کولے هغه څنګه دَ نورو کارساز کیدے شی. وَلَمْ اَكُنْۢ بِدُعَآئِكَ، باء سببیه ده او مصدر دَ مفعول طرف ته مضاف دے فاعل محذوف دے په اصل کښ بِدُعَائِیْ اِیَّاكَ وو یعنی زهٔ دَ دے وجے نه بد بخت نهٔ یم چه صرف یو آواز اوازتا ته کوم بد بخت هغه دے څوک چه ستا نه سیوا نورو ته آواز کوی. **۶ه** دَ مَوَالِیَ نه دَ هغهٔ عصبات او بنو العم مراد دی. دا خلق بے دینه وو دَ دے وجے نه حضرت زکریا علیه السلام دُعا اُوغوښتله دِے دَ پارهٔ

چه هغهٔ دَ دوئ نه روستو دَ دعوت دین کار جاری اُوساتی ۔ اِنّما کان موالیه مهملین للدّین فخاف بموتِه اَن یضیع الدّین فطلب ولیّاً یقوم بالدین بعدہٖ (قرطبی ج ۱۱ ص۸۱) یَرِثُنِیْ وَیَرِثُ مِنْ اٰلِ یَعْقُوْبَ الخ دلته دَ وراثت نه وراثت دَ علم او نبوت مراد دے نهٔ چه دَ مال وراثت ځکه چه حضرات انبیاء علیهم السلام په ترکه کښ وراثت نهٔ جاری کیږی دَ هغوئ ترکه (رپے پسودے شوے څیز) قومی ملکیت وی ۔ ای یرثنی من حیث العلم والدین والنّبوّة فَاِنّ الانبیاء علیهم الصّلوٰة والسّلام لا یورثون المال قال صلی الله علیه وسلم نحن معاشر الانبیاء لا نُورث ما ترکناهُ صدقة (ابوالسعود ج ۵ ص۲۶۷) ۔ که چرے دلته دَ مال وراثت مراد وے لکه چه شیعه ئے وائی نو بیا دَ مِنْ اٰلِ یَعْقُوْبَ څهٔ ضرورت وو ځکه چه دَ اٰلِ یَعْقُوْب دَ مال وارثان نو رهم ډیر موجود وو دَ دے وجے نه مطلب دا دے چه دا سے ځوئے را کړه چه ځما او دَ اٰلِ یعقوب دَ علومِ نبوت وارث وی ۔ سَمِیًّا، یعنی همنام یا هم صفت ۔ الله تعالیٰ زکریا علیه السلام ته زیرے ورکړو زهٔ به تا به یو ځوئے درکوم چه دَ هغهٔ نوم به یحیٰی وی دَ دهٔ نه مخکښ هیڅوک هم دَ دے نوم والا نهٔ وو یا دَ دا سے صفتونو والا هیڅوک هم نهٔ دے شوے ۔ ۷ زکریا علیه السلام ته چه کله دَ ځوئے خوشخبری ملاؤ شوه نو ډیر زیات په تعجب کښ شو او وے وئیل ځما ځوئے به څنګه پیدا شی حال دا دے چه ځما ښځه شنډه ده او دَ اولاد قابله نهٔ ده او زهٔ په خپله دَ بوډاوالی آخر ته رسیدلے یم ۔ قَالَ کَذٰلِكَ، الله تعالیٰ جواب ورکړو چه هم دا شان به کیږی تاسو دواړه ښځه او خاوند به هم دِے حالت کښ یئ ستاسو ځوئے به پیدا کیږی ما ته دا خبره ډیره آسانه ده زکریا! تعجب ولے کوے یو وخت وو چه تاسو نهٔ وئ نو ما تاسو موجود کړئ اُوس به هم دا شان وی"
۸ اُوس حضرت زکریا علیه السلام درخواست اوکړو څهٔ علامه دِ مقرر کړے شی چه هغے سره هغهٔ ته دَ بی بی دَ اُمید کیدلو پته اُولګی دِے دَ پاره چه هغه دَ دے نعمت زیات نه زیات شکر ادا کړے شی نو الله تعالیٰ اُوفرمائیل کله چه ستا دَ بی بی اُمید شی نو تهٔ به سره دَ صحتمند ئی او روغتیا درے ورځے خبرے نهٔ شے کولے ۔ سَوِیًّا، صحتمند، دَ ګونګوالی نه محفوظ ۔ سوی الخلق سلیم الجوارح ما بك شائبة بکم ولا خرس (ابوالسعود ج ۵ ص۲۶۷) دینه معلومه شوه چه حضرت زکریا علیه السلام په غیب عالم نهٔ وو او څوک چه غیب دان نهٔ وی هغه کارساز او متصرّف فی الامور نهٔ شی کیدے ۔

فَخَرَجَ عَلٰی قَوْمِهٖ مِنَ الْمِحْرَابِ فَاَوْحٰۤی

بیا راُووتو خپلو خلقوته ۹ دَ حجرے نه نو په اشاره ئے سره وئے اُوئیل

إِلَيْهِمْ أَن سَبِّحُوا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴿۱۱﴾

خلقو ته چه یاد وئ (الله) صبا او بیګاه ف۱ ف

يَٰيَحْيَىٰ خُذِ الْكِتَٰبَ بِقُوَّةٍ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ

اے یحیی ؑ ته واخله کتاب قوت سره او ورکړو مونږ هغهٔ ته

الْحُكْمَ صَبِيًّا ﴿۱۲﴾ وَحَنَانًا مِّن لَّدُنَّا

حکم کول په هلکوالی کښ ف۲. او شوق ورکړو مونږ د خپل طرف نه

وَزَكَوٰةً ۖ وَكَانَ تَقِيًّا ﴿۱۳﴾ وَبَرًّا بِوَٰلِدَيْهِ

او پاکوالے او وو پرهیزګار ف۳ ؑ او نیکی کوونکے د خپل مور پلار سره

وَلَمْ يَكُن جَبَّارًا عَصِيًّا ﴿۱۴﴾ وَسَلَٰمٌ عَلَيْهِ

او نهٔ وو سرکش نافرمانه ف۴. او سلام دے په هغهٔ باندے ؑ

يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ

په کومه ورځ چه پیدا شو او په کومه ورځ چه مری او په کومه ورځ چه پورته کړے شی

حَيًّا ﴿۱۵﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَٰبِ مَرْيَمَ إِذِ ع

ژوندے ف۵. او ذکر اوکړه په کتاب کښ د مریم ؑ کله چه

انتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴿۱۶﴾

چه جدا شوه ؑ د خپلو خلقو نه په یو مکان شرقی کښ ف۶

فَاتَّخَذَتْ مِن دُونِهِمْ حِجَابًا فَأَرْسَلْنَا

بیائے اونیوله د هغوئ ته اخوا یوه پرده بیا اولیږله مونږ

إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴿۱۷﴾

هغے ته یوه فرښته. بیائے جوړ کړو د هغے په مخکښ شکل د سړی کامل او راغله ف۷

قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ

وے وئیل زهٔ پناه غواړم په رحمان سره ستا نه که چرے یې ته

تَقِيًّا ﴿١٨﴾ قَالَ اِنَّمَآ اَنَا رَسُوْلُ رَبِّكِ ۖ

پرهیزګار. - وے وئیل زهٔ خو شله رالیږلے شوے یم ستا د رب د طرفه

لِاَهَبَ لَكِ غُلٰمًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾

چه درکړم تاته یو هلک پاک.

موضح قرآن

ف۱ مخلے سره ئے خبرے نهٔ شوے کولے دا نښه وه چه هغه وخت راغے. ف۲ یعنی کتاب ښودل ئے شروع کړل د خپل پلار په ځائے زور سره یعنی پلار ئے کمزورے وو او دے ځوان وو. ف۳ یو هلک دے را اُوبللو لوبو د پاره دهٔ ورته اُوئیلے مونږ خو د دے د پاره نهٔ یو پیدا شوی. ف۴ یعنی د ارزو هلک اکثر داسے وی لیکن یحیٰی دا شان نهٔ وو. ف۵ الله تعالیٰ چه په خپل بنده سلام اُوائی د هغے معنیٰ داوی چه په هغه هیڅ مؤاخذه او تپوس نشته. ف۶ یعنی د حیض نه غسل کولو د پاره هم دا اول حیض وو د دیارلسو کلونو په عمر کښ یا د پنځلسو کلونو عمر کښ. طرف ته شوے وه د شرم په وجه او هغه مکان شرقی طرف (د بیت المقدس) ته وو اُوس نصاراؤ هم دغه شرقی طرف قبله ګرځولے ده. ف۷ یعنی ځوان ښکلے.

فتح الرحمٰن

ف۱ القصّه کله چه یحیٰی پیدا شو او د لسو کلونو شو.

تفسیر: ۹ نو هم هغه شان اُوشوه کله چه د خدائے په قدرت سره حمل قرار ے اُونیوو نو زکریا علیه السلام نه د خبرو قوت سلب کړے شو او کله چه هغه د خپل محراب (عبادت ګاه) نه را اُوتلو خلقو سره مخامخ شو نو په ژبه ئے د خلقو سره هیڅ اُونهٔ وئیل د دے وجے نه د لاس په اشاره سره ئے هغوئ ته اُوفرمائیل چه تاسو ټول د نعمت شکر اداکولو په طور صبا بیګاه د الله تعالیٰ تسبیح او پاکئ کښ مشغول اُوسیږئ. ولعله علیه السّلام کان مامورا بان یسبح شکرا او یا مرقومه (روح ج ۱۶ ص ۶۷).

۱۰ د دینه مخکښ اِنْدِماج دے ځکه چه دا حکم خو د هغهٔ د پیدائش نه روستو ورکولے شی. ای فلما ولد وبلغ سنا یومر مثله فیه قلنا یٰیحیٰی (روح). اَلْكِتٰبَ کښ الف لام د عهد د پاره دی او دینه مراد تورات دے کتاب قوت سره نیولو نه په هغهٔ باندے پوره پوره عمل کولو طرف ته اشاره ده. وَاٰتَيْنٰهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا. اَلْحُكْمَ نه حکمت یعنی د دین پوهه یا عقل یا نبوت مراد دے. انه الحکمة وهو الفهم فی التوراة والفقه فی الدین والثانی قول

معمر انه العقل والثالث انه النبوة وذلک لان الله تعالٰی بعث یحیٰی وعیسٰی علیهما السّلام وهما صبیان لا کما بعث موسٰی ومحمدًا علیهما السّلام ـــــ وقد بلغا الاشد (کبیر باختصار ج ۵ ص ۵۳۲). حَنَانًا دا په اَلْحُکْم باندے معطوف دے یعنی رحمت او شفقت او وَزَکٰوةً دا هم په اَلْحُکْم باندے معطوف دے او دینه برکت یا د اخلاقو طهارت مراد دے مطلب داچه موږ په ماشوموالی کښې هغهٔ ته د دین پوهه یا نبوت ورکړے وو او هغهٔ موږ شفیق، مهربان او مبارک اوګرځولو. ۱۱ـه د ګناهونو نه بالکلیه (پوره) ځان ساتونکے حدیث شریف کښې راغلی دی چه حضرت یحیٰی علیه السلام په خپل ژوند کښې هیڅ ګناه نهٔ وه کړے او نهٔ ئے د ګناه اراده کړے وه. وَبَرًّا بِوَالِدَیْهِ، مور پلار دواړو باندے احسان کوونکے. د حضرت یحیٰی علیه السلام مور پلار دواړه وو د دے وجے د دواړو ذکر کړے سویدے.

۱۲ـه سلام سلامتی او امان یحیٰی علیه السلام الله تعالٰی د پیدائش په وخت د شیطان د مَسّ (چوټې) نه ګټلو نه، د مرګ په وخت د وحشتِ موت (د مرګ دهشت) نه، او په آخرت کښې د قیامت د ګبراویدلو نه محفوظ اوساتلو ابن عطیه وائی چه د سلام نه مراد متعارف تحیّه ده یعنی دے دریواړو حالتونو کښې به د شرافت او عزت په طور باندے الله تعالٰی په هغوئ تحیّه نازل کړی. دلته درے مختلف حالتونه بیان کړے شول. ولادت د دغه وخت نه چه کوم ژوند شروع کیږی هغے ته دنیوی ژوند وئیلے شی. مُوت دِ دے سره دنیوی ژوند ختمیږی. او د برزخی ژوند دور شروع کیږی بَعث بعد الموت، دِ دے سره برزخی ژوند ختم شی او د اُخروی ژوند شروع کیږی. ۱۳ـه دا د حضرت مریم صدّیقه او حضرت مسیح علیهما السلام بارہ کښې د پیدا کیدو ونکے شبهے جواب دے حضرت مریم سره د بے موسمه میوو موجودیدلو په شبه کښې اچول چه کیدے شی دا د عادت نه خلاف کار د هغوئ په قبضهٔ قدرت کښې وو. داشان د حضرت عیسٰی علیه السلام نه د خارق عادت کارونو ظاهریدل د کوم ذکر چه په سورهٔ آل عمران ع ۵ کښې شویدے په شبه کښې اچول چه شائد هغه هم متصرّف او مختار وو. داشان په انجیل کښې د هغهٔ د پارہ لفظ د ابن الله وارد یدل (د انجیل په ژبه کښې چه د هغے معنیٰ محبوب او غوره کړے شوے ده) دِ دے سره هم وهم پیدا کیدلو چه کیدے شی الله تعالٰی ځنے اختیارات هغوئ ته حواله کړے وی. دلته ئے د حضرت عیسٰی علیه السلام د پیدائش واقعه بیان کړه د دواړو شبهاتو رد اوکړے شو لکه چه مخکښې (ائینده) کښې راځی.

۱۴ـه ای تنحت وتباعدت (قرطبی ج ۱۱ ص ۹۰) یعنی د خپل کور نه اُوتله

لرې د مشرق طرف ته يو ځائې ته لاړه. فَأَرْسَلْنَآ اِلَيْهَا رُوحَنَا. د روح نه حضرت جبرئيل عليه السلام مراد دے چه د ډير خائسته انسان په شکل کښې د حضرت مريم په مخکښې ښکاره شو کله چه حضرت مريم يو غير محرم خپلے مخے ته اوليدو نو خيال ئے اوکړو چه شايد په بد اراده سره راغلے دے نو سمدستي ئے اوئيل. اِنِّىٓ اَعُوذُ الخ اِنْ كُنْتَ تَقِيًّا د پاره جزاء محذوف ده. اى فَاِنِّى عَائِذَةٌ بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ. يعنی که چرے ته پرهيزګار او متقي ئے نو هم زه ستا نه د الله پناه غواړم. تحتو فاذهب اوتحتو تتعظ. جزاء مقدر کړيده يعني که چرته نيک ئے نو ځما د مخے ته لاړشه يا ځما د استعاذه (پناه غوښتلو نه) سبق حاصل کړه او ما ته هيڅ قسم تعرض مه کوه (کله من الروح ج ۱۶ ص ۷۷).

۵ قَالَ فرشتے جواب ورکړو چه زه بشر نه يم زه فرشته يم او تا ته د رب پيغام راوړے دے ستا رب فرمائيلي دی اے مريم ما تا ته دا فرشته د د پاره ليږلے ده چه تا ته ځوئے درکړم. لِاَهَبَ لَكِ، د الله تعالیٰ د پيغام حکايت دے او په اصل کښې عبارت داشان دے. اى رَبُّكِ الَّذِى قَالَ اَرْسَلْتُ هٰذَا الْمَلَكَ لاهب لك (قرطبي ج ۱۱ ص ۹۱ روح ج ۱۶ ص ۷۷) يا د ځوئے هبه کولو نسبت فرشتے ته مجازي دے ځکه چه هغه د دے سبب جوړيږي اى لاكون سببًا فى هبته بالنفخ فى الدرع (روح) د دے سره د اهلِ بدعت دا شبه رفع شوه چه غير الله هم اولاد ورکولے شي لکه چه دلته فرشتے وئيلي وو چه زه تا ته ځوئے درکولو د پاره راغلے يم حاصل دا چه دا قول د فرشتے خپل نه دے بلکه دا د الله تعالیٰ قول دے چه فرشتے حضرت مريم صديقه ته راسولے دے.

قَالَتْ اَنّٰى يَكُوْنُ لِىْ غُلٰمٌ وَّلَمْ يَمْسَسْنِىْ

وے وئيل د کوم ځائے نه به شي ځما هلک او نه دے رسيدلے ما ته

بَشَرٌ وَّلَمْ اَكُ بَغِيًّا ۝۲۰ قَالَ كَذٰلِكِ ۚ قَالَ

هيڅ يو انسان او نه ووم زه بدکاره کله. وے وئيل هم داشان فرمائيلي دی

رَبُّكِ هُوَ عَلَىَّ هَيِّنٌ ۚ وَلِنَجْعَلَهٗٓ اٰيَةً لِّلنَّاسِ

رب ستا هغه په ما اسانه ده او هغه مونږ کول غواړو نښه خلقو د پاره

وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ اَمْرًا مَّقْضِيًّا ۝۲۱

او مهرباني د خپل طرفه او دے دا کار مقرر کړے شوے وو

فَحَمَلَتْهُ فَانْتَبَذَتْ بِهٖ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾

بیا نے هغه په خیټه واخستلو ئله بیا یو طرف ته شوه هغه ئے ځان سره واخستو په یو لرې ځائے کښې ۲۱

فَاَجَآءَهَا الْمَخَاضُ اِلٰى جِذْعِ النَّخْلَةِ

بیا راوستو هغې لره درد د ولادت په بیخ کښې د یوې کهجورې

قَالَتْ يٰلَيْتَنِيْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا وَكُنْتُ

وے وئیل په څۀ طریقه زۀ مره وے مخکښې د دینه او گرځیدلے وے زۀ

نَسْيًا مَّنْسِيًّا ﴿٢٣﴾ فَنَادٰىهَا مِنْ تَحْتِهَآ اَلَّا

هېره د ذهن نه وتلے. نو آواز اُوکړو هغې ته شله د هغې د لاندې طرف نه چه نۀ

تَحْزَنِيْ قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ

خفه کیږه بیشکه گرځولے دے رب ستا لاندې ستا نه

سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّيْٓ اِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ

یو چینه ده. او اُوخوزوه خپل ځان طرف ته ویخ د کهجورې

تُسٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾ فَكُلِيْ وَاشْرَبِيْ

را پریوځي به د هغې نه په تا باندې ئله پخې کهجورې اُوس خوره او څکه

وَقَرِّيْ عَيْنًا ۚ فَاِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ

او یخې کړه سترگې بیا که چرے ته اُوینې یو انسان

اَحَدًا ۙ فَقُوْلِيْٓ اِنِّيْ نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ

نو وایه ما منلے ده د رحمٰن

صَوْمًا فَلَنْ اُكَلِّمَ الْيَوْمَ اِنْسِيًّا ﴿٢٦﴾

روژه نو خبرې نۀ کوم نن د یو انسان سره ۲۲

فَاَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا تَحْمِلُهٗ ۭ قَالُوْا يٰمَرْيَمُ

بیا ئے راوستلو هغه ئله خپلو خلقو ته په غیږ کښې. هغوئ دیته اُوئیل چه اے مریم

لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ يَا أُخْتَ هَارُونَ

تا اوکړو دا یو لوئے بد کار. اے خور د هارون

مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ

نهٔ وو ستا پلار سړے خراب او نهٔ وه

أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾

ستا مور خرابه ف

موضح قرآن ف تنبیه خلقو د پاره یعنی بے پلاره به هلک پیدا کیږی د الله قدرت دے. ف۲ یعنی د پیدائش په وخت ۱۲.
ف۳ دا اواز فرشتے اوکړو او په زمکه کښ یوه چینه را اوتله ۱۲. ف۴ د هغوئ په دین کښ دا منښته صحیح وه چه د خبرو نهٔ کولو روژه به ئے هم نیوله خو زموږ په دین کښ دا نذر (منښته) صحیح نهٔ ده ۱۲. ف۵ د هارون خور یعنی د بنی هارون خور، د نیکهٔ نوم اخستلے شی قوم ته لکه عاد، ثمود، ځکه چه داوه د حضرت هارون علیه السلام په اولاد کښ.

تفسیر: ۲۶ د فرشتے خبرو اوریدلو سره حضرت مریم سخته حیرانه شوه او هغې نه ئے تپوس نه شروع کړل چه ځما ځوئے به څنګه پیدا شی حال دا دے چه یو انسان ما ته نکاح کولو سره هم لاس نهٔ دے راوړے نهٔ زهٔ بدکاره یم دغه فرشتے اوئیل چه ستا رب هم دا فرمائیلی دی چه د انسان مَس کولو نه بغیر ځوئے پیدا کول هم ما ته څهٔ ګران کار نهٔ دے بلکه دا یو اسان کار دے او زهٔ به دا شان بغیر د پلار نه ځوئے پیدا کړم او هغهٔ به د خپل قدرت اعجاز اوګرځوم او هغه به ایمان والو د پاره د رحمت باعث وی او دا خبره په لوح محفوظ کښ مقدر کړے شوی یا په ازل کښ فیصله کړے شوی ده (اَمْرًا مَّقْضِيًّا) محکما قد تعلق به قضاء نا الازلی او قد روسطر فی اللوح لا بد من جریانه علیك البتة (ابو السعود ج ۹ ص) لِنَجْعَلَهٗ اٰيَةً، اٰيَةً نه دلته معجزه مراد ده یا د اٰيَةً نه علامت مراد دے یعنی بغیر د پلار نه د هغهٔ پیدائش به په خپل کمال قدرت علامه او دلیل اوګرځوم ای لنجعل وهب الغلام اٰية لهم و برهانا یستدلون به علی کمال قدرتنا (ابو السعود ج ۵ ص) من کوره واقعے نه معلومه شوه چه حضرت مریم صدیقه ته پته اونهٔ لګیده چه دا فرشته ده چه په انسانی شکل کښ هغې نه مخے ته راغلے ده دا شان د بچی د پیدا کیدلو د کیفیت علم هم ورته نهٔ وو.

تو دینه ثابته شوه چه هغه په غیب عالمه نهٔ وه ځ دے وجے نه هغه متصرّف او کارساز نهٔ شی کیدے۔

ﻜﻠﻪ حضرت جبرئیل علیه السلام دَ حضرت مریم په گریوان کښ پُوکے اُوهلو چه هغې سره هغه فورًا حامله شوه. فَانْتَبَذَتْ بِهٖ او دِینه روستو فَاَجَآءَهَا الْمَخَاضُ، یعنی هغه دِے نه روستو فورًا لرے ځائے ته لاړه او بیا فورًا دَ ولادت درد دَ یوے کهجورے سورې ته راوستله دِے بانده دَ فاء داخلیدل چه په تراخی بلا مهلت بانده دلالت کوی دِے سره ځنو خلقو استدلال کړے دے چه دَ حمل نه روستو فوراً بچے پیدا شوے وو او دَ حمل زمانه نهٔ وه اُوګده شوے (قرطبی ج ۱۱ ص۹۲) لیکن دَ حضرت عبد الله بن عباس او دَ نورو مفسرینو قول دے چه زمانه دَ حمل اُوګده وه څنګه چه عام طور بانده دَ ښځو وی. حضرت ابن عباس نه نهه میاشتے. عطاء، ابو العالیه او ضحاک نه اُوه میاشتے او دَ ځنو نه شپږ میاشتے نقل شویدی (کبیر ج ۵ ص۸۲ روح ج ۱۶ ص۷۸)

ﻜﻠﻪ دَ نَادٰی فاعل حضرت جبرئیل علیه السلام دے لکه چه دَ ابن عباس رضه نه نقل شویدے مِنْ تَحْتِهَا یعنی دَ حضرت مریم نه لاندے سَرِیًّا، وړوکی شان لختے چه په هغې کښ دَ هغه ځائے نه دَ چینے راوتونکی اُوبهٔ بهیدلی دی. وَ هُزِّیٓ اِلَیْکِ الخ کله چه حضرت مریم ته دَ ولادت درد شروع شو نو هغه یو داسے ځائے ته لاړه چه دَ ګیر چاپیره زمکے نه لږ شان اُوچت وو هلته دَ کهجورے اُونه وه او لاندے دَ اُوبو نهر وو کله چه هغه خپل دِے حالت بانده او تکلیف سره غمژنه ناسته وه. دغه وخت حضرت جبرئیل علیه السلام لانده اُودریدو هغې سره ئے خبرے اُوکړے چه غم مهٔ کوه. کوره ستاسو دَ بسپولاتی نه دَ چینے نه اُوبهٔ را اُوځی او پاس دَ کهجورے اُونه ده اُونه ښخوه لږ سره اُوخوزوه هغې نه به کهجورے را پریوځی هغه خوره او دَ چینے نه اُوبهٔ څکه او داشان خپل غم غلط کړه.

ﻜﻠﻪ تُسٰقِطْ، دَ پاره فاعل النَّخْلَةُ دے او هغه دَ هُزِّیٓ امر دَ جواب کیدلو په وجے سره مجزوم دے. قفلی واشربی، علامه آلوسی دلته یوه لطیف نکته ذکر کړیده دلته ئے په بیان کښ دَ اُوبو ذکر دَ کهجورے دَ ذکر نه مخکښ کړیدے ځکه چه دَ خوراک په نسبت اُوبو ضرورت زیات دے لیکن دَ دواړو څیزونو دَ استعمالولو په موقع بانده ئے خوراک په څښاک مقدم کړے دے. ځکه چه عادةً خوراک په څکلو بانده مخکښ وی (روح ج ۱۶ ص۸۵)

فَاِمَّا تَرَیِنَّ، دا هم دَ حضرت جبرئیل کلام دے، دِے کښ هغوئی حضرت مریم صدیقه ته داهدایت اُوکړو چه هغه خپل نوے پیدا شوے ځوئے

واخلي او خپل کورته لاړه شي نو په لاره کښې که چرې څوک انسان ملاؤ شي او ستا نه د څوئے باره کښې تپوس اوکړي نو په اشاره هغهٔ ته اووايه چه ما د الله د پاره د روژے نذر کړے دے د دے وجے نه د چا سره خبرے نهٔ شم کولے د دغه وخت شريعت کښې د روژے په حالت کښې مفطراتِ ثلثه (د دے ماتوونکی څیزونو) ته علاوه چه (خوراک، څښکاک، جماع ده) د خبرو نه هم پرهيز لازم وو يعنې څنګه چه په روژه کښې خوړل، څکل او کور والے جائز نهٔ وو دا شان د روژے په حالت کښې د کوم انسان سره خبرے کول هم جائز نهٔ وو. ليکن ځمونږ په شريعت کښې دا شان روژه جائز نهٔ ده. ځينې جاهل پيران او د هغوئ پرانده مريدان د چا سره خبرے نهٔ کوي او وائي چه مونږ د چپ روژه نيولے ده دا ځمونږ په شريعت کښې بالکل جائز نهٔ ده. المراد به الصوم عن المفطرات المعلومة وعن الکلام وکانوا لا يتکلمون فی صيامهم وکان قربة فی دينهم فيصح نذره وقد نهی النبی صلی الله عليه وسلم عنه فهو منسوخ فی شرعنا کما ذکره الجصاص فی کتاب الاحکام وروی عن ابی بکر رضی الله تعالٰی عنه انه دخل علی امرأة قد نذرت ان لا تتکلم فقال ان الاسلام هدم هذا فتکلمی (روح ج ۱۶ ص۸۶)

۲۰ فَرِيًّا، ډيره بده خبره کله چه حضرت عيسٰی عليه السلام پيدا شو نو حضرت مريم هغه واخستو خپل کور ته راغله نو د هغے قوم چه دا حالت اوليده و وے وئيل چه اے مريم تا ډيره بده حرکت کړے دے.
يٰاُخْتَ هٰرُوْنَ. هارون د حضرت مريم د پلار د طرفه رور وو او ډير نيک پرهيزګار او عابد زاهد وو. وکان اخاها من ابيها ومن افضل بنی اسرائيل (مدارک ج ۳ ص۲۶) يعنې اے مريم تهٔ خو د هارون په شان د يو نيک او پرهيزګار خورئے ستا پلار خو بد سړے نهٔ وو نهٔ ستا مور بدکاره وه دا تا څهٔ اوکړل؟.

فَاَشَارَتْ اِلَيْهِ ۚ قَالُوْا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ

بيا ئے په لاس سره ښودنه اوکړه هغه هلک طرف ته، وے وئيل څنګه خبرے اوکړو مونږ هغه سړي سره چه

كَانَ فِى الْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾ قَالَ اِنِّىْ

هغه دے په غيږ کښې هلک. هغهٔ اووئيل زهٔ

عَبْدُ اللّٰهِ ۗ اٰتٰنِىَ الْكِتٰبَ وَجَعَلَنِىْ نَبِيًّا ﴿٣٠﴾

بنده يم د الله ﷻ ماته راکړے دے هغهٔ کتاب او زهٔ کړے يم هغهٔ پيغمبر.

وَجَعَلَنِیْ مُبٰرَكًا اَیْنَ مَا كُنْتُ ۪ وَاَوْصٰنِیْ

او ګرځولے ئے یم زهٔ برکت والا کوم ځائے چه یم زهٔ او تاکید ئے کړیدے ماته

بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَیًّا ﴿۳۱﴾ ۙ

دَ مانځه او دَ زکوٰة ترڅو چه زهٔ یم ژوندے ۲۳

وَّبَرًّاۢ بِوَالِدَتِیْ ۫ وَلَمْ یَجْعَلْنِیْ جَبَّارًا

او نیکی کوونکے دَ خپلے مور سره او زهٔ ئے نهٔ یم ګرځولے سرکش

شَقِیًّا ﴿۳۲﴾ وَالسَّلٰمُ عَلَیَّ یَوْمَ وُلِدْتُّ وَیَوْمَ

او بد بخت. او سلام دے په ما باندے په کومه ورځ ۲۴ چه زهٔ پیدا شوے یم او په کومه ورځ

اَمُوْتُ وَیَوْمَ اُبْعَثُ حَیًّا ﴿۳۳﴾ ذٰلِكَ عِیْسَى ابْنُ

چه مرم زهٔ او په کومه ورځ چه پاڅولے شم زهٔ ژوندے. دا دے عیسیٰ ځوئے

مَرْیَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِیْ فِیْهِ یَمْتَرُوْنَ ﴿۳۴﴾

دَ مریم ۲۵ خبره رښتیا چه خلق په کښې جهګړه کوی.

مَا كَانَ لِلّٰهِ اَنْ یَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ ۙ سُبْحٰنَهٗ ؕ

نهٔ دے دا سے الله ۲۶ لره چه اُولری اولاد هغه پاک ذات دے

اِذَا قَضٰۤى اَمْرًا فَاِنَّمَا یَقُوْلُ لَهٗ كُنْ

کله چه حکم اُوکړی دَ یو کار کولو نو هم دا وائی هغے ته چه شه

فَیَكُوْنُ ﴿۳۵﴾ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّیْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ

نو هغه اُوشی. او وئیل بیشکه الله دے رب زما او رب ستاسو نو بندګی کوئی دَ هغه ۲۷

هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ ﴿۳۶﴾ فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ

دا لاره ده نیغه (سمه). بیا جدا لاره غوره کړه ډلو ۲۸

مِنْۢ بَیْنِهِمْ ۚ فَوَیْلٌ لِّلَّذِیْنَ كَفَرُوْا

دَ دوئی نه نو خرابی ده انکار کوونکو دپاره ۲۹

مِنۡ مَّشۡهَدِ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ﴿۳۷﴾ اَسۡمِعۡ بِهِمۡ

کوم وخت چه اُوینی یوه ورځ لویه څهٔ ښهٔ اوریدونکی

وَاَبۡصِرۡ يَوۡمَ يَاۡتُوۡنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوۡنَ الۡيَوۡمَ

اولیدونکی به وی کوم ورځ چه راشی مونږ ته بے انصاف نن ورځ

فِىۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ﴿۳۸﴾ وَاَنۡذِرۡهُمۡ يَوۡمَ

په ګمراهئ ښکاره کښی دی۔ او ویره واوره هغوئ ته دَ هغے ورځے

الۡحَسۡرَةِ اِذۡ قُضِىَ الۡاَمۡرُ‌ۘ وَهُمۡ فِىۡ غَفۡلَةٍ

دَ افسوس کله چه فیصله کړے شی کار او هغوئ هیره وی (دغه ورځ)

وقف لازم

وَّهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۳۹﴾

او هغوئ یقین نهٔ کوی ف۔

نکات: ۳۷ زجر تصار اوٗ دَ پارهٔ ۱۲۔ ۳۸ دَ مقدر سوال جواب ۱۲۔ ۳۹ تخویف أخروی ۱۲۔

موضح قرآن ف ترڅو پورے چه دَ حشر ورځ ده نو دَ دوزخ نه به مسلمانان راویستلے شی جنت ته به ځی ترد ے وخته پورے به کافران هم په طمع کښی وی۔ بیا به مرګ دَ یو ګډ په شکل کښی راوستلے شی دَ دوزخ او جنت مینځ کښی به ذبح کړے شی ټول به وړګوری او اواز به اُوکړے شی جنتیان په جنت کښی او دوزخیان په دوزخ کښی پراتهٔ اُوسیږئ همیشه دَ پاره مرګ به هیچا ته نهٔ راځی دغه وخت به کافران ناامیده او بے طمعے شی۔

تفسیر: ۲۱ حضرت مریم علیها السلام ته چونکه جبرئیل امین دَ ولادت په وخت زیرے ورکړے وو چه کوم بچے پیدا کیږی هغهٔ به دَ پئ رودنے په زمانه کښی خبرے کوی لکه چه په سورهٔ ال عمران ع ۵ کښی دی وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا۔ دَ دے وجے نه هغے دَ بچی طرفته اشاره اُوکړه هغوئ ته ئے اُوښودل چه هغوئ دَ دے معاملے دَ حقیقت دَ هغهٔ نه تپوس اُوکړی۔ قَالُوْا كَيْفَ نُكَلِّمُ الخ دِ دے سره خلقو اُوئیل چه مونږ به دَ دے پئ رودونکی بچی سره څنګه خبرے اُوکړو چرته دَ دے عمر ما شوم خبرے کړی دی۔ ۲۲ حضرت عیسیٰ علیه السلام فوراً اُوئیل چه زهٔ دَ الله بنده یم

الله زهٔ نبی گرځولے یم او ما ته ئے کتاب هم راکړے دے او زهٔ ئے برکت ناک گرځولے یم او تر څو چه زهٔ ژوندے اوسم ما ته ئے دَ مونځ کولو او زکوٰة ورکولو حکم کړے دے. وَبَرًّا بِوَالِدَتِيْ الخ او ما ته هغهٔ دَ مور سره ښهٔ سلوک کولو حکم کړے دے او زهٔ ئے سخت طبیعت والا او سخت زړهٔ والا نهٔ یم گرځولے حضرت عیسیٰ علیه السلام چونکه بغیرهٔ پلار صرف دَ مور نه پیدا شوے وو دَ دے وجے نه الله تعالیٰ دَ هغهٔ په ژبه باندے بَرًّا بِوَالِدَتِيْ الفاظ جاری کړل او دَ والد سره دَ والد ذکر نشته.

۲۳ دلته مرزایان اعتراض کوی چه کهٔ چرته عیسیٰ علیه السلام په اسمانونو کښ ژوندے دے نو هغه هلته مونځ څنگه کوی او زکوٰة څنگه ورکوی نو دَ دے جواب دا دے چه دَ ژوند نه مراد دلته مطلق ژوند مراد نهٔ دے بلکه متعارف ژوند مراد دے یعنی هغه ژوند کوم چه دَ زمکے په سر باندے تیره ولے شوے. وانت تعلم ان الظاهر المتبادر من المدة المذکورة مدة کونه علیه الصلوٰة والسلام حیًا فی الدنیا علیٰ ما هو المتعارف وذٰلک لا یشمل مدة کونه علیه السلام فی السماء (روح ج ۱۶ ص۹۰).-دویم جواب دا دے چه مونځ خو هغه په اسمان کښ هم کولے شی دِ دے کښ هیڅ مشکل نشته باقی پاتے دَ زکوٰة سوال نو هغه په دوئ فرض نهٔ دے ځکه چه په اسمان کښ دَ هغهٔ سرهٔ دولت کوم ځائے ؟.

۲۴ دلته هم دَ مخکښ په شان دَ دریو مختلفو زمانو ذکر کړے شوے دے چه یو دَ بل نه قطعًا مختلف دی۱،یعنی دَ ولادت نه روستو۲. دَ مرگ نه روستو ۳. او دَ بعث بعد الموت نه روستو. ولادت نه دَ دُنیا ژوند شروع کیږی چه مرگ سره ختمیږی. او مرگ سره برزخی ژوند شروع کیږی چه دَ دوباره ژوندی کیدلو پورے دے او دینه روستو اُخروی ژوند دے.

۲۵ ذٰلِکَ سره ذکر شو حالاتو طرف ته اشاره ده یعنی دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام حالات دا دی.-چه هغه پخپله محتاج وو او دَ مور دَ خیټے نه پیدا شوے وو هغه څنگه متصرف او مختار کیدے شی.

۲۶ زجر دے دَ نصاراؤ دَ پاره چه دَ الله تعالیٰ طرف ته ئے دَ ولد نسبت کولو او وئیل به ئے چه حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ الله تعالیٰ ولد او نائب دے وے فرمائیل دا غلطه ده دَ هغهٔ دَ پاره څوک ولد او نائب نشته او نهٔ دَ هغهٔ نائب ته ضرورت شته هغه خو داسے قادر دے چه څهٔ اُوغواړی نو دَ کُنْ لفظ سره ئے پیدا کړی.

۲۷ دا هم دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام مقوله ده او اِنِّیْ عَبْدُ اللهِ باندے معطوف ده یعنی زهٔ خو دَ الله تعالیٰ بنده یم او الله تعالیٰ زما او ستاسو دَ

تو لو رب او کارساز دے ۔ دَ دے وجے نه صرف هغهٔ ته اواز کوئ او صرف دَ هغهٔ په نوم منښته کوئ ۔ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ سره ځکښ ما قبل طرف ته اشا ره ده یعنی صرف دَ الله تعالیٰ دَ عبادت او را بللو مسئله صراط مستقیم او سمه لاره ده هٰذَا ما ذکر من التوحید (روح ج ۱۶ ص۹۲) (هذا) الذی ذکرت (صراط مستقیم) فاعبدوه ولا تشرکوا به شیئًا (مدارک ج ۳ ص۲۷) دینه معلومه شوه چه حضرت عیسیٰ علیه السلام پخپله اعلان کوی چه صرف الله تعالیٰ ته اواز کوئ ۔ دَ دے وجے نه هغه پخپله دَ رابللو لائق نهٔ شی کیدلے ۔

۲۸ه دا دَ یومئذ سوال جواب دے سوال داوو چه کله حضرت عیسیٰ علیه السلام په ماشوم والی کښ دَ توحید اعلان اُوکړو او منکرو بیان سره دَ حضرت مریمؑ دَ الوهیت نفی هم کیږی نو بیا دِ دے دواړو ته په غائبانه حاجتونو کښ ولے اواز کولے شو ۔ دَ دے جواب دا دے چه دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ رفع (اسمان ته ختلو نه) روستو په نصاراؤ کښ اختلاف پیدا شو او دَ نصاراؤ بدو او ناکاره عالمانو دَ توحید خلاف دَ شرک تبلیغ شروع کړو او پخپله حضرت عیسیٰ علیه السلام ئے ابن الله او نائب متصرّف اُوګڼړلو را بلل ئے شروع کړل ۔ قالت النسطوریة منهم هو ابن الله والملکانیة ثالث ثلثة وقالت الیعقوبیة هُوَ الله (قرطبی ج ۱۱ ص۱۰۸)

۲۹ه دا تخویف اُخروی دے ۔ اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ الخ دا دواړه دَ فعل تعجب صیغے دی ۔ یعنی دا مشرکان خو نن شرک او کفر گمراهئ کښ ړانده او کاڼړه دی لیکن دَ قیامت په ورځ به دَ دوئ سترګے پرانستے وی او دَ دوئ قوتِ سامعه به تیز کړے شوے وی ۔ وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ الخ دَ قیامت ورځ ته ئے يَوْمَ الْحَسْرَةِ او دَ افسوس ورځ وئیلے ده ځکه چه په دغه ورځ به انکار کوونکی سخت افسوس کوی چه هغوئ په دُنیا کښ حق ولے قبول نهٔ کړو او په غفلت او لا پرواهئ کښ پاتے شول ۔

إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا

موږ به وارثان یو دَ زمکے ۳۰ه او څوک چه په زمکه کښ دی

وَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴿٤٠﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ ع

او هغوئ به موږ طرفته بیا راځی ۔ او ذکر کړه په کتاب کښ

إِبْرَاهِيمَ ۚ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا

دَ ابراهیم ۳۱ه بیشکه وو هغه رښتونے

نَبِيًّا ﴿٤١﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ

نبي . کله چه ئے اُوئیل پلار خپل ته ﷺ اے پلاره زما ولے عبادت کوے

مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنكَ

د هغه څۀ چه نۀ اوري او نۀ ویني او نۀ په کار راځي ستا

شَيْئًا ﴿٤٢﴾ يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ

څۀ . اے پلاره زما راغلي دے ﷺ ما ته د یو څیز

الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ

خبر چه نۀ دے راغلي تا ته نو زما په لار روان شه چه اُوښائم تا ته

صِرَاطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾ يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ

لاره تیغه . اے پلاره زما مه کوه عبادت د شیطان

إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾

بیشکه شیطان دے د رحمٰن نه نافرمان.

يَا أَبَتِ إِنِّي أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ

اے پلاره زما زۀ ویریږم چه چرته اُویه رسیږي تا ته یو عذاب

مِّنَ الرَّحْمَٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا ﴿٤٥﴾

د طرفه د رحمٰن نه بیا به ته شې د شیطان ملګرے ول

قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ

هغۀ اُوئیل ایا اعراض کوونکے ئے ته ﷺ زما د بُتانو نه اے ابراهیم

لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا ﴿٤٦﴾

که چرے منع نۀ شوے نۀ نو تا به په کاڼو اُولم او لرے شه زما نه څۀ موده.

نکات: سـ۱ د درېیمے شبهے جواب ۱۲. سـ۲ د توحید دعوی بانـدے دلیل وحی.

موضح قرآن ف یعنی د کفر د وبال په وجه که څه عذاب راشي نو ته به د شیطان نه امداد اُوغواړے یعنی د بتانو نه
لکه چه اکثر خلق په داسے وخت کښ شرک کوي.

تفسير: ۳۰ دینه مراد دا دے چه د نفخهٔ اولیٰ په وخت به د عالَم ټول نظام او ټوله دنیا تباه او برباد شي او د الله تعالیٰ نه سیوا به هیڅوک باقي پاتے نهٔ شي بیا د دویمے شپیلئ نه روستو به د ټولو انسانانو د خدائے په عدالت کښ پیشي وي. مشرکان د الله نه سیوا چه چا ته اوازونه کوي هغوئ سره به دا معامله وي د دے وجے نه هغوئ هرګز د رابللو لائق نهٔ دي.

د دریمے شبهے جواب

۳۱ دا د دریمے شبهے جواب دے یهودو، نصاراؤ او مشرکانو به حضرت ابراهیم علیه السلام کارساز ګڼړلو او اوازبه ئے ورته کولو. نو د دے جواب ورکړے شو چه حضرت ابراهیم علیه السلام چه د انبیاؤ علیهم السلام ډیر عزتمن نیکهٔ دے هغه پخپله خپل پلار ته وائي چه غیر الله ته اواز مهٔ کوه هغهٔ تا ته نفع او نقصان نهٔ شي رسولے د دے وجے نه هغه څنګه متصرف، مختار او معبود کیدے شي؟ - حضرت زکریا علیه السلام ته صرف یهودو او حضرت عیسیٰ او مریم علیهم السلام ته نصاراؤ اوازکولو لیکن حضرت ابراهیم علیه السلام یهودو، نصاراؤ او مشرکانو د عربو متصرف ګڼړلو او اوازبه ئے ورته کولو د دے وجے نه ئے اوس هغهٔ د الوهیت د شبهے نفي او رد اُوکړو. ۳۲ د حضرت ابراهیم علیه السلام د پلار نوم تارح او لقب آزر وو چه نهٔ خو صرف بُت پرست وو بلکه بُت تراش هم وو هغهٔ به بتان جوړول او خرڅول به ئے د دے زیات تحقیق په سورهٔ انعام رکوع ۹ تفسیر کښ تیر شویدے او زیات تحقیق به د سورهٔ شعراء د آخري رکوع په تفسیر کښ راځي انشاء الله تعالیٰ - لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ الخ حضرت ابراهیم علیه السلام بغیر د څهٔ تمهید نه د توحید د مسئلے منفي اړخ چه نسبتاً زیات ناخوښه پریوځي (بدهٔ نهٔ لګي) د خپل پلار مخکښ پیش کړو داغالباً د تبلیغ آخري موقع وه دینه مخکښ ئے د توحید مثبت اړخ څو ځله بیان کړے وو په هغے کښ ئے د باطلو معبودانو درے نقصانونه بیان کړیدي. اول دا چه دا د رابلونکي دُعاء او رابلل نهٔ اُوري. دویم دا چه هغوئ د خپل رابلونکي خشوع خضوع او عجز انکسار خو نهٔ شي لیدے. دریم دا چه هغوئ په څهٔ کار نهٔ راځي نهٔ خو مشکل آسانولے شي او نهٔ یوحاجت پوره کولے شي.

۳۳ دا د حضرت ابراهیم علیه السلام د دعوے د صداقت دلیل دے یعني

ما ته د الله تعالیٰ د وحی په ذریعه داسې علم حاصل دے چه ستا سو سره نشته د دے وجې نه تاسو ځما تابعداری اوکړئ او توحید اومنئ په اصل کښ دا سمه لار ده. لَا تَعْبُدِ الشَّیْطٰنَ الخ د معبودانو باطلو عبادت ته ئے د شیطان عبادت ځکه اُوئیلو چه شیطان انسان ګمراه کوی او هغۀ بانديے شرک کوی. یا د دے وجې نه د بزرګانو صورت اختیارولو سره مشرکانو ته د خپل عبادت کولو حکم ورکوی. یٰٓاَبَتِ اِنِّیْٓ اَخَافُ، دا تخویف اُخروی دے.

۳۴ دا ابراهیم علیه السلام ته د پلار د طرفه ویره اوروله دی چه ته ځما د معبودانو دومره ډیر مخالف ئے خبردار! که چرے ته د دے خوئی نه منع نۀ شوے نو زۀ به تا په کانړو وولم مربه دِ کړم. د دے وجې نه ستا خیر په دے کښ دے چه ته د دے ځائے نه خپل عزت بچ کولو سره لاړ شی. مَلِیًّا ای اعتزلنی سالم العرض لایصیبك منی معرّة قاله ابن عباس رضـ (قرطبی ج ۱۱ ص۱۱۱) ځنو د مَلِیًّا تفسیر د هراً طویلاً سره کړے دے یعنی اُوګدے زمانے پورے ځما نه لرے شه.

قَالَ سَلٰمٌ عَلَیْكَ ۚ سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ

وے وئیل سلامتیا دِ وی ستا ۳۵ زۀ به بښنه اُوغواړم د ګناه ستا

رَبِّیْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِیْ حَفِیًّا ﴿۴۷﴾ وَاَعْتَزِلُكُمْ

د رب خپل نه بیشکه هغه په ما دے مهربان ۞ او پریږدم تا لره

وَمَا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَاَدْعُوْا

او د کوم چه تاسو عبادت کوئ سیوا د الله نه او زۀ به بندګی کوم

رَبِّیْ ۖ عَسٰٓی اَلَّآ اَكُوْنَ بِدُعَآءِ رَبِّیْ

د رب خپل اُمید دے چه نۀ به شم زۀ بندګئ سره د رب خپل نه

شَقِیًّا ﴿۴۸﴾ فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا یَعْبُدُوْنَ

محروم بیا چه کله جدا شول د هغوئی نه ۳۶ او د کوم چه هغوئی عبادت کولو

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۙ وَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ

سیوا د الله نه او بښلو مونږ هغۀ ته اسحٰق

وَيَعْقُوبَ ۖ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴿۴۹﴾

او یعقوب او دواړه موږ نبیان کړل وو

وَوَهَبْنَا لَهُم مِّن رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا

او ورکړو موږ هغوئ ته د رحمت خپل نه او اوګرځوله

لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿۵۰﴾ وَاذْكُرْ ع

هغوئ د پاره ژبه رښتونې ډیره اوچته وه۳۲. او ذکر کړه

فِي الْكِتَابِ مُوسَىٰ ۚ إِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا

په کتاب کښ موسی ۳۳ بیشکه هغه وو غوره کړے شوے

وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴿۵۱﴾ وَنَادَيْنَاهُ مِن

او وو رسول نبي وه. او اواز اوکړو موږ هغه ته د

جَانِبِ الطُّورِ الْأَيْمَنِ وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا ﴿۵۲﴾

ښي طرف د طور غره نه او نزدے مو را اوبللو د راز خبرو د پاره وه۳۴

وَوَهَبْنَا لَهُ مِن رَّحْمَتِنَا أَخَاهُ هَارُونَ

او اوبښلو موږ هغه ته ۳۵ د مهربانئ خپلې نه ورور د هغه هارون

نَبِيًّا ﴿۵۳﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِسْمَاعِيلَ ۚ

نبي وه. او ذکر کړه په کتاب کښ د اسمعیل

إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُولًا

هغه وو رښتونے په وعده کښ ۳۶ او وو رسول

نَّبِيًّا ﴿۵۴﴾ وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ

نبي وه. او حکم به ئے کولو د خپل کور خلقو ته د مانځه

وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا ﴿۵۵﴾

او د زکوة او وو په نزد د رب خپل غوره کړے شوے.

نکات: ۳۵ سلام دَ متارکت ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ ستا سلامتیا دِ وی دا دَ رخصتئ سلام دے معلومه شوه چه دَ دین خبره بانـدے که مور پلار ناخوښه وی او دَ کور نه ئے اُوباسی او پلار ته څوئے خوږے پستے خبرے اُوکړے او دَ کور نه اُوځی هغه څوئے عاق نهٔ دے او دَ گناه دَ بښلو هغوئی وعده کړے وه کله چه دَ الله تعالیٰ مرضی نهٔ وه نو منع شو. ف۲ یعنی دَ الله په لاره کښ ئے هجرت اُوکړو دَ خپلوانو نه لرے لاړو الله تعالیٰ دَ هغوئی نه بهتر خپل ورکړهٔ دَ اُنس او اُلفت دَ پاره دلته ئے دَ اسمٰعیل نوم ذکر نهٔ کړو ځکه چه هغهٔ دَ دهٔ سره نهٔ وو پاتے شوے بلکه په وړوکوالی کښ ئے دَ ځان نه جُدا کړے وو. ف۳ یعنی همیشه خلق دَ هغهٔ تعریف کوی او په هغهٔ درود لیږی. ف۴ چا ته چه دَ الله دَ طرفه وحی راشی هغه نبی دے او دوئ کښ چه څوک خاص امتیاز لری او یو مستقل اُمت لری یا کتاب، هغه رسول دے. ف۵ هغه سره خبره اُوشوه په مینځ کښ ئے فرشته نهٔ وه.
ف۶ یعنی دَ هغهٔ سره امداد کوونکے شو. ف۷ دَ یو سړی سره ئے وعده کړے وه چه کله نهٔ راشے تر هغے پورے به زهٔ دِے ځائے یم هغه تر یو کاله رانغے دے هم هغه ځائے کښ وو.

تفسیر: ۳۵ تحیه (دَ تحفے سلام) نهٔ دے بلکه سلام دَ متارکت دے والجمهور علی ان المراد بسلامه المسالمة التی هی المتارکة لا التحیة (قرطبی) حَفِیًّا مهربان. اَعْتَزِلُکُمْ الخ سَاَسْتَغْفِرُ بانـدے معطوف دے یعنی زهٔ به ستا سو نه او تا سو چه دَ چا عبادت کوئ دَ الله تعالیٰ نه سیوا دَ هغوئی نه لرے لاړشم او دَ خپل پروردگار عبادت به کوم او ځما اُمید دے چه هغه به ما لره نامراد او ناکام اُونهٔ گرځوی او ستا سو دَ جدائئ نعم البدل (ښکلے بدل) به راکړی. ۳۶ کله چه حضرت ابراهیم علیه السلام دَ هغوئی او دَ هغوئی دَ معبودانو نه په څنګ شو نو دَ الله تعالیٰ نه ئے دَ څوئے دُعا اُوغوښتله نو الله تعالیٰ هغهٔ ته یو څوئے اسحاق ورکړو او اسحاق ته ئے یعقوب ورکړو علیهم الصلوٰة والسلام او هغه دواړو ته ئے نبوت ورکړو او دَ هغوئی اولاد ته ئے برکت ورکړو. لِسَانَ صِدْقٍ الخ دَ لسان نه مجازًا کلام مراد دے او مرکب اضافی نه دَ خلقو مدح او ثنا مراد ده یعنی مونږ په دنیا کښ دَ هغوئی ښهٔ ذکر دَ هغوئی یادگار اُوگرځولو چه دَ دُنیا ټول خلق په هره زمانه کښ هغوئی په نیکه یادوی. لِسَانَ الصِّدْق الثناء الحسن الباقی علیهم اٰخر الابد قاله ابن عباس (بحر ج ۶ ص ۱۹۴) ۳۷ دَ دریو پیغمبرانو علیهم السلام تفصیلی ذکر نه روستوئے دَ دریو ذکر اختصار سره اُوکړو. حضرت موسیٰ. حضرت

اسماعیل او حضرت ادریس علیهم السلام یعنی دا ټول څومره په ځکښ عاجزی
کوی لهٰذا څرګند چه ځپله عاجز او محتاج وی هغه دَ نورو کارساز او متصرف
څنګه کیدے شی. لیکن دا څومره غوره کړے شوی او عزتمند بندګان وو.
لیکن متصرف نهٔ وو. یهودیانو به حضرت موسیٰ علیه السلام او نصاراؤ به
حضرت ادریس علیه السلام او مشرکانو به حضرت اسماعیل علیه السلام
ته آوازکولو دے آیتونو کښ دَ دے نفی اُوکړے شوه چه دا غوره کړے شوی
پیغمبران کارساز نهٔ وو. ۳۸ دا ټول انعامات مونږ هغوئ ته ورکړی وو
هغوئ خود مختار او متصرف نهٔ وو.

۳۹ حضرت اسماعیل علیه السلام په وعده کښ رښتونے او دَ الله تعالیٰ
رسول وو. وَكَانَ يَأْمُرُ الخ هغه دَ الله تعالیٰ دومره زیات تابعدار وُو چه هغهٔ
به دَ خپل کور خلقو ته هم دَ ټولو زبانی، بدنی او مالی عبادتونو په ځائے راوړلو
حکم کولو او دَ الله تعالیٰ غوره کړے شوے بنده وو څوک چه په خپله دومره
زیات تابعدار وی هغه څنګه متصرف کیدے شی.

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ إِدْرِيسَ إِنَّهُ كَانَ

او ذکر کړه په کتاب کښ ادریس ﷺ هغه وو

صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٥٦﴾ وَرَفَعْنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿٥٧﴾

رښتینے نبی او پورته کړ دمونږ هغه په یو مکان اُوچت باندے ملف

أُولٰٓئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ

دا هغه خلق دی لُکه چه انعام اُوکړو الله تعالیٰ په دوئ باندے

النَّبِيّٖنَ مِنْ ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا

پیغمبرانو کښ په اولاد کښ دَ آدم او دَ دوئ نه چه کوم مونږ سواره کړل

مَعَ نُوحٍ وَّمِنْ ذُرِّيَّةِ إِبْرٰهِيمَ وَ

دَ نوح علیه السلام سره او په اولاد کښ دَ ابراهیم او

إِسْرَآءِيلَ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا

او دَ یعقوب او په هغو کښ هدایت اُوکړو او مونږ غوره کړل

إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا

کله چه اورولے شي هغوئ ته آیتونه د رحمٰن نو پریوځي

سُجَّدًا وَبُكِيًّا ﴿٥٨﴾ فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ

السجدة

په سجده باندے او ژاړي. بیا راغلل په ځائے د هغوئ

خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ

بدخلق لله ضائع ئے کړو مونځ او تابع شول د خواهشاتو

فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾ إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ

نو مخکښ به اوویني ګمراهي لیکن چا چه ئله توبه اوویستله او یقین ئے اوکړ

وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ

او وئے کړه نیکي نو هغه خلق به ځي

الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئًا ﴿٦٠﴾ جَنَّاتِ

جنت ته او نه به ضائع کیږي د هغوئ حق لږ هم. جنتونو کښ

عَدْنٍ الَّتِي وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ عِبَادَهُ

د همیشه اوسیدلو چه وعده ئے کړیده رحمٰن د بندګانو خپلو سره

بِالْغَيْبِ ۚ إِنَّهُ كَانَ وَعْدُهُ مَأْتِيًّا ﴿٦١﴾

د هغے د لیدلو نه بغیر بیشکه ده د هغه وعده باندے رسیدل.

لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا سَلَامًا ۖ وَلَهُمْ

نه به اوري هلته بے ځایه خبرے سیوا د سلام نه او هغوئ لپاره ده

رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴿٦٢﴾ تِلْكَ الْجَنَّةُ

روزي د هغوئ هلته صباه بیګاه ف۲. دا هغه جنت دے

الَّتِي نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَن كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾

چه ورکوو به ئے میراث کښ موږ خپلو بندګانو نه څوک چه وي پرهیزګار ف۳.

نکات: ~~۱~~ ذکر شوو شپږو پیغمبرانو طرف ته اشاره ده ۱۲.

موضح قرآن ~~۱~~ لیکلي شوي دي چه حضرت ادریس علیه السلام مخکښ وو د حضرت نوح علیه السلام نه د نجوم او حساب علم، لیکل او ګنډل خلقو د ده نه زده کړي دي د ملک الموت د ده سره دوستي وه یو ځل د امتحان د پاره ئې خپل روح د بدن نه په هغه اویستلو بیا ئې واچولو او د جنت سیل ئې اوغوښتو بیا هلته پاتې شو د الله تعالی په حکم نبي علیه السلام سره د معراج په شپه په څلورم اسمان کښ ملاقي شو او ځنې وائي د حضرت الیاس لقب دے ادریس هغه بني اسرائیلو کښ پیغمبر شوے وو د خضر علیه السلام پشان دے هم ژوندے پاتې شوے دے ۱۲. ~~۲~~ فضول خبرے په نه اورے او د سلام علیک اواز به اوچت اورے ۱۲. ~~۳~~ د ادم علیه السلام میراث چه اول هغه ته جنت ملاؤ شوے وو ۱۲.

فتح الرحمٰن ~~۱~~ یعنی په اسمان باندے ۱۲.

تفسیر: ~~۴۲~~ حضرت ادریس علیه السلام ډیر رښتونے او د الله تعالی نبي وو. الله تعالی هغه ته ډیره لویه مرتبه ورکړے وه لیکن هغه متصرّف او کار ساز نه وو. ~~۴۳~~ دا اشاره مذکوره شپږو پیغمبرانو طرف ته ده یعنی دے ټولو پیغمبرانو ته د الله تعالی انعامات او عزتونه ورکړي وو د حضرت ادم د اولاد نه لکه ادریس علیه السلام او دوئ کښ ځنې داسے دي چه د هغوئ پلرونو او نیکونو ته ئې د حضرت نوح علیه السلام سره د طوفان نه نجات ورکړو لکه حضرت ابراهیم علیه السلام او ځنې د ابراهیم علیه السلام د اولاد نه یعنی اسماعیل علیه السلام او د یعقوب علیه السلام د اولاد نه یعنی حضرت زکریا، عیسیٰ او موسیٰ علیهم السلام. ډے ایت کښ شپږو طریقو سره د دے انبیاء علیهم السلام د الوهیت نفي کړے شوے ده. اول اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَیْهِمْ. الله تعالی په هغوئ خپل انعامات اوکړل. دوېم مِنْ ذُرِّیَّةِ اٰدَمَ الخ دا ټول د ادم اولاد دے. درېم هَدَیْنَا، مونږ هغوئ ته صراط مستقیم (د توحید لارے) طرف ته لار ښوونه اوکړه. څلورم وَاجْتَبَیْنَا، مونږ هغوئ ته په نورو فوقیت او اوچتے درجے ورکړے. پنځم او شپږم. اِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِمُ الخ کله چه هغوئ خمونږ ایتونه لوستلے شي نو هغوئ د عاجزئ د اظهار په طور په سجده پریوځي او خمونږ د ویرے نه ژاړي.

حاصل دا چه دا ټول خمونږ غوره کړے شوي بندګان وو مونږ هغوئ ته سمه لار اوښودله کله چه د هغوئ په مخکښ د الله تعالی ایتونه لوستلے شي نو

دَ هغوئ دَ سترګو نه اوښکے روانے وی. او دَ الله تعالیٰ په حضور کښ سجده بانده پریوځی او هغهٔ ته اوازکوی او خاص دَ هغهٔ نه هرڅهٔ غواړی نو چه کوم خلق دَ خپل مور پلار، اولاد وی او په خپل وجود کښ نورو ته محتاج وی او چا ته چه الله تعالیٰ صراط مستقیم ښودلے وی او چا ته چه ئے دَ نورو نه اوچتے درجے ورکړے وی او هغوئ دَ الله تعالیٰ په مخکښ عاجزی او زاری کوی. هغوئ په هیڅ طریقه هم متصرف او کارساز نهٔ شی کیدے.

۴۲ دا دَ مقدر سوال جواب دے سوال دا دے چه کله ټولو انبیاؤ علیهم السلام صرف الله تعالیٰ متصرف ګنړلو او هغه ئے رابللو نو بیا هغوئ ولے متصرف ګنړلے شول او رابللے شول. نو دَ دے جواب ورکړے شو چه دَ هغوئ نه روستو بد عمله خلقو دَ هغوئ دین او توحید ضائع کړو او دَ الله رابلل ئے پریښودل غیر الله ئے رابللو دا دَ حق او مسئله توحید نه دَ باغیانو جماعت وو. خلفٌ، ناخلف بدکاره خلق. اَلْخَلْفُ الردئ (مفردات) دے ناخلف خلقو دَ مونځ پشان اهم او دَ ټولو عبادتونو جمع کوونکے عبادت پریښودو او دَ نفسانی خواهشاتو تابعدارئ کښ ډوب شول. دَ اضاعت صلوٰة نه یا خو مونځ پریښودل مراد دے یا مطلب دا دے چه هغوئ خالص دَ الله تعالیٰ رابلل او هغهٔ ته اوازکول ضائع کړل غیر الله ته ئے اوازونه کول شروع کړل. فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا، دے کښ تخویف اُخروی دے غَيًّا ای ضلالاً یعنی ګمراهی لیکن دلته مضاف محذوف دے چه دَ هغے حذف کولو سره مضاف الیه دَ هغهٔ قائمقام اوګرځولے شوے. ای جزآءَ الغی قاله الزجاج (کبیر ج ۵ ص۸۱۲) یعنی هغوئ به دَ ګمراهئ سزا بیا مومی.

۴۳ دے ځائے نه واخله مَنْ كَانَ تَقِيًّا پورے بشارت اُخروی دے. مستثنیٰ منقطع ده او اِلَّا په معنیٰ دَ لکن دے مَنْ تَابَ الخ موصول سره دَ صِلّه نه مبتداء ده فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الخ جمله دَ دهٔ خبر دے. تِلْكَ الْجَنَّةُ الخ نه مخکښ يُقَالُ لَهُمْ محذوف دے یعنی دَ قیامت په ورځ به جنتیانو ته دا خبرے کولے شی. تَقِيًّا، یعنی هغه څوک چه دَ شرک نه بچ پاتے شو او دَ الله په توحید بانده قائم پاتے شو. اخرج ابن ابی حاتم عن داؤد ابن ابی هند انه الموحد فتذکروا لا تغفل (روح ج ۱۶ ص۱۳۱) من کان تقیا عن الشرك (مدارك ص۳۲ ج ۳)

وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ ۚ لَهٗ مَا بَيْنَ

او مونږ نهٔ نازلیږو ملائکه لیکن په حکم دَ رب ستا هغهٔ دَپاره دی څهٔ چه مخو تو

أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ ۚ
په مخکښ دی مونږ له او هغه چه څه مونږ ته روستو دی او هغه چه مینځ کښ دی د دے
وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾ رَبُّ السَّمَاوَاتِ
او نه دے رب ستا هیرووکے ۔ رب د اسمانونو
وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ
او د زمکے له او هغه چه د دے مینځ کښ دی نو عبادت کوه د هغه او قائم اوسیږه
لِعِبَادَتِهِ ۚ هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾ ع
په بندګئ د هغه باندے څوک ته پیژنی د هغه همنام ۔
وَيَقُولُ الْإِنسَانُ أَإِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ
او وائی له انسان منکر آیا کله چه زه مړ شم نو بیا به زه
أُخْرَجُ حَيًّا ﴿٦٦﴾ أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنسَانُ
را اوخم ژوندے ۔ آیا یاد نه لری انسان
أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ
چه هغه پیدا کړو مونږ پخوا د دے نه او نه وو هغه
شَيْئًا ﴿٦٧﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيَاطِينَ
هیڅ څیز نو قسم دے په رب ستا چه مونږ به راجمع کړو هغوئ او شیطانان له
ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾
بیا به مخے ته راولو هغوئ ګیر چاپیره د دوزخ نه پراته په ګونډو ۔
ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ
بیا به جدا کړو مونږ د هر یو ډلے نه چا چه دوئ کښ
أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ لَنَحْنُ
سخته کوله د رحمن نه سرکشي ۔ بیا له مونږ ته

أَعْلَمُ بِالَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾

ښه معلوم دي ځوک چه ډیر لائق دي په هغې کښې د داخلیدلو.

وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ

او هیڅ یو نه دے ستاسو نه چه او به نه رسیږي هغې ته او شوه دا وعده په

رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾

رب ستا باندے لازم او مقرر.

نکات: سل د خلورم شبهے جواب ۱۲. سل د شبها تو د ازالے نه روستو د سورت دعوی ذکر کول ۱۲. سل د سورت دویمه حصه دا شکوی ده ۱۲. سل جواب شکوی ۱۲. سل تخویف أخروی ۱۲. سل ثمره د پاره د تعقیب ذکری ۱۲.

موضح قرآن ف یو ځل جبرائیل څو ورځے رانغی کله چه راغے تو نبی علیه السلام أو فرمائیل تاسو هره ورځ ولے نه راځئ. الله تعالی جبرائیل ته دا سے أو ښودل چه داسے جواب ورکړه کلام د الله تعالی دے د جبرائیل د طرفه لکه ایاك نعبد وایاك نستعین. مونږ ته ئے د دعا طریقه أو ښودله، او ځمونږ نه مخکښ روستو ئے أوئیل اسمان او زمکے ته راکوزیدلو کښ زمکه مخکښ او اسمان روستو او په ختلو کښ اسمان مخکښ زمکه روستو. ف۲ د الله تو مونه ټول د ده صفتونه دي یعني ځوک شته د دے صفتونو والا. ف۳ د ویرے او دهشت په وجه به دولاړے را أو لیږي او په ارام کینا ستے هم نه شي دا شوه په ګونډو باندے پریوتل.

فتح الرحمن ف۱ یعني قیامت ۱۲ ف۲ یعني ابتدا د خلق آسمان او زمکے ۱۲ ف۳ یعني د هغه مثل ۱۲. ف۴ یعني کافر انسان ۱۲.

د خلورمے شبهے جواب

تفسیر: ۶۴ دا د فرشتو پاره کښ د شبهے جواب دے چه د انبیاء علیهم السلام حال خو تاسو واوریدو چه هغوئ ټول عاجز او محتاج وو او اوس د فرشتو حال هم واورئ چه تاسو هغه مختار او متصرف ګنړئ هغوئ خو د الله تعالی د حکم دومره زیات پابند دي چه د هغه د حکم نه بغیر زمکے ته هم نه شي راتللے نو متصرف څنګه کیدے شي. مفسر ینو

لیکلی دی چه کله مشرکانو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه د اصحاب کهف، ذو القرنین او روح باره کښې سوال اوکړو نو د هغې په جواب کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د راتلونکې صباله د جواب ورکولو وعده اوکړه لیکن انشاء الله وئیل ئې هیر شول. د الله تعالیٰ د طرفه د وحې راتللو سلسله څو ورځې بنده شوه کله چه د دوو هفتو زمانې نه روستو جبرائیل امین نازل شو نو نبی علیه السلام د هغهٔ نه د دے دومره ورځو د نهٔ راتللو وجه تپوس کړه دِ دے موقع باندے الله تعالیٰ دا ایت نازل کړو دا د حضرت جبرائیل علیه السلام د قول حکایت دے یعنی موږ په خپله خوښه نهٔ شو راتللے بلکه موږ د الله د امر پابند یو کله چه حکم کیږی نو راځو ولکتی عبد مامور اذا بعثت نزلت واذا حبست احتبست (روح).

۴۵ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا، (کوم څهٔ چه څمونږ په مخکښ دی) نه مستقبل زمانه او مَا خَلْفَنَا (څهٔ چه څمونږ نه روستو دی) نه تیره شوے زمانه. او مَا بَيْنَ ذٰلِكَ، (او څهٔ چه د دے مینځ کښ دی) نه زمانه حال مراد ده. ټولے زمانے د الله په اختیار کښ دی څمونږ په اختیار کښ نشته د دے وجے نه موږ هیڅ وخت هم د الله نه سیوا ساه قدرے هم نهٔ شو اخستے. لَهٗ ظرف دے د دهٔ تقدیم په مبتداء باندے د حصر د پاره دے. لَهٗ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا الخ ای لا لنا. وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا، یعنی الله تعالیٰ د هیڅ څیز نه ناخبره نهٔ دے هغه غیب باندے خبر دے او هر څیز هغهٔ ته معلوم دے.

۴۶ د شبهاتو لرے کولو نه روستو ئې د سورت دعوی ذکر کړه چه د زمکے او اسمان یعنی د ټول کائنات مالک او مختار الله تعالیٰ دے لهٰذا د هغهٔ عبادت کوئ او صرف هغهٔ ته اوازکوئ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ او د هغهٔ د عبادت او رابللو پابند شئ ځکه چه متصرف او کارساز صرف هغه دے بل څوک نهٔ دے. هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ سَمِيًّا، یعنی هم صفت او مثل. استفهام انکار د پاره دے یعنی هغه په خپلو صفتونو د کارسازئ کښ څانله او بے مثل دے او د هغهٔ څوک شریک نشته.

دویمه حصّه

۴۷ دلته نه د سورت دویمه حصه شروع کیږی اوله حصه کښ د څلورو شبهاتو جواب ورکولو نه روستو دِ دے حصه کښ شکوے، زجرونه، تخویفونه بشارتونه او تسلّی نبی علیه السلام د پاره ذکر کړے شوی دی دا شکوی ده یعنی ناپوهه انسان وائی چه داڅنګه ممکن ده چه د مرګ نه روستو به هغه دوباره ژوندے کولے شي. اَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنْسَانُ. دا د شکوے جواب دے یعنی انسان ته دا خبره یاده نهٔ ده چه هغه هیڅ نهٔ وو نیست او معدوم

وو نو مونږ هغه دَ نیست نه هست کړو او دَ معدوم نه مونږ موجود کړو نو آیا مونږ دے دوباره نهٔ شو ژوندے کولے.

۴۸ تخویف اُخروی دے. اَلشَّیٰطِیْنَ، دینه مراد شیاطین الجن والانس دی یعنی دَ پیریانو نه علاوه هغه مُلیان او پیران چه دوئ به ئے گمراه کول یا هغه همزاد (هغه روایتی شیطانان یا پیران چه دَ انسان سره پیدا کیږی) چه دوئ به ئے گمراه کول یعنی کافران او مشرکان به دَ خپلو همزادو سره دَ حشر میدان ته راوستلے شی. والمعنی انهم یحشرون مع قرنائهم من الشیاطین الذین اغووهم یقرنون کل کافر مع شیطان فی سلسلة (قرطبی ج ۱۱ ص ۱۳۲). بیا هغه ټول به دَ جهنم نه گیر چاپیره جمع کولے شی. ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ الخ بیا به ټول سرکش جماعتونه دَ کفر او انکار او سرکشئ په اعتبار سره مرتب کړو دَ هر جماعت دَ ټولو نه زیات سرکش او معاندین به په مخکښی صف کښ اُودرولے شی دَ دینه روستو به کم سرکش خلق درجه په درجه اُودرولے شی. عِتِیًّا، ډیر زیات سرکش. اِن معنی "ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيعَةٍ" ثم لننزعن من کل فرقة الاعتی فالاعتی کانه یبتدأ بالتعذیب باشدهم عتیا ثم الذی یلیه وهذا نص کلام ابی اسحٰق فی معنی الآیة (قرطبی ج ۱۱ ص ۱۳۳).

۴۹ ثُمَّ تعقیب ذکری دَ پاره دے. یعنی مونږ ته معلومه ده چه په دوئ کښ دَ ټولو نه مخکښ جهنم ته دَ داخلیدلو مستحق څوک دے وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا الخ. دَ ورود نه دلته دخول مراد نهٔ دے بلکه دینه دَ صراط پُل باندے تیریدل مراد دے چه دَ دوزخ دَ پاسه به وی. عن الحسن الورود المرور علیها من غیر دخول وروی ذلک عن قتادة وذلک المرور علی الصراط الموضوع علی متنها الخ (روح ج ۱۶ ص ۱۲۲) الورود الممر علی الصراط وروی عن ابن عباس وابن مسعود وکعب الاحبار والسدی (قرطبی ج ۱۱ ص ۱۳۶).

ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا وَّنَذَرُ

بیا به نه بچ کړو مونږ هغه څوک چه ویریږی او پریږدو به

الظّٰلِمِیْنَ فِیْهَا جِثِیًّا ﴿۷۲﴾ وَاِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِمْ

گناهگاران په هغے کښ پریوتلی په گونډو. او کله چه اَوروَلے شی هغوئ ته

اٰیٰتُنَا بَیِّنٰتٍ قَالَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا لِلَّذِیْنَ

آیاتونه څموږ ښکاره نو وائی څوک چه منکر دی

اٰمَنُوْۤا ۙ اَیُّ الْفَرِیْقَیْنِ خَیْرٌ مَّقَامًا وَّ

ایمان والوٴ ته دوا ړو ډلو کښ بهتر مقام د چا دے او

اَحْسَنُ نَدِیًّا ﴿۷۳﴾ وَ کَمْ اَهْلَکْنَا قَبْلَهُمْ

او خائسته مجلس د چا دے ۵۱ ۔ او څو مره هلاک کړل مونږ ۵۸ مخکښ د دوئ نه

مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَحْسَنُ اَثَاثًا وَّ رِءْیًا ﴿۷۴﴾

اهل د زمانے هغوئ ښهٔ وو د دوئ نه په سامان او خائست کښ.

قُلْ مَنْ کَانَ فِی الضَّلٰلَةِ فَلْیَمْدُدْ

ته اُو ایه څوک چه وی په ګمراهئ کښ ۵۳ نو پکار ده چه زیات کړی

لَهُ الرَّحْمٰنُ مَدًّا ۚ حَتّٰۤی اِذَا رَاَوْا مَا یُوْعَدُوْنَ

هغه الله تعالیٰ په زیاتو لو سره ۵۳ تر دے چه کله اُوینی کومه وعده چه هغوئ سره شوے وه.

اِمَّا الْعَذَابَ وَ اِمَّا السَّاعَةَ ؕ فَسَیَعْلَمُوْنَ

یا عذاب او یا قیامت نو هغه وخت به پوهه شی

مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّکَانًا وَّ اَضْعَفُ جُنْدًا ﴿۷۵﴾

چه د چا بد ځائے دے او کمزورے د چا فوج دے ۵۵

وَ یَزِیْدُ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اهْتَدَوْا هُدًی ؕ

او زیاتوی الله تعالیٰ د عقل والوٴ عقل ۵۳ ته

وَ الْبٰقِیٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَیْرٌ عِنْدَ رَبِّکَ

او باقی پاتے کیدونکی نیکئ غوره والے لری په نزد د رب ستا

ثَوَابًا وَّ خَیْرٌ مَّرَدًّا ﴿۷۶﴾

له جهته د بدلے او غوره والے له جهته د ځائے ورتللو ۵۵.

نکات: ۵۱ شُمَ د پاره د تعقیب ذکری ۱۲۔ ۵۲ تخویف دنیوی ۱۲۔
۵۳ دا زجر دے ۱۲۔

موضح قرآن

ف۱ د جنت په لاره کښې لیکن د دوزخ ځلۀ د تنور په شکل ده او د هغۀ ځلۀ د دُنیا نه غټه ده د یوے غاړے نه تر بلے غاړے پورے لاره ده چه د ویښتۀ برابر نرئ او د تورے پشان تیره او خوږین ونکے ده ایمان والا به په هغے بانده سلامتیا سره تیر به ږی او گناهگاران به پر یوځی بیا د عمل موافق څو وړځے روسنو به راؤوځی شفاعت او د ارحم الراحمین په مهربانئ او رحم سره آخر چه چا هم کلمه د زړۀ نه ویلی وی ټول به راؤوځی او کافران به پاتے شی بیا به د هغۀ ځلۀ بنده شی. ف۲ یعنی د دُنیا په رونق کښې مقابله کوی ۱۲.
ف۳ یعنی په گمراهئ کښې ئے پریږدی ده ځکه چه دنیا د امتحان ځائے دے نیک او بد به بیا موهی په آخرت کښې دلته نیک او بد نیکی او بدی سره کړوړی دی.
ف۴ یعنی کافران خپل بتان مددگار گنړی او ایمان والا الله تعالیٰ.
ف۵ یعنی د دُنیا رونق د خدائے په نزد څۀ د کار نۀ دے نیکئ به تهولے باقی پاتے وی او دُنیا به پاتے نۀ شی.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی د دُنیا په عزت مغرور شول ۱۲.

تفسیر: ۵۸ ثم تعقیب ذکری د پاره دے ځکه چه دا مطلب نۀ دے چه کله ټول خلق د جهنم د پاسه تیریږی د هغے نه څۀ موده روستو به متقین ته نجات ورکولے شی بلکه داکار به تیریدلو سره متصل وی.
لِهٰذا مطلب به دا وی چه د دیته روستو داخبره هم واؤرئ چه کوم خلق د شرک نه ځان بچ اوساتی هغوئ به د جهنم نه بچ کولے شی او مشرکان به په گونډو پراتۀ د جهنم په اور کښې پریږدو. وَاِذَا تُتْلٰى الخ دا شکوه ده نَدِیًّا ای مجلسًا ومجتمعًا یعنی مشرکانو ته چه کله د قرآن آیتونه لوستلے شی اوروله شی نو هغوئ په جواب کښې وائی دے مسلمانانو دا آیتونه اومثل څۀ ئے حاصل کړی دی. څمونږ مجلسونه څومره د شوکت رُعب دبدبے والا او شاهانه دی. ۵۹ تخویف دنیوی. اَثَاثًا، سازوسامان. رِءْیًا، منظر دا د دُنیا په شان او شوکت بانده نازیدونکی مشرکان دِ نۀ مغرور کیږی مونږ د دوئ نه زیات مال او دولت او شان شوکت والا ډلے هلاک او تباه کړیدی دا بے چاره د هغوئ په مقابله کښې هیڅ هم نۀ دی.
۶۰ دا زجر دے کوم خلق چه د دُنیا په مال او مرتبه بانده مغرور شی او گمراه شی، ضد او عناد کښې ډوب شی الله تعالیٰ هغوئ ته نور هم مُهلت ورکوی تر دے چه د وعدے مطابق د الله عذاب راشی یا قیامت قائم شی فَسَیَعْلَمُوْنَ الخ اوس خوئے نۀ منی لیکن هغه وخت به هغوئ ته معلومه شی

چه دَ دواړو ډلو (مؤمنان او کافران) نه خراب ځائے دَچا دے او دَچا امداديان
کمزوری دی دُنیا کښ مشرکان چه کوم بزرګان متصرّف او کارساز ګنړی
او عبادت ئے کوی او رابلی ئے دَ هغوئی بارهٔ کښ دَ هغوئی دا خیال وی چه
هغوئی به په هر مشکل او سخت وخت دَ دوئی په کار راځی. لیکن دَ خدائے
عذاب را تللو سره به هیڅ په کار نهٔ راځی دَ الله تعالیٰ نه سیوا ټولے وسیلے
او امیدونه بے کاره او کمزوری ثابتیږی. وانما ذکر ذلك ردًا لما کانوا
یزعمونه من انّ لهم اعوانًا من شرکاءهم (روح ۱۶ ص۱۲۷).

۵۳ او ایمان والو ته الله تعالیٰ خپل توفیق سره په ایمان باندے ثبات
او استقلال ورکوی، ویثبّت الله المؤمنین علی الهدی ویزیدهم فی
النصرة الخ (قرطبی ج ۱۱ ص۱۴۴) وَالْبٰقِیٰتُ الصّٰلِحٰتُ الخ مشرکان او کافران دنیوی
مال او زر باندے مغرور او ظاهری جاه او جلال باندے نازیږی حال
دا دے چه دا ټول څیزونه فانی او زوال قبلوونکی دی. لیکن ایمان او اعمالِ
صالحه باقی پاتے کیدونکی څیزونه دی په آخرت کښ به دَ دے ښهٔ بدله
ملاویږی او انجام به ئے نیک وی.

اَفَرَءَيْتَ الَّذِىْ كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا وَقَالَ

ایا تا لیدلے ۵۴ هغه څوک چه منکر شو دَ ایاتونو زمونږ نه او وے وئیل

لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّوَلَدًا ﴿۷۷﴾ اَطَّلَعَ الْغَيْبَ

ملاویږی به ماته مال او اولاد ۵۵. ایا خبر شوے دے په غیب ۵۶

اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿۷۸﴾ كَلَّا

یا ئے اخستے ده دَ رحمٰن نه وعده داسے نهٔ ده

سَنَكْتُبُ مَا يَقُوْلُ وَنَمُدُّ لَهٗ مِنَ الْعَذَابِ

لیکو مونږ څهٔ چه هغوئی وائی او زیاتوو هغوئی په عذاب کښ

مَدًّا ﴿۷۹﴾ وَّنَرِثُهٗ مَا يَقُوْلُ وَيَاْتِيْنَا فَرْدًا ﴿۸۰﴾

زیاتولو سره. او وا به خلو مونږ دَ هغهٔ په مرګ سره کوم چه هغه ئے بیانوی او را به شی مونږ ته یو اځے ۵۷

وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُوْنُوْا

او نیولی دی خلقو ۱ سیوا د الله نه نور معبودان دپاره چه هغوی شی

لَهُمْ عِزًّا ﴿۸۱﴾ كَلَّا ؕ سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ

د دوئ مددګاران . هرګز داسے نه ده ۲ هغوئ به منکروی په عبادت د دوئ

ع وَيَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿۸۲﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّآ

او شی به د دوئ مخالف . تا اوته لیدلی ۳ چه مونږ

اَرْسَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ تَؤُزُّهُمْ

پریښودی دی شیطانان په منکرانو باندے چه تیزوی هغوئ

اَزًّا ﴿۸۳﴾ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ

په تیزولو سره . نو ته مه کوه تلوار په دوئ باندے مونږ خو پوره کوو د هغوئ

عَدًّا ﴿۸۴﴾ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ اِلَى الرَّحْمٰنِ

شمار . کومه ورځ چه راجمع کړو مونږ ۴ پرهیزګاران رحمٰن ته

وَفْدًا ﴿۸۵﴾ وَّنَسُوْقُ الْمُجْرِمِيْنَ اِلٰى

میلمانه رابللی شوی او شړو به ګناهګاران

جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿۸۶﴾ وقف لازم

د جهنم طرف ته تږی .

نکات: ۱ شکوٰی سره د تخویف اُخروی ۱۲ ۔ ۲ زجر د مشرکانو ۱۲ ۔ ۳ بشارت اُخروی ۱۲ ۔ ۴ تخویف اُخروی ۱۲ ۔

موضح قرآن ف یو مالدار کافر یو مسلمان لوهار ته اُوئیل ته د مسلمانئ نه منکر شه نو ستا مزدوری به زهٔ درکړم هغهٔ اُوئیل کهٔ چرے تهٔ مړ شے او بیا ژوندے شے نو بیا به هم زهٔ انکار اونکړم. هغهٔ اُوئیل کهٔ چرے بیا زهٔ ژوندے شم نو هم دا مال اولاد به هلته هم وی تا ته به مزدوری هلته هم درکړم دے باندے ئے دا اُوفرمائیل یعنی هلته دولت ملاویږی ایمان سره کافر غواړی چه د دُنیا دولت به هلته هم

ملا وېړی نو داسې نهٔ ده. ف۲ کوم څهٔ چه دے بیانوی یعنی مال او اولاد نو دَ هغه کافر دوارهٔ ځامن مسلمانان شول. فتح الرحمٰن ف۱ یعنی په قیامت کښې

تفسیر: ۵۴ شکوی سرهٔ دَ تخویف نه شپږ. واما ما نو دَ حضرت خباب رضی الله عنه روایت کړېږی چه دَ عاص ابن وائل په ذمه باندې دَ هغهٔ څهٔ مزدوری وه هغهٔ یوه ورځ هغهٔ ته دَ خپل حق دَ مطالبے دَپاره لاړو نو عاص اُوئیل. ترڅو چه تهٔ په محمد (صلی الله علیه وسلم) باندې کفر اُونکړے او خدائے سره شریک جوړ نهٔ کړے تر هغه وخته به زهٔ تا سوته مزدوری نهٔ درکوم. په جواب کښې حضرت خبّاب اُوئیل چه زهٔ خو به هرګز کفر اُونهٔ کړم اګرچه تهٔ مړ شے او بیا دوباره ژوندے شے. عاص اُوئیل ولے زهٔ به دَ مرګ نه روستو بیا هم ژوندے کولے شم؟ کهٔ چرے داسې وی نو زهٔ به هلته ستا قرض اداکړم ځکه چه دَ دُنیا په شان هلته به هم ځما سره اَل اولاد مال او زر کثرت سره وی دِدے باندے داَایت نازل شو.

۵۵ اَطَّلَعَ په اصل کښې اِطْتَلَعَ په وزن دَ اِفْتَعَلَ وو دفاء افتعال په مقابله کښې دَ طاء واقع کېدلو دَ وجے نه تاء افتعال په طاء بدل شو او اول په دویمه کښې مدغم کړے شوه او دَ وصل همزه مینځ نه اُوغورزیده نو اَطَّلَعَ شو یعنی کوم سړے چه دا دعوٰی کوی چه کهٔ چرے قیامت راغے نو هغه وخت به هم دَ هغهٔ سره دولت ډیر زیات وی ایا هغه په غیب خبر دے چه هغهٔ ته دا خبره معلومه ده یا دَ خدائے نه هغهٔ کومه وعده اخستے ده. هرګز داسې نهٔ ده. دَ دے دواړو خبرو نه یوه هم نهٔ ده دَ دے وجے نه دَ هغهٔ دعوٰی غلطه ده. سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ، هغهٔ چه کوم څهٔ وائی مونږ دَ هغے دَ لیکلو حکم ورکوو او دَ کفر او دَ انکار نه علاوه ځمونږ احکامو پورې دَ استهزاء او توقو په وجے سره به دَ هغهٔ په عذاب کښې زیاتوالے کولے شی او په کوم مال اولاد چه هغهٔ مغرور دے هغه به ټول دَ دهٔ نه واخستلے شی او دَ قیامت په ورځ به یوائحے تن تنها مونږ ته حاضریږی هغهٔ سره به نهٔ اولاد وی نهٔ قبیله او نهٔ دولت ای متفردًا لا مال له ولا ولد ولا عشیرة تنصره (قرطبی ۱۱ ص۱۴۸)

۵۶ دا زجر دے عِزًّا نه مراد اعوان انصار (امدادیان) دی چه دَ دُنیا او آخرت په هر میدان کښې دَ دوئی په کار راشی. ای لیعتزوا بالهتهم ویکونوا لهم شفعاء وانصار اینقذونهم من العذاب (مدارک ج ۳ ص۳۵) دِدے ایت کښې دَ مشرکانو دَ شرک اصل غرض او غایت بیان کړو چه هغوئی دَ الله نه سیوا کوم معبودان ګرځولی دی او چه دَ چا عبادت کوی او دَ چا په نوم چه نذرونه او منّتے ورکوی دَ دینه دَ هغوئی مقصد دا دے چه هغوئی دَ دوئی مدد اُوکړی او دَ خدائے سره دَ دوئی سفارش اُوکړی دا دَ دے حصے مرکزی ایت دے

او دے کښ د سورت ډیر خصوصیت بیان دے۔
۵۷ دا د مشرکانو رد دے چه د کوم غرض د پاره هغوئ د الله نیک بندګان
د خدائے شریکان ګرځولی دی هغه غرض به دوئ ته کله هم حاصل نۀ شی
د الله تعالیٰ بندګان به د دوئ عبادت باندے د خوشحالیدلو په ځائے د قیامت
په ورځ د دوئ د عبادت او را بللو نه انکار اوکړی او د دے مشرکانو خلاف
به شی. دا ایت د انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرام او فرشتو بارهٔ کښ دے.
۵۸ مونږ په هغوئ شیطانان مسلط کړی دی چه هغوئ ته د ګناه ترغیب
ورکوی او په کفر او شرک باندے ئے تیزوی. تَؤُزُّهُمْ اَزًّا ای تغریهم وتهیجهم
علی المعاصی (روح ج ۱۶ ص ۱۳۴). فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ، نبی علیه السلام ته تسلی ده
چه تاسو دا خیال مۀ کوئ چه د دوئ د سرکشئ او عناد او د دوئ د ګناهونو
پیش نظر خو ترأوسه د خدائے په عذاب هلاکیدل پکار دو.
اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا الخ دا د ما قبل علت دے یعنی اُوس د دوئ د هلاکت او
تباهئ وخت بالکل را نزدے شوے دے او په شمار څو ورځے باقی پاتے دی.
۵۹ دا بشارت اُخروی دے. وَفْدًا ای رکبانًا (روح) یعنی د قیامت په ورځ
به متقیان او د شرک نه ځان ساتونکی عزت او احترام سره د الله تعالیٰ په
مجلس حاضر کړے شی. وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِيْنَ الخ دا تخویف اُخروی دے.

لَا يَمْلِكُوْنَ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ
اختیار نۀ لری خلق د سفارش نه لیکن چا چه اخستے ده

الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿۸۷﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ
د رحمٰن نه وعده ئے. او وائی خلق نیولے دے رحمٰن

وَلَدًا ﴿۸۸﴾ لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْـًٔا اِدًّا ﴿۸۹﴾ تَكَادُ
اولاد لۀ بیشکه راګیر شوی یئ تاسو ډیر لوئے څیز کښ ئے. اُوس دِ

السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْاَرْضُ
اسمان اُوچوی دِ دے خبرے سره او توټے دِ شی زمکه

وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿۹۰﴾ اَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ
او اُودِ لوېږی غرونه را غورځیدلو سره په دے خبرۀ. چه رابللی د رحمان په نوم

وَلَدًا ﴿٩١﴾ وَمَا يَنبَغِي لِلرَّحْمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ

اولاد او نه ښائي رحمان له چه اونیسی

وَلَدًا ﴿٩٢﴾ إِن كُلُّ مَن فِي السَّمَاوَاتِ

اولاد او نهٔ دی ټول څیزونه په اسمان

وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِي الرَّحْمَٰنِ عَبْدًا ﴿٩٣﴾ لَّقَدْ

او زمکه کښ چه راتلۀ شي الله ته بندګئ سره ف٩٢

أَحْصَاهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿٩٤﴾ وَكُلُّهُمْ آتِيهِ

هغهٔ سرهٔ دوئ شمیرلي دي او شمارلي ئے دي په شمیرلو سره. او هر یو به د دوئ نه راځي هغهٔ ته په ورځ

يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَرْدًا ﴿٩٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا

په ورځ د قیامت یوائحے ف٩٣. لیکن چا چه ف٩٤ ایمان راوړے دے

وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ

او کړي دي هغوئ نیکئ ورېه کړي هغوئ ته رحمن

وُدًّا ﴿٩٦﴾ فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ

محبت ف٩٥. نو مونږ اسان کړو دا قرآن ف٩٦ په ژبه ستا کښ د دے دپاره چه زیرے ورکړے ته

الْمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِ قَوْمًا لُّدًّا ﴿٩٧﴾

ویریدونکو ته او اویره ورکړے خلق جهګړه کوونکي

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هَلْ

او ډیر هلاک کړل مونږ مخکښ د دوئ نه ف٩٧ ډلے ډلے ایا

تُحِسُّ مِنْهُم مِّنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿٩٨﴾

مومے ته د هغوئ نه کوم یو تن یا اورے د هغوئ پښته (نرم) اواز.

نکات: ۱ د سورت خصوصیت ۱۲. ۲ شکوی ۱۲. ۳ دا د ټول
سورت سره متعلق دے ۱۲. ۴ تخویف دنیوی ۱۲.

موضح قرآن ف۱ یعني چا سره چه الله تعالیٰ وعده اُوکړه هغهٔ به سفارش کوي. ف۲ یعني لویه (درنه) ګناه. ف۳ یعني د دوئ سره به محبت کوي یا به د هغوئ په زړه کښ محبت پیدا کړي یا به د خلقو په زړونو کښ د دوئ محبت واچوي ۱۲.

فتح الرحمٰن ف۱ یعني مسلمان شوے وي او د ثواب وعدے د پاره مستحق ګرځیدلے وي ۱۲. ف۲ یعني یو بل سره به دوستان وي ۱۲.

تفسیر: ۵۶ دا د سورت د خصوصیت بیان دے او دیته د شفاعتِ قهري نفي مقصود ده. اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا، شفاعت به هغه څوک کوي چا ته چه د الله د طرف نه اجازت ملاویږي. لیکن د شفاعتِ قهري اجازت به هیچا ته نهٔ وي. یا عَهْدًا نه مراد توحید دے یعني د قیامت په ورځ به صرف د هغه ګناهګارانو په حق کښ شفاعت قبول وي څوک چه اهل د توحید وي. قال ابن عباس العَھْدُ لا اله اِلَّا الله دِے صورت کښ د دینه مراد مشفوع لهٔ دے یا دا د شافعینو په حق کښ دے یعني د ګناهګارانو سفارش به صرف هغه څوک کولے شي چا چه په دنیا کښ شرک نهٔ دے کړے او خاتمه ئے په توحید شوے وي. لکه چه د عبدالله بن عباس او د مقاتل قول دے. وقال مقاتل وابن عباس ایضًا لا یشفع اِلَّا من شهد ان لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وتبرأ من الحول والقُوَّة اِلَّا لله ولا یرجوا اِلَّا الله تعالیٰ (قرطبي ج ۱۱ ص۱۵۵).

۵۷ دا شکوی ده د سورۂ کهف په شروع کښ ئے اُوفرمائیل وینذر الذین قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا، یعني هغه خلقو ته زجر او تخویف واؤروے شو څوک چه د الله تعالیٰ نه سیوا نور خلق نائب او متصرف ګنړي دینه روستو سورۂ کهف او سورۂ مریم کښ د مشرکانو د شبهاتو ازاله اوکړے شوه په آخر کښ ئے د شبهاتو دازالے نه روستو د سورۂ کهف والا شکوی دوباره ذکر کړے شوه دے د پاره چه داخبره واضحه شي چه د الله تعالیٰ هیڅوک نائب نشته او د الله نه سیوا نور خلق متصرف کارساز ګنړل ډیر لوئے جُرم دے او د ولد نه دلته مراد ولد حقیقي نهٔ دے بلکه نائب او سفارشي مراد دے لکه چه د اتخذ تعبیر نه معلومیږي. لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا اِدًّا نه تر ان یَّتَّخِذَ وَلَدًا پورے د مشرکانو د قول مذکور شناعت او قباحت (خرابي او بدي) ډیر زوردار الفاظو سره بیان کړے شوے ده. شَيْئًا اِدًّا، ډیره لویه درنه خبره المنکر العظیم هدًّا د تَخِرُّ مفعول مطلق دے من غیر لفظه د اَنْ دَعَوْا نه مخکښ لام تعلیلیه مقدر دے اي لان دعوا حاصل دا شو چه هغوئ دا سے خرابه اوګستاخه (بے ادبه) خبره د خُلے نه ویستلے ده چه د هغې په اوریدلو که چرے

آسمان اُوچوی زمکه څیرے شی او غرونه ټوټے ټوټے شی نو هیڅ لرے نهٔ ده دے گستاخانه خبره بانده کهٔ چرے د خدائے غضب په جوش کښ راشی نو ټول نظام د عالم به لاندے بانده اوکړی وړی شی۔

۶۲ دے کښ د مشرکانو د هغے خراب او ناکاره قول رد دے یعنی د زمکے او آسمان ټول مخلوق د الله تعالیٰ مملوک دے او د هغهٔ په وړاندے عاجز او تابعدار دی۔ څوک چه مشرکان د الله تعالیٰ اولاد د گرځوی یعنی فرشتے او انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرام هغه هم د الله مملوک او تابعدار او د هغهٔ عاجز بندگان دی د دے وجے نه هغه د معبودکیدلو او د کار سازئ په صفتونو کښ د الله د نائب کیدلو لائق نهٔ شی کیدلے۔ والمراد انه ما من معبود لهم فی السمٰوٰت والارض من الملٰئکة والناس الا وهو یاتی الرحمٰن ای یأوی الیه ویلتجی الی ربوبیته عبدًا منقادًا مطیعًا خاشعًا راجیًا کما یفعل العبید (کبیر ج ۵ ص۵۳)


۶۳ هغه ټول د الله تعالیٰ د علم او قدرت په احاطه (گیره) کښ دی د هغوئ د ټولو حالاتو نه خبر دے۔ وَكُلُّهُمْ اٰتِیْهِ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ فَرْدًا، د قیامت په ورځ به د دوئ نه هر یو د الله تعالیٰ په مخکښ یواځے او ځانله حاضروی او هغهٔ به هیڅوک سفارشی او یارمددګار نهٔ وی۔ ځنو وئیلی دی چه مراد دا دے چه هر عابد او معبود به د یو بل نه جدا وی۔ ای کل واحد من اهل السمٰوٰت والارض العابدین والمعبودین اٰتیه عزّوجلّ منفردًا عن الاخر فینفرد العابدون عن الالهة التی زعموا انها انصار او شفعاء والمعبودون عن الاتباع الذین عبدوهم الخ (روح ج ۱۶ ص۱۴۲)

۶۴ مطلب دا دے چه د هغوئ په زړونو کښ به خپل محبت واچوی یا به په خپله د هغوئ سره محبت کوی یا د خلقو په زړونو کښ به د دوئ محبت واچوی۔

۶۵ دا د ټول سورت سره متعلق دے او دے آیت کښ ډیر اختصار سره هغه مضمون ذکر کړے شوے دے کوم چه د سورۂ کهف په ابتدائی آیتونو کښ ذکر شوے دے۔ یعنی د شرک نه ځان ساتونکو او د الله تعالیٰ طرف نه د اولاد نیولو نسبت نه احتراز کوونکو ته زیرے ورکول او د الله تعالیٰ طرف ته د ولد او نائب نسبت کوونکو مشرکانو ته ویره آورول۔

دلته د اول جماعت نه الْمُتَّقِیْنَ او دویم جماعت نه

قَوْمًا لُّدًّا اسړه تعبیر اوکړے شو.
٦٦ دا تخویف دنیوی دے، دے کښې خطاب نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دے د مشرکانو د تخویف په ضمن کښې د نبی علیه السلام سره د هغوئ د هلاکت وعده هم وه یعنی د دینه مخکښې دا سې بے شماره معاندین مونږ هلاک کړی دی چه د دُنیا نه د هغوئ نوم نشان ختم شوے دےاو د هغوئ ذکر اذکار بالکل محوه شوے دے ستا د دشمنانو حشر به هم داوی.
والمعنی اهلکنٰهم بالکلیة واستأصلناهم بحیث لاترٰی منهم احدًا ولا تسمع منهم صوتا خفیا فضلًا عن غیره.
(روح ج ١٦ ص١٤٣)



اے د لوئے رحم مالکه بښنه اوکړه
د دے تفسیر لیکونکو ته

خوشنویس

ارقم جان کلے خدوخیل (چارسده روډ) بخشی پُل
پیښور

سورۃ مریم کښې د توحید آیتونه او د هغې خصوصیات

① کٓھٰیٰعٓصٓ ۔ ذِکْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ زَکَرِیَّا نه تر آخری آیت پورې. نفی د تصرّف د زکریا علیه السلام نه.

② اِنَّمَآ اَنَا رَسُوْلُ رَبِّكِ لِاَهَبَ لَكِ غُلٰمًا زَکِیًّا (٢٢) جبرئیل علیه السّلام متصرّف نه وو خالص پیغام رسونکے وو.

③ مَا كَانَ لِلّٰهِ اَنْ يَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ ـــ نه تر ـــ كُنْ فَيَكُوْنُ. نفی د شرک فی التصرف.

④ وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ ـــ نه تر ـــ فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَيْنِهِمْ. د توحید مسئله خو بالکل واضح ده لیکن مشرک پیشوایانو دے کښې اختلاف اچولے دے.

⑤ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِبْرٰهِيْمَ (٣٢) ـــ نه تر ـــ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّبُكِيًّا (٤٢) نفی د الوهیت د انبیاء علیهم الصلوٰة والسلام نه.

⑥ فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ (٤٢) د توحید په مسئله کښې مشرک گده نشیانو او راهنمایانو اختلاف واچولو.

⑦ وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ ـــ نه تر ـــ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا. (٤٢) نفی د الوهیت د ملائک نه ١٢

⑧ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ـــ نه تر ـــ هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ سَمِيًّا نفی شرک فی التصرف

⑨ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً ـــ نه تر ـــ وَيَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا (٥٢) نفی د شرک فی التصرف دا آیت د بزرگانو د الوهیت نفی کوی ١٢

⑩ لَا يَمْلِكُوْنَ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا (٦٢) نفی شفاعت قهری.

⑪ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ـــ نه تر ـــ اَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا نفی د شرک فی التصرف شرک دومره لویه گناه ده چه مشرک شرک کولو سره د کائنات نظام گډوډ کولو کوشش کوی.

⑫ اِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اِلَّآ اٰتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا نفی د الوهیت د انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرام او ملائک عظام.

نن په تاریخ ١١/ رجب المرجب ١٤٢٥ھ ورځ د خالی مطابق ٢٨ آگست ٢٠٠٤ء د سورۃ مریم پښتو تفسیر ختم شو. فالحمد لله تعالیٰ اولًا و آخرًا والصّلوٰة والسلام علیٰ رسوله دائمًا ابدًا

١ سورۂ طٰـهٰ

ربط سورۂ مریم سره د سورۂ طٰهٰ اسمی (نامی) ربط دا دے چه په سورۂ مریم کښ د حضرت مریم د احوالو نه معلومه شوه چه هغه کارساز او متصرف نه وه اوس په سورۂ طٰهٰ کښ اُو ئیلے شول اِنَّنِیْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِیْ، یعنی اے موسٰی علیه السلام زۂ د ټولو کارساز یم لِهٰذا ما ته اواز کوه.
معنوی ربط دا دے چه د مسئله توحید باره کښ څو مره شبهات وو په سورۂ کهف او سورۂ مریم کښ د هغے جواب ورکړے شو دینه روستو سورۂ طٰهٰ کښ اُو ئیلے شو چه اُوس د مسئله توحید پوره پوره تبلیغ کوه او دے سلسله کښ چه څومره مصیبتونه راځی هغه په بهادرۍ سره برداشت کوه لکه چه موسٰی علیه السلام د توحید په خاطر د فرعون او د هغۂ د قوم د لاسه تکلیفونه او مصیبتونه برداشت کړل.

خلاصه سورۂ طٰهٰ کښ دوه مضمونونه ذکر شوی دی. اُول توحید دوَیم تشجیع.

د توحید مسئله

صرف الله تعالٰی عالم الغیب متصرف او کارساز دے. لِهٰذا په حاجتونو کښ غائبانه صرف هغۂ ته اواز کوئی ایات توحید پنځه دی ① تَنْزِیْلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ ـــ تا ـــ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰی (ع ١) د توحید په خاطر کۂ چرے کوم تکلیف راشی نوځۂ اُوشو دا حکم نامه د هغه بادشاه ده څوک چه د ټول کائنات خالق او مالک او ټول هرڅۂ نه خبر دے. ② اِنَّنِیْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِیْ وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِکْرِیْ، د الله تعالٰی په عبادت کښ هیڅوک مۀ شریکوه ځکه چه متصرّف او مختار او عالم الغیب صرف هغه دے.
③ قَالَ رَبُّنَا الَّذِیْٓ اَعْطٰی کُلَّ شَیْءٍ ـــ تا ـــ اَزْوَاجًا مِّنْ نَّبَاتٍ شَتّٰی (ع ٢) پیدا کول او مخلوق ته روزی ورکول د هغۂ کار دے. لِهٰذا کارساز هم هغه دے ④ اَفَلَا یَرَوْنَ اَلَّا یَرْجِعُ اِلَیْهِمْ قَوْلًا وَّلَا یَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا (ع ٤) دا (گوساله) سخے د نفعے او نقصان مالک نۀ دے او اِله هغه څوک کیدے شی چه متصرّف او نافع او ضار وی. ⑤ اِنَّمَآ اِلٰهُكُمُ اللّٰهُ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَسِعَ کُلَّ شَیْءٍ عِلْمًا (ع ٥) متصرّف او مختار او عالم الغیب صرف هغه دے لِهٰذا کارساز هم صرف هغه دے دینه روستو فَتَعٰلَی اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ (ع ٦) د ایتونو ثمره ذکر کړے شویده مذکوره بیان نه واضحه شوه چه صرف

الله تعالی عظیم الشأن او عالي مرتبه بادشاه دے او د هغهٔ سره څوک برابر نشته هغه د ټولو کار ساز او حاجتونه پوره کوونکے دے.

د تشجیع (د دلاورئ ورکولو) آیتونه

د تشجیع آیتونه هم پنځه دي چه د هغې مقصد دلاوری ورکول او بهادرئ سره د مسئلهٔ توحید د تبلیغ کولو ترغیب او تعلیم ورکول دي. ① مَآ اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ لِتَشۡقٰىٓ (ع ١) دا قرآن پاک په تاسو مونږ دے د پاره نازل نکړو چه تاسو په مشقت کښې پریوځئ دا خو د ویریدونکو د پاره پند او نصیحت دے. لیکن د توحید د وجے نه که چرے څهٔ تکلیف راشي نو صبر کوئ.
② وَهَلۡ اَتٰىكَ حَدِيۡثُ مُوۡسٰى ـــ تا ـــ فَاسۡتَمِعۡ لِمَا يُوۡحٰى. ګوره موسیٰ علیه السلام هم د توحید په خاطر څومره ډیر مصیبتونه برداشت کړل. تاسو هم د کلمة الله په اوچتولو کښې په هر مصیبت صبر کوئ. ③ كَذٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيۡكَ ـــ تا ـــ اٰتَيۡنٰكَ مِنۡ لَّدُنَّا ذِكۡرًا (ع ٥) یعني مونږ د تیر شوو انبیاء علیهم السلام قصے د دے د پاره بیانوو چه تاسو ته معلومه شي چه د احکام الٰهي د تبلیغ په وجے سره هغوئ څومره ډیر تکلیفونه او مصیبتونه اوچت کړل. ④ وَلَا تَعۡجَلۡ بِالۡقُرۡاٰنِ ـــ تا ـــ وَلَمۡ نَجِدۡ لَهٗ عَزۡمًا (ع ٦) د وحي په یادولو کښې تاسو تلوار مهٔ کوئ مونږ به ئے تاسو ته یاد کړو. دا شان دا خیال هم کوئ د آدم علیه السلام پشان ستاسو په عزم کښې کمزوری رانهٔ شي. ⑤ فَاصۡبِرۡ عَلٰى مَا يَقُوۡلُوۡنَ ـــ تا ـــ لَعَلَّكَ تَرۡضٰى (ع ٨) هر قسم مصیبت چه درباندے هم راشي نو په هغے صبر او د الله تسبیح او حمد بیانوئ الله تعالی به تاسو ته په دغه صبر باندے دومره ډیر اجر درکړي چه تاسو به خوشحاله شئ.
دے سلسله کښې دوه قصے هم ذکر کړے شوي دي یوه د حضرت موسیٰ علیه السلام دویمه د حضرت آدم علیه السلام. اوله قصه تفصیل سره او دویمه اختصار سره ذکر کړے شویده. مقصود دا دے چه د حضرت موسیٰ علیه السلام پشان بهادرئ، عزم او استقلال سره د توحید د مسئلے تبلیغ کوه. او د حضرت آدم علیه السلام پشان ستا په عزم کښې څهٔ کمزوری رانهٔ شي. آخر کښې ئے اوفرمائیل. وَلَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ اِلٰى مَا مَتَّعۡنَا بِهٖ. یعني د مشرکانو د مال دولت او سامانونو پرواه مهٔ کوه او د توحید د مسئلے تبلیغ کوه. بیا وَاۡمُرۡ اَهۡلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَا سره د امر مصلح مونځ ذکر اوکړے شو.

سُوْرَةُ طٰهٰ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّخَمْسٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّثَمَانُ رُكُوْعَاتٍ

سورۃ طٰهٰ مکي دے او دے کښ یو سل پنځه دیرشت ایتونه اته رکوعات دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے

طٰهٰ ﴿١﴾ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓى ﴿٢﴾

طٰهٰ ف دے د پاره نازل نکړو مونږ په تا باندے قرآن چه ته په مشقت کښ پریوځے

اِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى ﴿٣﴾ تَنْزِيْلًا

لیکن نصیحت د پاره د هغه چا چه ویریږي نازل کړے شوے دے

مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى ﴿٤﴾

د هغه چا ف چا چه پیدا کړل زمکه او آسمان اوچت

اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ﴿٥﴾ لَهٗ

هغه لوئے مهربان په عرش قائم شو. هغهٔ د پاره دي

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا

څه چه په آسمانونو کښ دي ف او په زمکه کښ دي او د دوارو په مینځ کښ دي

وَمَا تَحْتَ الثَّرٰى ﴿٦﴾ وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ

او لاندے د لوند دے زمکے او که ته په زوره خبره کوے

فَاِنَّهٗ يَعْلَمُ السِّرَّ وَاَخْفٰى ﴿٧﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ

نو هغهٔ ته خبر دے د پټے خبرے او د دینه هم زیات د پټے ف الله دے چه نشته بندګي

اِلَّا هُوَ ۭ لَهُ الْاَسْمَاۗءُ الْحُسْنٰى ﴿٨﴾ وَهَلْ

سیوا د هغهٔ نه د هغه ف هغهٔ د پاره دي ټول نومونه خاص (صفتي) ف۲ . او را غلے ده

اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ﴿٩﴾ اِذْ رَاٰ نَارًا فَقَالَ

تاته ف خبره د موسیٰ . چه کله هغهٔ اولیدو اور نو وے ویل ف

لِاَهۡلِهِ امۡكُثُوۡۤا اِنِّىۡۤ اٰنَسۡتُ نَارًا لَّعَلِّىۡۤ

خپل ډكور خلقو ته . ایسار شئ دلته ما لیدلے دے یو اور شائد چه

اٰتِيۡكُمۡ مِّنۡهَا بِقَبَسٍ اَوۡ اَجِدُ عَلَى النَّارِ

راوړم تاسو ته د هغې نه لمبه یا پیا موم اور ته رسیدلو سره

هُدًى ﴿۱۰﴾ فَلَمَّاۤ اَتٰٮهَا نُوۡدِىَ يٰمُوۡسٰى ﴿۱۱﴾

د لارے پته وی . بیا چه اور رسیدو (اور ته) اواز اوشو اے موسیٰ

اِنِّىۡۤ اَنَا رَبُّكَ فَاخۡلَعۡ نَعۡلَيۡكَ ۚ اِنَّكَ

بے شكه زۀ یم رب ستا تو اوباسه پنړے خپلے ته ئے

بِالۡوَادِ الۡمُقَدَّسِ طُوًى ﴿۱۲﴾ وَاَنَا اخۡتَرۡتُكَ

په میدان پاك طویٰ كښ وے او ما تۀ غوره كړے وے

فَاسۡتَمِعۡ لِمَا يُوۡحٰى ﴿۱۳﴾

نو اوره څۀ حكم چه كیږی

نكات :- سلے دویم ایت د تشجیع (زړۀ وركول).

موضح قرآن ف پټ چه په مزه اورو او وئیلے شی او د دینه پټ چه په زړۀ كښ وی . ف۲ كافرانو چه به كله رحمٰن واوریدو نو وئیل به ئے تاسو یو خدائے اوګرځوئ كله یو ته اواز كوئ او كله بل ته .

ف۳ دا قصه په سورۀ قصص ، سورۀ طٰهٰ او سورۀ اعراف كښ پوره معلومه شوه كله چه حضرت موسیٰ علیه السلام د مدین نه مصر ته راتللو ښځه اوچیلئ ئے ځان سره راروان كړل ځنګل كښ ئے د شپے یخنئ كښ لاره وركه كړه او د بی بی د اولاد پیدا كیدلو درد پیدا شو د لرے نه هغوئ ته اور په نظر راغے هغه اور نۀ وو د الله نور وو هغوئ سره ئے خبرے اوكړے او نبی ئے كړو د فرعون په طرف ئے اولیږلو . روستو بیا بی بی د خپل پلار كور ته اورسیده . ف۴ شائد چه دا میدان د پخوا نه متبرك وو یا اوس متبرك شو . د موسیٰ علیه السلام پنړے یا خو پلیتے وے یهودیان په دے نۀ پوهیږی پاكے موزے ، پنړے په مانځه كښ اوباسی . ځمونږ پیغمبر فرمائیلی دی تاسو مونځ كوئ د پنړو او موزو سره كۀ چرے پاكے وی .

فتح الرحمٰن ملے یعنی په زوره خو په ډیره ښۀ طریقه اوړی ۱۲.

تفسیر: ۲ طٰهٰ دا د حروف مقطعاتو نه دی د دے اصل مراد د الله نه سیوا هڅوک نۀ پیژنی. ۳ دا اولنئ ایت دے د تشجیع یعنی مونږ په تا قرآن مجید صرف د دے د پاره نازل نۀ کړو چه تۀ په مشقت، تکلیف کښ پریوځے او د دے په وجه په تکلیفونو او مصیبتونو کښ راګیر شے. د دے وجے نه تاسو د خلقو د تۀ منلو غم مۀ کوئ او تبلیغ او نصیحت کوئ.
لِتَشْقٰى، لتتعب لفرط تأسفك عليهم وعلى كفرهم وتحسرك على ان لا يؤمنوا (مدارک ج ۳ ص۳۷) لکه چه په بل ځائے کښ یے اوفرمائیل، فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ (کهف ع ۱) ځنو مفسرینو لیکلی دی چه نبی علیه السلام په ډیر مونځ کولو کښ دومره ډیر تکلیف برداشت کولو چه خپے به ئے اوپړسیدلے سره دا ایت نازل شو دا واقعه اګرچه په خپل ځائے صحیح ده لیکن د ایت د تفسیر سره مناسب هغه خبره ده کومه چه مونږ مخکښ بیان کړیده. لیکن د دے په تبلیغ او خور ولو کښ کۀ چرے څۀ مصیبت او تکلیف هم راشی نو هیڅ خبره نۀ ده دا په بها دری او جرأت سره برداشت کړئ ځکه چه دا حکم نامه د هغه شهنشاه ده چه د ټول کائنات خالق او مالک دے او په هر څیز خبردار دے کۀ چرے د هغۀ په لاره کښ څۀ تکلیف راشی نو څۀ اوشو.

ہر کہ عاشق شد اگرچہ نازنینِ عالم است
نازکی گے راست آید بارمی باید کشید

۴ دا اولنئ ایت دے د توحید دلته دوه دعوے ذکر شوی دی اوله دا چه په ټول کائنات کښ متصرف او مختار صرف الله تعالٰی دے. دویمه دا چه عالم الغیب هم صرف هغه دے لهٰذا په غائبانه حاجتونو کښ هغۀ ته اواز کوئ. تَنْزِيْلًا، د نُزِّلَ مقدر فعل مفعول مطلق دے. اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى، زمکه او اسمان هغۀ پیدا کړل او د پادشاهئ تخت باندے هغه ځپله متمکن دے ټول کائنات د عالم د هغۀ په اختیار کښ دے او هغۀ څۀ اختیار چا ته نۀ دے حواله کړے. استوٰی علی العرش د حکومت و بادشاهئ نه کنایه ده. جعلوه كناية عن الملك فقالوا استوى فلان على العرش اى ملك (مدارک ج ۳ ص۳۸) د استوٰی علی العرش مفصل تحقیق په سورة اعراف کښ تیر شویدے تفسیر ع۶۳ ملاحظه کړئ.

۵ دا د ماقبل وضاحت او تائید دے د عالم ټول نظام د هغۀ په قبضه کښ دے. وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ الخ هغه په ټول هر څۀ عالم دے ظاهر او باطن، پټ او ښکاره هغۀ ته یو شان معلوم دی. د ټولو دُعا کانے او اوازونه

صرف هغه اوړی. وَاِنْ تَجْهَرْ دَ شرط جزاء محذوف ده او فَاِنَّهٗ يَعْلَمُ السِّرَّ وَ اَخْفٰى جمله دَ ما قبل علت دے او جواب دَ محذوف قائمقام دے فَاِنَّهٗ الخ قائمقام لجواب الشرط وليس الجواب فی الحقيقة والاصل عند البعض وان تجهر بالقول فاعلم اِنَّ الله يعلمه فانه يعلم السِّرَّ واخفٰى الخ (روح ج ۱۶ ص۱۴۸)

۶ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى، دَ ما قبل علت دے او دَ ظرف تقديم دَ حصر فائده ورکولو دَ پاره دے يعني دَ هغهٔ نه سيوا څوک دَ عبادت او اواز کولو لائق نشته دَ دے وجے نه هغهٔ ته اواز کوه ځکه چه دَ هغهٔ بے شماره صفتونه دی کوم صفت سره چه غواړې هغهٔ ته اواز کوئې دَ الله تعالىٰ اسم ذات خو يو دے يعني الله ليکن دَ هغهٔ صفتی نومونه بے شماره دی. اَلْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى (ډيرښهٔ نومونه) نه دلته صفتی نومونه مراد دی، الله تعالىٰ ته چه کله هم دُعا غوښتلے شی نو دَ هغهٔ دَ دے نومونو په واسطه او وسيله سره غوښتل پکار دی لکه چه په سورهٔ اعراف کښ دی وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا.

۷ دا دويم ايت دے دَ تشجيع (زړهٔ ورکولو) دے کښ ئے دَ حضرت موسیٰ عليه السلام قصه وړياده کړه اوګوره! دَ مسئله توحيد دَ تبليغ دَ پاره هغهٔ څومره ډير مصيبتونه برداشت کړل لهٰذا تاسو ته هم دَ کلمة الله دَ پوره ته کولو او بلند کولو په وجه څومره تکليفونه چه مخے ته راشی په هغے صبر اوکړئ مسوق لترغيب النبی صلی الله عليه وسلم فی الائتساء بموسیٰ عليه السلام فی تحمل اعباء النبوة والصبر علی مقاساة الخطوب فی تبليغ احکام الرسالة. (روح ج ۱۶ ص۱۶۱)

۸ دے ځائے نه دَ حضرت موسیٰ عليه السلام دَ قصے شروع کيږی. کله چه هغهٔ دَ خپلے پاکے بی بی سره دَ حضرت شعيب عليه السلامُ نه رخصت شو مصر ته روان شو نو په لاره کښ دا واقعه مخے ته راغله چه په يوه تيارهٔ شپه کښ دَ بی بی صاحبے بچے پيدا شو يخنی ډيره زياته وه او تيارهٔ هم وه داسے وخت کښ دَ اور او رڼا ډير زيات ضرورت وو يو طرف ته ئے اور اوليدو نو محترم بی بی ته ئے اوئيل تاسو کينئ زهٔ دَ هغه ځائے نه اور راوړم نه چه هغه اور ته نزدے اورسيدو نو وے کتل چه اور دَ يوے اونے دَ شنو پاڼو نه راوځی ليکن دَ دے باوجود هم پاڼے تروتازه دی کله چه ئے څهٔ طريقے سره دَ اور حاصلولو کوشش اوکړو نو دَ هغه اونے نه يو غائبانه اواز اوشو اِنِّیْٓ اَنَا رَبُّكَ ...... اے موسیٰ زهٔ يم ستا رب پڼړے اوباسه ځکه چه تهٔ په يو پاک صاف ځائے کښ ئے. طُوًى دَ هغه وادئ (ميدان) نوم دے.

۹ ما تهٔ دَ رسالت او نبوت دَ پاره غوره کړے ئے لهٰذا اوس ځما خبرو ته غوږ کيده او دا په غوږ سره واوره.

إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي

زۀ چه یم هم دغه زۀ یم الله یم نشته بندګی د هیڅ سیوا زما نه زما بندګی کوه

وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي (١٤) إِنَّ السَّاعَةَ

او سم کوه مونځ د پاره د یاد زما . بې شکه قیامت

آتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا لِتُجْزَىٰ كُلُّ

راتلونکې دے لګه غواړم زۀ پټ ساتل هغه دے د پاره چه بدله ملاو شي هر

نَفْسٍ بِمَا تَسْعَىٰ (١٥) فَلَا يَصُدَّنَّكَ

سړي ته چه هغۀ کوم عمل کړے دے ف۱. نو چرته منع نۀ کړي تا لره

عَنْهَا مَنْ لَا يُؤْمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ

د دے نه هغه سړے چه نۀ لري یقین څوک په دے باندې او تابع کړي ئې د خپلو خواهشاتو

فَتَرْدَىٰ (١٦) وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَا مُوسَىٰ (١٧)

بیا به تۀ هم هلاک شې ف۲. او دا څۀ دي ګله ستا ښي لاس کښې اے موسٰی

قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّأُ عَلَيْهَا وَ

وے وئیل دا زما همسا ده تکیه کوم په دے باندې او

أَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَآرِبُ

راڅنډوم پاڼې د دے سره خپلو چیلو ته او په دے کښې دي زما نور کارونه

أُخْرَىٰ (١٨) قَالَ أَلْقِهَا يَا مُوسَىٰ (١٩) فَأَلْقَاهَا

نور هم. وے فرمائیل اوغورځوه هغه اے موسٰی. نو هغۀ ئې اوغورځوله

فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعَىٰ (٢٠) قَالَ خُذْهَا

بیا دغه وخت هغه مار شو چه منډې ئې وهلې وے فرمائیل اونیسه هغه

وَلَا تَخَفْ ۖ وقفة سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا الْأُولَىٰ (٢١)

او مۀ وېرېږه موږ به ئې اوس واپس کړو خپل حالت مخکنی ته ف۳.

وَاضْمُمْ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ تَخْرُجْ

او پیوست کړه لاس خپل ته خپل ترخ ته چه را ووځي

بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ آيَةً أُخْرَىٰ ﴿٢٢﴾

روښانه بلا عیب. دا معجزه ده دویمه ف

لِنُرِيَكَ مِنْ آيَاتِنَا الْكُبْرَى ﴿٢٣﴾ اذْهَبْ

دے د پاره چه اوښایو تاته خپلے معجزے لوئے لاړ شه

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ اشْرَحْ

طرف د فرعون ته ف چه هغهٔ ډیر سر اوچت کړے (سرکشي کړیده) ف وئیل اے ربه فراخه کړه

لِي صَدْرِي ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي ﴿٢٦﴾

ماله سینه ځما او آسان کړه کار ځما

نکات: ۱ دویم ایت د توحید ۱۲. ۲ دیو امر مُصلح ذکر ۱۲.
۳ تخویف اُخروی ۱۲. ۴ د موسیٰ علیه السلام اوّلنی درخواست ۱۲.
۵ دویم درخواست ۱۲.

موضح قرآن ف۱ موسیٰ علیه السلام ته هم په اوله وحی کښې ماځه حکم دے او ځمونږ پیغمبر ته هم حکم د وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ او قیامت پټوم وخت ئے چاته نهٔ دے ښودلے. ف۲ منع نهٔ کړی تالره د دیته یعنی په قیامت باندے د یقین لرلو نه یا د ماځه نه. کله چه الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام د بد صحبت او مجلس نه منع کړو نو بل لاڅوک دے چه هغهٔ ته به دا حکم نهٔ وی. ف۳ یعنی بیا به دا همسا شی. ف۴ بد شکل یعنی د بیمارئ او مرض په وجه به سپین نهٔ وی.

ف۱۰ دا دویم ایت دے د توحید هغه پیغام چه د هغے د تبلیغ د پاره تاته پیغمبری درکړے شوے ده دا دے چه ځما نه سیوا بل څوک متصرف او کارساز نشته. لهٰذا ځما عبادت کوئ او صرف ماته اواز کوئ. وَأَقِمِ الصَّلَوٰةَ لِذِكْرِي، دے کښې دیو مصلح امر مونځ ذکر دے. لِذِكْرِي دا د أَقِمْ سره متعلق دے یعنی د توحید نه روستو ځما د یاد د پاره مونځ قائم کړه. ای حافظ بعد التوحید علی الصلوٰة (قرطبی جلد ۱۱ ص ۱۷۷) یا لام اجلیه دے. ای اقم الصلوٰة لاجل توحیدی یعنی د توحید په تبلیغ باندے د ثبات او استقلال د پاره مونځ قائم کړه

ځکه چه مونږ په مصیبتونو او تکلیفونو باندے برداشت کولو کښې امداد کوو نکے دے. ۱۱ہ دا تخویف اُخروی دے. اَکَادُ اُخۡفِیۡهَا، حضرت عبد الله بن عباس او اکثرو مفسرینو فرمائیلی دی کہ دے مطلب دا دے اَکَادُ اُخۡفِیۡهَا مِن نفسی فکیف یعلمها مخلوق وکیف اظهرها لکم (خازن ج۴ ص۲۱۵، قرطبی ج۱۱ ص۱۸۵ وغیره) یعنی کۀ چرے ممکن وے نو د قیامت د معین وخت علم به ما د خپل ذات نه پټ ساتلے. ځکه په مخلوق کښې هغه هیڅ څوک نه پیژنی دا محاوره کله چه د یوے خبرے په کتمان کښې مبالغه مقصود وی نو په هغه وخت کښې دا محاوره وائی وهذا محمول علی ماجرت به عادة العرب من ان احدهم اذا اراد المبالغة فی کتمان الشیٔ قال کدت اخفیه من نفسی (روح ج۱۶ ص۱۵۶) ۱۲ہ دِے نه د همسا تعیین کول مقصود دے چه دا هغه همسا ده د کوم نه چه تۀ دا کار اخلے. هغۀ اُوئیل چه دا هم هغه همسا ده نو وے فرمائیل اَلۡقِهَا، دا په زمکه اُوغورځوه. همسا په زمکه غورځول وو چه هغے نه اژدها (مار) جوړ شو منډے ئے وهلے. حکم اُوشو ویره مۀ کوه دا اُونیسه مونږ به دا پخوانی حالت ته واپس کړو. دا یوه معجزه وه چه حضرت موسٰی علیه السلام ته ورکړے شوه.

۱۳ہ دا دویمه معجزه وه یعنی خپل لاس په ترخ کښې دننه کړه بهر ته ئے راُوباسه هغه به روښانه او سپین وی د دے دواړو معجزو تجربه هم په هغه طُوٰی وادئ کښې اُوکړے شوه دِے د پاره چه د اول نه د هغے د حقیقت عین الیقین حاصل شی او کله چه ضرورت مخے ته راشی نو هغوئ دا بغیر د څۀ تردّد او شک نه پیش کړی.

۱۴ہ دا د مقدر فعل سره متعلق دے ای فعلنا ما فعلنا لنریك (روح) مِنۡ اٰیٰتِنَا، دیته دریائے نیل کښې د دولس ۱۲ لارو جوړیدل او د بنی اسرائیلو هغے نه صحیح سلامت تیریدل او فرعون سره د لوئے لښکر نه غرقیدل مراد دے قاله الشیخ رحمه الله تعالٰی. ۱۵ہ طَغٰی، د طغیان نه دے چه د دۀ معنٰی ډیره زیاته سرکشی ده. د فرعون د سرکشئ انتهاء دا وه چه هغۀ د خدائیٔ دعوٰی کړے وه لکه چه د هغۀ اعلان وو اَنَا رَبُّکُمُ الۡاَعۡلٰی او مَا عَلِمۡتُ لَکُمۡ مِّنۡ اِلٰهٍ غَیۡرِیۡ. ۱۶ہ کله چه حضرت موسٰی علیه السلام ته معلومه شوه چه هغه په یو ډیر لوئے کار لیږلے شی نو الله تعالٰی ته ئے د اسبابو اسانولو او د دے کار سرته رسولو په سلسله کښې پنځه درخواستونه اُوکړل.

① رَبِّ اشۡرَحۡ لِیۡ صَدۡرِیۡ، شرح صدر نه مراد دا دے چه د هغۀ سینه سکینه او طمانیت سره معمور او اباد کړے شی دِے د پاره چه هغه د بشریت په تقاضا د دے کار نه بے زړۀ نۀ شی او چرته ستوما نه نۀ شی او د سختو

او تکلیفونو د وجې نه د هغهٔ په زړهٔ کښ پریشانی او بې آرامی پیدا نهٔ شی.
۲ وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي، او دا د تبلیغ رسالت کار ما ته آسان کړه.

وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةٗ مِّن لِّسَانِي ۝٢٧ يَفۡقَهُواْ

او پرانیزه غله غوټه د ژبې ځما نه. چه پوهه شی

قَوۡلِي ۝٢٨ وَٱجۡعَل لِّي وَزِيرٗا مِّنۡ

په خبرو ځما. او راکړه ما ته یو امداد کوونکے غله د

أَهۡلِي ۝٢٩ هَٰرُونَ أَخِي ۝٣٠ ٱشۡدُدۡ بِهِۦٓ

کور ځما نه. هارون ورور ځما مضبوطه کړه هغهٔ سره

أَزۡرِي ۝٣١ وَأَشۡرِكۡهُ فِيٓ أَمۡرِي ۝٣٢ كَيۡ نُسَبِّحَكَ

ملا ځما او شریک کړه هغه په کار ځما کښ و۲ـ چه ستا د پاک ذات بیان

كَثِيرٗا ۝٣٣ وَنَذۡكُرَكَ كَثِيرًا ۝٣٤ إِنَّكَ

مونږ اوکړو ډیر. غله او یاد کړو تا لره ډیر بے شکه

كُنتَ بِنَا بَصِيرٗا ۝٣٥ قَالَ قَدۡ أُوتِيتَ

ته خوئے مونږ لره ښهٔ لیدونکے وے فرمائیل ملاؤ شو تا ته غله ستا

سُؤۡلَكَ يَٰمُوسَىٰ ۝٣٦ وَلَقَدۡ مَنَنَّا عَلَيۡكَ

سوال اے موسیٰ او احسان اوکړو مونږ په تا باندے

مَرَّةً أُخۡرَىٰٓ ۝٣٧ إِذۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ أُمِّكَ

یو ځل بل هم کله چه حکم اولیږلو مونږ ستا مور ته

مَا يُوحَىٰٓ ۝٣٨ أَنِ ٱقۡذِفِيهِ فِي ٱلتَّابُوتِ

چه ورباندے تا ته او رو ۳. چه هغه اوغورځوه په صندوق کښ

فَٱقۡذِفِيهِ فِي ٱلۡيَمِّ فَلۡيُلۡقِهِ ٱلۡيَمُّ

بیا هغه اوغورځوه په دریاب کښ بیا به اوغورځوی هغهٔ لره دریاب

بِالسَّاحِلِ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّي وَعَدُوٌّ لَّهُ ۚ

په غاړه باندې پورته به کړي هغه لره يو دښمن زما او د هغه

وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي ۚ وَلِتُصْنَعَ

او اچولې ما وو په تا باندې محبت د طرف خپل نه ۱ او د دې ډپاره چه پرورش بيا مومې ته

عَلَىٰ عَيْنِي ﴿٣٩﴾ إِذْ تَمْشِي أُخْتُكَ فَتَقُولُ

زما په مخکښې. کله چه تلله خور ستا نو وې وئيل

هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ مَن يَكْفُلُهُ ۖ فَرَجَعْنَاكَ

زه به اوښايم تاسو ته يو داسې انسان چه د دۀ پرورش به او کړي بيا اورسولے مونږ ته

إِلَىٰ أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ۚ

خپلې مور ته چه يخې شي سترګې د هغې او خفه نۀ شي

وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَاكَ مِنَ الْغَمِّ وَ

او تا قتل کړو يو سړے ۲ پس بچ کړے مونږ تۀ د غم نه او

فَتَنَّاكَ فُتُونًا ۚ فَلَبِثْتَ سِنِينَ فِي أَهْلِ

اُوم ازمائيلے تۀ په ازمائيلو سړو بيا اُوسيدلے تۀ څو کلونه ۳ په اهل

مَدْيَنَ ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ قَدَرٍ يَا مُوسَىٰ ﴿٤٠﴾

د مدين کښې بيا راغلے تۀ تقدير سره اے موسٰی

نکات: ۱ دريم درخواست ۱۲- ۲ څلورم درخواست ۱۲- ۳ پنځم درخواست ۱۲- ۴ د الله تعالٰی اول انعام په موسٰی عليه السلام ۱۲- ۵ دويم انعام ۱۲- ۶ دريم انعام ۱۲- ۷ څلورم انعام ۱۲-

موضح قرآن ف سينه م پرانزه چه زړ نۀ خفه کيږم او ژبه ئے په ما شوم والی سوزيدلے وه صفا خبره ئے نۀ شوه کولے- ف۲ د داسے لويو پيغمبرانو زيات خيال د مخلوق طرف ته نۀ وی يو مددګار پکار دے چه خلق په مزه مزه پوهه کړی څمونږ. د پيغمبر په مخکښ ابوبکر وو د پيغمبرئ په اول وخت کښې ډير خلق د هغوئ په

پوهولو سره مؤمنان شول. ف۳ دَ هغوی مور ته داخبره په خوب کښې کړې شوې وه سره هغه پيغمبرانو شو ف۴ فرعون دغه کال دَ بنی اسرائيلو ځامن وژل کله چه موسٰی علیه السلام پيدا شو دَ هغهٔ مور ويريدله چه دَ فرعون پيادہ ګرځيدونکی خبر شي نو مړ به ئې هم کړي او مور پلار به ئې په تکليف کړي چه ولې دِ ښکاره نهٔ کړو. دغه وخت ئې خوب کښې دا اُوليدل چه دا صندوق ئې په نهر کښې اُوغورځولو هغه دَ فرعون باغ ته اُورسيدو دَ هغهٔ بي بي اُونيولو پورته ئې کړو دَ هغې نوم آسيه وو هغهٔ وه دَ بنی اسرائيلو نه بيا ئې فرعون ته هم اُوښودلو دَ هغهٔ محبت ورسره پيدا شو او خپل ځوئې ئې اُوګرځولو تربيت ئې شروع کړو. ف۵ دا ټوله قصه په سورة قصص کښې ده.

تفسير: ۵ له دا دريم درخواست دے حضرت موسٰی علیه السلام په ورکوتي والی کښې دَ فرعون په غيږ کښې وو نو حضرت موسٰی علیه السلام فرعون په مخ څپيړه باندے اووهلو او دَ هغه دَ ږيرے ويښته ئې هم راښکل پدے باندے فرعون ډير غصّه شو او ورے وئيل چه دا خو به زما دُشمن وی او دَ هغه دَ وژلو حکم ئې اوکړو دَ فرعون ښځې آسيه اُوئيل چه دا خو نادان ماشوم دے، دے په اُور او جواهراتو کښې هم تميز نشي کولے نو فوراً ئې دَ بلو سکروټو يو خانک او دَ جواهراتو يو خانک راؤړو او دَ حضرت موسٰی علیه السلام مخ ته ئې کيښو. هغوی لاس جواهراتو ته ورمخکښې کړو جبرائيل علیه السلام دَ هغه لاس دَ اُور په خانک کښې کيښودو هغوی يوه بله سکروټه په خُله کښې کيښوده چه په هغې سره ئې ژبه اوسوزيده او په هغې سره دَ هغوی په ژبه کښې لکنت پيدا شو اُولتيے خبرے به ئې کولے دلته ئې دَ دغې غوټې پرانيستو دُعا اوکړه (قرطبی روح وغيره).

۵ له دا څلورم درخواست دے څما ورور هارون علیه السلام هم پدے مهم کښې څما شريک جوړ کړه چه دواړه يو ځائے دا ذمه واری سرته اورسوو.

اَشۡدُدۡ بِهٖۤ اَزۡرِیۡ. دَ ازر معنیٰ قوت ده ازر القوّة اشد به ة (مفردات ص۱۵) يعنی څما ورور څما په کار کښې شريک کړه او څما قوت پرے مضبوط کړه يا دَ ازر معنیٰ ظهر (ملا) ده يعنی څما ملا مضبوطه کړه (اشدد به ازری ای ظهری (قرطبی ج ۱۱ ص۱۹۳).

وَاَشۡرِکۡهُ فِیۡۤ اَمۡرِیۡ. دا پنځم درخواست دے يعنی هارون علیه السلام ته نبوت او په تبليغ کښې څما شريک جوړ کړه.

ف۱۹ دا دَ ذکر شوو دُعاګانو غرض دے تسبیح او ذکر نه دَ الله تعالیٰ دَ توحید دعوت مراد دے. والمراد ما یکون منهما فی تضاعیف اداء الرسالة ودعوة المردة العتاة الی الحق (روح ج ۱۶ ص۱۸۵)

ف۲۰ دے کښې ئے موسیٰ علیه السلام ته دَ هغهٔ دَ دُعا دَ قبلیدلو زیرے ورکړو او دَ هغوئ دَ پنځو درخواستونو په جواب کښې دَ پنځو انعاماتو ذکر اُوکړو چه په هغوئ باندے الله بخښش کړی وو. اِذْ اَوْحَیْنَآ الخ، دا اوّلنے انعام دے. فرعون حکم ورکړے وو چه اسرائیلیانو کښې کوم هلک پیدا شو هغه به وژلے شی. دغه دوران کښې دَ حضرت موسیٰ علیه السلام پیدائش اُوشو دَ هغهٔ مور سوچ کوو نکے وه چه که چرے دَ فرعون سړو ته څما دَ بچی پته اُولګی نو هغه به قتل کړے شی. لیکن الله تعالیٰ دَ هغے په زړهٔ کښې دا تدبیر واچولو چه خپل بچے په صندوق کښې واچوی او دریاب کښې ئے اُوغورځوی. اَوْحَیْنَآ، یعنی مونږ دَ هغے په زړهٔ کښې دا خبره واچوله. دَ حضرت موسیٰ علیه السلام والدے (مور بی بی) هم دا شان اُوکړل. الله تعالیٰ دَ فرعون محل ته نزدے هغه صندوق غاړے ته اُورسولو او نوکرانو صندوق اُونیولو دَ فرعون بخکښې ئے پیش کړو. ف۲۱ یعنی ما دَ هر یو په زړهٔ کښې ستا محبت واچولو او هر یو ستا سو سره محبت کول شروع کړل. وَلِتُصْنَعَ عَلٰی عَیْنِیْ، خپله نګرانی کښې ستا تربیت وُ.

ف۲۲ دا دَ الله تعالیٰ دویم انعام دے کله چه بچی ته دَ پئ ورکولو دَ پاره ډیرے ښځے راُوبللے شوے نو هغهٔ دَ چا پئ نهٔ څکل تر دے چه دَ هغهٔ خور دا صورت حال اُولیدو وے وئیل چه زهٔ هم تاسو ته یوه ښځه ښائم هغه راولئ کیدے شی دا بچے دَ هغے پئ اُوزوی نو چه دَ هغهٔ مور طلب کړے شوه نو فوراً هغهٔ پئ اُورودل دا شان الله تعالیٰ هغه دَ خپلے مور غیږ ته دَ واپس کولو سامان برابر کړو. ف۲۳ دا دَ الله دریم انعام دے حضرت موسیٰ علیه السلام یوه ورځ بهر ته تشریف یوړو وے لیدل چه یو قبطی او یو اسرائیلی خپل مینځ کښې په جهګړه دی اسرائیلی دَ حضرت موسیٰ علیه السلام نه امداد اُوغوښتو نو هغه راښکښ شو چه قبطی ئے په لاس داسے اُوهلو چه په هغه ځائے مړ شو کله چه دَ دے واقعے خبر حاکمانو ته اُورسیدو نو هغوئ دَ قبطی په بدله کښې دَ موسیٰ علیه السلام دَ وژلو فیصله اُوکړه کله چه هغوئ ته دَ دے خبرے معلومات اُوشو نو هغه شپه په شپه مدین طرف ته روان شو دا شان الله تعالیٰ هغه دَ قتل نه بچ کړو. ف۲۴ دا دَ الله تعالیٰ څلورم انعام دے. کله چه حضرت موسیٰ علیه السلام دَ مصر نه مدین ته اُورسیدو نو هلته دَ دوئ څوک واقف او پیژندګلو نهٔ وو. الله تعالیٰ اسباب مهیّا (برابر) کړل نو دَ یو جلیل القدر پیغمبر حضرت شعیب علیه السلام سره پیژندګلو او بیا دَ هغهٔ دَ

زوم کیدلو شرف ورته حاصل شو. او دغه زمانے اوسیدلونه روستو هغه
ځائے نه واپس مصر ته راغلل.

وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِي ﴿٤١﴾ اِذْهَبْ أَنْتَ وَأَخُوكَ بِآيَاتِي

او ما اوګرځولے ته خاص دخپل ځان لپاره ﷲ لاړ شه ته او ورور ستا ځما معجزے اخستلو سره

وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي ﴿٤٢﴾ اِذْهَبَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ ﴿٤٣﴾

او مهٔ کوئ ناراستی په ذکر ځما کښ. لاړ شئ په طرف د فرعون هغه لو یه سرکشی کریده

فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ

نو اُوایئ هغهٔ ته ﷲ خبره نرمه کیدے شی چه هغه سُوچ اُوکړی

أَوْ يَخْشَىٰ ﴿٤٤﴾ قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفْرُطَ

یا اُویریږی. وے وئیل اے ربه ځمونږ مونږ ویریږو چه زیاتے به اُوکړی

عَلَيْنَا أَوْ أَن يَطْغَىٰ ﴿٤٥﴾ قَالَ لَا تَخَافَا إِنَّنِي

په مونږ یا به جوش کښ راشی وے فرمائیل مهٔ ویریږئ ﷲ زهٔ

مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴿٤٦﴾ فَأْتِيَاهُ فَقُولَا

ملګرے یم ستاسو اُورم او وینم نو ورشئ هغهٔ ته او اُوبیئ

إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِي

مونږ دواړه رالیږلے شوی یو ستا د رب طرفه نو اُولیږه ځمونږ سره بنی

إِسْرَائِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ قَدْ جِئْنَاكَ

اسرائیل او مهٔ عذابوه هغوئی راغلی یو مونږ

بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكَ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ مَنِ اتَّبَعَ

معجزو راوړلو سره ستا د رب د طرفه او سلامتی دِ وی د هغه چا چه تابعداری اُوکړی

الْهُدَىٰ ﴿٤٧﴾ إِنَّا قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَا أَنَّ الْعَذَابَ

د سیمے لار ے. بے شکه حکم ملاؤ شوے دے مونږ ته ﷲ چه عذاب

عَلٰى مَنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ۝٤٨ قَالَ فَمَنْ

په هغه چا چې څوک چه دروغ اوګڼي او مخ اوګرځوي ملا وے وئیل بیا څوک دے

رَّبُّكُمَا يٰمُوسٰى ۝٤٩ قَالَ رَبُّنَا الَّذِيْٓ

رب ستاسو دواړو ﷺ اے موسٰی وے وئیل رب زمونږ هغه دے

اَعْطٰى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ۝٥٠

چه ورکړے کړې هر څیز ته د هغۀ صورت بیا ئے هغۀ ته لاره اوښودله ملا ف ﷺ

قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰى ۝٥١ قَالَ

وے وئیل څۀ حقیقت دے د هغه پخوانو خلقو ﷺ . وے وئیل

عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ فِيْ كِتٰبٍ ۚ لَا يَضِلُّ

خبر د هغوئي څما د رب سره لیکلے شویدے نۀ ئے ورک کوي

رَبِّيْ وَلَا يَنْسَى ۝٥٢

رب څما او نۀ ئے هیروي ملا .

نکات: . سلا پنځم انعام ۱۲ . سلا دریم ایت د توحید ۱۲ .

موضح قرآن ف۱ یعني د خوراک څښاک پوهه ئے ورکړه ماشوم ته پئي رودل لکه هغۀ ته الله اُونۀ ښائي نو هیڅوک به ئے هغۀ ته اُونۀ ښائي . ف۲ فرعون شائد چه دهري مزاج وو د انسانانو د پیدائش خیال ئے داسے کوو لکه د پشکال شینکي ته اول چا پیدا کړل بلکه پخپله پیدا شول ته اخر کښ باقي پاتے شو اُو ړنډ ل خاو ړے شول کله چه ئے دا اُوریدل چه د ټولو په سر د پاسه یو رب دے دغه وخت ئے تپوس اُوکړو چه مخکني خلق چرته لاړل څۀ شول ورته ئے بیان کړل چه د هغوئي حساب لیکلے شوے موجود دے یو یو انسان به حاضروي ۱۲ .

فتح الرحمن ملا قصه دا چه داخبرئے فرعون ته اُو رسولو ۱۲ .
ملا د خپل معاش طلب کولو ته ۱۲ .

تفسیر: ﷺ دا د الله تعالٰی پنځم او په حضرت موسٰی علیه السلام باندې د ټولو نه لوئے انعام دے چه الله تعالٰی هغۀ ته رسالت او نبوت ورکړو .
اِذْهَبْ اَنْتَ وَاَخُوْكَ ، دا انعامات و ریاد ولو ته روستو ئے اُوفرمائیل ته او ستا

ورو، دواړه معجزاتو سره لاړشئ او ځما په ذکر او د توحید په تبلیغ کښې سُستی مه کوئ. اِذۡهَبَاۤ اِلٰی فِرۡعَوۡنَ، دا د مخکنی اِذۡهَبَاۤ نه بدل دے.

۲۶ فرعون ته ورشئ او هغهٔ ته په نرمئ سره وعظ اُوکړئ دِے د پاره چه هغه نصیحت حاصل کړی یا د هغهٔ په زړهٔ کښې د خدائے ویره راشی تَذَکَّرَ او خشیة کښې فرق دا دے چه د تذکر نه مراد دا دے چه هغه ستاسو د تبلیغ نه دومره اثر واخلی چه د توحید د انکار نه منع شی او ورسره توحید هم اُومنی. او د خشیة نه مراد دا دے چه یا کم از کم د توحید د انکار نه منع شی. لَعَلَّهٗ یَتَذَکَّرُ اَوۡ یَخۡشٰی فلیرجع من انکار الی الاقرار وان ینتقل من الانکار الی الاقرار لکنه یحصل فی قلبه الخوف فیترک الانکار وان کان لا ینتقل الی الاقرار الخ (کبیر ج ۶ ص ۵۵) او حضرت شیخ فرمائی د تذکر نه مراد دا دے چه د معجزے لیدلو نه بغیرئے اُومنی او د تخشی نه مراد دا دے چه معجزه اُوینی تو وے منی اوله درجه اعلیٰ ده او دویمه ادنیٰ قرآن مجید کښې عام طور سره دا سے کیږی یعنی اول اعلیٰ او بیا ادنیٰ درجه ذکر کیږی لکه چه بل ځائے کښې ئے اُوفرمائیل هَلۡ لَّکَ اِلٰۤی اَنۡ تَزَکّٰی وَ اَهۡدِیَکَ اِلٰی رَبِّکَ فَتَخۡشٰی (نازعات) دا شان ارشاد دے. لَعَلَّهٗ یَزَّکّٰۤی اَوۡ یَذَّکَّرُ فَتَنۡفَعَهُ الذِّکۡرٰی (عبس) قَالَا رَبَّنَاۤ الخ قَالَا تثنیه په صیغه سره یعنی حضرت موسیٰ او حضرت هارون علیهما السلام اُوئیل اے ځمونږ پروردګاره مونږ سره خطره ده چه هغوئ به په مونږ ظلم اُوکړی. مراد دا دے چه د اتمام دعوت او د معجزاتو د اظهار نه مخکښې به مونږ ته د سزا ورکولو کوشش کوی. ای ان یعجل علینا بالعقوبة ولا یصبر الی اتمام الدعوة واظهار المعجزة (روح ج ۱۶ ص ۱۹۶) —— اَوۡ اَنۡ یَّطۡغٰی الخ یا به د حد نه تجاوز کوی یعنی د ډیرے سرکشئ او بے باکئ په وجه به ائے ځمونږ پروردګاره ستا په شان کښې ګستاخی کوی. او ان یزد ادطغیانا الی ان یقول فی شانک مالا ینبغی (روح) لیکن حضرت شیخ فرمائی دواړو کښې فرق دا دے. اَنۡ یَّفۡرُطَ عَلَیۡنَاۤ، یعنی د دعوت پیش کولو نه مخکښې به په مونږ زیاتے اُوکړی او اَنۡ یَّطۡغٰی، یعنی د دعوت پیش کولو نه روستو به ځمونږ د قتل کولو حکم ورکړی. یفرط علینا بان لا یسمع منا او اَنۡ یَّطۡغٰی بان یقتلنا (کبیر ج ۶ ص ۵۵) حضرت موسیٰ او هارون علیهما السلام د الله تعالیٰ پیغمبران وو او په الله د هغوئ کامل بهروسه وه لیکن د بشریت په تقاضا د هغوئ په زړونو کښې ویره وه چه هغوئ د هغے اظهار اُوکړو. دینه معلومه شوه چه د غیرالله نه ما تحت الاسباب ویره خطره کول شرک نهٔ دے.

۲۷ الله تعالیٰ هغوئ ته تسلی ورکړه چه تاسو بے ویرے او خطرے لاړشئ

ځما پیغام اُورسوئ ځما امداد ستاسو سره دے هغوئ به تاسو ته هیڅ نقصان نهٔ شی رسولے. قال العلماء لما لحقهما ما یلحق البشر من الخوف علی انفسهما عرفهما الله سبحانه ان فرعون لا یصل الیهما ولا قومه (قرطبی ج ۱۱ ص۲۰۲)

فَأْتِيَٰهُ، لهٰذا تاسو دواړه فرعون ته ورشئ او هغهٔ ته صفا اُوایئ مونږ ستا د رب پیغمبران یو د دے وجے نه تاسو بنی اسرائیل مونږ سره اُولیږئ او هغوئ ته عذاب مهٔ ورکوئ او مونږ د الله تعالیٰ د طرفه معجزات راوړی راغلی یو یاد سا تئ دُنیا او اخرت کښ د الله د عذاب نه سلامتی د هغه چا د پاره ده چا چه د هغهٔ هغه هدایت قبول کړو کوم چه مونږ راوړے دے. ای السلامة من العذاب فی الدارین لمن اتّبع ذلک بتصدیق ایات الله تعالیٰ الهادیة الی الحق (روح ج ۱۶ ص۱۹۵).

۲۸ داشان مونږ د وحی په ذریعه داخبرهم ورکړے دے چه په دنیا او اخرت کښ به عذاب په هغه چا راځی چاچه د الله تعالیٰ د ایتونو تکذیب اُوکړو او د هغے د یادولو او قبلولو نه ئے اعراض اُوکړو.

۲۹ حضرت موسیٰ او هارون علیهما السلام فرعون ته لاړل هغهٔ ته ئے د حق پیغام واؤرولو نو فرعون د هغوئ نه سوال اُوکړو ستاسو هغه خدائے کوم یو دے چه تاسو د هغهٔ رسولان یئ او د هغهٔ د توحید دعوت ورکوئ او د هغهٔ د عذاب نه مونږ ویروئ ولے ځما نه علاوه هم بل څوک رب شته؟ قَالَ رَبُّنَا الخ دا دریم ایت د توحید دے. حضرت موسیٰ علیه السلام جواب ورکړو چه د هغهٔ کوم اسمِ عَلَمْ نشته چه زهٔ اُوایم هغه فلانکے دے د هغهٔ صفتونه بے شماره دی او هغه صفتونو سره پیژندلے شی. ځمونږ رب هغه ذات دے چاچه ټول عالم پیدا کړو هر یو مخلوق ته ئے یو خاص هیئت او صورت ورکړو ای انه یعرف بصفاته ولیس له اسم علم حتیٰ یقال فلان بل هو خالق العالم الخ (قرطبی ج ۱۱ ص۲۰۲).

۳۰ بیائے هر مخلوق ته کوم څهٔ چه ورکړل د هغے نه د نفعے حاصلولو لاره هم اُوښودله او هغهٔ ته ئے د خپلے بقاء او حسن کمال ته د رسیدلو تدبیر اُوښودلو ثم هدی الی طریق الانتفاع والارتفاق بما اعطاه وعرفه کیف یتوصل الی بقائه وکماله الخ (روح ج ۱۶ ص۲۰۲ بحواله ابوالسعود)

۳۱ کله چه فرعون د حضرت موسیٰ علیه السلام مچپ کوونکے جواب واؤریدو او لاجواب شو نو یو سوال ئے اُوکړو بنهٔ ده د تیرشوو خلقو حالات راته بیان کړه نو هغهٔ جواب ورکړو د هغوئ علم ځما رب سره دے زهٔ عالم الغیب نهٔ یم د تیرشوو خلقو علم په لوح محفوظ کښ ثابت دے ای مکتوب عند ربی فی اللوح المحفوظ (بحر ج ۶ ص۲۴۹) او لوح محفوظ د علم الهی نه کنایه ده

یا دَ کتاب نه دفتر مراد دے او دا دَ تحریز علم الٰهی کښ دَ کیدلو تمثیل دے وجوز ان یکون المراد بالکتب الدفتر کما هو المعروف فی اللغة ویکون ذلك تمثیلا لتمکنه وتقرره فی علمه عزوجل (روح ج ۱۶ ص ۱۸۵)

الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا

(الله) هغه دے چه پیدا ئے کړه ستاسو دَ پاره ۳۳ زمکه فرش

وَّسَلَكَ لَكُمْ فِیْهَا سُبُلًا وَّاَنْزَلَ

او روانے ئے کړے ستاسو دَ پاره په دے کښ لارے او نازلے ئے کړے

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ؕ فَاَخْرَجْنَا بِهٖۤ اَزْوَاجًا

دَ اسمان نه اوبه بیا را اُوویستلے مونږ دَ دے نه

مِّنْ نَّبَاتٍ شَتّٰی ﴿۵۳﴾ كُلُوْا وَارْعَوْا اَنْعَامَكُمْ ؕ

سبزیانے قِسم قِسم خورئ او څروئ څاروی

ع ۲ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّاُولِی النُّهٰی ﴿۵۴﴾ مِنْهَا

بیشکه په دے کښ دلائیل دی دَ پاره دَ عقل لرونکوو دَ زمکے نه

خَلَقْنٰكُمْ وَفِیْهَا نُعِیْدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ

مونږ پیدا کړی تاسو ۳۴ او په دیکښ به مونږ بیا تنه باسو تاسو او دِ دے نه به را ئوباسو تاسو

تَارَةً اُخْرٰی ﴿۵۵﴾ وَلَقَدْ اَرَیْنٰهُ اٰیٰتِنَا

دویم ځل او ښودلے وے مونږ فرعون ته ۳۴ خپلے معجزے

كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَاَبٰی ﴿۵۶﴾ قَالَ اَجِئْتَنَا

ټولے بیا هغهٔ دروغ اُوګڼړلے او وے نهٔ منلے - وے وئیل ایا راغلے ئے ته ۳۵ مونږ ته

لِتُخْرِجَنَا مِنْ اَرْضِنَا بِسِحْرِكَ یٰمُوْسٰی ﴿۵۷﴾

چه اُوباسے مونږ دَ خپل ملک نه دَ خپل جادو په زور اے موسیٰ -

فَلَنَاْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهٖ فَاجْعَلْ

نو مونږ به هم راولو ستا مقابله کښې یو جادو داسې تو مقرر کړه

بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهٗ نَحْنُ

ځمونږ او خپل مینځ کښې یوه وعده نهٔ به مونږ خلاف کوؤ دَ هغې نه

وَلَآ اَنْتَ مَكَانًا سُوًى ﴿۵۸﴾ قَالَ مَوْعِدُكُمْ

او نهٔ تاسو په یو صفا میدان کښې ۔ وے وئیل وعده ستاسو سره شوه

يَوْمُ الزِّيْنَةِ وَاَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى ﴿۵۹﴾

ورځ دَ جشن او داچه راجمع شی خلق دَ ورځے په اول کښې ف۲

فَتَوَلّٰى فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهٗ ثُمَّ اَتٰى ﴿۶۰﴾

بیا واپس اُوګرځیده فرعون بیائے جمع کړل خپل ټول فریبونه ف۳ بیا راغے

قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰى وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوْا

اُوئیل هغوئ ته موسٰی کم بختی دِوی ستاسو مهٔ وایئ

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ ج

په الله باندے دروغ بیا به هلاک کړی تاسو په یو آفت سره

وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرٰى ﴿۶۱﴾

او اُونهٔ رسیدل مراد ته چاچه دروغ جوړ کړل ف۳ .

نکات: ۱ ادخال الٰهی په ما قبل دَ ربط اچولو دَ پاره ۱۲۔

موضح قرآن

ف داد الله تعالیٰ کلام فرمائی دَ دهریانو دَ ستړګو پرانستلو دَ پاره چه دَ هغهٔ تن بیروته قدرتونه اُوګوری کهٔ چرے عقل مووی نو پوهه به شی ۱۲. ف۲ په میدان کښې دَ مقابلے کولو نه دَ دوی غرض دا وو چه هغهٔ غوښتله چه هغوئ دَ ټولو خلقو په مخکښې پړهٔ او مغلوب شی او هغوئ غوښتله چه دے پړ شی. دَ جشن داورځ په ټولو ښارونو کښې دَ مصر مقرره وه دا دَ فرعون سالګره وه. ف۳ کله چه فرعون ساحران جمع کړل او ټول امیران ئے دِے خبرې باندے

راپوره ته کړل دغه وخت حضرت موسیٰ علیه السلام هر یو ته ځانله ځانله نصیحت اُوکړو.

تفسیر: ۳۲ دا ادخالِ الٰهي دے او ماقبل دَ پاره تنویر دے.
کُلُوْا وَارْعَوْا اَنْعَامَکُمْ، دا ټول انعامات او دا دَ زمکے نباتات ټول ستاسو دَ استعمال دَ پاره دي. ځینے ئے خورئ او ځنے ئے وبانده هُم څرَوَئ.
النُّهٰی، جمع ده دَ نُهْیَةٌ چه معنیٰ ئے عقل ده یعنی په کومو خلقو کښې چه دَ عقل او هوش ماده موجود ده په پوره ته ذکر شوو کارونو کښې دَ الله تعالیٰ په وحدانیت باندے هغوئ دَ پاره ښکاره دلائیل موجود دي په هغے کښې غور او فکر کولو سره دَ الله تعالیٰ دَ ذات او صفات کامل یقین حاصلیږي.
ای لاٰیات کثیرة جلیلة واضحة الدلالة علی شئون الله تعالیٰ فی ذاته وصفاته (روح ج ۱۶ ص ۲۰۷) ۳۳ دَ کومے زمکے نه چه ستاسو روزي پیداکیږي تاسو هم دَ هغے نه پیدا کړے شوئ او دَ مرګ نه روستو دو باره به تاسو په دے کښې واپس کولے شئ او بیا دَ قیامت په ورځ به هم دَ دینه تاسو دوباره ژوندي کولے شئ او راویستلے شئ. ۳۴ رجوع ده په طرف دَ اصل موضوع دَ ایات نه معجزات مراد دي یا دَ توحید دلائیل دا دَ فرعون دَ سرکشئ او دَ هغهٔ دَ عناد او نافرمانئ ذکر دے چه مونږ هغهٔ ته ټول معجزات اُوښودل او دَ توحید دلائیل مو ورته واضح طور باندے پیش کړل لیکن هغهٔ ایمان راؤنړو او په انکار مضبوط پاتے شو یعنی هغهٔ ټول هر څه په خپلو سترګو اُولیدل محض دَ ضد او عناد دَ وجے نه ئے انکار اُوکړو.
ای المعجزات الدالة علی نبوة موسیٰ وقیل حجج الله الدالة علی توحیده فَکَذَّبَ وَاَبیٰ. ای لم یُؤمن وهذا یدل علی انّه کفر عنادا لانه رای الاٰیات عیانا لاخبرًا (قرطبی ج ۱۱ ص ۲۱۱).
۳۵ فرعون موسیٰ علیه السلام دَ الله رسول منلو په ځائے محض ضد سره جادوګر اُوګرځولو او وے وئیل معلومیږي چه ته دَ جادو په زور ځما په ملک باندے قبضه کول غواړے لیکن زهٔ ستا دَ جادو نه ویریږم و نکے نهٔ یم ځما په ملک کښې هم لوئے لوئے جادوګر موجود دي. زهٔ ستا دَ مقابلے دَ پاره هغه راغواړم دَ دے وجے نه یو داسے ځائے مقرر کړه چه دَ هغے فاصله ځمونږ او ستاسو دَ پاره یو شان برابر وي. حضرت موسیٰ علیه السلام اُوفرمائیل بهتر دا ده چه یوم الزّینة یعنی ستاسو دَ اختر په ورځ مقابله اُوکړے شي ځکه چه په هغے کښې به خلق دَ لرے لرے نه راځي. یوم الزینة نه مراد دَ هغوئ نوروز دے، دِ دے ورځ کښې به هغوئ باقاعده میله لګوله. بازارونه به ئے ښهٔ ځائسته کولے شول او خلقو به

بهترینې کېږې اغوستلې په هغې کښې به شریک کیدل۔
۳۶ فرعون د مجلس ختمولو حکم ورکړو او د جادوګرانو د راجمع کولو
حکم ورکړو تر دې چه د ملک مشهور او ماهر جادوګران ئې را اوبلل دلته
مقرر شوي ورځ هم را اورسیده. قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰى الخ حضرت موسٰی
علیه السلام فرعون او جادوګرانو ته خطاب اوکړو وې فرمائیل هلاکت
دې وی ستاسو د پاره تاسو د الله سره شرک اوکړو او ځما معجزو ته موجادو
اوئینو په الله تعالٰی دروغ مه جوړوئ که چرې تاسو نه منع کیږئ نو
الله تعالٰی به تاسو تباه او برباد کړی او تاسو به بالکل تس نس کړی.
ای لا تختلقوا علیه الکذب ولا تشرکوا به ولا تقولوا للمعجزات انها سحر
(قرطبی ج ۱۱ ص۲۱۳)

فَتَنَازَعُوٓا اَمْرَهُمْ بَیْنَهُمْ وَاَسَرُّوا النَّجْوٰى ﴿۶۲﴾
بیا ئې جهګړه اوکړه په خپل کار خپل مینځ کښې او پټه ئې کړه ګټه ۳۷ مشوره

قَالُوٓا اِنْ هٰذٰىنِ لَسٰحِرٰنِ یُرِیْدٰنِ
وې وئیل مقرر دا شو چه دا دواړه جادوګر دی ۳۸ غواړی چه

اَنْ یُّخْرِجٰكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا
او باسی تاسو د ملک ستاسو نه د خپل جادو په زور

وَیَذْهَبَا بِطَرِیْقَتِكُمُ الْمُثْلٰى ﴿۶۳﴾ فَاَجْمِعُوْا
او موقوف کړی ستاسو ښه چال چلن لره. نو مضبوط کړئ

كَیْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا ۚ وَقَدْ اَفْلَحَ
تدبیر خپل بیا راشئ (میدان ته) صفونه صفونه او کامیاب شو

الْیَوْمَ مَنِ اسْتَعْلٰى ﴿۶۴﴾ قَالُوْا یٰمُوْسٰٓى
نن څوک چه غالب شو وې وئیل ۳۹ اې موسٰی

اِمَّآ اَنْ تُلْقِیَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ
یا خو ته اوغورځوه او یا به موږ یو مخکښې

مِنَ الْقٰى ﴿۶۵﴾ قَالَ بَلْ اَلْقُوْا ۚ فَاِذَا حِبَالُهُمْ

غورځوونکي . وے وئیل نه اوغورځوئ تاسو ئے بیا هغه رسئ د هغوئ

وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ

او همساګانے د هغوئ په خیال کښ راغلے د هغوئ د جادو له وجے

اَنَّهَا تَسْعٰى ﴿۶۶﴾ فَاَوْجَسَ فِىْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً

چه منډے وهي بیا اوموندله په خپل زړه کښ ویره لږه

مُّوْسٰى ﴿۶۷﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ اِنَّكَ اَنْتَ

موسیٰ اوئیل مونږ مه ویریږه ته هم ته

الْاَعْلٰى ﴿۶۸﴾ وَاَلْقِ مَا فِىْ يَمِيْنِكَ تَلْقَفْ

به ئے غالب او اوغورځوه څه چه ستا په ښي لاس کښ دی چه تیر به کړي د حلق

مَا صَنَعُوْا ۗ اِنَّمَا صَنَعُوْا كَيْدُ سٰحِرٍ ۗ

کوم څه چه هغوئ جوړ کړی دی د هغوئ جوړ کړے شوئ خو فریب دے د جادوګرو

وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُ حَيْثُ اَتٰى ﴿۶۹﴾

او نۀ وی کامیاب جادوګر چرته چه وی.

تفسیر: ۳۷ د حضرت موسیٰ علیه السلام خبرے اوریدلو سره جادوګرانو د فرعون نه په پټه خپل مینځ کښ خبرے شروع کړے او هغوئ دا فیصله اوکړه. ما هذا بقول ساحر (خازن ج ۴ ص ۲۲۱، بحر ج ۶ ص ۲۵۴) اخر دا فیصله اوشوه چه په مقابله کښ که چرے هغه غالب شو نو یقیناً هغه د الله پیغمبر دے د دے وجے نه به ټول په هغۀ ایمان راوړو. (خازن، روح). ۳۸ څنے جادوګرانو دا اوئیل (موسیٰ او هارون علیهما السلام) دواړه جادوګر دی تاسو مۀ ویریږئ هغه د جادو په زور ستاسو په ملک باندے قبضه کول غواړی او ستاسو ښوانے دین چه ډیر ښۀ دین دے هغه ختمول غواړی. د دے وجے نه تاسو ټول یوشئ او کلکه اراده اوکړئ چه خپل جادو اوچلوئ هیڅ یو چل او هنر دا سے نۀ وی چه تاسو ئے نن استعمال نۀ کړئ او صفونه جوړ کړئ میدان ته راوځئ ځکه چه نن

په هغه سره کامیاب وی څوک چه غالب راشی.

۳۹ جادوګرو حضرت موسٰی علیه السلام ته اختیار ورکړو چه که چرے هغه غواړی نو اول دِ خپله همسا په زمکه اُوغورځوی یا دِ هغوئی ته اجازت ورکړی چه اول هغوئی خپل فن ښکاره کړی. جادوګرو داشان ځکه اُوکړل ځکه چه دَ هغوئی په خپل فن باندے پوره پوره اعتماد وو یا هغوئی دَ حضرت موسٰی علیه السلام ادب ملحوظ اُوساتلو داشان ئے اُوکړل چه روستو دَ هغوئی دَ اسلام راؤړلو باعث جوړشو یا دِے دَ پاره چه هغوئی دَ حضرت موسٰی علیه السلام صداقت معلوم کړے وو او دَ ادب او احترام دَ پاره ئے هغوئی ته اختیار ورکړو. خیروه علیه السلام وقد موه علی انفسهم اظهار الثقة بامرهم وقیل مراعاةً للادب معه علیه السلام (روح ج ۱۶ صـ۲۲۶) تأدبوا مع موسٰی فکان ذٰلک سبب ایمانهم (قرطبی ج ۱۱ صـ۲۲۲) ۴۰ حضرت موسٰی علیه السلام دَ دے ظاهرولو دَ پاره چه هغه هرګز دَ جادوګرو نه ویرین وتکے نهٔ دے او دَ هغهٔ په الله تعالٰی باندے کامل اعتماد او بهروسه ده جادوګروته ئے اجازت ورکړو چه هغوئی اول خپلے رسئ او همساګانے اُوغورځولے او کتونکو دا محسوسوله چه هغه منړے وهی. ۴۱ کله چه حضرت موسٰی علیه السلام دَ جادوګرو رسئ او همساګانے یوځوا بل ځوا منړے وهونکے اُولیدلے نو په زړهٔ کښ ئے ویره محسوس کړه چه هسے نه چرته خلق دَ دوئ دَ جادو نه متأثر شی او دَ عصاء معجزے نه په شک کښ پریے نهٔ وځی. قُلْنَا لَا تَخَفْ، الله تعالٰی حکم ورکړو دا فکر مهٔ کوه ستا معجزه به غالب وی او فتح به ستا سو وی. وَ اَلْقِ مَا فِیْ یَمِیْنِکَ، اُوس خپله همساء په زمکه اُوغورځوه چه اژدها ماره به ترے نه جوړ شی او همساګانے به الواک تیرے کړے هغوئی چه کوم څهٔ کړی دَ جادو په زوره سره ئے کړی دی او دَ معجزے په مقابله کښ جادوګر هیڅکله نهٔ شی کامیابیدلے دینه معلومه شوه چه معجزات دَ پیغمبرانو په قبضه کښ نهٔ وی کله چه معجزات دَ پیغمبرانو په قبضه کښ نهٔ وی نو دَ اولیاءالله په قبضه کښ کرامات چرته کیدے شی.

فَاُلْقِیَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوْٓا اٰمَنَّا

بیا پریوتل جادوګر ۴۲ په سجده وے وئیل یقین اُوکړو مونږ

بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَمُوْسٰی ۞ قَالَ اٰمَنْتُمْ

په رب دَ هارون او موسٰی باندے. اُووئیل فرعون تاسو دے اُومنلو

لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ

چه ما اوس حکم نۀ وو درکړے ، هم دے ستاسو مشر دے ۴۳

الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَاُقَطِّعَنَّ

چه دۀ خودلے دے تاسو ته جادو نو زۀ به اوس پرېکړم ۴۴

اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ

لاسونه ستاسو او پښې د بل طرف نه

وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ فِيْ جُذُوْعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ

او زوړند به کړم تاسو په تنو د کهجورو باندے او پوهه به شئ

اَيُّنَآ اَشَدُّ عَذَابًا وَّاَبْقٰى ﴿٧١﴾ قَالُوْا لَنْ

چه په مونږ کښې د چا عذاب سخت دے او تر ډېر وخته پورے پاتے کېدونکے دے . هغوئ اوئېل ۴۵

نُّؤْثِرَكَ عَلٰى مَا جَآءَنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَ

نۀ غوره کړو مونږ تا زيات د هغه څيز نه کوم چه راورسيدو مونږ ته صفا دليل او

الَّذِيْ فَطَرَنَا فَاقْضِ مَآ اَنْتَ قَاضٍ ۚ

د هغۀ نه چا چه مونږ پيدا کړي يو نو اوکړه څۀ چه تۀ کول غواړے

اِنَّمَا تَقْضِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿٧٢﴾

تۀ به هم دا اوکړے ګټه په دے ژوندانه د دنيا کښې .

اِنَّآ اٰمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطٰيٰنَا وَمَآ

مونږ ايمان راوړے دے په رب خپل باندے د پاره د چه معاف کړي ګناهونه زمونږ او چه کوم

اَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ۗ وَاللّٰهُ خَيْرٌ

په زور کړے دے تا په مونږ باندے دا جادوګري او الله ﷻ بهتر دے

وَّاَبْقٰى ﴿٧٣﴾ اِنَّهٗ مَنْ يَّاْتِ رَبَّهٗ مُجْرِمًا

او باقي پاتے کېدونکے دے ۴۶ خبره دا ده څوک چه راغے رب خپل ته ګناه سره

فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ ۖ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴿٧٤﴾

نو هغهٔ ډپاره دوزخ دے نهٔ به مری په هغې کښې نهٔ به ژوندی وی.

وَمَنْ يَأْتِهِ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصَّالِحَاتِ

او څوک چه راغے هغهٔ ته ایمان راوړلو سره او کړے ئے وی نیکئی

فَأُولَٰئِكَ لَهُمُ الدَّرَجَاتُ الْعُلَىٰ ﴿٧٥﴾ جَنَّاتُ

نو هغه خلقو ډپاره درجے اوچتے دی باغونه دی

عَدْنٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ

ډ همیشه اوسیدلو بهیږی ډ لاندے ډ هغے نه نهرونه همیشه به اوسیږی

فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ مَنْ تَزَكَّىٰ ﴿٧٦﴾ ع ۲

په هغې کښې او دا بدله ده ډ هغه چاچه پاک شو.

نکات: ۱ علت ډ ماقبل ډ پاره ۱۲-

موضح قرآن
ف ستاسو مشرچه تاسو ته ئے جادو ښودلے دے کیدے شی چه دا ئے رب ته وئیلی وی ۱۲-

ف۲ په زور ئے مجبوره کړل وائی چه جادوګرو ډ حضرت موسیٰ علیه السلام معجزات اولیدل نو پوهه شوی وو چه دا جادو نهٔ دے مقابله مه کوئ بیا ډ فرعون په وجه ئے مقابله اوکړه شاید چه فرعون بیرول په هغوی ئے اوڼه کړے شوه په زړهٔ کښې اویریدو ډ موسیٰ علیه السلام ډ نشانے نه.

تفسیر: ۷۲ فاء فصیحه ده یعنی کله چه حضرت موسیٰ علیه السلام ډ الله تعالیٰ ډ حکم مطابق خپله همساء په زمکه اوغورځوله نو هغه فوراً ډ یوے هیبتناکے اژدها په شکل کښې بدله شوه ډ جادوګرے ټولے رسئ او همساګانے ئے الوګ تیرے کړے او کله چه حضرت موسیٰ علیه السلام پخپل لاس کښې اونیوله نو هغه خپل اصلی حالت ته راغله او ډ هغے په غټ والی کښې هیڅ قسم زیاتے اونهٔ شو. کله چه جادوګرو دا ټول هر څهٔ اولیدل نو ډ حضرت موسیٰ علیه السلام ډ ریښتینوالی هغوئ ته عین الیقین حاصل شو او سمدستی ئے اوئیل آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَىٰ، چه مونږ ډ موسیٰ او هارون علیهما السلام رب باندے ایمان راوړو او بے اختیاره په سجده پریوتل. ۷۳ فرعون چه کله اوکتل چه ټولو جادوګرو په موسیٰ علیه السلام باندے ایمان راوړے دے

دینه هغهٔ ته دَ ټول قوم متأثر کیدلو خطره محسوس شوه نو دَ هغهٔ دَ قوم په زړونو کښې دَ دے خبرے دَ کینولو کوشش اُوکړو چه دَ جادوګرو ایمان راوړل کوم دَ اعتبار وړ ‌والا خیز نهٔ دے ځکه چه هغوئ ځما دَ اجازت نه بغیر ایمان راوړے دے. دینه روستو شائد فرعون دا محسوس کړه چه جادوګر یا دَ قوم هوښیار خلق به دا اُوائی چه دَ جادوګرو ایمان راوړلو دَ پاره ستا نه دَ اجازت اخستلو څهٔ ضرورت وو کله چه هغوئ په خپلو سترګو سره رښتینوالے اُولیدلو دَ دے وجے نه ئے زیاتے اُوئیل چه اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ الخ معلومیږی چه موسٰی علیه السلام ستا سو نه لوئے جادوګر دے او دے فن کښې ستا سو اُستاذ دے او کوم څهٔ چه تا سو کړی دی دا هم دَ یو جوړ شوی سازش دَ لاندے کړی دی چه تا سو دَ مخکښې نه دَ خپل اُستاذ موسٰی علیه السلام سره یو ځائے په شریکه جوړه کړے وه.

۴۴ نو دا تا سو ټول دَ یو ے فیصله شوے منصوبے دَ لاندے اُوکړل چه په هغے سره زهٔ دَ خپل قوم په مخکښې رسوا شوم. لِهٰذا اُوس به زهٔ تا سو ته دَ دے سخته سزا درکوم. مخالف طرفونو نه به ستا سو لاسونه او خپے پرے کړم. یعنی ښے لاس او ګسه خپه او بیا به تا سو دَ کهجورو په اُونو باندے راځوړند ے (تیزندئ) کړم. بیا به تا سو ته پته اُولګی چه څوک په مونږ کښې سخت عذاب ورکوونکے او ډیر وخت دے، یعنی تا سو دا خیال کړیږے چه په موسٰی علیه السلام باندے تا سو ایمان راوړو او تا سو دَ نجات ټهیکیداران جوړ شوئ او مونږ (فرعون او دَ هغهٔ ملګری) به دَ جهنم په سخت او همیشه عذاب کښې مبتلاء یو. نو دا به تا سو ته اُوس معلومه شی چه ځما عذاب ډیر سخت او پائیدار دے یا دَ موسٰی علیه السلام دَ رب چه تا سو په هغهٔ ایمان راوړے دے. یعنی علی ایمانکم به انا، ورب موسٰی علی ترک الایمان (خازن ج ۴ ص۲۲۳) دِ دے دباؤ اچولو نه دَ فرعون مقصد دا وو چه شائد هغه اُویریږی دَ ایمان نه واپس شی لیکن دے سره دَ هغوئ ایمان نور هم قوی او مضبوط شو. ۴۵ دَ فرعون دَ دباؤ او ویرے اچولو په جواب کښې په پوره ایمانی زړهٔ ور تیا سره جادوګرو اُوئیل چه دَ حق دلائیل مونږ خپلو سترګو سره اُولیدل چه مونږ هغے سره خپل مالک او خالق پیژندلے دے لِهٰذا اُوس دَ دے دلائیلو نه مخ اړولو سره او خپل خالق پریښودلو سره ستا منلو ته هیڅکله تیار نهٔ یو نهٔ ستا دَ عذاب نه مونږ ته دَ ویرے ضرورت دے او نهٔ ستا دَ وادو دهش مونږ ته ضرورت دے. فَاقْضِ مَآ اَنْتَ قَاضٍ، ته چه څه مونږ سره څهٔ کوے هغه اُوکړه مونږ ته دَ دے هیڅ پرواه نشته. وَالَّذِیْ فَطَرَنَا دا په مَا جَآءَنَا باندے معطوف دے. ۴۶ دَ ایت دا حصه او مخکښې (راتلونکے) ایت دَ ما قبل دَ پاره علت دے

او دلیل ـ مع مابعدہ تعلیل لعدم المبالاۃ المستفاد مما سبق من الامر بالقضاء (روح ج ۱۶ ص۲۳۳) محمونږ اوس هیڅ پرواه په تا نشته ته چه څه کول غواړے هغه اوکړه ځکه چه ته هرڅۀ هم کوے نو د دے دنیا په ژوند کښ به ئے کوے اِنَّآ اٰمَنَّا بِرَبِّنَا الخ مونږ خپل رب په رښتیا نه دلائیلو او پیژندو او په هغه مونږ ایمان راوړلو دے د پاره چه هغه محمونږ ټول ګناهونه معاف کړی محمونږ مطلوب او مقصود دومره اعلیٰ دے او اوچت دے چه مونږ ستا د وینا سزا په زړه کښ هیڅکله نۀ راوړو۔

۴۷ دا په خَطٰیٰنَا باندے معطوف دے جادو باندے د مجبورولو باره کښ مفسرینو لیکلی دی چه فرعون د بنی اسرائیلو څلویښت هلکان زبردستی سره واخستل جادوګرو ته ئے حواله کړل او هغوئی ته ئے اوئیل چه دوئی ته د جادو داسے کمالات اوښائی چه د دُنیا هیڅ یو جادوګر په دوئی نۀ شی غالب کیدلے دا اسرائیلی جادوګر هم د موسیٰ علیه السلام په مقابله کښ راغلل او د ایمان راوړلو نه روستو ئے فرعون ته اوئیل چه تا مونږ په جادو باندے مجبور کړی وو ـ اوس مونږ د الله نه د دے لوئے ګناه بښنه غواړو (ابن کثیر ص۱۵۹) یا په زور سره مقابلے ته راوستلو باندے مجبور کول مراد دی لکه چه ځینے روایتونو کښ راغلی دی کله چه جادوګر جمع شول نو هغوئی د حضرت موسیٰ علیه السلام ځینے معجزات اولیدل یقین ئے اوکړو چه دا جادو نۀ دے د دے مقابله ناممکن ده لیکن د فرعون د ویرے نه ناخوښه زړۀ سره شریک شول (روح، بحر، وغیره) ۴۸ دا د فرعون د قول اَیُّنَآ اَشَدُّ عَذَابًا وَّ اَبْقٰی جواب دے ـ یعنی مؤمنانو د پاره د الله اجر او ثواب ستا د انعاماتو نه بهتر دے او د نافرمان د پاره د هغۀ عذاب ستا سو د عذاب نه ډیر زیات باقی پاتے کیدونکے دے (واللّٰه خیرٌ ثوابًا) لِمَنْ اَطاعه (وَّ اَبْقٰی) عذابًا لمن عصاه وهو رد لقول فرعون وَلَتَعْلَمُنَّ اَیُّنَآ اَشَدُّ عَذَابًا وَّ اَبْقٰی (مدارک ج ۲ ص۴۲)

۴۹ دے ځائے نه تر ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰی، د جادوګرو د قول حکایت دے یا ادخالِ الٰهی دے ـ د مُجْرِمًا نه مراد مشرک دے ـ ودل قوله مَنْ یَّاْتِهٖ مؤمنًا علی ان المراد بالمجرم المشرك (قرطبی ج ۱۱ ص۲۲۶) تَزَكّٰی یعنی د شرک نه پاك شو ـ تطهر من الشرك بقول لا اله الا الله قیل هٰذه الاٰیات الثلث حکایة قولهم وقیل خبر من الله تعالیٰ لاعلی وجه الحکایة وهو اظهر

(مدارک ج ۲ ص۴۲)

وَلَقَدْ اَوْحَیْنَآ اِلٰی مُوْسٰٓی اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِیْ

او حکم اولیږلو مونږ موسیٰ ته چه د شپے اوباسه بندګان زما

فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا ۙ
بیا جوړه کړه هغوئ کې پاره لاره په سمندر کښ اوچه
لَا تَخَافُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَىٰ ﴿٧٧﴾ فَأَتْبَعَهُمْ
مه کوه خطره د نیولو او مونږ لو او نه د ډوبیدلو. بیا د روستو نه روان شو هغوئ پسے
فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ فَغَشِيَهُمْ مِنَ الْيَمِّ
فرعون ف۵۱ خپل لښکر سره بیا پټ کړل هغوئ لره او بو
مَا غَشِيَهُمْ ﴿٧٨﴾ وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُ
لکه چه ئے پټ کړل . او بے لاره کړو فرعون قوم خپل
وَمَا هَدَىٰ ﴿٧٩﴾ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ قَدْ
او پوهه ئے نه کړل . اے اولاد د بنی اسرائیلو ف۵۲ بے شکه
أَنْجَيْنَاكُمْ مِنْ عَدُوِّكُمْ وَوَاعَدْنَاكُمْ
خلاص درکړو مونږ تاسو ته د دشمن ستا سو نه او وعده مو اوکړه ستاسو سره
جَانِبَ الطُّورِ الْأَيْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ
ښي طرف د غر ف۵۳ او نازل مو کړو په تاسو باندے
الْمَنَّ وَالسَّلْوَىٰ ﴿٨٠﴾ كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ
من او سلوی خوړئ ف۵۴ صفا څیزونه
مَا رَزَقْنَاكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيهِ فَيَحِلَّ
کوم رزق چه درکړو مونږ تاسو ته او مه کوئ زیاتے په دے کښ نو بیا به نازل شي
عَلَيْكُمْ غَضَبِي ۖ وَمَنْ يَحْلِلْ عَلَيْهِ
په تاسو باندے غصه زما او په چا چه نازل شوه
غَضَبِي فَقَدْ هَوَىٰ ﴿٨١﴾ وَإِنِّي لَغَفَّارٌ
غصه زما نو هغه پرتو په هاویه کښ فل . او زما لویه ښښنه ده

لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰى ﴿۸۲﴾

هغه چا ته چه توبه کړي او ايمان راوړي او کار کوي نيک بيا په سمه لاره روان وي ٖه

نکات: سلـ تخويف أخروي ۱۲. سلـ۲ بشارتِ أخروي ۱۲.

موضح قرآن | فـ يعني ذخيره ان وزي او مخل مه کوئي ۱۲.

فتح الرحمٰن | فـ يعني د تورات در کولو ۱۲. فـ۲ مترجم وائي کله چه موسٰى عليه السلام سره د اويا ؤ تنو د خپل قوم نه د طور طرف ته روان شو حضرت موسٰى عليه السلام د ټولو نه مخکښ لاړو اورسيدو خطاب ورته اُوشو. والله اعلم ۱۲.

تفسير: ۵۰ کله چه الله تعالٰى د حضرت موسٰى او هارون عليهما السلام معجزات او د هغوئ تبليغ او نصيحت سره فرعون او د هغهٔ په قوم باندے خپل حجت تمام کړو او هغوئ ايمان رانه وړو نو اُوس د هغوئ د تباهئ او د بنى اسرائيلو د نجات وخت راورسيدو حضرت موسٰى عليه السلام ته ئے حکم ورکړو چه هغه بنى اسرائيل ځان سره روان کړي او شپه او په شپه د ښار نه اُوځي. په لاره کښ به بحر قلزم راځي ليکن هغه به ستاسو په سفر کښ حائل نهٔ وي تاسو هغه په خپله همساء باندے اُوهئ هغه به فورًا په ځائے اُودريږي او جمع به شي اُوبهٔ، په هغے کښ به دولس اُوچے د تللو قابل لارے جوړے شي بے ويرے او بے خطرے لاړشئ روستو د شانه د فرعون رارسيدلو نه هم مهٔ ويريږئ او سمندر کښ د غرقيدلو ويره هم زړهٔ ته مهٔ راوړئ. ۵۱ حضرت موسٰى عليه السلام د شپے په تياره کښ قوم ځان سره روان کړو لاړل سحر چه کله فرعون ته پته اُولګيده نو پوره شان او شوکت او ډير لوئے لښکر او سامان سره د هغوئ په رانيولو پسے اُوتل. بنى اسرائيلو د پاره الله تعالٰى د معجزے په طور په درياب کښ اُوچے لارے جوړے کړے چه د هغے نه هغوئ صحيح سلامت پورے وتل هغوئ نه روستو فرعون هم سره د لښکر نه اسونه په هغه لارو ورواچول کله چه ټول لښکر درياب کښ کوز شو دغه وخت د الله تعالٰى په حکم سره اُوبهٔ روانے شوے او دا شان الله تعالٰى د هغه سرکش قوم خاتمه اُوکړه.
۵۲ د فرعون د قوم هلاکيدلو او د بنى اسرائيلو د خلاصي موندلو نه روستو الله تعالٰى بنى اسرائيلو ته خپل نعمتونه وريادکړل د هغے د شکر ادا کولو. او هغوئ ته په ايمان او اطاعت باندے د قائم پاتے کيدلو او د سرکشئ او نافرمانئ کولو نه د اجتناب ورکولو ترغيب ئے ورکړو. لما انجهم

من فرعون قال لهم هٰذا ليشكروا (قرطبي ج ١١ ص ٢٣٢)
٥٣ الله تعالىٰ حضرت موسىٰ عليه السلام سره وعده کړې وه چه هغه
د فرعون د تباه کولو نه روستو د کوه طور ښي طرف ته اُورسيږي هغهٔ ته به
تورات ورکولے شي چه هغه به ټول د هدايت نور او بني اسرائيلو لره به
د لارے ليدلو د پاره رڼا وي دلته د هغه وعدے طرف ته اشاره ده دا
وعده اګرچه صرف د حضرت موسىٰ عليه السلام سره وه ليکن د ټول
قوم د فلاح او کاميابۍ د پاره ده د دے وجے نه ئے وَوٰعَدْنٰكُمْ سرهٔ ټول
قوم مخاطب کړو. وَ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى (ترنجبين) او مرغان په
ميدانِ تيه کښ نازل شوي وو. د دے زيات تفصيل د سورهٔ بقرے په تفسير
کښ تير شوے دے صفحه ٢٥ تفسير ١١٥ با ندے اُوګورئ.
٥٤ کوم حلال رزق چه ما تاسو ته درکړے دے هغه خورئ او د الله تعالىٰ
شکر ادا کړئ او د الله تعالىٰ درکړے شوے دولت بے ځايه او په بد و کارونو
کښ مهٔ خرچ کوئ. وَمَنْ يَّحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِيْ الخ د نافرمانو د پاره تخويف
اُخروي دے وَاِنِّيْ لَغَفَّارٌ الخ د فرمانبردارانو د پاره بشارت اُخروي دے.

وَمَا اَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ يٰمُوْسٰى ﴿٨٣﴾
او تا ولے تلوار اُوکړه ٥٥ د قوم خپل نه اے موسىٰ
قَالَ هُمْ اُولَآءِ عَلٰۤى اَثَرِيْ وَ عَجِلْتُ
وے وئيل هغوی دادی ځما نه روستو راروان دي او زهٔ په تلوار ئي سره راغلم
اِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى ﴿٨٤﴾ قَالَ فَاِنَّا قَدْ
ستا طرفته اے ربه ځما دے د پاره چه ته راضي شے. وے فرمائيل وازمائيلو ٥٦
فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْۢ بَعْدِكَ وَ اَضَلَّهُمُ
مونږ قوم ستا روستو ستا نه او ګمراه کړل هغوئ لره
السَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾ فَرَجَعَ مُوْسٰۤى اِلٰى قَوْمِهٖ
سامري بيا واپس شو موسىٰ ٥٧ قوم خپل ته
غَضْبَانَ اَسِفًا ۚ قَالَ يٰقَوْمِ اَلَمْ يَعِدْكُمْ
د غصے نه ډک ډير غمژن وے وئيل اے قومه ايا وعده نهٔ وه کړے تاسو سره

رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۥ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ

رب ستاسو وعده ښه ف ایا اوګډه شوه په تاسو

الْعَهْدُ أَمْ أَرَدْتُّمْ أَنْ يَّحِلَّ عَلَيْكُمْ

موده ما یا اوغوښتل تاسو چه نازل شي په تاسو باندې ﴿۵۸﴾

غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُمْ مَّوْعِدِي ﴿۸۶﴾

غضب د رب ستاسو د دې وجې نه چه خلاف اوکړو تاسو د وعدې ځما نه

قَالُوا مَا أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلٰكِنَّا

وې وئیل ﴿۵۹﴾ مونږه خلاف نه دې کړې ستا د وعدې په خپل اختیار سره خو ئله

حُمِّلْنَا أَوْزَارًا مِّنْ زِيْنَةِ الْقَوْمِ فَقَذَفْنٰهَا

بار کړې شوي یو په درونو پېټو د کالو د فرعون د قوم نو اوغورځول مونږ هغه اوکښ

فَكَذٰلِكَ أَلْقَى السَّامِرِيُّ ﴿۸۷﴾ فَأَخْرَجَ

بیا هم داشان اوغورځول په اور کښې سامري ﴿۲﴾ بیا ئې رااوویستو

لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ فَقَالُوا

هغوئ د پاره یو سخې جسد چه په هغې کښې اواز د غواوو بیا ئې اووئیل

هٰذَا إِلٰهُكُمْ وَإِلٰهُ مُوسٰى ۥ فَنَسِيَ ﴿۸۸﴾

دا معبود دې ستاسو او معبود دې د موسیٰ نو هغه هیر کړو ﴿۳﴾

موضح قرآن ف وعده د تورات ورکولو. حضرت موسیٰ علیه السلام د قوم سره د دیرشو ورځو وعده کړې ده په (طور) غر باندې هلته ځلویښت ورځې اولګیدې. روستو ئې سخې جوړ کړو د هغې عبادت ئې شروع کړو ۱۲. ف۲ د فرعون والؤ نه ئې په سوال اخستې وو چه د هغوئ یقین اوشي چه هغوئ ته د وادۀ (بلنه) ورکړې شویده او د هغې د پاره د ښار نه بهر ته ځي. د دینه بغیر فرعون هغوئ ته د ښار نه د بهر تللو اجازت نۀ ورکولو. ف۳ یعنی موسیٰ نه هیر شو او بل ځائې ته لاړو.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی ځما د جدائۍ موده ۱۲.

تفسیر: ۵۵ د الله تعالیٰ د وعدے مطابق چه کله حضرت موسیٰ علیه السلام د قوم اوڅیا ته نقباء، مشران سرداران ځان سره واخستل کوه طور طرفته روان شول نو د ډیر زیات شوق د وجے نه په لاره کښ ډیرے تیزئ سره مخکښ لاړو او د نقباء او مشرانو نه مخکښ میقات (د وعدے ځائے) ته اورسیدو نو الله تعالیٰ اوفرمائیل اے موسیٰ دومره تلوار دِ ولے اوکړه چه ملګري دِ روستو پریښودل. عرض ئے اوکړو چه ځما پروردګاره. ستا د رضا کولو او خوشحالولو په وجه تلوار سره حاضر شوے یم او هغوئ هم څه لرے نه دی دادی ځما نه روستو را روان دی. یا د قوم نه ټول قوم مراد دے یعنی قوم دِ روستو پریښودو دومره په تلوار ولے راغلے جواب ئے ورکړو هغوئ هم نزدے دی او ځما د واپسئ انتظار کوی.

۵۶ یعنی تاسو خو دلته راغلئ او ستا سو نه روستو مونږ ستا سو قوم په یو ازمائش کښ واچولو او سامری هغوئ ګمراه کړل ای اختبرنا هم بما فعل السامری (روح ج ۱۶ ص۲۴۳) سامری چونکه منافق وو او د قوم په ګمراه کولو او په هغوئ کښ د شرک خورولو د موقعو په تلاش کښ وو. د حضرت موسیٰ علیه السلام قوم کښ عدم موجودګی هغه غنیمت اوګنړله د خلقو نه ئے زیورات (کالی) جمع کړل هغه د سخی په شکل بُت ئے ترینه جوړ کړو چه د سخی په شان اوازبه ئے ویستلو او خلقو ته ئے وئیلی وو چه ستا سو رب خو دا دے حضرت موسیٰ علیه السلام (نعوذ بالله) غلط شوے دے چه کوه طور ته د رب سره راز کولو د پاره تللے دے. زیات تفصیل د پاره صفحه نمبر ۲۴ تفسیر ص۱۱۱ بادے تفسیر د سورۃ بقرے اوګورئ.

۵۷ حضرت موسیٰ علیه السلام د کوه طور میعاد تیریدلو او تورات اخستلو نه روستو کله چه قوم ته واپس راغے نو سخت په غصه او غمژن شو دا قهر او غصه د الله تعالیٰ په توحید بادے د غیرت په وجه وه. وَعۡدًا حَسَنًا نه د تورات ورکولو وعده مراد ده. الله تعالیٰ وعده کړے وه چه هغۀ به دوئ ته تورات ورکوی چه ټول به د هدایت رڼړا وی.

وعدهم ان یعطیکم التوراة التی فیها هدی ونور ولا وعد احسن من ذلك واجمل (بحر ج ۶ ص۲۶۵). ۵۸ حضرت موسیٰ علیه السلام قوم ته خطاب اوکړو ورته فرمائیل ځما قومه ایا تاسو سره الله یوه ښۀ وعده نۀ وه کړے چه هغۀ به تاسو ته تورات درکوی او بیا زۀ د هغه وعدے موافق د تورات اخستلو د پاره کوه طور ته هم لاړم نو بیا تاسو څلویښت ورځے صبر هم اونه کړے شو او ځما انتظار مو اونۀ کړے شو ولے موده دومره اوګدۀ وه چه تاسو انتظار کولو کښ ستړی او ستومانه شوی وئ او بیا مو د سخی عبادت

شروع کړو؟ یا تاسو قصداً عمداً شرک اُوکړو او د الله غضب ته مو دعوت ورکړے دے ترڅو چه تاسو خپله وعده هم شاته اُوغورځوله چه تاسو ځما سره کړے وه چه د میقات نه واپسئ پورے به مونږ د الله په اطاعت باندے قائم اُوسیږو. لأنهم وعدوه ان یقیموا علی طاعة الله عزوجل الی ان یرجع الیهم من الطور (قرطبی ج ۱۱ ص ۲۳۴) ۵۹ قوم د معذرت په طور باندے حضرت موسیٰ علیه السلام ته ته اُوئیل بیشکه مونږ تاسو سره د الله تعالیٰ په عبادت او طاعت باندے د قائم پاتے کیدلو وعده کړے وه. لیکن مخمونږ نه چه وعده خلاف شوے ده نو مونږ قصداً عمداً او په خپل اختیار نه ده کړے بلکه سامری چالاکئ سره یو داسے صورت پیدا کړو چه د هغے په وړاندے مونږ بے اختیاره شو او مجبوره شولو. ای من قدرتنا واختیارنا (ابن کثیر ج ۳ ص ۱۶۱) ابن زید لم نملك انفسنا ای کنا مضطرین (قرطبی) یعنی مونږ چه څه کړیدی نو هغه په مونږ سامری کړیدی.

۶۰ دے کښې هغوئ د خپلے بے وسئ او مجبورئ تصویر پیش کړو چه واقعی داسے وه چه قبطیانو (د فرعون د قوم) نه چه کوم زیورات (کالی) مونږ په طور د استعارے اخستی وو اُوس د هغوئ د هلاکت نه روستو د هغے د واپسئ هیڅ امکان نه وو او نه د هغے استعمال کښې راوستل مخمونږ د پاره جائز وو ځکه چه هغه د بل چا حق وو د دے وجے نه د هغے نه د نجات حاصلولو د ګناه نه بچ کیدلو د پاره مونږ هغه کالی د کور رونو نه بهر اُوغورځول او سامری هغه ویلی کړل کوم څه چه د هغۀ سره وو په هغے کښې ئے واچول او هغے نه ئے د سخی شکل ئے جوړ کړو چه د سخی په شان آواز به ئے کولو. او بیائے اُوئیل ستاسو او د موسیٰ خدائے خو دا دے هغۀ نه هیر شول چه د خپل معبود (خدائے) کلام اوریدلو د پاره کوه طور ته لاړل. ای فغفل عنه موسیٰ وذهب یطلبه فی الطور (روح ج ۱۶ ص ۲۴۸)

أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا ۙ

آیا دا خلق نه ګوری لاله چه هغه جواب قدرهم نۀ ورکوی هغوئ ته د یو خبرے

وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴿۸۹﴾ ع ۱۲ وَلَقَدْ

او نۀ اختیار لری هغوئ ته د بدئ او نیکئ او

قَالَ لَهُمْ هٰرُوْنُ مِنْ قَبْلُ يٰقَوْمِ

وئیلی وو هغوئ ته لاله هارون د دے نه مخکښې اے قومه

إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦ ۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ ٱلرَّحْمَٰنُ

بېشکه دا ده چه ازمائیلے شوی یئ تاسو د دے سخی سره او ستاسو رب خو رحمٰن دے ۶۳

فَٱتَّبِعُونِى وَأَطِيعُوٓا۟ أَمْرِى ﴿٩٠﴾ قَالُوا۟

نو ځما په لاره روان شئ او او منئ خبره ځما اوئیل هغوئ

لَن نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عَٰكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ

برابر به او سیږو دے باندے ۶۴ تر هغے چه واپس راشی ۶۵

إِلَيْنَا مُوسَىٰ ﴿٩١﴾ قَالَ يَٰهَٰرُونُ مَا مَنَعَكَ

مونږ ته موسیٰ . اوئیل موسیٰ اے هارون ۶۶ کوم یو څیز منع کړے ته

إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوٓا۟ ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِ ۖ أَفَعَصَيْتَ

کله چه تا لیدلی وو چه هغوئ ګمراه شول چه ته ما پسے روستو را نغلے ۶۷ آیا رد کړو تا

أَمْرِى ﴿٩٣﴾ قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِى

حکم ځما . هغهٔ اوئیل اے ځما د مور ځیګول شویه مهٔ نیسه ۶۸ ګیره ځما

وَلَا بِرَأْسِىٓ ۖ إِنِّى خَشِيتُ أَن تَقُولَ

او نهٔ سر زهٔ او ویرېدلم چه ته به وائے

فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِى ﴿٩٤﴾

اختلاف واچولو تا بنی اسرائیلو کښ او یاد دے او نهٔ ساتله ځما خبره ۶۹

نکات: ۶۲ شلورم ایت دَ توحید ۱۲۔

موضح قرآن | ف۱ دَ تللو په وخت موسیٰ علیه السلام هارون علیه السلام ته نصیحت کړے وو چه ټول په اتفاق اوسا ته دَ دے وجے نه هغوئ دَ سخی دَ عبادت کوونکو مقابله اونهٔ کړه په ژبه ئے پوهه کړل لیکن هغوئ پوهه نهٔ شول۔

فتح الرحمٰن | ف۱ یعنی دَ ګمراهانو سره په جنګ کولو کښ۔

تفسیر: ۶۲ داشلورم ایت دے دَ توحید او دے کښ دَ سخی عبادت

کوونکو دَ بے عقلئ طرف ته اشاره ده چه هغوئ ته ښه معلومه ده چه هغه سخے دَ هغوئ دَ یوے خبرے جواب هم نهٔ شی ورکولے او نهٔ دَ هغوئ نفع او نقصان دَ دهٔ په اختیار کښ دی او معبود صرف هغه کیدے شی څوک چه عالم الغیب او متصرف، مختار او کارساز وی. ثم بین الله تعالیٰ فساد اعتقادهم بان الالوهیة لاتصلح لمن سلبت عنه هٰذه الصفات (بحر ج ۶ ص ۲۶۹) ای هو عاجز عن الخطاب والضر والنفع فکیف تتخذونه الهًا (مدارک ص ۴۹ ج ۳) لهٰذا بے وسه او عاجزه معبود جوړول سراسر بے عقلی او عقل ته صریح خلاف دی. ۶۲ دَ سخی دَعبادت کوونکو گمراهی دَهغوئ دَ فعل بدی او دَ هغے دَ عقل نه خلاف کیدل دَ دے بیان نه روستو دلته دَ هغوئ دَ خباثت او دَ الله دَ پیغمبر حضرت هارون علیه السلام دَ حکم نه دَ هغوئ دَ سرکشئ او بغاوت ذکر اُوکړے شو. کله چه حضرت هارون علیه السلام اُولیدل چه دَ قوم په زرگونو کسان دَ سامری په جال کښ راغلل په شرک کښ مبتلاء شویدی نو هغوئ دَ خپل فریضهٔ تبلیغ او دَ حضرت موسیٰ علیه السلام دَ نیابت دَحق ادا کولو په غرض او دَ شفقت علی الخلق پیش نظر قوم په هره طریقه پوهه کړه او دَ هغوئ دَ شرک نه دَ منع کولو کوشش ئے اُوکړو ان هٰرون علیه السّلام انما قال ذٰلک شفقة منه علیٰ نفسه وعلی الخلق اما الشفقة علیٰ نفسه فلانه کان مامورًا من عند الله بالامر بالمعروف والنهی عن المنکر وکان مامورا من عند اخیه موسیٰ علیه السلام بقوله اُخْلُفْنِیْ فِیْ قَوْمِیْ وَاَصْلِحْ الخ (کبیر ج ۶ ص ۹۵).

۶۳ حضرت هارون علیه السلام دَ سخی عبادت کوونکوته اُوئیل چه سامری ستاسو خیر خواهی اُونهٔ کړه او تاسو ته ئے دَحق او صداقت لاره ښودنه اُونهٔ کړه بلکه هغهٔ تاسو دَ سخی په وجه په گمراهئ کښ اچولی یئ. وَاِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمٰنُ او یادلرئ ستاسو مالک او پرورد گار او ستاسو معبود او کارساز رحمٰن خدائے دے بل هیڅوک نهٔ دے ایا دَ رحمٰن خدائے په مقابله کښ یو بے وسه بے روحه او عاجز سخے هم معبود کیدے شی؟ لږ دَعقل نه خو کار واخلئ. رَبَّكُمُ الرَّحْمٰنُ کښ دَ مبتداء او خبر تعریف مفید دَ حصر دے یعنی مستحق دَعبادت صرف رحمان دے بل هیڅوک نهٔ دے. وتعریف الطرفین لافادة الحصر ای وَاِنَّ رَبَّكُم المستحق للعبادة هوالرحمٰن لاغیر (روح ج ۱۶ ص ۲۴۹).

۶۴ دا دَ سخی دَعبادت کوونکو ډیره زیاته سرکشی وه چه یو داسے فعل چه دَعقل نه بالکل خلاف دے او دَ الله یو پیغمبر دَ هغے نه منع کوی لیکن هغوئ دَ سخی دَعبادت پریښودلو ته صفا انکار اُوکړو او وے وئیل چه

ذ موسیٰ علیه السلام را تللو پورې مونږ ته اجازت راکړه بیا به کتلے شی چه هغه څه وائي. ذ حضرت موسیٰ علیه السلام را تللو پورې ذ سخي ذ عبادت نه پرېښودلو نه ذ هغوئ اراده دا نهٔ وه چه ذ هغهٔ را تللو سره به هغوئ په رښتیا ذ سخي ذ عبادت او ذ هغهٔ ذ طواف وغیره نه بند شي بلکه ذ حضرت هارون علیه السلام په جواب کښ دا ذ هغوئ محض یو بهانه وه. جعلوا رجوعه علیه السلام الیهم غایة لعکوفهم علی عبادة العجل لکن لا علی طریق الوعد بترکها عند رجوعه علیه السلام بل بطریق التعلل والتسویف الخ (ابو السعود ج ۶ ص۲۹) ۶۵ یعنی ذ سخي په عبادت او ذ هغهٔ په تعظیم باندې به قائم اوسیږی هغوئ به ذ سخي په خوا کښ ذ هغهٔ ذ خوشحالولو ذپاره ساز غږولو او ذ هغهٔ نه به ګیر چاپیره ګرځیدل. فلما رجع موسیٰ وسمع الصیاح والجلبة وکانوا یرقصون حول العجل الخ (قرطبی ۱۱ ص۲۳۴، خازن ومعالم ج ۴ ص۲۲۵). ۶۶ کله چه حضرت موسیٰ علیه السلام ذ قوم جواب او عذر بیانول واوریدل نو په هغې مطمئن نهٔ شو او ذ غُصے په حالت کښ مخکښ لاړو ذ حضرت هارون علیه السلام ذ سر او ږیرې ویښتهٔ ئے اونیول او وے فرمائیل چه اے هارون کله چه تا لیدلی وو چه هغوئ په شرک کښ مبتلا شوی او ګمراه ګرځیدلی دی نو تا څما ذ احکامو تعمیل ولے اونهٔ کړو. ذ احکامو نه هغه هدایات مراد دی چه هغه کوه طور ته ذ تللو نه وړاندې هغهٔ ته ورکړی وو. ذ هغوئ خیال وو چه کیدے شی هارون علیه السلام ذ تبلیغ حق نهٔ وی ادا کړے څکه قوم ګمراه شو. حضرت موسیٰ علیه السلام چونکه ذ جلالی طبیعت مالک وو ذ دے وجے نه چه ذ قوم ګمراهی ئے اولیدله په غُصه شو. کان (موسیٰ) علیه السلام حدیدا متصلبا غضوبا لله تعالیٰ وقد شاهد ما شاهد وغلب علی ظنه تقصیر فی هرون علیه السلام ففعل به ما فعل (روح ج ۱۶ ص۲۵۰). ۶۷ حضرت هارون علیه السلام حضرت موسیٰ علیه السلام ته اوئیل چه ما خو په امر بالمعروف او نهی عن المنکر کښ هیڅ کمے نهٔ دے کړے ما خو هغوئ ذ شرک نه پوره سختئ سره منع کړل تر دے چه هغوئ ذ ډیرے غُصے نه څما وژلو ته تیار شول لکه چه په سورهٔ اعراف کښ دی اِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُوْنِیْ وَکَادُوْا یَقْتُلُوْنَنِیْ، ذ دے نه علاوه دا کیدے شوله چه نهٔ شرک کوونکی ږمځان سره کړے وے او شرک کوونکو سره ږجهاد کړے وے نو دا ما ذ دے وجے نه اونهٔ کړل چه زهٔ ویریدلم چه تا سو واپس راشئ نو ما ته به وایئ چه تا په بنی اسرائیلو کښ ږلے پیدا کړے او څما ذ واپسئ انتظار دِ هم اونهٔ کړو. ای خشیت لو قاتلت بعضهم ببعض وتفانوا وتفرقوا ان تقول فرقت بین بنی اسرائیل (روح

وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِیْ قال ابو عبیدة لم تنتظر عهدی وقد ومی (قرطبی ج ۱۱ ص ۲۳۹)

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرْتُ

اُوئیل موسیٰ اُوس ستا حقیقت څۀ دے ۶۸ اے سامری. وے وئیل ۶۹ ما اُولیدل

بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ

هغه چه اُونۀ لیدل نورو بیا ما ډک کړو یو موټے (د خاؤرې) لاندې د

اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذٰلِكَ سَوَّلَتْ

د خپو د لیږلے شوی بیا ما هغه واچولو ۷۰ او هم دا رنګ صلاح راکړه

لِيْ نَفْسِيْ ﴿٩٦﴾ قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ فِي

ما ته زما څما ۷۱ اوئیل موسیٰ لرې شه ۷۲ ستا د پاره ته ټول

الْحَيٰوةِ اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ ۪ وَاِنَّ لَكَ

ژوند کښې دو مره سزا ده چه ته به وائے ما ته لګیږه ۷۳ څما سره مه ۷۴ او ستا د پاره

مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهٗ ۚ وَانْظُرْ اِلٰٓى اِلٰهِكَ

یوه وعده ده هرګز به خلاف اُونکړے شی ستا سره د هغې نه اُوګوره خپل معبود ته ۷۵

الَّذِيْ ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ؕ لَنُحَرِّقَنَّهٗ

په کوم چه ته ټوله ورځ معتکف (محکم ولاړ) وے. دا به اُوسیزو مونږ

ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهٗ فِي الْيَمِّ نَسْفًا ﴿٩٧﴾ اِنَّمَآ

بیا به ئے اُوشیندو په دریاب کښې الوزول شوے ۷۶. بیشکه

اِلٰهُكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ

ستاسو معبود خو صرف الله دے ۷۷ هغه چه نشته بندګئ ته هیڅوک سیوا د هغۀ نه

وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾

ټول ځائے شوی دی څیزونه د هغۀ په علم کښې.

نکات: ب پنځم ایت د توحید ۱۲۔

موضح قرآن ف کوم وخت چه بنی اسرائیل روان دریاب کښې داخل شول روستو فرعون سره د خپل لښکر نه داخل شو جبرائیل د دوئ په مینځ کښې شو چه دوئ هغوئ سره یو ځائے نه شی سامری اوپیژند وچه دا جبرائیل دے د هغهٔ د خپو د لاندے یو موټے خاوره ئے راپورته کړه اوس ئے هغه د سرو زرو نه ډے جوړ شوی سخی کښې واچوله سره زر د کافرانو اخستے شوے مال وو فریب (دهوکه) سره چه په هغے کښې د حق خاوره پریوتله حق او باطل سره یو ځائے شول یو عجیبه کار پیدا شو چه په هغے د ساه لرونکو پشان روح او غږ پیدا شو د دلسے څیزونو نه ډیر پېڅ کیدل پکار دی ځکه چه ډے سره بُت پرستی ترقی مومی۔ **ف۲** په دُنیا کښې هغهٔ ته دا سزا ملاؤ شوه چه هغه د بنی اسرائیلو د لښکر نه بهر ځاته اوسیدلو که چرے دے به چا سره ملاویدلو یا څوک د ده سره ملاویدو نو په دواړو به تبه راتلله د دے وجے نه به د خلقو نه لرے لرے اوسیدلو او بوه وعده ده چه د هغے نه به خلاف نه کیږی شائد چه هغه د اخرت عذاب دے او شائد چه د دجال راوتل ظاهریدل هغه به هم په یهودو کښې وی د هغهٔ (سامری) فساد به پوره لکه چه څوموږ پیغمبر مال تقسیمولو یو سړی هغوئ ته اوئیل چه انصاف سره ویش کوه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه هم د دے جنس خلق به ظاهر شی چه هغهٔ به خارجیان وی په خپلو پیشوایانو به اعتراضونه شروع کړی څوک چه په خپلو دینی مشرانو باندے طعن (بد) لګوی هغه هم دا سے دی ۱۲۔

فتح الرحمٰن ف یعنی په هغه کالبد کښې چه د زرو نه جوړ شوے وو په شکل د سخی ۱۲۔ **ف۲** یعنی که د چا سره به کیناستلو نو په دواړو باندے به تبه راتلله ۱۲۔

تفسیر: **۹۵** د حضرت هارون علیه السلام جواب اوریدلو سره هغه د سامری طرف ته متوجه شو او هغهٔ ته ئے اوئیل اے سامری تا دا حرکت ولے اوکړو چه سخے دِ جوړ کړو او قوم دِ بُت پرستئ کښې لګیا کړو. سامری د بنی اسرائیلو د سامره قبیلے یو سړے وو او د سمندر نه پورے وتلو نه روستو په پرده کښې (په پټه) مرتد شوے وو او منافقانه طور باندے په بنی اسرائیلو کښې شامل وو. بنی اسرائیلو سمندر نه پورے وتلو نه روستو یو قوم د غوا عبادت کوونکی اولیدل نو حضرت موسیٰ علیه السلام ته ئے اوئیل اِجۡعَلۡ لَّنَاۤ اِلٰـهًا كَمَا لَـهُمۡ اٰلِـهَةٌ چه په هغے باندے موسیٰ علیه السلام

دوئ ته زوړ نه ورکړه. سامري د بني اسرائيلو مزاج معلوم کړو او د حضرت موسیٰ علیه السلام د عدم موجودګئ نه ئې فائده واخسته د سخي بُت ئې جوړ کړو عبادت د پاره ئې د قوم څخکښ کيښودو. حضرت ابن عباس رضی فرمائي چه د سامري قوم د غوا بُت پرست وو د دے وجے نه د غوا پرستئ محبت د هغوئ په زړهٔ کښ موجود وو او په ظاهري طور باندے هغوئ د اسلام اظهار کړے وو. عن ابن عباس قال کان السامری رجلا من اهل باجر وکان من قوم یعبدون البقر وکان حب عبادة البقر فی نفسه وکان قال اظهر الاسلام مع بنی اسرائیل (ابن کثیر ج ۳ ص۱۶۳) قال قتادة کان السامری عظیما فی بنی اسرائیل من قبیلة یقال لها سامرة ولکن عدوالله نافق بعد ما قطع البحر مع موسیٰ الخ (قرطبی). **۶۹** دا د سامري جواب دے سامري اُوئیل چه ما نظر په يو داسے څيز پريوتو چه بل چا نهٔ وو ليدلے يعني د خدائے ليږلے شوے فرشته (جبرائيل) م په آس سُور اُولیدو. شائد داهغه وخت شوی وی کله چه بني اسرائيل دریاب ته داخل شول او د روستو نه د فرعون فوج داخل شو، دے حالت کښ جبريل امين د دوا پړو ډلو مينځ کښ اُودريدو دے د پاره چه يوه د بلے سره يوځائے ګډ وډه نهٔ شي. بهرحال سامري په ډکوم يو محسوس دليل نه يا د خپل ذکاوت (پوهے) نه يا ډکوم قسم زوړ تعارف په بناء باندے معلومه کړے دی چه دا جبرائيل دے د هغهٔ د خپو يا د هغهٔ د آس د خپو د لاندے نه ئې يو موټے خاوره پورته کړه او هغه ئې اوس د سرو زرو نه جوړ شوی سخي په خُله کښ واچوله ځکه چه د هغهٔ په زړهٔ کښ دا خبره راغله چه د روح القدس د خپو خاوره کښ به يقيناً څهٔ خاص اثر وی. حضرت شاه صاحب ليکي چه سرهٔ زر خو د کافرانو مال وو چه په دهوکه سره اخستے شوے وو چه په هغے کښ د برکت خاوره واچولے شوه نو يو حيرانونکے خبره موجود شوه چه ډيو ژوندی حيوان پشان روح او آواز په هغهٔ کښ پيدا شو د داسے څيزونو نه ډير ځان ساتل پکار دی ځکه چه دے سره بُت پرستي ترقي مومي.

تنبيه: د آيت چه کوم تفسير پورته بيان شوے دے د صحابوٴ او تابعينو او علماءِ مفسرينو نه پس هم دا نقل شوی دی (عثماني) ځينے آثارو کښ راغلی دی چه کوم ځائے به آس په زمکه خپه کيښودله هلته به فوراً شينکے راټوکيدلو دينه سامري معلومه کړه چه په دے کښ به ځا ځا څهٔ کرشمه (کرامت معجزه) وی د دے وجے نه د هغهٔ د قدم کيښودلو د ځائے نه ئې يو موټے خاوره راپورته کړه. وفی بعض الاثار انه راه کلما رفع الفرس يديه او رجليه علی التراب اليبس يخرج النبات فعرف ان له شانا فاخذ

من موطئه حفنة (روح ج ۱۶ ص۲۵۳) د دے زیات تحقیق د سورۂ بقرے په تفسیر کښ تیر شوے دے تفسیر ۱۱۲ اوګورئ ص۲۲۲.

۷۰ سامری ته د حیلو کړو سزا دا ملاؤ شوه چه کله به هم هغۀ ته څوک نزدے شو نو په دواړو به تبه راتلله. د دے وجے نه هغۀ په خلقو ته وئیل چه ځما نه لرے شئ هغۀ غوښتل چه په دهوکه سره د قوم سردار جوړ شی لیکن سزا ورته دا سے ملاؤ شوه چه څوک به نزدے هم هغۀ ته نۀ شو ورتللے لکه د اچهوت (د هندوانو د کمے مرتبے والا) قوموتو په شان ژوند به ئے تیرولو. وَاِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهٗ ، داخو په دنیا کښ عذاب وو او په دنیا کښ د شرک خورولو او فساد پیدا کولو سزا به په اخرت کښ هم ملاویږی. په اخرت کښ به د سزا وعید ضرور پوره کیږی الله تعالی به د هغے نه خلاف نۀ کوی. ای لن یخلفك الله موعده الذی وعدك علی الشرك والفساد فی الارض ینجزه لك فی الاخرة بعد ما عاقبك بذلك فی الدنیا (مدارک ج ۳ ص۵۵) ۷۱ داخو ستا سزا شوه اوس ګوره چه زۀ ستا د معبود حشر (انجام) څۀ ګرځوم په کوم چه ته همیشه قائم او منجور اوسیدے. زۀ اوس هغه سوزوم د هغۀ ایره په دریاب کښ بهیوم دے د پاره چه تا ته او د دۀ عبادت کوونکو ته معلومه شی چه هغه څومره عاجز دے چه پخپله هم د خپل ځان حفاظت نۀ شی کولے نو نورو کارونه به څۀ ساز کړی. ۷۲ دا پنځم ایت دے د توحید د سامری د سخی د عجزاو بے وسئ ظاهرولو نه روستوئے د توحید او معبود حق اعلان اوکړو او د کلام مخ ئے د سامری نه د ټولو بنی اسرائیلو طرف ته واړولو چه ستاسو معبود خو صرف الله دے چه د هغۀ نه سیوا هیڅوک د الوهیت لائق نشته او څوک د معبود او اله جوړیدلو قابل نشته چه د هغۀ علم په هر څیز احاطه کوونکے دے او په ټول کائنات ئے احاطه کړیده او هغه په هر څیز قادر علی الاطلاق مختار او متصرف دے او دا سخے خالص بے روح او جماد دے نو دا چرته معبود کیدے شی.

كَذٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ مَا

هم داشان اوروو مونږ تا ته لکه احوال د هغه چا چه

قَدْ سَبَقَ ۚ وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ مِنْ لَّدُنَّا

مخکښ تیر شول او درکړو مونږ تا ته د خپل جانبه

ذِكْرًا ﴿۹۹﴾ مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ فَاِنَّهٗ

ذ لوستلو کتاب ګڼه څوک چه مخ واړوی ذ هغهٔ نه تو هغه به

يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرًا ﴿۱۰۰﴾ خٰلِدِيْنَ

اوچتوی په ورځ ذ قیامت یو دروند پیټے ۱ همیشه به اوسیږی

فِيْهِ ؕ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ حِمْلًا ﴿۱۰۱﴾

په هغے کښې او بد دے په هغوئ باندے په ورځ ذ قیامت هغه پیټے ذ اوچتولو

يَّوْمَ يُنْفَخُ فِى الصُّوْرِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِيْنَ

په کومه ورځ چه پوکے اوکړشی په شپیلئ کښې او راجمع به کړو مونږ ګناهګاران

يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴿۱۰۲﴾ يَّتَخَافَتُوْنَ بَيْنَهُمْ اِنْ

په دغه ورځ شین سترګی ۲ پټے پټے خبرے به کوی خپل مینځ کښې چه نه یئ

لَّبِثْتُمْ اِلَّا عَشْرًا ﴿۱۰۳﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ

اوسیدلی تاسو ۳ لیکن لس ورځے ۴. مونږ ته ښهٔ معلوم دی څهٔ چه دوئ وائی

اِذْ يَقُوْلُ اَمْثَلُهُمْ طَرِيْقَةً اِنْ لَّبِثْتُمْ

کله چه اووائی ذ ښے لارے والا ذ دوئ نه او طریقے والا نهٔ یئ اوسیدلی تاسو

ع اِلَّا يَوْمًا ﴿۱۰۴﴾ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ

لیکن یوه ورځ ۵. او تپوس کوی ستا نه ګڼه ذ غرونو ذ حال نو ته اووایه

يَنْسِفُهَا رَبِّىْ نَسْفًا ﴿۱۰۵﴾ فَيَذَرُهَا قَاعًا

والوزوی به دا رب زما په الوزولو سره. بیا به پریږدی دا زمکه میدان

صَفْصَفًا ﴿۱۰۶﴾ لَّا تَرٰى فِيْهَا عِوَجًا وَّلَآ

صفا نهٔ به وینے تهٔ په دے کښې کوږ والے او نهٔ

اَمْتًا ﴿۱۰۷﴾ يَوْمَئِذٍ يَّتَّبِعُوْنَ الدَّاعِىَ لَا عِوَجَ

ډیرکئ. دغه ورځ به روستو منږے وهی ۳ ګڼه ذ آواز کوونکی ته چه نشته کوږ والے

لَهٗ ۚ وَخَشَعَتِ الْاَصْوَاتُ لِلرَّحْمٰنِ

دَ هغهٔ په خبره کښ او چُپ به شي اٰوازونه . دَ ویرې دَ رحمٰن نه

فَلَا تَسْمَعُ اِلَّا هَمْسًا ﴿۱۰۸﴾

بیا به ته نهٔ اورے لیکن پټه اٰواز (کشار دَ قدمونو)

نکات: ۱ دریم ایت دَ تشجیع ۱۲۔

موضح قرآن ف ۱ یعني راندهٔ او کیدے شي چه هم دا شان به شین سترګی وی چه خلقوته په نظر بښکاره شي۔ ف ۲ یعني په دنیا کښ اوسیدل به ورته دومره په نظر راشي یا په قبر کښ اوسیدل۔ ف ۳ مونږ ته ښهٔ معلومه ده یعني پټے خبرے ځمونږ نه پټے نهٔ دی۔

فتح الرّحمٰن ف ۱ یعني ګناه لره ۱۲۔ ف ۲ یعني په دنیا کښ ۱۲۔ ف ۳ یعني دَ اسرافیل تابعدارے به کوی ۱۲۔

تفسیر: ۳۲ کاف بیان کمال دَ پاره دے یعني دا سے صحیح تفصیلات بیانول ځمونږ کار دے دَ بل چا کار نهٔ دے۔ او دا دریم ایت دے دَ تشجیع (زړهٔ ورکولو) یعني دَ تیر شوو انبیاؤ علیهم السلام واقعات مونږ په تاسو باندے دَ دے وجے نه بیا وو چه تاسو ته معلومه شي چه هغوئي دَ توحید په خاطر څومره مصیبتونه برداشت کړي دی داشان به په تاسو باندے هم مصیبتونه راځي لهٰذا تاسو هم په هغے صبر کوئي او دا جمله معترضه ده دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ صداقت دَ پاره یعني تاسو ځمونږ وحی سره معلومه کړه چه دَ تیر شوو قومونو او خلقو واقعات مونږ تاته بیانوو لهٰذا تاسو دَ الله رښتونی پیغمبر یئ۔

۳۳ ذِکْرًا نه مراد قرآن کریم دے وتفسیر الذکر بالقرآن هو الذی ذهب الیه الجمهور (روح ج ۱۶ ص ۲۵۹) مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ الخ منکرین قرآن دَ پاره تخویف اُخروی دے۔ ۳۵ دَ دیته مخکښ چونکه دَ نفخ صور (شپیلئ کښ دَ پوکی وهلو) او دَ حشر، نشر او قیامت ذکر وو دَ دے وجے نه مشرکانو ته دَ دے موقع وه چه هغوئي دا سوال اُوکړي چه کله قیامت راځي نو دا دومره لوئے لوئے غرونه به چرته لاړ شي۔ دَ دے وجے نه ئے اُوفرمائیل چه که چرے هغوئي دا تپوس اُوکړي نو تاسو جواب ورکړئي چه الله تعالیٰ به دا دَ شګے په شان ریزه ریزه کړي وا به ئے الوزوی او هغه به ټول په زمکه خوارهٔ

میدان په شان په نظر وارهٔ اُوشیندلے شي او زمکه به دَ صفا هموار راځي دِے کښ به چرته بښکته والے پورته والے نهٔ وي. وَیَسْئَلُوْنَكَ په جواب کښ په فَقُلْ باندے فاء دِے دَ پاره داخل شویده چه یَسْئَلُوْنَكَ دَ شرط معنیٰ لره متضمن دے ځکه چه دا سوال متحقق او شوے نهٔ وو بلکه متوقع وو اُمید ئے کیدے شو او په اصل کښ ان یسألوك دے دَ دے وجے نه په جزاء باندے فاء داخل شوه (مدارک) قَاعًا، میدان. صَفْصَفًا، صاف هموار. عِوَجًا، بښکته والے. اَمْتًا، اُوچتوالے.

۷۶ الدَّاعِیَ الخ نه حضرت اسرافیل علیه السلام مراد دے چه دَ قیامت په ورځ به شپیلئ کښ پوکے اُوکړي دَ شپیلئ په آواز باندے به ټول مړي ژوندي شي هر طرف ته به نیغ برابر دَ آواز طرف ته روان وي. یریید اسرافیل علیه السّلام اذا نفخ فی الصّور (لا عوج له) ای عن دعائه لا یزیغون ولا ینحرفون بل یسرعون الیه ولا یحیدون عنه (قرطبی ج ۱۱ ص۲۴۶) دغه ورځ به په ټولو بنیٰ آدمو باندے هیبت راغلے وي او هیڅ یو تن به په اُوچت آواز سره خبره هم نهٔ شي کولے. دَ خدائے دَ هیبت او دَ قیامت دَ سختو تکلیفونو په وجه به ټول مخلوق باندے ویره راغلي وي. ای خفیت لمهابته تعالیٰ وشدة هول المطلع (روح ج ۱۶ ص۲۹۶). هَمْسًا، یعني ډیر بښکته دغه ورځ چه څوک خبره کوي نو ډیر بښکته او پټ آواز سره به ئے کوي.

یَوْمَئِذٍ لَّا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ اِلَّا مَنْ اَذِنَ

په دغه ورځ به پکار نهٔ راځي سفارش ۷۷ لیکن چاته چه اجازت ورکړي

لَهُ الرَّحْمٰنُ وَرَضِیَ لَهٗ قَوْلًا ﴿۱۰۹﴾ یَعْلَمُ

رحمٰن او غوره کړي دَ هغهٔ خبره ۷۸. هغه پیژني

مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا

څهٔ چه دي دَ هغوئ په مخکښ (راتلونکي) او څهٔ چه روستو دي (امور دَ دُنیا) او نهٔ شي

یُحِیْطُوْنَ بِهٖ عِلْمًا ﴿۱۱۰﴾ وَعَنَتِ الْوُجُوْهُ

احاطه کولے دوئ په پوهه کولو سره. او عاجز شول مخونه په مخکښ دَ هغهٔ

لِلْحَيِّ الْقَيُّوْمِ ۭ وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴿۱۱۱﴾

همیشه ژوندی پاتې کیدونکی او خراب نا اُمیده شول هغه څوک چا چه پورته کړو بار د ظلم

وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ

او څوک چه کوی څه نیکی لـه او هغه ایمان هم لری

فَلَا يَخٰفُ ظُلْمًا وَّلَا هَضْمًا ﴿۱۱۲﴾ وَكَذٰلِكَ

نو هغهٔ ته ویره نشته د بې انصافئ او نهٔ د نقصان رسیدلو ف۲. او هم داشان

اَنْزَلْنٰهُ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا وَّصَرَّفْنَا فِيْهِ

نازل کړو مونږ قرآن په عربئ ژبه کښې او بیا بیا واړول مونږ په دې کښې

مِنَ الْوَعِيْدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ اَوْ يُحْدِثُ

د ویرولو خبرې دې دپاره چه هغوئ پرهیز اُوکړی یا اُوغورځوی

لَهُمْ ذِكْرًا ﴿۱۱۳﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ

د هغوئ په زړونو کښې سوچ. نو اُوچته درجه د الله ده لکه د هغه بادشاه رښتونی

وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْاٰنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّقْضٰٓى

او مهٔ کوه تلوار ته د قرآن په اخستلو کښې له ترڅو چه پوره شوی نهٔ وی

اِلَيْكَ وَحْيُهٗ ۫ وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ﴿۱۱۴﴾

د هغهٔ نازلیدل او وایه اے ربه ځما زیاته کړه ځما پوهه ف۳.

نکات: ۱ بشارت اُخروی ۱۲. ۲ د توحید د ایتونو ثمره ۱۲.

۳ څلورم ایت د تشجیع ۱۲.

موضح قرآن

ف۱ یعنی د هغهٔ سفارش به چلیږی. ف۲ یعنی په هغهٔ به ظلم نهٔ کیږی د الله سره انصاف دے.

ف۳ جبرائیل علیه السلام به چه کله قرآن راوړلو نو نبی علیه السلام به هغهٔ سره یوځائے لوستل شروع کړل چه هیر نهٔ شی د دینه ئے منع کښې هم منع فرمائیلے وه سوره د قیامت کښې اُوتسلی ئے ورکړے وه چه د دے تاسو ته یادول اوخلقوته رسول ځمونږ په ذمه دی لیکن بنده بشر دے کیدا شی

چه هیر شوے وی بیائے تاکید اُوفرمائیلو او په هیره باندې ئے مثال اُوفرمائیلو د آدم علیه السلام ۱۲۔

فتح الرحمٰن | ملے یعنی مسلمان وی ۱۲۔

تفسیر: ۷۷ دلته د قیامت په ورځ د شفاعت د نافع کیدلو نفی کړے شوے ده او د دے نه بیا د شفاعت یو صورت مستثنیٰ کړے شوے دے چه د هغے تعبیر په مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ سره شوے دے. د دینه خو یا شافعین (سفارش کوونکی) یعنی انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرام او صالح مؤمنان مراد دی چه هغوئ ته به د قیامت په ورځ د گناهګارانو د سفارش کولو اذن ملاویږی یا مشفوع لهم (یعنی گناهګاران) مؤمنان مراد دی چه د هغوئ په حق کښ به شفاعت کیږی په اول صورت کښ به د معبودانِ باطله د شفاعت نافع کیدلو نفی وی او په دویم صورت کښ به د مشرکانو په حق کښ د شفاعت مفید کیدلو نفی مراد وی. ومعناه لاجله وکذا وَرَضِیَ لَهٗ ای لاجله ویکون من للمشفوع له او بدل من الشفاعه علی حذف مضاف ای الا شفاعة من اذن له ویکون من للشافع الخ (بحر ج ۶ ص ۲۸۰) د اول صورت حاصل به دا وی چه شفاعت به صرف د مؤمنانو د پاره وی. د مشرکانو په حق کښ به نه وی. او دویم صورت کښ به مطلب دا وی چه شفاعت به صرف انبیاء علیهم السلام او نیکان خلق کوی مشرک پیرانو او رهنمایانو ته به د شفاعت اجازت نه ملاویږی. وَعَنَتِ الْوُجُوْهُ الخ د قیامت په ورځ به ټول بنی آدم د الله په حضور کښ عاجزاوسر ښکته کوونکی وی څه فقیر او څه امیر، څه رعیت او څه بادشاه ټول به په لړزان او ویریدونکی وی او چا چه شرک کړے وی هغوئ به ټول په تاوان کښ وی د هغوئ د خلاصی په هیڅ یو صورت نه وی. عنت ای ذلت وخضعت او د ظلم نه مراد شرک دے.

۷۸ دا نیکوکارو د پاره خوشخبری ده. وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ الخ کاف د پاره د بیانِ کمال دے او دا په قرآن باندے د عمل کولو ترغیب دے یعنی داسے جامع او مدلل قرآن نازلول ځمونږ کار دے لهٰذا تاسو دِے عظیم الشان کتاب باندے عمل اُوکړئ.

۷۹ دا د توحید د اینتونو ثمره او نتیجه ده. یعنی د پورتنو ذکر شوو دلائلِ توحید نه واضح شوه چه الله تعالیٰ متصرف او مختار او عالم الغیب دے لهٰذا هغه د ټولو نه لوئے او عظیم الشان بادشاه دے او صرف هغه معبود برحق دے د دے وجے نه په حاجتونو کښ هغهٔ ته آواز کوئ.

۸۰ه داخلورم ايت دے دَ تشجيع يعنې دَ قرآن مجيد دَ وحې نازليدلو په وخت دَ هغې په لوستلو کښې تلوار مهٔ کوه بلکه هغه په غوږ سره اُوره کله چه وحې ختم شي نو بيا تا سو هغه ډيرا ووئي کله چه ستا سو په ذهن کښې محفوظ شي نو دَ حضرت موسىٰ عليه السلام پشان جراءت او استقلال سره دَ قرآن تبليغ کوئي. ځمونږ دَ پيغمبر آدم عليه السلام پشان ستا سو عزم او استقلال کښې کمزورې رانهٔ شي لکه چه وړاندې راځي چه دَ آدم عليه السلام په عزم کښې کمزوري راغله.

وَلَقَدْ عَهِدْنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِيَ

او ۸۱ه تاکيد کړے وو مونږ آدم عليه السلام ته ددينه مخکښې بيا ئے هير شول

وَلَمْ نَجِدْ لَهُۥ عَزْمًا ﴿۱۱۵﴾ وَإِذْ قُلْنَا

او بيا نهٔ موندو مونږ په هغهٔ کښې څهٔ همت هو. او کله چه اُووئيل مونږ

لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ

فرشتو ته سجده اُوکړئ ۸۲ه آدم ته نو په سجده پريوتلے ليکن

إِبْلِيسَ أَبَىٰ ﴿۱۱۶﴾ فَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ إِنَّ هَٰذَا

ابليس اُونهٔ منل بيا مونږ اُووئيل اے آدم عليه السلام دا

عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا

دشمن ستا دے او دَ جوړے (بي بي) ستا نو اُو دِ نهٔ باسي تا سو لره

مِنَ ٱلْجَنَّةِ فَتَشْقَىٰٓ ﴿۱۱۷﴾ إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ

دَ جنت نه بيا به پريوځے په تکليف کښې. تا ته دا ملاؤ شوے دي چه نهٔ به اُوږے کيږے ته

فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ ﴿۱۱۸﴾ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا۟ فِيهَا

په دے کښې او نهٔ بربنډ او دا چه تا ته به نهٔ رسيږي تنده په دے کښې

وَلَا تَضْحَىٰ ﴿۱۱۹﴾ فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ ٱلشَّيْطَٰنُ

او نهٔ به دِ ګرمي کيږي. بيا په زړهٔ کښې واچوله هغهٔ ته شيطان ۸۳ه

قَالَ يٰاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰى شَجَرَةِ

وې وئیل اې آدم زۀ اُوښایم تا ته اُو ونه

الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلٰى ﴿۱۲۰﴾ فَاَكَلَا مِنْهَا

د همیشه اُوسیدلو او بادشاهۍ چه نۀ زړیږي (همیشه به وي). خو بیا دواړو د هغې نه خوراک اوکړو

فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ

بیا ښکاره شول په هغوئ باندې بد څیزونه د هغوئ او شروع شول چه اینخلولې ئې

عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ وَعَصٰى اٰدَمُ

ځانونو خپلو باندې پاڼې د جنت او حکم رو ستو کړو آدم

رَبَّهٗ فَغَوٰى ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَتَابَ

د رب خپل بیا د لارې نه اُوخوځیدو. بیا غوره کړو هغهٔ لره رب د هغه بیا متوجه شو

عَلَيْهِ وَهَدٰى ﴿۱۲۲﴾ قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيْعًا

په هغهٔ باندې او لارې ته ئې راوستلو. وې فرمائیل کوز شئ د دې ځائے نه دواړه

بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ

یو ځائے اُوسیږئ د یو بل دشمنان بیا که چرې راشي تاسو ته

مِّنِّيْ هُدًى ۙ فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا

زما د طرف نه هدایت نو څوک چه لاړشي ځما په ښودلې شوې لار باندې نو هغه به نۀ

يَضِلُّ وَلَا يَشْقٰى ﴿۱۲۳﴾

بے لارې کیږي او نۀ به هغهٔ په تکلیف کښ پریوځي ف۲

موضح قرآن ف هغه چه دانه ئې په هیره اُوخوړله یعني قائم پاتې نۀ شو. ف۲ د یو بل دشمنان به وي د دوئ اولاد ځنګه چه ئې خپل مینځ کښ په شریکه ګناه اُوکړه هغه شان د دغې منکرتیا بدله دا ملاؤ شوه چه اولاد خپل مینځ کښ د یو بل دشمنان شول.

تفسیر: ۸۱ مونږ د بنی آدم د پیدائش نه مخکښ آدم علیه السلام ته
حکم ورکړے وو چه په جنت کښ اُوسیږه او د هغهٔ د میوونه چه څهٔ غواړے
هغه خوره او د یوے اُونے نه مونږ هغه منع کړے وو چه هغے ته نزدے
هم مهٔ ورځه لیکن هغهٔ نه هیرشول او هغه ونے نه ئے خوراک اُوکړو. دا
شان هغهٔ د عزم او ثابت قدمئ ثبوت ورنهٔ کړو یا د عزم نه مراد پخه
اراده ده یعنی آدم علیه السلام بالاراده د الله د حکم نه خلاف ورزی اُونکړه
بلکه هیرشوی وو تربنه او هغهٔ ته د الله حکم یاد پاتے نهٔ شو. کانه لما مدح
سبحانه القرآن وحرض علی استعمال التؤدة والرفق فی اخذه وعهد علی
العزیمة بامره وترك النسیان فیه ضرب حدیث آدم مثلاً للنسیان وترك
العزیمة (روح ج ۱۶ ص ۲۱۹). ۸۲ مقصد دا دے چه ابلیس ستاسو زوړ
نیکهٔ نه او پیرئ په پیړئ دشمن دے او په هرے ممکن طریقے سره
تاسو کفر او شرك او نورو ګناهونو کښ د ګڼدهٔ کولو کوشش کوی د هغهٔ
د فریب نه ځان بچ کړئ. اِنَّ لَكَ اَلَّا تَجُوْعَ الخ دا د جنت خوبیانے دی چه
هلته به نهٔ لوږه وی نهٔ تنده او نهٔ نمر یعنی هلته به هر قسم آرام او
سکون وی. ۸۳ د دے واقعے زیات تفصیل د سورهٔ بقرے په تفسیر
کښ تفسیر ۸۵ تا ۹۵ اُوګورئ. ص ۲۳ نه تر ص ۲۳ پاندے اُوګورئ.

وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ

او چا چه مخ واړولو ۸۴ څما د یاد نه نو هغهٔ ته ملاویږی وګړے د

مَعِيْشَةً ضَنْكًا وَّنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

ژوند د تنګئ او را به ولو مونږ هغه په ورځ د قیامت

اَعْمٰى ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيْٓ اَعْمٰى

ړوند هغه به اُوائی اے ربه ولے دِ زهٔ راوستلم ۸۵ ړوند

وَقَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذٰلِكَ

او زهٔ خو وُوم لیدونکے وے فرمائیل هم دا شان

اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيْتَهَا ۚ وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ

رسیدلی وو تا ته آیاتونه څمونږ بیا تا هغه هیر کړل او هم دا شان به نن ته

تُنْسٰى ﴿۱۲۶﴾ وَكَذٰلِكَ نَجْزِىْ مَنْ اَسْرَفَ

هېر ولے شې ولا۔ او هم داشان لګه به بدله ورکوو مونږ هغه چاته څوک چه ځان له بهر اوځي

وَلَمْ يُؤْمِنْ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ؕ وَلَعَذَابُ

او یقین ئے اُونه کړو په خبرو د رب خپل باندې او عذاب

الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبْقٰى ﴿۱۲۷﴾ اَفَلَمْ يَهْدِ

د آخرت سخت دے او ډیر باقی پاتے کیدونکے ولا۔ نو آیا پوهه نه شول

لَهُمْ كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ

دوئ دے خبرې سرچه څومره مونږ هلاک کړل مخکښ د دوئ نه (خلق) د زمانے

يَمْشُوْنَ فِىْ مَسٰكِنِهِمْ ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

دا خلق ګرځي په ځایونو د هغوئ کښ په دے کښ بنۀ دلائیل دی

لِّاُولِى النُّهٰى ﴿۱۲۸﴾ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ

د عقل لرونکو د پاره۔ او که چرته نه وے یوه خبره کله چه مخکښ وئیلے شوې ده د

رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَّاَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿۱۲۹﴾

رب د طرفه نو ضرور به وو (دغه هلاک) لازم او که چرته نه وے وعده مقرر کړے شوې ولا

فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ

نو ته برداشت کوه تر څه چه هغوئ وائی ګله او لوله صفتونه

رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ

د رب خپل مخکښ د ختلو د نمر نه او مخکښ د

غُرُوْبِهَا ۚ وَمِنْ اٰنَآئِ الَّيْلِ فَسَبِّحْ

پریوتلو د نمر نه او په ځینو وختونو کښ د شپې لوله

وَاَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرْضٰى ﴿۱۳۰﴾

او په دوارو طرفونو کښ د ورځے شائد چه ته به راضی شے ولا۔

نکات: ۱. تخویف دُنیوی ۱۲. ۲. پنځم ایت دَ تشجیع او دَ امور متفرعه نه اول متفرع ۱۲. ۳. دویم امر ۱۲.

موضح قرآن
ف ایتونه ئے هیر کړل یعنی عمل ئے اُونهٔ کړو او یقین ئے اُونهٔ کړو. او نبی علیه السلام اُوفرمائیل چه ځما دَ اُمت ټول ګناهونه ماته اُوښودلے شول دَ دینه لویه ګناه ما اُونهٔ لیده چه دَ قرآن یو ایت چاته یاد شو او هغهٔ هیر کړو.
ف۲ یعنی دا دَ روند والی عذاب خو په حشر کښ دے او په دوزخ کښ نور هم زیات عذاب دے. ف۳ اخر به په وعده ټکراؤ شوے دَ مؤمنانو او کافرانو. ف۴ دَ ورځے په طرفونو باندے یعنی دَ ورځے په هره تخلور مه حصه کښ مونځ کوه او تهٔ به راضی ئے یعنی ستا دَ اُمت امداد به کولے شی په دُنیا کښ او دَ ګناهونو بخشش به وی په آخرت کښ ستا په سفارش سره.

تفسیر: ۸۴ دا دَ الله دَ هدایت نه دَ اعراض کوونکو دَ پاره تخویف اُخروی دے او دا استیناف دے حضرت آدم علیه السلام سره متعلق نهٔ دے. مَعِيْشَةً ضَنْكًا، تنګه روزی دینه یا خو دَ آخرت ژوند کښ دَ رزق تنګی مراد ده یا دَ دُنیا په ژوند کښ. په دُنیا کښ هغه اګرچه مالدار وی لیکن دَ هغوئ نه به دَ قناعت صفت واخستلے شی او هغوئ به دَ حرص او لالچ په مرض کښ مبتلا کولے شی چه دَ هغے په وجه به هغوئ دَ زړهٔ دَ مالدارئ نه محروم ګرځی او دَ رذیلے دُنیا دولت پسے به روستو لکه دَ یو مفلس او فقیر مسکین پشان منډے وهونکی ګرځی. عن ابن جبیر یسلبه القناعة حتّٰی لایشبع فمع الدین التسلیم والقناعة والتوکل فتکون حیاته طیبة ومع الاعراض الحرص والشح فعیشه ضنک وحاله مظلمة (مدارک ص۵۳ ج۳)
۸۵ کوم انسان چه دَ الله هدایت خالص دَ ضد او عناد په وجه رد کړو دَ قیامت په ورځ به هغه دَ قبر نه روند پاڅولے شی نو هغه به الله تعالٰی ته درخواست اُوکړی اے خدایه په دُنیا کښ خو ما بنهٔ لیدل کولے شول صحت مند ووم او ماته دِ دَ سترګو رڼا راکړے وه نو تن دِ زهٔ ولے دَ سترګو دَ رڼا نه محروم کړم. قَالَ كَذٰلِكَ، نو هغهٔ ته به جواب ملاؤ شی چه څنګه دُنیا کښ تا ته څمونږ ایتونه راغلل څمونږ پیغمبرانو او تبلیغ کوونکو تا ته لوستلی اُو رولی وُو نو تا هغهٔ شا ته او غورځول دَ هغے پروا دِ اونهٔ کړه او هغے نه دِ سترګے بالکل بندے کړے او دَ هغے نه روند شوے دا شان نن تهٔ هیر کړے شوے ئے. او نن ته هیڅ اهمیت نه دے درکړے شوے او ستا دَ سترګون رڼا اخستے شوه نه ئے په تیرو کښ پریښودے شوے. ای آیاتنا اتتک واضحة مستنیرة فلم تنظر الیها بعین المعتبر ولم تتبصر وترکتها وعمیت عنها فکذلک الیوم نترکک علی عماك

ولا تزیل عطاءه عن عینیك (بحر ج ۶ ص ۲۸۶) لیکن ړوند والے به تر یو مقرر وخت پورې وی هغې نه روستو به لرې کړې شي او د قیامت د دهشت او ویرې او د جهنم وغیره مشاهده به کوي. وهذا الترك یبقی الی ما شاء الله تعالٰی ثم یزال العمی عنه فیری اهوال القیمة ویشاهد النار کما قال سبحانه ورأی المجرمون النار الخ (روح ج ۱۶ ص ۲۷۵).

۸۶ کوم خلق چه حدود الهي نه تیر اُوځي په شهواتو او خواهشاتو کښې ډوب او غرق شي او د الله تعالٰی ایتونه نهٔ مني هغوئ ته مونږ داسې سزا ورکوو او بیا د آخرت عذاب یعنی د جهنم عذاب خو د ړوند پاتې کیدلو نه هم زیات دردناك او همیشه دے. اَفَلَمۡ یَهۡدِ لَهُمۡ الخ دا د مکذبینو د پاره تخویف دنیوی دے. ۸۷ اَجَلٌ مُّسَمًّی، په کَلِمَةٌ باندې معطوف دے اَفَلَمۡ یَهۡدِ لَهُمۡ تهدید نه روستو دې مکذبینو باندې فوراً د عذاب نهٔ نازلیدلو حکمت ئے بیان کړو چه چونکه الله تعالٰی د عذاب روستو کولو فیصله کړې ده او د دې اُمت په مکذبینو باندې به استیصالی عذاب (د ټولې ختمولو نکے عذاب) نهٔ نازلیږي چه هغې سره دوئ په یو وخت ټول په ټول (د ټولې) هلاک شي او د دې مکذبینو عمرونه ئے هم مقرر کړي دي او مرګ د خپل وخت نه مخکښې نهٔ شي راتللے د دې وجې نه هغوئ فوري عذاب سره هلاك نهٔ کړې شو. که چرې دا دواړه خبرې نهٔ وې نو هغوئ به لازمي طور باندې عذاب سره هلاکولے شوې.

ای لولا العدة بتاخیر عذابهم ولاجل المسمی لاعمارهم لما تاخر عذابهم اصلا (روح ج ۱۶ ص ۲۸۰).

۸۸ دا پنځم ایت دے د تشجیع چه په پنځو اُمورو باندې مشتمل دے. اول امر فَاصۡبِرۡ عَلٰی مَا یَقُوۡلُوۡنَ یعنی تاسو د مشرکانو په بے ځایه خبرو او د هغوئ په عیب لګولو او په بدو خبرو باندې او د هغوئ د طرفه چه کوم مصیبتونه راځي په هغې صبر کوئ. دویم امر وَ سَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ، او د الله تسبیح او تقدیس په دې امداد کوونکے دے لهذا پنځه وخته د مانځه پابندي کوئ صبر او استقلال نه لاس وانخلئ الله تعالٰی ستاسو حامي او ناصر دے. دې ایت نه د پنځه وخته مونځونو حکم مستنبط کیږي. قَبۡلَ طُلُوۡعِ الشَّمۡسِ، د صبا مونځ. قَبۡلَ غُرُوۡبِهَا، د ماښام مونځ. وَمِنۡ اٰنَآءِ الَّیۡلِ، د ماسخوتن مونځ. او اَطۡرَافَ النَّهَارِ، د ماسپښین او ماښام (قرطبي، روح وغیره)

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ اِلٰى مَا مَتَّعۡنَا بِهٖۤ

او مهٔ اُوګدره وه ۸۹ سترګې خپلې د هغه څیز په طرف چه د فائده اخستلو د پاره ورکړي مونږ دے

أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

قسم قسم تيزونو نه خلقو ته خائست د ژوند د دنيا

لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ

د پاره د ازمائيلو د هغوئ او رزق د رب ستا ورکړے شوے بهتر دے

وَّأَبْقٰى ﴿۱۳۱﴾ وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ

او ډير باقي پاتے کيدونکے دے. او حکم ورکړه خپل کور خلقو ته د مانځه ﻒ او ټينګ ﻪ هم قائم او سيږه

عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ

په دے نهٔ غواړو موږ ستا نه رزق موږ رزق درکوو تا ته

وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ﴿۱۳۲﴾ وَقَالُوا لَوْلَا يَأْتِينَا

او انجام دے نيک د پرهيزګارانو ﻒ او خلق وائي چه ولے نهٔ راوړي موږ ته

بِاٰيَةٍ مِّن رَّبِّهٖ ۚ أَوَلَمْ تَأْتِهِم بَيِّنَةُ

ﻒ يوه معجزه د رب خپل نه آيا نهٔ دي راغلي هغوئ ته معجزے

مَا فِي الصُّحُفِ الْأُولٰى ﴿۱۳۳﴾ وَلَوْ أَنَّا أَهْلَكْنٰهُم

په کتابونو تيرشوو کښ ﻒ. او که چرے موږ هلاک کړے وے هغوئ

بِعَذَابٍ مِّن قَبْلِهٖ لَقَالُوا رَبَّنَا

په يو عذاب ﻒ د دينه مخکښ نو وئيل به ئے اے ربه

لَوْلَا أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ

ولے را او نهٔ ليږلو تا موږ ته يو پيغام راوړونکے چه تلے وے موږ

اٰيٰتِكَ مِن قَبْلِ أَن نَّذِلَّ

په کتاب ستا باندے مخکښ د ذليل

وَنَخْزٰى ﴿۱۳۴﴾ قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ

او رسوا کيدلو نه ته اُووايه هريو لاره ګوري (انتظار کوي) ﻒ ۹۳

فَتَرَبَّصُوْا ۚ فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ اَصْحٰبُ

نو تاسو هم لاره ګورئ (انتظار کوئ) راتلونکي وخت کښ به پوهه شئ چه څوک دي

الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ اهْتَدٰى ۝۱۳۵ ع

په لاره سمه تلونکي او چا لاره بیا موندله۔

نکات: ۱ دریم امر ۱۲۔ ۲ څلورم امر ۱۲۔ ۳ پنځم امر ۱۲۔ ۴ شکوی ۱۲۔ ۵ جواب شکوی ۱۲۔

موضح قرآن ف دنیا کښ مالکان په خپلو مریانو غلامانو روزي ګټي، او الله بندګي (عبادت) غواړي روزي ورکوي۔ ف۲ یعني په تیر شوو کتابونو کښ د آخري پیغمبر خبر دے یا معنیٰ دا ده چه د تیر شوو پیغمبرانو معجزات کافي دي دا پیغمبر هم د هغوئ د خبرو تاکید او تصدیق کوي بله کومه نوے خبره نه کوي یا دا چه د پخوانو کتابونو سره موافق قصے بیانوي۔

فتح الرحمٰن ف یعني قرآن مشتمل دے په قصو باندے او د دینه علاوه چه د تیر شوو کتابونو سره موافق دي۔

تفسیر: ۸۹ دا دریم امر دے یعني تاسو د توحید مسئله جرءات او بهادرئ سره بیان کړئ او ورسوئ او د کافرانو او مشرکانو مختلفو طبقو ته چه مونږ ډیر دولت ورکړے دے د هغے طرف ته چه په اوچتو سترګو سره هم اونه ګورئ داځو محض د څو ورځو رونق او شان شوکت دے هغوئ ته مال دولت ورکولو نه داخیال اونه کړئ چه ځمونږ سره د هغوئ څه قدر او مرتبه ده بلکه دا ځو محض ابتلاء او ازمائښ دے او په آخرت کښ هغوئ د پاره د جهنم نه سیوا هیڅ نشته۔

۹۰ دا څلورم امر دے دا دیو مصلح امر ذکر دے یعني خپل اهل او عیال ته د مانځه د پابندئ حکم کوه۔ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا، پنځم امر او پخپله هم د مانځه حکم کوه۔ لَا نَسْئَلُكَ رِزْقًا، دا ذمه واري ستا نه ده چه تاسو د خپل اهل او عیال د پاره روزي اوګټئ بلکه د روزئ انتظام ځمونږ په ذمه دے تاسو چه د کوم کار د پاره لیږلے شوے یئ تاسو د هغے زیات اهتمام اوکړئ۔ ای لا نسئلك ان ترزق نفسك ولا اهلك (نحن نرزقك) وايا هم فلا تهتم لامر الرزق (مدارك ج ۳ ص۵۵) مطلب دا دے چه د مانځه پابندي کوئ چه یو مونځ هم درنه قضا نه شي د مانځه په وخت ټول کارو بار پریږدئ پوره توجه سره مونځ ادا کړئ او چه د معاش طلب د مانځه نه هرګز مانع

اُونه گرځي ځکه چه روزي خو الله تعالیٰ ورکوي۔

٩١ دا شکوی ده مشرکانو به وئیل چه تاسو یو معجزه یا دلیل ولے نهٔ پیش کوئ چه ستاسو صداقت ظاهر کړي۔ اَوَلَمۡ تَاۡتِهِمۡ الخ جواب شکوی دے یعني تاسو دا سے خبرے بیان کړي دی چه تاسو ته دَ هغې خبر ځکښ نهٔ وو دینه معلومه شوه چه تاسو دَ الله رښتونی پیغمبر یئ اوځکه چه وایئ هغه ټول دَ الله دَ طرفه دی او تیر شوو کتابو نوکښ موجود دی یعني په تورات انجیل وغیره کښ هغوئ ستاسو بشارت اوخوشخبری لوستلے ده چه ستاسو په نبوت اوصداقت باندے واضح دلیل دے نو ایا دا دلیل کافی نهٔ دے۔ یرید التوراة والانجیل والکتب المتقدمة وذلك اعظم اٰیة اذا اخبر بما فیها وقیل اَوَ لَمۡ یَاۡتِهِمۡ الاٰیة الدالة علی ثبوته بما وجدوه فی الکتب المتقدمة من البشارة (قرطبي ج ١١ ص ٢٦٤)۔

٩٢ دا استیناف دے دینه مقصود دادے چه مونږ قرآن په منکرینو باندے دَ حجت قائمولو دَ پاره نازل کړیدے دے دَ پاره چه دَ قیامت په ورځ هغوئ کوم عذر اُونه کړي یعني که چرے مونږ دَ قرآن نازلولو اوحجت قائمولو نه مخکښ عذاب نازل کړے وے او هغوئ مونږ هلاک کړے وے نو دَ قیامت په ورځ هغوئ وئیلے شو چه اے الله تا به خپل رسول رالیږلے وے او خپل ایاتونه به دِ نازل کړے وے مونږ ته دِ سمه لار ولے اُونهٔ ښودله چه مونږ ستا دَ پیغمبرانو اتباع کړے وے او نن ذلیل او رسوا نهٔ وے گرځیدلے۔

٩٣ یعني تاسو دِ دے سرکشه او معاندینو ته اُووایئ چه مونږ او تاسو ټول یو دَ بل انتظار کوو نکی یو تاسو انتظار کوئ ډیر زر به تاسو ته معلومه شي چه څوک په سمه لار دی او څوک گمراه دے۔

نوټ:۔ دَ سورۂ طٰهٰ دَ توحید ایاتونه ص ٢٥٩ پښتو ترجمے سره لیکلے شویدی هلته ئے اُوگورئ۔

یا الله تعالیٰ دَ دے تفسیر لیکوونکی اُوبښے

سورۂ انبیاء

ربط :- سورۂ طٰهٰ کښې بیان شوي دي چه الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلامُ ته دا پیغام ورکړے وو چه د الله تعالیٰ نه سیوا څوک حاجت روا او کارساز نشته. لِهٰذا هغهٔ ته اواز کوئی. لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِیْ (ع ۱) اوس په سورۂ انبیاء کښې علی سبیل الترقی (په طریقه د ترقئ) به دا بیان کولے شي چه نهٔ صرف حضرت موسیٰ علیه السلام ته بلکه ټولو انبیاء علیهم السلام ته هم دا وحی کړے شوے وه چه د الله تعالیٰ نه سیوا څوک حاجت روا او کارساز نشته. لِهٰذا هغهٔ ته اواز کوئی، وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قبلك من رسول اِلَّا نُوْحِیْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ (ع ۲).

خلاصه د سورۂ انبیاء دعوی دا ده چه د زمکو او اسمانونو ټولے خبرے پیژندونکے صرف الله تعالیٰ دے. لِهٰذا هم هغه کارساز او متصرّف دے او مختار په حاجتونو او مشکلاتو کښې صرف هغهٔ ته اواز کوئی. دا دعوی قَالَ رَبِّیْ يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِی السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ (ع ۱) کښې ذکر کړے شوے ده او د دے دعوے په اثبات باندے درے عقلی دلیلونه او یوولس نقلی دلیلونه (یو اجمالی د عقلی دلیلونو مینځ کښې او لس تفصیلی د هغے نه روستو) او په اخر کښې یو دلیل وحی ذکر کړے شوي دي. د سورت په ابتداء کښې د دعوے نه مخکښې او د دعوے نه روستو کَمَآ اُرْسِلَ الْاَوَّلُوْنَ پورے مشرکانو باندے زجر او شکوی ذکر کړے شوي ده چه نبی علیه السلام ته به ئے جادوګر او قرآن ته به ئے ویلے او د نبی علیه السلام او د هغهٔ د راوړے شوی دعوت نه به ئے انکار کولو، اعتراضونه به ئے کول چه دا خو انسان دے پیغمبر خو فرښته پکار ده. دینه روستو د دریو مقدرو سوالونو جواب ورکړے شوے دے. وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِیْٓ اِلَيْهِمْ الخ دا د اول مقدر سوال جواب دے. یعنی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه مخکښې چه څومره پیغمبران هم راغلی دی هغه ټول بشر او انسانان وو. وَمَا جَعَلْنٰهُمْ جَسَدًا لَّا يَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ، دا د دویم مقدر سوال جواب دے. یعنی ټولو انبیاء علیهم السلام خوراک څښاک کولو او وَمَا كَانُوْا خٰلِدِيْنَ سره د دریم مقدر سوال جواب ورکړے شوے دے یعنی ستا نه مخکښې چه څومره پیغمبران وو هغوئی هم په دُنیا کښې همیشه نهٔ دی پاتے شوی. وَكَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْيَةٍ (ع ۲) تخویف دنیوی دے.

درے عقلی دلیلونه

دینه روستو دَ توحید په دعوی باندے درے عقلی دلیلونه ذکر کړے شوی دی. ① وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ② وَلَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الخ اَوَلَمْ يَرَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا (ع ۳) دینه روستو په طور دَ معارضه مشرکانو نه په شرک باندے دَ دلیل مطالبه کړے شوے ده. قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ. یعنی کوم یو عقلی یا نقلی دلیل پیش کړئ. مقصد دا دے چه عقل خو دَ توحید دَ مسئلے تائید کوی. دَ دے وجے نه هغوئ دَ شرک په تائید کښ عقلی دلائیل راوړلو نه عاجز دی او نقلی دلیل راوړل هم دَ هغوئ په وس کښ نهٔ دی. ځکه چه ټول انبیاء علیهم السلام دَ توحید دَ مسئلے دَ تبلیغ دَ پاره لیږلے شویدی یعنی مونږ خو په توحید باندے عقلی او نقلی دلائیل پیش کړل کهٔ چرے تاسو سره کوم دلیل وی تو پیش ئے کړئ.

دلیل نقلی اجمالی

دینه روستو وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ الخ کښ ټولو انبیاء علیهم السلام سره دَ مسئله توحید په حقانیت باندے اجمالاً نقلی دلیل پیش کړے شویدے چه هغوئ ټولو دَ مسئله توحید پیغام راوړے.

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ، په مشرکانو باندے شکوی ده چه په اوهٔ وجهو سره دَ هغے جواب ورکړے شویدے. اوله وجه سُبْحٰنَهٗ. دویمه وجه بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ. دریمه وجه لَا يَسْبِقُوْنَهٗ بِالْقَوْلِ. څلورمه وجه، وَهُمْ بِاَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ. پنځمه وجه يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ. شپږمه وجه، وَلَا يَشْفَعُوْنَ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى. اومه وجه وَهُمْ مِّنْ خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ.

دینه روستو اَوَلَمْ يَرَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ـــ تا ـــ كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ سره دریم عقلی دلیل ذکر کړے شویدے. وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ. مشرکانو دَ پاره زجر او دَ دریم سوال دَ جواب اعاده ده. خُلِقَ الْاِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ، زجر دے. سَاُورِيْكُمْ اٰيٰتِيْ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنِ، تخویف دُنیوی. وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ الخ شکوی. لَوْ يَعْلَمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الخ جواب شکوه سره دَ تخویف اُخروی وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ، نبی علیه السلام دَ پارهٔ تسلی ده.

قُلْ مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ (ع ۴) تخویف دنیوی دے. بَلْ هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُّعْرِضُوْنَ او اَمْ لَهُمْ اٰلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ زجر. اَفَلَا يَرَوْنَ اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ الخ تخویف دنیوی دے. وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ الخ تخویف اُخروی دے دینه روستو دَ دلائیل نقلیه تفصیلیه ذکر دے.

دلائیل نقلیه بالتفصیل

دَ دلائیل نقلیه په ذکرکښ ټولے صیغے دَ جمع متکلم استعمال شوی دی چه هغے سره دِے طرف ته اشاره مقصود ده چه دا ټول کارونه څمونږ دی دَ بل کوم چا په دِے کښ هیڅ اختیار نشته. دَ دلائیل نقلیه په ذکرکښ ترتیب زمانی ملحوظ نهٔ دے ساتلے شوے ځکه چه اصلی مقصد دَ دے خبرے بیان دے چه ټول انبیاء علیهم السلام دَ توحید تبلیغ کوونکی وو. وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسٰی وَ هٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ، اوّلنے دلیل نقلی تفصیلی حضرت موسیٰ او هارون علیهما السلام سره. وَلَقَدْ اٰتَیْنَآ اِبْرٰهِیْمَ رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ (ع ۵) دویم دلیل نقلی حضرت ابراهیم علیه السلام سره. حضرت ابراهیم علیه السلام څومره سختئ سره قوم دَ شرک نه منع کړو او مونږ هغه دَ اور نه بچ اُوساتلو. لُوْطًا اٰتَیْنٰهُ حُکْمًا وَّعِلْمًا، دریم دلیل نقلی حضرت لوط علیه السلام سره. وَنُوْحًا اِذْ نَادٰی مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ، دلیل نقلی څلورم حضرت نوح علیه السلام سره. حضرت نوح علیه السلام په طوفان کښ مونږ ته اواز اُوکړو او مونږ هغوی ته دَ طوفان نه نجات ورکړو وَدَاوٗدَ وَسُلَیْمٰنَ اِذْ یَحْکُمٰنِ فِی الْحَرْثِ الخ دلیل نقلی پنځم حضرت داؤد او سلیمان علیهما السلام سره. وَاَیُّوْبَ اِذْ نَادٰی رَبَّهٗٓ اَنِّیْ مَسَّنِیَ الضُّرُّ الخ دلیل نقلی شپږم حضرت ایوب علیه السلام سره. چه دَ خپلے بیمارئ او تکلیف شکایت ئے الله تعالیٰ اوکړو او دَ هغهٔ نه دَ تکلیف لرے کولو دُعائے اُوکړه. وَاِسْمٰعِیْلَ وَاِدْرِیْسَ وَذَا الْکِفْلِ الخ دلیل نقلی تفصیلی اوم حضرت اسماعیل او حضرت ادریس او ذالکفل علیهم السلام سره. وَذَا النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا الخ دلیل نقلی اتم حضرت یونس علیه السلام سره چه په مصیبت کښ مبتلا شو نو دَ الله تعالیٰ په حضور کښ ئے عاجزی اُوکړه او الله ته ئے اواز اُوکړو. وَزَکَرِیَّآ اِذْ نَادٰی رَبَّهٗ رَبِّ لَا تَذَرْنِیْ فَرْدًا الخ نهم دلیل نقلی زکریا علیه السلام سره دَ اولاد ارزو پیدا شوه نو هغے دَ پاره ئے دَ الله تعالیٰ نه دُعا اُوغوښتله غیرالله ته ئے اواز اُونهٔ کړو. اِنَّهُمْ کَانُوْا یُسٰرِعُوْنَ الخ دا ایت ټولو ذکر شوو ایتونو سره متعلق دے یعنی دا ټول ذکر شوی انبیاء علیهم السلام دَ نیکئ کارونه به ئے په تلوار سره سرته رسول او دَ امید او دَ ویرے په حالت کښ به ئے صرف الله تعالیٰ ته اواز کولو غائبانه طور.

وَالَّتِیْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا الخ لسم دلیل نقلی حضرت عیسیٰ علیه السلام سره. اِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُکُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً الخ دِے کښ دَ انبیاء علیهم السلام ټول جماعت طرف ته اشاره ده یعنی دَ ټولو انبیاء علیهم السلام دین یو وو هغوئ ټولو په حاجتونو او

مصیبتونو کښې الله تعالیٰ متصرف او کارساز گڼړلو او واؤ ئے ورته
کولو لِهٰذا هغوئ ټول الله ته محتاج وو او پخپله کارساز او
حاجت روا نهٔ وو. وَاَنَا رَبُّكُمْ واؤ تفسیریه دے او داجمله
ماقبل د پارهٔ تفسیر دے وَتَقَطَّعُوْا داد سوال مقدر جواب دے
یعنی کهٔ چرے ټول پیغمبران د توحید داعیان وو نو بیا ولے
هغوئ ته اواز اوکړے شو. جواب ورکړے شو چه د هغوئ نه
روستو باغیانو خلقو په توحید کښې اختلاف اوکړو او خلق ئے
گمراه کړل. فَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ بشارت اخروی دے
حَتّٰۤى اِذَا فُتِحَتْ يَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ (ع ۷) تخویف دنیوی. اِنَّكُمْ
وَمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ تخویف اخروی
وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِى الزَّبُوْرِ مِنْۢ بَعْدِ الذِّكْرِ الخ بشارت دنیوی دے
قُلْ اِنَّمَا يُوْحٰۤى اِلَىَّ اَنَّمَاۤ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ په توحید دلیل وحی
دے. وَاِنْ اَدْرِیْۤ اَقَرِيْبٌ اَمْ بَعِيْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ الخ په اخر کښې
د سورت دعوی دوباره ذکر شویده چه د الله تعالیٰ نه سیوا
څوک عالم الغیب نشته هغه غیب باندے خبر او متصرف
کارساز دے.

سُورَةُ الْأَنْبِيَآءِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَّاثْنَتَا عَشْرَةَ آيَةً وَّسَبْعُ رُكُوعَاتٍ

له سورة انبیاء په مکه کښې نازل شوې ده او دا دے یو سل او دولس آیتونه او دوه رکوع ۶ کانړې دی .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر زیات رحم کوونکے دے

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي

نژدے راغے د خلقو د حساب وخت او هغوی

غَفْلَةٍ مُّعْرِضُونَ ① مَا يَأْتِيهِم مِّن

ناخبره دی له مخ گرځوونکی دی . نه راځی هغوی ته هیڅ

ذِكْرٍ مِّن رَّبِّهِم مُّحْدَثٍ إِلَّا اسْتَمَعُوهُ

نصیحت د رب د هغوی ته نوے ته لیکن هغه اوري

وَهُمْ يَلْعَبُونَ ② لَاهِيَةً قُلُوبُهُمْ ط

او په لوبو لگیا دی په لوبو کښې مشغول دی زړونه د دوی

وَأَسَرُّوا النَّجْوَى ق الَّذِينَ ظَلَمُوا صلے ق

او پټه مشوره اوکړه بے انصافو له

هَلْ هٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ج أَفَتَأْتُونَ

دا سړے څوک دے څه یو سړے دے په شان ستاسو بیا ولے راگیرېږئ

السِّحْرَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ③ قَالَ رَبِّي

په جادو کښې چه په سترگو وړاندې گورئ . هغه اووئیل رب زما ته

يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ ز

معلومه ده خبره په آسمان کښې وی یا په زمکه کښې له

وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ④ بَلْ قَالُوا

او هغه اوریدونکے دے او عالم دے هغه ئے پریښودو او وائی

اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ بَلِ افْتَرٰىهُ بَلْ هُوَ

ګډ وډ خوبونه دی که داسې نۀ ده بلکه دروغ ئې جوړ کړی دی نا بلکه هغه

شَاعِرٌ ۚۖ فَلْيَاْتِنَا بِاٰيَةٍ كَمَآ اُرْسِلَ

شعر وائی . بیا پکار ده چه راوړی مونږ ته یوه معجزه شه لکه چه پیغام راوړی ییں مے

الْاَوَّلُوْنَ ﴿۵﴾ مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْيَةٍ

مخکنو ملا او نۀ منلو مخکښې د دوئی نه یو کلی

اَهْلَكْنٰهَا ۚ اَفَهُمْ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۶﴾

کوم چه هلاک کړل مونږ ایا دوئی به ئے اومنی

نکات: سل زجر سره د شکوے ۱۲ - مل دعوی د سورت ۱۲ -

فتح الرحمٰن ملا مترجم وائی مراد د معجزے نه هغوئی عام عذاب گنڑلو لکه طوفان د قوم نوح او صرصر په قوم هود والله اعلم ۱۲ -

تفسیر: سلا زجر سره د شکوے - حضرت ابن عباسؓ فرمائی اَلنَّاسِ نه مشرکان مراد دی. مخنوټیلی دی چه د نزول په وخت اگرچه دے سره اشاره د مشرکانو طرف ته وه لیکن داوس تولو د پاره عام دے او د حساب نه مراد د آخرت حساب دے یعنی قیامت په سر دے لیکن دا خلق په غفلت کښې وخت ضائع کوی او د آخرت حساب د پاره هیڅ قسم تیاری نۀ کوی.
سلا په دنیا کښې ورنتوتل او د آخرت نه کبے پرواهئی او اعراض دا حالت دے د الله تعالیٰ د طرفه چه کوم نوے ایت د توحید نازلیږی نو هغوئی دا استهزاء او توقو مسخرو سره اوری او د هغوئی زړونه په هغې کښې د غور او فکر نه بالکل غافل وی. مُحْدَثٍ، یعنی مخکښې هغوئی نۀ وے اوریدلے - وَهُمْ يَلْعَبُوْنَ يستمعون القرآن مستهزئين لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ مُعْرِضَة عن ذكر الله متشاغلة عن التامل والتفهم (قرطبی ج ۱۱ ص ۲۶۸) -
سلا یعنی کله چه قرآن اوری نو د هغے خلاف پټے پټے مشورے کوی.
اَلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا په ظاهرکښې اَسَرُّوا د پاره فاعل معلومیږی لیکن د قاعدے مطابق ظاهر فاعل جمع د پاره مفرد راتلل پکار وو مفسرینو او د نحوا امامانو د دے ډیر جوابونه ورکړی دی د هغے حاصل دا دے چه موصول د اَسَرُّوا فاعل نۀ دے بلکه. ۱: د اَسَرُّوا ضمیر اَلنَّاس طرف ته راجع دے او اَلَّذِيْنَ

ظَلَمُوْا دَ هغې نه بدل دے. ۲: دَ الَّذِیْنَ فعل یَقُوْلُ دَ دۀ نه مخکښ محذوف دے
۳: اَلَّذِیْنَ نه مخکښ فعل اعنی محذوف دے او دا دَ هغۀ مفعول دے. ۴: دا
مجرور دے او سره دَ صلّه نه دَ النَّاس صفت دے. یا اَسَرُّوْا کښ واؤ دَ جمع
علامت دے دَ فاعل علامت نۀ دے (من القرطبی والبحر وغیرهما)

۵ دا دَ مشرکانو دیرلوئے اعتراض وو چه دا پیغمبر خو محمونږ په شان بشر او انسان دے مونږ هغه ولے دَ الله رسول اُومنو پیغمبر خو څوک فرشته پکار وه. اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ الخ او بیا بشر او انسان هم هغه چه (نعوذ بالله) جادوګر دے نو بیا تاسو سره دَ عقل نه دَ هغۀ خبرے منئ. دَ دوئ عقیده ده چه څوک بشر وی هغه پیغمبر نشی کیدے بلکه رسول خو فرښته وی او څوک چه بشر وی او دَ رسالت دعوی اوکړی هغه جادوګر وی وکانوا یعتقدون ان الرسول من عند الله لا یکون الا ملکا وان کل من ادعی الرسالة من البشر وجاء بمعجزة فهو ساحر ومعجزته سحر (بحر ج ۶ ص ۲۹۶).

۶ دا دَ سورت دعوی ده یعنی دَ زمکے او اسمان ټول غیب بانده صرف الله تعالیٰ ته علم دے او ټول هر څۀ اوریدلو والا هم صرف هغه دے بل څوک نۀ دے. لِهٰذا فریاد ته رسیدونکے، کارجوړوونکے، متصرف او مختار هم صرف هغه دے بل څوک نۀ دے لِهٰذا ستاسو معبودان هیڅ نۀ شی کولے دَ نبی علیه السلام دے اعلان سره غصه شول هغوئ نبی علیه السلام ته جادوګر وغیره وئیل شروع کړل. فیه ردّ علیهم فی قولهم هَلْ هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُکُمْ (قرطبی ج ۱۱ ص ۲۷۲). ۷ دَ باطل لاره بے شمار دی دَ دے وجے نه باطل پرست همیشه حیران او پریشان اُوسیږی او هغوئ ته په یوه خبره بانده ثابت پاتے کیدل نۀ نصیب کیږی. مشرکان څو کله وائی چه دا پیغمبر جادوګر دے او کله دَ دینه ترقی اوکړی بل څۀ وائی بلکه بے ځایه او بے فائده خبرے کوی. بَلِ افْتَرٰىهُ، بلکه هغه په خدائے دروغ او بهتان تړی. بَلْ هُوَ شَاعِرٌ، بلکه دا سے نۀ ده دا ټول شاعرانه خیالات دی. چه هغه ئے په فصیح او بلیغ ژبان کښ اچولو سره بیانوی دا ټولے خبرے مشرکان خالص دَ دے په ضد کښ وائی کوم چه په رَبِّیْ یَعْلَمُ الْقَوْلَ فِی السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ کښ پیش کړے شوه. ۸ دَ مشرکانو یوه مطالبه دا هم وه چه دَ موسٰی علیه السلام دَ همساء معجزه او دَ صالح علیه السلام دَ ناقة (اُوښے) معجزے په شان معجزات هغوئ ته اُوښودلے شی. مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ الخ تخویف دنیوی او دَ مشرکانو دَ مطالبے جواب دے یعنی دَ موسٰی علیه السلام دَ همساء معجزه او دَ صالح علیه السلام دَ ناقه (اُوښے) معجزه لیدونکو ایمان رانۀ وړو او اخر هلاک کړے شول کۀ چرے دَ مکے مشرکانو ته دَ هغوئ دَ خوښے معجزات

بنو دلے شوے وے نو هغوئ به ایمان راؤړے وے؟ هرګز داسے نۀ ده بلکه انکار به ئے کولے. او د تیر شوو قومونو په شان به هلاکولے شوے. والمعنی ان اهل القری اقترحوا علی انبیاءهم الآیات وعاهدوا انهم یؤمنون عندها فلما جاءتهم نکثوا وخالفوا فاهلکهم الله فلو اعطیت هؤلاء ما یقترحون لنکثوا ایضًا (مدارک ج ۳ ص ۵۶).

وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِیْٓ

اونۀ دے لیږلے پیغام موږ ستا نه مخکښ ۵ لیکن هم دغه سړو په لاس وحی موږ لیږله

اِلَیْهِمْ فَسْـَٔلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ

هغوئ ته تپوس اُوکړئ یاد لرونکو نه که چرے تاسو نه

لَا تَعْلَمُوْنَ ۞ ٧ وَمَا جَعَلْنٰهُمْ جَسَدًا لَّا

نۀ وی معلومه اونۀ وو ګرځولی موږ د هغوئ بدنونه داسے چه نۀ ئے

یَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوْا خٰلِدِیْنَ ۞ ٨

کولو خوراک له اونۀ وو هغوئ همیشه پاتے کیدونکی ۵

ثُمَّ صَدَقْنٰهُمُ الْوَعْدَ فَاَنْجَیْنٰهُمْ وَ

بیا موږ رښتونے کړه د هغوئ سره وعده نو بچ کړل موږ هغوئ او

مَنْ نَّشَآءُ وَاَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِیْنَ ۞ ٩ لَقَدْ

څوک چه موږ غوښتل او تباه کړل موږ د حد نه تجاوز کوونکی (وتونکی). موږ

اَنْزَلْنَآ اِلَیْكُمْ كِتٰبًا فِیْهِ ذِكْرُكُمْ ؕ

نازل کړیدے ستا طرف ته کتاب چه په هغے کښ ذکر دے ستاسو

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۞ ١٠ ع وَكَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْیَةٍ

ایا تاسو نۀ پوهیږئ له او څومره ریزه ریزه کړیدی موږ کلی

كَانَتْ ظَالِمَةً وَّاَنْشَاْنَا بَعْدَهَا

چه وو ګناهګار ۱۲ له او اوم درول د هغوئ نه روستو

قَوْمًا اٰخَرِیْنَ ﴿۱۱﴾ فَلَمَّآ اَحَسُّوْا بَاْسَنَآ اِذَا هُمْ

خلق نور بیا چه کله هغوئ معلوم کړو عذاب زمونږ نو بیا شروع شول

مِّنْهَا یَرْكُضُوْنَ ﴿۱۲﴾ لَا تَرْكُضُوْا وَارْجِعُوْٓا

د هغه ځائے نه چه تښتیدل مه تښتئ او واپس شئ

اِلٰى مَآ اُتْرِفْتُمْ فِیْهِ وَمَسٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ

چرته چه تاسو ته ژوند تیر کړے وو او خپلو کورونو ته شائد چه څوک ستاسو نه

تُسْـَٔلُوْنَ ﴿۱۳﴾ قَالُوْا یٰوَیْلَنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِیْنَ ﴿۱۴﴾

تپوس اوکړی ملائک وے وئیل اے هلاکته زمونږ بیشکه وو مونږ ګنا هګار سله

فَمَا زَالَتْ تِّلْكَ دَعْوٰىهُمْ حَتّٰى جَعَلْنٰهُمْ

بیا همیشه وو فریاد د هغوئ تر دے چه اوګرځول مونږ

حَصِیْدًا خٰمِدِیْنَ ﴿۱۵﴾

ریبلے شوی مړهٔ پراته

نکات: سلہ د اول مقدر سوال جواب ۱۲۔ سلہ د دویم مقدر سوال جواب سلہ د دریم مقدر سوال جواب ۱۲۔ سلہ د څلورم مقدر سوال جواب ۱۲۔ سلہ ترغیب الی القرآن ۱۲۔ سلہ تخویف دنیوی ۱۲۔

موضح قرآن

ف۱ یعنی مرګ هم راغے هغوئ ته۔

ف۲ یعنی داخبره کیږ وکے نهٔ وه۔

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی د قوم په غم خوړئ کښ ستاسو د احوالو تپوس کوی ۱۲۔

تفسیر ۹ دا د مشرکانو د اول سوال جواب دے هَلْ هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ الخ کښ ذکر شوے دے۔ فیه رد علیهم هل هذا الا بشر مثلکم (قرطبی ج ۱۱ ص۲۷۲)۔ یعنی مونږ چه د انسانانو طرف ته څومره پیغمبران هم لیږلی دی هغه انسانان او بشر وو په هغوئ کښ یو هم فرشته نهٔ وه که چرے تاسو ته په خپله معلومه نهٔ دی د اهل کتابو نه تپوس اوکړئ چه د هغوئ په علم او فضل باندے ستاسو اعتماد دے۔ اهل الذکر نه اهل کتاب (د یهودو او نصارا) علماء مراد دی۔ مشرکانو ته ئے د اهل کتاب طرف ته د دے وجے

نه د رجوع کولو حکم ورکړو چه هغوئ به د نبی کریم صلی الله علیه وسلم
باره کښ اکثر هغوئ ته رجوع کوله.

۱۰ دا د مشرکانو دویم اعتراض جواب دے اعتراض دا وو چه دا څنګه رسول
دے چه مونږ په شان خوراک څښاک کوی لکه چه په الفرقان ع اکښ
د هغوئ قول نقل شوید دے. مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ يَاْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِيْ فِي
الْاَسْوَاقِ نو د دے جواب ئے ورکړو چه کله انبیاء او پیغمبران انسانان
او بشر وو نو هغوئ به ضرور خوړونکی او څښونکی هم وو خوراک څښاک
بشر سره لازم دے هغوئ د دینه څنګه مستثنیٰ کیدے شی. وَمَا كَانُوْا خٰلِدِيْنَ
دا د مشرکانو د دریم اعتراض جواب دے چه دا خو په دُنیا کښ نه پاتے کیږی
بلکه فوت به شی. نو جواب ورکړے شو چه تیر شوی انبیاء هم همیشه
پاتے نهٔ شول بلکه د دُنیا نه رخصت شول او حضرت عیسیٰ علیه السلام چه
دا وخت په اسمانونو کښ ژوندے موجود دے هغه به هم همیشه ژوندے
نهٔ پاتے کیږی مرګ هغهٔ د پاره مقدر دے.

۱۱ دا ترغیب الی القرآن دے د ذکر نه د توحید مسئله او نور د دین
امور او د شریعت د احکامو ذکر مراد دے ای ذکر دینکم واحکام شرعکم الخ
(قرطبی ج ۱۱ ص ۲۷۳) ۱۲ دا تخویف دنیوی دے. قَصَمْنَا ای اهلکنا یعنی هلاک
کړل مونږ. ظَالِمَةً یعنی شرک کوونکی فَلَمَّا اَحَسُّوْا هغه قومونو ته څمونږ
پیغمبران راغلل نو هغوئ د دوئ پرواه اُونهٔ کړه او دروغ ئے اُوګڼړل او څنے
ئے قتل کړل بیا چه کله څمونږ عذاب را اُورسیدو نو بیا تښتیدل. لَا تَرْكُضُوْا الخ
مونږ اُوئیل اُوس مهٔ تښتئ بلکه خپلو مالونو، اولاد، باغونو او کورونو ته
واپس راشئ دِے د پاره چه کوم څهٔ په تاسو یاندے تیریږی د هغے باره
کښ به صباله ستاسو نه تپوس کیږی او تاسو به خپله تجربه او مشاهده بیان
کړئ دا هغوئ ته د استهزاء په طور اُوئیلے شو. لعلکم تسئلون غدا عما جری
علیکم ونزل باموالکم فتجیبوا السائل عن علم ومشاهدة (مدارک ج ۳ ص ۵۵)
۱۳ کله چه د الله عذاب راغے نو اقرار ئے اُوکړو چه بیشکه مونږ ظالمان او
مشرکان وو. فَمَا زَالَتْ تِّلْكَ دَعْوٰىهُمْ، هغوئ دا شان فریاد کولو. تردے چه
څمونږ عذاب هغوئ هلاک کړل او د هغوئ د ژوند ډیوه ئے مړه کړه.

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا

او نهٔ دی پیدا کړی مونږ اسمانونه او زمکے ۱۴ او څهٔ چه د دوئ مینځ کښ دی

لٰعِبِيْنَ ﴿۱۶﴾ لَوْ اَرَدْنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا لَّا

لوبې کوونکي   که چرې غوښتلې موږ چه جوړه کړو یوه لوبه او تماشه   نو

تَّخَذْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّآ ۖ اِنْ كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۱۷﴾

جوړه کړې به وه موږ   د خپل جانبه   که چرې موږ وې کوونکي ۱ ف

بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهٗ

داسې نه ده بیا موږ ورغورځوو رښتیا   په دروغ باندې بیا هغه د دګې سر ماتوي

فَاِذَا هُوَ زَاهِقٌ ۭ وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا

بیا هغه ورک شي (ختم شي) او ستاسو د پاره تباهي ده   هغې خبرو سره

تَصِفُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَلَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ

کوم چه تاسو بیانوئ ۲ ف. او خاص هغه د پاره دي ټول چه په اسمانونو کښ دي او زمکه کښ

وَمَنْ عِنْدَهٗ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ

او څوک چه د هغه سره نزدې دي سرکشي نه کوي   د هغه عبادت نه

وَلَا يَسْتَحْسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾ ۚ يُسَبِّحُوْنَ الَّيْلَ

او نه   سستي کوي ۳ ف   یادوي ئې   د شپې

وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُوْنَ ﴿۲۰﴾ اَمِ اتَّخَذُوْٓا اٰلِهَةً

او ورځې   او نه ستړي کیږي   آیا نیولي دي دوئ نور معبودان ۴ ف

مِّنَ الْاَرْضِ هُمْ يُنْشِرُوْنَ ﴿۲۱﴾ لَوْ كَانَ

په زمکه کښ ۵ ف چه هغوئ به دوئ راژوندي کړي ۶ ف که چرې وې

فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحٰنَ

په دواړو کښ نور معبودان سیوا د الله نه ګله نو دواړه به خراب شوي وې نو پاک دې

اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۲۲﴾ لَا

الله   مالک د عرش   د هغه خبرو نه کوم چه دوئ بیانوي.

يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُوْنَ ﴿۲۳﴾

دَ هغهٔ نه د تپوس اُونشی کولے څهٔ چه هغه کوی او دوئی نه د تپوس اُوکړے شی.

نکات: سل توحید باندے اولنے دلیل عقلی ۱۲. سل۲ توحید باندے دویم دلیل عقلی ۱۲. سل۳ زجر مشرکانو د پاره ۱۲.

موضح قرآن فل دَ لوبو څیز یعنی ځوځے. ف۲ یعنی الله تعالیٰ دَ دَ غیب نه یو نمونه رالیږی چه دَ دروغ ختمولو د پاره هغه کاملانو ته تاسو دَ خدائے ځامن وائی.

فتح الرحمن فل یعنی مجرد به وے او دا یوه باریکه مناقضه ده حاصل دا دے چه په رسولانو کښ دا استبعاد جاری نهٔ دے چه انسان او بشر رسول ولے دے بلکه دَ سبحٰن او بل نه دَ تنزیه باره کښ تقریر کیدے شی چه کهٔ چرے دَ الله د پاره ښځه او ځوئے کیدے شوے نو مجرد او واجب الوجود او جامع دَ صفاتِ کمال به وے والله اعلم ۱۲. ف۲ یعنی دَ سروزرو او سپینوزرو ۱۲. ف۳ مراد دَ دے کلام نه رد دے په عبادت دَ بتانو ۱۲.

توحید باندے عقلی دلائیل

تفسیر: ۱۰۴ دِ دے سورت کښ په توحید باندے درے عقلی دلائیل ذکر شوی دی. دا اوّلنے دلیل عقلی دے چه دَ هغے حاصل دا دے چه مونږ زمکه او اسمان او ټول کائنات هسے بے مقصد او لوبو ټوقو په طور نهٔ دی پیدا کړی کهٔ چرے دا ټول محض یو لوبه وے نو مونږ به دا دَ ځان سره ساتلے وو او چا ته به دَ دے هیڅ پته هم نهٔ لګیدے او نهٔ به مونږ چا ته ظاهر کړے وے. بلکه دا ټول کائنات مونږ دَ اظهار حق او په توحید باندے دَ استدلال د پاره پیدا کړل دِ دے د پاره چه بندګان دِ دے سره ځمونږ په وحدانیت باندے استدلال (دلیل نیول) اُوکړی او حق (توحید او دین اسلام) باطل (کفر او شرک) باندے غالب شی دِ دے کائنات کښ دَ بندګانو د پاره عبرت او نصیحت دے چه معبود برحق الله تعالیٰ دے چه هغه ټول کائنات پیدا کړے دے او کوم دَ الله تعالیٰ بندګان چه تاسو دَ خدائے په نزد خپل سفارشیان ګرځولی دی هغه هرګز دَ عبادت او رابللو مستحق نهٔ دی وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُوْنَ، دَ غیر الله عالم الغیب او حاجت روا ګڼړلو سره او دَ غائبانه رابللو په وجے سره ستاسو د پاره هلاکت په دُنیا کښ دے.

۱۰۵ دا دویم عقلی دلیل دے دَ زمکے او آسمان او دَ ټول کائنات مالک هم

صرف الله تعالیٰ دے هر څیز د هغهٔ په تصرف او قبضه کښې دے. وَمَنْ عِنْدَهٗ نه فرشتے مراد دی. فرشتے چه مشرکان هغه د خدائے په نزد سفارش کوونکی گنړی د هغوئی د بندگئی او عاجزئی دا عالم دے چه هغوئی هر وخت د الله تعالیٰ په عبادت کښې او اطاعت کښې مشغول اُو سیږی او شپه ورځ د الله تعالیٰ په حمد او ثناء او د هغهٔ په تسبیح او تقدیس کښې مشغول دی هغوئی نهٔ ستړی کیږی او نهٔ سُستی کوی. بنهٔ ده نو چه څوک د خدائے په مخکښې دومره عاجز او د هغهٔ د احکامو پابند دی هغوئی څنګه د هغهٔ د اجازت نه بغیر د شفاعت ژبه پرا نستلے شی. او د الله تعالیٰ په تصرف او اختیار کښې څنګه د دخل اندازئی جراءت کولے شی. ای وله تعالیٰ خاصة جمیع المخلوقات خلقا وملکا وتدبیرا وتصرفا واحیاء واماتة وتعذیبا واثابة من غیر ان یکون لاحد فی ذلك دخل ما استقلالا واستتباعا الخ (روح ج ۱۷ ص۲۰)

۱۶ دا په مشرکانو باندے زجر دے د فرشتو د الوهیت نفی څو د هغوئی د عاجزئی او بے چارګئی نه واضح شو نو ایا دے مشرکانو د مکے والؤ نه خپل معبودان جوړکړی دی چه د قیامت په ورځ به مړی ژوندی کړی او راپاڅوی به ئے غرض دا دے چه څنګه د هغوئی اسمانی او نوری د ځان نه جوړکړے شوی معبودان عاجز او بے وسه دی دا شان د هغوئی د زمکے اوخاؤرو نه جوړ (پیدا شوی) معبودانو حال هم دا دے. حال دا دے چه معبود صرف هغه ذات کیدے شی چه قادر علی الاطلاق وی. لان العاجز عنه لایصح ان یکون الٰهًا اذ لایستحق هذا الاسم الا القادر علی کل مقدور والانشار من جملة المقدورات (مدارک ج ۳ ص۵۵)

۱۷ د مذکوره بالا عقلی دلیلونو نه ثابته شوه چه د الله تعالیٰ نه سیوا نهٔ په اسمانونو کښې څوک اِلٰه (معبود) شته دے نهٔ په زمکه کښې کهٔ چرے بالفرض په زمکه او اسمان کښې د الله نه سیوا بل څوک معبود هم وے لکه چه مشرکان ئے منی یعنی هغوئی هم په حقیقت او واقع کښې مالک او مختار او کارساز وے نو دا ټول نظام د عالم به د ستر ګو رپ کښې ګډوډ شوے وے او سلامت به نهٔ وو پاتے شوے. لَا یُسْئَلُ عَمَّا یَفْعَلُ وَهُمْ یُسْئَلُوْنَ، هغه بغیر د شرکت د بل چانه د ټول کائنات واحد، مالک، قادر مطلق او متصرف او مختار دے په هغهٔ باندے د هیچا د سوال او اعتراض حق نشته. لیکن هغه د مخلوق نه د جواب طلبئی حق لری.

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اٰلِهَةً ؕ قُلْ هَاتُوْا

ایا مقرر کړی دی هغوئی سیوا د ده نه نور معبودان ښه ته اُو اویه راؤړئ

بُرْهَانَكُمْ هَٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ وَ
سند خپل ګله دا خبره ده ځما د ملګرو او هم

ذِكْرُ مَنْ قَبْلِيْ ۭ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا
دا خبره ده ځما نه د مخکنو (تیرشوو) دا سے نه ده بلکه ډیر خلق هغه پیا نه

يَعْلَمُوْنَ الْحَقَّ فَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَمَآ
پوهیږی په رښتیا خبره نو هغوئ مخ ګرځوونکی دی ف۱ او نه دے

اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا
لیږلے موږ نه مخکښ ستا نه یو پیغمبر لیکن

نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا
دا حکم اولیږلو موږ هغهٔ ته چه خبرۀ دا شان ده چه نشته د چا بندګی سیوا ځما نه

فَاعْبُدُوْنِ ﴿۲۵﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ
نو بندګی کوئ ځما او وائی مقرر کړو رحمٰن

وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ۭ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۲۶﴾
یو ځوئے هغه هرګز د دے لائق نهٔ دے ګله لیکن هغه بندګان دی چه هغوئ ته ئے عزت ورکړیدے

لَا يَسْبِقُوْنَهٗ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِاَمْرِهٖ
نهٔ شی کولے د هغهٔ په مخکښ خبرے او هغوئ د هغهٔ په حکم

يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ
کار کوی. معلوم دی هغهٔ ته څهٔ چه په مخکښ د هغوئ دی

وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُوْنَ اِلَّا لِمَنِ
او روستو او هغوئ سفارش نهٔ کوی لیکن د هغه چا چه

ارْتَضٰى وَهُمْ مِّنْ خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ﴿۲۸﴾
راضي وی د هغهٔ نه الله او هغوئ د هغهٔ د هیبت نه ویریږی.

وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ

او هر څوک چه اُووائی د دوئ نه چه زه یم حقدار د بندگۍ سیوا د هغهٔ نه

فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ ؕ كَذٰلِكَ

نو هغهٔ ته به مونږ بدله ورکړو د دوزخ هم دغه شان

نَجْزِی الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۹﴾ ع

بدله ورکوؤ مونږ بے انصافو ته.

نکات: - ۱ دلیل نقلی اجمالی ۱۲ - ۲ شکوٰی ۱۲ - ۳ جواب شکوٰی ۱۲۔
۴ متفرع دے په جواب شکوٰی ۱۲۔

موضح قرآن ف اول ئے د هغه معبودانو باره کښ اُوفرمائیل کوم چه څوک د الله سره برابر گرځوی چه کهٔ چرے هغه حاکمان وے نو جهان به خراب اُوگرځیدو شوے وو اُوس ئے د هغه چا بیان اُوکړو کوم چه د خدائے نائبان گرځوی هغهٔ د پاره د مالک کیدو سند پکار دے د دینه بغیر څنگه نائب کیدے شی.

تفسیر: - ۱۸ اعاده (دوباره ذکر کول) په وجه د بعد عهد (ډیر وخت تیریدو) د پاره د مطالبے د دلائیلو د مشرکانو ته.

۱۹ په طور د معارضه د مشرکانو ته د هغوئ په مدعی باندے د دلائیلو مطالبه اُوکړے شوه. مدعی باندے دریے قسم دلائیل پیش کولے شی عقلی، نقلی، او وحی د دے وجے نه مطالبه اُوکړے شوه خپله دعوٰی باندے د دے قسم دلائیلو نه کوم یو دلیل راؤړئ لیکن یا دلرئ د دینه به یو هم نهٔ کړے شئ ځکه چه عقل خو د توحید د دعوے تائید کوونکے دے لکه چه اُوس د دوؤ عقلی دلیلونو نه ثابته شوه چه د الله تعالٰی نه سیوا څوک مالک او کارساز متصرف او مختار او عالم الغیب لشته. ښهٔ ده عقلی دلیل خو نشته نو د تیر شوؤ انبیاؤ نه کوم یو نقلی دلیل راوړئ. لیکن دا هم ممکن نهٔ ده ځکه چه ټول انبیاء علیهم السلام خو د توحید داعیان او مبلغین وو لکه چه ئے وړاندے اُوفرمائیل وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ الخ علی هٰذا د دلیل وحی نه هم د توحید د مسئلے تائید کیږی لکه چه د سورت په اخر کښ ئے اُوفرمائیل. قُلْ اِنَّمَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ. ۲۰ دا په توحید باندے د ټولو انبیاؤ علیهم السلام سره دلیل نقلی اجمالی دے چه ټول انبیاء علیهم السلام د دے مسئله توحید تبلیغ کوونکی وو د هغوئ نه روستو نااهل اوگمراه خلقو شرک خور کړو.

۲۱ دا شکوٰی ده یعنی انبیاء علیهم السلام خو د توحید مسئله ښهٔ واضحه کړه لیکن د دے باوجود مشرکانو د خپل ځان نه معبودان جوړکړل دینه روستو اووهٔ جوابونه ذکر شوی دی۔

اول جواب :۔ سُبۡحَٰنَهُۥ یعنی د الله تعالیٰ ذات د دینه ډیر اُوچت دے او اعلیٰ او ارفع دے چه د هغهٔ د بے وسه او عاجز مخلوق نه څوک د هغهٔ ولد او نائب وی۔ دویم جواب :۔ بَلۡ عِبَادٞ مُّكۡرَمُونَ الخ فرښتے د الله تعالیٰ ولد او په کار خانه د عالَم کښ اختیار لرونکی کېدلے شی حال دا دے چه هغه د الله تعالیٰ باعزت بندګان دی۔ دریم جواب :۔ لَا يَسۡبِقُونَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ الخ هغوئ د دهٔ په مخکښ هروخت په ویره او لړزان دی چه د هغهٔ مخکښ خبره هم نهٔ شی کولے۔ څلورم جواب :۔ وَهُم بِأَمۡرِهِۦ يَعۡمَلُونَ الخ هغه د الله پوره پوره تابعدار دی۔ پنځم جواب :۔ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ په ټول هڅهٔ خبردار او عالم صرف الله تعالیٰ دے فرښتے نهٔ دی۔

شپږم او اووم جواب :۔ لَا يَشۡفَعُونَ الخ هغوئ په هروخت کښ د الله په مخکښ ویرېږی وتلی اوسیږی او د هغهٔ د اجازت نه بغیر د هیچا سفارش هم نهٔ شی کولے إِلَّا لِمَنِ ٱرۡتَضَىٰ، دے کښ د هغه خلقو ذکر دے د چا په حق کښ چه فرشتوته د شفاعت اجازت وی مراد هغه خلق دی چه ایمان راوړی او په توحید قائم پاتے شی او د شفاعت نه مراد د آخرت شفاعت دے او کهٔ په دنیا کښ شفاعت مراد وی نو بیا به د دے مطلب استغفار وی لکه چه حضرت ابن عباس رض فرمائی :۔ عن ابن عباس من قال لَا إِلَٰهَ إِلَّا الله وشفاعتهم الاستغفار (روح ج ۱۷ ص۳۳) قال ابن عباس هم اهل شهادة ان لَا إِلَٰهَ إِلَّا الله ...... والملٰئكة يشفعون غدا فی الآخرة كما فی صحيح مسلم وغيره وفی الدنيا ايضا فانهم يستغفرون للمؤمنين الخ (قرطبی ج ۱۱ ص۲۸۱)

۲۲ دا جواب شکوٰی په ټولو شقوتو متفرع ده یعنی فرښتے خو د الله باعزت لیکن عاجز او تابعدار مخلوق دے هغه خو د دے لائق نهٔ دے چه د کائنات په نظام کښ اختیار لرونکی شی یا د عبادت او رابللو مستحق شی بلکه د هغوئ کار خو هروخت د الله اطاعت او بندګئ کښ مشغول اُوسیدل دی۔ لیکن بفرض محال کهٔ چرے دوئ نه څوک د اُلوهیت دعوٰی اُوکړی او د خپل عبادت او رابللو طرف ته دعوت شروع کړی نو مونږ به هغوئ هرګز معاف نهٔ کړو بلکه د جهنم په سخت عذاب کښ به ئے مبتلاء کړو چه د ظالمانو او باغیانو سزاء ده۔

أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ

او آیا اُونهٔ لیدل دے انکار کوونکو چه اسمان

وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا ۖ

او زمکه تړله بند وو بیا موږ پرانستل دا دواړه وما

وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ

او پیدا کړل موږ د اُوبو نه هر یو ژوندے (چه په هغې کښې)

حَيٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾ وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ

روح دے بیا ولے دوئی یقین نهٔ کوی ف. او کیښودل موږ په زمکه کښې

رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِهِمْ وَجَعَلْنَا فِيهَا

غرونه دیر درانهٔ چه چرته په دوئی اُوتهٔ خوزیږی او جوړے کړے موږ په دے کښې

فِجَاجًا سُبُلًا لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٣١﴾ وَ

فراخه لارے دے دپاره چه هغوئی لار بیا مومی ف۳۱ او

جَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا مَحْفُوظًا ۖ وَهُمْ

جوړ کړو موږ اسمان چت محفوظ او هغوئی

عَنْ آيَاتِهَا مُعْرِضُونَ ﴿٣٢﴾ وَهُوَ الَّذِي

د اسمان د نشانونه مخ اړه وونکی دی ف۳۲ او (الله) هغه دے چا چه

خَلَقَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ

پیدا کړه شپه او ورځ او نمر او سپوږمئ

كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ﴿٣٣﴾ وَمَا جَعَلْنَا

تول خپل خپل کوړ کښې ګرځی ف۳۳ او نهٔ دی ورکړی موږ

لِبَشَرٍ مِنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ ۖ أَفَإِنْ مِتَّ

یو انسان ته مخکښې ستا نه همیشه ژوندی پاتے کیدل تو بیا کهٔ چرسے تهٔ مړ شے ف۳۴

فَهُمُ الْخٰلِدُوْنَ ﴿۳۴﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ

نو هغوئ به پاتې شي ف هر ژوندی څکونکې دے

الْمَوْتِ ۗ وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ

د مرګ . او ازمایو موږ تاسو بدئ او نیکئ سره

فِتْنَةً ۗ وَاِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَاِذَا رَاٰكَ

ازمائیلو د پاره او خمونږ طرف ته به واپس راځئ او کله چه ته اُولیدے

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا

کافرانو ۳۵ نو هیڅ کار نشته د هغوئ ستا سوسره لیکن

هُزُوًا ۗ اَهٰذَا الَّذِيْ يَذْكُرُ اٰلِهَتَكُمْ ۚ

توقے کول آیا دا هغه سړے دے چه توم اخلی د معبودانو ستاسو

وَهُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمٰنِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۶﴾

او هغوئ د نوم د رحمٰن نه انکار کوونکی دی ف۶.

نکات: ۳۱ توحید باندے دریم دلیل عقلی ۱۲. ۳۲ زجر مشرکانو د پاره او د دریم سوال جواب دو یا ورکول ۱۲. ۳۳ زجر په مشرکانو باندے.

موضح قرآن ف۱ څله بند وو یعنی یو ځیز وو. ف۲ د زمکے نه ئے نهرونه او کانونه او سبزئ او د آسمان نه ئے خو مره ستوری د هر یو کوږ جُدا جُدا او چال جُدا جُدا او ژوندی ئے اوکرځول یعنی حیوانات د اُوبو نه یعنی د نُطفے نه. ف۳ د یو ملک خلق د بل ملک والا سره یو ځائے کیږی که چرے غرونه دا شان پیوست لګیدلی پراته وے چه لارے بند وے نو بیا دا خبره چرته وه. ف۴ د بچاؤ چت یعنی څوک هغه نه شی ماتولے او د هغے نمونے (نشانے) ستوری او سپوږمئ او شپه ورځ. ف۵ یعنی په خپله لاره روان دی د هغے نه نه لرے کیږی. ف۶ کافرانو به وئیل چه دے کسه پورے دے د دُنیا دهوم دهام که دے مړ شو بیا هیڅ نشته.

ف۷ نوم اخلی د بتانو یعنی بد بیانوی.

فتح الرحمٰن ف۱ د اسمان پرانستل د باران راتویه ول دی او د زمکے پرانستل د ګیاه او شینکی راتوکول دی ۱۲.

تفسیر: ۲۳ اَوَلَمْ یَرَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا ـــ تا ـــ کُلٌّ فِیْ فَلَکٍ یَّسْبَحُوْنَ دا په توحید باندے دریم دلیل عقلي دے. کَانَتَا رَتْقًا یعنې زمکه او اسمان موجود نه وو بلکه د عدم په حالت کښې وو. فَفَتَقْنٰهُمَا، تو مونږ هغه ابتداءً پیدا کړل. فمعنی الایة الم یعلموا ان السمٰوٰت والارض کانتا معدومتین فاوجدناهُمَا (روح ج ۱۷ صـ ۳۲) زمکه او اسمان د عالم نیست نه عالم وجود ته راوړل په زمکه کښې د غرونو او لویو لویو لارو پیدا کول اسمانونه بغیر د ستنونه اودرول. د ورځے او شپے او نمر سپوږمۍ پیدا ئش. غرض دا چه ټول د نمر نظام چه په کوم تکنیک او کمالِ صنعت سره پیدا کړے شوے دے او د نظام شمسي د ټولو احوالو او کوائفو موزونیت د الله تعالیٰ په توحید باندے اتهل دلیل عقلي دے. ۲۴ دا د مشرکانو د پاره زجر او د دریم سوال په جواب کښې اعاده (د دویم جواب) دے. کُلُّ نَفْسٍ الخ دا د ماقبل د پاره دلیل او برهان دے. ۲۵ دا په مشرکانو باندے زجر دے چه نبي علیه السلام ته به ئے کتل نو په هغوئ پورے به ئے مسخرے کولے او په سپکه لهجه کښې به ئے وئیل دا هغه دے چه ستاسو د معبودانو توهین او سپکاوے کوي او بے ادبي کوي. وَهُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمٰنِ هُمْ كٰفِرُوْنَ، د خدائے پیغمبر د هغوئ د دروغو معبودان نه منی او صفا اعلان کوي چه هغوئ حاجت روا او مشکل کشا، غیب دان، متصرف او کارساز نه وي. لیکن دا ظالمان د رحمٰن خدائے نه انکار کوي.

خُلِقَ الْاِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ ؕ سَاُورِیْكُمْ

جوړ شوے دے انسان بے صبره ۲۶ اوس بیا ئم تاسو ته

اٰیٰتِیْ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿۳۷﴾ وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰی

خپلے نشانے نو تلوار مه کوئ مخما نه او وائي کله به وي

هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۳۸﴾

دا وعده کله که چرے تاسو رښتوني یئ.

لَوْ یَعْلَمُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا حِیْنَ

که چرے پوهه شي انکار کوونکي هغه وخت باندے

لَا يَكُفُّونَ عَنْ وُجُوهِهِمُ النَّارَ وَلَا
نۀ به شي منع کولے د مخونو خپلونه اور او نۀ
عَنْ ظُهُورِهِمْ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿٣٩﴾ بَلْ
د شاګانو خپلونه او نۀ به هغوئ ته مدد ورسیږي هیڅ نۀ ده
تَأْتِيهِمْ بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ
هغه به راځي دوئ ته ناڅاپه بیا د هغوئ نو عقل به ضائع کړي بیا به نۀ شي واپس کولے
رَدَّهَا وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدِ
هغه او نۀ به هغوئ ته مهلت ورکولے شي. او بے شکه
اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ
ټوقے شوې دي په رسولانو پورے ستا نه مخکښ بیا واپس نازل شو
بِالَّذِينَ سَخِرُوا مِنْهُمْ مَا كَانُوا
په ټوقو کوونکو باندے د هغوئ نه هغه څیز چه به کوم څیز پورے
بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٤١﴾ قُلْ مَنْ يَكْلَؤُكُمْ ع
هغوئ ټوقے کولے دا. او اوایه څوک حفاظت کوي ستا سو
بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمٰنِ بَلْ
په شپه کښ او په ورځ کښ د رحمٰن نه هیڅوک نشته
هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُعْرِضُونَ ﴿٤٢﴾ أَمْ
هغوئ د ذکر د رب خپل نه مخ ګرځوي یا
لَهُمْ آلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِنْ دُونِنَا لَا
د هغوئ د پاره څوک معبودان دي چه حفاظت کوي د هغوئ سیوا زمونږ نه نۀ شي
يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَ أَنْفُسِهِمْ وَلَا هُمْ مِنَّا
کولے هغوئ مدد خپل او نۀ به هغوئ سره زمونږ

يُصۡحَبُوۡنَ ﴿۴۳﴾ بَلۡ مَتَّعۡنَا هٰٓـؤُلَآءِ وَ
ملګرتیا وی. هیڅوک نشته بیا مونږ بسه ژوند ورکړو هغوئ ته او
اٰبَآءَهُمۡ حَتّٰی طَالَ عَلَیۡهِمُ الۡعُمُرُؕ اَفَلَا
او د هغوئ پلارانو او نیکونو ته تر دیوې چه زیات شول د هغوئ عمرونه بیا دوئ
یَرَوۡنَ اَنَّا نَاۡتِی الۡاَرۡضَ نَنۡقُصُهَا مِنۡ
نه ګوری ته چه مونږ زمکه کموؤ د
اَطۡرَافِهَاؕ اَفَهُمُ الۡغٰلِبُوۡنَ ﴿۴۴﴾
طرفونو د هغے نه ایا اوس هغوئ غلبه حاصلوونکی دی. ف۲ ف۲

نکات: ۱ شکوی ۱۲. ۲ تسلی د پاره د نبی علیه السلام ۱۲. ۳ تخویف دنیوی ۱۲. ۴ زجر ۱۲. ۵ تخویف ۱۲.

موضح قرآن ف۱ یعنی په کوم څیز پورے چه ټوقے کولے د هغے جزاء هغوئ را ګیر کړل ۱۲ ف۲ مونږ کمونکی یو یعنی د عربو په ملک کښې مسلمانان خوریږی کفر په کمیدلو (ختمیدلو) دے.

فتح الرحمٰن ف۱ او داګنا یه ده د تلوار غالب کیدلو ته په انسان ۱۲ ف۲ په اسلام راوړلو د اسلم او غفار (قبیلو) د هجرت نه مخکښې ۱۲.

تفسیر: ۲۶ زجر دے انسان څومره تلوار کوونکے دے چه د دا سے واضح دلیلونو با وجود د توحید منلو په ځائے د شرک طرف ته منډے وهی.
سَاُورِیۡکُمۡ اٰیٰتِیۡ الخ تخویف دُنیوی.
۲۷ شکوی لَوۡ یَعۡلَمُ الَّذِیۡنَ ــ تا ــ وَلَا هُمۡ یُنۡظَرُوۡنَ، جواب شکوی سره د تخویف اخروی نه مشرکان د منلو په ځائے د عذاب مطالبه کوی لیکن ناپوهو ته پته نشته کله چه د الله عذاب راځی نو هغوئ به خپل ځانونه هرګز بچ نه کړے شی. فَتَبۡهَتُهُمۡ د هغوئ حواس به کار نه ورکوی او حیران او پریشان به ئے کړی. قال الفراء (فَتَبۡهَتُهُمۡ) ای تحیرهم (قرطبی ج۱۱ ص۲۹۱)
۲۸ نبی علیه السلام ته تسلی ده یعنی تاسو د مشرکانو د استهزاء او ټوقو سره مه خفه کیږئ د دے بدکردار خلق همیشه د الله پیغمبرانو سره هم دا طریقه راروانه ده لیکن اخر کار هغوئ ته د خپلے د بد کردارئ سخته سزا ملاؤ شوه هغوئ په دُنیا کښې ذلیل او رسوا شول ستا سو د دُشمنانو به

هم دا حال او انجام وی. ۲۹ دا تخویف دنیوی دے شپه او ورځ کښې د راتلونکو
مصیبتونو نه الله تاسو محفوظ ساتی که چرے هغه اوغواړی نو ستاسو د انکار
او عناد په وجه به تاسو سمدستی اونیسی. بَلْ هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُّعْرِضُوْنَ.
زجر دے. اَمْ لَهُمْ اٰلِهَةٌ. دا هم زجر دے وشے فرمائیل شپه او ورځ کښې د
زمانے د حوادثو نه هغوئ د الله نه سیوا څوک بچ ساتی؟ ایا د الله تعالیٰ نه
سیوا د دوئ باطل معبودان د دوئ حفاظت کولے شی؟ هرگز دا سے نه ده
ځکه چه هغوئ پخپله د خپل امداد کولو نه هم عاجز دی.
۳۰ ه تخویف دنیوی. ایا مشرکان پخپلو سترگو نه وینی چه مونږ د هغوئ
مقبوضه علاقے د هغوئ نه اخلو د مسلمانانو په قبضه کښې ئے ورکوو او
هغوئ ورباندے مسلط کوو؟ ولے اوس هم د هغوئ امید دے چه هغوئ به
په مسلمانانو باندے غلبه بیا مومی؟ افلا یری هؤلاء المشرکون اثار
قدرتنا فی اتیان الارض من جوانبها باخذ الواحد بعد الواحد و فتح البلاد
والقری مما حول مکة وادخالها فی ملك محمد صلی الله علیه وسلم
(خازن ج ۴ ص ۲۴۰)

قُلْ اِنَّمَآ اُنْذِرُكُمْ بِالْوَحْيِ ۖ وَلَا يَسْمَعُ
ته اووایه ۳۱ ه زه چه ویروم تاسو نو د حکم مطابق او نه اوری

الصُّمُّ الدُّعَآءَ اِذَا مَا يُنْذَرُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَ
کاڼه رابلل کله چه څوک هغوئ ته د ویرے خبرے واوروی. او

لَئِنْ مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ
اوچرته چه اورسیږی هغوئ ته یو لوگے د عذاب

رَبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا
د رب ستا نو ضرور به وائی افسوس څوتږ بدبختی ده بیشکه وو مونږ

ظٰلِمِيْنَ ﴿۴۶﴾ وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ
گناهگار او کیږدو مونږ به تله کښې انصاف ۳۲ ه

لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا

په ورځ د قیامت بیا به ظلم نهٔ وی په یو ژوندی باندې یوه ذره

وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ

او کهٔ چرې وی برابر د یوې دانې د اوړی

أَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ﴿۴۷﴾ وَلَقَدْ

نو موږ به راؤړو هغه او کافی یو موږ حساب کولو د پاره ف او

آتَيْنَا مُوسٰى وَهٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ وَضِيَاءً

ورکړې وو موږ ۳۳ موسٰی او هارون ته د مقدمې فیصله کوونکې کتاب او رڼا

وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۸﴾ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ

او نصیحت ویریدونکو د پاره څوک چه ویریږی

رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ مِّنَ السَّاعَةِ

د رب خپل نه بغیر د لیدلو نه او هغوئی د قیامت نه

مُشْفِقُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ

ویره لری. او دا یو نصیحت دې ۳۳ د برکت

أَنْزَلْنٰهُ ۚ أَفَأَنْتُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿۵۰﴾ ع

چه نازل کړې موږ نو آیا تاسو دا نهٔ منئ.

نکات: ۱- تخویف اُخروی ۱۲. ۲- اوّلنی تفصیلی دلیل ۱۲ ۳- ترغیب الی القرآن ۱۲.

موضح قرآن ف یعنی کهٔ چرې د چا عمل دومره لږ هم وی نو هغه به هم موږ تلو.

تفسیر: ۳۱ مشرکان د عذاب او قیامت د زر راتللو مطالبه کوی تاسو ورته اووایئ چه زهٔ د وحی په ذریعه د دغه عذاب او قیامت نه تاسو ویروم دې د پاره چه تاسو د هغې د پاره څهٔ تیاری اوکړئ. لیکن دا خلق داسې کاڼهٔ کړې شوی دی چه کله هغوئی د الله د عذاب نه او د قیامت د سختو تکلیفو نه

ویره ولے شی نو هغوئ ډ داعی آواز نهٔ اوری. وَلَىِٕنۡ مَّسَّتۡهُمۡ، لیکن هغوئ
چه کله په عذاب موعود کښ مبتلاء کیږی نو چغے وهی اے کاش ظالمان خو
مونږ وو. اوس د خپل قصور اعتراف کوی لیکن بے فائده ے. اخبر تعالی انّ
هٰؤلاء الذین صمّوا عن سماع ما انذروا به اذا نالهم شئ مما انذروا به ولو کان
یسیرا نادوا بالهلاك واقرّوا بانهم کانوا ظٰلمین (بحر ج ۶ ص ۳۱۶)
۳۲ دا تخویف اخروی دے. ۳۳ دے ځائے نه د دلائیل نقلیه تفصیلی
بیان شروع کیږی. د دے دلائیلو حاصل دا دے چه بیشکه د دے انبیاء
علیهم السلام نه د عادت خلاف کارونه ظاهریدل لیکن هغوئ متصرّف
په امورو کښ نهٔ وو او نهٔ د هغوئ په قبضه قدرت کښ څهٔ وو. دا اولنے
تفصیلی دلیل نقلی دے. حضرت موسیٰ او حضرت هارون علیهما السلام سره
یعنی مونږ موسیٰ او هارون ته چه کوم کتاب (تورات) ورکړے وو په هغے کښ
د حق او باطل او توحید او شرک واضح فرق وی او هغه کتاب د توحید د نور
او د هدایت د ذکر نه ډک وو. د هغه کتاب دعوی هم دا وه چه د الله تعالیٰ نه
سیوا څوک د عبادت او را بللو لائق نشته د دے وجے نه صرف الله تعالیٰ ته
آواز کوئ او هم دا د قرآن دعوی ده د دے وجے نه را څخکښ تئ او دا اومنئ.
د ضیاء او ذکر نه مراد تورات دے یا د فرقان نه مراد معجزات دی والاول
ارجح. ۳۴ ترغیب الی القرآن دے دا برکت والا ذکر یعنی قرآن هم هغه د
توحید دعوی پیش کوی کومه چه تیر شوو کتابونو پیش کړه بیا د هغے نه
انکار ولے کوئ.؟

وَلَقَدۡ اٰتَیۡنَاۤ اِبۡرٰهِیۡمَ رُشۡدَهٗ مِنۡ

او ورکړے وه مونږ ابراهیم ته د هغه نیکه لار ۳۵

قَبۡلُ وَکُنَّا بِهٖ عٰلِمِیۡنَ ﴿۵۱﴾ اِذۡ قَالَ لِاَبِیۡهِ

مخکښ او مونږ ته د هغے علم دے کله چه اوئیل هغهٔ پلار خپل ته ۳۶

وَقَوۡمِهٖ مَا هٰذِهِ التَّمَاثِیۡلُ الَّتِیۡۤ

او قوم ته دا څنګه بتان دی چه د هغوئ

اَنۡتُمۡ لَهَا عٰکِفُوۡنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوۡا وَجَدۡنَاۤ

تاسو منجوران ناست یئ ورته وے وئیل مونږ موندلی دی

اٰبَآءَنَا لَهَا عٰبِدِيْنَ ﴿۵۳﴾ قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ
خپل پلاران او نیکونه ددې عبادت به ئې کولو. وے وئیل وئ تاسو
اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۵۴﴾
او ستاسو پلاران او نیکونه په ګمراهئ ښکاره کښې.
قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ مِنَ
وے وئیل ایا راوړے دې تا مونږ ته حقه خبره یا ته ئې
اللّٰعِبِيْنَ ﴿۵۵﴾ قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ
لوبے کوونکے. وے وئیل اسے نه ده بلکه رب ستاسو هغه دے چه رب دے
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الَّذِيْ فَطَرَهُنَّ ۖ
د اسمانونو او د زمکے چه هغه دا پیدا کړی دی
وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۵۶﴾
او زه د دے خبرے ګواه (قائیل یم)
وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ
او قسم په الله زه به علاج کوم ستاسو د بتانو کله چه تاسو
اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿۵۷﴾ فَجَعَلَهُمْ
لاړشئ واپس شاګرځوونکی نو بیا ئې هغه
جُذٰذًا اِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ
ټوټے ټوټے کړل لیکن پریښودے د هغوئ چه کیدے شی د هغه طرف ته
يَرْجِعُوْنَ ﴿۵۸﴾ قَالُوْا مَنْ فَعَلَ هٰذَا
رجوع اوکړی دا وے وئیل چا دا اوکړو دا کار
بِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۹﴾ قَالُوْا
ځمونږ د معبودانو سره هغه خو خوک بے انصاف دے. هغوئ اووئیل

سَمِعۡنَا فَتًى يَّذۡكُرُهُمۡ يُقَالُ لَهٗۤ

اورېدلی دی مونږ یو ځوان بتانو ته ځه وائی ویلې شي هغۀ ته

اِبۡرٰهِيۡمُ ﴿۶۰﴾ قَالُوۡا فَاۡتُوۡا بِهٖ عَلٰۤى اَعۡيُنِ

ابراهیم هغوئی اُوئیل راولئی هغه په مخکښ ۳۶

النَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡهَدُوۡنَ ﴿۶۱﴾

د خلقو شائد چه هغوئی ئې اُوینی

نکات: سلے دویم دلیل نقلی ۱۲

موضح قرآن ف داعلاج کول هغۀ دځان سره پټ اُوئیل بیا چه کله هغوئی د ښار نه بهر لاړل یوے قبیلے ته نو دغه بُت خانے ته لاړو ټول ئې مات کړل.

تفسیر: ۳۵ دویم دلیل نقلی تفصیلی حضرت ابراهیم علیه السلام سره. ابراهیم علیه السلام ته د هدایت لاره مونږ ښودلے وه. وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيۡنَ، او صرف مونږ ته د هغې علم وو یعنی اُوګورئ حضرت ابراهیم علیه السلام چه جدّ الانبیاء دے هغه هم خپل پلار او خپل قوم د غیر الله د رابللو او عبادت نه منع کولو. مِنۡ قَبۡلُ، دا ظرف مبنی علی الضم دے د دۀ مضاف الیه محذوف منوی دے ای مِنۡ قبل النبوة (بحر ج ۶ ص ۳۲۰)

۳۶ اِذۡ قَالُوۡا مؤخر سره متعلق دے او اُذکر مقدر منلو ضرورت نشته. التَّمَاثِيۡلُ، د تمثال جمع ده هغه مصنوعی څیز ته وئیلے شی چه د الله تعالیٰ د یو پیدا شوی څیز مشابه جوړ کړے شی. مشرکانو د انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرامو د ستورو د شکلونو په شان بُتان جوړ کړی وو او په خانه کعبه کښ ئې اُودرولی وو د هغوئی طرف ته ئې اشاره اُوکړه حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل قوم نه تپوس اُوکړو چه دا بُتان څنګه دی د کوم چه تاسو عبادت کوئ.
التمثال موضوع للشیء المصنوع مشبهًا بخلق من خلق الله (قرطبی ج ۱۱ ص ۲۹۶)
ان القوم کانوا عباد اصنام علی صور مخصوصة کصورة الانسان او غیره الخ (کبیر ج ۶ ص ۱۶۰) وکانت علی ما قیل صور الرجال یعتقدون فیهم وقد انقرضوا وقیل کانت صور الکواکب صنعوها جسمًا تخیلوا (روح ج ۱۷ ص ۵۹) حضرت ابراهیم علیه السلام دے سوال کولو سره دا معلومول مقصد وو چه مشرکان د کومے شبهے په وجه د دے بتانو په عبادت کولو کښ مشغول شوی دی او

چه کله هغوئ اقرار اُوکړی چه د پلرونو او نیکونو د تقلید نه کولو نه علاوه هغوئ سره بل کوم دلیل نشته نو هغوئ ته به دا موقع ملاؤشی چه ستاسو دا کار ټوله گمراهي ده. ۳۷ مشرکانو صفا اعلان اُوکړو چه هغوئ سره هیڅ یو دلیل نشته صرف هغوئ خپل پلار نیکهٔ د دے بتانو عبادت کوونکی لیدلی دی د دے وجے نه دوئ هم د هغوئ ړوند تقلید کوی او دا شان کار کوی ۳۸ حضرت ابراهیم علیه السلام اُوفرمائیل تاسو او ستاسو پلاران او نیکونه په ښکاره گمراهئ کښ وو. ځکه چه ستاسو سره یو معقول دلیل نشته تاسو خالص د خواهش نفسانی او شیطانی فریب تابعداری کړیده.
۳۹ د حضرت ابراهیم علیه السلام جواب اُوریدلو سره د قوم مشرکانو اُوئیل تاسو ریښتیا وایئ یا هسے ټوقے کوئ. قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ الخ ابراهیم علیه السلام جواب ورکړو ټوقے نهٔ دی بلکه حقیقت دے چه د غیر الله د عبادت او رابللو په وجے سره تاسو هم گمراه یئ او ستاسو پلاران او نیکونه هم گمراه وو. تاسو چه چا ته اوازکوئ هغه عاجز او بے وسه دی او متصرف او کارساز او مختار نهٔ دی مالک او مختار او متصرف او کارساز خو الله تعالیٰ دے چه د ټول کائنات خالق او مالک دے لهذا د عبادت او رابللو مستحق هم صرف هغه دے بل څوک نهٔ دے او دِ دے دعوے باندے ځما سره دلیل او حجت موجود دے او زهٔ چه کوم څهٔ وائم هغه حجت او دلیل سره وایم. المعنی ابین بالدلیل ما اقول (قرطبی). ۴۰ وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ الخ حضرت خلیل الله علیه السلام محسوس کړه چه قوم د دے قوی او مضبوط عقلی دلیل نه څهٔ اثر وانهٔ خستو نو اُوس یو ډیر مؤثر او محسوس طریقے سره د هغوئ د باطلو معبودانو د بے چارگئ او کمزورئ واضح کولو د پاره ئے یو نوے منصوبه جوړه کړه نو په زړهٔ کښ ئے فیصله اُوکړه چه تاسو خپلے میلے ته لاړشئ بیا به گتلے شی چه زهٔ ستاسو د معبودانو سره څهٔ حشر کوم. فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا کله چه مشرکان خپل د خوشحالئ یو میله کښ شرکت کولو د پاره د ښار نه بهر ته لاړل نو حضرت ابراهیم علیه السلام ټول بتان ټکړے ټکړے کړل. لیکن د ټولو نه لوئے بُت ئے پریښودو او تبر ئے د هغهٔ په اُوږه کیښودو دِ دے د پاره چه کله مشرکان واپس راشی ټول واقعات اُوینی نو د مشر بُت نه به تپوس اُوکړی چه حضرت داڅهٔ واقعات دی چه دا ټول مات پراتهٔ دی لیکن یو تهٔ صحیح سلامت ولاړئے او تبر ستاسو په اُوږو پروت دے. المعنی یرجعون الیه کما یرجع الی العالم فی حل المشکلات فیقولون ما لهؤلاء مسکورۃ و مالك صحیحًا والفاس علی عاتقك (کبیر ج ۶ ص ۱۲۲) دینه مقصد اتمام حجت وو.
۴۱ قَالُوْا مَنْ فَعَلَ الخ مشرکان چه کله د اختر (خوشحالئ) کولو نه روستو

واپس راغلل نو د قاعدے موافق د خپلو معبودانو ته راتهٔ سجود پیش کولو د پاره عبادت خانے ته داخل شول نو معبودان ئے په ډیر بد حالت کښې اولیدل سخت غصه شول او وے وئیل څوک د معبودانو سره دا حرکت چا کړے دے هغه خو ډیر لوئے ظلم کړے دے. ۴۲ قَالُوْا سَمِعْنَا الخ هغوئی کښې څو اُوئیل چه ابراهیم نومے یو ځوان دے چه هغهٔ د دوئی ذکر کولو دا حرکت د هغهٔ معلومیږی حضرت شیخ قدس سرهٔ اُو فرمائیل چه د یَذْکُرُهُمْ مطلب دا دے چه یو ځوان چه نوم ئے ابراهیم دے هغه هر وخت څمونږ دے معبودانو پسے لګیدلے وی او د دوئی سپکاوے کوی او همیشه وائی چه دا د عبادت او رابللو لائق نهٔ دی او نهٔ د نفع او نقصان مالکان دی د دے وجے نه اندازه داده چه ټول هر څهٔ به هغهٔ کړے وی ډیرو مفسرینو دیته ترجیح ورکړیده. (سمعنا فتی یذکرهم) یعیبهم فلعله الذی فعل ذلك بهم (روح ج ۱۷ ص ۶۳)
۴۳ قَالُوْا فَأْتُوْا الخ اُوس مشرکانو اُوئیل تو بیا خو هغه (ابراهیم) د خلقو مخکښې راولئ دِے د پاره چه خلق ئے خپلو سترګو سره اُوینی چه مونږ هغهٔ ته څومره عبرتناکه سزا ورکوو. ای یحضرون عقوبتنا له (مدارك ص ۶۳ ج ۳) یا مطلب دا دے چه ابراهیم د عامو خلقو په مخکښې حاضر کړئ دِے د پاره چه ځنی نور خلق هم د هغهٔ خلاف شهادت ورکړی. انهم کرهوا ان یاخذوه بغیر بینة فارادوا ان یجیئوا به علی اعین الناس لعلهم یشهدون علیه بما قال فیکون حجة علیه بما فعل وهذا اقوال الحسن وقتادة والسدی وعطاء وابن عباس رض (کبیر ج ۶ ص ۱۶۳) د حضرت ابراهیم علیه السلام د دے واقعے نه هم دا مقصد وو چه کله دا معامله د دے بتانو د ټولو عبادت کوونکو په علم کښې راشی او د هغه ټولو په مخکښې پیش کړے شی نو هغه وخت به ابراهیم علیه السلام د هغوئی جهالت او بے وقوفی ظاهر کړی او د هغوئی په مخکښې به ښکاره په ښکاره د هغوئی د معبودانو د بے چارګئ او بے وسئ اظهار اُوکړی او د دے حقیقت اعلان به اُوکړی چه کوم معبودان تاسو حاجت روا، مشکل کشا، نافع او ضار ګڼړئ د هغوئی د عاجزئ خو دا حال دے چه د خپلو ځانو نه هم د ضرر دفع کولو قدرت نهٔ لری د دے وجے نه هغوئی تاسو ته د څهٔ فائدے او نقصان رسولو هم قدرت نهٔ لری.
(فأتوا به علی اعین الناس) ای علی رؤس الاشهاد فی الملاء الاکبر بحضرة الناس کلهم لکان هذا هو المقصود الاکبر لابراهیم علیه السلام ان یبین فی هذا المحفل العظیم کثرة جهلهم وقلة عقلهم فی عبادة هذه الاصنام التی لا تدفع عن نفسها ضرا ولا تملك لها نصرا فکیف یطلب منها شیء من ذالك (ابن کثیر ج ۳ ص ۱۸۲)

قَالُوْٓا ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا

وې وئیل ایا تا کړے دے دا کار محمونږ د معبودانو سره

يٰٓاِبْرٰهِيْمُ ﴿۶۲﴾ قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ كَبِيْرُهُمْ

اے ابراهیم وے وئیل داسے نۀ ده بلکه کړے دے د دوئي دے لوئے (مشر)

هٰذَا فَسْـَٔلُوْهُمْ اِنْ كَانُوْا يَنْطِقُوْنَ ﴿۶۳﴾

دا نو تپوس اُوکړئ د هغوئي نه که چرے هغوئي خبرے کوی

فَرَجَعُوْٓا اِلٰٓى اَنْفُسِهِمْ فَقَالُوْٓا اِنَّكُمْ

بیائے سوچ اُوکړو ځانونو خپلو سره بیائے اُوئیل خلقو

اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۶۴﴾ ثُمَّ نُكِسُوْا عَلٰى

تاسو ظالمان یئي ولا . بیا راندا شول او

رُءُوْسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هٰٓؤُلَآءِ

سرونه ئے ښکته کړل ولا تا ته خو پته ده چه دوئي

يَنْطِقُوْنَ ﴿۶۵﴾ قَالَ اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ

خبرے کوی وے وئیل بیا عبادت کوئي تاسو سیوا د

اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَّلَا يَضُرُّكُمْ ﴿۶۶﴾

الله نه د هغه چا چه نۀ ښۀ کوی ستاسو سره او نۀ بد

اُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

زۀ بیزار یم ستاسو نه او تاسو چه د چا عبادت کوئي سیوا د الله تعالیٰ نه

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾ قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَانْصُرُوْٓا

ایا تاسو نۀ پوهیږئ وے وئیل هغه اُوسیزئ او مدد اُوکړئ

اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ﴿۶۸﴾ قُلْنَا

د معبودانو خپلو که څۀ کوئي ولا اُوئیل مونږ

يٰنَارُ كُوْنِيْ بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿۶۹﴾

اے اور ه يخ شه او آرام شه په ابراهيم باندے

وَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ ﴿۷۰﴾

او وے غوښتل هغوئ سره بدکول بیا مونږ واچول هغوئ په نقصان کښې.

نکات: ۱ـــ دَ دینه مخکښې اند ماج دے ای فَاْتُوْا بِهٖ الخ ۱۲.

موضح قرآن ف پوهه شول چه دَ کانړو عبادت کولو څهٔ حاصل.

فتح الرحمٰن ف۱ـــ یعني دا کنایه ده دَ ملزم کیدلو نه ۱۲.
ف۲ـــ په اور کښې ئے واچولو ۱۲.

۴۲ قَالُوْٓا ءَاَنْتَ الخ دَ دینه مخکښې اند ماج دے ای فَاْتُوْا بِهٖ یعني هغوئ حضرت ابراهیم علیه السلام عام مجلس ته حاضر کړو او هغهٔ نه ئے تپوس اوکړو اے ابراهیم! آیا تا زمونږ دَ خدایانو سره څهٔ کړی دی؟ دَ دے سوال مقصد دا وو چه هغه به دَ دے فعل اقرار اوکړی نو هغهٔ ته به دَ خپلے خوښے سزا ورکړی لیکن دَ هغوئ مقصد پوره نهٔ شو او معامله په عکس شوه او الټه په خپله خوار او ذلیل شول. (من الکبیر).

۴۵ قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ الخ لفظ بَلْ اضراب دَ پاره دے چه دَ ما قبل خلاف دَ یو بل نوے خبرے بیانولو دَ پاره راوړلے شي نو دَ دینه په ظاهر دا معلومیږی چه حضرت ابراهیم علیه السلام دَ مشرکانو دَ سوال په جواب کښې دَ بتانو دَ ماتولو فعل نه انکار اوکړو او دا فعل ئے دَ هغوئ لوئے بت طرف ته منسوب کړو ظاهره ده چه دا دَ دروغو صورت دے چه نسبت ئے انبیاء علیهم السلام ته محال دے. دَ دے ډیر جوابونه ورکړے شوی دی چه تفسیر روح المعانی کښې تفصیل سره ذکر شوی دی. حضرت شیخ قدس سره اوفرمائیل چه بَلْ فَعَلَهٗ کښې دَ تکلم نه غیبت ته التفات دے او دَ دهٔ فاعل مقدر دے په اصل کښې فَعَلَهٗ مَنْ فَعَلَهٗ وو یعني چا چه دا کار کړیدے نو هغهٔ دا اوکړو دا ستاسو لوئے بت دلته موجود دے تاسو دَ خپلو معبودانو نه تپوس اوکړئ چه هغوئ سره دا واقعات چا کړی دی نو حضرت ابراهیم دَ دے فعل نه انکار اونهٔ کړو بلکه یو لطیف او کنائی انداز کښې ئے هغه تسلیم کړو. امام رازی دَ دے توجیه دا سے بیان کړیده ورابعها انه کنایة عن غیر مذکور ای فعله من فعله وکبیرهم هذا ابتداء الکلام ویروی عن الکسائی انه کان یقف عند قوله بل فعله ثم یبتدی کبیرهم هذا (کبیر ج ۶ ص ۱۶۳).

۴۶ فَرَجَعُوْٓا اِلٰٓی اَنْفُسِهِمْ الخ دَ حضرت ابراهیم علیه السلام جواب اوریدلو سره دَ مشرکانو عقل ځائے له راغے او هغوئ ته خبر ورکړے شو چه دَ دے غیر ناطق (نهٔ خبرے کوونکو) جمادات عبادت کولو سره هغوئ په خپلو ځانونو باندے ظلم کوی نو چه څوک دومره عاجز او بے وسه وی چه دَ خپل ځان حفاظت هم نهٔ شی کولے نو هغه به دَ نورو څهٔ په کار راشی. (اِنَّكُمْ اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ) ای بعبادة من لاینطق بلفظة ولا یملك لنفسه لحظة وکیف ینفع عابدیه ویدفع عنهم البأس من لا یرفع عن راسه الفاس (قرطبی ج ۱۱ ص ۳۰۲). ۴۷ ثُمَّ نُكِسُوْا الخ لیکن دَ شیطان خائسته کولو او گمراه کولو سره هغوئ بیا په بد بختئ او شقاوت کښ راگیر شول او دَ مهر جبّاریت دَ وجے نه هغوئ دَ خپل کفر او شرک مخکنی حالت طرف ته فوراً واپس شول قال اهل التفسیر اجری الله تعالٰی الحق علی لسانهم فی القول الاوّل ثم ادرکتهم الشقاوة ای رُدوا الی الکفر بعد ان اقروا علی انفسهم بالظلم (مدارك ج ۳ ص ۷۶) او حضرت ابراهیم علیه السلام ته ئے اُوئیل چه تا ته خو معلومه ده او مونږ هم پوهیږو چه دا معبودان دَ خبرو طاقت نهٔ لری لیکن دَ دے باوجود هم مونږ دوئ خپل معبودان گنړو. لا یخفی علینا وعلیك ایها المبکت انها لا تنطق کذلك وانا انما اتخذناها الهة مع العلم بالوصف (روح ج ۱۷ ص ۶۷). ۴۸ قَالَ اَفَتَعْبُدُوْنَ الخ کله چه مشرکانو دَ خپلو معبودانو دَ کمزورئ او بے وسئ اقرار اُوکړو نو حضرت ابراهیم علیه السلام دَ هغوئ فکر او عقل راویښ کړو وے فرمائیل کله چه تاسو ته معلومه ده چه دا عاجز معبودان تاسو ته دَ نفع او نقصان رسولو طاقت نهٔ لری نو بیا تاسو دَ الله نه سیوا دَ دوئ عبادت ولے کوئ لعنت دِ وی په تاسو باندے او ستاسو دَ فعل شرک باندے تاسو دَ داسے ښکاره بے وقوفئ فعل قباحت باندے هم نهٔ پوهیږئ. ۴۹ قَالُوْا حَرِّقُوْهُ الخ کله چه مشرکان دَ ابراهیم علیه السلام دَ مدلل ویناپه مخکښ چپ او لاجواب شول نو اُوس ئے نامناسب حرکتونه شروع کړل لکه چه دَ باطل پرستو دستور دے او خپل مینځ کښ ئے فیصله اوکړه چه ابراهیم دَ هغوئ دَ معبودانو توهین کړے دے او هغوئ ئے ذلیل او رسوا کړی دی دَ دے وجے نه دَ دے فعل سزا هغهٔ ته ورکول پکار دی او دَ هغهٔ سوزول او نخاوړے کول پکار دی. لما عجزوا عن الحاجة وضاقت بهم الحیل وهذا دیدن المبطل المحجوج اذ بهت بالحجة وکانت له قدرة یفزع الی المناصبة (روح ج ۱۷ ص ۶۸) وَانْصُرُوْٓا اٰلِهَتَكُمْ بتحریق ابراهیم لانه یسبها ویعیبها (قرطبی ج ۱۱ ص ۳۰۳).

۵۰ قُلْنَا یٰنَارُ الخ نمرود اتیا گزه اُوګد او شلویښت گزه پلنه چار دیواری

جوړه کړه او په هغې کښې ئے تر څلویښتو ورځو پورې لرګی راجمع کړل او هغې ته ئے اور اولګولو کله چه اور بله شو لمبې وهو تکې او بل شو او هر طرف ته د هغې لمبو د آسمان سره خبرې کولې نو حضرت ابراهیم علیه السلام په هغې کښې اوغورځولے شو. کله چه هغوئی د ابراهیم علیه السلام اور کښې د اچولو په تیارئ کښې مشغول وو هغه وخت د الله تعالیٰ خلیل (دوست) د ما سوی الله نه اعراض اوکړو د خپل مولیٰ او آقا سره په مناجات کښې (راز اونیاز کښې) مشغول وو عرض ئے کولو. اللهم انت الواحد فی السماء وانا الواحد فی الارض لیس احد یعبدك غیری حسبی الله ونعم الوکیل. په یو روایت کښې دا الفاظ هم دی. لا اله انت سبحنك رب العلمین لك الحمد ولك الملك لا شریك لك، دلته د الله تعالیٰ خلیل په اور کښې واچولے شو او هلته نه د الله حکم راورسید ویٰنَارُ کُونِیْ بَرْدًا وَّ سَلٰمًا عَلٰٓی اِبْرٰهِیْمَ. اے اوره یخ شه او ابراهیم علیه السلام د پاره سلامتی او ارام اوګرځه (قرطبی روح، بحر وغیره) نو د اور شعلے (لمبې) تیزیدے او فضا ئے خپلے روښنائی سره رڼا کوله لیکن هغې نه د ګرمئی او سوزولو خاصیت سلب کړے شو په هر څیز کښې الله تعالیٰ چه کوم خاصیت او تاثیر ایښے دے هغه د الله د حکم نه بغیر خپل اثر نه شی ظاهرولے اور کښې د سوزولو خاصیت دے او هغه سوزول کوی. لیکن د ابراهیم علیه السلام د اور نه د سوزولو صلاحیت سلب کړے شو او د هغې رڼا هم هغه شان باقی وه. قال الزمخشری فان قلت کیف بردت النار وهی النار قلت نزع الله عنها طبعها الذی طبعها علیه من الحر والاحراق وابقاها علی الاضاءة والاشراق والاشتعال کما کانت والله علی کل شیئ قدیر (بحر ج ۲ ص ۳۲۸) دا واقعه زبردست دلیل دے چه الله تعالیٰ نه سیوا څوک کارساز او متصرف او مختار نشته.

وَنَجَّیْنٰهُ وَلُوْطًا اِلَی الْاَرْضِ الَّتِیْ بٰرَکْنَا

او نجات ورکړو مونږ هغهٔ ته ﷺ او لوط ﷺ ته هغه زمکے طرفته چه برکت کیښودو مونږ

فِیْهَا لِلْعٰلَمِیْنَ ﴿۷۱﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ ط

په کوم کښې عالَم د پاره ؤ. او اوبښلو مونږ هغهٔ ته اسحٰق

وَیَعْقُوْبَ نَافِلَةً ط وَکُلًّا جَعَلْنَا صٰلِحِیْنَ ﴿۷۲﴾

او یعقوب مونږ ورکړو په انعام کښې او ټول اوګرځول مونږ نیک بخت ۏ ۞

وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا وَ

او ګرځولي مونږ هغوئي پيشوايان چه لاره ئے ښودله ځمونږ حکم سره او

اَوْحَيْنَآ اِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرٰتِ وَاِقَامَ

حکم مو ورکړو هغوئي ته د کولو د نيکئي او د اُودرېدلو

الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ ۚ وَكَانُوْا لَنَا

د مونځ او د ورکولو د زکوٰة او وو هغوئي مشغول ځمونږ

عٰبِدِيْنَ ﴿۷۳﴾ وَلُوْطًا اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا

په عبادت کښ. او لوط ته ورکړو مونږ حکم او پوهه ۵۴

وَّنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ كَانَتْ

او حفاظت سره اُوويستلو مونږ هغوئي د هغه کلي نه چه کول ئے

تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ

پليت کارونه هغوئي وو خلق

سَوْءٍ فٰسِقِيْنَ ﴿۷۴﴾ وَاَدْخَلْنٰهُ فِيْ رَحْمَتِنَا ۭ

ډير نافرمان او هغه واخستو مونږ په رحمت خپل کښ

اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۷۵﴾ وَنُوْحًا اِذْ نَادٰى ع ۵

هغه دے د نيک بختونه او نوح ۴۷ کله چه هغهٔ آواز اُوکړو ۵۵

مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَنَجَّيْنٰهُ وَ

د دينه مخکښ بيا قبوله کړه مونږ دعا د هغهٔ نو بچ کړو مونږ هغه او د

اَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۶﴾ وَنَصَرْنٰهُ

کور خلق د هغهٔ د غم لوئے نه او امداد هم اُوکړو د هغهٔ

مِنَ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۭ اِنَّهُمْ

په هغه خلقو باندے چه دروغ ئے ګڼړل آيا تونه ځمونږ بے شکه

كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۷۷﴾

هغوئ وو خلق ناکاره بیا مونږ ډوب کړل هغه ټول.

نکات: ۵۳ خلورم تفصیلي نقلي دلیل ۱۲.

موضح قرآن ف۱ یعني د شام زمکه چه په هغې کښې ډیره فراخي او آرام دے. ف۲ دُعا د خوئے د پاره وه او په انعام کښې ئے نوسے ورکړو.

فتح الرحمٰن ف۱ یعني زمکه د شام ۱۲.

تفسیر: ۵۱ وَنَجَّيْنٰهُ وَلُوْطًا الخ مونږ ابراهیم د اور نه بچ کړو هغهٔ پخپله نهٔ شو بچ کیدلے. وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ الخ او مونږ هغهٔ ته د اولاد نعمت ورکړو او اولاد ورکول هم خمونږ کار دے د بل چا په اختیار کښې نهٔ دے. وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً، ضمیر منصوب نه حضرت ابراهیم، لوط، اسحٰق او یعقوب علیهم السلام مراد دي یعني مونږ دا پیغمبران امامان (پیشوایان) جوړ کړل چه خمونږ د حکم مطابق صراط مستقیم طرف ته به ئے د خلقو لارښود نه کوله او هر وخت به د نیکئ نه مشغول اوسیدل د دے حاصل دا دے چه قُلْنَا يٰنَارُ كُوْنِيْ الخ د اور د بخولو حکم مونږ ورکړو. فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ، مشرکان مونږ رسوا کړل. وَوَهَبْنَا لَهٗ، ابراهیمؑ ته اولاد مونږ ورکړو. وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً د هدایت پیشوایان مونږ هغوئ اوګرځول. وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِمْ، د نیک کارونو حکم مونږ هغوئ ته ورکړو. وَكَانُوْا لَنَا عٰبِدِيْنَ، په مصیبتونو کښې هغوئ مونږ ته آواز کولو دا ټول کارونه مونږ اوکړل په دے کښې د هیچا اختیار نهٔ وو.

۵۲ وَلُوْطًا اٰتَيْنٰهُ الخ دا دریم تفصیلي نقلي دلیل دے. د لوط علیه السلام قوم کله چه د حضرت لوط علیه السلام د اصلاح او تبلیغ باوجود د خپل خباثت او بد عملئ نه منع نهٔ شول نو الله تعالیٰ په هغوئ باندے عذاب نازل کړو هغوئ ئے هلاک کړل او حضرت لوط علیه السلام باندے ایمان راوړونکي ئے بچ کړل او هغوئ ئے په خپل رحمت کښې داخل کړل. اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا وَّ نَجَّيْنٰهُ. وَاَدْخَلْنٰهُ فِيْ رَحْمَتِنَا، د مجرمانو هلاکول او تابعدار بچ کول خمونږ کار دے د بل هیچا دا طاقت نشته.

۵۳ وَنُوْحًا اِذْ نَادٰى الخ دا خلورم تفصیلي نقلي دلیل دے. اوګوره ئې د طوفان په وخت نوح علیه السلام هم مونږ ته آواز اوکړو نو مونږ د هغه سخت هیبتناک طوفان نه هغهٔ ته او د هغهٔ مؤمنانو ملګرو ته خلاصے

ورکړو او د ظالمانو ظلم کوونکو مشرکانو د شر او فساد، تکلیف او ضرر نه هم
هغوئ ته نجات ورکړو او ظالم فاسق قوم مونږ غرق کړو. فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ، د
هغهٔ دُعا مونږ قبوله کړه. فَنَجَّيْنٰهُ، د عذاب نه مونږ هغوئ بچ کړل.
وَنَصَرْنٰهُ او مونږ هغوئ په مشرکانو غالب کړل. فَاَغْرَقْنٰهُمْ، او مشرکان
مونږ غرق کړل.

وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ اِذْ يَحْكُمٰنِ فِى الْحَرْثِ

او داؤد او سلیمان ؑ کله چه هغوئ فیصله کوله جهګړه د فصل

اِذْ نَفَشَتْ فِيْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَكُنَّا

کله چه ګډ ے شوے هغے کښ چیلئ د یو قوم او وو

لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِيْنَ ۝٧٨ فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ۚ

فیصله د هغوئ حمونږ مخے ته ‌ؔ . بیا پوهه کړو مونږ په هغه فیصله سلیمان

وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا وَّعِلْمًا ۖ وَّسَخَّرْنَا

او دواړو ته ورکړے وو مونږ حکم او پوهه ؔ او تابع کړی مونږ ؔ

مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ۭ وَ

داؤد سره غرونه تسبیح به ئے وئیله او الوتونکی مارغان او دا

كُنَّا فٰعِلِيْنَ ۝٧٩ وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ

ټول هر څهٔ مونږ اوکړل. او هغهٔ ته اوښودل مونږ جوړول د یو لباس

لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْۢ بَاْسِكُمْ ۚ فَهَلْ

ستاسو د پاره چه حفاظت وی ستاسو د پاره په جنګ کښ ؔ نو آیا

اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ ۝٨٠ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ عَاصِفَةً

تاسو شکر اداکوئ ؔ او تابع کړه مونږ د سلیمان ؑ د پاره هوا ؔ تیزئ سره چلیدونکے

تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖٓ اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا

چه تلله به په حکم د هغهٔ سره د هغے زمکے طرف ته چه برکت ایښے وو مونږ

فِيهَا ۖ وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عَٰلِمِينَ ﴿٨١﴾
چې ته او مونږ ته د هر څه علم دے وګ

وَمِنَ الشَّيَٰطِينِ مَن يَغُوصُونَ لَهُۥ
او تابع کړل مونږ څو مره شیطانان چه غوپې به ئے وهلے هغهٔ د پاره

وَيَعْمَلُونَ عَمَلًا دُونَ ذَٰلِكَ ۖ وَكُنَّا
او ډیر کارونه به ئے جوړول د دے نه علاوه او وو مونږ

لَهُمْ حَٰفِظِينَ ﴿٨٢﴾ وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ
د هغوئ حفاظت کوونکی ف۲۲ او ایوب ﷺ کوم وخت چه اواز اوکړو هغهٔ

رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَسَّنِىَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ
رب خپل ته چه ما ته رسیدلے دے تکلیف او ته ئے په ټولو رحم کوونکښ

ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٨٣﴾ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَكَشَفْنَا
د رحم والا۔ بیا واورېدو مونږ فریاد د هغهٔ تو لرے کړو مونږ

مَا بِهِۦ مِن ضُرٍّ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ أَهْلَهُۥ
کوم چه په هغه وو تکلیف او ورکړو مونږ هغهٔ ته د هغهٔ کور والا

وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا
او د هغې په شان نور د هغې سره رحمت د خپل جانب نه

وَذِكْرَىٰ لِلْعَٰبِدِينَ ﴿٨٤﴾
او نصیحت بندګی کوونکو ته ف۵۔

نکات: ربط پنځم نقلی دلیل ۱۲۔ ربط شپږم نقلی دلیل ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ حضرت داؤد علیه السلام چیلئ وګړې د فصل والا ته د هغهٔ د نقصان په بدله کښ د هغوئ په دین کښ چونکه غل به ئے غلام کرځولو د هغې موافق ئے دا حکم ورکړو

او حضرت سلیمان هلک وو هغوئ هم دا جهګړه خپل ځان ته را اُوغوښته او وې وئیل چه دا چیلئ ځان سره اُوساته د دوئ پئ څکه - او چیلو والا ته ئې اُوئیل فصل ته اُوبه ورکوه کله چه فصل هم هغسې شی څنګه چه اول وو نو بیا به چیلئ واپس واخلئ او فصل هغه مالک ته واپس کړئ چه د دواړو نقصان اُونهٔ شی. ف۲ حضرت داؤد علیه السلام سره د زبور لوستلو په وخت به غرونو او حیواناتو هم د هغهٔ د آواز پشان لوستل کول او د اُوسپنې د زغرې جوړولو په وخت به ئې زغرې صرف په لاسونو سره جوړولې او په لاسونو به ئې تا وولے یا قی خلق ئې په اُوړ سره ترمه کړې او څیزونه ترې جوړوی. ف۳ یو تخت ئې جوړ کړے وو ډیر لوئې د خپلو ټولو کاړ خاتونه د تور وخلقو سره به په هغې باندې کیناستلو زور داره هوا به راغله هغه به ئې د زمکې نه پورته کړو او نرمه هوا به پاس چلیده د یمن نه شام ته او د شام نه یمن ته د یوې میاشتې لار به ئې ترغرې پورې ختموله. ف۴ شیطانانو باندې به ئې غوپه وهله او د دریاب نه به ئې جواهر او ملغلرې راویستلې چرته چه به د انسانانو د قدرت او طاقت نه کوم کار بهر وو او د آبادئ درونه او سخت کار به ئې په هغوئ کولو او په سفر کښې به ئې د حوض برابر د تامبې ځانګ او د کوهی برابر دیګونه به ئې د ځان سره اُوچت کړل او اُوړل به ئې او په هغې کښې د اخلی پخلی کار او سخت کار به ئې په هغوئ باندې کولو. ف۵ حضرت ایوب علیه السلام ته الله تعالیٰ دنیا کښې هر قسم آسانی او خوشحالی ورکړې وه فصلونه، چارپایان وینځو غلاما نو به کته کوله او اولاد او ښځې نیکان او د خپلې مرضئ موافق او ډیر شکر ګذار وو بیا د ازمائش د پاره ئې په هغهٔ باندې شیطان ته قدرت ورکړو فصلونه اُوسوزیدل، څاروی مړهٔ شول او بچی ټول په یو ځل مړهٔ شول، دوستان ترینه جُدا شول په بدن کښې ئې دانې (ننکئ) پیدا شوې چینجی په کښې اُوشول یوه ښځه ئې ملګرې پاتې شوه څنګه چه په نعمت کښې شکر ګذار وو هغه شان په مصیبت او تکلیف کښې صابر اُوسیده یوه پیرئ (ډیرې زمانې) نه روستو ئې الله نه دا دُعا اُوغوښتله. الله تعالیٰ د هغهٔ مړشوی اولاد راژوندی کړو او نور نوی بچی ئې ورته ورکړل. د زمکې نه چینه راُووتله په هغې ئې اُولمبل وې ئې څکلې او د سروزرو ملخان ئې پرې راُووریدل او ټول هر څهٔ ئې صحیح او برابر کړل.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی چیلئ د یو قوم د بل قوم په فصل کښې د شپې په وخت راغلې او څریدلې داود علیه السلام حکم اُوکړو د چیلو په ورکولو باندې د فصل په عوض کښې او سلیمان

علیه السلام حکم دے قوم ته ورکړو په اصلاح د فصل د هغه قوم او هغه قوم ته ئے حکم اوکړو په نفع اخستلو د پیو د چیلو ته تر هغے وخته چه فصل خپل زوړ حالت ته اورسیږی او د سلیمان علیه السلام حکم صحیح وو ۱۲۔
و۲ یعنی زغرے سازول ۱۲۔

تفسیر: ۵۴ وَدَاوُدَ وَسُلَيْمٰنَ الخ دا پنځم تفصیلی نقلی دلیل دے مونږ داؤد او سلیمان ته علم او حکم ورکړو۔ کله چه هغوئی د یوے جهګړے فیصله کوله مونږ د هغے نه خبر وو۔ اِذْ نَفَشَتْ الخ دا هغه جهګړے طرف ته اشاره ده۔ د دوئی په زمانه کښ د یو سړی چیلئ د شپے په وخت د بل په فصل کښ ننوتلے او هغه ئے تباه کړو۔ د فصل مالک مقدمه حضرت داؤد علیه السلام ته یوړله او ټوله واقعه ئے هغهٔ ته واوروله هغوئی د دے په حق کښ فیصله اوکړه او چیلئ ئے د فصل مالک ته ورکړے کله چه مدعی او مدعی علیه واپس شول نو په لاره کښ حضرت سلیمان علیه السلام هغوئی نه تپوس اوکړو چه والد صاحب څهٔ فیصله اوکړه هغوئی بیان اوکړو نو سلیمان علیه السلام اوئیل څما په خیال کښ د فیصلے یو صورت بل دے چه د دواړو په حق کښ بهتر دے حضرت داؤد علیه السلام ته د دے پته اولګیده نو هغه ئے راطلب کړو او تپوس ئے ترینه اوکړو چه ستا سو په زړهٔ کښ کومه فیصله راغلے ده هغه بیان کړه حضرت سلیمان علیه السلام عرض اوکړو چه څما خیال دے چه چیلئ دِ فصل والا ته حواله کړے شی دے د پاره چه هغه د دے د پیو او وېښتو (وجغنو) نه فائده واخلی او خراب فصل د چیلو والا ته حواله کړے شی دے د پاره چه هغه د دے سنبالے اوکړی (اوبهٔ خوړ وغیره) کله چه فصل خپل مخکنی حالت ته را شی نو دواړه به خپل خپل څیزونه واخلی حضرت داؤد علیه السلام دا فیصله ډیره خوښه کړه او هم دائے نافذ کړه فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ یعنی مونږ زیاته غوره فیصله د سلیمان (علیه السلام) په پوهه کښ واچوله۔

۵۵ وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُدَ الخ مونږ غرونه او مارغان د داؤد علیه السلام ما تحت اوګرځول چه هغوئی به هم هغهٔ سره د الله تعالیٰ تسبیح او پاکی بیانوله۔ دا ټول هر څهٔ مونږ اوکړل۔ وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ الخ، او مونږ داؤد (علیه السلام) ته د اوسپنے نه د زغرو جوړولو تعلیم ورکړو۔

۵۶ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ الخ دا معطوف دے په مَعَ دَاوُدَ باندے ای سَخَّرْنَا لَهُ الرِّيْحَ الخ (روح) یعنی مونږ په خپل حکم سره هوا د سلیمان علیه السلام تابع اوګرځوله او مونږ په هر څیز باندے خبر دار یو بل هیڅوک نهٔ دے وَمِنَ الشَّيٰطِيْنِ الخ مَنْ يَّغُوْصُوْنَ الخ الرِّيْحَ باندے معطوف دے او

مِنَ الشَّيْطِيْنِ، د هغې بیان دے یعنی مونږ پیریان مسخر کړل چه هغوئ به د ده د حکم مطابق کار کولو. وَكُنَّا لَهُمْ حٰفِظِيْنَ، لیکن د سرکش او نافرمانه پیریانو نه بچ کول او په هغوئ باندے کنټرول ساتل دا خمونږ کار وو، دے د پاره چه هغوئ شر او فساد اُونه کړی. داؤد او سلیمان علیهما السلام باندے ټول احسانات او انعامات مونږ کړی وو او هغه خمونږ شکر گذار بنده وو د دے وجے نه هغه پخپله متصرف او کار ساز او د الوهیت لائق نهٔ وو. كُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِيْنَ، د هغوئ فیصله مونږ ته معلومه وه.

فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ، سلیمان ؑ ته دا فیصله مونږ اُوښودله - وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا، دواړو ته علم او حکمت مونږ ورکړو. وَ سَخَّرْنَا، غرونه مونږ د فرمان تابع اُوگرځول. وَ كُنَّا فٰعِلِيْنَ، دا ټول هرڅهٔ مونږ اُوکړل. وَعَلَّمْنٰهُ، د زغرو سازولو صنعت (کاریگری) هم مونږ هغهٔ ته اُوښودله. وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عٰلِمِيْنَ. او د هر څیز علم هم مونږ ته وو او د هغې حفاظت کوونکی هم مونږ وو

٥٥ وَ اَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى الخ دا شپږم تفصیلی نقلی دلیل دے. ایوب علیه السلام باندے امتحان راغے نو د ضرر لرے کولو او د مصیبت لرے کولو د پاره ئے مونږ ته آواز اُوکړو نو مونږ هغوئ ته مصیبت نه خلاصے ورکړو او ټول ضائع شوی نعمتونه ئے هغهٔ ته واپس ورکړل. رَحْمَةً الخ دا مفعول لهٔ دے یعنی مونږ دا ټول هرڅهٔ ایوب علیه السلام باندے د رحمت او شفقت د پاره اُوکړل او دے د پاره چه تور عبادت کوونکی بندگان د دے نه نصیحت او عبرت حاصل کړی او مصیبتونو او مشکلاتو کښ صبر اُوکړی او صرف د الله تعالیٰ نه په مصائب او مشکلات کښ امداد غواړی او فریاد کوی. فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ، مونږ د هغهٔ دُعا قبوله کړه. فَكَشَفْنَا، د هغهٔ نه تکلیف هم مونږ لرے کړو.

وَ اِسْمٰعِيْلَ وَ اِدْرِيْسَ وَ ذَا الْكِفْلِ ؕ كُلٌّ

او اسماعیل او ادریس ٥٦ او ذوالکفل دا ټول وو

مِّنَ الصّٰبِرِيْنَ ۚۖ ﴿٨٥﴾ وَ اَدْخَلْنٰهُمْ فِيْ رَحْمَتِنَا ؕ

صبر کوونکی ف. او واخستل مونږ هغوئ په رحمت خپل کښ

اِنَّهُمْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَ ذَا النُّوْنِ اِذْ

هغوئ دی د نیک بختو نه - او د مهی والا کله چه ٥٩

ذَهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ أَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ

او غصه شو ولاړ بیا ئې خیال اوکړو چه مونږ به نه اوته نیسو لاړو

عَلَيْهِ فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ أَنْ لَّآ إِلٰهَ

هغه ؤلے بیا ئې اواز اوکړو لګه په هغه تیارو کښ چه نشته هیڅوک حاکم

إِلَّآ أَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ إِنِّي كُنْتُ مِنَ

سیوا ستانه ته بے عیب ئې زۀ ووم د

الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٧﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَنَجَّيْنٰهُ

ګناهګارانو نه بیا مونږ واؤریدو فریاد د هغه او بچ کړو مونږ هغه

مِنَ الْغَمِّ ۭ وَكَذٰلِكَ نُـۨجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٨﴾

د هغه غم نه او هم داشان بچ کوو مونږ ایمان والا ؤلے

وَزَكَرِيَّآ إِذْ نَادٰى رَبَّهٗ رَبِّ لَا تَذَرْنِي

او زکریا چه کله ئې اواز اوکړو رب خپل ته اے ربه مه پریږده ما

فَرْدًا وَّأَنْتَ خَيْرُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿٨٩﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۡ

یواځے ګله او ته ئې بهتر وارث د ټولو نه ؤلے بیا واؤریدله مونږ دعا د هغه

وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى وَأَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ ۭ

او اوبښلو مونږ هغه ته یحیٰی او صالحه م اوګرځوله د هغه بښځه

إِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ

هغه خلق وو تلوار کوونکی نیکو ته

وَيَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا ۭ وَكَانُوْا لَنَا

او رابللو به ئې مونږ اُمید او ویرے سره او وو ځمونږ په مخکښ

خٰشِعِيْنَ ﴿٩٠﴾ وَالَّتِيْٓ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا

عاجزی کوونکی ؤلے او هغه بښځه چه هغې به قابو کښ اوساتلو ګله شهوت خپل

فَنَفَخْنَا فِيهَا مِنْ رُّوحِنَا وَجَعَلْنٰهَا

بیا پوکے وکړو موږ په هغه ښځه کښې د روح خپل نه — او اُودم ګرځوله هغه ښځه

وَابْنَهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿٩١﴾

او ځوئے د هغے نښه د جهان د خلقو د پاره۔

نکات: ۔ ۱۔ اُوم تفصیلی نقلی دلیل ۱۲۔ ۲۔ اتم تفصیلی نقلی دلیل ۱۲
۳۔ نهم تفصیلی دلیل نقلی ۱۲۔ ۴۔ لسم تفصیلی نقلی دلیل ۱۲۔

موضح قرآن ف وائی چه ذوالکفل د ایوب علیه السلام ځوئے وو د ایوب علیه السلام ځوئے د یو سړی ضمانت اوکړو او ډیر کلونه ئے په قید کښې تیر کړل او دا محنت ئے د الله د رضا د پاره برداشت کړو۔ ف۲ یونس علیه السلام د حزقیل په دوستانو کښې وو ډیر په شوق به ئے عبادت کولو او د دُنیا نه یو طرف ته جُدا شوے وو۔ حکم ورته اُوشو چه نینوا ښار ته ئے اُولیږئ د مشرکانو بُت پرستئ نه منع کولو د پاره لیکن هغوئ د یونس علیه السلام خبره ته غوږ کینښود و حضرت یونس علیه السلام د هغوئ نه خفه شو او تر ینه لاړو بهر اُوتو په لاره کښې یو سیند راغے یو ځوئے ئے د سیند په غاړه پریښودو یو ئے په اُوږه سور کړو او د ښځے (بی بی) لاس ئے اُونیولو کله چه سیند چپه اُوهله اُو بو زور اُوکړو د بی بی لاس تر ینه خلاص شو د هغے د نیولو په وجے سره هلک (ځوئے ئے) اُوخوین و د کبراو یدلو په وجه دواړه (مور او ځوئے) سیند یوړل چه د سیند غاړے ته راغلو د ځوئے خواله هغه شرمخ یوړو کله چه هغه ښار (نینوی) ته اُورسیدو سردارانو مشرانو سره ملاوُ شو د الله تعالی پیغام ئے ورته واؤرولو هغوئ ورپورے ټوقے شروع کړے ځځ موده هغوئ سره اُوسیدو آخر خفه شو ښیرے ئے اوکړے د عذاب او پخپله بهر لاړو دړے ورځے پس عذاب راغے د ښار ټول خلق میدان ته اُوتل د الله تعالی په مخکښې ئے توبه کړه ژړا زاری ئے اوکړه ټول بُتان ئے مات کړل عذاب روستو کړے شو. شیطان یونس علیه السلام ته خبر ورکړو چه هغه خلق خو ډیر نیک اوښهٔ دی په هغوئ خو عذاب رانغے۔ په زړهٔ کښې خفه شو چه الله خو زهٔ دروغژن کړم حکم ته ئے انتظار اُونه کړو یو طرف ته اُوتو روان شو یو کشتئ کښې سور شو په یو ګرداب کښې کشتئ چورلیدل شروع کړل خلقو اُوئیل په کشتئ کښې د چا نه تښتیدلے غلام دے. ف۳ یعنی اولاد راکړه ف۴ خلق وائی څوک چه الله تعالی ته آواز کوی توقع د وجے نه یا د ویرے

په وجه هغه په حقیقت کښې محبت کوونکے نهٔ دے، دې ایت نه د دے خبرے غلطي ثابته شوه (د پیغمبر نه زیات محبت کوونکے د الله سره څوک کیدلے شي.

فتح الرحمٰن ف۱ یعني په خپل قوم باندے بغیر د الله د اذن نه ۱۲۔
ف۲ لنډه قصه دا ده چه مهي د حلق نه تیر کړو ۱۲۔

تفسیر: ۵۸ وَ اِسْمٰعِيْلَ وَ اِدْرِيْسَ الخ دا اوم تفصیلي نقلي دلیل دے. دے ټولو صبر او استقامت سره توحید بیان ولو۔ وَ اَدْخَلْنٰهُمْ فِيْ رَحْمَتِنَا، هغوئ مونږ د کافرانو نه بچ کړل او خپل رحمت کښې م داخل کړل.

۵۹ وَ ذَا النُّوْنِ اِذْ الخ دا اتم تفصیلي عقلي دلیل دے. حضرت یونس علیه السلام ډیره زمانه قوم ته د دعوت او تبلیغ کولو نه روستو د هغوئ د ایمان نه نا امیده شو او د هغوئ په انکار او اصرار باندے خفه شو هجرت ئے اوکړو حال دا دے چه لا تر اوسه پورے هغهٔ ته د الله حکم نهٔ وو نازل شوے.

غالبًا خپل اجتهاد سره ئے فیصله اوکړه چه په هغه خلقو باندے اوس حجت مخ اوندی تمام شوے دے او د هغوئ د ایمان راوړلو هیڅ امید نهٔ دے پاتے شوے نو تږ دے ده چه د الله تعالیٰ عذاب په دوئ نازلیدونکے دے. د دے وجے نه د دے ځائے نه تلل پکار دي. مُغَاضِبًا ای غضبان علی قومه لشدة شکیمتهم وتمادی اصرارهم مع طول دعوته ایاهم وکان ذهابه هذا هجرة عنهم لکنه لم یؤمر به (روح ج ۱۷ ص۸۳) نو چه کله هغه د خپل ښار نه اوتلو روان شو او د بحیرهٔ روم غاړے ته اورسید و نو کشتئ تیاره وه په هغے کښې سور شو کشتئ په گرداب د اوبو په چکر کښې چورلیدل شروع کړل او په غرقیدو شوله نو ماڼرکیانو (ملاحانو) اوئیل چه په سورلوکښې څوک تښتیدونکے مریے دے او ځمونږ قانون دا دے چه په داسے موقع باندے مونږ قرعه اندازی کوو د چا په نوم چه خسرے راوخیژي هغه سمندر کښې اچوو. نو درے ځله ئے خسرے واچولو او درے واړه ځل د حضرت یونس علیه السلام نوم را اوختلو هغه پوهه شو چه د الله د امر نه بغیر هجرت کولو سره ئے غلطي کړیده او ماڼرکیانو ته ئے اوئیل چه بیشکه زهٔ د خپل اقا د حکم نه بغیر تښتیدونکے غلام یم او سمندر ته ئے ټوپ اوهلو یو لوئے مهي هغه روغ رمټ ژوندے تیر کړو. الله پاک مهي ته حکم اوکړو چه یونس علیه السلام ته تکلیف ورنهٔ کړي ما هغه ستا د پاره خوراک نهٔ دے گرځولے بلکه ستا خیټه م هغهٔ د پاره قیدخانه گرځولے ده۔

۶۰ فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ الخ نقدر دلته د قدرة نه نهٔ دے اخستلے شوے بلکه د قدر نه اخستے شوے دے چه د دهٔ معنیٰ قضا یا تنگي کول ده یعني یونس علیه السلام د هجرت د حکم نازلیدلو نه مخکښې لاړو او د هغهٔ

خیال ووچه دے فعل باندے به مونږ هغهٔ ته د سزاء ورکولو فیصله نهٔ کوو یا به په هغهٔ باندے څهٔ قسم تنګی نهٔ کوؤ۔ ای لن نقضی علیه العقوبة قاله ابن عباس فی روایة عنه وقیل معناه فظن ان لن نضیق علیه الحبس (خازن ج ۴ ص۲۵۵) فظن ان لن نقدر علیه ای لن نضیق علیه وهو کقوله تعالیٰ اَللّٰهُ یَبۡسُطُ الرِّزۡقَ لِمَنۡ یَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖ وَیَقۡدِرُ ای یضیق ومن قدر علیه رزقه ای ضیق الخ (کبیر ج ۶ ص۱۸۹)۔

۶۱ فَنَادٰی فِی الظُّلُمٰتِ الخ د مهی په خیټه کښ پریوتو حضرت یونس علیه السلام د خپل قصور اعتراف اُوکړو او د الله تعالیٰ په تسبیح او تقدیس کښ مصروف شول۔ الله تعالیٰ د هغهٔ فریاد او زاری قبوله کړه او د مهی د خیټې نه ئے بهر کړو۔ حضرت یونس علیه السلام د دے مصیبت نه د نجات حاصلولو د پاره د مهی په خیټه کښ الله ته آواز اُوکړو۔ دینه معلومه شوه چه هغه پخپله متصرف او کارساز نهٔ وو چه پخپله ئے د دے مصیبت نه ځان خلاص کړے وے۔ فَاسۡتَجَبۡنَا لَهٗ، د هغهٔ دعا مونږ قبوله کړه۔ وَنَجَّیۡنٰهُ، او مصیبت نه هم مونږ بچ کړو۔

۶۲ وَزَکَرِیَّاۤ اِذۡ نَادٰی الخ دا نهم تفصیلی نقلی دلیل دے یعنی زکریا علیه السلام په آخری عمر کښ ئے ځمونږ نه ځوئے اُوغوښتو او مونږ دغه عمر کښ هغهٔ ته ځوئے ورکړو او مونږ ورکوونکی یو په دے باندے د هغوئی قدرت نهٔ وو۔ فَاسۡتَجَبۡنَا لَهٗ، د زکریا دعا مونږ قبوله کړه۔ وَوَهَبۡنَا لَهٗ، او مونږ هغهٔ ته ځوئے ورکړو۔ وَاَصۡلَحۡنَا لَهٗ، او مونږ د هغهٔ بی بی د اولاد قابله اُوګرځوله۔ اِنَّهُمۡ کَانُوۡا الخ دینه ټول ذکر شوی انبیاء علیهم السلام مراد دی۔ یعنی ټول ځمونږ نه توقع کوله او ځمونږ نه ویریدل او په حاجتونو او مشکلاتو کښ به ئے غائبانه آوازونه مونږ ته کول۔ یَدۡعُوۡنَنَا، ټول انبیاء علیهم السلام به په اُمید ساتلو او ویره کښ مونږ ته آواز کولو۔ وَکَانُوۡا لَنَا خٰشِعِیۡنَ او ځمونږ په مخکښ به ئے عاجزی کوله د آیت دا حصه د ټولو انبیاء علیهم السلام سره متعلق ده۔ یا د دے نه حضرت زکریا، د هغهٔ بی بی، او یحیٰی علیهم السلام مراد دی۔

۶۳ وَالَّتِیۡۤ اَحۡصَنَتۡ الخ دا لسم تفصیلی نقلی دلیل دے۔ حضرت مریم صدیقه او حضرت مسیح علیهما السلام سره اَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا، یعنی خپل جذبات ئے په قابو کښ اُوساتل او د عصمت د لمن حفاظت ئے اُوکړو۔ وَاَحۡصَنَتۡ یعنی عفت فامتنعت من الفاحشة (قرطبی ج ۱۱ ص۳۳۶) یا مطلب دا دے چه خپل ځان ئے د نکاح نه منع اُوساتلو او د چا سره ئے نکاح اُونهٔ کړه۔ حضرت مریم او حضرت عیسیٰ علیهما السلام دواړه مور او ځوئے د ټولو

انسانانو د پاره څمونږ د کامل قدرت او څمونږ د مشیت نافذ کیدل لو ښکاره
نښه او دلیل وو۔ د مریم د انسان د مس کولو نه بغیر څوئے کیدل او د عیسیٰ
علیه السلام بغیر د پلار نه پیدا کیدل د مخلوق د پاره یوه د تعجب خبره او
څمونږ د قدرت علامه ده وافرد اية لان حالهما المجموعهما اية واحدة وهي
ولادتها اياه من غير فحل (بحر ج ۶ ص ۳۳۶) ای علامة واعجوبة للخلق وعلی
نبوة عیسیٰ ودلالة علی نفوذ قدرتنا فیما نشاء (قرطبی)۔ نو معلومه شوه
چه د مریم او عیسیٰ قصه خو څمونږ د قدرت دلیل دے۔ د دے وجے نه
هغوئ د الوهیت او د کارسازئ د صفتونو لائق نه دی۔

إِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً ۖ وَأَنَا

دا خلق دی ټول ستاسو د دین، ټول په یو دین باندے ۶۳ او زۀ

رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ ﴿٩٢﴾ وَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُمْ

رب ستاسو یم نو څما ۶۵ بندګی اوکړئ ما له او ټکړے تقسیم کړے خلقو د خپل کار

بَيْنَهُمْ ۖ كُلٌّ إِلَيْنَا رَاجِعُونَ ﴿٩٣﴾ فَمَن

خپل مینځ کښ ۶۶ ټول به مونږ ته بیا راځی. نو څوک چه

يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ

کوی نیک کار ۶۷ او لری ایمان

فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْيِهِ وَإِنَّا لَهُ كَاتِبُونَ ﴿٩٤﴾

نو ضائع به نۀ کړو سعی د هغهٔ او مونږ هغه لیکو.

وَحَرَامٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ

او مقرر شویدی په هر کلی باندے کوم چه مونږ هلاک کړل چه هغوئ به

لَا يَرْجِعُونَ ﴿٩٥﴾ حَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ

واپس نۀ راځی ۶۸ ول. تر دے چه پرانستلے شی یاجوج

وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ

او ۶۹ ماجوج او هغوئ به د هر اوچت ځائے نه

يَنسِلُونَ ﴿۹۶﴾ وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ

په راخوښېدو سره راګوزېږي. او رانږدې شوه وعده رښتونې نو

فَإِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ أَبْصَارُ الَّذِينَ كَفَرُوا ط

بیا په هغه وخت بوټې وتلې پاتې شي سترګې د کافرانو

يَا وَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا

افسوس کمبختي ځمونږ، مونږه پاتې شو ناخبره د دې نه

بَلْ كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿۹۷﴾

داسې نهٔ ده بلکه مونږ وو ظالمان ف۲.

نکات: ۱ داد ټولو ذکر شوو نقلیه دلیلونو سره متعلق دے ۱۲.
۲ جواب د سوال مقدر ۱۲. ۳ تخویف أخروی ۱۲.

موضح قرآن
ف۱ یعنی کفر به ئې نهٔ پرېښودو
ف۲ یعنی خبر را اُورسید او سره د پوهې مونږ اُو نهٔ منلو.

فتح الرحمن
ف۱ یعنی اصلي دین دے او اختلاف په فروعو کښې دے ۱۲. ف۲ یعنی په اصل دین کښې.

تفسیر: ۶۳ إِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ الخ داد ټولو ذکر شو دلائیلو نقلیو سره
متعلق دے یعنی ذکر دے ټولو انبیاء علیهم السلام دین یو وو او هغوئ
ټول په توحید باندے متفق وو او د ټولو دا مسلک وو چه د الله تعالیٰ نه
سیوا ځوک د عبادت مستحق نشته او د هغهٔ نه سیوا په حاجتونو کښې د
غائبانه رابللو لائق هم نشته. أُمَّةً، دلته د ملت او دین په معانی کښې
مستعمل شوې دے او مراد ملت اسلام او د توحید دین دے چه د ټولو
انبیاؤ ملت دے الامة الملة وَهٰذه اشارة الى ملة الاسلام وهى ملة
جميع الانبياء (مدارک ج ۳ ص۷۶) خطاب للناس كَافَّةً والاشارة الى ملة
التوحيد والاسلام (روح ج ۱۷ ص۸۹) لما ذكر الانبياء قال هؤلاء كلهم
مجتمعون على التوحيد فالامة بمعنى الدين الذى هو الاسلام قاله ابن
عباس ومجاهد وغيرهما (قرطبی).
۶۵ وَأَنَا رَبُّكُمْ الخ حضرت شیخ فرمائی واؤ تفسیریه دے او جمله د
ما قبل تفسیر دے یعنی د ټولو انبیاء علیهم السلام ملت واحده دا دے
چه ستاسو د ټولو رب او کارساز یم لِهٰذا تاسو ټول صرف ځما عبادت

کوئ او صرف ما ته اوازکوئ ای لا دین سوی دینی و لا رب غیری فاعبدونی
ووحدونی (خازن ج ۴ ص۲۶) ای انا الهکم اله واحد (فاعبدونی) خاصة (روح
ج ۱۷ ص۹۰) ۶۶ وَتَقَطَّعُوْٓا اَمْرَهُمْ الخ دا د مقدر سوال جواب دے یعنی چه
کله د ټولو انبیاء علیهم السلام دین یو وو او ټول په توحید باندے
متفق وو او ټولو د توحید اشاعت کولو نو بیا روستو خلقو کښ شرک د
کومه ځایه راغے؟ نو د هغے جواب ورکړے شو چه بد عمله او نا اهله
جانشینو په توحید کښ اختلاف واچولو او د دُنیوی دولت او لالچ په
وجے سره شرک ته رواج ورکولو کښ ورننوتل او د دے ټولو راتلل هم
مونږ ته دی د دے وجے نه به د خپلو کړو سزا بیا مومی یعنی دین د ټولو
یو وو د ټولو کار ساز هم یو وو او ټول پیغمبران په یوملت باندے متفق
وو لیکن روستو خلقو د توحید ملت ټکړے ټکړے کړو. حاصل المعنی الملة
واحدة والرب واحد والانبیاء علیهم السلام متفقون علیها وهؤلاء البعداء
جعلوا امرالدین الواحد قطعا الخ (روح ج ۱۷ ص۸۹).

۶۷ فمن یعمل الخ ایمان او توحید والؤ او نیک کار کوونکو د پاره بشارت
اُخروی دے. ۶۸ وَحَرٰمٌ عَلٰی قَرْيَةٍ الخ حَرٰمٌ یعنی ناممکن او ممتنع ده.
اَهْلَكْنٰهَآ، یعنی مونږ د هغوئ د هلاکت فیصله اُوکړه. لَا يَرْجِعُوْنَ، په
معنی د مصدر دے یعنی عدم رجوعهم او مطلب په داوی چه د جزاء
د پاره د هغوئ څمونږ طرف ته واپس نۀ راتلل ممتنع دی یعنی ضرور
به مونږ ته راځی ای ممتنع البتة عدم رجوعهم الینا للجزاء (روح) یا
لاء زائده او سیف خطیب دے یعنی د کومو خلقو د تباهئ او هلاکت چه
مونږ فیصله اوکړه د هغوئ د کفر او شرک نه توبه کول او د توحید او اسلام
طرف ته راتلل ممتنع او ناممکن دی ځکه چه عذاب سره د هلاکولو فیصله
هغه وخت کولے شی کله چه حجت خداوندی پوره شی او د منکرینو په
زړونو باندے د هغوئ د مسلسل ضد او عناد د وجے نه د جباریت مهر
اُولګولے شی او د هغوئ د حق طرف ته د رجوع ټول امکانات ختم شی.
المعنی وممتنع علی قریة قدرنا هلاکها او حکمنا به رجوعهم الینا ای
توبتهم علی ان (لا) سیف خطیب مثلها فی قوله تعالٰی (مامنعك ان لاتسجد)
فی قول (روح ج ۱۷ ص۹۱) حضرت شیخ رحمه الله فرمائی چه حَرٰمٌ مبتداء محذوف
د پاره خبر دے یعنی الایمان حَرٰمٌ الخ دے صورت کښ اَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ،
جمله به ماقبل نه بدل وی او لاء به زائده نۀ وی. قال مجاهد والحسن
(لایرجعون) لایتوبون عن الشرك (روح) انهم لا یرجعون من الشرك
ولایتوبون عنه وهو قول مجاهد والحسن (کبیر ج ۶ ص۱۹۳).

۶۹ حَتّٰى إِذَا فُتِحَتْ الخ دا تخویف أخروی دے هُمْ ضمیر نه ټول خلق مراد دی یا صرف یاجوج ماجوج. په اول صورت کښ به مطلب داوی چه د نفخ ثانی (دویم ځل پوکی وهلو) نه روستو به خلق د زمکے د هرے اُوچتے حصے نه په تیزئ سره قدم اُوچتونکی د موقف (د حشر میدان) طرف ته منډے وهی. دویم صورت کښ به مطلب داوی چه کله قیامت ته نزدے یاجوج ماجوج ازادولے شی نو هغوئ به د زمکے هره حصه کښ غرونه او ډیره کښئ پائمال کوی په دُنیا کښ به خواره شی او هر طرف ته به شر او فساد راپورته کړی یو تباهی به خوره کړی. ثم قیل فی الذین ینسلون من کل حدب انهم یاجوج وماجوج وهو الاظهر وهو قول ابن مسعود وابن عباس وقیل جمیع الخلق فانهم یحشرون الی ارض الموقف وهم یسرعون من کل حدب (قرطبی ج ۱۱ ص ۳۴۲). ۷۰ وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ الخ الوعد الحق نه قیامت مراد دے وَهُوَ مابعد النفخة الثانیه من البعث والحساب والجزاء لا النفخة الاولی (روح ج ۱۷ ص ۹۲)

إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللّٰهِ حَصَبُ

تاسو او د کوم څه چه تاسو عبادت کوئ لګه سیوا د الله نه خشاک دے

جَهَنَّمَ ۖ أَنْتُمْ لَهَا وَارِدُونَ ﴿۹۸﴾ لَوْ كَانَ

د دوزخ تاسو به هغے ته ورتلونکی یئ که چرے وے

هٰٓؤُلَآءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوْهَا ۖ وَكُلٌّ فِيهَا

دا بتان معبودان لګه نو نه به وو ورغلی هغے ته او ټول به په هغے کښ

خٰلِدُوْنَ ﴿۹۹﴾ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَّهُمْ فِيهَا

همیشه اُوسیږی. هغوئ به دغه (دوزخ) کښ چغے وهی او هغوئ به دغه (دوزخ) کښ

لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ

هیڅ نهٔ اوری ۷۱. بیشکه د چا لپاره چه د مخکښ نه مقرر ۷۳ لګه شوے ده

مِّنَّا الْحُسْنٰىٓ ۙ أُولٰٓئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُوْنَ ﴿۱۰۱﴾

ځمونږ د طرفه نیکی لګه هغوئ به د دے نه لرے اُوسیږی ۷۴ ۷۲

لَا يَسْمَعُوْنَ حَسِيْسَهَا ۚ وَهُمْ فِيْ مَا اشْتَهَتْ

نۀ به آوري دَ هغې آواز (شور) لـه او هغوئ به په نعمتونو کښې

اَنْفُسُهُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ

دَ خپلې خوښې همیشه اوسیږي. نۀ به غم وي هغوئ سره دَ هغۀ ویرې

الْاَكْبَرُ وَتَتَلَقّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ هٰذَا

لوئې نه لـه او ملاقات دَ پاره به راځي هغوئ ته فرشتې لـه ، دا

يَوْمُكُمُ الَّذِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ يَوْمَ

ني ورځ ستاسو ده چه دَ کومې ستاسو سره وعده شوې وه کومه ورځ

نَطْوِي السَّمَآءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ؕ كَمَا

چه راونغاړو موږ اسمان لـه لکه چه رانغاړي په دفتر کښې لـه کاغذ څنګه چه

بَدَاْنَآ اَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيْدُهٗ ؕ وَعْدًا عَلَيْنَا ؕ

شروع کښې موږ اول ځل پیدا کړي وو بیا به هغوئ دو باره (بیا) کړو لـه وعده ضرور شوېده په موږ باندې ،

اِنَّا كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۱۰۴﴾

موږ دَ هغې پوره کوونکي یو.

موضح قرآن ف یعنی دَ خپلو چغو شور و په وجه - ف۲ یعنی چه یوځل تیرشي دَ دوزخ نه نو بیا به همیشه دَ دوزخ نه لرې (په جنت کښې) اوسیږي.

تفسیر: لـه اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ الخ مَا تَعْبُدُوْنَ نه خراب پیران مراد دي چه په خپل عبادت باندې راضي دي. دا رنګ دَ انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرامو پتان چه مشرکانو به دَ هغې عبادت کولو. انبیاء علیهم السلام، ملائیک کرام او اولیاء الله دې کښې شامل نۀ دي په قرینه دَ اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّا الْحُسْنٰى الخ.

لـه لَوْ كَانَ هٰٓؤُلَآءِ الخ کۀ چرې دا معبودان اوکار سازوې لکه چه دَ مشرکانو خیال دې نو په اور کښې به هرګز نۀ داخلیدلې. حال دا دې چه هغوئ به جهنم ته داخلولې شي او بیا به په هغې کښې همیشه اوسیږي. زَفِيْرٌ، دَ

ژړا او چغواوازونه چه په هغو کښې به د سينے خرشار هم شامل وی. انين وبکاء عويل (مدارک ج ۳ ص۸۹).

۴۲ه اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ الخ حضرت ابن عباس رض فرمائی چه کله اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ الخ نازل شو نو د قريشو کافران خپل يو مشهور ابن الزبعری ته راغلل او هغهٔ ته ئے د دے ايت خبر ورکړو نو هغهٔ اُوئيل که چرے زهٔ د محمد (صلى الله عليه وسلم) سره وے نو ما به هغهٔ ته د دے يو معقول جواب ورکړے وے هغهٔ نه تپوس اُوشو څهٔ جواب به دِ ورکړے وے نو هغهٔ اُوئيل ما به وئيلے وے چه دا مسيح بن مريم دے د کوم چه نصارٰی عبادت کوی. او دا عزير دے چه د هغهٔ يهوديان پرستش کوی نو ايا دا به هم د جهنم خشاک وی. د قريشو کافرانو چه دا خبره واؤره يره له خوشحاله شول او هغوئ خيال کولو چه ابن الزبعری خبره لاجواب ده او د محمد (صلى الله عليه وسلم) سره د دے جواب نشته د دے په جواب کښې دا ايت نازل شو چه په هغې کښې الله تعالٰی انبياء عليهم السلام، فرښتے او اولياء کرام د مخکنی (تير شوی) ايت نه مستثنٰی کړل ځکه چه د هغوئ په حق کښې اَلْحُسْنٰى (د جنت يا نيکئ او نيک انجام) وعده د ازل نه شوے ده (من القرطبی وابن کثير وغيرهما).

۴۳ه اَلْحُسْنٰى، ديته مراد جنت دے يا رحمت او سعادت يا د طاعت توفيق اَلْحُسْنٰى اى الجنة (قرطبی ج ۱۱ ص۳۴۵) الحسنٰى يعنى السعادة والعدة الجميلة الجنة (خازن ومعالم ج ۴ ص۲۶۲) الحسنٰى اى الخصلة المفضلة فى الحسن وهى السعادة وقيل التوفيق للطاعة والمراد من سبق ذٰلك تقديره فى الازل (روح ج ۱۷ ص۹۶) الحسنٰى الرحمة والسعادة (جامع البيان ص۲۸۹).

۴۴ه عَنْهَا اى عن جهنم يعنى چا د پاره چه د حُسنٰى وعده شوے ده هغوئ به د جهنم نه لرے ساتلے شی هغوئ به په جنت کښې وی.

۴۵ه لَا يَسْمَعُوْنَ الخ جمله د مُبْعَدُوْنَ نه بدل دے دِ ے کښې دوزخ نه د هغوئ لرے والے لړ شان تفصيل سره ذکر شوے دے يعنى هغوئ به د دوزخ نه دومره لرے کولے شی چه هغوئ د دوزخ معمولی شان اواز هم نهٔ اوری حال دا دے چه په حديث کښې راځی چه د دوزخ د لمبے وهونکی اور شور به د زرګونو ميله فاصلے پورے اوريدے شی دا به هغه وخت وی کله چه دوئ جنت ته داخل شی.

۴۶ه لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ الخ د جهنم د اور نه د هغوئ د نجات د اعلان نه روستو ئے اُوفرمائيل د دوئے شپيلئ پوکوهلو نه روستو جنت ته داخليدلو پورے به هغوئ د هر قسم ويرے او لوئے ګبراويا لو نه

محفوظ دی. بیان لنجاتهم من الافزاع بالکلیة بعد نجاتهم من النار لانهم اذالم یحزنهم الاکبر الافزاع لم یحزنهم ماعداه بالضرورة کذا قیل (روح ۱۷ صـ۹۹) اَلْفَزَعُ الْاَکْبَرُ نه دویمه شپیلئ یا ټول تکلیفونه د آخرت مراد دی.

۷۸ وَ تَتَلَقّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ الخ حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی کله چه هغوئ د قبرونو نه راپاڅی دغه وخت به فرشتے د هغوئ استقبال کوی او هغوئ ته به وائی داهغه ورځ ده چه د هغے د را تللو وعده ستاسو سره شوے وه. یا جنت ته د داخلیدلو په وخت د فرشتو استقبال مراد دے ای تستقبلهم الملئکة علی ابواب الجنة یهنئونهم ویقولون لهم (هذا یومکم الذی کنتم توعدون) وقیل تستقبلهم ملائکة الرحمة عند خروجهم من القبور (قرطبی ج ۱۱ صـ۳۴۶) ۷۹ يَوْمَ نَطْوِي السَّمَآءَ الخ د یوم عامل اذکر محذوف منلے شویدے لیکن د دے ضرورت نشته. د حضرت شیخ قدس سرهٗ د اصولو مطابق د دهٔ عامل لا یحزنهم یا تتلقهم دے. منصوب باذکر وقیل ظرف للایحزنهم .... وقیل ظرف لتتلقاهم (روح) اعلم ان التقدیر لا یحزنهم الفزع الاکبر یوم نطوی السماء او وتتلقهم الملئکة یوم نطوی السمآء (کبیر ج ۶ صـ۲۰۰). ۸۰ كَطَيِّ السِّجِلِّ الخ څنګه چه د ډیرو کاغذونو دفتر را تغښتلے شی. داشان به د قیامت په ورځ د آسمانونو صفونه را نغښتلے شی دا د عالم د نظام ګډوډیدلو او ختمیدلو نه کنایه ده. اسمائی تعلیم د آدم علیه السلام نه ترخاتم النبیین علیهم الصلوٰة والسلام پورے په دے ناطق او شاهد دے چه دا عالم کون او فساد حادث دے او فنا به شی. فلاسفه ملحدینو دیکښ اختلاف کړیدے او هغوئ عالم ته ازلی او ابدی وائی چه د دے بطلان ښکاره دے. لیکن صدرالدین شیرازی په خپل کتاب اسفار اربعه کښ لیکلی دی چه متقدمین اساطین فلاسفه د عالم د فناء قائیل وو. لیکن متأخرین د کوتاه نظرئ او بے بصیرتئ د وجے نه د عالم د ابدیت قائیل دی. متقدمین فلاسفه څوک چه د فناء عالم قائیل د هغوئ ځنے نومونه دادی. انکسیمائس ملطی، فیثاغورث، افلاطون، او د هغهٔ شاګرد ارسطاطالیس (کذافی الروح ج ۱۷ صـ۱۰۰) والله تعالی اعلم بالصواب ۱۲.

۸۱ كَمَا بَدَاْنَآ اَوَّلَ خَلْقٍ الخ څنګه چه په آسانئ او سهولت سره مونږ دا ټول مخلوق پیدا کړے وو. بالکل هم دغه شان به مونږ دوباره هغوئ پیدا کړو دا ډیره پخه خبره ده او مونږ په دے قادر یو او ضرور به داشان کوو. وَعْدًا، مفعول مطلق دے د فعل مقدر ای وعدنا وعدًا عَلَيْنَآ، داد مبتداء محذوف خبر دے ای علینا انجازه والوفاء به ای من البعث والاعادة (قرطبی ج ۱۱ صـ۳۴۸).

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ

او ليکلي دي مونږ په زبور کښې روستو

الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ

د نصيحت نه ۸۲ چه په آخر کښې به په زمکه مالکان کيږي بندګان

الصَّالِحُونَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَاغًا لِقَوْمٍ

زمونږ نيک ۸۳ په دے کښې مطلب ته رسيدل دي خلق ۸۴

عَابِدِينَ ﴿١٠٦﴾ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً

عبادت کوونکي . او مونږ ته نه يې لېږلے ۸۵ تو مهرباني کوه

لِلْعَالَمِينَ ﴿١٠٧﴾ قُلْ إِنَّمَا يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا

د جهان د خلقو سره . ته اووايه حکم ما ته دا را غلي دے ۸۶

إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ فَهَلْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴿١٠٨﴾

چه معبود ستاسو معبود يو دے ايا بيا تاسو يئ حکم په ځائے راوړونکي .

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ آذَنْتُكُمْ عَلَىٰ سَوَاءٍ ۖ

بيا که چرته هغوئ مخ واړوي نو ته اووايه ما خبردار کړو تاسو ته دواړو طرفو نو ته برابر

وَإِنْ أَدْرِي أَقَرِيبٌ أَمْ بَعِيدٌ مَا

او زه نه يم پوهه ۸۸ چه نژدے دے يا لرے دے د کوم څيز چه

تُوعَدُونَ ﴿١٠٩﴾ إِنَّهُ يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ

تاسو سره وعده اوشوه ده ۸۹ هغه ته معلومه ده چه په زوره کوئ تاسو کومه

الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُونَ ﴿١١٠﴾ وَإِنْ أَدْرِي

خبره او پوهيږي په هغې کوم چه تاسو پټوئ . ۹۰ او زه نه پوهيږم

لَعَلَّهُ فِتْنَةٌ لَكُمْ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١١١﴾

شائد چه په روستو کولو کښې امتحان کول دي په تاسو او فائده ورکول دي تر يو وخت پورے .

قٰلَ رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ ۗ وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ

رسول اُوئیل اے ربه ځما فیصله اُوکړے ذ انصاف او رب ځمونږ رحمان دے ځه

الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

ذ هغهٔ نه امداد غواړو په هغه خبرو کوم چه تاسو بیانوئ۔

نکات: ۔ ۱ بشارت اخروی یا دنیوی ۱۲۔ ۲ دا ټولو ذکر شوو اُمور ونه اشاره ده ۱۲۔ ۳ توحید باندے دلیل وحی ۱۲۔ ۴ ذ سورت دعوی دوباره ذکر کول ۱۲۔ ۵ ماقبل ذ پاره دلیل ۱۲۔ ۶ تخویف اُخروی ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ دواړه طرفونو ته برابر یعنی اوس تاسو دواړه خبرے کولے شئ په یو طرف زور راؤتړے شو ۱۲۔

فتح الرحمٰن ف۲ یعنی په اخری زمانه کښ به یو پیغمبر لیږلے شي او ذ هغهٔ اُمت به په زمکه غلبه حاصلوی ۱۲۔

تفسیر: ۸۲ وَلَقَدْ كَتَبْنَا الخ دا مؤمنانو ذ پاره بشارت اخروی دے۔ زبور نه حضرت داؤد علیه السلام کتاب مراد دے او ذ ذکر نه تورات یا ذ ابراهیم علیه السلام صحیفے مراد دی۔ اَلْاَرْضَ، ذ جنت زمکه۔ احسن ما قیل فیه انه یراد بها ارض الجنة کما قال سعید بن جبیر لان الارض فی الدنیا قد ورثها الصالحون وغیرهم وهو قول ابن عباس ومجاهد وغیرهما الخ (قرطبی) یا ارض مقدس یا ذ شام زمکه مراد ده او دا ذ اُمتِ محمدیه ذ پاره بشارت دنیوی دے۔ وقیل الارض المقدسة یرثها امة محمد صلی الله علیه وسلم (بحر ج ۶ ص ۳۴۳) وقیل المراد بها الارض المقدسة وقیل الشام (روح ج ۱۷ ص ۱۰۴)۔

۸۳ عِبَادِيَ الصّٰلِحُوْنَ الخ دینه اُمت محمدیه علی صاحبها الصلوٰة والسلام مراد دے۔ یعنی ارض الجنة یرثها امة محمد صلی الله علیه وسلم (خازن ج ۴ ص ۲۶۳) قال مجاهد یعنی امة محمد صلی الله علیه وسلم (معالم) واکثر المفسرین علی ان المراد بالعباد الصالحین امة محمد صلی الله علیه وسلم (قرطبی ج ۱۱ ص ۳۴۹) لیکن ډیره مناسب خبره دا ده چه کهٔ ذ الارض نه ذ جنت زمکه مراد وی نو عِبَادِيَ الصّٰلِحُوْنَ، کښ به ټول صلحاء شامل وی خواه هغه ذ هر پیغمبر اُمت وی او کهٔ چرے ذ الارض نه ذ شام یا ذ بیت المقدس زمکه مراد وی نو ذ عِبَادِيَ الصّٰلِحُوْنَ نه به اُمت محمدیه مراد وی۔ والله تعالیٰ اعلم بالصواب۔

۸۴ اِنَّ فِیْ هٰذَا الخ هٰذَا سره اشاره دے سورت کښ ذکر شوو ټولو امورو طرف ته ده۔ ځنې مفسرینو دینه ټول قرآن مراد اخستې دے۔ والاول اوفق ای فیما جری ذکرهٗ فی هٰذه السورة من الوعظ والتنبیه وقیل ان فی القرآن (قرطبی) ای القرآن او فی المذکور فی هٰذه السورة من الاخبار والوعد والوعید والمواعظ (مدارک ج ۳ ص۷۲)

۸۵ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ الخ نبی علیه السلام د ټول جهان د پاره باعث د رحمت دا شان دے چه هغوئ د الله حکم سره د ټولو د پاره د توحید اعلان اوکړو او صراط مستقیم چه د جنت تیغه لار ده هغه ئے ټولو ته واضحه کړه او د الله د طرفه چه کوم پیغام هغوئ ؐ راوړو هغه د ټولو بنیادمو د پاره د سعادت دارین باعث دے لیکن کافرانو د سوء استعداد، ضد او عناد د وجے نه فائده وانخستله۔ حضرت ابن عباس رض اوفرمائیل نبی علیه السلام مؤمنانو کافرانو دواړو د پاره د رحمت باعث دے مؤمنانو په هغوئ (صلی الله علیه وسلم) ایمان راوړلو سره خوش قسمت شول او د غرق وخسف (زمکه کښ ننه ویستل) او د نورو دنیوی عذابونو نه بچ شول په کوم چه تیر شوی قومونه هلاک کړے شول۔ عن ابن عباس کان محمد صلی الله علیه وسلم رحمة لجمیع الناس فمن اٰمن به وصدق به سعد، ومن لم یؤمن به سلم مما لحق الامم من الخسف والغرق (قرطبی ج ۱۱ ص۳۵۰) والظاهر ان المراد بالعٰلمین ما یشتمل الکفار ووجه ذٰلك علیه انه علیه الصلوٰة والسلام ارسل بما هو سبب لسعادة الدارین ومصلحة النشأتین الا ان الکافر فوت علی نفسه الانتفاع بذالك واعرض لفساد استعداده عما هنالك (روح ج ۱۷ ص۱۰۵)

۸۶ قُلْ اِنَّمَا یُوْحٰی الخ دا په توحید باندے دلیل وحی دے۔ انبیاء علیهم السلام سره دلائیل نقلیه نه روستو دلائیل وحی ذکر کړے شول ځکه چه انبیاء علیهم السلام د ټولو مصیبتونو او تکلیفونو په وخت صرف الله تعالیٰ متصرف اوکارساز گڼړلو او صرف هغهٔ ته به ئے اوازکولو دا شان ماته هم داوحی لیږلے شویده چه ځما او ستاسو د ټولو معبود او کارساز او حاجت روا هم صرف الله تعالیٰ دے د هغهٔ نه سیوا بل څوک نشته کله چه ځما او ځما نه مخکښ د ټولو انبیاء علیهم السلام هم داعقیده وه چه الله تعالیٰ نه سیوا بل څوک معبود او کارساز نشته او د هغهٔ نه سیوا څوک حاجت روا او اوازونو اوریدلو والا نشته نو ایا اوس به ئے هم تاسو منئ یا نهٔ؟ دا استفهام نه مقصود د فعل طلب دے۔ ای منقادون لتوحید الله تعالیٰ؛ ای فاسلموا کقوله تعالیٰ (فهل انتم منتهون) ای انتهوا

(قرطبی ج ١١ ص٣٥). استفهام یتضمن الامر باخلاص التوحید والانقیاد الی الله تعالی (بحر ج ٦ ص٣٤٣) ټول انبیاء علیهم السلام په دعوت توحید او رد شرک باندے متفق دی او د انبیاء علیهم السلام په دے باندے اتفاق او اجماع د دے په حق کیدلو باندے ډیر لوئے دلیل دے. قال فی شرح المقاصد ان بعثة الانبیاء علیهم الصلوٰة والسلام وصدقهم لایتوقف علی الوحدانیة فیجوز التمسك بالادلة السمعیة کاجماع الانبیاء علیهم السلام علی الدعوة الی التوحید ونفی الشریك وکالنصوص القطعیة من کتاب الله تعالی علی ذالك (روح ج ١٧ ص١٠).

٨٧ فَإِنْ تَوَلَّوْا الخ اٰذَنْتُكُمْ د پاره مفعول ثانی محذوف دے ای ما اوحی إلیَّ او عَلٰى سَوَآءٍ د مفعول اوّل نه حال واقع دے یعنی چه د کومو امورو اطلاع ما ته د وحی په ذریعه راکړے شویده او د کومو کارونو د تبلیغ حکم چه ما ته راکړے شوے دے. مثلاً د توحید مسئله، انکار کوونکو ته د سخت عذاب ورکولو وعید، او په آخر کښ د اسلام غلبه وغیره. د دے کارونو اطلاع ما تاسو ټولو ته بغیر د خاص کولو د بعض نه درکړه دا سے مے اونه کړل چه ځنے خبر کړم او د ځنو نه ئے پټ اوساتم ای کائنین علی سواء فی الاعلام بذلك لم اخص احدًا منکم دون احد (روح ج ١٧ ص١٠) فقد اعلمتکم ما هو الواجب علیکم من التوحید وغیره علی سواء فلم افرق فی الابلاغ والبیان بینکم لانی بعثت معلمًا (کبیر ج ٦ ص٢٣٣) یا عَلٰى سَوَآءٍ د فاعل او مفعول دواړو نه حال دے یعنی ما تاسو ته د توحید مسئله عقلی او نقلی او وحی دلائیلو سره دا شان واضح او ښکاره کړه او تاسو م ورباندے پوهه کړئ چه اوس د دے مسئلے علم او پوهه کښ زه او تاسو برابر یو. دا ځما خبره ده چه د ضد او عناد په وجے سره تاسو د هغے اقرار نه کوئ. ای مستویا انا وانتم فی العلم بما اعلمتکم به من وحدانیة الله تعالی لقیام الادلة علیها (روح).

٨٨ وَإِنْ أَدْرِيْٓ الخ دا د سورت دعوٰی دوباره ذکر کول دی چه الله تعالی نه سیوا څوک عالم الغیب نشته یعنی ما خو دا خبره تاسو ته صفا صفا بیان کړیده چه د توحید مسئله نه منئ نو په آخرت کښ به ذلیل کوونکی عذاب او سخت عذاب کښ مبتلاء کړے شئ او په دُنیا کښ به هم آخر تاسو مغلوب یئ او د اسلام خبره به اوچته او غالب وی دا ټول هرڅه به ضرور وی او کیږی به لیکن ما ته د دے خبرے علم نشته چه دا کارونه به کله واقع کیږی ستاسو تباه کولو او بربادولو سره به اسلام په کوم سنه کښ غالب کیږی او قیامت به کله قائمیږی د دے کارونو علم الله تعالی ما ته نه دے راکړے. وهذا الاید ان هو اعلام بما یحل بمن

تولی من العقاب وغلبة الاسلام ولکنی لا ادری متی یکون ذلك (بحر محیط ج ۶)
دَ مَا تُوْعَدُوْنَ په تفسیرکښې مختلف اقوال دی. دَ اسلام غلبه په مشرکانو
باندے دنیوی عذاب او قیامت وغیره. بهرحال دَ دینه چه هرڅهٔ مراد
وی هغه دَ آیت دَ نزول نه روستو په مستقبل زمانه کښې واقع کیدونکی دی
نبی علیه السلام ته دَ خپل ځان نه دَ هغې دَ علم نفی کولو حکم ورکړے
شوے دے. سید محمود آلوسی لیکی. (مَا تُوْعَدُوْنَ) من غلبة المسلمین وظهور
الدین او الحشر مع کونه اتیا لا محالة (روح) امام رازی فرمائی. اَقَرِیْبٌ
اَمْ بَعِیْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ من یوم القیامة ومن عذاب الدنیا ....ان
ما یوعدون به من غلبة المسلمین علیهم کائن لا محالة ولا بد ان.......
یلحقهم بذلك الذل والصغار وان کنت لا ادری متی یکون ذالك لان
الله تعالیٰ لم یطلعنی علیه (کبیر ج ۶ ص ۲۰۵) یعنی دَ کوم څیز چه ستاسو سره
وعده کړے شوے ده هغه به خامخا واقع کیږی لیکن ما ته علم نشته چه
هغهٔ به کله واقع کیږی ځکه چه الله تعالیٰ ما ته دَ هغې اطلاع نهٔ ده راکړے
او ما ته ئے دَ دے دَ معین وخت علم نهٔ دے راکړے امام ابو البرکات نسفی
حنفی لیکی ای لا ادری متی یکون یوم القیامة لان الله تعالیٰ لم یطلعنی
علیه ولکنی اعلم بانه کائن لا محالة او لا ادری متی یحل بکم العذاب ان لم
تومنوا (مدارك ج ۳ ص ۷۵) علامه خازن لیکی (مَا تُوْعَدُوْنَ) یعنی یوم
القیامة لا یعلمه الا الله (خازن ج ۴ ص ۲۶۲) علامه قرطبی لیکی (مَا تُوْعَدُوْنَ)
یعنی اجل یوم القیامة لا یدری به احد لا نبی مُرْسَلٌ ولا ملك مقرب قاله
ابن عباس وقیل اذنتکم بالحرب ولکنی لا ادری متی یؤذن لی فی محاربتکم
(قرطبی ج ۱۱ ص ۳۵۰) حافظ ابن کثیر فرمائی. ای هو واقع لا محالة ولکن لا علم
لی بقربه ولا ببعده (ابن کثیر ج ۳ ص ۲۰۳)

۸۹ اِنَّهٗ یَعْلَمُ الخ دا ما قبل دَ پاره دلیل او علت دے.

۹۰ وَاِنْ اَدْرِیْ الخ او ما ته دا هم معلومه نهٔ ده چه دِ دے عذاب روستو
کولو کښې څهٔ حکمت دے شائد چه دِ دے سره ستاسو امتحان او تاسو ته
دَ یو مقرر وخت پورے دَ قدرت دَ انعاما تو نه فائده ئے اخستلو سره
په تاسو باندے حجت تمامول مقصود وی ځکه چه الله تعالیٰ مجرمان
او دَ خپلو احکامو نه بغاوت کوونکی سمدستی بلا مهلت نهٔ نیسی بلکه
هغوئ باندے ډیر زیات انعامات کولو او مهلت ورکولو سره موقع ورکول
دی چه غور او فکر اُوکړی په حق او باطل کښې امتیاز اُوکړی.

۹۱ قٰلَ رَبِّ احْکُمْ الخ دا تخویف اُخروی دے ځکه چه الله تعالیٰ دَ
نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ دُعا حکایت کړیدے چه اے پروردګاره

څمونږ او دے مشرکانو په مینځ کښې زر فیصله اُوکړې مونږ ته غلبه راکړه او هغوئ مغلوب او مقهور او خوار ذلیل اُوګرځوه نوګویا چه دا د هغوئ دپاره د دنیا د عذاب بد دُعائی ده۔ ای ربّ اقض بیننا وبین اهل مکة بالعدل المقتضی لتعجیل العذاب والتشدید علیهم فهو دعاء بالتعجیل والتشدید والافکل قضائه تعالیٰ عدل وحق (روح ج ۱۷ ص۱۰۵)

۹۲ وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ الخ او څمونږ رب په خپلو بندګانو باندے ډیر مهربان دے او په هر مُشکل وخت کښې څمونږ کار ساز او مددګار دے اے مشرکانو کوم څه چه تاسو وایئ او د خپلے بهادرئ او زړهٔ ور تیا کومے لاپے چه کوئ الله تعالیٰ به هغه ټولے ناکام کړی او ستاسو مقابله کښې به څمونږ امداد اُوکړی مشرکانو به وئیل چه آخری رُعب او غلبه به هغوئ ته حاصل وی او هغوئ به د اسلام جهنډه سرښکته کړی۔ لیکن الله تعالیٰ د ایمان والؤ ته غلبه او عزت ورکړو او مشرکان ئے مغلوب کړل او د خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم دُعائے قبوله کړه انهم کانوا یقولون ان الشوکة تکون لهم وان رایة اسلام تخفق۔ …… فاستجاب الله عزوجل دعوة رسوله صلی الله علیه وسلم فخیب امالهم وغیر احوالهم ونصر اولیاءه علیهم فاصابهم یوم بدر ما اصابهم (روح ج ۱۷ ص۱۰۵) واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین۔

یا الله تعالیٰ ستا په رحم، مهربانئ او پاکوالی باندے خو قرآن عظیم الشان ګواه دے او چا چه هم ستا سو نه د مغفرت سوال کړے دے تو تاسو قبول کړے دے تو یا الله تعالیٰ دغه شان در ته مونږ هم سوال کوؤ چه مونږ معاف کړه او زمونږ مور پلار معاف کړه او زمونږ خویندے رونړه معاف کړه ځکه چه مونږ ډیر ګنا هګار یو او ستا په لوئے رحم به خلاصے مونو

ارقم جان کلے خدرځیل بخشی پل

پیښور

سورة الحج

ربط دَ سورۀ حج سورۀ انبیاء سره ربط دا دے چه په سورۀ انبیاء کښ دَ دے خبرے ذکر وو چه ټولو انبیاء علیهم السلام دَ الله تعالیٰ دَ طرفه دا پیغام راوړے وو چه دَ الله تعالیٰ نه سیوا څوک ما فوق الاسباب حاجت روا او مشکل کشا نشته دَ دے وجے نه په حاجتونو او مشکلاتو کښ صرف هغهٔ ته آواز کوئ او هلته دَ انبیاء علیهم السلام واقعات هم ذکر کړے شوی وو چه هغے سره دَ هغوئ عمل واضح کړے شو چه هغوئ به په حاجتونو کښ صرف الله ته آواز کولو اوس په سورۀ حج کښ به دا بیان کولے شي چه څنګه په حاجتونو کښ غائبانه دُعا او رابلل صرف دَ الله حق دے او په هغے کښ غیر الله ته آواز کول شرک دے. دا شان نذرونیاز منښته هم صرف دَ الله تعالیٰ حق دے او دَ غیر الله نذر منښته شرک دے لهٰذا منښته صرف دَ الله تعالیٰ دَ پاره کوئ او نذرنیاز دَ الله تعالیٰ دَ رضا لټولو دَ پاره ورکوئ په سورۀ انبیاء کښ صرف نفی دَ شرک فی التصرف بیان شوے وه او اوس به په سورۀ حج کښ دَ شرک فی التصرف نفی سره دَ شرک فعلی نفی هم بیانیږی.

خلاصه دَ مضمون په اعتبار سره دا سورت په دوؤ حصو کښ تقسیمیدلے شي.

اوله حِصّه نفی دَ شرک فی التصرف

اوله حصه دَ سورت دَ ابتداء نه واخله دَ رکوع ۳ اختتام تر قه من عذاب الیم پورے ده. دے کښ دَ شرک فی التصرف دَ نفی مضمون ذکر شوے دے، دے حصه کښ په توحید باندے دوه عقلی دلیلونه پیش کړے شوی دی په شروع کښ یَا ایهَا النَّاس اتقوا ربکم الخ تخویف اُخروی دے ومن الناس من یجادل الخ زجر دے لیکن دَ دے باوجود څخے دومره زیات سرکش دی او ناپوهه چه دَ عذاب نه نهٔ ویریږی او بغیر دَ دلیل نه محض دَ شیطان غلولو سره جهګړے کوی. یا ایها الناس ان کنتم الخ (ع ۱) دَ قیامت په ثبوت او توحید باندے عقلی دلیل یعنی څوک چه دَ یو کمزوره نطفے اُوبو نه انسان پیدا کولے شي هغه دَ مرګ نه روستو دوباره پیدا کولو باندے هم قادر دے او هم دغه قادر او طاقتور ستاسو معبود حقیقی دے، دَ دے وجے نه په حاجتونو کښ صرف هغهٔ ته آواز کوئ. ذٰلک بان الله هو الحق الخ او وان الساعة اٰتیة الخ چونکه په منکورو دلیل کښ

دَقیامت ثبوت هم دے او نفی دَ شرک فی التصرف هم دَ دے وجے نه دا دوا ۲ه
ایتونه دَ دلیل مذکوره په نتیجه کښ دی ومن الناس من یجادل الخ (ع ۱)
دَ اول زجر دوباره ذکر کول په طریق دَ ترقئ څوک چه غیر الله ته آواز کوی
هغوئ سره نهٔ دلیل عقلی شته نهٔ دلیل نقلی او نهٔ دلیل وحی هغوئ محض
دَ عناد او ضد په وجے سره په شرک کلک او ټینګ ولاړ دی له فی الدنیا
خزی الخ (ع ۱) تخویف دنیوی او اُخروی دے. ومن الناس من یعبد الله الخ
(ع ۲) دویم زجر یَدْعوا من دون الله الخ متعلق دے زجر ثانی سره. ان الله
یدخل الذین امنوا الخ (ع ۲) بشارت اُخروی دے من کان یظن ان لن
ینصره الله الخ (ع ۲) زجر ثالث دے دَ چا چه دا خیال وی چه الله تعالی به دَ
هغهٔ امداد اُو نهٔ کړی نو هغهٔ له هغه خلقو ته خیال کول پکار دی څوک چه
صرف الله تعالی ته آواز کوی. آیا الله به دَ هغوئ مدد نهٔ کولو. اِنَّ الَّذِیْن
امنوا والذین هادوا الخ (ع ۲) تخویف اُخروی الم تران الله یسجد له (ع ۲)
دا په توحید باندے دویم عقلی دلیل دے دَ زمکے نه واخله تر آسمانه پورے
ټول کائنات دَ الله تعالی مطیع او تابعدار دی او انبیاء او صلحاء هم دَ الله
تعالی تابعدار حکم متونکی دی لهذا صرف هغه دَ ټول کائنات مالک او
مختار او متصرف او کارساز دے. دَ دے وجے نه صرف دَ هغهٔ نه امداد
غواړئ او هغهٔ ته فریاد کوئ. فالذین کفروا الخ (ع ۲) دَ توحید نه منکریتو
دَ پاره تخویف اُخروی دے. اِنَّ الله یدخل الذین امنوا الخ (ع ۳) مؤمنانو
دَ پاره بشارت اُخروی دے. اِنَّ الذین کفروا ویصدون الخ (ع ۳) توحید
نهٔ منونکو او نورو خلقو له دَ توحید نه منع کوونکو دَ پاره تخویف اُخروی دے.

دویمه حصه ـــ نفی دَ شرک فعلی

دویمه حصه واذ بوّانا لابراهیم الخ (ابتداء رکوع ۴) نه واخله دَ رکوع ۵
اختتام ان الله لا یحب کل خوان کفور پورے ده دے کښ
دَ شرک فعلی دَ نفی بیان دے چه په هغے باندے حضرت ابراهیم علیه السلام
سره یو دلیل نقلی نقل کړے شوے دے او څلور واړه عنوانات ذکر شوی دی
تحریمات الله صحیح دی او تحریمات غیر الله صحیح نهٔ دی نذر او منسته
الله دَ پاره جائز دے او دَ غیر الله نذر او منسته حرام ده. واذ بوانا لابراهیم
مکان البیت الخ (ع ۴) دا دَ شرک فعلی په نفی باندے حضرت ابراهیم علیه
السلام سره دلیل نقلی دے حضرت ابراهیم علیه السلام ته حکم ورکړے
شو چه هغوئ بیت الله (خانه کعبه) دَ هر قسم شرکی افعال نه پاک کړی
او خلق په هغے کښ دَ شرک کولو نه منع کړی. ویذکروا اسم الله الخ ولیوفوا

نذورو هم (ع ۴) د الله پاک په نوم د نذر و نیاز حکم دے او په فاجتنبوا الرجس من الاوثان کښې د نذر لغیر الله ذکر دے. ومن یعظم حرمات الله الخ د تحریمات الله ذکر دے یعنی د احرام په ورځو کښې یا په حرم کښې د کومو امورو نه چه الله تعالیٰ منع کړیده یعنی ښکار وغیره نه د هغې نه منع کیدل او د الله تعالیٰ د حکم تعظیم برقرار ساتل واحلت لکم الانعام الخ (ع ۴) د تحریمات غیر الله نفی ده یعنی تاسو د خپل جانب نه چه کوم چارپایه مثلاً بحیرة، سائبه وغیره حرام کړیدی هغه حرام نهٔ دی بلکه حلال دی حرام صرف هغه دی کوم چه الله حرام کړیدی او داچارپایان کوم چه تاسو د خپل ځان نه ګرځولی دی داخو الله حلال کړیدی. ذٰلِك ومن یعظم شعائر الله الخ (ع ۴) داتاکید په طور د الله د نذر و نیاز بیان دے. وَلِكُلِّ اُمَّةٍ جعلنا منسكًا (ع ۵) والبدن جعلناها لكم الخ د نذورو الله اعاده ده تر اخر د رکوع پورے اُذن للذین یقاتلون بانهم ظلموا الخ (ع ۵) سره د دوارو مضمونونو په اخر کښې مسلمانانو ته د جهاد د اجازت ذکر کړے شویدے چه کومو مشرکانو تاسو محض د توحید په خاطر د بیت الله نه منع کړئ او بخپله په هغې کښې شرک کوی او تاسوئے په خپل وطن مکه مکرمه پریښودلو باندے مجبور کړئ هغوئ سره جهاد کوئ او ورسره ئے د امداد وعده هم اُوکړه. ولولا دفع الله الناس الخ د جهاد د مشروعیت وجه یعنی که چرے الله تعالیٰ د ظالم په مقابله کښې مظلوم ته د لاس اُوچتولو اجازت نهٔ ورکولے او د مظلوم په لاسونوئے د ظالم اقتدار او غلبه نهٔ ختمولے نو په دُنیا کښې به عبادت خانے هم محفوظ نهٔ پاتے کیدلے وان یکذبوك فقد كذبت الخ (ع ۶) نبی علیه السلام ته تسلی ده او نهٔ منونکو ته تخویف دے. ویستعجلونك بالعذاب الخ زجر سره د تخویف دنیوی قل یا ایها الناس انما انا لكم نذیر مُّبِینٌ (ع ۷) د ایمان ترغیب. فالذین امنوا وعملوا الصلحت الخ بشارت اُخروی مؤمنانو د پاره. والذین سعوا فی ایتنا الخ تخویف اُخروی منکرینو د پاره. وَمَا اَرسلنا من قبلك (ع ۷) دلته د منکرینو د نهٔ منلو وجه بیان کړے شویده چه شیطان د هغوئ په زړونو کښې مختلف قسم شبهات اچوی چه د هغې په وجے سره هغوئ د حق نه لرے ووځی کما قال تعالیٰ كذالك جعلنا لكل نبی عدوًا شیطین الانس والجن (انعام) ولا یزال الذین كفروا الخ (ع ۷) تخویف اُخروی فالذین امنوا الخ بشارت اُخروی. والذین كفروا الخ تخویف اُخروی والذین هاجروا فی سبیل الله الخ (ع ۸) د الله په لار کښې هجرت کوونکو د پاره بشارت اُخروی او دُنیوی. یعنی کوم خلق چه محض په دے وجه

د خپلو کورونو نه بے کوره شی چه هغوئ د الله توحید منی داسے مهاجرین که چرے د مشرکانو سره جهاد اُوکړی نو اخری فتح به د دوئ وی او هغوئ ته به خواه په خپلو بسترو مره شی یا د مشرکانو سره په جهاد کښ شهیدان شی په اخرت کښ هر قسم نعمتونه او راحتونه ملاویږی. ذٰلِكَ وَمَنْ عَاقَبَ الخ دا ما قبل د پاره دلیل لمی دے یعنی څوک چه مظلوم وی او د ظالم په لاس هغهٔ ته تکلیف ورکړے شی کله چه هغه مقابلے د پاره پاڅی نو الله تعالیٰ به ضرور د هغهٔ امداد کوی. ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ یولج اللیل الخ دا ما قبل د پاره دلیل انی دے یعنی کوم الله چه د ټول نظام عالم مختار او متصرّف دے هغه د مظلوم مجاهدینو په امداد او تائید قادر دے. اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ الخ (ع ۸) د اولنی مضمون دوباره ذکر کول یعنی نفی د شرک فی التصرّف سره د دلائیلو دا اولنے دلیل عقلی دے. اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَکُمْ الخ (ع ۹) دویم دلیل عقلی. وَهُوَ الَّذِیْٓ اَحْیَاکُمْ الخ دریم دلیل عقلی. لِکُلِّ اُمَّةٍ جعلنا منسکًا الخ (ع ۹) دویم مضمون د شرک فعلی د نفی اعاده ده یعنی مونږ د هر اُمت د پاره دا قانون مقرر کړیدے چه هغوئ د نذرونو نیاز صرف د الله په نوم ورکوی. اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یعلم ما فی السمآء الخ دا دواړو مضمونونو سره متعلق دے یعنی کله چه عالم الغیب صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نهٔ دے نو د هغهٔ نه سیوا بل څوک کارساز، متصرّف او مختار هم نهٔ کیږئ او د هغهٔ نه سیوا د بل چا نذرونیاز هم مهٔ ورکوئ ویعبدون من دون الله الخ زجر مشرکانو د پاره یعنی د داسے واضح دلیلونو باوجود مشرکان د شرک نه نهٔ منع کیږی افانبئکم بشرٍ من ذالکم الخ (ع ۹) تخویف اُخروی مشرکانو د پاره. یاایها الناس ضُرِبَ مَثَلٌ الخ (ع ۱۰) دا هم د دواړو مضمونونو سره متعلق دے دلته یو مثال سره د باطلو معبودانو عاجزی او د هغوئ بے وسی واضحه کړے شویده یعنی مشرکان چه چا ته په مشکلاتو کښ اوازکوی هغوئ بالکل بے بس دی او د خپلے نفع او نقصان اختیار هم نهٔ لری نو د خپلو عبادت کوونکو کارونه به څهٔ برابر کړی. لهٰذا غائبانه اوازکول او د هغوئ په نوم نذرونه منښتے ورکول محض بے کار دی الله یصطفی من الملٰئکة رسلًا الخ دا د یو شبهے جواب دے لکه چه داسے اُوئیلے شو چه پیغمبر، اولیاء، فرشتے د الله برگزیده (غوره کړے شوی) او محبوب بندګان دی نو کهٔ هغوئ حاجت روا هم وی نو دا کومه لرے اولویه خبره ده. د دے ازاله اُوکړے شوه اگرچه هغوئ غوره بندګان دی لیکن د اُلوهیت د صفتونو مالکان نهٔ دی نهٔ خو هغوئ سمیع لِکُلِّ شَیْءٍ (د هر څهٔ اَوریدونکی) او نهٔ بَصِیْرٌ بِکُلِّ شَیْءٍ (د هر څهٔ

لیدونکی او عالمان) دی لهٰذا هغوئ دَ عبادت او دَ رابللو لائق هم نه دی، عالم الغیب، متصرف او مختار الله تعالیٰ دے لهٰذا هغهٔ ته او از کوئ او دَ هغهٔ په نوم نذرونه او نیازونه کوئ. یا ایها الذین امنوا ارکعوا الخ دَ سورت دَ مضامینو اجمالاً دوباره ذکر کول. وارکعوا واسجدوا واعبدوا ربکم کښ بالذات نفی دَ شرک فی التصرف ده او بالواسطه نفی دَ شرک فعلی طرف ته اشاره ده. وجاهدوا فی الله حق جهاده اشاره ده جهاد فی سبیل الله طرف ته. مِلَّةَ اَبِیۡکُمۡ اِبۡرٰهِیۡمَ الخ دلیل نقلی طرف ته اشاره ده.

مختصر خلاصه سورۂ حج دَ مضمون په اعتبار سره دوه حصو کښ تقسیم شوے دے اوله حصه دَ سورت دَ ابتداء نه واخله دَ رکوع ۳ تر اخره نذقهٔ مِنۡ عَذَابِ الۡیَمٍ پورے ده دے حِصّه کښ مضمون نفی شرک فی التصرف ذکر شوے دے. دے حصه کښ په نفی دَ شرک فی التصرف دوه عقلی دلیلونه ذکر کړے شوی دی. اول دلیل دَ قیامت په ثبوت او دَ شرک فی التصرف په نفی دواړو باندے دلالت کوی دے حصه کښ درے زجرونه دی دَ اول زجر تفصیلی اعاده هم شوے ده. **دویمه حصه** وَاِذۡ بَوَّاۡنَا لِاِبۡرٰهِیۡمَ (ع ۴) نه واخله دَ رکوع ۵ تر اخره اِنَّ اللهَ لَا یُحِبُّ کُلَّ خَوَّانٍ کَفُوۡرٍ پورے ده دے کښ دَ شرک فعلی دَ نفی بیان دے چه په هغے باندے یو دلیل نقلی پیش کړے شوے دے او په څلورو عنوانونو کښ دَ شرک فعلی دَ نفی کولو ذکر دے ① تحریمات الله قائم اولړئ. ② تحریمات دَ غیر الله. داختم کړئ. ③ دَ الله تعالیٰ نذرونه او منتونه ورکړئ ④ دَ غیر الله نذرونه مهٔ ورکوئ. دَ دواړو مضمونونو نه روستو اُذِنَ لِلَّذِیۡنَ یُقَاتَلُوۡنَ الخ دَ جهاد اجازت او دَ دینه متصلاً روستو دَ فتح او نصرت دَ وعدے ذکر دے دَ دینه روستو په رکوع ۷ کښ دَ فتح دَ وعدے اعاده کړے شوے ده بیا رکوع ۸، ۹ کښ دَ دواړو مضمونونو اعاده ده سره دَ دلائیل عقلیه نه په اخر کښ یو تمثیل سره دَ دواړو مضمونونو وضاحت کړے شوے دے دَ سورت په اختتام کښ دَ سورت ټول مضمونونه بالاجمال دوباره ذکر شوی دی.

سُوْرَةُ الْحَجِّ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٌ وَسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّعَشْرُ رُكُوْعَاتٍ

سورة حج په مدینه کښ نازل شویدے او دا دے اته اویا آیتونه او لس رکوع لګانے دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر زیات رحم کوونکے دے.

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۚ اِنَّ زَلْزَلَةَ

خلقو اُو یریږئ سله د رب خپل نه بیشکه زلزله

السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيْمٌ ۝۱ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ

د قیامت سله یو څیز لوئے دے. په کومه ورځ سله چه هغه اُوینئ هیر به کړي

كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ اَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ

هره يئ ورکوونکے ښځه خپل يئ رودونکے بچے او اُو به غورځوي هره

ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى

حامله (اُمیدواره) خپل بچے سه او ته به وینے خلق نشه

وَمَا هُمْ بِسُكٰرٰى وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ ۝۲

او هغوئ به نشه نه وي بیا عذاب د الله سخت دے

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ

او ځنے خلق هغه دي چه جهګړه کوي په خبره سله د الله کښ بغیر

عِلْمٍ وَّيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطٰنٍ مَّرِيْدٍ ۝۳

د پوهے نه او پیروي کوي د هر شیطان سله سرکش

كُتِبَ عَلَيْهِ اَنَّهٗ مَنْ تَوَلَّاهُ فَاَنَّهٗ يُضِلُّهٗ

چه لیکلے شوي ئ د هغه متعلق چه څوک د هغه ملګرے وي نو هغه به د هٔ لارے لاے کړي

وَيَهْدِيْهِ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ۝۴

سله او بوبه ئې عذاب ته د دوزخ.

نکات: سلـ دَ سورت اوّله حصّه نفی دَ شرک فی التصرف- دا تخویف اخروی دے. سلـ زجر ۱۲-

اوله حِصّه نفی دَشرک فی التصرف

لکه چه په خلاصه کښ ذکر کړے شویدی دَ سورۀ حج په اوّله حصه کښ شرک اعتقادی یادَ شرک فی التصرف نفی کړے شویده او په هغے باندے دوه عقلی دلیلونه ذکر شوی دی.

تفسیر: سلـ یَٰٓاَیُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا الخ دا تخویف اخروی دے دَ سورت په شروع کښ دَ اصل مضمون نه مخکښ دَ قیامت ویره وونکے او هیبتناک منظر پیش کړے شوے دے دَ پاره چه دَ لوستونکو په زړونو کښ دَ الله دَ ویرے او خوف دَ وجے نه دَ رجوع او اطاعت جذبه پیدا شي او دَ هغوئي په زړونو کښ دَ حق دَ قبلولو استعداد پیدا شي. اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ الخ دا دَ ماقبل علت دے اول دَ الله تعالیٰ نه دَ ویریدلو حکم ورکړے شویدے او دلته دَ قیامت هیبتناک منظر او تباه کوونکے زلزله دَ مثال په طور پیش کړے شوه او دے سره مقصد دا دے چه دَ قیامت دَ هیبتناک عذاب نه دَ بچ کیدلو صرف دا یو صورت دے چه انسان دَ تقوٰی لباس دَ تن خائست اُوګرځوی او دَ الله تعالیٰ دَ احکاموتابعداری اُوکړی او دَ هغۀ دَ منع شووکارونو نه ځان بچ اُوساتی تعلیل بموجب الامر بذکر بعض عقوباتہ الهائلة فان ملاحظة عظمها و هولها و فظاعة ما هی من مبادیه ومقدماته من الاحوال والاهوال التی لا ملجأ منها سوی التدرع بلباس التقوٰی (ابوالسعود ج ۶ ص ۳۰۳).

سلـ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ. دَ قیامت دَ دے هولناکے زلزلے (زلزله) نه دَ مراد باره کښ دَ مفسرینو اقوال مختلف دی کله چه نمر دَ مغرب دَ طرف نه را اُوخیژی دغه وخت به سخته زلزله راشی دا شان دا زلزله به دَ قیامت دَ راتللو یوه لویه نښه وی دا قول دَ علقمه او شعبی دے (کبیر ج ۶ ص ۲۰۶) (بحر ج ۶ ص ۳۴۹) مراد هغه زلزله ده کومه چه به نفخه اولیٰ سره راځی. او هغے سره به ټول نظام دَ عالم ګډوډ شی او قیامت به برپا شی دَ حضرت عبدالله بن عباس رض او حسن بصری قول دا دے قال ابن عباس زلزلة الساعة قیامها فتکون معها (خازن ومعالم ج ۵ ص ۲) وقال الحسن اشد الزلزال مایکون مع قیام الساعة (بحر) دَ محققینو په نزد دَ زلزلے نه مراد هغه ده کومه چه به دَ قیامت او دَ خلقو دَ قبرونو نه دَ راوتلو نه روستو راځی دَ دے په تائید کښ یو مرفوع حدیث هم راغلے دے چه هغه عمران بن حصین، انس بن مالک، ابوسعید خدری او عبدالله ابن مسعود رضی الله عنهم دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کړیدے چه

دا زلزله به کله راځي صحابو عرض اوکړو. الله او د هغه رسول ښه پوهیږي نبي علیه السلام اوفرمائیل دا به د قیامت په ورځ وي کله چه الله تعالیٰ ادم علیه السلام ته اوفرمائي په خپل اولاد کښې د جهنم حصه د جهنم طرف ته اولیږه الخ (ابن کثیر ج ۳ ص۲۰۵) ۵ یَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ الخ دا د قیامت د زلزلے د هیبتناکئ بیان دے یعنې هغه زلزله به دومره زیاته هیبتناکه وي چه د ویرے په وجه به پئ ورکوونکے ښځه خپل پئ رودونکے بچے هیرکړي او د حامله (امید وارے) ښځے حمل به د ډیرے سختے ویرے د وجے نه ساقط شي او د نشیانو په شان به د ویرے او پریشانئ په عالم کښې د لیونو په شان یوخوا بل خوا منډے وهي حال دا دے چه هغوئ به د شرابو وغیره په نشه کښې نه وي بلکه د قیامت د هیبت او سختے ویرے د وجے نه به د هغوئ په عقلونو کښې نقصان راغلے وي. فخوف عذاب الله هوالذی اذهب عقولهم وطیر تمییزهم وردهم فی نحو حال من یذهب السکر بعقله وتمییزه (مدارک ج ۳ ص۷۲)

۵ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ الخ که چرے زلزله په اولنی یا دویم مراد بانده محمول کړے شي نو د والدے خپل پئ رودونکے بچے هیرول او د حامله حمل ضائع کیدل او غورځیدل به خپل ظاهر بانده محمول وي یعنې د سختے ویرے په وجه به في الواقع دا شان وي او که چرے د حشر او نشر نه روستو زلزله مراد وي نو مطلب به دا وي چه بفرض محال که چرے دا وخت کومه حامله یا مرضعه موجود وي نو د دے زلزلے د دهشت د وجے نه به د مرضعے نه خپل بچے هیرشي او د حاملے حمل به ساقط شي.

۶ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ الخ دا زجر دے د تخویف نه روستوئے اوفرمائیل په مسئله توحید کښې چه یو واضح حقیقت دے خامخا جهګړه کوي او د توحید په انکار بانده د قیامت د عذاب نه هم نه ویریږي او بیا د دے انکار د پاره هغوئ سره څو نقلي دلیل شته چه عقلي ثبوت هم نشته. بِغَيْرِ عِلْمٍ نه دلیل عقلي مراد دے. ۷ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطٰنٍ الخ د شیطان نه مراد ابلیس دے چه د مشرکانو په زړونو کښې مختلف قسم وسوسے او شبهات پیدا کوي او هغوئ د توحید او ایمان بالاخرة نه د اړولو په کوشش کښې مشغول دي یا د کافرانو او مشرکانو سرداران او مشران مراد دي چه خپلو ماتحتو او تابعدارانو ته د کفر او شرک طرف ته دعوت ورکوي او د هغوئ په ذهن کښې د توحید باره کښې شکونه او شبهات پیدا کوي یجوزان یرید شیاطین الانس وهم رؤساء الکفار الذین یدعون من دونهم الی الکفر والثانی ان یکون المراد بذالك ابلیس وجنوده (کبیر ج ۶ ص۲۰۲)

۵۹ مَنْ تَوَلَّاهُ الخ ضمیر منسوب شیطان طرف راجع دے. تولاه ای اتخذه ولیا وتبعه (روح ج ۱۷ ص۱۱۵) یعنی کوم سړے چه د دے شیطان سره دوستي ساتي او د دوئ تابعداري کوي هغه به دوئ د صراط مستقیم نه گمراه کړي د جهنم لاره به ورته اوښائي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ

اے خلقو که چرے تاسو یئ په دهوکه کښ

مِّنَ ٱلْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن تُرَابٍ

د ژوندي کیدلو نه نو بیشکه مونږ تاسو له د خاورے نه

ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ

بیا د څاڅکي (د مني) نه بیا د چکه وینے نه بیا

مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ

د غوښے د بوټئ نه چه نقشه جوړ شوي وي او بغیر د نقشے جوړے شوے نه

لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۚ وَنُقِرُّ فِى ٱلْأَرْحَامِ

دے د پاره چه ښکاره بیان اوکړو تاسو ته او ثابت ئے پریږدو په خیټو کښ

مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ

کوم څه چه مونږ غواړو تر یو وخت معین پورے بیا الله راوباسو تاسو

طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا۟ أَشُدَّكُمْ ۖ وَمِنكُم

هلک (ماشوم) بیا چه ترڅو اورسیږئ د خپلے ځوانئ طاقت ته او ځنے ستاسو نه

مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرْذَلِ

وفات کولے شي الله او ځنے ستاسو نه بیا بوتلے شي ناکاره

ٱلْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنۢ بَعْدِ عِلْمٍ

عمر ته دے د پاره چه نه پوهیږي روستو د پوهے نه

شَيْـًٔا ۭ وَتَرَى الْاَرْضَ هَامِدَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا
په هیڅ او ته وینې ځمکه چه خرابه (مړه) پرته وی بیا چه کله مونږ نازل کړو

عَلَيْهَا الْمَاۗءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَاَنْۢبَتَتْ مِنْ
په هغې باندے اوبۀ نو تازه شی او اوپرسیږی او زرغونه کړی دَ

كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ۝۵ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ
هر قسم خائسته ښیزو ته دا ټول هر څۀ ځکه دے وجے نه دی چه الله هغه

الْحَقُّ وَاَنَّهٗ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَاَنَّهٗ عَلٰي كُلِّ
حق دے او هغه ژوندی کوی مړی او هغه هر

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۶ وَّاَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ
څۀ کولے شی او دا چه قیامت راتلونکے دے نشته دهوکه

فِيْهَا ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ۝۷
په هغې کښ او دا چه الله تعالیٰ به راپاڅوی هغه څوک چه په قبرونو کښ پراتۀ دی

نکات:- ۱ توحید او قیامت باندے دَ اوّلنی دلیل عقلی اوّلنی حصه ۱۲
۲ دَ عقلی دلیل دویمه حصه ۱۲۔

تفسیر:- ۹ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ الخ دا په توحید او قیامت باندے اوّلنے عقلی دلیل دے دَ دے دلیل دوه حصے دی یوه حصه کښ پخپله دَ انسان دَ پیدائش مختلف مراتب سره او په دویمه حصه کښ دَ ځمکے مختلف حالات سره استدلال کړے شوید ے۔ ذکر دلیلین واضحین علی ذالك احدهما فی نفس الانسان وابتداء خلقه وتطوره فی مراتب سبع.......... والثانی فی الارض التی تشاهدون تنقلها من حال الی حال الخ (بحر ج ۶ ص ۳۵۱-۳۵۲) فَاِنَّا خَلَقْنٰكُمْ نه دَ دلیل اوله حصه شروع کیږی یعنی دا خبره خو بالکل واضحه او دَ شک شبهے نه ډیره اوچته او لرے ده لیکن تاپوهه خلقو دے کښ شک اوکړو که چرے دَ مرګ نه روستو دَ هغوئ په دوباره ژوندی کیدلو کښ شک دے نو هغوئ دِ دَ خپل جدّ اعلیٰ (پوره تنی نیکه) آدم علیه السلام او خپل پیدائش کښ غور او فکر اوکړی نو دَ قیامت او حشر مسئله په آسانئ سره حل کیدے شی او دَ دے بارہ کښ ټول شکونه

لرے کیدے شي یعني ان ارتبتم في البعث فمزیل ریبکم ان تنظروا في بدء خلقکم وقد کنتم في الابتداء ترابا وماء ولیس سبب انکارکم البعث الا هذا (مدارک ج ۳ ص ۷۲) ستاسو د ټولو نه لوئے اعتراض دا دے چه مونږ د خاورو سره یوځائے خاورے شو دوباره به څنګه ژوندي کړے شو حال دا دے چه ستاسو نیکهٔ آدم علیه السلام هیڅ نهٔ وو بیا ما هغه خاورے نه پیدا کړو او بیا ستاسو هم هیڅ نوم او نشان نهٔ وو لیکن ما په کمالِ قدرت سره د اوبو د یو څاڅکي د مختلفو احوالو نه تیرولو سره په ډیر خائسته شکلي قد او قامت کښې تاسو پیدا کړئ نو په دے باندے دوباره راژوندي کول هم قیاس کړئ د انسان پیدائش چرته چه حشر او نشر باندے واضح دلیل دے هلته د دینه دا هم ثابتیږي چه کله ستاسو خالق الله تعالیٰ دے نو لا محاله مالک، مختار، متصرف او کارساز هم صرف هغه دے۔

ف ۱۰ فَاِنَّا خَلَقْنٰکُمْ الخ یعني اول م ستاسو پلار آدم علیه السلام د خاورے نه او بیا تاسو د منئ د څاڅکي نه پیدا کړئ۔ فانا خلقناکم ای اباکم من تراب ثم خلقتم من نطفة الخ (مدارک) یا مطلب دا دے چه د خاورو نه ستاسو د پاره غذاګانے پیدا کړے چه بدن ته رسیدو سره د څو منزلو قطع کولو نه نطفه اوګرځیدله او بیا نطفه د مختلفو مدارجو نه تیریدلو سره د انسان په شکل کښې راظاهر شوه. خلقهم من تراب في ضمن خلق آدم علیه السلام منه او بخلق الاغذیة التي یتکون منها المني منه الخ (روح ج ۱۷ ص ۱۱۵) دِ دے آیت کښې د انسان د شروع پیدائش نه د ژوند تر انتهاء پورے اووه منزلونه ذکر کړے شوي دي (۱، ۲) اول پیدائش د خاورے او د منئ د څاڅکي نه پورتني تفصیل سره (۳) عَلَقَةٍ چکه شوے وینه چه کله مني د مور رحم ته اورسیږي د حمل صورت اختیار کړي نو څو ورځے روستو هغه عَلَقَه (چکه وینه) اوګرځي (۴) مُضْغَةٍ د غوښے ټکړه وینه زیات تربیت بیا مومي غوښه ګرځي. مُخَلَّقَةٍ کامل الخلقت چه د ټولو عیبونو او نقصانونو نه پاک وي د هغے نه د قد و قامت رنګ، شکل، صورت او صحت په اعتبار سره کامل بچے پیدا کیږي. المخلقة المسواة الملساء من النقصان والعیب .... فالنطف التي یخلق منها الانسان متفاوتة منها ما هو کامل الخلقة ومنها ما هو علی عکس ذلك فیتبع ذلك التفاوت تفاوت الناس في خلقهم وصورهم وطولهم وقصرهم وتمامهم ونقصانهم (روح ج ۱۷ ص ۱۱۵). ۱۱ لِنُبَیِّنَ لَکُمْ الخ انساني پیدائش م د دے مختلفو مراحلو نه په دے وجه سره تیر کړے چه څمونږ د قدرتِ کامله

او تام صنعت اظهار اوشی (لِنُبَيِّنَ لَكُمْ) يريد: كمال قدرتنا بتصريفنا اطوار خلقكم (قرطبی ج ۱۲ ص۱۱) وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ الخ بیا هر جنین ته موتږ د مور په رحم کښې چه څومره زمانه اوغواړو هلته ئې اوساتو، د حمل موده د شپږو میاشتو نه واخله تر دوو کلونو پورې ده عام او غالب موده د حمل نهه میاشتې ده. ۲ له ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا، دا د پیدائش پنځم منزل دے کله چه د مور په رحم کښې بچے هر لحاظ سره کامل شی او د الله تعالیٰ په علم کښې د هغهٔ د حمل موده پوره شی نو الله تعالیٰ هغه په کمال قدرت سره د مور د رحم نه بهرته را اوباسی. ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ، دا شپږم منزل دے اَشُدّ عقل او تمیز او د بدن قوت او کمال ته رسیدل دی د دهٔ معطوف علیه محذوف دے ای ثم نخرجکم طفلا لتکبروا شیئا فشیئا ثم لتبلغوا کمالکم فی القوة والعقل والتمیز (ابوالسعود ج ۶ ص۱۱۱). حضرت شیخ فرمائی لِتَبْلُغُوا د پاره متعلق يبقيكم مقدر دے په اصل کښې ثم يبقيكم لِتَبْلُغُوا اشدکم ۳ له وَمِنْكُمْ مَنْ يُتَوَفّٰى، کمال قوت او عقل ته رسیدلو سره ځینې خلق د ملکِ عدم په لار روان شی. وَمِنْكُمْ مَنْ يُرَدُّ إِلٰى أَرْذَلِ الْعُمُرِ، دا اووم منزل دے او ځینې خلق د ځوانئ نه روستو د بوډاوالی هغه حد ته اورسیږی چه په هغې کښې د هغوئ بدنی طاقتونه کمزوری اوګرځی او ذهنی او عملی قوتونه جواب ورکړی تر دے چه د ماشوم والی او ځوانئ معلومات د قوتِ حافظې نه ختم شی. ای يبلغ من السن ما يتغير به عقله فلا يعقل شيئا (معالم وخازن ج ۵ ص۱۱) د انسانی پیدائش او د ژوند مختلف اطوار او ادوار ته د الله تعالیٰ د کمال تصرف او د قدرت د انتهاء پته لګیږی هغه داسې قادر او متصرف، علیم او حکیم دے چه هغهٔ انسان اول ځل د اوبو او خاورے نه پیدا کړو داسې چه کله ټول انسانان مړهٔ شی او د هغوئ د بدن تری نری ویښته خاورو سره ملاؤ شی (الا ما شاء الله) نو هغه قادر، طاقتور حکیم او دانا د هغه خاورو ذرې ذرې یو ځائے کړی او انسانان به دوباره هم ژوندی کړی دِ دے دلیل نه دا حقیقت واضح شو چه د ټول کائنات مالک او خالق الله تعالیٰ دے او صرف هغه قادر او متصرف دے لِهٰذا د هغهٔ نه سیوا کارساز او حاجت روا هم څوک نشته.

۴ له وَتَرَى الْأَرْضَ الخ دا د اولنی دلیل عقلی دویمه حصه ده. هَامِدَةً اوچه بے اوبو او بے ګیاه وهمود الارض الا يكون فيها حياة ولا نبت ولا عود ولم يصبها مطر (قرطبی ج ۱۲ ص۱۳) اِهْتَزَّتْ د زمکے اجزاء په حرکت کښې راغلل او د یو بل نه جدا شول د زمکے نه زرغونے د پاره لار پرانستې شوه رَبَتْ خوزیدل او زرغونیدل ئې شروع کړل تا سو څپلو سترګو

مشاهده کوئ او وینئ چه زمکه بالکل مړه اُوچه او بې اُوبو او بې گیاه وی لیکن چه کله مونږ په هغې باندې باران اُوروو نو په زمکه کښې د ژوند آثار راپیدا شي او په هغې کښې تر و تازه فصلونه او بوټي څنگدل شروع کړي د الله تعالیٰ د دې قدرت کامله مشاهده تاسو په خپلو سترگو باندې کوئ نو کوم الله چه د دې مړې زمکې زرغونې بندونه فصلونه پیدا کوئ نو هغه الله انسانان هم د خاورې کیدلو نه روستو دوباره ژوندی کولې شي او هم هغه قادر او قیوم ستاسو او د ټول کائنات کارساز دې.

۵ له ذٰلِكَ بِأَنَّ الخ د جار او مجرور متعلق محذوف دې ای لتستیقنوا. ذالك ای المذکور فی الدلیل، د مذکوره بالا دلیلونو نه ظاهره شوه چه کارساز، متصرف او مختار صرف الله تعالیٰ دې او هغه په قیامت قائمولو باندې قادر دې. د دیته حسبِ ذیل اُمور ثابت شول (۱) معبود برحق صرف الله تعالیٰ دې. (۲) هغه به مړي ضرور راژوندی کړي. (۳) هغه په هر څیز قادر دې. (۴) او قیامت به خامخا راځي (۵) او الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ ټول مړي ژوندی کړي د قبرونو نه به ئې راپاڅوي. دا پنځه ثمرات او نتائج په مذکوره دلیلونو باندې مرتب دی. اوانه یحی الموتٰی وانه علی کل شیءٍ قدیر، وان الساعة اٰتیة او وان الله یبعث دا ټول ان الله هوالحق باندې معطوف دې. ثم انه سبحانه لما قرر هٰذین الدلیلین رتب علیهما ما هوالمطلوب والنیجة وذکر امورا خمسة الخ (کبیر ج ۶ ص ۲۱۱)

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ

او ځینې خلق هغه دی لره چه جهگړه کوی په خبره د الله کښې بغیر

عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۙ ۸

د پوهې نه او بغیر د دلیل نه او بغیر د کتاب روښانه نه.

ثَانِيَ عِطْفِهٖ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ لَهٗ

خپل اړخ اړولو سره دې د پاره د دې چه بې لارې کړي کله (نور خلق) د لارې د الله نه هغوئ د پاره

فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّنُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

په دُنیا کښې رسوائي ده او مونږ به هغوئ ته به اُوڅکوو مونږ په ورځ د قیامت

عَذَابَ الْحَرِيقِ ﴿٩﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ

عذاب سوزوونکے . دا په دے وجه چه مخکښ اولیږل دواړو لاسو ستا

وَأَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿١٠﴾ وَمِنَ ع ۸

او د دے وجے نه چه الله نهٔ دے ظلم کوونکے په بندګانو باندے . او ځینے

النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ ۚ فَإِنْ

سړی هغه دی چه بندګی کوی ښه د الله تعالیٰ په غاړه (طرف) باندے بیا کهٔ چرے

أَصَابَهُ خَيْرٌ اطْمَأَنَّ بِهِ ۖ وَإِنْ أَصَابَتْهُ

اورسیږی هغهٔ ته نیکی نو قائم پاتے شو په هغه عبادت باندے او کهٔ چرے اورسیږی هغهٔ ته

فِتْنَةٌ انْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهِ ۚ خَسِرَ الدُّنْيَا

ازمائښ بیا واپس ګرځی په مخ خپل باندے تاوان ئے اوکړو د دنیا

وَالْآخِرَةَ ۚ ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ ﴿١١﴾

او اخرت ښه هم دا تاوان دے ښکاره ۀ

يَدْعُوا مِنْ دُونِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهُ وَمَا

رابلی ښه سیوا د الله نه داسے څیز چه نهٔ د هغهٔ نقصان کوی او

لَا يَنْفَعُهُ ۚ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيدُ ﴿١٢﴾ ع

نهٔ د هغهٔ فائده هم دا ګمراهي ده ډیره لرے .

يَدْعُوا لَمَنْ ضَرُّهُ أَقْرَبُ مِنْ نَفْعِهِ ۚ

رابلی هغه څوک چه د هغهٔ ضرر ښه مخکښ رسیږی د نفعے نه ښه

لَبِئْسَ الْمَوْلٰى وَلَبِئْسَ الْعَشِيرُ ﴿١٣﴾

بیشکه خراب دوست دے او بد ملګرے .

نکات: ۱ د زجر اول تفصیلی اعاده ۱۲. ۲ تخویف دنیوی ۱۲.
۳ تخویف اخروی ۱۲. ۴ زجر ثانی ۱۲.

موضح قرآن ف یعنی چه د دنیا فائده بیا مومی نو په بندګئ باندے قائم پاتے شی او چه تکلیف بیا مومی نو بندګی پریږدی یو طرف ته ئے دنیا خرابه شوه دلته ئے دین خراب شو په غاړه ولاړ دے یعنی زړه ئے هم نهٔ دے خواږے نه اخوا دے لکه چه یو سړے د کوړ په طرف ولاړ وی کله چه اوغواړی نو ووځی۔

فتح الرحمن ف یعنی تکبر کوونکی ۱۲۔

تفسیر: ۱۶ له وَمِنَ النَّاسِ الخ دا د زجر اول تفصیلاً اعاده ده یعنی ضدی او معاند خلق د الله تعالیٰ په توحید کښ خامخا جهګړه کوی او شبهات راوباسی حال دا دے چه د هغوئ سره هیڅ دلیل نشته چه هغوئ ئے د خپلو مشرکانه عقائدو او اعمالو په تائید کښ او د توحید خلاف پیش کړی د عقل او نقل او وحی نه هم هیڅ دلیل هغوئ سره نشته. بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ۔ علم دلیل عقلی۔ هُدًى، دلیل وحی. او کتٰبٍ منیر دلیل نقلی. دا ناپوهه خلق د الله تعالیٰ په توحید کښ شک کوی یا وجود دے چه د دوئ سره نه څهٔ علم شته یعنی دلیل عقلی او نهٔ هدایت یعنی وحی او نهٔ کتاب منیر یعنی دلیل نقلی. قاله الشیخ وقال فی جامع البیان لیس له علم فطری ولا ما یستند الی دلیل نقلی ولا الی وحی (ص۲۹۱)

۷ له ثَانِيَ عِطْفِهٖ الخ دا د يُجَادِلُ د فاعل نه حال دے یعنی د حق نه اعراض کولو سره او د الله د ذکر نه مخ اړولو سره هغوئ جهګړه کوی۔ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، دا د هغه جدال غرض او غایه او علت دے یعنی جدال نه د هغوئ مقصد د خلقو ګمراه کول دی متعلق یجادل علة له فان غرضه من الجدال الاضلال عن سبیله تعالیٰ وان لم یعترف بانه اضلال (روح ص۱۲۲ ج۱۷)

۸ له لَهٗ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ الخ دا تخویف دنیوی دے وَّنُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تخویف اُخروی ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ الخ ای یقال له فی الاٰخرة اذا دخل النار (قرطبی ج۱۲ ص۱۶) کله چه په آخرت کښ هغوئ جهنم ته داخل شی هغه وخت به دوئ ته اُویلے شی چه دا ستاسو د خپلو کړو سزا ده او تاسو یقین اوکړئ چه الله تعالیٰ خپلو بندګانو باندے ظلم کوونکے نهٔ دے اَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ نه مخکښ او د واؤ عاطفه نه روستو اعلم مقدر دے ځکه چه په ما قبل باندے د دهٔ عطف جائز نهٔ دے۔

۱۹ له وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ الخ دا زجر ثانی دے، دے کښ د مذبذب خلقو حال بیان شوے دے څوک چه په الله باندے پوره پوره ایمان نهٔ لری. علی حرفٍ ای طرفٍ من الدین یعنی هغوئ د دینِ اسلام

په غاړه باندے اودریږی دَ الله تعالیٰ عبادت کوی کهٔ چرے هغوئ ته څهٔ
دُنیوی فائده حاصله شی یا مالی فراخی یا دَ بدن راحت ملاؤ شی نو ظاهری
طور باندے مطمئن شی او هم هغه حال باندے اوسیږی لیکن کهٔ چرے
څهٔ نقصان ورته اورسیږی او تکلیف ورته اورسیږی په مال یا ځان
باندے څهٔ آفت راشی نو فوراً دین اسلام پریږدی او مُرتد شی او خالص
دَ الله عبادت پریږدی دَ کوم غیرالله طرف ته چه چا اوبللو بس هغهٔ ځکښ
تهیږی. ۲۰ه خَسِرَ الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةَ الخ دا سے خلق دُنیا او اخرت دواړو کښ
نقصان اوچتوونکی دی مالی او جانی نقصان ئے پوره ته کړو دُنیوی حساره
کښ پریوتل او بیائے دَ الله توحید پریښودو خپل آخرت ئے هم خراب
کړو. حضرت شیخ قدس سرهٔ فرمائی دلته دَ فی مقدر کولو ضرورت نشته.
او مطلب دا دے چه هغهٔ دنیا هم ضائع کړه او آخرت هم ۱۲.
۲۱ه یَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ الخ دا ما قبل سره متعلق دے او دِے کښ دَ دُنیا
او دَ اخرت دَ خساره تفصیل ذکر دے یعنی هغه ظالمانو دَ الله تعالیٰ خالص
عبادت پریښودو دَ داسے عاجز او بے وسه معبودانو عبادت او رابللو کښ
مشغول شول چه نهٔ خو هغوئ ته دَ نفع رسولو قدرت لری او نهٔ دَ نقصان
رسولو او دا ډیره لویه ګمراهی ده چه دَ الله تعالیٰ توحید پریږدی او شرک
اوکړے شی. استئناف مبین لعظم الخسران (روح ج ۱۷ ص۱۲۴)
۲۲ه یَدْعُوْا لَمَنْ ضَرُّهٗ الخ لام ابتدائیه دے او جمله استینافیه ده دیکښ
دَ غیرالله رابلل او دَ رابللو بد انجام او دَ دے ډیره لویه ګمراهی کیدل
واضح کړے شوے ده. استیناف یبین مآل دعائه وعبادته غیرالله تعالیٰ
ویقرر کون ذالك ضلالا بعیدا (روح ج ۱۷ ص۱۲۵) دِے آیت کښ او دَ دینه مخکښ
آیت کښ په ظاهره تضاد معلومیږی ځکه چه په مخکنی آیت کښ دَ معبودانِ
باطله دَ نافع او ضار کیدلو نفی کړے شوے ده لیکن دِے آیت کښ دَ هغوئ
دَ ضار یعنی نقصان رسولو اثبات دے دَ دے جواب دا دے چه کوم معبودانِ
باطله مشرکانو مختار دَ نفع، نقصان او متصرف ګڼلی دی او رابللی ئے
بیشکه هغه عاجز او کمزوری دی نفع او نقصان رسول دَ هغوئ په قدرت
او طاقت کښ نشته لیکن دَ هغوئ عبادت کول او هغوئ ته په حاجتونو
او مشکلاتو کښ آوازکول دَ دوئ دَ عبادت کوونکو په حق کښ ډیر نقصان
ورکوونکی او دَ خساره باعث دی. ځکه چه دَ دے شرک په وجے سره
به هغوئ همیشه همیشه په جهنم کښ سوزی. حاصل دا چه معبودانِ باطله
بذاتِ خود نقصان رسوونکی نهٔ دی لیکن دَ هغوئ عبادت او رابلل تول
دَ خساره او نقصان باعث دی. اجابوا عن التناقض بامور احدها

انها لا تضر ولا تنفع بانفسها ولکن عبادتها سبب الضرر (کبیر ج ۶ ص ۲۱۶)
مشرکانو به د معبودانِ باطله عبادت په دے خیال کولو چه هغوئ به د
خدائے سره د دوئ سفارشیان وی نو الله تعالیٰ اوفرمائیل چه د هغوئ
په عبادت کښ هیڅ نفع نشته بلکه ټول تاوان دے او د دوئ هیڅ په کار
نهٔ راځی۔ وقیل یعبدونهم توهم انهم یشفعون لهم غدا کما قال الله
تعالیٰ ویعبدون من دون الله مالا یضرهم ولا ینفعهم ویقولون هٰؤلاء
شفعاؤنا عند الله وقال تعالیٰ ما نعبدهم الا لیقربونا الی الله زلفٰی (قرطبی
ج ۱۲ ص ۱۹)۔ ۲۳ اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ۔ حضرت شیخ قدس سرهٔ اوفرمائیل
دلائیل عقلیه خو واضح او ثابتوی چه خالص د الله عبادت کوئ او خاص
هم هغه رابلئ لیکن بیا هم ځنی خلق بلا وجه او بلا دلیل جھګړه کوی
او د الله په خالص عبادت او رابللو کښ شک کوی او د داسے عاجز معبودانو
عبادت کوی چه د هغوئ عبادت او د هغوئ د رابللو ضرر د نفعے په نسبت
اقرب الی الفهم دے یعنی دا خبره ډیره په اسانئ سره عقل کښ راځی
چه د دوئ عبادت او رابللو کښ به نفع څوک وی البته ضرر او نقصان
به ضرور وی۔

اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ
الله به داخل کړی ۲۴ هغه څوک چه ایمان راوړی او اوکړی نیکئ

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ
باغونو ته بهیږی لاندے د هغے نه نهرونه الله تعالیٰ

يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿۱۴﴾ مَنْ كَانَ يَظُنُّ
کوی څهٔ چه اوغواړی د چا چه دا خیال وی ۲۵

اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ
هرګز به امداد اونهٔ کړی الله د هغهٔ په دنیا او آخرت کښ

فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ اِلَى السَّمَآءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ
نو اوږده دِ کړی یوه رسئ آسمان ته بیا دِ پریکړی

فَلْيَنْظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهٗ مَا يَغِيْظُ ﴿١٥﴾

اوس دې اوګوري آیا ځه ختمیږي د هغه په تدبیر سره د هغه غصه ۲۱

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ

او داشان ۲۲ نازل کړو مونږ قرآن واضح خبرې او دا چه الله تعالیٰ

يَهْدِيْ مَنْ يُّرِيْدُ ﴿١٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

پوهوي هغه څوک چه اوغواړي. کوم خلق چه مسلمانان دي

وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِـِٕيْنَ وَالنَّصٰرٰى

۲۳ او څوک چه یهود دي او صابئین او نصارٰی

وَالْمَجُوْسَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا ۖ اِنَّ اللّٰهَ

او مجوس او څوک چه شرک کوي بیشکه الله به

يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

فیصله کوي د دوئ په ورځ د قیامت د الله تعالیٰ

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿١٧﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ

په هرڅه باندې هر ځیز ۲۸ حاضر دے ۲۷. تا اونه لیدل چه الله ته

يَسْجُدُ لَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ

سجده کوي کوم څوک چه ۲۹ په اسمان کښې دي او کوم څوک چه

فِي الْاَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُوْمُ

په زمکه کښې دي او نمر او سپوږمۍ او ستورې

وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَآبُّ وَكَثِيْرٌ

او غرونه او ونې او څاروي او ډیر ۳۰

مِّنَ النَّاسِ ؕ وَكَثِيْرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ؕ

انسانان او ډیر دي چه مقرر شو په هغوئ عذاب

وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ
او څوک چه ذليل کړي الله تعالیٰ هغهٔ ته نشته څوک عزت ورکوونکے

اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۩ ﴿۱۹﴾ السجدة
بیشکه الله تعالیٰ کوی څهٔ چه اُوغواړی ف۳

نکات: ۔ سلہ بشارت اُخروی ۱۲۔ سلہ کاف بیانِ کمال دَ پاره دے ۱۲ سلہ تخویف اُخروی دے ۱۲۔ سلہ توحید باندے دویم دلیل عقلی ۱۲

موضح قرآن ف۱ دَ دُنیا په تکلیف کښ چه څوک دَ خدائے نه نا اُمیده شي او دَ هغهٔ بندګی پریږدی او دَ دروغو خیزونو بندګی اُوکړی دَ کوم په اختیار کښ چه نهٔ فائده وی نهٔ نقصان هغهٔ دِ دَ خپل زړهٔ فیصله په دے صورت قیاس کړی لکه چه یو سړے په رازوړند ے شوے رسئ پورے زوړند شی کهٔ چرے په بره ختلے نهٔ شی نو اُمید خوشته دے چه رسئ بل څوک راکاږی نو اُوخیژی لیکن چه کله ئے رسئ پریکړه نو بیا څهٔ توقع کیدے شي۔ رسئ دَ الله تعالیٰ نه اُمید ته وئیلے شوید او نا اُمیدی پریکول دی او آسمان نه مراد اُوچتوالے دے۔ ف۲ مجوسیان دَ اُور عبادت کوی او دَ یو نبی توم هم اخلی معلومه نهٔ ده چه دَ هدایت نه روستو ګمراه شول یا اول نه په غلطه لار روان دی۔ ف۳ یوه سجده ده چه په هغے کښ دَ زمکے او اسمان ټول مخلوق شامل دے هغه داچه دَ الله په قدرت کښ ټول بے بس او عاجز دی تکوینًا او تابعدار دی۔ او یوه بله سجده ده دَ هر یو جُدا هغه داده چه هغهٔ هر یو شي دَ کوم کار دَ پاره پیدا کړے دے نو په هغے کښ لګیا دی او مشغول دی لیکن ډیر انسانان داکوی او ډیرئے نهٔ کوی لیکن دَ انسانانو نه علاوه ئے نور ټول مخلوق کوی۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی کهٔ چرے دَ دے دَ غصے نه مړشی نو هیڅ ضرر نهٔ کوی ۱۲۔

تفسیر: ۲۴ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الخ دا مؤمنانو دَ پاره بشارت اُخروی دے ۲۵ مَنْ كَانَ يَظُنُّ الخ جمهور مفسرینو دَ ینصرہٗ ضمیر منصوب دَ پاره مرجع دَ نبی علیه السلام ذات ګرامی ګرځولے دے ځکه چه دَ قرآن دَ لوستلو په وخت دَ نبی علیه السلام تصور ذهن ته راځی ځکه چه دَ قرآن اول مخاطب نبی علیه السلام دے او مطلب دادے چه الله تعالیٰ به دُنیا او اخرت کښ دَ نبی علیه السلام امداد کوی دنیا کښ ئے دین او

دَ هغهٔ تابعدارانو سربلند کړل او په آخرت کښې به دَ هغهٔ درجه دَ ټولونه بلند کړي دَ هغهٔ تابعداران به په جنت کښې داخل کړي او دَ هغوئي دُشمنان به جهنم ته اُولیږي. لیکن دَ کوم سړي چه دَ بغض او حسد په وجه دا خیال وي چه الله تعالیٰ به دَ هغهٔ (صلی الله علیه وسلم) امداد دُنیا او آخرت کښې نهٔ کوي نو هغهٔ دِ دَ بغض او حسد په اُور کښې اُوسوزي او مړ دِ شي تو ایا دَ حسد او عداوت په جذبه کښې دَ یو سخت اقدام کولو په وجه به دَ هغهٔ دَ سینې اُور یخ شي - قال ابن عباس ان الکنایة فی (ینصره الله) ترجع الی محمد صلی الله علیه وسلم (قرطبی ج ۱۲ ص ۲۱) او دَ السَّمَآءِ نه دَ کور چت مراد دے او لِیَقْطَعْ په معنیٰ دَ لیختنق یعنی چت سره دِ رسئ زوړنده کړي او خودکشي دِ اُوکړي - والمعنیٰ لیشد حبلا فی سقف بیته فلیختنق به حتی یموت (خازن ج ۵ ص ۷)

کما یقال للحاسد ان لم ترض هذا فاختنق ومت غیظًا (معالم ج ۵ ص ۷)

ځنو مفسرینو لیکلي دي مطلب دا دے چه کوم سړي یا نے دا خبره سخته لږي چه الله تعالیٰ دَ خپل پیغمبر امداد کوي نو کهٔ چرے دَ هغهٔ دَ بندولو طاقت وي نو اسمان ته دِ اُوخیژي او دَ مدد سرچشمه دِ بنده کړي او هغه دِ پریکړي بیا دِ اُوګوري چه دَ هغهٔ دے حیلې سره هغهٔ امداد بند کړو خپله غُصه یخولے شي. فلیطلب حیلةً یصل بها الی السماء (ثم لیقطع) ای ثم لیقطع النصر ان تهیأ له (قرطبی) حضرت شاه عبدالقادر رحمة الله علیه فرمائي دَ دُنیا په تکلیف کښې چه څوک دَ خدائے نه نا اُمیده شي دَ هغهٔ بندګي پریږدي او دَ دروغژن څیز عبادت شروع کړي چه دَ هغهٔ په لاسونو کښې نهٔ بد شته او نهٔ ښهٔ هغه دِ دَ خپل زړهٔ فیصله په دے صورت قیاس کړي لکه چه یو سړے په اُوچته زوړنده رسئ پورے زوړند وي کهٔ چرے ختلے نهٔ شي نو اُمید شته دے چه رسئ پورته راښکلے شي نو اُوبه خیژي کله چه ئے رسئ اُوشلوله نو بیا څهٔ اُمید کیدے شي. دَ دے مطلب په صورت کښې به دَ يَنْصُرَهُ ضمیر منصوب دَ مَنْ طرف ته راجع وي - حضرت شیخ قدس سرهٔ اُوفرمائیل چه په اول دواړو صورتونو کښې به دَ دے آیت ماقبل سره ربط واضح نهٔ وي ځکه چه دَ دے نه مخکښې دَ غیرالله دَ رابللو غیر نافع کیدلو ذکر دے دَ دے وجے نه به په ربط کښې تکلف وي یعني دَ توحید مسئله بیا نولو والا چونکه دَ الله پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دے دَ دے وجے نه دَ مشرکانو خیال وو چه الله به دَ هغوئي (صلی الله علیه وسلم) مدد اُونهٔ کړي ځکه دَ دے وجے نه دَ دے تکلف نه بچ کیدلو دَ پاره دَ شاه عبدالقادر رحمة الله علیه مطلب

موزون دے. یا مطلب دا شو چه د غیر الله د رابلو نکو که چرے دا خیال وی چه الله به د هغوئ امداد نه کوی د دے وجے نه هغوئ اولیاء کرام سفارشیان گرځولی دی نو هغوئ دِ د زړهٔ اطمینان حاصلولو په خاطر اول هغه خلقو ته خیال اُوکړی څوک چه په حاجتونو او مشکلاتو کښ غیر الله ته اواز کوی بیا دِ هغه خلقو ته خیال اُوکړی څوک چه خالص الله ته اواز کوی او رابلی ئے

۲۶ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ الخ کاف بیانِ کمال د پاره دے یعنی د توحید مسئله په قرآن کښ داشان واضح کول ځمونږ کمال دے او دا ترغیب الی القرآن دے. مَنْ يُّرِيْدُ، د يُرِيْدُ فاعل مَنْ دے یعنی الله تعالیٰ هغه خلقو ته سمه لار ښائی څوک چه سمه لار لیدل غواړی او د الله طرف ته رجوع اُوکړی یا د يُرِيْدُ فاعل الله تعالیٰ دے او عائد محذوف دے. ای يُرِيْدُ هدايته. یعنی الله تعالیٰ چه چاته سمه لار ښودل غواړی نو هغوئ ته سمه لار ښائی. ۲۷ اِنَّ الَّذِيْنَ الخ دا تخویف اُخروی دے الذین امنوا اُمت محمد یه علی صاحبها الصلوٰة والسلام. وَالَّذِيْنَ هَادُوْا، د موسیٰ علیه السلام قوم. وَالصّٰبِئِيْنَ نه د حضرت ابراهیم علیه السّلام د زمانے خلق مراد دی چه د نمر سپوږمئ او نورو ستورو عبادت به ئے کولو. وَالنَّصٰرٰى، د عیسیٰ علیه السلام قوم. وَالْمَجُوْسَ، اَتش پرست. وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا او نور و تولو مشرکینو چه د مجوسیانو په شان او صابئینو په شان په یو خاص نوم سره مشهور نهٔ دی. دُنیا کښ خو ټول په حق کیدلو باندے دعوٰی کوی په آخرت کښ به الله تعالیٰ د مؤمنانو او د نورو پنځو قومونو مینځ کښ اخری فیصله کوی او هر یو ته به د هغهٔ د اعمالو مطابق جزاء او سزا ورکړی. ای یقضی و یحکم فللکفرین النار وللمومنین الجنة (قرطبی ج ۱۲ ص ۲۳)

۲۸ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ، دا ماقبل د پاره علت دے په الله تعالیٰ باندے هیڅ څیز پټ نهٔ دے د هر چا د ظاهر او باطن نه او د هر چا د اعمالو نه خبردار دے د دے وجے نه هغه به د قیامت په ورځ بالکل صحیح صحیح فیصله اُوروی او په هیچا به ظلم نهٔ وی او نهٔ به د چا حق تلفی وی ای انه عالم بما یستحقه (خازن ج ۵ ص ۵)

۲۹ اَلَمْ تَرَ الخ دا په توحید باندے دویم عقلی دلیل دے د سجدے نه مراد پوره تابعداری ده یعنی هر څیز تکوینی طریقے سره د الله تعالیٰ د تدبیر ما تحت دے. السجود التذلل والانقیاد لتدبیر الله عزوجل (قرطبی ج ۱۲ ص ۲۳) ځکه چه هر جماد او بے روح څیز هم د الله تعالیٰ په تسبیح او تقدیس کښ مشغول دے. فانه مَا مِنْ جمادٍ الا وهو مطیع الله خاشع لله ومسبح له الخ

(معالم ج ۵) کله چه ټول کائنات د الله تعالیٰ مطیع او منقاد دی او د هغهٔ د تکوینی احکامو نه د ویښتهٔ د سر برابر مخ نهٔ اړه وی نو دیکه چه صرف دا الله تعالیٰ د ټول کائنات مالک او مختار دے نو دینه معلومه شوه چه کارساز او متصرف هم صرف هغه دے لهٰذا د هغهٔ عبادت کول پکار دی د رکوع، سجدے او نذر و نیاز دُعا او را بللو مستحق هم صرف هغه دے.

۳۰ وَكَثِيرٌ مِّنَ النَّاسِ الخ دا د فعل محذوف فاعل دے ای یسجد له، ډیر خلق الله تعالیٰ د پاره سجده کوی لیکن ډیر داسے هم شته چه شرک کوی او د شرک او کفر د وجے نه د الله د عذاب مستحق گرځیدلی دی. وَمَن يُهِنِ اللَّهُ الخ کوم سړے چه الله د هدایت نه محروم کړی او خوار ذلیل ئے کړی هغهٔ ته عزت او اکرام او د دوا رو جهانو نو نیک بختیا هیڅوک نهٔ شی ورکولے.

هَٰذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ ۖ

دا دوه مدعیان دی ﷲ چه جهګړه ئے او کړه خپل رب باندے

فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ

نو کوم خلق چه منکر شول ﷲ پریکولے به شی هغوئ د پاره کپړے

مِّن نَّارٍ يُصَبُّ مِن فَوْقِ رُءُوسِهِمُ

د اور اچولے به شی په سرونو د هغوئ باندے

الْحَمِيمُ ﴿١٩﴾ يُصْهَرُ بِهِ مَا فِي بُطُونِهِمْ

یشیدلے اوبهٔ چه خورین به شی په هغے سره هغه (کولمے) کوم چه په خیټو د هغوئ کښ دی

وَالْجُلُودُ ﴿٢٠﴾ وَلَهُم مَّقَامِعُ مِنْ حَدِيدٍ ﴿٢١﴾

او څرمنے هم او هغوئ د پاره به ګرزونه وی د اوسپنے

كُلَّمَا أَرَادُوا أَن يَخْرُجُوا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ

کله چه اوغواړی چه را اوځی د دوزخ نه د غم د وجے نه

أُعِيدُوا فِيهَا وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ ﴿٢٢﴾

بیا به غورځولے شی په هغے کښ دننه او اُڅکئ عذاب سوزوونکے

إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

بیشکه الله تعالیٰ به داخلوی هغه خلق ^{۳۳}چا چه ایمان راوړی وو او وې کړل

الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا

نیک کارونه باغونو ته چه بهیږی لاندې د هغې نه

الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ

نهرونه ګاڼې به وراغوندولی شي هغوئ ته هلته بامونه د

ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٢٣﴾

سرو زرو او د ملغلرو او کپړې به وي د هغوئ هلته د ریښمو وې

وَهُدُوا إِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ ۚ وَهُدُوا

او لار بیا موندله هغوئ د صفا خبرې ته او بیائې موندله

إِلَىٰ صِرَاطِ الْحَمِيدِ ﴿٢٤﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا

لار د هغه صفت کړې شوي ته. کوم خلق چه منکر شول^{۳۳}

وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمَسْجِدِ

او منع کوي د لارې د الله تعالیٰ نه (خلق) او د مسجد

الْحَرَامِ الَّذِي جَعَلْنَاهُ لِلنَّاسِ سَوَاءً

حرام نه کوم چه موږ جوړ کړی دې خلقو د پاره برابر دی

الْعَاكِفُ فِيهِ وَالْبَادِ ۚ وَمَنْ يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ

او سیدونکی په هغې کښې او د بهر نه راتلونکي او کوم خلق چه په دې کښې اوغواړي کږ لاره

بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٥﴾ ع

شرارت سره موږ به هغهٔ ته اوڅکوو یو عذاب درد ناک ^{۳۵}.

نکات: ^{۳۳} تخویف اُخروی ۱۲۔ ^{۳۴} بشارت اُخروی ۱۲۔ ^{۳۵} تخویف اُخروی ۱۲۔

موضح قرآن **ف ۱** داکوم بیان چه ئے دلته اوکړو چه هلته به کانړه وی (سرهٔ زر) او کپړے (ریښم) معلومه شوه چه دا دواړه څیزونه دلته نارینوٶ ډپاره نشته. او په کانړه (کالو) کښ ئے د باڼو کانو ذکر ځکه اوکړو چه کله د یو مړئ او غلام خدمت د مالک خوښ شی نو د هغهٔ په لاس کښ کړئ اچوی ۱۲. **ف ۲** صفا او پاکه خبره یعنی په جنت کښ به جهګړه او بے ځایه شور شرابه نهٔ وی سیوا د خوشحالئ د خبرے نه او د الله د شکر نه یا په دنیا کښ ئے د توحید خبره اوموندله او د مسلمانانو لار. **ف ۳** یعنی چا چه د خلقو ورتلل هلته بند کړل هغوئ به سزا بیا مومی.

فتح الرحمٰن **ف ۱** یعنی په دنیا کښ ۱۲.

تفسیر: **۳۱** هٰذٰنِ خَصْمٰنِ الخ د جهګړه کوونکو دوؤ ډلو نه مراد مؤمن او کافر دے یعنی دلائیل او براهین سره د توحید مسئله د دومره زیاته واضح کیدلو باوجود مشرکان د مسلمانانو سره د الله په توحید کښ جهګړه کوی حال دا دے چه دا مسئله د روښانه ورځ په شان واضحه شویده چه کله هغوئ الله تعالیٰ خپل خالق، مالک او پروردګار منی نو بیا د هغهٔ د کارسازئ په صفتو کښ ولے نور خلق شریکوئ.

۳۲ فَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا ــــ تا ــــ وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِیْقِ. دا تخویف اُخروی دے د الله په توحید کښ د مؤمنانو سره جهګړه کوونکی ډلے انجام به دا وی چه جهنم کښ به هغوئ ته د اور کپړے واچولے شی او د پاسه به د هغوئ په سرونو باندے ډیرے زیاتے جوش وهونکے کړے اوبهٔ واچولے شی. چه په هغے سره به د هغوئ بدنونه ویلی شی. وَلَهُمْ مَّقَامِعُ مِنْ حَدِیْدٍ، او هغوئ ډپاره د اوسپنے ګرزونه یا کوړے وی کله چه هغوئ د جهنم د عذاب نه بهرته د راوتلو کوشش کوی نو فرشتے به په کوړو یا ګرزونو هغوئ اُوهی واپس به ئے جهنم ته اوغورځوی. ان جهنم لتجیش فتلقیهم الیٰ اعلاها فیریدون الخروج منها فتضربهم الزبانیة بمقامع الحدید فیهوون فیها (خازن ومعالم ج ۵ ص۱۰). **۳۳** اِنَّ اللّٰهَ الخ دا د مؤمنانو ډپاره بشارت اُخروی دے او دے کښ د توحید پرستو نیک انجام بیان شویدے په آخرت کښ به هغوئ ته د چینو او ولو باغونه ورکړے شی هغوئ ته به د سرو زرو او جواهراتو کالی او جامے اغوستولے شی. وَهُدُوْٓا اِلَی الطَّیِّبِ مِنَ الْقَوْلِ الخ په دنیا کښ هغوئ ته د کلمه توحید او دین اسلام د قبلولو توفیق ورکړے شو چه د هغے په وجے سره به په آخرت کښ هغوئ ته دا جزاء ورکړے شی. ای ارشد هؤلاء فی الدنیا الیٰ کلمة التوحید والیٰ صراط الحمید ای الاسلام (مدارک ج ۳ ص ۸۹).

۳۴ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ تخویف اُخروی د هغه مشرکانو د پاره چه په دُنیا کښې خلق د الله تعالیٰ د توحید او مسجد حرام کښې د عبادت نه منع کول. وَيَصُدُّوْنَ کښې واؤ زائده دے او يَصُدُّوْنَ د اِنَّ خبر دے یا يَصُدُّوْنَ د مبتداء محذوف خبر دے ای وَهُمْ يَصُدُّوْنَ دے تقدیر باندے به جمله د كَفَرُوْا د فاعل نه حال وی او د اِنَّ خبر به محذوف وی په قرینه د ایت اخر سره ای نذیقهم الخ (روح) یعنی کوم خلق چه پخپله هم د توحید نه انکار اوکړی او نورو هم د توحید نه منع کړی هغوئ ته به موږ دردناک عذاب خوند اوڅکوو.

وَاِذْ بَوَّاْنَا لِاِبْرٰهِيْمَ مَكَانَ الْبَيْتِ اَنْ لَّا

او کله چه معین کړو موږ ابراهیم ته ۳۵ ځائے د هغه کور چه نه کړې

تُشْرِكْ بِيْ شَيْئًا وَّطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ

شریک ته ما سره هیڅوک او پاک کړئ کور زما طواف کوونکو د پاره

وَالْقَآئِمِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿٢٦﴾ وَاَذِّنْ فِي

او اودریدونکو او رکوع، سجده کوونکو د پاره ۳۶ او اواز اوکړه

النَّاسِ بِالْحَجِّ يَاْتُوْكَ رِجَالًا وَّعَلٰى كُلِّ

خلقو ته د حج د پاره چه راځي ستا طرف ته پیاده او سواره په خوارو خوارو

ضَامِرٍ يَّاْتِيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ ﴿٢٧﴾

اوښانو باندے او راځي د لرے لارو نه ۳۶.

لِّيَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ

دے د پاره چه اورسیږي فائدے ځایونو ته او اولولي ۳۷ نوم

اللّٰهِ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ

د الله تعالیٰ په ورځے چه معلومے دی ۳۸ کوم چه الله ورکړی دی هغوئ ته

مِّنْ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ فَكُلُوْا مِنْهَا وَ

په ذبح کولو د چارپایه حیوانانو نو خورئ د هغے نه او

أَطْعِمُوا الْبَآئِسَ الْفَقِيرَ ﴿٢٨﴾ ثُمَّ لْيَقْضُوا

خوړ وئ ئې په بد حال محتاجانو باندې ور. بیا پکار دي چه ختم کړي

تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا

خیرې خپل او پوره کړي نذرونه خپل او طواف اوکړي

بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ

د هغه زوړ (پخوانی) کور ﴿٣٠﴾ دا حکم مو واوریدو او څوک چه لوئې اوګڼړي (عزت اوکړي)

حُرُمَاتِ اللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ عِندَ رَبِّهِ

د حرمتونو د الله تعالی هغه بهتره ده هغه د پاره د خپل رب سره

وَأُحِلَّتْ لَكُمُ الْأَنْعَامُ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ

او حلال دي ستاسو د پاره ﴿٣١﴾ څاروی لیکن کوم چه اورولے شي

عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ

تاسو ته ﴿٣٢﴾ نو ځان بچ ساتئ د پلیتئ د بتانو نه

وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ ﴿٣٠﴾

او ځان بچ کړئ ﴿٣٣﴾ د دروغ خبرے نه ﴿٣٤﴾

نکات: ۱ـ د سورت دویمه حصه نفي د شرک فعلي ۱۲ ۲ـ د شرک فعلي په نفي باندے دلیل نقلي ۱۲ ۳ـ د الله تعالی د نذرونو بیان ۱۲ ۴ـ د تحریمات الله بیان ۱۲ ۵ـ د مشرکانو د تحریماتو بیان ۱۲

موضح قرآن ف وائي چه د کعبے شریفے ځائے د پخوانه عزتمند وو بیا د ډیرے زمانے نه روستو د هغے نښے نه وے پاتے شوے حضرت ابراهیم علیه السلام ته حکم اُوشو بیا ئے عمارت جوړ کړو او تازه ئے کړو یوه وریځ غیبي راغله او اُودریدله د هغے په سوري باندے لکیرے راښکلے شوے او په هغے بنیاد کیښودے شو نو امتونو کښ رکوع نه وه دا د دے اُمت خاصه ده. نو خبر ئے ورکړو چه مخکښ به خلق وو چه د دے آبادي به کوي. ف۲ په یو غر باندے اُودریدو حضرت ابراهیم علیه السلام آواز اُوکړو چه خلقو په تاسو باندے حج الله

فرض کړې دې حج ته راځئ. دېلا ره په شا کښې ئې لَبَّیْكَ اُوئیل دَ چا په قسمت کښې چه حج دے یو ځل یا دوه ځل یا زیات په زړه کوټونخلق خپل شوق سره پیاده راځي لیکن فرض هغه وخت دے چه دَ چا سره سوړلي وي اوکه چرې مکے ته نزدے وي یا دَ یو سړي دَ پیاده تللو عادت دے نو دَ امام مالک په نزد فرض دے. ف۳ کومه ذبح چه دَ شکرانے وي یا نفلي هغه تا سو یخپله هم خوړئ او کومه چه دَ نقصان بدله وي هغے نه تاسو یخپله خوړاک مه کوئ اوخوړ ځے ئے اُوئیلے دړے ورځو ته دَ ذي الحجے لسم تا دولسم ته ، یوولسم او دولسم دے ورځوکښې ډیر دَ قبولیت کاروته هم دادي دَ الله تعالیٰ په نوم ذبح کول. ف۴ کوم ځائے نه چه لبیك شروع کوي وبښته او نوکان به نه پرېکوي تیل به نه لګوي ګنډلي جامے کپړے به نه اچوي سر به نه پټوي اُوس به په لسم تاریخ تول احکام پوره کوي حجامت به اُوکړي اوغسل به اُوکړي کپړے به واچوي اوطواف ته به ځي اول به ذبح کوي او نذرونه کوم چه ئے دَ خپل مراد و نو دَ پاره منلي وي هغه به اداکړي نذر په حقیقت او اصل کښې دَ الله دے بل دَ هیچا نه دے.

فتح الرحمٰن ف۱ یعني دَ مونځ کولو دَ پاره ۱۲. ف۲ یعني یوم النحر ۱۲ ف۳ یعني کعبه ځکه چه اول جوړه شوي ده او روستو دَ هغے نه بیت المقدس ۱۲. ف۴ یعني اُوښ، غوئیے، ګډے، چیلے ۱۲. ف۵ یعني مردانې او وینه بهیدونکے ۱۲.

دویمه حصه — نفي دَ شرک فعلي

تفسیر: ۳۵ وَإِذْ بَوَّأْنَا الخ دلته نه دَ سورت دویمه حصه شروع کیږي دے کښې دَ شرک فعلي دَ نفي بیان دے. دا حضرت ابراهیم علیه السلام سره نقلي دلیل دے یعني حضرت ابراهیم علیه السلام ته مونږ دَ خانه کعبے اصلي ځائے اُوښودو کوم ځائے چه هغهٔ دَ هغے تعمیر اُوکړو دے دَ پاره چه راتلونکي تسلونه په هغے کښې دَ الله خالص عبادت کوي بیناله مکان البیت لیبنیه ویکون مباءة لعقبه یرجعون ویحجون (روح ج ۱۷ ص۱۴۱) مشرکانو ته ئے دَ حضرت ابراهیم علیه السلام ذکر اُوکړو ځکه چه هغوئ دَ ابراهیم علیه السلام په اولادکښې دي او دَ ابراهیم علیه السلام دَ ملت دَ تابعدارۍ دعوه کوونکي دي هغهٔ ځکه دَ بیت الله تعمیر اُوکړو او بیائے هغه دَ هر قسم شرک نه پاك اُوساتلو اوددَ حج په ورځوکښې ئے صرف دَ الله دَ رضا کولو دَ پاره هغه نذرونه او منتونه پیش کړل لیکن دَ دے مشرکانو

عقائد او اعمال ټول د هغهٔ نه خلاف دی.
۳۶ اَنْ لَّا تُشْرِكْ الخ اَنْ مفسّره دے د ماقبل د پاره ځکه چه تبوئه د امر او قول معانیوله متضمن دے مونږ ابراهیم علیه السلام ته حکم اوکړو چه په عقائدو او اعمالو کښ د الله سره شریک مهٔ جوړه وه او ځما کور د ظاهری پلیتئ او د شرک د نجاست نه پاک اُوساته او ځللور داړه بدنی عبادتونه یعنی طواف، قیام، رکوع او سجده کوونکو د پاره خانه کعبه صفا اُوساته او په خلقوکښ اعلان اُوکړه چه هغوئ د دُنیا د ټولو اطرافو او غاړونه راشی او ځما د کور طواف اُوکړی صرف د الله په نوم نذرونه ورکړئ لیشهدوا منافع لهم منافع نه دینی او دُنیوی منافع مراد دی. د حج نه دینی فائده د الله رضا مندی حاصلول دی. او دُنیوی فائده دا ده چه هلته د قربانئ غوښه ډیره ملاویږی دا شان د مختلفو ملکونو نه راؤړے شوی مال نه د نفع اخستلو موقع په لاس راځی عن ابن عباس رض منافع فی الدنیا ومنافع فی الاخرة فاما منافع الاخرة فرضوان الله تعالی واما منافع الدنیا فما یصیبون من لحوم البدن فی ذالك الیوم والذبائح والتجارات (روح ج ۱۷ ص۱۴۵).
۳۷ وَيَذْكُرُوا الخ دے حصه کښ هم ځلور عنوانات ذکر شوی دی.
(۱) د الله نذرونه او منښتے جائز دی (۲) د الله تحریمات برحق دی. (۳) د غیر الله تحریمات باطل دی (۴) د غیر الله نذرونه او منښتے حرام دی. وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ الخ کښ د الله د منښتو حکم دے چه د قربانئ په ورځو کښ (۱۰، ۱۱، ۱۲ ذی الحجة) کښ د الله په نوم نذرونه ورکړئ او په خپله ئے هم اُوخورئ او په غریبانو باندے ئے هم اُوخوروئ او بهیمة الانعام کښ اضافت بیانیه دے. ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ، حضرت ابن عمر رض فرمائی د تفث نه مراد د حج مناسک مراد دی التفث المنسك كله من الوقوف بعرفة والسعی بین الصفا والمروة ورمی الجمار (روح ج ۱۷ ص۱۴۶) وَلْيُوفُوا نُذُوْرَهُمْ او د الله نذرونه پوره کړئ.
۳۸ وَمَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ الخ دا د تحریمات الله ذکر دے د احرام په حالت کښ کوم اعمال چه الله حرام کړځولی دی. مثلاً د احرام په حالت کښ ښکار کول وغیره هغه حرام ګڼړل عین تقوی ده.
۳۹ وَاُحِلَّتْ لَكُمُ الخ د تحریمات مشرکین ابطال دے یعنی د خپلو بُتانو په خاطر بحیرهٔ، سائبه مهٔ جوړوئ الله تعالی د دے اجازت نهٔ دے ورکړے داچارپایان الله تعالی ستاسو د پاره حلال ګرځولی دی، د دے وجے نه هغه خورئ. اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ نه الرِّجْسَ مراد دے کوم چه د دهٔ نه

متصل روستو ذکر شوی دے یا د دیته مراد حرمت علیکم المیتة الخ مطلب دا دے چه د خپل ځان نه د الله حلال مهٔ حراموئ صرف هغه څیزونه حرام اوګڼړئ کوم چه الله په خپل کتاب کښې حرام کړیدی مثلاً شرک د غیرالله نذر ونیاز وغیره۔ والمعنی ان الله تعالیٰ احل لکم الانعام کلها الا ما بین فی کتابه فحافظوا علی حدوده ولا تحرموا شیئا مما احل کتحریم البعض البحیرة ونحوها وتحلوا مما حرم کاحلالهم اکل الموقوذة والمیتة وغیرهما (مدارک ج ۳ ص۸۶) اِلَّا مَا یُتْلٰی عَلَیْکُمْ آیة تحریمة استثناء متصل کما اختاره الاکثرون عنها علی ان ما عبارة عما حرم منها العارض کالمیتة وما اهل به لغیر الله تعالیٰ (روح ج ۱۷ ص۱۴۲) ۳۸ فَاجْتَنِبُوا الخ مِنَ الْاَوْثَانِ کښې مِنْ بیانیه دے او الْاَوْثَانِ نه مخکښې مضاف محذوف دے۔ ای عبادة الاوثان (معالم وخازن) الرِّجْسَ، معنی نجاست او پلیتی دهٔ اصلی عبارت دا شان وو فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ هو عبادة الاوثان یعنی د غیرالله عبادت (دُعا)، رابلل او نذر ونیاز چه سراسر نجاست او پلیتی ده د هغې نه اجتناب اوکړئ یعنی بالرجس عبادة الاوثان وقد روی ذلک عن ابن عباس و ابن جریج فکانه قیل فاجتنبوا من الاوثان الرجس وهو العبادة (روح ج ۱۷ ص۱۴۸) دے صورت کښې به من تبعیضیه وی۔ ۳۹ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الخ دا په اجتنبوا اول باندے معطوف دے او د فعل اعاده د زیات اهتمام او تاکید د پاره ده قَوْلَ الزُّوْرِ نه مراد مشرکانه اقوال دی لکه چه مشرکانو به د حج په وخت په تلبیه کښې د خپل طرف نه مشرکانه الفاظ زیاتول. قِیْلَ هُوَ قول المشرکین فی تلبیتهم لبیک لا شریک لک لبیک الا شریکا هو لک تملکه وما ملک (معالم وخازن ص۱۵ ج۵) یا د غیرالله نذر او منسته کول او د مشرکانو تحریمات مراد دی کانه تعالیٰ لما حث علی تعظیم الحرمات اتبع ذالک بما فیه رد لما کانت الکفرة علیه من تحریم البحائر والسوائب ونحوها (روح) د سورة مائده په تفسیر ۱۱ صفحه ۲ کښې تیر شوی دی چه د حضرت شیخ قدس سره په نزد د ما اُهِلَّ بِهٖ کښې د ما نه مراد هغه قول دے کوم چه د غیرالله د نذر په وخت په ژبه ادا کړے شی او د قَوْلَ الزُّوْرِ نه مراد هم دغه قول دے۔ واجتنبوا قول الزور ای النذر لغیرالله والذبح علی غیر اسمه حاصل دا چه د غیرالله د نذر ونیاز نه هم ځان بچ اوساتئ او د نذر لغیرالله خوراک نه هم اجتناب اوکړئ۔

حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يُّشْرِكْ

چه خالص د الله عبادت کونکی یئ په اخلاص سره خاص الله ته نه چه د هغه سره شرک کونکی یئ او څوک چه شریک جوړ کړی او چا چه شریک جوړ کړو

بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ

د الله تعالیٰ سره نو لکه چه را پریوتو ګنړه د آسمان نه بیا په اوتښتوی هغه لره

الطَّيْرُ اَوْ تَهْوِىْ بِهِ الرِّيْحُ فِىْ مَكَانٍ

د هوا مارغان (مردار خوارو) یا اوغورځوی هغه لره هوا په یو ځائے

سَحِيْقٍ ﴿۳۱﴾ ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ

لرې کښې ف ۱ دا (خبره) مو واوریده او څوک چه تعظیم اوکړی د الله د نوم لګیدلو څیزونو

فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ﴿۳۲﴾ لَكُمْ فِيْهَا

دا د پرهیزګارئ خبره ده د زړهٔ ستاسو د پاره په چارپایو کښې

مَنَافِعُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَآ

فائدے دی تر یو مقرره وخته پورے بیا هغه اورسوی

ع ۴

اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴿۳۳﴾ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا

کور پخوانی (زوړ) ته ف ۲ . او د هر امت د پاره مقرر کړے مونږ

مَنْسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا

قربانی چه یاد کړی لګه نوم د الله تعالیٰ په ذبح

رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ؕ فَاِلٰهُكُمْ

د بے ژبے چارپایو نو کوم چه الله تعالیٰ هغوئ ته ورکړی دی نو الله ستاسو ګګه

اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَلَهٗٓ اَسْلِمُوْا ؕ وَبَشِّرِ

الله یو دے نو د هغهٔ په حکم اوسیږئ ف ۳ او خوشخبری واوره وه

الْمُخْبِتِيْنَ ﴿۳۴﴾ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ

عاجزی کوونکوته . هغه ګګه چه کله نوم واخستلے شی د الله

وَجِلَتۡ قُلُوۡبُهُمۡ وَالصّٰبِرِيۡنَ عَلٰى مَآ

نو اُو ويريږي زړونه د هغوئ او برداشت کوونکي وي د هغې (مصيبت) کوم چه

اَصَابَهُمۡ وَالۡمُقِيۡمِى الصَّلٰوةِ ۙ وَمِمَّا

پريوځي په هغوئ او قائموونکي وي د مانځه او ځمونږ

رَزَقۡنٰهُمۡ يُنۡفِقُوۡنَ ﴿۳۵﴾

ورکړے شوے مال خرچ کوي.

نکات: سل د مشرک د پاره تمثيل ۱۲. سل د الله د نذر ونو بيان ۱۲.

موضح قرآن ول تعظيم ئے اُوساتلو د الله د ادب يعنې د قربانئ چارپايان ئے لوټ نه کړل او قيمتي څاروي ئے واخستل او په هغهٔ باندے خزل وغيره واچول او هغه ئے هم خيرات کړو او چارپايان ستا سو د پاره حلال دي يعنې د کوم چه د خوړلو رواج دے او ډير ځناور حرام هم دي او د بتانو پليتئ نه کوم چه د بت په نوم ذبح کړے شي هغه مردار شو او دروغ خبرے نه يعنې کوم چه ئے د بت په نوم ذبح کړے شي هم حرام دے او څوک چه شريک جوړ کړي د الله سره د هغې مثال ئے اُوفرمائيلو. د دے د پاره چه د چا نيت په يو الله دے هغه قائم دے او چرته چه نيت نور طرفونو ته لاړشي نو هغه ئے دلاره اُوتښتولو يا څوک تېولو نه منکر شو دهرې شو. ول ځومره چارپايان چه دي د هغوئ حق دا دے چه کار ترينه واخلئ بيا ئے کعبے ته اُوليږئ هلته ئے قرباني کړئ ليکن دا خبره کړانه ده توچه چرته ئے هم بسم الله الله اکبر اُوئيلو او ذبح ئے کړو دا لېسه ده چه د الله نذرونه ئے کعبے ته اُوليږلو لرے وي يا نزدے. ول يعنې څاروي ذبح کول د الله په نوم نذرونه ئے هر دين کښ عبادت ايښے دے د الله نه سيوا د بل چا نذرونه او منښته د هغهٔ عبادت کول شو نو دا شرک دے.

تفسير: سل حُنَفَآءَ لِلّٰهِ الخ حُنَفَآءَ او غير مشرکين دواړه د فَاجۡتَنِبُوۡا د ضمير نه حال مؤکده دي وهما حالان مؤکدان من واو فاجتنبوا (روح ج ۱۷ ص ۱۴۹) حُنَفَآءَ د حنيف جمع ده يعنې د ټولو باطلو دينونو نه بيزار شوے او د حق دين طرف ته مائيل کيدونکے او خالص د الله عبادت کوونکے. مائلين عن کل دين فرائغ الى الدين الحق مخلصين له تعالى (روح)

۴۳ وَمَنْ یُّشْرِكْ الخ دَ یو تمثیل په ذریعه دَ شرک تباه کاری او دَ هغهٔ بدی واضحه کړے شوید ه دا تشبیه مرکب ده دِے کښ دَ مشرک حال دَ هغه سړی سره مشابه ګرځول شوید ے چه دَ آسمان نه را پریوځی حاصل دا دے چه کوم سړی دَ الله تعالیٰ سره شرک اُوکړو هغهٔ خپل ځان دَ هلاکت او تباهئ په کنده کښ اُوغورځولو او خپل ځان ئے ضائع کړو دَ دے مثال داسے دے لکه چه یو سړے دَ آسمان نه راپریوځی او دَ ښکار مارغان (مُردار خوارهٔ) دَ هغهٔ غوښے اُوشلوی یائے په هوا کښ والوځوی په یوه لرے کنده کښ ئے اُوغورځوی. من اشرك بالله فقد اهلك نفسه اهلاكا ليس بعده هلاك بان صور حاله بصورة حال من خرمن السماء فاختطفته الطير فتفرق قطعا فى حواصلها او عصفت به الريح حتى حوت به فى بعض المهالك البعيدة (مدارک ج ۳ ص۸۷) یا دا تشبیه تفصیلی ده یعنی ایمان او توحید ئے دَ آسمان سره او شرک ئے دَ آسمان نه راغورځیدلو سره مشابه ګرځولے دے او دَ ښکار مارغانو نه باطل افکار او نفسانی خواهشات مراد دی یعنی کوم سړے چه شرک کولو سره دَ ایمان او توحید اُوچت ځائے نه خپل ځان را اُوغورځوی هغه په هیڅ صورت کښ نهٔ شی بچ کیدلے یا خو دَ امانی (ارزوګانو) خوځوار مارغان دَ هغهٔ دَ غوښو ټکړے شلوی او خیرکوی او دَ هغهٔ عقل او فکر داسان معطل او بیکاره اُوګرځوی چه هغه دَ سوچ او فکر دَ توفیق نه محروم اُوګرځی یا به شیطان هغه دَ تیزے هوا او جهاګړے پشان والوزه وی دَ صراط مستقیم نه به ئے چرته لرے بوځی اُو به ئے غورځوی (روح، وغیره).

حضرت شیخ عبدالقادر رح فرمائی چه څوک شرک اُوکړی هغهٔ مثال ئے بیان کړو دِے دَ پاره چه دَ چا نیت په یو الله دے هغه قائم دے او چرته چه نیت ډیروځا یونو ته تللے دے نو هغه ئے په لاره کښ اُوچت کړو او وے تښتولو یا دَ ټولو نه منکر شو او دهری شو.

۴۴ ذٰلِكَ وَمَنْ یُّعَظِّمْ الخ ذٰلِكَ مبتداء ده او دَ دے خبر محذوف دے یا مفعول دے او دَ دهٔ ناصب محذوف دے ای ذالك امر الله او اتبعوا ذالك (قرطبی) دَ تاکید په طور بیان دے دَ الله تعالیٰ دَ نذر و نیاز ذکر کړے شوید ے او دَ شعائر نه دَ الله تعالیٰ دَ نذر او منسبتے قربانیانے او هدایا مراد دی. ای البدن الهدایا کما روی عن ابن عباس ومجاهد وجماعة ...... واطلقت على البدن الهدايا لانها من معالم الحج او علامات طاعته تعالى وهدايته (روح ج ۱۷ ص۱۵۱).

۴۵ ثُمَّ مَحِلُّهَآ الخ محل میمی دے په معنیٰ دَ وجوب یا ظرف زمان یعنی

وقت د ذبح. اَلْبَيْتِ الْعَتِيْقِ نه بيت الله شريف مراد دے يعني د بيت الله
هدايا بيت الله منیٰ وغيره ته بوځئ د الله په نوم ئے ذبح کړئ ځکه چه
الله تعالیٰ هر ځائے موجود دے.

۴۶ وَ لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا الخ دا هم د الله د نذر و نياز بيان دے منسك
اسم ظرف مکان دے يعني قربانګا (د قربانۍ) يا مصدر دے يعني د الله
د تقرب د پاره چاره پائے ذبح کول فسّرهٔ مجاهد هنا بالذبح واراقة الدماء
على وجه التقرب اليه تعالىٰ (روح ج ۱۷ ص ۱۵۳) دلته دا خبره واضحه کړے شوه
چه د الله تعالیٰ د تقرب د پاره د قربانۍ کولو او د الله تعالیٰ د نذر و نياز ورکولو
دستور په هر اُمت کښ مقرر وو او هيڅ يو اُمت د دينه نه دے مستثنیٰ
کړے شوے او هر اُمت ته حکم ورکړے شوے وو چه هغوئ د الله تعالیٰ
په نوم باندے نذرونه او منتونه ورکړی او د غير الله په نوم د نذر و نياز
نه پرهيز کاری اوکړی لما ذکر تعالى الذبائح بين انه لم يخل منها امة
(قرطبى ج ۱۲ ص ۵۸). ۴۷ فَاِلٰهُكُمْ الخ چونکه الله تعالیٰ ستاسو معبود الله
تعالیٰ دے او د هر څيز خالق هم هغه دے. لهٰذا تاسو د هغهٔ د فرمان
تابعدار اوسيږئ د هغهٔ تحريمات قائم ساتئ. نذر و نياز هم د هغهٔ
په نوم باندے ورکوئ او د غير الله تحريمات ختم کړئ او د غير الله نذرونه
مه ورکوئ. والمراد اخلصوا له تعالى الذكر خاصة واجعلوا الوجه سالما
خالصًا لا تشوبوه باشراك (روح ج ۱۷ ص ۱۵۴) فامر تعالى عند الذبائح بذكره
وان يكون الذبح له لانه رازق ذالك...... فالاله واحد لجميعكم فكذلك
الامر فى الذبيحة انما ينبغى ان تخلص له (قرطبى)

۴۸ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ الخ دا بشارت اُخروی دے د الله هغه بندګانو د پاره
څوک چه عاجزی کوی او د الله نه ويريږی، په مصيبتونو کښ صبر کوی
او د الله په اطاعت باندے قائم اوسيږی هغوئ د الله د رضا لټولو د پاره
مونځونه کوی او د هغهٔ د رضا کولو د پاره مال خرچ کوی.

وَالْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا لَكُمْ مِّنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ

او د کعبے (هديه) اُوښان او غويان ګرځولی دی مونږ ستاسو د پاره نښانے د الله د نوم

لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ ۖ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ

ستاسو د پاره په دے کښ فائدے دی تو واخلئ نوم د الله تعالیٰ

عَلَيْهَا صَوَآفَّ ۚ فَاِذَا وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا فَكُلُوْا
په هغې باندې چه قطار کښې ولاړې وي بیا چه کله پرېوځي ډ هغوئ اړخونه (په زمکه) نو خورئ
مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ ۗ كَذٰلِكَ
له هغې نه او خوروئ په صبر کوونکو او په بې صبره فقیرانو داشان
سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۳۶﴾
په قبضه کښې درکړل مونږ دا چارپایان ستاسو دِ دې د پاره چه تاسو احسان اُومنئ ف
لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ
نهٔ رسیږي الله ته غوښې ډ هغې او نهٔ وینې ډ هغې لیکن
يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ۗ كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا
الله ته رسیږي د زړهٔ ادب ستاسو داشان مونږ په قبضه کښې درکړل دا چارپایان
لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ ۗ
تاسو ته چه لوئي بیان کړئ ډ الله په دې خبره باندې چه لار ئې اُوښودله تاسو ته
وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدٰفِعُ
او زیرې ورکړه نیکي کوونکو ته الله تعالیٰ په ضه ډ شمنان لرې کړي
عَنِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۗ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ
ډ ایمان والؤ نه ف الله تعالیٰ نهٔ خوښوي ضه
كُلَّ خَوَّانٍ كَفُوْرٍ ﴿۳۸﴾ اُذِنَ لِلَّذِيْنَ ع
څوک خیانت گر ناشکره ف ۲ حکم اُوشو هغه خلقو ته چا سره ضه
يُقٰتَلُوْنَ بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا ۗ وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰى
چه کافران جنگیږي ځکه چه په هغوئ ظلم اُوشو او الله تعالیٰ په
نَصْرِهِمْ لَقَدِيْرُ ۙ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا
امداد کولو ډ هغوئ باندې قادر دې هغه خلق چه ئې اُویستل

مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ اِلَّآ اَنْ يَّقُوْلُوْا

دَ خپلو کورونو نه او دعوی هیڅ نشته سیوا د دینه چه وائی هغوئ

رَبُّنَا اللّٰهُ ۭ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ

رب محمونږ الله دے او که چرے نه لرے کولے الله تعالیٰ خلق د یو

بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَّصَلَوٰتٌ

بل نه نو ورانیدلے په گرجے او مدارس او عبادت خانے

وَّمَسٰجِدُ يُذْكَرُ فِيْهَا اسْمُ اللّٰهِ كَثِيْرًا ۭ

او جوماتونه چه یادولے شي په کوم کښ نوم د الله تعالیٰ ډیر

وَلَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

او ضرور به مدد کوی الله د هغه چا چه څوک مدد کوی د هغهٔ بیشکه الله تعالیٰ

لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ ۝۴۰

ډیر قوی او زور والا دے ۔

نکات ۱ د الله د نذرونو بیان ۱۲۔ ۲ اعلان جهاد د پاره تمهید ۱۲
۳ د جهاد اجازت او د فتح او کامیابئ خوشخبری ۱۲۔

موضح قرآن ف ۱ د اوښ د ذبح کولو په بدله کښ تحریر دے قبلے ته مخامخ او دروئ بیائے په سینه کښ زخمی کړئ چه کله تول وینه اوتله او هغه پریوتله نو بیائے ټکړے ټکړے کړئ دوه محتاجان ئے اوښودل اول هغه دے چه طلب نهٔ کوی او بل هغه دے چه طلب کوی. ف ۲ ترڅو چه نبی علیه السلام په مکه کښ وو نو حکم وو چه مسلمانان دِ صبر کوی د کافرانو په تکلیفونو رسولوئے صبر اوکړو بیا چه له مدینے ته راغلل نو حکم ورته اوشو چه تاسو سره څوک بد کوی نو تاسو هم بدله واخلئ دغه وخت جهاد شروع شو په مخکښ راتلونکی ایت کښ حکم دے. ف ۳ څوک چه د هغهٔ مدد کوی یعنی د هغهٔ د دین او د هغهٔ د رسول الله قادر دے چه څهٔ اوغواړی په یو ساعت کښ به ئے اوکړی لیکن د انسان سره هم دا معامله ده چه نیک او بد سره خپل مینځ کښ سزا بیا موږی۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی ضرر د دُشمنانو د دوئ ۱۲۔

تفسیر: ۴۹ وَالْبُدْنَ الخ دا هم د الله د نذر و نیاز د ورکړے بیان دے صَوَآفَّ، قطار په قطار۔ وَجَبَتْ، را پریوځی۔ اَلْقَانِعَ، قناعت کوونکے محتاج اَلْمُعْتَرَّ، بے قرار سوال کوونکے دا قربانیانے د الله د عبادت او اطاعت نښے دی دے کښې ستاسو د دین او دنیا فائده ده۔ هغه د الله د رضا د پاره او د الله نوم اخستلو سره ذبح کړئ او بیا د هغے نه پخپله هم خوراک اوکړئ او هر مسکین او فقیر ته او سائیل او محتاج ته هم د هغے نه ورکړه کوئ۔ کَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا الخ دا خاروی موږ ستاسو د پاره تابع کړی دی دے د پاره چه تاسو د الله شکر په ځائے راؤړئ او د هغے نه صرف د الله په نوم نذر و نیاز ورکوئ ای تشکروا انعامنا علیکم بالتقریب والاخلاص (روح ج ۱۷ ص ۱۵۸)

۵۰ لَنْ یَّنَالَ الخ دلته د قربانئ اصل فلسفه بیان شویده یعنی صرف د چارپائے ذبح کول او د هغے وینه تو یه ول او محض د هغے غوښو خوړلو او بل ته ورکولو سره تاسو د الله رضا نهٔ شئ حاصلولے ترڅو پورے چه ستاسو زړهٔ د تقوی، اخلاص او د زړهٔ نیکے جذبے نه ډک نهٔ وی د چارپایانو غوښے او د هغوئ وینے پورته د الله دربار ته نهٔ شي رسیدلے هلته خو ستاسو د زړهٔ تقوی او اخلاص قبلیږی۔ کَذٰلِكَ سَخَّرَهَا الخ دا شان الله تعالیٰ دا چارپایان ستاسو په قبضه او تصرف کښې درکړی دی دے د پاره چه تاسو د الله په مخکښې د خپلے بندګئ او عبودیت او د الله تعالیٰ د عظمت او لوئیئ اظهار اوکړئ او دا چارپائے د الله د حکم مطابق د الله د رضا کولو د پاره د هغهٔ په نوم باندے حلال کړئ۔ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِیْنَ، توحید پرستو او هر قسم شرک اعتقادی او فعلی نه اجتناب کوونکو ته بشارت اُخروی دے وبشر المحسنین قال ابن عباس الموحدین ——— (معالم وخازن ج ۵ ص ۱۹)

۵۱ اِنَّ اللّٰهَ یُدٰفِعُ الخ د شرک فی التصرف او شرک فعلی دلائیلو سره د نفی کولو نه روستو دا د جهاد د اعلان تمهید دے او مسلمانانو ته د جهاد خوشخبری ده یعنی الله تعالیٰ به د مشرکانو په مقابله کښې د مؤمنانو مدافعت کوی او د هغوئ امداد به کوی۔ د جهاد د منع نه روستو د تولو نه مخکښې دا ایت نازل شو چه په دے کښې د جهاد د و بارهٔ اجازت ورکړے شو وهی اوّل اٰیة نزلت فی القتال بعد ما نهی عنه فی نیف وسبعین اٰیة علی ما روی الحاکم فی المستدرك عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما (روح ج ۱۷ ص ۱۶۲) ۵۲ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ الخ دا د ماقبل علت دے دا مشرکان چونکه خَوَّانٍ (ډیر لوئے خیانت کوونکی) او کَفُوْرٍ (ډیر ناشکر) دی الله تعالیٰ دوئ

نهٔ خوښوي ځکه چې دوی خیانت کوونکي او ناشکره دي. ژباړه: وجې نه هغه به مسلمانانو ته د دوئ په لاس تو مغلوب او مقهور نهٔ گرځوي. دخیانت نه مراد شرک او کفران نعمت دے دغیرالله د تقرب د پاره نذر ورنیاز ورکول مراد دے لکه چه حضرت ابن عباس رض او امام زجاج نه منقول دی قال ابن عباس خانوا الله فجعلوا معه شریکا وکفروا نعمه قال الزجاج من تقرب الی الاصنام بذ بیحته وذکر علیها اسم غیر الله فهو خوان کفور (معالم وخازن ج ۵ ص۱۹).

۵۳ اُذِنَ لِلَّذِيْنَ الخ دے ایت کښ دجهاد د اجازت اسباب او وجهے بیان شوی دی دا ایت کهٔ چرے مدنی وی لکه چه ټول سورهٔ حج مدنی دے دے بانده هیڅ اعتراض نشته ځکه چه د جهاد فرضیت په مدینه کښ نازل شوے وو او کهٔ چرے دا ایت مکی وی لکه چه د بعضو قول دے نو دجهاد حکم به هغه خلقو ته وی ځوک چه د مکے مکرمے نه بهر او سیدل یعنی هغه مظلوم مسلمانانو ته دجهاد اجازت دے چا چه ځکښ والے نهٔ دے کړے بلکه هغوئ په جنګ راګیر کړے شو هغوئ بالکل مظلومان دی هغوئ د ځهٔ وجے نه بغیر د خپلو کورونو نه ویستلے شوی دی د هغوئ جرم صرف دا وو چه هغوئ صرف الله تعالیٰ خپل مالک، مختار او کارساز گنړلی وو د الله سره ئے شرک نهٔ کولو. د اُذِنَ متعلق یعنی ما ذون فیه مقدر دے په قرینه د يُقٰتَلُوْنَ ای فی القتال التقدیر اذن للذین يُقٰتَلُوْنَ فی القتال فحذف الماذون فیه لدلالة یقاتلون علیه (کبیر ص۳۶ ج۶) او حضرت شیخ رحمه الله او فرمائیل دلته د اُذِنَ مفعول مقدر دے. یعنی اُذِنَ للذین یقاتلون ان یقاتلوا الخ.

۵۴ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ الخ دا دجهاد مشروعیت او د جهاد ترغیب دے. صَوَامِعُ، جمع ده د صَوْمِعَةٌ، صومعه د عیسائی راهب مخصوص عباد تخانے ته وائی. بِيَعٌ، جمع ده د بیعة. یعنی د عیسایانو عبادت خانه (گرجه) صلوٰة جمع د صلوٰة ده او صلوٰة د یهودیانو عبادت خانے ته وائی کذا فی الروح والمدارک کهٔ چرے الله جهاد سره مسلمانان په کافرانو باندے نهٔ مسلط کولے او د هغوئ شر ئے نهٔ دفع کولے نو مشرکان به په هره زمانه کښ په مسلمانانو باندے او په اهلِ کتاب باندے غالب کیدلے او دومره ډیر لوئے فساد به ئے کولے چه د هغوئ عبادت خانے به ئے هم ورانولے لیکن الله تعالیٰ د توحید والو ته په مشرکانو باندے غلبه ورکړه د هغوئ زور ئے مات کړو او د تورو دینونو والائے د هغوئ د شر نه بچ کړل ای لولا اظهاره وتسلیطه المسلمین علی الکافرین بالمجاهدة لاستولی المشرکون علی اهل الملل المختلفة فی ازمنتهم وعلی متعبداتهم فهدموها

ولم یترکوا للنصارٰی بیعا ولا لرهبانهم صوامع ولليهود صلوات ای کنائس ولا للمسلمين مساجد (مدارک ج ۳ ص ۸۵).

۵۸ وَلَيَنصُرَنَّ اللّٰهُ الخ د جهاد د اجازت نه روستو دا د فتح اعلان دے. د الله تعالیٰ سنت جاری په (همیشه قانون) دا دے چه کوم خلق د هغهٔ د حق دین حمایت او نصرت کوی الله تعالیٰ د هغوئ حامی او ناصروی. إِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ، جمله ما قبل د پاره علت دے.

اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِى الْاَرْضِ اَقَامُوا
هغه خلقو ته ۵۹ که چرے مونږ قدرت ورکړو په ملک کښ نو هغوئ قائموی
الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ وَاَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ
مونځ او ورکوی زکوٰة او حکم کوی د نیکئ
وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿۴۱﴾
او منع کوی د بدئ نه او د الله په اختیار کښ دے کار آخر د
وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ
او که چرے دروغژن اوګنړی تا ۶۰ نو دروغژن ګنړلی وو مخکښ
قَوْمُ نُوْحٍ وَّعَادٌ وَّثَمُوْدُ ﴿۴۲﴾ وَقَوْمُ اِبْرٰهِيْمَ
قوم د نوح او عادیانو او ثمودیانو او قوم د ابراهیم
وَقَوْمُ لُوْطٍ ﴿۴۳﴾ وَّاَصْحٰبُ مَدْيَنَ ۚ وَكُذِّبَ
او قوم د لوط او خلقو د مداین او دروغژن ئے اوګنړلو
مُوْسٰى فَاَمْلَيْتُ لِلْكٰفِرِيْنَ ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۚ
موسیٰ بیا ما مهلت ورکړو ۶۱ انکار کوونکوته بیا م اونیول هغوئ
فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۴۴﴾ فَكَاَيِّنْ مِّنْ
نو څنګه شو زما انکار نو ډیر ۶۲

قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ

او ډیر کلي دي چه هلاک کړل مونږ هغوئ او هغوئ ګناهګار وو نو هغه

خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ

پریوتلي دي په چتونو خپلو باندے او ډیر کوهیان شاړ پراته دي

وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ ﴿٤٥﴾ أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي

او ډیر مانړئ دي چه ګچ دي. آیا نهٔ دي ګرځیدلي دوئ په

الْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ

ملک کښ چه دوئ د پاره زړونه وے چه فکر ئے کولے

بِهَا أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا ۖ فَإِنَّهَا لَا

په هغې سره یا ئے غوږونه وے چه اوریدل ئے کولے په هغې سره نو تحقیق

تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ

ړندے ئے سترګے نهٔ دي لیکن ړانده ګرځي د دوئ زړونه

الَّتِي فِي الصُّدُورِ ﴿٤٦﴾ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ

کوم چه په سینو کښ دي. او تلوار سره غواړي ستا نه

بِالْعَذَابِ وَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ وَعْدَهُ ۚ

عذاب لره او هرګز به خلاف اونهٔ کړي الله تعالیٰ د وعدے خپلے

وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ

او یوه ورځ له ستا د رب سره د زرو کلونو برابر دي

مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾

کوم چه تاسو شمارئ ئې ۲ ملے.

نکات: ملے تسلّي د نبي علیه السلام د پاره تخویف دنیوي مشرکانو د پاره ۱۲. ۲ے زجر سره د تخویف دنیوي ۱۲.

موضح قرآن ف۱ یعني یو څو دے پوړے دا اُمت دین قائم لري بیا الله تعالیٰ عالم دے. ف۲ یعني د زړو کلونو کار په یو دړه کښ کولے شي.

فتح الرحمٰن ف۱ یعني که اُوغواړي د زړو کلونو کار په یوه وړه کښ سرته اُورسوی تو مهلت ورکول د عجز په وجه نهٔ دے بلکه بناء په مصلحت باندے چه د هغهٔ نه سیوائے بل څوک نهٔ پیژني.

تفسیر ۵۶ اَلَّذِیْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ الخ دا د من ینصرهٔ نه بدل دے یعني الله تعالیٰ چه د کومو خلقو امداد کوي د خلقو صفتونه دا دي چه که چرے هغوئ ته په زمکه حکومت اُوسپارلے شي تو هم هغوئ د حق لارے نه د یو ویښتهٔ د سر برابر خلاف هم نهٔ کوي او په زمکه باندے د الله دین نافذ کړي او د ژوند په هر شعبه کښ د الله قانون رائج کړي دُنیا کښ نیکئ او صلاح او تقوٰی ته ترقي ورکړي د بدئ او جُرم او گناه نه د الله تعالیٰ زمکه پاکه کړي مفسرین لیکي چه دا ایت د خلفاء راشدین رضي الله عنهم د خلافت د حقانیت دلیل دے او دے ایت کښ د مهاجرینو د پاکیزه سیرت پیشنگوئ ده. ویکون (الذین ان مکنهم فی الارض) اربعة من اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم لم یکن فی الارض غیرهم (قرطبی ج ۱۲ ص۷۳) هو اخبار من الله عما ستکون علیه سیرة المهاجرین ان مکنهم فی الارض وبسط لهم فی الدنیا وکیف یقومون بامر الدین ودلیل صحة امر الخلفاء الراشدین الخ (مدارک ج ۳ ص۸۰) علامه خازن لیکي چه اَلَّذِیْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ چونکه د هغه خلقو صفت دے د کوم چه مخکښ الذین اُخرجوا من دیارهم کښ ذکر شوی دے د دے وجے نه د دلته صرف مهاجرین مراد دي. وقیل هم المهاجرون وهو الاصح لان قوله (والذین ان مکنهم) صفة لمن تقدم ذکرهم وهو قوله (الذین اخرجوا من دیارهم) وهم المهاجرون (خازن ج ۵ ص۲۰) وفیه دلیل صحة امر الخلفاء الراشدین رضی الله تعالیٰ عنهم لان الایة مخصوصة بالمهاجرین لانهم المخرجون بغیر حق والممکنون فی الارض منهم الخلفاء دون غیرهم فلو لم تثبت الاوصاف الباقیة لزم الخلف فی المقال تعالی الله سبحانه عنه (روح ج ۱۷ ص۱۶۳).

۵۷ وَاِنْ یُّكَذِّبُوْكَ تا وَاِلَیَّ الْمَصِیْرُ، دا ایت نبي علیه السلام ته تسلي ده او مشرکانو د پاره تخویف اُخروی دے وَاِنْ یُّكَذِّبُوْكَ الخ که چرے د مکے مشرکان تا سو دروغژن گڼري او د واضحه دلیلونو باوجود او د حُسنِ تبلیغ

با وجود دَ توحید مسئله نهٔ منی نو تاسو پریشانه کیږئ مهٔ او زړهٔ مهٔ خفه کوئ دَ حضرت نوح علیه السلام نه واخله تر موسیٰ علیه السلام پورې دَ مشرکانو حال اوګورئ دې زمانه کښې چه څومره پیغمبران هم راغلی دی او دنیا ته لیږلے شوی دی کافرانو او مشرکانو همیشه دَ هغوئ دعوت اُو نهٔ منلو او په قول او فعل سره ئے هغوئ ته هر قسم تکلیفونه او ضررونه اُورسول، نوح، هود، صالح، ابراهیم، لوط، شعیب، موسیٰ او نورو انبیاء علیهم السلام سره دَ هغوئ قومونو هم دا سلوک اوکړو کوم چه دا وخت ستا قوم تا سره کوی دے ټولو انبیاء کرام دَ کافرانو په تکذیب او ضرر رسولو باندے صبر کولو اخر مونږ مکذبین هلاک کړل دا شان انجام به دَ مکے دَ مشرکانو هم وی دَ دے وجے نه تاسو صبر کوئ هٰذه تسلية لمحمد صلى الله عليه وسلم من تكذيب اهل مكة اياه اى لست باوحدى فى التكذيب (مدارک ج ۳ ص۸۵) هذا تسلية للنبى صلى الله عليه وسلم وتعزية، اى كان قبلك انبياء كذبوا فصبروا الى ان اهلك الله المكذبين فاقتد بهم واصبر (قرطبی ج ۱۲ ص۷۳).

۵۸ فَاَمْلَيْتُ الخ دا تکذیب کوونکی مونږ سمدستی اُو نهٔ نیول بلکه دَ تکذیب او انکار نه روستو مونږ هغوئ ته مهلت ورکړو دے دَ پاره چه هغوئ ته دَ سوچ او غور فکر کولو موقع ملاؤ شی کله چه دَ اوګډ مهلت نه هم هغوئ فائده وانخستله او دَ الله تعالیٰ دَ ورکړے شوی عقل نه ئے کار وانخستلو نو مونږ هغوئ اُونیول دَ هغوئ خوشحالئ آرام او راحت مونږ په بد حالئ او درد ناک عذاب سره بدل کړو. دَ مکے مشرکانو ته هم دے دَ پاره مهلت ورکړے شوے دے لیکن کهٔ چرے هغوئ دَ دے مهلت نه فائده پورته نهٔ کړه او په انکار او عناد ټینګ پاتے شول نو دَ هغوئ حشر او انجام به هم هغه شان وی کوم چه دَ تیرشوو قومونو شو. ۵۹ فَكَاَيِّنْ مِّنْ الخ دا دَ تیر شوو قومونو دَ عذاب څهٔ اندازه تفصیل دے یعنی ډیر داسے کلی دی چه دَ هغے اُوسیدونکو ځمونږ پیغمبران دروغ اُوګڼړل او دَ توحید پیغام ئے رد کړو په خپلو ځانونو باندے ئے ظلم اُوکړو نو مونږ هغه دَ کلو اُوسیدونکی تباه کړل او فصلونه باغونه مو تباه کړل تر دے چه دَ هغوئ دَ کورونو چتونه په زمکه را پریوتل. عالی شان او مضبوط مستحکم محلات په زمکه را پریوتل او اباد کوهیان وران او شاړ شول. ظَالِمَةٌ دَ اهلكناها ضمیر منصوب نه حال دے حال اى واهلها مشركون (مدارک ج ۳ ص۸۵). ۶۰ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا الخ دے کښی سیر او سیاحت کولو سره دَ تیر شوو قومونو باقی اثار (نښے نښانے) لیدلو سره

د هغې نه د عبرت حاصلولو ترغیب ورکړے شوے دے. د دے معاندینو زړونه پاتے او کاڼۀ دی نه حق یاتے پوهیږی او نه حق خبره اوریدے شی که چرے دا خلق د تیر شوی منکرا و عنادګر قوم د تباهئ او بربادئ نشانات په خپلو سترګو اوینی او لاړشی تو ښائی چه د دوئ سترګے پرانستلے شی او د دوئ زړونه د الله د توحید پیژندلو او قبلولو باندے اماده شی. فتکون لهم قلوب یعقلون بها ای یعلمون ما یجب ان یعلم من التوحید (روح ج ۱۷ ص۱۶۷).

۶۱ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ الخ زجر سره د تخویف دنیوی. د مکے مشرکانو به د استهزاء او مسخرو په طور باندے نبی علیه السلام ته وئیل چه د کوم عذاب نه ته مونږ ویره وے هغه په تونډئ سره ولے نۀ راولئ د دے جواب ورکړے شو. وَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ وَعْدَهٗ ، الله تعالی فیصله کړیده چه که چرے مشرکانو ایمان رانۀوړو تو هغوئ به په رسوا کوونکی عذاب سره هلاکولے شی او د هغې وخت هم مقرر شوید ے او الله تعالی د خپلے وعدے (د عذاب د فیصلے) خلاف ورزی هیڅ کله نۀ کوی. که چرے دے عنادګرو او نۀ منل تو عذاب به په خپل وخت ضرور راځی لکه چه داوعده په جنګ بدر کښ پوره شوه. ای انه انجز ذلک یوم بدر (خازن ج ۵ ص۲۱)

۶۲ وَاِنَّ يَوْمًا الخ دا ظالمانو او ناپوهه عذاب ولے غواړی حال دا دے چه د الله عذاب خو د پناه غوښتلو خیز دے نۀ چه د طلب کولو په آخرت کښ به د الله عذاب دومره زیات سخت او اوږد وی چه د عذاب یوه ورځ به د دنیا د زرو کلونو برابر وی. قال الفراء هذا وعید لهم بامتداد عذابهم فی الاخرة الف سنة (قرطبی ج ۱۲ ص۷۷).

وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ

او ډیرو مره کلی دی ۶۳ چه ما مهلت ورکړو هغوئ ته او هغوئ

ظَالِمَةٌ ثُمَّ اَخَذْتُهَا ۚ وَاِلَيَّ الْمَصِيْرُ ﴿۴۸﴾

ګناهګار وو بیا ما اونیول هغوئ او ما ته دوباره راتلل دی

قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَاۤ اَنَا لَكُمْ

ته اوایه اے خلقو ۶۴ زۀ خو تاسو لره

نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿۴۹﴾ فَالَّذِينَ اٰمَنُوا وَعَمِلُوا

ویرہ ورونکے یم ښکارہ نو کوم خلق چه ایمان ئے راوړو او کړیدہ

الصّٰلِحٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿۵۰﴾

نیکی ئے لپارہ د هغوئی گناه مونږ بښلے ده او هغوئی لپارہ رزق دے د عزت.

وَالَّذِينَ سَعَوْا فِي اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِينَ

او کوم خلق چه کوشش کوی څمونږ د ایتونو په باطلولو کښ

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيمِ ﴿۵۱﴾ وَمَا اَرْسَلْنَا

هغوئی به اوسیږی په دوزخ کښ او کوم چه اولیږلو مونږ

مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَّلَا نَبِيٍّ اِلَّآ

ئے ستانه مخکښ رسول یا نبی

اِذَا تَمَنّٰٓى اَلْقَى الشَّيْطٰنُ فِيٓ اُمْنِيَّتِهٖ

کله چه لګیا شو خیال ترلو کښ نو ګډ کړو شیطان په خیال د هغهٔ کښ

فَيَنسَخُ اللّٰهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ ثُمَّ

بیا ختموی الله ګډ کړے شوی د شیطان بیا

يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿۵۲﴾

محکم کوی خپل ایتونه او الله په هر څهٔ خبر دے حکمت والا دے هر کار کښ

لِّيَجْعَلَ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ فِتْنَةً

د دے د پارہ چه کوم څهٔ ګډ کړل ئے شیطان هغے سره امتحان واخلو

لِّلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَّالْقَاسِيَةِ

د هغه خلقو د پارہ زړونو کښ چه بیماری ده او چه سخت دی

قُلُوبُهُمْ ۗ وَاِنَّ الظّٰلِمِينَ لَفِي شِقَاقٍ

د چا زړونه او ګناهګار خودی په مخالفت کښ

بَعِيدٍ ﴿۵۳﴾ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ
ویر لرے پریوتلی. او دے د پاره چه معلوم کړی هغه خلق چا ته چه ورکړے شوے پوهه

أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوا بِهِ
چه دا حق دے ستا د رب د طرفه بیا یقین اوکړی په دے

فَتُخْبِتَ لَهُ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَهَادِ
او نرم شی د هغه په مخکښ زړونه د دوئ او الله تعالیٰ لار ښودونکے دے

الَّذِينَ آمَنُوا إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿۵۴﴾
یقین لرونکو ته لار سمه ته ۲

نکات: سلے بشارت اخروی ۱۲. سلے تخویف اخروی ۱۲.

موضح قرآن ف۱ نبی ته د الله د طرفه چه یو حکم راځی په هغے کښ هیڅ تفاوت نه وی او یو د خپل زړهٔ خیال رائے او اجتهاد دے خو په هغے کښ لکه د نورو انسانانو کله خیال موافق او کله موافق نه وی لکه چه نبی (صلی الله علیه وسلم) په خوب کښ اولیدل چه د مدینے نه مکے ته لاړو او عمره ئے اوکړه په خیال کښ ئے راغلل چه شائد هم دا سږنے کال دے لیکن په راتلونکی کال کښ ئے د خوب تعبیر پوره شو. یا هغهٔ سره وعده اوشوه چه په کافرانو باندے به غالب کړے شی هغوئ (صلی الله علیه وسلم) دا خیال کوو چه شائد په دے اوسنی جنګ کښ په هغے کښ غالب نه شو بلکه په بل کال کښ غلبه واقع شوه بیا الله واضحه کړه چه څومره حکم وو په هغے کښ تفاوت نه وو.
ف۲ یعنی دے کښ ګمراهان لا ګمراه کیږی تو د هغوئ کار ګمراهی ده او د ایمان والا نور هم مضبوط او ټینګ شی چه په دے کلام کښ د بنده دخل نشته کهٔ چرے وے نو دا به هم د بنده د خیال پشان کله صحیح او کله غلط وے او د چا نیت چه په اعتقاد وی الله پاک هغه په دے خبرٔ پوهوی.

فتح الرحمٰن ف۱ مثلاً نبی علیه السلام خوب کښ اولیدل چه داسے زمکے ته ئے هجرت کړیدے چه ډیرے کهجورے لری نو په خیال کښ ئے یمامه هجر وو او په حقیقت کښ مدینه منوره وه او مثلاً نبی علیه السلام په خوب کښ اولیدل چه مکے ته راغے او سرئے اوخرئیلو او قصرئے اوکړو نو په خیال کښ ئے راغلهٔ چه هم په

دِے کال کښ به دا سے کیږي او په نفس الامر او حقیقت کښ روستو ته کلو تو نه هغه شان متحقق شوه او دِے قسم صور تو نو کښ دَ مخلصینو او منافقانو مینځ کښ امتحان کیږي.

تفسیر: ۶۳ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ الخ تخویف دنیوی دے. تفسیر دَ پارهٔ تفسیر ۵۸ ۵۹ اوګوره. دا په مخکښ را تلونکی ایت کښ ترغیب الی الایمان دَ پارهٔ تمهید دے یعنی الله تعالیٰ دَ منکرینو په نیولو باندے قادر دے څنګه چه هغه په تیر شوو زمانو کښ معاندین نیولی دی دَ دے وجے نه تاسو دَ توحید دعوت قبول کړئ ګنی نو تاسو به هم دَ مخکنو معاندینو په شان نیولے شئ. ۶۴ قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ الخ دَ توحید دعوت منلو ترغیب او يَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ جواب دے. تاسو خلق ځما نه دَ عذاب راوړلو مطالبه په جلتئ سره کوئ حال دا دے چه عذاب راوړل ځما په قبضه او اختیار کښ نهٔ دے بلکه ما ته خو دا هم نهٔ ده معلومه چه عذاب به کله راځی ځکه چه زهٔ خو دَ عذاب نه ویره وونکے او دَ عذاب دَ راتلو نه مخکښ خبر ورکوونکے یم دَ دے وجے نه به دا ضرور وایم چه په ما باندے ایمان راوړئ او دَ توحید پیغام قبول کړئ ګنی نو وا ورئ که چرته نهٔ منئ نو دَ الله تعالیٰ رسوا کوونکی عذاب باندے به هلاک کړے شئ.

۶۵ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الخ بشارت اُخروی کوم خلق چه توحید او رسالت او نورو دَ ایمان ضرورياتو باندے ایمان راوړي او نیک کارونه اوکړي هغوئ دَ پارهٔ به په اخرت کښ بخشش او دَ عزت روزي وي. وَالَّذِيْنَ سَعَوْا الخ دا تخویف اُخروی دے کوم خلق چه ځموږ دَ ایتونو دَ باطلولو او بے اثر کولو کوشش کوی او په مختلفو طریقو سره دَ هغے پارهٔ کښ شبهاتو پیدا کولو کوشش کوی دَ هغوئ ځائے جهنم دے. ای بذلوا الجهد فی ابطالها فسموها تارة سحرا و تارة شعرا و تارة اساطیر الاولین (روح ج ۱۷ صلکا) ۶۶ وَمَآ اَرْسَلْنَا الخ دا دَ مشرکانو دَ نهٔ منلو وجه ده کله چه دَ الله پیغمبر دَ کلام الله ایتونه لولی هغه وخت شیطان دَ اوریدونکو په زړونو کښ مختلف قسم شکونه او شبهات پیدا کوی. مثلاً دا چه دا پیغمبر جادوګر دے، شاعر، مجنون دے او ځموږ معبودانو ته کنځل کوی وغیره مشرکان دَ دے شبهاتو په وجه دَ هدایت دَ لارے نه لرے ووځی لیکن دَ ایمان والو زړونه الله تعالیٰ دَ دے پلیتو شبهاتو نه پاک ساتی. دَ دے قسم مضمون دَ قرآن مجید په درج ذیل ایت کښ هم ذکر شوے دے. وکذلك جعلنا لکل نبی عدوا شیطین الانس والجن یوحی بعضهم الی بعض زخرف القول غرورا (انعام ع ۱۴) تَمَنّٰٓى په معنیٰ دَ قرأ دے یعنی کله چه به ئے

تلاوت کولو لکه چه حضرت حسّانؓ په مرثیه دَ حضرت عثمان رضی الله عنه کښې وئیلی دی.

تمنّیٰ کتاب الله اول لیلة   واٰخرها لاقی حمام المقادر (بحر)

او اُمْنِيَّتِهٖ ای قراءته وتلاوته (مدارک) دَ دے ایت په تفسیر کښې یوه باطله قصه نقل کولے شی. یوځل نبی علیه السلام بیت الله شریف کښې سورة والنجم اِذَا هَوٰی تلاوت کولو په سامعینو کښې مسلمانانو نه علاوه مشرکان هم وو کله چه دِے ایت ته اُورسیدو ومناة الثالثة الاخرٰی نو شیطان دَ نبی علیه السلام په ژبه دا کلمات جاری کړل تلك الغرانیق العلی وان شفاعتهن لترتجی (یعنی ځمونږ دا معبودان ډیر دَ لوئے مرتبے والا دی او په مشکل وخت کښې دَ دوئی دَ شفاعت اُمید کیدے شی) دِے کلماتو کښې دَ مشرکانو دَ باطلو معبودانو تعریف وو دَ دے وجے نه مشرکان ډیر خوشحاله شول چه نن ځمونږ دَ معبودانو تعریف محمدؐ کړیدے. نو جبرائیل علیه السلام راغے نبی علیه السلام ئے په دے غلطئ باندے خبر کړو دا شیطانی القاء وه. دا قصه دَ نبوت دَ شان سره بالکل منافی ده دَ دے وجے نه ټولو مفسرینو دا رد کړیده دا قصه هم صحیح سند سره منقول نه ده. امام محمد بن اسحٰق بن خزیمه او امام بیهقی وئیلی دی چه دا قصه موضوع او دَ ځان نه جوړه شویده دَ زندیقانو مُلحدانو خودساخته ده، او دَ نقل په اعتبار سره ثابته نه ده امام محمد بن اسحاقؒ دَ دے قصے په رد کښې یو کتاب هم تصنیف کړو. وهی قصة سئل عنها الامام محمد بن اسحاق جامع السیرة النبویة فقال هذا من وضع الزنادقة وصنف فی ذالك کتابا. وقال الامام الحافظ ابوبکر احمد بن الحسین البیهقی هذه القصة غیر ثابتة من جهة النقل (بحر ج ۶ ص ۳۸۳) امام بیهقی فرمائی دَ دے سلسلے یو روایت هم صحیح نه دے. ولیس منها شیئ یصح (قرطبی ج ۱۲ ص ۸۰) علامه خازن لیکی انه لم یروها احد من اهل الصحة ولا اسندها ثقة بسند صحیح او سلیم متصل (خازن ج ۵ ص ۲۳) دَ امام ابن خزیمه او بیهقی دا مذکوره بالا قول امام رازی هم نقل کړیدے روی عن محمد بن اسحاق

ـه محمد بن اسحٰق نه که چرے امام المغازی مراد وی نو دَ امام ابی حیان مؤلف دَ البحر المحیط نه په دے کښې سهوه شویده، دا قول دَ محمد بن اسحاق امام المغازی نه دے بلکه دا دَ محمد بن اسحاق بن خزیمه صاحب الصحیح قول دے چه دَ ابن خزیمه نوم سره مشهور دے او دَ ډیرے لوئے مرتبے محدّث، ثقه او مستند دے لکه چه دَ امام رازی په عبارت کښې دَ دے صراحت موجود دے.

بن خزیمة انه سئل عن هذه القصة فقال هذا وضع من الزنادقة وصنف فیه کتابا الخ (کبیر ج ۶ ص۲۴۵) امام ابو السعود لیکي وهو المردود عند المحققین (ابو السعود ج ۶ ص۲۵۶) امام رازی رحمة الله علیه د محققینو مفسرینو دا فیصله نقل کړیده چه دا قصه باطل او د ځان نه جوړه شویده. اما اهل التحقیق فقالوا هذه الروایة باطلة موضوعة (کبیر) په شرط د صحت قصې، مفسرینو لیکلي دي چه کله نبي علیه السلام ومناة الثالثة الأخری ته اورسیدو نو فوراً شیطان خپلې ژبې سره د نبي علیه السلام په لهجه کښ مذکوره بالا الفاظ اداکړل چه سامعین په دهوکه کښ پریوتل چه دا الفاظ نبي علیه السلام وئیلي دي. وانما الامر ان الشیطان نطق بلفظ اسمعه الکفار عند قول النبي صلی الله علیه وسلم افرأیتم اللات والعزی ومناة الثالثة الاخری وقرب صوته من صوت النبي صلی الله علیه وسلم حتی التبس الامر علی المشرکین وقالوا محمد قرأها الخ (قرطبي ج ۱۲ ص۸۱) لیکن حضرت شیخ قدس سره فرمائي چه د آیت مطلب دادے (اِذَا تَمَنّٰیٓ) ای تلا (القی الشیطان) الوساوس والشبهات فی قلوب السامعین (فی امنیته) ای فی اثناء تلاوته. یعني مونږ چه کوم یو پیغمبر هم دنیا ته لیږلے دے هغهٔ چه کله هم د الله ایتونه خلقو ته اوروليدي نو شیطان د هغوئ په زړونوکښ هغه وخت مختلف قسم شبهات اچولي دي، دے د پاره چه هغوئ د پیغمبر د تلاوت نه متأثره نشي او د کلام الله نه بدظن شي او د متلو نه انکار اُوکړي. اذا تمنی باندے دوه خبرے متفرع دي اول اَلْقَی الشَّیْطٰنُ. دویم فَیَنْسَخُ اللّٰهُ الخ یو د شیطان فعل دے او یو د الله او په هر یو یو امر متفرع دے اَلْقَی باندے لِیَجْعَلَ او په فَیَنْسَخُ باندے لِیَعْلَمَ لکه چه تفصیل ئے وړاندے راروان دے. فَیَنْسَخُ الخ د شیطان اچولے شوی شبهات الله تعالیٰ لرے کول خپل آیتونه د هر قسم شکوک او شبهات نه پاکولو سره محکم کوي.

۶۷ لِیَجْعَلَ الخ دا د اَلْقَی سره متعلق دے یعني شیطاني وسوسے منافقانو او مشرکانو د پاره د زیاتے ګمراهئ باعث ګرځي او هغوئ د وسوسو او شبهاتو تابع کیدلو سره په کفر او عناد باندے زیات مضبوط کیږي. لِلَّذِیْنَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ نه منافقان او اَلْقَاسِیَةِ قُلُوْبُهُمْ نه مشرکان مراد دي. وَلِیَعْلَمَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ الخ متعلق دے فَیَنْسَخُ اللّٰهُ سره یعني د اهلِ ایمان په زړونوکښ په الله تعالیٰ د شیطاني وسوسو اثر زائیل کړي د هغوئ زړونه به د یقین نه فائده مند اُوګرځوي چه د هغوئ یقین حاصل شي چه دا قرآن شریف او د توحید مسئله حق ده او د هغوئ په

زړونو کښ زيات اطمينان او د الله طرف ته رجوع پيدا شي . وَاِنَّ اللّٰهَ لَهَادِ الَّذِيْنَ الخ د کومو خلقو په زړونو کښ چه د ثابت او طلب جذبه موجود وي نو هغه د دوئ د شيطاني وسوسو نه متاثر کيږي دا سې خلقو ته الله تعالی په صراط مستقيم (د توحيد لار) باندې ثابت قدمي نصيب کوي . او هغوئ د ګمراهئ نه بچ ساتي . نن هم دا حال دے کله چه يو رباني عالم د قرآن مجيد نه د توحيد مسئله بيانوي او د قرآن کريم ايتونه تلاوت کوي نو شيطان د سامعينو په زړونو کښ قسم قسم وسوسے او شبهات اچوي او الله تعالی د هدايت نو سره د مؤمنانو د شبهاتو تيارے لرے کوي.

وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ مِرْيَةٍ
او هميشه شته انکار کوونکي په شک کوونکي وي

مِّنْهُ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً اَوْ يَاْتِيَهُمْ
په د کښ تر هغې چه راشي په دوئ باندے قيامت په ناخبرئ کښ يا راشي په دوئ باندے

عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيْمٍ ﴿۵۵﴾ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ؕ
افت د داسې ورځې چه په هغې کښ لار نشته د خلاصي . حکومت په دغه ورځ د الله دے شته

يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا
د دوئ فيصله به اوکړي نو چا چه يقين اوکړو او وے کړے

الصّٰلِحٰتِ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۵۶﴾ وَالَّذِيْنَ
نيکئ په باغونو د نعمت کښ به وي او څوک چه

كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ
منکر شول او دروغ ئے اوګڼل ايتونه (خبرے) زمونږ نو هغوئ د پاره دے

ع ۷ ۱۴ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۵۷﴾ وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِيْ سَبِيْلِ
عذاب د ذلت او کومو خلقو چه پريښودلي دي کورونه په لاره

اللّٰهِ ثُمَّ قُتِلُوْٓا اَوْ مَاتُوْا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللّٰهُ رِزْقًا
د الله کښ بيا مړه شول خامخا به هغوئ ته ورکړي الله تعالی روزي

حَسَنًا ۚ وَإِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿٥٨﴾

خاصه ښه او الله تعالیٰ د ټولو نه بهتر رزق والا دے.

لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ۚ وَإِنَّ اللّٰهَ

خامخا رسولے به شی هغوئ لره یو ځائے ته چه خوښوی به ئے او الله تعالیٰ

لَعَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴿٥٩﴾ ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ

په ټول هر څۀ باندے خبر دے صبر والا. دا مو واورېده ۳ او چا چه بدله واخسته څومره چه

مَا عُوْقِبَ بِهٖ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ لَيَنْصُرَنَّهُ

هغۀ ته تکلیف ورکړے شوے وو بیا زیاتے اُوکړی په هغۀ باندے نو خامخا امداد به کوی د هغۀ

اللّٰهُ ۗ إِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿٦٠﴾ ذٰلِكَ بِأَنَّ

الله بیشکه الله تعالیٰ عفوه کوونکے بښونکے دے ښه. دا ځکه چه ۴

اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِى النَّهَارِ وَيُوْلِجُ

الله ننه باسی شپه په ورځ او ننه باسی

النَّهَارَ فِى الَّيْلِ وَأَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ بَصِيْرٌ ﴿٦١﴾

ورځ په شپه کښې او ځکه الله اورېدی او وینی ښه.

ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّ مَا

دا ځکه چه الله هغه دے صحیح او کوم چه

يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ هُوَ الْبَاطِلُ وَأَنَّ

رابلی سیوا د هغۀ نه هغه دی غلط او

اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿٦٢﴾

الله هغه دے د ټولو د پاسه لوئے.

نکات: ۱ بشارت اُخروی ۱۲. ۲ تخویف اُخروی ۱۲. ۳ ترغیب الی الهجرت او بشارت اُخروی ۱۲. ۴ د نصرت د وعدے اعاده ۱۲.

ف ۵ د فتح دليل انى ۱۲. ف ۶ د فتح دليل لمى ۱۲.

موضح قرآن ف ۱ يعنى واجبى بدله اخستونكى ته عذاب نۀ وركوى اگرچه بدله نۀ اخستل بهتر وه د بدر په جنګ كښ مسلمانانو د كافرانو ته د ايذاء رسانئ بدله واخستله بيا كافران راغلل د زيانى كولو د پاره په احد كښ او په احزاب كښ بيا الله تعالى پوره مدد اوكړو. ف ۲ يعنى دا شان به په كفر باندے اسلام غالب كوى.

فتح الرحمٰن ف ۱ يعنى په جنت كښ ۱۲

۶۸ه وَلَا يَزَالُ الخ د يوم عقيم نه مراد د قيامت ورځ ده يا د جنګ بدر ورځ ده لكه چه د ابن عباس او قتاده او مجاهد رضى الله عنهم نه نقل شوى دے. (قرطبى) په اول صورت كښ به فقط تخويف اُخروى وى او په دويم صورت كښ به تخويف دُنيوى هم وى. عقيم اى لا مثل له فى عظم امره (مدارک) يعنى عقيم دينه وائى چه د هغے په سختئ كښ مثل نۀ وى. حاصل دا دے چه كوم خلق د وسوسو او شبهاتو تابع ګرځى هغوئ هيڅكله هم هدايت نۀ شى موندلے هغوئ هميشه د قرآن باره كښ په شك او شُبه كښ مبتلاء وى تر دے چه ناڅاپه قيامت راشى. يا هغوئ د بدر يا د قيامت په ډير سخت عذاب كښ مبتلاء شى او د هغوئ يقين اُوشى چه قرآن حق دے او د توحيد مسئله حق ده او محمد صلى الله عليه وسلم د الله تعالىٰ رښتونى رسول دے ليكن دغه وخت به د ايمان او توحيد هيڅ فائده نۀ وى ځكه چه هغه وخت به دوئ د كفر او انكار او د جحود او عناد سزا موندلى وى.

۶۹ه اَلْمُلْكُ الخ په كومه ورځ چه به هغوئ د الله عذاب كښ مبتلاء وى په دغه ورځ به ټول اختيار او تصرّف د الله تعالىٰ وى او د دُنيا په شان به مجازًا هم د چا اختيار نۀ وى د دے وجے نه په دغه ورځ به فيصله د الله خپله وى او د حكم الٰهى خلاف به هيڅ يو سفارشى يا مددګار نۀ وى. (اَلْمُلْكُ) اى السلطان القاهر والاستيلاء التام والتصرّف على الاطلاق (يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ) وحده بلا شريك اصلا بحيث لا يكون فيه لاحد تصرف من التصرفات فى امر من الامور لا حقيقة ولا مجازا ولا صورة ولا معنى كما فى الدنيا الخ (ابو السعود ج ۶ ص ۲۵۹).

۷۰ه فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تا عَذَابٌ مُّهِيْنٌ، دا د يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ تفصيل دے د قيامت په ورځ به الله تعالىٰ چه كومه اخرى فيصله كوى چه په هغے كښ به د هيچا اختيار نۀ وى هغه به دا وى چه د ايمان والا به جنت ته او مشركان

تکذیب کوونکی به دوزخ ته داخل کړی. فَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ دا هغه صالح مؤمنانو ته اُخروی خوشخبری ده ډچاپه زړونوکښ چه د دین حق پاره کښ څهٔ شک او شبه نهٔ وه. وَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا الخ دا منکرینو او مکذبینو د پاره تخویف اُخروی دے چه په اٰخرت کښ به هغوی د پاره رسوا کوونکے عذاب وی. یحکم بینهم یعنی یوم القیامة هو للّٰه وحده لا منازع له فیه ولا مدافع.... ثم بین حکمه فقال فالذین اٰمنوا وعملوا الصّٰلحٰت فی جنّٰت النعیم والذین کفروا وکذبوا باٰیٰتنا فاولٰئك لهم عذاب مهین (قرطبی ج ۱۲ ص۵۵) د کافرانو او مشرکانو د پاره دُنیا او اٰخرت کښ عذاب ذلت او رسوایئ باعث دے. لیکن مؤمنانو ته چه په دنیا کښ کوم تکلیفونه رسیږی یا په اٰخرت کښ چه هغوی ته کومه سزا د ګناهونو ملاویږی هغه به د دوی د پاره ذلت او رسوائی نهٔ وی بلکه هغه به د دوی پاکوالی او د درجاتو اوچتولو سبب وی.

لـــه وَالَّذِیْنَ هَاجَرُوْا ـــ تا ـــ هُوَ الْعَلِیُّ الْکَبِیْرُ، دا د ان الله یدافع عن الذین اٰمنوا سره متعلق دے هلته مشرکانو سره د جهاد کولو اجازت ورکړے شو او دلته د الله په لاره کښ د هجرت کولو ترغیب ورکړے شو مشرکان مؤمنان د مسجد حرام ته منع کوی او په خپله د الله په دے کور کښ بشکاره شرک کوی او په مسلمانانو باندے ډیر زیات ظلمونه کوی د دے وجے نه مسلمانانو ته د دے ظالمانو سره د جهاد کولو اجازت ورکړے شو او دے سره د فتح او کامیابئ خوشخبری ورکړے شوه او شهادت باندے رسیدونکو ته خوشخبری واؤرولے شوه. وَالَّذِیْنَ هَاجَرُوْا الخ کوم خلقو چه محض د الله د رضا د پاره هجرت اُوکړو او خپل ځان او مال ئے قربان کړو او وطن ئے پریښودو هغے نه روستوئے جهاد اوکړو او شهیدان شول یا د مرګ په بستره (په خپل کور کښ) مړهٔ شول نو هغوی د پاره په اٰخرت کښ د نیک انجام خوشخبری ده په اٰخرت کښ هغوی د پاره داسے رزق دے چه بلا مشقت به حاصل وی هیڅکله به نهٔ ختمیږی او د هغوی د ارزو او خواهش مطابق به وی. رزقا حسنا ای لا ینقطع ابدًا وهو رزق الجنة لان فیها ما تشتهی الانفس وتلذ الاعین (خازن ج ۵ ص۲۵) لـــه لَیُدْخِلَنَّهُمْ الخ او هغوی به داسے جنتونو کښ داخلوی چه دوی به هغه خوښوی او چرته چه به هغوی ته هیڅ قسم تکلیف نهٔ وی او نهٔ به د څهٔ څیز کمے وی ځکه چه الله تعالیٰ د هغوی په نیتونو پوهه دے د دے وجے نه هغوی د نیک نیتونو مطابق به هغوی ته عزت ورکولے شی او د هغوی اکرام به کیږی او د هغوی د کوتاهیانو او خطاګانو به درګذر

او عفوه کولے شي. ۳۳ ۴ وَمَنْ عَاقَبَ الخ ولینصرن الله من ینصره کښ ئے مسلمانانو ته دَ فتحے خوشخبري ورکړه اُوس دلته دَ فتحے او نصرت وعده دوباره ذکر کړے شوه دِے دَ پاره چه دَ دے دَ دوو دلیلونو یو اِنّي او بل لِمّي ذکر اُو کړے شي. ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ کښ ثُمَّ دَ تعقیب ذکري دَ پاره دے یعني کوم خلقو چه دَ ظالمانو ته په خپل ځان دَ شوو ظلمونو بدله واخسته او په بدله اخستلو کښ ئے دَ حد نه تجاوز اُونهٔ کړو او بیا دَ ظالمانو دَ لاسه هغوئ دَ سخت ظلمونو او تکلیفونو نشانه ګرځیدلے وي دَ ظالمانو په مقابله کښ به الله دَ داسے خلقو مدد ضرور کوي او هغوئ ته به فتح او کامیابي ور کوي.

۴۷ ۴ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ یُوْلِجُ الخ دا دَ فتح او نصرت دلیل اِنّي دے دَ فتحے او نصرت دوباره ذکر کړے شویدے دِے دَ پاره چه دَ هغې دوه دلیلونه ذکر کړے شي. دَ قلتِ عدد (کم شمیر) باوجود الله تعالیٰ دَ مشرکانو دیر زیات شمیر والا لښکر او مسلح فوجونو باندے فتح ور کولے شي ځکه چه دا دَ شپے او ورځے نظام دَ هغهٔ په قبضه کښ دے چه دَ شپے نه روستو ورځ او ورځ نه روستو شپه راوستلے شي هغه یو بلے ته په بله بله غلبه هم ورکولے شي اي ذٰلك النصر کائن بسبب اَنَّ الله تعالیٰ شانه قادر علی تغلیب بعض مخلوقاته علی بعض والمداولة بین الاشیاء المتضادة ومن شانه ذٰلك (روح ج ۱۷ صفا ۱۹).

۴۸ ۴ وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌ بَصِیْرٌ، او الله تعالیٰ تهول هرڅهٔ لیدونکے او آوریدونکے هم دے. دا دَ ماقبل تتمه ده ځکه چه څوک ناصر (امداد کوونکي) دَ پاره ضروري ده چه هغه دَ مظلوم په امداد کولو باندے قادر وي دا شان هغهٔ دَ پاره ضروري ده چه دَ مظلوم دَ حال نه خبر هم وي. ومن تتمة الحکم لابد منه اذ لابد للناصر من القدرة علی نصر المظلوم ومن العلم بانه کذالك (روح). ۴۹ ۴ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الخ دا دَ فتح او نصرت لِمّي دلیل دے یعني دَ فتح او نصرت اصل علّت او وجه څهٔ ده یعني الله تعالیٰ معبود برحق دے او دَ هغهٔ نه سیوا چه مشرکان کوم معبودان رابلي هغه باطل او بے حقیقت دي دَ دے وجے نه به الله تعالیٰ هغه خلقو ته ضرور فتح او نصرت کوي څوک چه خالصةً دَ هغهٔ عبادت کوي او صرف هغهٔ ته اواز کوي او دَ باطلو معبودانو عبادت کوونکي به مغلوب او مقهور کړځي دا دَ ماقبل دَ پاره دلیل دے. مطلب دا دے چه الله تعالیٰ دَ کمال قدرت او دَ علم په شمول او عموم ځکه متصف دے چه صرف هغه معبود برحق دے چه دَ هغهٔ اُلوهیت په غالب دلیلونو او براهینو واضحه سره

ثابت شوي دي. لهذا اخوک چه د الوهیت مستحق وي هغه به په هر څه قادر او په هر څه عالم وي. الثابت الهیته فلا یصلح لها الامن کان عالما قادرا (ابوالسعود ج ۶ ص ۲۶۳) اَلْعَلِیُّ په قدرت کښ په هر څه باندې غالب د مثال او نظیر او شریک، سهیم (حصه دار) نه پاک او منزه دے اَلْکَبِیْرُ په ذات کښ کامل واجب الوجود ازلی او ابدی. ای العالی علی کل شيء بقدرته والعالی عن الاشباه والانداد ----- الکبریاء عبارة عن کمال الذات. ای له الوجود المطلق ابدا وازلا فهو الاول القدیم والاخر الباقی بعد فناء خلقه (قرطبی ج ۱۲ ص ۹۱).

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

تا اونه لیدل چه الله تعالیٰ نازل کړے د اسمان نه اوبه

فَتُصْبِحُ الْاَرْضُ مُخْضَرَّةً اِنَّ اللّٰهَ لَطِیْفٌ

بیا ګرځی زمکه شنه بیشکه الله پیژنی پټ تدبیرونه

خَبِیْرٌ ﴿۶۳﴾ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ

خبردار دے. خاص هغهٔ دپاره دی کوم څه چه په اسمانونو کښ دی او په زمکه کښ دی

وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْغَنِیُّ الْحَمِیْدُ ﴿۶۴﴾ اَلَمْ تَرَ

او الله تعالیٰ هغه دے بے پرواه صفتونو والا. تا اونه لیدل

اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَکُمْ مَّا فِی الْاَرْضِ

چه الله پاک تابع کړی دی ستاسو لکه څهٔ چه په زمکه کښ دی

وَالْفُلْکَ تَجْرِیْ فِی الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ

او کشتۍ چه چلیږی په دریاب کښ په حکم د هغهٔ

وَیُمْسِکُ السَّمَآءَ اَنْ تَقَعَ عَلَی الْاَرْضِ

او ساتی اسمان د دیته چه راپریوځی په زمکه باندے

اِلَّا بِاِذْنِهٖ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ

لیکن په حکم د هغهٔ سره بیشکه الله تعالیٰ په خلقو باندے نرمی کوونکے

رَّحِيْمٌ ﴿٦٥﴾ وَهُوَ الَّذِىْٓ اَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ
مهربان دے. او هم دے (الله) ژوندی کړی یئ تاسو نه بیا مړهٔ کړی تاسو

ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ۭ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ ﴿٦٦﴾ لِكُلِّ
بیا ژوندی کړی تاسو بیشکه انسان نا شکره دے ف. هر لره

اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا هُمْ نَاسِكُوْهُ فَلَا
امت د پاره مونږ مقرر کړه یوه لار د بندګئ چه هغوئ عمل کوونکی دی د هغې نو پکار نه ده

يُنَازِعُنَّكَ فِي الْاَمْرِ وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ ۭ
چه جهګړه اوکړی تا سره په دے کار کښ او رابله (خلق) د خپل رب طرف ته

اِنَّكَ لَعَلٰى هُدًى مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٦٧﴾
بیشکه ته په سمه لار ئے د عقل والا وے.

نکات: ۔ سلا د اولنئ حصے د مضمون اعاده او د شرک اعتقادی په نفی بان دے اول دلیل عقلی ۱۲. سلا نفی د شرک اعتقادی (شرک فی التصرف) بان دے دویم دلیل عقلی ۱۲. سلا دویم مضمون یعنی د شرک فعلی اعاده ۱۲

موضح قرآن ف یعنی د هغهٔ حق نهٔ منی. ف یعنی اصلی دین همیشه یو دے او احکام په هر دین کښ جُدا جُدا راغلی دی د هر حکم واسطه ولے تپوس کوئ

تفسیر: ۵۶ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللهَ اَنْزَلَ ـــ تا ـــ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ - دا مضمون د اولے حصے (نفی د شرک اعتقادی) اعاده ده او دے بان دے دوه عقلی دلیلونه ذکر کړے شوی دی. اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللهَ اَنْزَلَ الخ، دا اول دلیل عقلی دے تاسو ټول په خپلو سترګو اوینئ چه د اسمان نه باران الله تعالیٰ ورَوی چه په هغے سره اوچه شاړه زمکه کښ شنه تر و تازه فصلونه چپے وهل شروع کړی. لَطِيْفٌ، هغه داسے باریک بین دے چه باریک او وړے وړے دانے را اوتوکوی د زمکے نه ئے راوباسی. خَبِيْرٌ او د ټولو روح لرونکو جیوانا تو حاجتونو او ضرورتونو نه خبردار دے. او هر یو ته د هغهٔ د ضرورت او حاجت موافق د زمکے نه روزی ورسوی.

۵۷ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ الخ د خبر تقدیم د حصر فائده کولو د پاره دے د زمکے او اسمان نه صرف هغه هر یو ته رزق ورکوی او د ټول کائنات

اختیار او ملک د هغهٔ په قبضه او تصرف کښ دے. اَلْغَنِیُّ، هغه چا ته محتاج نهٔ دے لیکن ټول کائنات هغهٔ ته محتاج دے. اَلْحَمِیْدُ، هغه د ټولو کمالاتو مالک دے ضمیر فصل او خبر معرفه کیدل مفید د حصر دے یعنی الله تعالیٰ مستغنی دے او هغه د ټولو صفاتِ اُلوهیت مالک دے. د هغهٔ نه سیوا نهٔ څوک غنی شته او نهٔ د صفاتو د کار سازئ څوک مالک چه دا اُوچت ، برتر، قادر او علیم ذاتِ صفات سره متصف دے د صرف هغه کار ساز او حاجت روا دے. لهذا د هغهٔ نه سیوا په حاجاتو او مشکلاتو کښ ما فوق الاسباب مهٔ رابلئ.

۷۹ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ الخ دا د شرک فی التصرف په نفی باندے دویم دلیل دے الله د زمکے ټول قوتونه د زمکے نه ټول پیدا کیدونکی څیزونه او په زمکه کښ اُوسیدونکے مخلوق خپل حکم سره د انسان په خدمت کښ لګولے دے هر څیز په څهٔ ناڅهٔ شکل کښ د انسان کار کوی. کشتو او بحری جهازونو ته اُوګورئ چه الله تعالیٰ دریابونو او سمندرونو کښ د اُوبو غضبناکو چپو او د لویو لویو موجونو نه څنګه کمالِ قدرت سره بچ کوی او صحیح او سالم ئے غاړے ته رسوی اسمان هغهٔ خپل حکم سره د ستنونو نه بغیر قائم ساتلے دے څهٔ مجال دے چه په زمکه باندے راپریوځی. دا ټول هر څهٔ د الله تعالیٰ شفقت او مهربانی ده هغه الله کوم چه داشان قدرت لرونکے او داشان مهربان دے هغه د خپلو بندګانو حاجت روا او کار ساز دے.

۸۰ وَهُوَ الَّذِیْٓ اَحْیَاکُمْ الخ د مذکوره دلائیلو نه معلومه شوه چه کارساز او حاجت روا صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نهٔ دے هغه قادر علی الاطلاق او په ټول کائنات کښ متصرف علی الاطلاق دے څنګه چه هغه په مړه زمکه کښ باران سره د ژوند آثار راپیدا کوی او د مړے نطفے نه انسانان او نور حیوانات پیدا کولے داشان هغه د قیامت په ورځ د ټولو انسانانو دوباره پیدا کولو باندے هم قادر دے. اِنَّ الْاِنْسَانَ لَکَفُوْرٌ، لیکن دا انسانان څومره احسان فراموش او ناشکره واقع شویدی چه د الله تعالیٰ ټول احسانات او انعامات ئے هیر کړل د هغهٔ ناشکرئ کولو سره ئے د الله تعالیٰ سره د هغهٔ عاجز مخلوق شریک جوړه وی او د اخرت نه انکار کوی. (اِنَّ الْاِنْسَانَ لَکَفُوْرٌ) ای الجحود لما ظهر من الآیات الدالة علی قدرته و وحدانیته (قرطبی ج ۱۲ ص ۹۳).

۸۱ لِکُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا الخ دا د سورت د دویم مضمون یعنی د شرک فعلی اعاده ده. مَنْسَکًا، د قربانئ کولو ځائے قال قتادة و مجاهد موضع قربان

بذ بحون فیه (خازن و معالم ج ۵ ص ۲۶) الله تعالیٰ ټولو تیر شوو ادیانو سره دلیل نقلی پیش کړو چه محض دَ الله دَ رضا دَ پاره مونږ په هر شریعت کښ دَ قربانئ ورکولو دستور مقرر کړے وو او دا شرک فعلی کوم چه مشرکان هغه کوی په هیڅ یو دین کښ نهٔ دے جائز کړے دَ دے وجے نه په دے معامله کښ تا سو دَ هغوئ دَ جهګړے پرواه مهٔ کوئ او نرمئ او ښکلے طریقے سره دَ توحید دعوت ورکوی ځکه چه تا سو په سمه لاره یئ او دا دَ توحید مسئله هر پیغمبر خپل امت ته واضحه کړیده او بیان کړے ئے ده. (وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ) ای الی توحیده وعبادته حسبما بین فی منسکهم و شریعتهم (ابوالسعود ج ۶ ص ۲۶۵، روح ج ۱۷ ص ۱۹۶) ای الی توحیده و دینه والایمان به (قرطبی ص ۹۴ ج ۱۲)

وَاِنْ جٰدَلُوْكَ فَقُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا
او که چرته جهګړه اُوکړی تا سره نو ته اُوایه الله ته بهتر معلوم دی څهٔ چه
تَعْمَلُوْنَ ﴿٦٨﴾ اَللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ
تاسو کوئ الله به فیصله کوی ستاسو په ورځ
الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿٦٩﴾
دَ قیامت په کومو خیزونو کښ چه ستاسو لارے جُدا جُدا وی ف ۱
اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَآءِ
آیا تا ته معلومه نهٔ ده ف ۳ چه الله تعالیٰ ته معلوم دی څه چه په آسمانونو کښ دی
وَالْاَرْضِ اِنَّ ذٰلِكَ فِيْ كِتٰبٍ اِنَّ ذٰلِكَ
او په زمکه کښ دی دا ټول لیکلے شوی دی په کتاب کښ بیشکه دا
عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿٧٠﴾ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ
په الله آسانه ده ف ۱. او عبادت کوی ف ۸۴ سیوا دَ الله نه
مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّمَا لَيْسَ
دَ هغه خیز چه نهٔ دے نازل کړے دَ هغے سند هغهٔ او چه دَ کوم نشته

لَهُمْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ ﴿٧١﴾

هغوئ ته خبر او نشته دَ بے انصافو هیڅوک مددګار.

وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ تَعْرِفُ

او کله چه واورولے شي هغوئ ته ۸۵ ځمونږ ایتونه صفا تو معلومه وے به ته

فِيْ وُجُوْهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الْمُنْكَرَ ؕ

په مخونو دَ منکرینو کښ بد شکل

يَكَادُوْنَ يَسْطُوْنَ بِالَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ

نزدے وي چه حمله اُوکړي په هغه چا چه لولي

عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ؕ قُلْ اَفَاُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ

هغوئ ته ځمونږ ایتونه ته اُووایه زۀ اُوښایم تاسو ته یو څیز

مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ اَلنَّارُ ؕ وَعَدَهَا اللّٰهُ الَّذِيْنَ

دَ دیته ډیر زیات خراب هغه اُور دے دَ هغې وعده الله تعالیٰ کړے ده

كَفَرُوْا ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿٧٢﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ ع ۹

دَ منکرینو سره او هغه ډیر بد ځائے دے دَ ورتللو. اے خلقو

ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ

یو مثل وئیلے شوے دے ۸۶ نو غوږ کیدئ هغې ته دَ کومو بتانو چه تاسو

تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَنْ يَّخْلُقُوْا

عبادت کوئ سیوا دَ الله نه هرګز به پیدا نۀ کړی

ذُبَابًا وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا لَهٗ ؕ وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ

یو مچ اګرچه ټول جمع شي او که چرے واخلي دَ هغوئ نه

الذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ؕ ضَعُفَ

مچ څۀ نو خلاص به ئے نۀ کړي دَ هغۀ نه کمزورے دے

الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ ﴿۷۳﴾ مَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ

غوښتونکے او کوم چه غواړی. او نهٔ پیژندو قدرت ئے د الله ﷻ څنګه

قَدْرِهٖ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿۷۴﴾

چه قدر دے د هغهٔ بیشکه الله طاقتور دے او غالب دے ۲ؔ.

نکات: ۱ؔ دواړو مضمونونو د پارۀ په منزله د دلیل. ۲ؔ د ذکر شوو دلائیلو ثمره په طور د زجر ۱۲. ۳ؔ شکوه ۱۲. ۴ؔ دا د دواړو مضمونونو سره متعلق دے ۱۲.

موضح قرآن ف۱ یعنی د بندګانو عمل ئے په یو کتاب کښ لیکلے دے. ف۲ غوښتونکے کافر دے او کوم چه غواړی د هغوئ بتان دی چې بُت څخې نهٔ خوهغه بُت شړی او نهٔ د هغه بُت شیطان

فتح الرحمٰن ف۱ دے ایت کښ اشاره ده دے خبرے ته چه اختلاف د شریعتونو په سبب د اختلاف د زمانو سره دے او ټول شرائع حق دی او په خپله زمانه کښ په هغے عمل شوے دے نو جهګړه د هغے په حقیقت کښ نهٔ ده پکار ۱۲.

تفسیر: ۸۲ؔ وَإِن جَادَلُوكَ الخ او که چرے هغوئ خامخا ستا سو سره جهګړه کوی نو ئم د هغوئ نه تاسو اعراض اوکړئ او د هغوئ معامله خدائے ته اوسپارۀ هغه د دوئ د ټولو اعمالو نه خبردار دے او د هغهٔ اعمالو به هغوئ ته پوره پوره سزا ملاویږی. اَللّٰهُ یَحْکُمُ، او د قیامت په ورځ به د دے جهګړے صفا فیصله کولے شی. مؤمنان به جنت ته داخلولے شی او مشرکان جهنم ته دا په نرم او مشفقانه انداز کښ تخویف او تحذیر دے. وهذا وعید وانذار ولکن برفق ولین (بحر ج ۶ ص ۳۶۸)

۸۳ؔ أَلَمْ تَعْلَمْ الخ دا دواړو مضمونونو سره متعلق دے او په هغے باندے دلیل په منزله دے. فِي كِتَابٍ، یعنی په لوح محفوظ او علم الٰهی کښ صرف الله تعالیٰ عالم الغیب دے د هغهٔ نه سیوا بل څوک بشر، څوک فرشته، او څوک پیرے دے صفت سره متصف نهٔ دے د دے وجے نه د هغهٔ نه سیوا متصرف، کارساز او مستحق د نذر ونیاز بل څوک نشته.

۸۴ؔ وَيَعْبُدُونَ الخ دا د زجر په طور د ذکر شوو دلیلونو ثمره ده. مشرکان د الله تعالیٰ نه سیوا د داسے خود ساخته معبودانو عبادت کوی چه د هغوئ د معبودکیدلو هیڅ دلیل الله نهٔ دے نازل کړے او د کوم معبودکیدلو باندے چه هغوئ سره هیڅ دلیل نشته. سُلْطَانًا نه دلیلِ وحی او دلیلِ

سُلْطٰنًا ای حجة وبرهانا سماویا نقلی. او دَ علم نه دلیلِ عقلی مراد دے. ای دلیل عقلی ضروری اوغیره من جهة الوحی والسمع ومالیس لهم به علم (بحر). ۸۵ وَاِذَا تُتْلٰی الخ دا هم شکوه ده مشرکانو ته چه کله څوک ایتونه اَوروی شی په کوم کښې چه دَ خالص توحید ذکر کیږی نو دَ هغوئ په مخونو باندے دَ نفرت او عداوت اثار ظاهریږی او داسے معلومیږی چه هغوئ اُوس په ایتونو لوستونکو باندے حمله کوی. قُلْ اَفَاُنَبِّئُكُمْ تخویف اُخروی دے تاسو دِے مشرکانو ته اُووایئ ایا زهٔ تاسو ته هغه څیز اُونهٔ ښایئم چه ستاسو دَ توحید اَورونکو باندے دَ غیظ او غضب (قهر او غصے) او دَ توحید نه ستاسو دَ نفرت نه څو درجے زیات خراب دے النار ای هو النار (مدارک) هغه اُور دے چه دَ داسے منکرینو دپاره تیار شوے دے.

۸۶ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ الخ دا دَ سورت دَ دواړو مضمونونو سره متعلق دے اول سره بالذات او دویم سره بالتبع یعنی دَ الله نه سیوا چه تاسو کوم خود ساخته معبودان په مصیبتونو کښې رابلئ هغه بالکل عاجز دی ستاسو مدد کول خو پریږده چه خپل مدد هم نهٔ شی کولے او دَ خپلے نفعے او نقصان مالکان هم نهٔ دی. لهٰذا هغوئ دَ نذرونیاز استحقاق هم نهٔ لری داشان دِے سره شرک اعتقادی او شرک فعلی دواړه نفی کړے شول. دَ سورت ابتداء نه تر دے ځایه پورے دَ مسئله توحید اثبات او دَ اعتقادی او عملی شرک په رد باندے دلائیل نقلیه او عقلیه پیش کړے شو. دلته دَ معبودانِ باطله عاجز او بے اختیار کیدل بیانیږی او دَ غیرالله دَ رابللو بے فائدے کیدلو دپاره یو تمثیل سره وضاحت شوی دے یعنی اے مشرکانو دَ الله نه سیوا تاسو چه کوم ځان نه جوړ شوی معبودان په مصیبتونو او حاجتونو کښې رابلئ هغوئ ستاسو حاجتونه نهٔ شی پوره کولے او ستاسو مدد نهٔ شی کولے هغه بالکل عاجز دی حاجت روا او مشکل کشا خو صرف هغه کیدے شی څوک چه دَ ټولو مالک او خالق دے او ستاسو معبودان خو چه ټول راجمع شی هم دَ یو مچ پیدا کولو قدرت نهٔ لری مچ پیدا کول خو پریږده کهٔ چرے دَ دوئ دَ خوراک څښاک دَ څیزونو نه مچ څهٔ لږ شان څیز په خپله ځله کښې واخلی او والوزی نو هغه هم دوئ دَ هغهٔ دَ ځلے نه نهٔ شی خلاصولے کوم معبود چه دومره عاجز او بے وسه وی دَ هغهٔ عبادت کول او هغه په حاجتونو مصیبتونو کښې رابلل او هغه کارساز گڼل او دَ هغوئ دَ رضا طلب کولو دپاره نذرونه او منتے ورکول ډیره زیاته دَ بے عقلئ خبره ده. ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوْبُ. طالب یعنی غیرالله رابلونکے او مطلوب یعنی باطل معبود دواړه کمزوری ثابت شول. طالب داشان چه هغه دَ غیرِ محل نه

حاجت اُغوښتو او مطلوب دا شان چه خپل عبادت کوونکی ته ئے څه شے ورنکړے شو. الطالب عابد غیر الله تعالیٰ والمطلوب الالهة (روح ج ۱۷ ص۲۰۲) دے آیت نه د اولیاء الله په حاجتونو او مشکلاتو کښ رابللو نه ممانعت ثابتیږی د ځنے جاهلانو دا خیال دے چه اولیاء الله حاجتونه پوره کوی د دے وجے نه د هغوئ نذرونه ورکوی هغوئ دوئ په قبرونو کښ متصرف او مختار ګڼړی او د ځنو خیال دے چه هغوئ په مختلفو شکلونو کښ متشکل کیږی د قبرونو نه بهرته راځی او د هغوئ امداد کوی. (ان الذین تدعون من دون الله لن یخلقوا ذبابا) اشارة الی ذم الغالین فی اولیاء الله تعالیٰ حیث یستغیثون بهم فی الشدة غافلین عن الله تعالیٰ وینذرون لهم النذور والعقلاء منهم یقولون انهم وسائلنا الی الله تعالیٰ .... ولا یخفی انهم فی دعواهم اشبه الناس بعبدة الاصنام القائلین انما نعبدهم لیقربونا الی الله زلفی .... ومنهم من یثبت التصرف لهم جمیعا فی قبورهم .... والعلماء منهم یحصرون التصرف فی القبور فی اربعة او خمسة واذا طولبوا بالدلیل قالوا ثبت ذالك بالکشف قاتلهم الله تعالیٰ ما اجهلهم واکثر افترائهم ومنهم من یزعم انهم یخرجون من القبور ویتشکلون باشکال مختلفه .... وکل ذالك باطل لا اصل له فی الکتاب والسنة وکلام سلف الامة وقد افسد هؤلاء علی الناس دینهم الخ (روح ج ۱۷ ص۲۱۲،۲۱۳)

۸۷ مَا قَدَرُوا اللهَ الخ دے ظالمانو د خدائے قدر او نه پیژندو د هغه قادر متصرف حیّ او قیوم نه علاوه داسے عاجز معبودان رابلی څوک چه د دوئ د نفع او نقصان اختیار نه لری نه په هغوئ کښ د حاجت پوره کولو او مصیبتونو لرے کولو طاقت شته بلکه هغه خو د یو مچ نه هم عاجز دی (مَا قَدَرُوا اللهَ حَقَّ قَدْرِهٖ) حیث اشرکوا به شیئا لا یقاوم اضعف مخلوقاته (جامع البیان ص۲۹۰) حال دا دے چه عبادت او رابلل صرف د الله تعالیٰ حق دے د الله تعالیٰ حق د هغه عاجز مخلوق ته ورکول ډیره لویه بے انصافی او ډیره بده قدر شناسی ده اِنَّ اللهَ لَقَوِیٌّ عَزِیْزٌ. الله تعالیٰ چه د طاقت او قدرت مالک دے او په ټولو غالب دے د هغه په مقابله کښ د هغه عاجز مخلوق کارسازګڼړل هرګز د عقل خبره نه ده.

اَللهُ یَصْطَفِیْ مِنَ الْمَلٰٓئِکَةِ رُسُلًا وَّمِنَ

الله تعالیٰ غوره کوی ۸۸ فرشتو کښ پیغام رسونکی او په

النَّاسِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌۢ بَصِیْرٌ ﴿۷۵﴾ یَعْلَمُ

خلقو کښ بیشکه الله اوری دیني دے پوهیږی ۸۹ په

مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۗ وَاِلَى اللّٰهِ

په هغې کوم چه د دوئ په وړاندې دی او کوم چه د دوئ ته روستو دی او الله ته

تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۷۶﴾ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا

واپس رسیږی هر کارونه اے هغو ایمان والو

ارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا وَاعْبُدُوْا رَبَّكُمْ

رکوع کوئ او سجده کوئ او بندګی کوئ د رب خپل

وَافْعَلُوا الْخَیْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۷۷﴾ السجدة

او کوئ نیکئ دے د پاره چه ستاسو فائده وی

سجدة عند الشافعي

وَجَاهِدُوْا فِی اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ ۗ هُوَ اجْتَبٰىكُمْ

او محنت اوکړئ ۹۰ په لاره د الله کښ څنګه چه پکار دے هغې د پاره محنت هغه تاسو غوره کړئ

وَمَا جَعَلَ عَلَیْكُمْ فِی الدِّیْنِ مِنْ حَرَجٍ ۗ

او نه دے ګرځولے په تاسو باندې په دین کښ څه مشکل

مِلَّةَ اَبِیْكُمْ اِبْرٰهِیْمَ ۗ هُوَ سَمّٰىكُمُ

دین د پلار ستاسو ۹۲ ابراهیم هغه نوم کیښودو ستاسو

الْمُسْلِمِیْنَ ۙ مِنْ قَبْلُ وَفِیْ هٰذَا لِیَكُوْنَ

مسلمان د اول نه هم او په دے قرآن کښ دے د پاره چه ۹۳

الرَّسُوْلُ شَهِیْدًا عَلَیْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ

رسول وی ښودونکے په تاسو او تاسو شئ ښودونکی

عَلَى النَّاسِ ۖ فَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ

په خلقو باندې نو قائم کړئ مونځ ۹۴ او ورکړئ زکوٰة

وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ۭ هُوَ مَوْلٰىكُمْ ۚ فَنِعْمَ

او مضبوط اونیسئ الله تعالیٰ هغه مالک دے ستاسو فلہ نو ښه

ع ۱۰ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿۷۸﴾ ۱۷

مالک دے او ښه مددګار دے ف۳

نکات: ۱۔ دا د یو شبهے جواب دے ۱۲۔ ۲۔ د سورت د مضامینو بالاجمال اعاده ۱۲۔ ۳۔ اعاده د حکمِ جهاد ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ یعنی په ټولو خلقو کښ بهتر هغه خلق دی کوم چه پیغام رسوونکی دی په فرشتو کښ هم هغه فرشتے اعلیٰ دی۔ د هغوئ هدایات پرین دئ او بُتان منئ دا څومره باطل کار دے۔ ف۲ یعنی هغوئ هم اختیار ته لری اختیار هر څیز کښ د الله دے۔ ف۳ هغه ستاسو نوم کیښودو مسلمان یعنی الله یا ابراهیم اول په دُعاکښ اُوئیل چه اُمت مسلمان پیدا کړه او شائد چه په دے قرآن کښ د هغه په سوال او غوښتنه دا نوم کیښودے شوے وی او دے د پاره چه رسول ښوونکی وی یعنی تاسو ئے غوره کړی دے د پاره چه تاسو نور و اُمتونو ته ښودنه اُوکړئ او رسول تاسو ته او دا اُمت د ټولو ته روستو راغلے د ټولو غلطی دوئ ته معلومه شوه ټولو ته صحیح لاره ښائی۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی په تیر شوو کتابونو کښ ۱۲۔

تفسیر: ۸۸ اَللّٰهُ یَصْطَفِیْ الخ دا د یوے شبهے جواب دے چه فرشتے او انبیاء علیهم السلام د الله تعالیٰ غوره کړے شوی او خوښ بندګان دی د دے وجے نه الله تعالیٰ هغوئ ته اختیارات ورکړل خپل نائبان ئے جوړ کړل او هغوئ د الله په اذن د مخلوق کارونه سازوی وے فرمائیل داخبره په خپل ځائے صحیح ده چه فرشتے او انبیاء علیهم السلام د الله تعالیٰ غوره کړے شوی بندګان دی لیکن هغوئ نائب او د عالم په کارخانه کښ کارساز، مختار او متصرف نهٔ دی دا صفت الله تعالیٰ پورے خاص دے صرف الله تعالیٰ سَمِیعٌ لِکُلِّ شَیْءٍ (هره خبره اوریدونکے) او بَصِیْرٌ لِکُلِّ شَیْءٍ (هر څهٔ لیدونکے) دے۔ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ۔ او کارساز هم هغه دے بل څوک نشته یا دا تمثیل د مِنْ کوم سره متعلق دے د معبود من دون الله عاجزی او بے وسی ئے یو مثال سره واضحه کړه وے فرمائیل فرشتے او انبیاء بیشکه ځما غوره کړے شوی او محبوب بندګان دی لیکن

د معبود جوړېدلو لائق نه دی ځکه چه هغوئ د معبودیت د خواصو او صفاتو نه خالی دی. ۸۹ یَعۡلَمُ مَا بَیۡنَ الخ عالم الغیب صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نه دے وَاِلَی اللّٰهِ تُرۡجَعُ الۡاُمُوۡرُ او متصرف او مختار هم صرف هغهٔ دے. لِهٰذا الرے او نزدے نه په حاجتونو کښې ابلل او نذرونه او منښتے ورکول صرف د دهٔ د پاره جائز دی د دهٔ نه سیوا بل چا د پاره جائز نهٔ دی. ۹۰ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا الخ د سورت د مضامینو اجمالًا اعاده ده. اِرۡکَعُوۡا وَاسۡجُدُوۡا وَاعۡبُدُوۡا الخ صرف الله متصرف او کارساز او گڼئ صرف هغهٔ ته اواز کوئ نذرونه او منښتے هم د هغهٔ په نوم کوئ او هیڅوک د هغهٔ سره په عبادت کښې مهٔ شریکوئ. اعبدوه ولا تعبدوا غیره (کبیر ج ۶ ص ۲۲۳) اِفۡعَلُوا الۡخَیۡرَ الخ او د الله تعالیٰ باقی احکام ټول په ځائے راوړئ ځکه چه د الله په توحید او د هغهٔ د احکامو په تابعدارئ پورے نجات اُخروی او همیشه کامیابی موقوف ده. ۹۱ وَجَاهِدُوۡا الخ د جهاد حکم طرف ته اشاره. د مکے مشرکان تاسو د مسجد حرام نه منع کوی او ټوله په هغے کښې شرک کوی د دے وجے نه تاسو د هغوئ سره جهاد کوئ د دے د پاره چه د الله د توحید بول بالا شي او هر طرف ته صرف د حق معبود د عبادت چرچه او آوازوی او د دُنیا نه شرک ورک شي او ختم شي. هُوَ اجۡتَبٰىكُمۡ الخ الله تعالیٰ تاسو د خپل دین د تائید او نصرت د پاره منتخب کړی یئ او په دین سختی او تنګی نشته بلکه په احکامو کښې د احوالو مناسب د رخصتونو ګنجائش هم ایښے دے (مِنۡ حَرَجٍ) ضیق بل رخص لکم فی جمیع ما کلفکم من الطهارة والصلوٰة والصوم والحج بالتیمم وبالایماء وبالقصر والافطار لعذر السفر والمرض وعدم الزاد والراحلة (مدارک ج ۳ ص ۸۶) ۹۲ مِلَّةَ اَبِیۡكُمۡ الخ دا په دواړو مضمونونو پورے دلیل نقلی دے. مِلَّةَ د پاره ناصب مقدر دے قال الزجاج المعنی اتبعوا ملة ابیکم (قرطبی ج ۱۲ ص ۱۰۱) د خپل پلار ابراهیم علیه السلام د ملت اتباع اُوکړئ د ملت ابراهیمی بنیاد په توحید او د الله په کامل انقیاد باندے دے ځکه چه هغهٔ ستاسو د خلقو څوک چه د هغهٔ د ملت تابع وی د اول نه مسلمین نوم کیښودو. یا د سَمّٰکُمۡ ضمیر د ذاتِ باری تعالیٰ نه کنایه دے یعنی الله تعالیٰ په تیرشوو مخکنو کتابونو کښې او دے قرآن کښې د ملت ابراهیمی د پیروکار نوم مُسۡلِمِیۡنَ کیښودو اکثرو مفسرینو دیته ترجیح ورکړے ده (خازن و معالم). ۹۳ لِیَکُوۡنَ الرَّسُوۡلُ الخ د شهید معنیٰ ده بنودونکے د حق شهداء د دهٔ جمع ده محمد پیغمبر صلی الله علیه وسلم به په تاسو باندے حق یعنی د توحید مسئله بیان کړی او تاسو به راتلونکو نسلونو ته حق

واوړوئ. یا دَ شهید معنیٰ ګواه ده یعنی نبی علیه السلام به په خپل اُمت
باندے ګواهی کوی چه هغوئ دوئ ته اُو رسولو او اُمت محمدیه به په
تیر شوو اُمتونو باندے ګواهی ورکړی چه دِ دے انبیاء علیهم السلام هغوئ
ته دَ توحید پیغام رسولے وو او په هغوئ باندے ئے دَ الله حجت قائم کړو
(شَهِیْدًا عَلَیْکُمْ) ای یوم القیٰمة ان قد بلغکم وتکونوا شهداء علی الناس)
ای تشهدون یوم القیامة علی الامم ان رسلهم قد بلغتهم (خازن ص۳۵ ج۵)
دَ لفظ شهید پوره تحقیق دَ سورۀ بقرے په تفسیر کښ تیر شوے دے
ملاحظه کړئ ص۲۳ تفسیر ۲۷۳ ه.

۹۴ه فَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ الخ الله تعالیٰ تاسو ته یو امتیازی شان درکړے دے
دَ دے وجے نه تاسو دَ هغهٔ شکر ادا کړئ په دے طریقه چه دَ هغهٔ پوره
پوره اطاعت اُوکړئ دَ هغهٔ ټول احکام په ځائے راوړئ. مونځ قائم کړئ
زکوٰة ورکړئ او هر معامله کښ په هغهٔ بهروسه اُوکړئ دَ هغهٔ اطاعت خو
په پوره ډول اُوکړئ لیکن بهروسه په عبادت او طاعت مهٔ کوئ بلکه دَ
هغهٔ په رحمت اُوکړئ. وانما خصکم بهذه الکرامة والاثرة (فَاَقِیْمُوا
الصلوٰة)..... وثقوا بالله وتوکلوا علیه لا بالصلوٰة والزکوٰة (مدارک
ج۳ ص۸۵) واذ قد خصوا بهذه الکرامة والاثرة فاعبدوه وثقوا به ولا
تطلبوا النصرة والولایة الامنه فهو خیر مولیٰ وناصر (بحر ج۶ ص۳۹۲).

۹۵ه هُوَ مَوْلٰکُمْ الخ الله تعالیٰ ستاسو حامی او ناصر، مالک او مُتولی دے
هغه څنګه ښهٔ مالک دے چه دَ نافرمانئ باوجود روزی نهٔ بندوی او څهٔ
ښهٔ مددګار چه کهٔ چرے دَ هغهٔ امداد شامل حال وی نو انسان په هیڅ
یو میدان کښ نهٔ شی ناکام کیدے.

دَ سورة حج خصوصیات او هغه کښې دَ توحید ایتونه

۱: یایها الناس ان کنتم فی ریب — تا — وانه علی کل شیٔ قدیر (ع ۱)
دلیل عقلی دپاره دثبوت د قیامت او نفی د شرک فی التصرف
۲: یدعوا من دون الله — تا — لبئس المولی ولبئس العشیر (ع ۲) نفی د شرک فی التصرف
۳: الم تران الله یسجد له — تا — ان الله یفعل مایشاء (ع ۵) نفی د شرک فی التصرف
۴: واذ بوأنا لابراهیم — تا — فالٰهکم اله واحد فله اسلموا (ع ۵) نفی د شرک فعلی
۵: ذالك بان الله هو الحق — تا — وان الله لهو الغنی الحمید (ع ۸)
نفی د شرک فی التصرف
۶: الم تران الله انزل — تا — وان الله لهو الغنی الحمید (ع ۸) نفی د شرک فی التصرف
۷: الم تران الله سخر لکم — تا — ان الانسان لکفور (ع ۹) نفی د شرک فی التصرف
۸: الم تعلم ان الله یعلم — تا — ان ذالك علی الله یسیر (ع ۹)
نفی د شرک فی التصرف بالذات او نفی د شرک فعلی بالتبع
۹: ان الذین تدعون من دون الله — تا — ان الله لقوی عزیز (ع ۱۰)
تمثیل دپاره د نفی تصرف او اختیار دَ باطلو معبودانو
۱۰: په دے صورت کښې دلائلو سره ثابته کړے شوے ده. چه د الله نه سوا څوک کارساز او مستحق دنذر او نیاز نشته او مشرکانو سره هیڅ یو عقلی او نقلی او دَ وحی دلیل نشته.
۱۱: طواف صرف د الله دکور جائز دے. او اعتکاف، رکوع او سجده هم خاص دالله تعالیٰ حق دے.
۱۲: د توحید دتبلیغ په وخت کښې شیطان دخلقو په زړونو کښې شبهات اچوی او دتوحید نه ئے بدګمانه کوی.
۱۳: اعلان د فتح او دَ فتح اسباب.
۱۴: مخکښې په ټولو دینونو کښې صرف دالله نذر او نیاز ورکول جائز وو. او د غیرالله نذر او نیاز په هیڅ دین کښې جائز نه وو.
۱۵: باطله معبودان دومره عاجز دی چه یو مچ هم نه شی جوړولے. بلکه دَ مچ نه هم عاجز دی.

نن په ورځ د چار شنبے په تاریخ د ۷ شعبان المعظم ۱۳۸۶ھ په مطابق د ۲۱ نومبر ۱۹۶۶ء په وخت ۴½ بجے روستو د ماز یګر د ماښځه نه د سورة حج تفسیر ختم شو.
فالحمد لله اولاً وآخراً والصلوٰة والسلام علی رسوله دائماً ابداً سجاد بخاری

سورهٔ مؤمنون

ربط:- د سورهٔ مؤمنون د سورهٔ حج سره اسمي ربط دا دے چه په سورهٔ حج کښے ویلے شوي وو. وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا الخ (۲۶) یعنی مونږ ابراهیم علیه السلام ته حکم ورکړو چه خلقو ته د حج اعلان اوکړی. دے د پاره چه هغوی د هر طرفه پیاده او سواره د بیت الله طرفته راشي. او د سورهٔ مؤمنون په شروع کښے اوفرمائیل قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ کوم مؤمنان چه د حج د پاره راځي د هغوی صفتونه بیان کړے شول.

معنوي ربطونه دوه دي: اول د سورهٔ حج په شروع کښے تخویف اخروی وو. يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ ه او په سورهٔ مؤمنون کښے یے اوفرمائیل، د دغه هولناك عذاب نه د بچکید و د پاره لاندینی درے اُمور د بانده عمل اوکړئ، مونځ قائم کړئ، شرك مه کوئ او ظلم مه کوئ. دا درے امور الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ ... نه تر .... وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ه کښے بیان کړے شوي دي.

دویم ربط:- دا دے چه سورهٔ حج کښے د غیر الله د پاره د ځاروحرامولو او د غیرالله په نوم د نذر او منتونو ورکولو نه یے منع اوکړه. او س په سورهٔ مؤمنون کښے یے د دے نه ترقی اوکړه وے فرمائیل چه یکار خود اوه چه هغوی د غیر الله تحریمات او نذر ونیاز نه منع شوے وے، لیکن د دے په ځائ هغوی د شرك نوی نوی رسمونه اولارے پرانزی. وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ (۶۳)

خلاصه دا سورت د دلائلو په اعتبار سره په دوه حصو کښے تقسیم دے اوله حصه سورة د شروع نه واخله تر إِذَا هُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ (۷۷) ده. او دویمه حصه وَهُوَ الَّذِي أَنشَأَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ (۷۸) نه واخله د سورة تر اخره پورے ده.

اوله حصه د اولے حصے په شروع کښے د اخرت د عذاب نه د بچکید و د پاره د درے اُمورو بیان دے. اول امر مونځ قائم کړئ او د الله نه او ویریږئ او خشوع خضوع سره مونځ ادا کړئ. الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ ه دویم امر د شرك اعتقادی او شرك فعلی نه بچ شئ. والذين هم عن اللغو معرضون، والذين هم للزكوة فعلون ه دریم امر د هر قسم ظلم نه منع شئ. والذين هم لفروجهم حفظون .... نه تر .... والذين هم لامنتهم وعهدهم راعون ه دینی په توحید درے عقلی دلیلونه ذکر دي.

عقلی دلیلونه ړومبے عقلی دلیل: ولقد خلقنا الانسان من سللة من طين، ... نه تر... فتبرك الله احسن الخلقين ه د ټولو انسانانو پلار ادم علیه السلام الله پاك په خپل کامل قدرت سره د خاورے نه پیدا کړو. او بیا یے د نطفے نه د توالد او تناسل سلسله شروع کړه. د مور په رحم کښے یے نطفه د مختلفو مراحلو نه

تیره کړه د هغې نه یې کامل الخلقت بنائسته او ښکلے انسان پیدا کړو۔ هُم هغه د ټولو خالق او برکتونه ورکونکے دے، لهٰذا هُم هغه کارساز او حاجت روا دے۔

دویم عقلی دلیل: ولقد خلقنا فوقکم... نه تر... تنبت بالدهن وصبغ للاٰکلین ۵ دانسانانو نه علاوه آسمانونه او زمکے هُم الله پیدا کړل هغه د آسمان نه باران وروی، د زمکے نه قسما قسم میوے دانے پیدا کوی، هغه د زیتون پشان یکار راتلونکے وُنه پیدا کړه چه کله ټول هرڅه ورکونکے هُم صرف الله تعالیٰ دے۔ نو بیا هغه نه سوا بل هیڅوک مه رابلئ۔ او د هغه د پیدا کړے شوو څیزونو نه د غیرالله نذرا او منتے مه ورکوئ۔

دریم عقلی دلیل:۔ وان لکم فی الانعام لعبرة... نه تر... وعلی الفلك تحملون ' (۲۶) دا ټول چارپایان هُم هغه پیدا کړل۔ د دینه ځینے داسے دی چه د هغے یې غوښے او غوښه یې خوړلے شی۔ ځینے د بار اوړلو او د سورلئ یکار راځی۔ د دینه علاوه کشتئ هُم د بار اوړلو او سورلئ د پاره استعمالوئ چه کوم مالک او قادر او منعم او محسن دا انعامات درکړل، هغه د ټولو کارساز دے۔ او هغه د رابللو او د نذرا او منتے حقدار دے

د دینه روستو شپږ نقلی دلیلونه ذکر شویدی۔

نقلی دلیلونه

رومبے نقلی دلیل:۔ ولقد ارسلنا نوحاً... نه تر... وان کنا لمبتلین (۲۶) دا حضرت نوح علیه السلام سره تفصیلی نقلی دلیل دے چه دے سره د شرك فی التصرف نفی مقصود ده۔ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ۔ لے ځما قومه! صرف د الله عبادت کوئ او صرف هغه رابلئ ځکه چه د هغه نه سوا ستاسو هیڅوك کارساز نشته۔

دویم نقلی دلیل تفصیلی: هود علیه السلام سره د پاره د نفی شرك فی التصرف' فارسلنا فیهم رسولاً (۴۶)... نه تر... ما تسبق من امة اجلها وما یستأخرون (۳۶) هود علیه السلام هُم خپل قوم ته دا دعوت ورکړو چه اعبدوا الله مالکم من اله غیره۔

دریم نقلی دلیل اجمالی:۔ ثم ارسلنا رسلنا تترا... نه تر... فبعداً لقوم لا یؤمنون د هُود علیه السلام نه وآخله تر موسیٰ او هارون علیهما السلام پورے موتر دُنیا ته متواتر پیغمبران رالیږل چه خلقو ته یې د توحید پیغام اَوْرَوُلو۔

څلورم دلیل نقلی تفصیلی موسیٰ او هارون علیهما السلام سره ثُمَّ ارسلنا موسیٰ وهٰرون ... نه تر... لعلهم یهتدون۔ حضرت موسیٰ او هارون علیهما السلام فرعون ته د توحید پیغام راوړو لیکن قوم انکار اوکړو او ځان یې لوئ اُوګنړلو۔

پنځم نقلی دلیل عیسیٰ علیه السلام سره۔ وجعلنا ابن مریم وامه اٰیة ، الآیة حضرت عیسیٰ او مریم علیهما السلام هُم زمونږ د قدرت او وحدانیت نشانے وے۔ هغه د بیُئ رود لو په حالت کښے اعلان کړے وو۔ ان الله ربي وربکم الخ یعنی ځما او ستاسو ټولو مالک او کارساز صرف الله دے لهٰذا هغه ته اواز کوئ هُم دا سمه لاره ده۔

شپږم نقلي دليل اجمالي ټولو نبيانو عليهم السلام سره د پاره د نفي د شركِ فعلي. يٰاَيُّهَا الرسل كلوا من الطيبٰت واعملوا صالحا الخ (۶۴) الله پاك نبيانو او مرسلينو عليهم الصلوٰة والسلام ته حُكم وركړے وُو چه تاسو حلال او پاكيزه څيزونه خورئ او دا استعمالوئ او د نه كوم څيزمه حراموئ او د غير الله نذر و نيازمه خورئ.

وان هذه امتكم امة واحدة الخ:- دا د ټولو ذكر شوو عقلي او نقلي دلائلو سره متعلق دے. كومه مسئله چه پورته ذكر شوو دليلونو سره واضحه كړے شوے ده. هغه د ټولو نبيانو عليهم السلام شريكه مسئله ده. د ټولو كارساز صرف الله تعالىٰ دے او هغه د نذر او منتي حقدار دے. د دينه پس د اولے حصے تر اخره پورے زجرونه دي، او په مينځ كښے درے اُمور كوم چه په سر كښے ذكر شوي دي د هغے اعاده ده. ان الذين هم من خشية ربهم مشفقون كښے د امرِ اول اعاده ده. يعني مؤمنان د الله پاك نه ويرېږي او لړزېږي او سي، والذين هم بربهم لا يشركون سره د دويم امر اعاده شوې ده. يعني هغه شرك نه كوي، او والذين يؤتون ما اٰتوا الخ سره د دريم امر اعاده شوې ده يعني هغوي ظُلم نه كوي.

دويمه حصّه

په دويمه حصّه كښے د شركِ اعتقادي په نفي باندے څلور عقلي دليلونه پيش كړے شوي دي په تفصيلي او دا ټول على سبيل الاعتراف من الخصم

رومبے عقلي دليل:- وهو الذي انشأ لكم السمع والابصار... نه تر... افلا تعقلون ○ (۵۶) الله پاك تاسو ته د اورېدلو، ليدلو او پوهېدلو قوتونه او صلاحيتونه وركړل هغه په زمكه باندے انسانان اباد كړل. ژوند او مرګ هُم د هغه په قبضه كښے دے د شپے او ورځے تلل راتلل او كمے زياتے هُم د هغه په قبضه كښے دے. په دے وجه انسان له د فكر او سوچ نه كار اخستل پكار دي. او د الله پاك د انعاماتو شُكر ادا كول پكار دي هغه خپل معبود او كارساز ګڼړل پكار دي.

دويم عقلي دليل:- قل لمن الارض ومن فيها الخ مشركان اقرار كوي چه زمكه او په زمكه كښے چه څه دي د ټول مخلوق خالق او مالك الله دے.

دريم عقلي دليل:- قل من رب السمٰوٰت السبع الخ مشركان دا هُم مني چه د اووه واړو اسمانونو او عرشِ عظيم مالك هُم الله تعالىٰ دے.

څلورم عقلي دليل:- قل من بيده ملكوت كل شيء الخ مشركان د دے خبرے اقرار هُم كوي چه د ټول جهان مكمل اختيارات صرف د الله په لاس او قبضه قدرت كښے دي هغه چه چاله اُوغواړي پناه وركړي. ليكن چه هغه څوك پناه كول اُونه غواړي نو هيڅوك يے نه شي پناه كولے. دا دريواړه دليلونه على سبيل الاعتراف من الخصم (يعني چه مقابل هُم د دے منونكے اقرار كوونكے دے) دي. د دے وجے نه د هريو دليل نه روستو يے مُشركان خبردار كړل چه كله تاسو پوهېږئ چه د هر څيز حقيقي مالك او د ټول جهان تدبير كوونكے او مختار صرف الله تعالىٰ دے نو بيا د دے نه عبرت ولے نه حاصلوئ او د خدائ نه نه ويرېږئ، او د الله نه سوا غيرو لره كارساز او حاجت روا ولے ګڼړئ؟

دے نه پس زجرونه، تخویفونه او بشارتونه دی- او په مینځ کښے اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ سره د تبلیغ د طریقے ذکر دے. یعنی په نرمه لهجه کښے تبلیغ کوه- او د توحید مسئله دلیلونو سره واضحه پیش کړئ. او په اخر کښے د سُورة خلاصه بیان کړے شویده په طور د ثمرے د دلائلو مذکوره، فتعلی الله الملك الحق الخ الله پاك چه حقیقی بادشاه دے هغه د هر قسمه شرك نه پاك دے، د هغه نه سوا هیڅوك د عبادت او را بللو لائق نشته او نه څوك د نذر او منتونو حقدار شته، ومن یدع مع الله الخ دا تخویف اُخروی دے.

اوله حصه:- د عذاب دفع کول د پاره امور ثلاثه، په توحید باندے درے عقلی او شپږ نقلی دلیلونه ذکر کول.

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّثَمَانَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورة مؤمنون ئے په مکه کښے نازل شو او دے یوسل اتلس (۱۱۸) ایتونه او شپږ رکوع دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم د الله په نوم چه بیحده مهربانه نهایت رحم والا دے

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ① الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ

بیشکه خلاصے بیا مومنان وته ایمان اوړ لکه کوم چه په خپل مانځه کښے

خٰشِعُوْنَ ② وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ③ وَالَّذِيْنَ

خشوع (عاجزي) کونکي دي او کوم چه د عبثو خبرو نه ډډه کوي ئے او کوم چه

هُمْ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ ④ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ⑤

زکوٰة ورکوي ئے او کوم چه د خپل شهوت د ځائې حفاظت کوي ئے

اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ

مګر په خپلو بیبیانو ئے او یا په خپلو وینځو پس په دوی باندے هیڅ

مَلُوْمِيْنَ ⑥ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ

الزام نشته پس څوك چه وغواړي د دے نه سوا پس دغه دی د حد نه

الْعٰدُوْنَ ⑦ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ⑧

وتونکي او څوك چه د خپلو امانتونو او د خپلو اقرارونو خیال ساتي

وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴿٩﴾ أُولَٰئِكَ هُمُ

او هغوی چه د خپلو مونځونو ۹ حفاظت کوی دغه دی د

الْوَارِثُونَ ﴿١٠﴾ الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا

میراث اخستونکی ۱۰ چه میراث به بیامومی باغونه د جنتونو هغوی به په دے

خَالِدُونَ ﴿١١﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ

کښے همیشه وی ۱۱ او مونږ جوړ کړو بنیادم د خلاصه د

مِّن طِينٍ ﴿١٢﴾ ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿١٣﴾ ثُمَّ

اجزاؤ نه ۱۲ بیا مونږ کینسوده هغه لره نطفه په یو ایسار ځای کښے ۱۳ بیا

خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً

جوړه کړه مونږ د دغه نطفے نه د وینے چکه شوے ټکړه بیا مو جوړه کړه د دے وینے چکه شوے نه د غوښے

فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ

ټکړه، بیا جوړے کړل مونږ د دغه غوښے نه هډوکی، بیا واغوستوله مونږ دغه هډوکوته غوښه، بیا

أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ﴿١٤﴾

پورته کړو مونږ دې لره په یوه نوی صورت کښے ۱۴ پس لوئی برکت والا دے الله چه د ټولو نه غوره جوړونکے دے

ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

بیا د دینه پس به یقیناً تاسو مړه شئ ۱۵ بیا به تاسو د قیامت په ورځ تاسو

تُبْعَثُونَ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَائِقَ

پورته کړے شئ ۱۶ او مونږ جوړے کړیدی ستاسو د پاسه اووه لارے

وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غَافِلِينَ ﴿١٧﴾ وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ

او مونږ نه یو ۱۷ د پیدا کولو نه ناخبره او نازل کړے مونږ د آسمان نه

مَاءً بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ ۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍ

اوبه په اندازه سره بیا مونږ دے لره ایسار کړو په زمکه کښے او مونږ دے لره بوتلو

بِهٖ لَقٰدِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ بِهٖ جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّ

نو بو تللے شو بیا زرغون کړل مونږ په دے سره تاسو له باغونه د کهجورو او

اَعْنَابٍ لَكُمْ فِيْهَا فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۱۹﴾

د انګورو، ستاسو دپاره په دیکښے میوے دی ډیرے او ددے نه تاسو خورئ

وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُوْرِ سَيْنَآءَ تَنْۢبُتُ بِالدُّهْنِ

او هغه وُنه چه راخیژی د سیناء غر نه له زرغونوی تیل

وَصِبْغٍ لِّلْاٰكِلِيْنَ ﴿۲۰﴾ وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ

او سالن له دخوړونکو دپاره او ستاسو دپاره په څارویو کښے لهٔ عبرت دے

نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِىْ بُطُوْنِهَا وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ كَثِيْرَةٌ

څښوو مونږ په تاسو ددوی د ګیډے د څیز نه او ستاسو دپاره په دیکښے ډیرے فائدے دی،

وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ﴿۲۲﴾ ع

او ځینے ترے نه تاسو خورئ او په دے او په کشتو باندے سوریږئ

نکات: ـ ۱ دعذاب نه دبچکیدو دپاره د دریو اُمورو ذکر ۱۲ ۲ اول امر یعنی هغوی دخُدائ د ویرے نه په خشوع او خضوع سره مونځونه کوی ۱۲ ۳ دویم امر یعنی هغوی دهر قسمه شرک نه ځان ساتی ۱۲ ۴ دریم امر یعنی هغوی دهر قسم ظلم نه ځان ساتی ۱۲ ۵ داول امر اعاده ۱۲ ۶ بشارتِ اُخروی ۱۲ ۷ په توحید باندے رومبے عقلی دلیل ۱۲ ۸ ددلیل ثمره ۱۲ ۹ په توحید باندے دویم عقلی دلیل ۱۲ ۱۰ په توحید باندے دریم عقلی دلیل ۱۲ ـ

فتح الرحمٰن ف ۱ یعنی روح پوکل او دنوکانو او ویښتو را توکیدل ۱۲

تفسیر: ـ ۱ د قد افلح الخ په مفهوم کښے دوه خبرے داخل دی۔ یو مطلوب او مقصود بیا مومُندل، دویم دکوم څیز نه چه ویره یا خطره وی د هغے نه محفوظ کیدل۔ والفلاح الظفر بالمطلوب والنجاة من المرهوب ای فازوا بما طلبوا و نجو مما هربوا (مدارک ص ۹۵ ج ۳)۔ د سورۂ حج په شروع کښے اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَیْءٌ عَظِیْمٌ سره چه دکوم ویروونکی عذاب وعید واورولے شو ددینه به هغه مومنان محفوظ وی چه خوله په ځان کښے دا لاندینی صفتونه پیدا کړی۔ (۱) دخُدائ نه او ویریږی او مونځ قائم

کړي. (۲) د هر قسم شرك نه ځان بچ کړي. (۳) د خدائ په مخلوق باندے ظلم نه کوي. دا دریواړه اُمور د خدائ د عذاب نه د بچکید و ذریعه ده.

۳ د المؤمنون الخ نه هغه خلق مراد دي چه د الله په توحید او رسالت او نورو د دین په تولو ضروریاتو باندے ایمان راوړي او د الله د احکامو پابند وي، دا شان روستو بیان شوي صفتونه د المؤمنون دپاره صفاتِ موضحه دي. الذین هم في صلاتهم خشعون o دا اول امر دے هغوي مونځونه قائموي. هغوي په مانځه کښے د الله نه ویریږي او عاجزي کوي. او د خدائ د ویرے نه په مانځه باندے همیشوالے کوي ځکه چه دا سے د خشوع والا مونځ سره د باطن صفائي کیږي. او په زړونو کښے الفت او محبت پیدا کیږي. في الحدیث سووا صفوفکم او لیخالفن الله بین قلوبکم. خشوع دا ده چه په مانځه کښے خیالات جمع وي او توجه صرف مانځه ته وي او د مانځه نه علاوه د څه څیز خیال قدرے هُم په زړهٔ کښے رانهٔ شي او نهٔ په لاس نېو سره په مانځه کښے څهٔ عبث کار او کړي وفي المنهاج وشرحه لابن حجر ویسن الخشوع في کل صلاته بقلبه بان لا یحضر فیه غیر ما هو فیه وان تعلق بالاٰخرة وبجوارحه بان لا یعبث باحدها (روح ص۷ ج ۱۸)

۴ والذین هم عن اللغو معرضون الخ دا دویم امر دے یعني هغوي شرك نه کوي. لغو ځنے مفسرینو عام کړیده. او د دے نه هر باطل قول او عمل مراد اخستے دے. په اقوالو کښے د ټولو نه لوئ باطل شرك في التصرف دے او په اعمالو کښے د ټولو نه لوئ باطل عمل شركِ فعلي دے. دا شان دا لفظ شرکِ اعتقادي او شرکِ فعلي ته په طریقهٔ اولي شامل دے. عبد الله ابن عباسؓ او امام ضحاكؒ د لغو نه مراد شرك اخستے دے. او ځینو د دے نه ګانے بجانے مراد اخستے دي. قال ابن عباس عن الشرك (خازن ومعالم ص۴۲ ج ۵) وقال الضحاك ان اللغو هنا الشرك وقال الحسن انه المعاصي کلها فهذا قول جامع یدخل فیه قول من قال هو الشرك وقول من قال هو الغناء (قرطبي ص۱۰۴ ج ۱۲) حاصل دا دے چه هغوي د ټولو ګناهونو نه او خاصکر د هر قسمه شرك نه ځان ساتي.

۵ والذین هم للزکوٰة فاعلون الخ دا هُم دویم امر سره متعلق دے. ځینو مفسرینو زکوٰة دلته په زکوٰةِ مالیه باندے محمول کړیدے. لیکن په دے باندے دا اعتراض دے چه دا سورت مکي دے لیکن زکوٰة په مکه کښے فرض شوے نهٔ وُو. بلکه په مدینه کښے فرض شوے وُو. محققینو د دے جواب دا ورکړیدے چه په مدینه کښے نصاب او د زکوٰة د مقدار فرضیت نازل شوے وُو لیکن اصل زکوٰة په مکه کښے فرض شوے وُو. قال بعض المحققین فرضت بالمدینة نصابها وقدرها واما اصلها فقد کان واجبًا بمکة (جامع البیان ص۲۹۸) یا د زکوٰة نه مراد د نفوس زکوٰة ده. یعني هغوي خپل نفسونه د باطلو عقائدو نه او د مشرکانه عملونو نه پاك ساتي.

او المراد زکوٰة النفس وتطهیرها من الرذائل (جامع) د حضرت شیخ په نزد هم دا راجح دے۔ څنګه چه بل ځائ کښے الله پاک فرمائی : قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ، وَ ذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ۔ (سورة الاعلیٰ)

۶ۓ والذين هم لفروجهم حفظون الخ دا دریم امر دے یعنی هغوی د ظُلم د کارونو نه ځان ساتی۔ دلته یے د ظُلم درے کارونه ذکر کړل، زنا، امانت کښے خیانت او وعده خلافی۔ زنا هُم یو ډیر لوئ جُرم دے، وے فرمائیل چه د فلاح (کامیابئ) مُوندونکو یو صفت دا دے چه هغوی د خپلو شرمګاهونو حفاظت کوی۔ په غیر محل او ناجائز ځائ کښے یے نهٔ استعمالوی۔ حضرت شیخ فرمائی چه زنا څکه ظُلم دے چه د زنا نه کوم بچے پیدا کیږی۔ هغه به یا د تُهمت د ویرے په وجه وژلے شی یا به هغه چرته غورځولے شی او هغه به د مور پلار د شفقت نه محروم کړے شی او در په دَر ذلیله او خوار به وی۔

۷ۓ اِلَّا علٰی ازواجهم الخ :- دا د ماقبل نه مستثنیٰ دے۔ سړی د پاره صرف د دوه قسمه ښځو سره د جنسی اختلاط اجازت ورکړے شوے دے۔ اول هغه ښځه چه د اسلامی شریعت له مخه د هغهٔ ښځه وی۔ دویم هغه ښځه چه په شرعی طور باندے د هغهٔ زر خریده ینځه وی۔ د دے دویم قسم وجود باقی نهٔ دے پاتے۔ فمن ابتغٰی وراء ذٰلك الخ کوم خلق چه د پورته ذکر شوی دواړو ځایونو نه علاوه شهوت پوره کړی۔ هغه ظالم دے او د حد نه تیریدونکے دے۔ او د حلال نه حرام ته ځغستونکی دے۔ ای الظٰلمون المجاوزون الحد من الحلال الی الحرام الخ (خازن و معالم ص۳۲ ج ۵) دا آیت د مُتعے، لواطت، استمناء بالید (موټک وهل) په حرمت باندے دلیل دے۔ څکه چه دا ټول صورتونه په وراء ذٰلك کښے داخل دی۔ وفیه دلیل علٰی تحریم المتعة والاستمناء بالكف لارادة الشهوة (مدارک ص ج ۳) ویدخل فیما وراء ذٰلك الزنا واللواط وموافقة البهائم مما لاخلاف فیه (روح ص ج ۱۸) روافض وائی چه د کومے ښځے سره متعه اوکړے شی هغه هُم چونکه د ښځے په حُکم کښے ده۔ د دے وجے نه هغه په ازواجهم کښے داخل ده۔ او وراء ذٰلك کښے داخل نهٔ ده۔ لهٰذا د آیت نه د نکاح مُتعه حُرمت نهٔ ثابتیږی۔ د دے جواب دا دے چه مُتعے والا ښځه د شریعت له مخه ښځه نهٔ ده څکه چه د هغے احکام د شرعی ښځے نه بالکل مختلف دی۔ د دواړو فرق پیژندلو نه مخکښے د مُتعے حقیقت اُوپیژنئ۔ د مُتعے نکاح صورت دا دے چه یو سړے دیرے ښځے سره د متعین رقم په بدله کښے دیوے معین مُودے پورے نکاح اوکړی او بیا د دواړو احکام اُوګورئ۔ کومه چه شرعی طور باندے د سړی ښځه وی د هغے احکام دا لاندینی دی۔

(۱) که چرے هغه مړه شوه نو خاوند به د هغے وارث وی۔ او که چرے خاوند مړ شو نو هغه به د دهٔ وارثه وی۔ (۲) کوم اولاد چه پیدا شی هغه به د دے خاوند ګڼړلے شی۔ (۳) د خاوند د طلاق ورکولو بغیر به هغه د دهٔ د نکاح نه نشی وتلے۔ (۴) د طلاق نه

نه روستو د عدّت نه مخکښې هغه بل کوم ځائې نکاح نشي کولې. لیکن د ممنوعه چا سره چه متعه کړې شوې ده (۱) د هغې او د مُتعه کوونکي په مینځ کښې وراثت نه جاري کیږي (۲) اولاد به هُم هغې سره نشي ملحق کولې (۳) د طلاق ضرورت نشته مُودې ختمیدو سره به نکاح هُم ختمه شي او (۴) د عدّت ضرورت هُم نشته. د روميې مُتعې ختمیدلو نه روستو دویم ځائې متعه کولې شي. دا شان ممنوعه د شرعي نِجې په حُکم کښې نه داخلیږي او لامحاله په وراء ذلك کښې داخله ده. وهذا یقتضي تحریم الزنی وما قلناه من الاستمناء ونكاح المتعة لان المتمتع بها لا تجري مجرى الزوجات لا ترث ولا تورث، ولا یلحق به ولدها، ولا یخرج من نكاحها بطلاق یستأنف لها وانها یخرج بانقضاء المدة التي عقدت علیها وصارت كالمستأجرة (قرطبي ص۱۰۶ ج۱۲)

۸ والذین هُم لامٰنٰتهم الخ دا د دریم صفت سره متعلق دے یعني هغوی د ظُلم د کارونو نه ځان ساتي. په دے آیت کښې د ظُلم دوه کارونو طرفته اشاره ده. په امانت کښې خیانت او وعده خلافي، دا دواړه تعبرے د نورو په حق کښې ظُلم دے. په دے وجه یې اُوفرمائیل چه کامله فلاح به صرف هغه مؤمنانو ته حاصله وي کوم چه د ظُلم د کارونو نه ځان ساتي.

۹ وَالَّذِینَ هم علٰی صَلَوٰتهم الخ دا دویم امر اعاده ده. او د اعادے فائده دا ده چه اول په الذین هم في صلوٰتهم خٰشعون کښې د مونځ د خشوع او خضوع ذکر وُو. او دلته یې د فرائضو، واجباتو، آدابو، مستحباتو او د وختونو د پابندۍ رعایت کولو سره بغیر د نلغې نه د مونځ قائمولو ذکر اُوکړو. ځکه چه لفظ د محافظت دے ټولو خبرو ته شامل دے. المراد بالمحافظة التعهد لشروطها من وقت وطهارة وغیرهما والقیام علی ارکانها واتمامها حتی یکون ذالك دابه في كل وقت الخ (کبیر ص۳۴۲ ج۶)

۱۰ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ الخ دا د مؤمنانو دپاره بشارتِ اُخروي دے. د اُولٰٓئِكَ نه اَلْمُؤْمِنُوْنَ مراد دي کوم چه په پورته ذِکرشوي درے صفتونو سره متصف وي یعني د الله نه ویریږي. د هر قِسمه شِرك او د هر قسمه ظُلم نه ځان ساتي دا سے مؤمنان به د جنت الفردوس حقدار او وارثان وي. هم فیها خٰلدون. او هغوی به په جنت کښې همیشه همیشه اُوسیږي. نه به جنت فناء کیږي او نه به جنتي فنا کیږي او نه به هغه دے نه و یستلے شي. ومعنی الكلام لا یموتون ولا یخرجون منها (روح ص۱۲ ج۱۸) د عذاب نه د بچکیدو دپاره د درے اُمورو ذکر کولو نه روستو وړاندے په اصل دعوٰي باندے د دلائلو سلسله شروع کیږي.

۱۱ ولقد خلقنا الخ دا په توحید باندے اول عقلي دلیل دے. او د دے نه د شِرك في التصرف نفي مقصود ده. ولقد خلقنا الانسان ... نه تر ... یوم القیٰمة تبعثون کښې د انساني ژوند مختلف څلور دورونه ذکر کړے شوي دي. (۱) د مور په رحم کښې د پاتے کیدو زمانه (۲) د دُنیاوي ژوند دَور (۳) د برزخي ژوند دَور (۴) د اُخروي ژوند دَور.

مقصد دا دے چه د انسانی ژوند دا ټول انقلابات د الله تعالیٰ په اختیار او تصرف کښے دی او هیڅ یو غیر الله ته په دیکښے هیڅ اختیار نشته - لهٰذا هُم هغه د ټولو کارساز دے. الله تعالیٰ د انسان د پیدائش تفصیل سره ذکر اوکړو او انسان یے دے طرفته متوجه کړو چه مونږ ته څنګه پیدا کړے دا شان څوك کولے شی؛ لیکن بیا هُم مُشرکان د الله سره شِرك کوی. حالانکه هغوی ته پته ده چه د الله نه سِوا بل څوك خالق نشته څنګه چه ارشاد دے. ولئن سئلتهم من خلقهم لیقولن الله (زخرف ع ۷) ددے نه معلومه شوه چه په دلیل کښے حصر دے یعنی په داسے عجیبه طریقے سره ما انسان پیدا کړیدے داسے بل څوك نه شی کولے. په "الانسان" کښے لام دعهد دپاره دے او ددینه مراد آدم علیه السلام دے چه د ټول نوع انسانی جدامجد دے هغه الله پاك دخاورے دخلاصے اوست نه پیدا کړو.

۱۲ ثم جعلنٰه الخ دا دانسان دځلورو دَورونو نه دردمبی دَور ذِکر دے. بیا په دے دَور کښے یعنی دمور په رحِم کښے انسان د شپږو حالتونو نه تیریږی. اول حالت هغه دے چه کله نطفه دمور په رحِم کښے قرار نیسی. په دے آیت کښے د دغه اولنی حالت ذِکر دے. ضمیر مفعول الانسان طرفته راجع دے او ددے ثم نه مخکښے مضاف مقدر دے. ای ثم جعلنا نسله ویکون (النطفة) منصوبا بنزع الخافض واختاره بعض المحققین ای ثم خلقنا الانسان من نطفة کائنة فی قرار الخ (روح ص۱۳ ج ۱۸) او قرار مکین یعنی د قرار محفوظ ځائ نه مراد دمور رحم دے (فی قرار) مستقر یعنی الرحم (مدارك ص ج ۳)

۱۳ ثم خلقنا النطفة" دا دمور په رحم کښے دویم حالت دے. "علقة" د نطفے د قرارے نیولو نه څه مُوده روستو مونږ هغه د ځګه وینے په شکل کښے بدل لوو. فخلقنا العلقة" مضغة". دا دریم حالت دے. بیا دغه ځګه وینه د غوښے د ټکړے په حالت کښے بدله کړو. فخلقنا المضغة" عظماً. دا څلورم حالت دے. د عظاماً مضاف الیه مقدر دے. او دا دهغه قائمقام دے. ای ذی عظام یعنی بیا مونږ په دغه غوښه کښے هډوکی پیدا کوُو. فکسونا العظام لحماً. دا پنځم حالت دے. یعنی بیا مونږ په هډوکو باندے غوښه خیژوُ (راپیدا کوُو) ثم انشأنٰه خلقاً آخر. دا شپږم حالت دے یعنی ددے نه روستو مونږ په هغے کښے روح پوُك وهُو او جُدا مخلوق یے اوګرځوُو چه د مخکښنو ټولو حالتونو نه بالکل مختلف وی. رومبے هغه بالکل جماد او بے حِسه او بے حرکته وُو. او دهغه اندامونه هُم ناقص وُو. لیکن اوس مونږ هغه جاندار او سمیع بصیر اوګرځولو. او ټول اندامونه مونږ کامل کړل. ای خلقا مباینا للخلق الاول مباینة ما بعدها حیث جعل حیوانا وکان جمادا وناطقا وکان ابکم وسمیعًا وکان اصم وبصیرا وکان اکمه وودع باطنه وظاهره بل کل عضو من اعضائه وکل جزء من اجزاءه عجائب فطرة وغرائب حکمة لا یحیطها وصف الواصفین ولا شرح الشارحین (کبیر ص ج ۶) فتبارك الله الخ دا د ذِکرشوی دلیل ثمره او نتیجه ده. یعنی کوم الله چه په کمالِ قدرت او حسنِ صنعت

سره دیو حقیر نطفې د مختلفو حالتونو نه تیره کړه. او یوه ښائشته تام الخلقت او کامل الحواس انسان په شکل کښې یې پیدا کوی. چه کله دا ټول هرڅه هغه کوی نو برکتونه ورکونکے او د ټولو کارساز هم هغه دے. او د هغه نه سوا څوک کارساز او برکت، ورکونکے نشته. الخالقین په معنی د موجدین یا مقدرین دے.

۱۴ ثم انکم بعد ذلك الخ: دا د انسانی ژوند دریم دور دے. او تخویف اُخروی دے یعنی عالم برزخ. د دویم دور ذکر یې صراحةً اونکړو. لیکن اشارةً مفهوم کیږی. ثم انکم یوم القیمة تبعثون، دا دڅلورم دور ذکر دے یعنی په دے دُنیا کښې به همیشه نه اُوسیږئ. آخر به یوه ورځ مرئ. او د مرګ نه روستو به تاسو بیا ژوندی کړے شئ. او تاسو به د خُدائ په مخکښې حاضرولے شئ. د دے وجې نه حیاء اوکړئ او د خُدائ قهار د عذاب نه اوویریږئ او د هغه سره هیڅ قسمه شرك مه کوئ.

۱۵ وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ ... نه تر ... وصبغ للاٰکلین: دا په توحید باندے دویم عقلی دلیل دے په رومبی دلیل کښې د انسان د پیدائش ذکر دویم او دریم دلیل کښې په انسان باندے د قسما قسم کړے شوُو انعاماتو ذکر کړے شوے دے. د دے دلیل درے حصے دی. په اوله حصه کښې د انسانانو د پیدائش ذکر دے. په دویمه حصه کښې د آسمان نه د باران ورولو ذکر دے. او په دریمه حصه کښې په زمکه کښې د رزق د قسمونو او انواعو ذکر دے. د دینه یو طرفته دا ثابتیږی چه قادر او متصرف، کارساز، عالم الغیب صرف الله تعالیٰ دے. او بل طرفته دا واضحه کیږی. چه دا ټولے غلے او میوے الله تعالیٰ پیدا کړیدی. لهٰذا د دے څیزونو نه نذرونیاز هم صرف د الله په نوم ورکوئ. ولقد خلقنا فوقکم الخ: دا د دلیل اولنی حصه ده چه د دے نه د دعوے اولنی حصه ثابتیږی چه متصرف او کارساز صرف الله تعالیٰ دے. طرائق، د طریقة جمع ده او د دینه مراد آسمان دے. ځکه چه کوم څیز د بل کوم یو څیز د پاسه وی هغے ته طریقة ویلے شی او آسمانونه چونکه یو د بل د پاسه دی د دے وجې نه ورته طرائق اوویلے شو. یا طریقه د لارے په معنی سره ده. او په آسمانونو کښې چونکه د فرښتو د ختلو کوزیدلو د پاره لارے دی. په دے وجه ورته طرائق ویلے شویدی. قیل للسمٰوٰت طرائق لان بعضها فوق بعض و العرب تسمی کل شیئ فوق شیئ طریقة وقیل لانها طرائق الملائکة (قرطبی ص ۱۱۱ ج ۱۲) قال علی بن عیسٰی سمیت بذالك لانها طرائق للملائکة فی العروج و اسوطوا الطیران الخ (کبیر ص ۲۸۳ ج ۶ کذا فی جامع البیان ص ۲۹۹)

۱۶ وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ الخ: د دے نه د دعوے دویمه حصه ثابتیږی چه عالم الغیب صرف الله تعالیٰ دے. دا سے بے انتها دُنیا پیدا کړلو نه پس مونږ د دے مخلوق نه ناخبره نه یو. بلکه مونږ باقاعده د ټول مخلوق نګرانی کوؤ. د ټول عالم تدبیر او پرورش مونږ کوؤ. بل نعلم جمیع المخلوقات جلها و دقها فندبر امرها (جامع البیان) کله چه د ټول جهان خالق هم صرف الله دے. او د ټول عالم مدبر او قیوم او د هرڅه نه خبر هم صرف هغه دے نو د

نو د ټولو کارساز هُم صرف هغه دے بل څوک نه دے.

۱۸ وَ اَنْزَلْنَا الخ دا د دویم عقلي دلیل دویمه حصه ده. یعني مونږ په پوره اندازے سره باران ورَوُجه په هغے سره د زمکے نه غلے او میوے پیدا کیږي. فَاَسْكَنّٰهُ فِي الْاَرْضِ د ضرورت نه زیاتے اوبهٔ مونږ په زمکه کښے جذب کړو یا یے په غورونو او وادیانو کښے محفوظ کړو چه هغه د چینو وَلو په شکل کښے بهیږو. یا تاسو کوهیان او نهرونه اُوکنئ او هغه حاصلوئ او د هغے نه فائده آخلئ. هذا الذی ذکر الله سبحانهٗ وتعالٰی واخبر بانه استودعه فی الارض وجعله مخزونا لسقی الناس یجدونه عند الحاجة الیه وهو ماء الانهار والعیون وما یستخرج من الآبار (قرطبی ص۱۱۳ ج ۱۲) و انا علٰی ذهاب الخ دا یو قِسم تخویف دُنیوی دے یعنی مونږ په دے خبره هُم قادر یُو چه دا اُو بو ذخیره بخارات اُوګرځوُو او واپس یے وُرُو. یا یے په زمکه کښے داسے جذب کړو چه تاسو د هغے نه فائده وانخلئ او تاسو او ستاسو څاروي د تندے نه هلاک شی.

۱۹ فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ الخ دا د دویم عقلي دلیل دریمه حصه ده. دا د کهجورو او انګورو باغونه مونږ پیدا کړیدي. د دے نه علاوه مونږ نورے ډیرے میوے پیدا کړیدي. وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ۝ من تبعیضیه دے ای بعضها یعني د دے میوُو د تجارت نه هُم فائده آخلئ. او د دے نه څهٔ پخپله هُم خورئ. یا من ابتدائیه دے او د آکل نه مراد مجازًا رزق حاصلول دی. یعني د دے میوُو تجارت سره روزی ګټئ. ومن ابتدائیة وقیل انها تبعیضیة ومضمونها مفعول (تاکلون) والمراد بالاکل معناه الحقیقی (روح ص۲۲ ج ۱۸) ومنها تاکلون من قولهم فلان یاکل من حرفة یحترفها ومن صنعة یعتلها ومن تجارة یتربح بها یعنون انها طعمته وجهته التی منها یحصل رزقه الخ (بحر ص۴۰۰ ج ۶)

۱۹ وشجرة الخ دا په جنّٰت باندے معطوف دے. او د دے وُلے نه د زیتون وُنه مراد ده. طور سینا هغه غر نوم دے دا غر د شام په مُلک کښے دے دیکښے زیتون په کثرت سره پیدا کیږي. تَنْۢبُتُ بِالدُّهْنِ الخ جمله صفت دے د شَجَرَةً او باء د ملابست او مصاحبت د پاره ده چه د دے متعلق محذوف دے او هغه د تنبتُ د فاعل نه حال واقع دے ای تنبت متلبسة بالدهن (روح) یعني هغه وُنه چه پیدا کیږي نو تیل هُم د هغے سره وی. یا باء په معنیٰ د مع سره ده. او دا حال دے. قال الزجاج الباء للحال ای تنبت ومعها الدهن (مدارک ص۹۰ ج ۳) د تیلو نه مراد د زیتون تیل دی.

۲۰ وصبغ للاٰکلین: دا په الدهن باندے معطوف دے او د صبغ معنٰی د رنګ ده لیکن د دے نه سالن (اینګلے) مراد دے یعني د کوم څیز سره چه یو نکاځ ډوډئ خوړے شي. د دے د پاره چه هغه خوندناکه او مزیداره شي. د صبغ نه مراد زیتون دی ځکه چه په عربو کښے دا یو غوره اینګلے شمارلے شو. یا د دے نه د زیتون میوه مراد ده چه په طور د اینګلي استعمالیده. جعل الله فی هذه الشجرة المبارکة ادما وهو الزیتون ودهنا وهو الزیت (خازن ومعالم ص۳۵ ج ۵) او س غور اوکړئ دا ټول څیزونه الله تعالٰی پیدا کړیدی او

تول انعامات هغهٔ راکړیدی په دے وجه صرف هغه کارساز او کنرپی په حاجتونو کښے
غائبانه آواز هغهٔ ته کوئ او دهغهٔ د پیدا کړے شوُو غلو او میوُو نه دهغهٔ په نوم باندے
منښتے ورکوئ -

۲۱ وَاِنَّ لَكُمْ فِي الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً الخ:- دا په توحید باندے دریم عقلی دلیل دے.
وے فرمائیل چه په دے څارو کښے هم ستاسو د پاره عبرت او د توحید دلائل دی. مِمَّا
فِي بُطُوْنِهَا، د مَا نه پئ مراد دی دا زمونږ د قدرت یوه نښه ده چه مونږ د څارو د
خیټو نه د سُوټو او وینو د مینځ نه بالکل پاک صفا پئ راوُباسو چه ستاسو دخوند ناك
او مزیدار خوراك کار ورکوی. و لكم فيها منافع الخ دینه علاوه په دے څارو کښے تاسو
د پاره نور ډیرے فائدے دی. مثلاً د دے د تجارت په ذریعه دولت گټئ. ومنها تاكلون
چه څاروی ژوندی وی نو هم ستاسو د پاره پکښے فائدے دی. او که چرے هغه حلال کړئ
نو بیا هم دهغے غوښے خورئ او دهغے څرمنے خرڅوئ او روزی پرے گټئ. وعليها وعلى
الفلك الخ مخکښے څاروی ستاسو سورلئ او بار اوړلو بکار راځی- دا شان دا دواړه کاروته
تاسو کښتتو نه هم اخلئ چه خالص د الله په قدرت او دهغهٔ په مهربانئ سره صحیح او
سلامت په سمندرونو کښے سفر کوی. کوم الله چه دا تول نعمتونه په خپل قدرت او
مهربانئ سره درکړیدی. صرف هغه کارساز دے. او هغه دهر قسمه عبادت او د پللو حقدار
دے. دے ځائ پورے عقلی دلائل ختم شول او س مخکښے د نقلی دلائلو ذکر دے.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا

او مونږ اولیږلو نوح ۲۲ دده قوم ته ۲۲ نو ده اووئیل اے قومه! بندگی

اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۲۳﴾ فَقَالَ

کوئ د الله ستاسو بل معبود نشته دهغهٔ نه بیوا ایا تاسو نهٔ ویریږئ؟ نو اووئیل

الْمَلَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ

سردارانو کوم چه ۲۲ کافران وُو دهغهٔ په قوم کښے دا نهٔ دے مگر یو انسان دے

مِّثْلُكُمْ ۙ يُرِيْدُ اَنْ يَّتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ

ستاسو پشان غواړی چه لوئ اوکړی په تاسو او که غوښتلے الله

لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً ۚۖ مَّا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِيْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۴﴾

نو نازله کړے به یے وه ملائکه مونږ نهٔ دی اوریدلی دا په خپلو ۲۲ وړمبنو پلار نیکونو کښے

إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ بِهِ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوا بِهِ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٢٥﴾

نور هیڅ نشته دا یو سړے دے چې په دهٔ سودا ده نو ددهٔ انتظار کوئ تر یو وخته پورے.

قَالَ رَبِّ انصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٢٦﴾ فَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ أَنِ

وے وئیل اے ربه! ته مدد اوکړه زما چه دوی زهٔ دروغژن کړم. بیا مونږ حکم ولیږلو دهٔ ته چه

اصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَإِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَ

جوړه کړه کشتئ ٢٧ زمونږ په وړاندے اوزمونږ په حکم سره بیا چه کله راورسي زما حکم او

فَارَ التَّنُّورُ فَاسْلُكْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ

راوُختهٔ کیږي تنور نو ته اُوخوروله په کشتئ کښے د هر قسم جوړه دوه دوه

وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ ۖ وَلَا

او دخپل کور خلق مگر د کومو په قسمت کښے چه وړاندے مقرر شوے ده خبره او ما سره

تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا ۖ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٢٧﴾ فَإِذَا

خبره مهٔ کوه ددے ظالمانو په باره کښے بیشکه دوی لره ډوبیدل دی بیا چه کله

اسْتَوَيْتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ

اُوخیژے ته ٢٨ او څوک چه تا سره دی په کشتئ کښے نو اووایه شکر دے

لِلَّهِ الَّذِي نَجَّانَا مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٢٨﴾ وَقُل رَّبِّ أَنزِلْنِي

د الله چه خلاص یے کړو مونږ د ګنهګارو خلقونه او اووایه اے ربه! کوز کړے

مُنزَلًا مُّبَارَكًا وَأَنتَ خَيْرُ الْمُنزِلِينَ ﴿٢٩﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ

ما لره په برکتي کوزیدو سره او ته یې غوره کوزونکے ٢٩ په دیکښے نښے دی

وَإِن كُنَّا لَمُبْتَلِينَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ أَنشَأْنَا مِن بَعْدِهِمْ قَرْنًا آخَرِينَ ﴿٣١﴾

او مونږ یو ازمائش کونکی ٣٠ بیا پیدا کړو مونږ ددوی نه روستو یو جماعت بل

فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ

بیا اُولیږهٔ مونږه ٣١ په دوی کښے یو رسول ددوی نه چه بندګي کوئ د الله نشته تاسو لره

ع ۲

إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿۲۳﴾

معبود د هغهٔ نه سوا پس تا سونهٔ ویریږئ۔

نکات: ۔ ۲۱ په توحید باندے رومبے نقلي دلیل ۲ ۲۲ قوم ته د توحید دعوت ۲ ۲۳ تول د کارسازئ صفات ۲ ۲۴ یعني ذکرشوے واقعه ۲ ۲۵ مخففه من المثقله دا د اول دلیل ثمره ده ۲ ۲۶ دویم نقلي دلیل ۲

تفسیر: ۲۱ ولقد ارسلنا الخ په توحید باندے رومبے نقلي دلیل په نوح علیه السلام سره۔ یٰقوم اعبدوا الله مالکم من إله غیرهٗ۔ یعني هرکله چه ده رغهٔ کوټے صرف هغه دے نو عبادت هم د هغهٔ په مخائ راوړئ یعني په حاجتونو او مشکلاتو کښے صرف هغه رابلئ، ځکه چه د هغهٔ نه سوا څوک کارساز او د عبادت لائق نشته۔ عبادت په معنی د دعاء دے ځکه چه حدیث کښے راغلي دي۔ الدعاء مخ العبادة۔ افلا تتقون۔ آیا تاسو د الله د عذاب نه نهٔ ویریږئ او هغه سره شرک کوئ او غیرالله ته غائبانه آوازونه کوئ۔

۲۲ فقال الملؤا الخ د قوم مشرکانو سردارانو نوح علیه السلام نه د قوم بدګمانه کولو دپاره عوامو ته او وئیل چه نوح علیه السلام پیغمبر نهٔ دے هغه ستاسو پشان بشر او انسان دے بیا په هغه کښے کومه یوه خوبي ده چه د نبوت حقدار اوړي۔ خبره په اصل کښے دا ده چه نوح علیه السلام د پیغمبرئ دعوی اوکړه۔ او د قوم سردار او لوئ سړے جوړیدل غواړي۔ د دنیا والا چونکه پخپله په دے بیمارئ کښے مبتلا کیږي، ددے وجے نه په حق والو باندے ددے الزامونه لګوي۔ ولو شاء الله الخ که چرے د الله پاک پیغمبر لیږل مقصود وے، نو هغهٔ به یوه فرشته پیغمبر رالیږلے وے۔ دا نوح خو بشر دے په دے وجه هغه هرګز نبي نهٔ دے ځکه چه بشر نبي نشي کیدے، عیاذا بالله۔ بیان لعدم رسالة البشر علی الاطلاق علی زعمهم الفاسد بعد تحقیق بشریته علیه السلام (روح ص ۲۵ ج ۱۸)

۲۳ ما سمعنا الخ په هٰذا سره هغه کلام طرفته اشاره ده په کوم کښے چه نوح علیه السلام هغوی ته د توحید طرفته دعوت ورکړو۔ یا بشرکیدو طرفته اشاره ده (بهٰذا) ای بارسال بشر رسولا او بما یامرنا به من التوحید (مدارک ص ۹۰ ج ۳) الذی یدعونا الیه نوح (خازن ومعالم ص ۳۶ ج ۵) یعني موتږ د خپل پلار نیکهٔ نه دا مسئله د توحید ترننه پورے نهٔ ده اوریدلے د کوم چه نوح علیه السلام دعوت ورکوي معلومیږي چه دے خلقو د آدم، شیث او ادریس علیهم السلام تعلیم بے بالکل هیر کړے وُو۔ یا صرف د ضد او عناد د وجے نه یے د هغه نه انکار اوکړو۔ ثم ان قولهم هٰذا اما لکونهم و اٰبائهم فی فترة واما السفرط غلوهم فی التکذیب والعناد وانهماکهم فی الغي والفساد (روح ص ۲۵ ج ۱۸)

۲۵ إن هو الخ دا هم د مشرکانو د سردارانو قول دے۔ نوح یوه داسے خبره کوي یعني صرف یو الله ته آوازونه کوي، چه موږ ترننه پورے نهٔ ده اوریدلے۔ په دے وجه معلومیږي چه هغه دیوانه دے او د هغهٔ حواس صحیح نهٔ دي۔ معاذ الله! په دے وجه دے پخپل

حال پرېږدئ شاید چه څه وخت پس دده دماغي حالت صحيح شي. او هغه به د خپل عجيبه او نا آشنا دعوے نه منع شي. دا د مُشرکانو د ضد او عناد انتهاء وه.

۲۶ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِیْ الخ: نوح علیه السلام نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله خپل قوم ته د توحيد دعوت ورکولو. ليکن قوم د ضد او عناد په وجه په خپلو مُشرکانه عقائدو او عملونو باندے ټينګ ولاړ وو نو د هغوی په نيغه لاره د راتللو نه نا اُميده شو. نوح علیه السلام د الله نه سوال اوکړو چه اے الله! څما مسلسل تبليغ او دعوت باندے د دوی پرله پسے انکار او جحود په وجه باندے دوی اوس هلاک کړے او څما د تکذيب بدله د دوی نه واخله ای اهلکهم بسبب تکذيبهم اياى (کبیر ص۱۰۸ ج ۶)

۲۷ فَاَوْحَيْنَآ الخ: د نوح علیه السلام دُعا قبوله شوه او الله پاک په طوفان سره د قوم د تباه کولو فيصله اوکړه. د نوح علیه السلام او د مؤمنانو د بچ کولو ته پېړۍ اوکړو چه زمونږ د هدايا تو موافق يوه کشتۍ تيار کړه. او چه کله د تنور نه اُوبه راوُخته کيدے نو فوراً په خپله هم پکښے سور شه او خپل مؤمنان بال بچ او نور مؤمنان هم پکښے سواره کړه او د کوموځناورو چه زيات ضرورت دے. د هغے نه هم يوه يوه جوړه (نر او ښځه) ځان سره واخله او اوس د مُشرکانو په باره کښے څه قسمه سفارش وغيره مه کوه ځکه چه اوس مونږ د هغوی د هلاکولو فيصله کړيده.

۲۸ فَاِذَا اسْتَوَيْتَ الخ: چه کله تاسو خپلو ملګرو سره په کشتۍ کښے سواره شئ نو د نعمت د شکر ادا کولو په طور باندے د الله تعالیٰ حمد او ثنا بيا نوئ چا چه تاسو ته د ظالم او سرکش قوم نه خلاصے درکړو صرف هغه کارساز او په مُصيبتونو او مُشکلاتو کښے نجات ورکونکے دے. وقل رب انزلني الخ او دا دُعا هم غواړئ چه اے الله! د دے کشتۍ نه ما صحيح سلامت کوز کړے. او څما کوزيدل د دين او دُنيا د برکاتو سبب اُوګرځوے. (منزلا مبارکا) يتسبب لمزيد الخير في الدارين (روح ص۳۸ ج ۱۸)

۲۹ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ الخ: سره د ذکر شوے واقعے طرفته اشاره ده يعني د نوح علیه السلام د بچ کولو او مؤمنانو ته په نجات ورکولو کښے او د مُشرکانو په هلاکولو کښے زمونږ د کامل قدرت نښے دی. او د منکرينو د پاره عبرت او وعظ و نصيحت دے. الله پاک د نبيانو علیهم السلام او د هغوی د متبعينو امداد کوی. او د هغوی دُشمنان او د توحيد منکرين هلاکوی. ای دلالات علی کمال قدرة الله تعالیٰ وانه ينصرا نبياءه ويهلك اعداءهم. (قرطبي ص۱۲۰ ج ۱۲)

۳۰ وَاِنْ كُنَّا الخ: ان مخففه من المثقله دے او د دے ضمير شان محذوف دے. ابتلاء د بلاء نه دے په معنی د امتحان يا عذاب. حضرت شيخ قدس سره دويمے معنے ته ترجيح ورکړيده. وان ای انه کنا لمبتلين مختبرين قوم نوح البلاء او عبادنا لننظر من يعتبر او مصيبين قوم نوح ببلاء عظيم (جامع البيان ص۳۰۰) ای وان الشان کنا مصيبين قوم نوح ببلاء عظيم وعقاب شديد او مختبرين بهذه الايات عبادنا لننظر من يعتبر و يتذکر (روح)

یعنې موږ دا څکه اوکړل چه د نوح علیه السلام قوم په سخت عذاب کښې مبتلا کړو. یا مطلب دا دے چه موږ دا ټول هرڅۀ د ځینو بندګانو د آزمیښت دپاره اوکړل چه په دوی کښې څوک عبرت او نصیحت حاصلوی. دا د اول دلیل ثمره ده. موږ د نوح علیه السلام قوم په سخت عذاب کښې مبتلا کړو. لیکن د هغوی کوم معبود او خود ساخته کارساز د هغوی مدد له راونۀ رسیدۀ. ددے نه معلومه شوه چه کارساز صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نۀ دے. ثم انشأ نا الخ: د نوح علیه السلام د قوم د تباهئ نه روستو موږ ډیر قومونه پیدا کړل

۳۱ فارسلنا فیهم الخ: دا دویم نقلی دلیل دے هود علیه السلام سره د پاره د نفی د شرك فی التصرف. هود علیه السلام هم خپل قوم ته پیغام ورکړے وو. اعبدوا الله ما لکم الخ تاسو صرف الله په حاجتونو او مصیبتونو کښې رابلئ څکه چه د هغۀ نه سوا ستاسو کارساز او حاجت روا نشته.

وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِلِقَاءِ

او اووئیل سردارانو د هغۀ د قوم ۳۲ کوم چه کافران وو او دروغژن ګڼلو یې ملاقات

الْآخِرَةِ وَأَتْرَفْنَاهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۙ مَا هَٰذَا إِلَّا

د آخرت لره او آرام ورکړے وو موږ دوی لره د دُنیا په ژوند کښې هیڅ نشته دا یو

بَشَرٌ مِثْلُكُمْ ۙ يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا

بنیادم دے ۳۳ ستاسو په شان خوری د کوم قسم نه چه تاسو خورئ او څکی د کوم قسم

تَشْرَبُونَ ﴿٣٣﴾ وَلَئِنْ أَطَعْتُمْ بَشَرًا مِثْلَكُمْ ۙ إِنَّكُمْ إِذًا

نه چه تاسو څکئ او که تاسو روان شئ په خبره د یو سړی چه ستاسو په شان دے نو بیشکه تاسو به

لَخَاسِرُونَ ﴿٣٤﴾ أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ تُرَابًا وَ

خراب شئ آیا تاسو ته وعده درکوی ۳۴ چه کله تاسو مړۀ شئ او شئ خاؤرے او

عِظَامًا أَنَّكُمْ مُخْرَجُونَ ﴿٣٥﴾ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا

هډوکی نو تاسو له بیا راوتل دی بل کیدے شی، کله کیدے شی د کوم چه تاسو

تُوعَدُونَ ﴿٣٦﴾ إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَ

سره وعده کیږی نور هیڅ نشته دا ژوند دے زمونږ ګړے د دُنیا مړۀ کیږو او

نَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٣٧﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ افْتَرَىٰ
ژوندي کیږو او مونږ له بیا پورته کیدل نشته نور هیڅ نشته دا یو سړے دے جوړ کړي یے
عَلَى اللَّهِ كَذِبًا وَمَا نَحْنُ لَهُ بِمُؤْمِنِينَ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ
دی په الله باندے دروغ او مونږ دده ته منو وے وئیل اے ربه زما
انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٣٩﴾ قَالَ عَمَّا قَلِيلٍ لَيُصْبِحُنَّ
ځما مدد اوکړے چه دوی زما دروغژن کړم وے فرمائیل اوس په لږ وخت کښے به سحر ته شي
نَادِمِينَ ﴿٤٠﴾ فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ فَجَعَلْنَاهُمْ
دوی پښیمانی کونکي بیا ونیول دوی لره چغے په حقه سره بیا کړل مونږ دوی لره
غُثَاءً ۚ فَبُعْدًا لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٤١﴾ ثُمَّ أَنْشَأْنَا مِنْ
خس وخشاک . پس د خدائ لعنت دے په ظالمانو خلقو باندے بیا مونږ پیدا کړل د دوی
بَعْدِهِمْ قُرُونًا آخَرِينَ ﴿٤٢﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا
نه روستو زمانے نورے جماعتونه نه وړاندے کیږی یو قوم د خپلے نیټے نه
وَمَا يَسْتَأْخِرُونَ ﴿٤٣﴾ ثُمَّ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ۖ كُلَّمَا جَاءَ
او نه ترے روستو کیږی بیا اولیږل مونږ زمونږ خپل رسولان پرله پسے چه کله به ورسیده
أُمَّةً رَسُولُهَا كَذَّبُوهُ ۚ فَأَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا وَجَعَلْنَاهُمْ
یو اُمت ته د دوی رسول نو دروغژن به یے کړو بیا وچلول مونږ ځینو لره په ځینو پسے او کړل مونږ
أَحَادِيثَ ۚ فَبُعْدًا لِقَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٤٤﴾ ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ
دوی لره قصے نو لرے د شي کوم خلق چه نه مني بیا ولیږل مونږ موسیٰ
وَأَخَاهُ هَارُونَ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُبِينٍ ﴿٤٥﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ
او د هغه رور هارون د خپلو نښو سره او ښکاره دلیل سره فرعون او د
وَمَلَئِهِ فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا عَالِينَ ﴿٤٦﴾ فَقَالُوا أَنُؤْمِنُ
هغه سردارانو ته بیا یے تکبر اوکړو او وو دغه خلق تکبر کونکي نو اووئیل آیا مونږ منو

لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَ قَوْمُهُمَا لَنَا عٰبِدُوْنَ ﴿۴۷﴾ فَكَذَّبُوْهُمَا فَكَانُوْا

دخپل ځان پشان د دوو سړو او قوم د دوی زمونږ تابعدار دی بیا دروغژن یې کړل دغه دواړه نو شول

مِنَ الْمُهْلَكِيْنَ ﴿۴۸﴾ وَ لَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿۴۹﴾

بیا شول د هلاکیدونکو نه او مونږ ورکړل موسٰی ته کتاب چه دوی لار بیا مومی

وَ جَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَ اُمَّهٗۤ اٰيَةً وَّ اٰوَيْنٰهُمَاۤ اِلٰى رَبْوَةٍ

او جوړ کړو مونږ لَه ځوئ د مریم او د هغه مور لره یوه نښه او دوی لره مو ځائ ورکړو په یوه غونډۍ

ذَاتِ قَرَارٍ وَّ مَعِيْنٍ ﴿۵۰﴾

کوم چه د پاتے کیدو ځائ وو او اوبه پاکے ګلے وے

نکات: سـ۱ پہ توحید باندے دریم نقلی دلیل اجمالی ۱۲ سـ۲ څلورم نقلی دلیل ۱۲ سـ۳ پنځم نقلی دلیل ۱۲

موضح قرآن فـ۱ دے نه معلومیږی چه دا قصه د ثمود یا نو ده ځکه په چغه هم هغوی هلاک شوی دی. فـ۲ دا حاشیه په ص۲۶۳ باندے اوګورئ۔

تفسیر: ۳۲ وقال الملأ الخ: د هود علیه السلام د دعوت په جواب کښے د هغه د قوم مشرکانو هغه څه اووئیل کوم چه د نوح علیه السلام د دعوت په جواب کښے د هغه د قوم سردارانو وئیلی وو. الذین کفروا الخ هغوی د توحید نه هم منکر وو او د قیامت نه هم. واترفنٰهم الخ او مونږ هغوی د نیوی انعاماتو سره مالداره کړی وو. یعنی نعمناهم و وسعنا علیهم فی الحیٰوة الدنیا (خازن ص۳ ج ۵) مونږ هغوی ته په دُنیا کښے انعامات ورکړی وو او احسانات مو پرے کړی وو لیکن هغوی زمونږ د توحید پیغام په سختئ سره مقابله اوکړه او د ضد او عناد نه یې د هغے انکار اوکړو۔

۳۳ ماهٰذا الخ د مشرکانو سردارانو عوامو ته اووئیل چه دا پیغمبر خو ستاسو په شان بشر دے ستاسو پشان خوراک څکاک کوی. په ده کښے د نبی کیدو کوم یو خصوصیت دے۔ ځکه چه تاسو د خوراک څکاک محتاج یئ دغسے دے هم محتاج دے. فلا فضل له علیکم لانه محتاج الی الطعام والشراب کانتم (قرطبی ص۱۲۱ ج ۱۲) د هغوی خیال وو چه پیغمبر خو فرشته پکار ده چه د خوراک څکاک او د نورو بشری حاجتونو نه بے پرواه وی. ولئن اطعتم الخ هر کله چه هود علیه السلام ته په تاسو باندے څه فضیلت حاصل نشته بلکه هغه هم ستاسو پشان یو بشر دے. نو که چرے تاسو د هغه خبره اومنئ او د خپلو معبودانو عبادت او په حاجتونو کښے د هغوی رابلل پریږدئ نو په ډیر لوئ تاوان کښے به پاتے شئ۔ او بیا د خپل ځان پشان بشر پیروی کولو کښے او د هغه متبوع او مطاع

منلو کښې خوستاسو ذلت او سپکاوے دے. یرید لمغبونون بترککم الهتکم واتباعکم ایاه عن غیر فضیلة له علیکم (قرطبی ص۱۲۲ ج ۲) لخسرون عقولکم و مغبونون فی آراءکم حیث اذللتم انفسکم (ابوالسعود ص۲۸ ج ۶)

۳۴ ایعدکم الخ. دا هم د مشرکانو د سردارانو مقوله ده. ایعدکم ای ایقول لکم یعنی هغه (هود علیه السلام) دا هم وائی چه کله تاسو مړه شئ او خاورے شئ او ستاسو هډوکی زاړه شی. نو تاسو به بیا دوباره د قبرونو نه ژوندی پاسولے شئ. هَیۡهَاتَ اسم فعل دے په معنی د ماضی ای بعد او لام زائد دے او د هیهات تکرار د تاکید دپاره دے (بحر، روح) یعنی د کوم څیز چه تاسو سره وعده کولے شی هغه ډیره لرے خبره ده د هغې واقع کیدل ناممکن دی. د امام زجاج د تفسیر نه د دے مصدر کیدل معلومیږی. قال الزجاج البعد لما توعدون او بعد لما توعدون (بحر ص۴۰۵ ج ۶) په دے صورت کښې به لام زائد نه وی. لیکن د زجاج د قول نقل کولو نه روستو علامه ابن حیان لیکی وینبغی ان یجعل کلامه تفسیر اعراب لانه لم یثبت مصدریة هیهات یعنی د زجاج قول د هیهات د معنی تفسیر دے نه چه د اعراب ځکه چه د هیهات مصدر کیدل ثابت نه دی. والله اعلم

۳۵ اِنۡ هِیَ الخ. دوباره ژوندی کیدل بالکل د عقل او قیاس نه لرے خبره ده. او نه بل کوم ژوند شته بس اصل ژوند هم دا د دنیا دے کوم چه مونږ په دے ژوند بانده تیروُ. چه کله مونږ مړه شو نو دا ژوند به ختم شی او مونږ به هم همیشه دپاره ختم یو. اِنۡ هُوَ اِلَّا رَجُلُ الخ. دا هود خو (عیاذاً بالله) په خدائی دروغ جوړوی چه زه د الله رسول یم او هغه زه د توحید مسئله او د حشر نشر د عقیدے د تبلیغ او اشاعت دپاره رالیږلے یم. په دے وجه مونږ د ده خبره بالکل نه منو. ای ماهو الا مفتر علی الله فیما یدعیه من استنبائه له وفیما یعدنا من البعث (مدارک ص۹۲ ج ۳)

۳۶ قَالَ رَبِّ الخ. چه کله هود علیه السلام د عوامو او خواصو مشرکانو د ایمان نه نا اُمیده شو نو د الله پاک نه یے د هغوی د هلاکت دپاره خیرے اوکړے. واعلم ان ذلک الرسول لما یئس من قبول الاکابر والاصاغر فزع الی ربه وقال رب انصرنی بما کذبون فاجابه الله فیما سأل (کبیر ص۲۸۳ ج ۶) قَالَ عَمَّا قَلِیۡلٍ الخ. عن په معنی د بعد دے. او ما نکره موصوفه ده او ظرف لیصبحن سره متعلق دے یا ما زائده دے (ابوالسعود، روح) الله پاک اوفرمائیل چه صبر کوه ډیر لږ شان وخت پس به دوی عذاب را تلونکے دے چه د هغې په لیدلو به دوی ډیر زیات پښیمانه شی. فَاَخَذَتۡهُمُ الصَّیۡحَةُ الخ. نو فوراً په هغوی د یوے تیزے هوا طوفان راولیږلے شو چه په هغې کښې د جبرئیل علیه السلام هیبتناکه آواز هم شامل وو. د هغه طوفان هغوی داسے تباه او برباد کړل چه چه د هغوی بدنونه د خس وخاشاکو په شان ټکړے ټکړے او چوره چوره شو. غثاء هغه خس وخاشاک چه د اوبو په سر روان وی. ای کغثاء السیل وهو ما یحمله من الورق والعیدان البالیة (روح ص۳۳ ج ۱۸) دا د هغه دلیل ثمره ده د هود علیه السلام د قوم مشرکانو چه کوم خود ساخته معبودان کارساز گڼرلی وو په هغوی کښې یو هم

د دوی مدد اُونکړو او د الله د عذاب نه یې بچ نه کړل۔

۴۲ ثُمَّ اَنْشَاْنَا الخ دهغوی نه روستو مونږ ډیر خلق اٰباد کړل او هغوی ته مو خپل پیغمبران اُولیږل او سرکش قومونه مو هلاک کړل۔ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ الخ د هر قوم د هلاکت دپاره چه کوم وخت مقرر وُو په هغه وخت باندے هغه هلاک کړے شو۔ نه د مقرر وخت نه وړاندے په یو قوم عذاب راغلے او نه په مقرر وخت کښے تاخیر اوشو۔

۴۴ ثُمَّ اَرْسَلْنَا الخ دا په توحید باندے دریم نقلي دلیل دے۔ دلته یې اجمالاً اُوفرمائیل چه بیا د هُود علیه السلام نه روستو مونږ پرله پسے خپل پیغمبران راوُلیږل چه خپلو اُمتونو ته یې د توحید دعوت ورکولو چه کله یو قوم زمونږ د پیغمبر تکذیب اوکړو او د توحید دعوت یې اُونه منلو نو مونږ هغه هلاک کړل او د هغوی په ځائے مونږ نور خلق پیدا کړل۔ تترٰی په اصل کښے وترٰی وُو۔ واؤ په تا سره بدل کړے شو او دا د رسلنا نه حال واقع دے ای ارسلنا رسلنا متواترین (بحر، روح) وجعلنٰهم احادیث الخ یعني د توحید دعوت مَنکرو د کونکی او د نبیانو علیهم السلام تکذیب کونکی مونږ تباه او برباد کړل۔ او د دُنیا نه مو د هغوی نوم او نشان ختم کړو۔ لیکن د هغوی خبرے باقي پاتے شوے۔ خلق د تعجب او عبرت په طور د هغوی قِصّے بیانوی۔ اخبارٌ یسمع بها یتعجب منها (مدارک ص۹۳ ج ۳)

۴۵ ثُمَّ اَرْسَلْنَا مُوسٰی الخ، دا د شرك فی التصرف په نفي باندے څلورم نقلي دلیل دے۔ موسٰی او هارون علیهما السلام مونږ په واضحه دلائلو او ښکاره معجزو سره فرعون ته اُولیږل۔ مُوسٰی علیه السلام په ډك دربار کښے فرعون او د هغه قوم ته د توحید دعوت ورکړو۔ فاستکبروا الخ: لیکن هغوی د حکومت او دولت او اقتدار په نشه کښے بیهوشه شو او هغه یې رد کړو۔ اَنُؤْمِنُ لِبَشَرَیْنِ الخ او صفا یې او وئیل چه موسٰی او هارون دواړه بشر دی۔ مونږ هغه ځنګه د الله نبی اُومنو۔ او بیا دے سره هغوی د بني اسرائیلو د قوم نه هُم دی کوم چه ټول زمونږ غلامان دی۔ او هر وخت زمونږ په خدمت او غلامئ کښے مشغول اُوسیږی۔ نو دا ځنګه کیدے شي چه مونږ د یو کمزوری قوم دوه کسان نبیان اُومنو۔ بني اسرائیل په اصل کښے دیوے ډیرے اُوچتے مرتبے والا او شریف قوم وُو۔

۴۸ فَکَذَّبُوهُمَا الخ د فرعون قوم د موسٰی او هارون علیهما السلام تکذیب اُوکړو نو هغوی د غرقیدو په عذاب سره هلاك کړے شو۔ وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسَی الْکِتٰبَ الخ موسٰی علیه السلام ته مونږ کتاب هُم ورکړو چه ټول هدایت وُو۔ دے دپاره چه هغوی د دینه هدایت حاصل کړی۔ د دے واقعاتو نه مکے والو له عبرت حاصلول پکار دی۔ مونږ مخکینو قومونو ته خپل پیغمبران اُولیږل چه هغوی ورته د توحید دعوت ورکړو۔ لیکن مشرکانو هغه اُونه منلو آخر مونږ هغه هلاك کړل۔ د مکے مشرکان هُم د د غه ضدیانو او سرکشه کافرانو پشان د توحید د دعوت نه انکار کوی۔ که چرے هغوی د دے انکار نه منع نه شول او د ضد او عناد په وجه زمونږ د پیغمبر تکذیب کوی نو هغوی به هُم دردناك

عذاب سره هلاک کړے شي.

۵۱ وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ الخ. دا په توحید باندے پنځم نقلي دلیل دے. عیسیٰ علیه السلام او د هغهٔ مور هم زمونږ د قدرتِ کامله او د وحدانیت واضحه دلیل وُو. مریم صدیقه طیبه او طاهره صرف زمونږ په قدرت سره حامله شوه. او عیسیٰ علیه السلام د پلار نه بغیر پیدا شو او د پیدائش سره یے د مور په غیږ کښے د توحید اعلان هم اوکړو. وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ الخ (مریم ع ۲) یعنی زما او ستاسو مالک او کارساز الله تعالیٰ دے په دے وجه عبادت هم د هغهٔ کوئ او په حاجتونو کښے فوق الاسباب صرف هغهٔ ته آواز کوئ هم دا سمه لاره ده. د رَبْوَةٍ لغوي معنی اوچته زمکه ده. هي ما ارتفع من الارض دون الجبل (روح ص ۳۵ ج ۵) د ربوه نه د مراد په باره کښے مختلف اقوال دی د ټولو نه زیات صحیح قول هم دا دے چه د ربوه نه د بیت المقدس زمکه مراد ده ځکه چه د نورو علاقو په نسبت هغه اوچته هم ده او په هغے کښے وارهٔ وارهٔ نهرونه په تیزئ سره روان دی. دا قول د ابن عباس رض، امام قتاده ضحاک او د کعب نه نقل شوے دے. قال ابن العباس هي بيت المقدس (خازن ص ۳۱ ج ۵) قال قتادة كنا نحدث ان الربوة بيت المقدس (ابن جرير) قال الضحاك وقتادة (الي ربوة ذات قرار ومعين) هو بيت المقدس فهذا والله اعلم هو الاظهر (ابن كثير ص ۲۴۶ ج ۳) قال قتادة وكعب بيت المقدس وزعم ان في التوراة ان بيت المقدس اقرب الارض الى السماء (بحر ص ۴۰۹ ج ۶) عیسیٰ علیه السلام د یو مجوسي بادشاه په زمانه کښے په بیت اللحم کښے پیدا شو. د نجومیانو په ذریعه هغه ته اطلاع ورکړے شوه. او س هغهٔ د دهٔ لټون شروع کړو د دے د پاره چه هلاک کړے ئي مریم د هغے بادشاه د ویرے نه مسیح علیه السلام و اخستهٔ او بیت المقدس ته لاړه تر څو چه هغه بادشاه ژوندے وُو هغے پورے دا هم هلته وه. وذكران سبب هذا الايواء ان ملك ذلك الزمان عزم على قتل عيسى عليه السلام ففرت به امه الخ (روح ص ۳۵ ج ۵) وسبب الايواء انها فرت بابنها عيسى الى الربوة وبقيت بها اثنتي عشرة سنة وانما ذهب بهما ابن عمها يوسف ثم رجعت الى اهلها بعد ان مات ملكهم (كبير ص ۲۸۹ ج ۶) یا د ربوه نه هم هغه د وضع حمل ځای مراد دے ځکه چه د دے په باره کښے ارشاد دے. فَنَادٰىهَا مِنْ تَحْتِهَا اَلَّا تَحْزَنِيْ قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا (مریم ع ۲) د دے نه معلومیږی چه هغه ځای اوچت وُو او لاندے چینه یا وَله وه. (ابن کثیر)

۵۲ ذَاتِ قَرَارٍ د امن نه ډک او فراخه ځائ. مَعِيْنٍ په وزن د فعيل بهوانے او تازه اوبهٔ. (قرطبي وروح)

يٰۤاَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ؕ اِنِّيْ

اے رسولانو! تاسو خورئ پاک څیزونه او عملونه کوئ نیک کوم څهٔ

بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٥١﴾ وَإِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً

چه تاسو کوئ زه یې پېژنم ٥١ او دا خلق دی ستاسو دین ګه تول په یو دین باندې

وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ ﴿٥٢﴾ فَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ زُبُرًا ۖ

او زه یم ستاسو رب پس تاسو نه او وېرېږئ بیا یې جدا جدا کړ د خپل کار په خپل مینځ کښې ټکړې

كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٥٣﴾ فَذَرْهُمْ فِي غَمْرَتِهِمْ

ټکړې ٥٤ هره فرقه چه کوم څه ورسره دی په هغې خوشحاله ده ٥٥ نو پرېږده دوی لره دوی په

حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٥٤﴾ أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهِ مِنْ مَالٍ وَ

بېهوشۍ کښې د وب تر یو وخته پورې ٥٦ ایا دوی خیال کوی چه دا څه مونږ دوی له ورکوو د مال ٥٧ او

بَنِينَ ﴿٥٥﴾ نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ ۚ بَلْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٥٦﴾

اولاد نه پس زر رسوو مونږ دوی ته ښېګړې دا نه ده بلکه دوی نه پوهېږی ٥٨

إِنَّ الَّذِينَ هُمْ مِنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ مُشْفِقُونَ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِينَ

بیشکه کوم چه د خپل رب د وېرې نه ٥٩ په اندېښنه کښې دی او کوم خلق چه ٦٠

هُمْ بِآيَاتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٨﴾ وَالَّذِينَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا

د خپل رب په خبرو یقین کوی ٠ او کوم خلق چه د خپل رب سره هیڅوک

يُشْرِكُونَ ﴿٥٩﴾ وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ

شریک نه مني او کوم خلق چه ورکوی الله څه چه ورکوی او د دوی زړونه ٦١ په وېره کښې وی

أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ ﴿٦٠﴾ أُولَٰئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ

ځکه چه دوی خپل رب ته واپس کېدونکی دی ٦٢ دغه خلق ٥٣ جلتي کوی په نېکو کښې

وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ ﴿٦١﴾ وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۖ وَلَدَيْنَا

او دوی ورته د ټولو نه وړاندې رسېږی او مونږ په چا بوج نه اچوو ٦٤ مګر د هغه د طاقت موافق او

كِتَابٌ يَنْطِقُ بِالْحَقِّ ۚ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٦٢﴾ بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي

مونږ سره لیکلی شوی دی چه خبره کوی رښتیا او په دوی به ظلم نه کېږی دا سې هیڅ نشته د دوی زړونه

غَمْرَةٍ مِّنْ هٰذَا وَلَهُمْ اَعْمَالٌ مِّنْ دُوْنِ ذٰلِكَ هُمْ

بېهوشه دي دې طرفته او دوي په نورو کارونو کښې لګيدلي دي د دېنه سوا چه دغه

لَهَا عٰمِلُوْنَ ﴿۶۳﴾ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَخَذْنَا مُتْرَفِيْهِمْ بِالْعَذَابِ

هغو لره کوي تر دې چه کله ونیسو مونږ د دوي اسوده خلق په عذاب سره

اِذَا هُمْ يَجْـَٔرُوْنَ ﴿۶۴﴾ لَا تَجْـَٔرُوا الْيَوْمَ ۟ اِنَّكُمْ مِّنَّا لَا

نو ناببره به دوي چغې وهي چغې مه وهئ نن ورځ تاسو زمونږ نه نه شئ

تُنْصَرُوْنَ ﴿۶۵﴾ قَدْ كَانَتْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ

خلاصيدې تاسو ته اورولې شوې وې زما ايتونه نو تاسو به

عَلٰۤى اَعْقَابِكُمْ تَنْكِصُوْنَ ﴿۶۶﴾ مُسْتَكْبِرِيْنَ ۖۗ بِهٖ سٰمِرًا

پوندو باندې الټه تښتيدئ چه تکبر به موترې کولو په قصه کو به موا وګړل

تَهْجُرُوْنَ ﴿۶۷﴾ اَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ اَمْ جَآءَهُمْ مَّا لَمْ

پرېښه به مو بېهوده تربه لاړئ آيا دوي غور اونکړو په دې کلام کښې يا راغلې دې دوي ته داسې څيز

يَاْتِ اٰبَآءَهُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۶۸﴾ اَمْ لَمْ يَعْرِفُوْا رَسُوْلَهُمْ

چه نه دې راغلې د دوي رومبو پلارانو نيکونو ته يا اونه پيژندو دوي خپل رسول

فَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿۶۹﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ بِهٖ جِنَّةٌ ؕ بَلْ جَآءَهُمْ

پس دوي هغه پردې ګڼړي دی يا وائي چه په ده باندې سودا ده هيڅ نشته هغه خو راوړې ده

بِالْحَقِّ وَاَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿۷۰﴾ وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ اَهْوَآءَهُمْ

ئي دوي ته حقه خبره او په دوي کښې په ډېرو حقه خبره بده لګي او که حق ته د دوي د خواهشاتو تابعدار

لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ ؕ بَلْ

او کړي نو خراب به شي اسمانونه او زمکه او څه چه په دوي کښې دي هيڅ نشته

اَتَيْنٰهُمْ بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۷۱﴾ اَمْ

بلکه مونږ رسولې ده دوي ته د دوي نصيحت پس هغوي د خپل نصيحت نه ډډه کوي يا څو

أَمْ تَسْأَلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٧٢﴾

د دوی نه غواړی ته څه محصول پس محصول ستا د رب غوره دے او هغه غوره رزق ورکوونکے

وَإِنَّكَ لَتَدْعُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ﴿٧٣﴾ وَإِنَّ الَّذِينَ

او ته خامخا بلله دوی لره نیغې لارے ته او کوم خلق چه

لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنَاكِبُونَ ﴿٧٤﴾ وَلَوْ رَحِمْنَاهُمْ

نه منی آخرت لره د لارے نه کاږه شویدی. او که مونږ په دوی رحم

وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ مِنْ ضُرٍّ لَلَجُّوا فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٥﴾

اوکړو او لرے کړو د دوی نه کوم تکلیف چه دوی ته رسیلے دے نو بیا به هم ټینګیدلی وی په خپل شرارت کښے سرګردانه وی

وَلَقَدْ أَخَذْنَاهُمْ بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوا لِرَبِّهِمْ وَمَا

او مونږ نیولی دی دوی لره په عذاب کښے کله پس نه دوی عاجزی اوکړه خپل رب ته او نه یے

يَتَضَرَّعُونَ ﴿٧٦﴾ حَتَّىٰ إِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا ذَا عَذَابٍ

فریاد اوکړو تر دے چه پرانستله مونږ په دوی دروازه د یو سخت

شَدِيدٍ إِذَا هُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٧﴾ ع

عذاب څخه پس دوی په هغے کښے ناامیده شول وے

نکات:- ١ شپږم نقلی دلیل دے نه مقصود د شرک فعلی نفی ده ۱۲ ٢ دځکینو عقلی او نقلی ټولو دلائلو سره متعلق دے ۱۲ ٣ جواب د سوال مقدر ۱۲ ٤ شکوی په طور د زجر ۱۲ ٥ د عذاب د دفع کولو د پاره د دے امورو اعاده ۱۲ ٦ جمله معترضه ۱۲ ٧ د شرک فعلی نه علاوه نور مشرکانه اعمال او جاهلانه رسمونه ۱۲

موضح قرآن (د تیر شوی عبارت حاشیه) ف ٢ عیسی علیه السلام چه کله د مور نه پیدا شو د هغه وخت بادشاه د نجومیانو نه واوریدل چه د بنی اسرائیلو بادشاه پیدا شو هغه ده د دشمن شو د ده په طلب کښے شروع شو هغه ته زیرے ورکړے شو چه د ملک نه اوځه د ملک نه بهر د مصر ملک ته لاړو. دیو کلی زمیندار حضرت مریم خپله اوکړ ځوله چه کله عیسی علیه السلام ځوان شو نو د هغه وطن بادشاه مړ شو هم هغه وخت بیا خپل وطن ته راغلے هغه کلے په اوچت ځائے باندے وو او د هغه ځائے اوبه مزیدارے وے.

ف۱ یعني د ټولو نبیانو په دین کښې هم دا یو حکم دے چه حلال خوري په حلاله طریقه ګټنه کوي او نیک کار کوي ټول خلق نیک کار پیژني.

ف۲ د هر پیغمبر په لاس الله پاک د هغه وخت په قوم کښې چه کومه خرابي وه د هغې اصلاح یې کړیده. روستو خلقو خیال اوکړو چه د دوي حکم جدا جدا دے. اخر چه زمونږ د پیغمبر په لاس یې ټوله خرابي او نقصان صحیح کړو او س ټول دینونه یو ځائې شو او یو دین اوګرځیده.

ف۳ یعني نه معلومه ده چه هلته قبول شول که نه ځکښې پکار راځي یا نه راځي خو د الله په لاره کښې همیشه خرچ کوي.

ف۴ په خبره سوچ نه کوي یعني په قران کښې فکر نه کوي او نصیحت کوونکي خو همیشه وي پیغمبران وي یا د پیغمبرانو تابعداران وي.

ف۵ یعني همیشه دوے پیغمبر د خوئ خصلت نه واقف دي د هغه صداقت او نیکي پیژني. ف۶ د نبي علیه السلام په خبرو سره یو ځل د مکے په خلقو قحط راغلے وو بیا د نبي علیه السلام په دعا سره لرے شو شاید چه دا نے هم هغه بیان کړو.

ف۷ شاید چه هغه دروازه د جنګونو کولاؤ شوه چه په هغې کښې سترې شو او عاجزه شو.

فائدہ الرحمٰن:- ف۱ یعني نعمت نه دے بلکه استدراج دے ۱۲

تفسیر

۴۳ یا ایها الرسل الخ: دا په توحید باندے شپږم نقلي دلیل دے د یا ایها الرسل نه مخکښې قلنا مقدر دے یعني مونږ ټولو رسولانو ته او وئیل. اول پنځه نقلي دلیلونه د شرك في التصرف په نفي باندے قائم کړے شو، او دوے دلیل نه مقصود د شرك فعلي نفي ده. ټولو نبیانو او رسولانو ته یې خطاب اوکړو او وے فرمائیل چه د الله تعالیٰ د حلال او پاکیزه څیزونو نه خوراك کوئ، او هغه په استعمال کښې راولئ. او د خپل طرفنه څه څیز مه حراموئ او دا شان حلال څیزونه خورئ. او حرام او پلیت څیزونه مثلاً د غیر الله د منښتونه ځان ساتئ یعني چه نه خو د غیر الله د پاره تحریمات اوکړئ او نه د غیر الله منښته ورکړئ. من الطیبت یعني غیر الرجس من الاوثان قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ. (یا ایها الرسل الخ) خطاب په طور د حکایت نبي علیه السلام ته ذکر شوے دے یعني هر پیغمبر ته د هغه په وخت کښې مونږ دا حکم ورکړے وو. حکایة لرسول الله صلی الله علیه وسلم علی وجه الاجمال لما خوطب به کل رسول فی عصره (روح ص۳۹ ج۱۸) هذا النداء والخطاب لیسا علی ظاهرهما لانهم ارسلوا متفرقین فی ازمنة مختلفة وانما المعنی الاعلام بان کل رسول فی زمانه نودی بذلك ووصی به. (مدارك ص۹۳ ج۳) واعملوا صالحا، او د الله د وحی او د هغه د شریعت مطابق عمل کوئ. په دې کښې چه کوتاهي اونه کړئ. او زه ستاسو د عملونو نه خبردار یم او د ټولو نیکو عملونو به پوره پوره بدله درکوم.

۴۴ وان هذه الخ په دې کښې خطاب د مخکښې پشان ټولو رسولانو ته دے یا خطاب عام

دے نبیانو علیهم السلام او نورو خلقو ته شامل دے. یا خاص اُمّتِ محمّدیةؐ ته خطاب دے په دے صورت کښے به دا جمله معترضه وی. والخطاب للرسل علیهم السلام علی نحو مامر وقیل عام لهم ولغیرهم (روح ص۴۳ ج ۱۸) د اُمّة معنیٰ ملت او شریعت دے ای ملتکم وشریعتکم ایها الرسل (امّة واحدة) ای ملة وشریعة متحدة (ابوالسعود ص۲۹۵ ج ۶) امّة واحدة دا د انّ هٰذهٖ امتکم د مضمون نه حال دے. او دا د تیرو شوو ټولو عقلی او نقلی دلائلو سره متعلق دے یعنی د عقلی دلائلو نه هم ثابته شوه او د مخکینو نبیانو علیهم السلام د دعوت (د نقلی دلائلو) نه هم واضحه شوه چه د ټولو نبیانو او رسولانو علیهم السلام دین یو وو. او د ټولو شریعتونو اصول متحد وو او هغوی ټول په ټول د توحید په مسئله باندے متفق وو. د شرک اعتقادی او شرک فعلی نفی د ټولو په دعوت کښے شامله وه او د دے ټولو یوه دعوی وه چه د الله نه سوا هیڅوک کارساز نشته د هغهٔ نه سوا څوک حاجت روا او د لرے او نزدے نه فریاد اوریدونکے نشته او نه د هغهٔ نه سوا څوک د نذر او منښتے حقدار شته. وَاَنَا رَبُّكُمْ الخ دا په اِنَّ هٰذِهٖ اُمَّتُكُمْ الخ باندے معطوف دے او عطف تفسیری دے د ملتِ واحده تفسیر دے. یعنی هغه ملتِ واحده دا وُه چه ستاسو د ټولو مالک او کارساز زهٔ یم په دے وجه ځما د عذاب نه اووېرېږئ او ځما نه سوا هیڅوک کارساز مهٔ ګنړئ او نهٔ څوک په حاجتونو او مشکلاتو کښے ما فوق الاسباب ماؤ بللئ.

۵۵ فَتَقَطَّعُوْٓا الخ دا د مقدر سوال جواب دے. سوال دا وُو چه کله د ټولو نبیانو علیهم السلام ملت یو وُو او ټول په توحید متفق وُو. نو دا اختلاف څنګه راپیدا شو. نو د دے جواب ورکړے شو چه ټولو خلقو او اُمتونو د پاره الله پاک یو دین مقرر کړے وُو او د ټولو نبیانو علیهم السلام د شریعتونو بنیاد په توحید باندے وُو. لیکن د اُمتونو دُنیا پرست عالمانو او د حق دین نه باغی مُلایانو د الله په توحید کښے اختلاف واچولو. او دین واحد یے ټکړے ټکړے کړو. او خلق یے په مختلفو او متضاد فرقو کښے تقسیم کړل. فتقطعوا کښے ضمیر فاعل د باغی او ګمراه پیشوایانو نه کنایه ده. څکه چه په هره زمانه کښے هم دوی په توحید کښے اختلاف واچولو. څنګه چه بل ځائے کښے ارشاد دے. وما اختلف فیه الا الذین اوتوه من بعد ما جاءتهم البینٰت بغیًا بینهم الآیة (بقره ع ۲۶) او په سورة اٰل عمران کښے یے اُوفرمائیل: وما اختلف الذین اوتوا الکتٰب الا من بعد ما جاءهم العلم بغیًا بینهم الآیة (ع ۲) د دے ایتونو نه معلومه شوه چه دا په مختلفو ډلو کښے د خلقو جُدا جُدا چلے جوړونکی باغی او ګمراه پیشوایان مُلایان او پیران وُو. زبرا، د زبور جمع ده چه د هغے معنیٰ دلته فرقه او ډله ده. زبرا ای فرقا وقطعا مختلفة (خازن ص۳۹ ج ۵)

۵۶ كُلُّ حِزْبٍ الخ دے مختلفو ډلو نه هره یوه ډله په خپل خود ساخته دین او عقیده باندے مطمئن ده خپل ځان په حقه او نور په باطله ګڼړی. والمراد انهم معجبون به معتقدون انه الحق (روح ص۴۳ ج ۱۸)

٤٢ فذرهم الخ دا د قریشو په مشرکانو باندے شکوی ده په طور د زجر. یعني د قریشو مشرکان هُم د هغه خلقونه کم نهٔ دی هغوی هُم د دِین په معامله کښے ډله بازی کړیده هغوی خالص شرك خپل دِین گنړي او بیا په دے خوشحاله هُم دی. وے فرمائیل چه د دلے واضحه او روښانه دلائلو باوجود هُم که چرے هغوی نهٔ مني نو تاسو هغوی لره د هغوی په حال پریږدئ. او هغوی تر هغه وخته پورے په غفلت کښے پراته پریږدئ چه کله مونږ هغوی لره اُونیسو هغه وخت به د هغوی د سترگو او د زړونو نه د غفلت پردے په خپله پورته شي. لیکن هغه وخت به د حق پیژندلو او منلو نه هیڅ فائده نهٔ وی.

٤٣ اَیَحۡسَبُوۡنَ الخ مونږ دے مشرکانو ته د دُنیا ټول نعمتونه ورکړیدی هغوی له په دے غلط فهمئ کښے پریوتل پکار نهٔ دی چه مونږ د دوی خیرخواه یُو او د دوی نه راضي یُو او د دوی د نیکو کارونو په بدله کښے دا هرڅهٔ ورکوو. بل لا یشعرون دا د یحسبون د مضمون نه اضراب دے. یعني داسے بالکل نهٔ ده. بلکه دا خلق کالانعام دی. داصل خبرے شعور نهٔ لری د ضد او عناد د وجے نه د دوی د مسلسل انکار په وجه د دوی په زړونو باندے د جباریت مُهر لگیدلے دے او د دوی نه د حقیقت احساس او شعور اختلے شویدے. دا د دُنیا نعمتونه خو مونږ هغوی ته د استدراج او امهال په طور ورکړیدی. یعني مونږ د هغوی واگے سستے کړیدی. چه بنه نافرمانئ اوکړئ او خپل ځان د پاره زیات نه زیات د جهنم سامان راجمع کړئ. بل لا یشعرون اضراب من قوله ایحسبون ای بل هم اشباه البهائم لا فطنة لهم ولا شعور فیتاملوا و یتفکروا أهو استدراج ام مسارعة فی الخیر فیه تهدید و وعید (بحر ص۴۱۰ ج ۶)

٤٤ اِنَّ الَّذِیۡنَ الخ د عذاب د دفع د پاره د سورت په شروع کښے چه د کومو درېو امورو ذکر شوے وُو دلته د هغے اعاده کړے شویده. رومبي اَیتونو کښے د هغه مشرکانو ذکر وُو کوم چه د دُنیاوی انعاماتو، مال اولاد او د مادی نفعو د وجے نه په دے غلط خیال کښے مُبتلا وُو چه الله پاك د هغوی نه راضي دے. په دے وجه په هغوی هر قسمه خیرات، برکات نازلوی. حالانکه دا دولت او مالداری هغوی د پاره خیرا و برکت نهٔ دے بلکه دا یو مصیبت دے. او س په دے اَیتونو کښے د هغه مؤمنانو ذکر اوکړو چه په صحیح معنو کښے د الله پاك برکتونه او نیکئ حاصلوی. نو ځکه چه په دے صفتونو سره متصف شی او هُم دا خلق به په اخرت کښے د الله د عذاب نه خلاصے مومي. اعلم انه تعالیٰ لما ذم من تقدم ذکره بقوله ایحسبون انما نمدهم به من مال و بنین نسارع لهم فی الخیرات ثم قال بل لا یشعرون بین بعده صفات من یسارع فی الخیرات و یشعر بذلك (کبیر ص۲۹۱ ج ۶) ان الذین هم من خشیته مشفقون کښے د الذین هم فی صلاتهم خشعون اعاده ده.

٤٥ وَالَّذِیۡنَ هُمۡ بِاٰیٰتِ رَبِّهِمۡ الخ په د یکښے د قد افلح المؤمنون اعاده ده. والذین هُم بربهم لا یشرکون کښے د هُمۡ عَنِ اللَّغۡوِ مُعۡرِضُوۡنَ اعاده ده. دلته د شرك نه بعضو شرك خفی (ریاء) مراد اخستے ده. لیکن د محققینو رائے دا ده. چه شرك عام دے خواه جلي وی یا خفی،

یعنی هغوی د الله سره هیڅ قِسمه شِرك نهٔ کوی نه شِرك اعتقادی او نه شِرك فعلی او نه په خپلو عملونو کښے رِیاء شاملوی. اختار بعض المحققین التعمیم ای لا یشرکون به تعالی شرکا جلیا ولا خفیا ولعله الاولیٰ (روح ص۶۲ ج ۱۸)

۵۱ والذین یؤتون الخ: په دیکښے د والذین هم لامٰنتهم وعهدهم راعون اعاده ده. یؤتون په معنیٰ د یفعلون او دا لفظ ټولو نیکو کارونو ته شامل دے. قال ابن عباس وابن جبیر هو عام فی جمیع اعمال البر کانه قال والذین یفعلون من انفسهم فی طاعة الله ما بلغه جهدهم (بحر ص۴۱ ج ۶) یعنی د الله په اطاعت او د خیر په عملونو کښے هغوی د خپل طاقت موافق حصه اخلی او کوم کار چه د کولو دے هغه کوی.

۵۲ وقلوبهم وجلة الخ هغوی د خپل طاقت مطابق د نیکئ په کارونو کښے په شوق او جذبے سره حصه هم اخلی لیکن د دے باوجود د اخرت د حساب نه ویریږی او هغوی سره د دے خبرے ویره وی چه نیکئ به یے قبولے شوی وی که نه؟ څنګه چه د نبی علیه السلام نه نقل دی. الذین یصومون ویصلون ویتصدقون وهم یخافون ان لا یقبل منهم اولٰئك الذین یسارعون فی الخیرات (قرطبی ص۱۳۲ ج ۱۲)

۵۳ اولٰئك یسٰرعون الخ: دا د پورته ذکر شوی صفتونو سره د متصف خلقو طرفته اشاره ده او دا د هغوی د پاره بشارت دے یعنی دا خلق بیشکه د دُنیا او اخرت برکتونه حاصلوی او د دوی عملونه به نهٔ ضائع کیږی. بلکه الله به یے قبول کړی. ځکه چه هغه د شرك جلی او خفی د خیری نه پاك دی.

۵۴ ولا نکلف الخ:- جمله معترضه ده د دُنیا او اخرت د برکتونو او خیراتونو د حاصلولو د پاره مونږ په چا باندے د هغهٔ د طاقت نه زیات تکلیف نهٔ اچوُو بلکه صرف دا وایُو چه د ټولو بدو کارونو نه ځان اُوساتئ. او د خپل طاقت موافق نیک عملونه کوئ. وَلَدَيْنَا كِتٰبٌ الخ کتاب اسم جنس دے او دینه عملنامے مراد دی او دا تخویفِ اُخروی دے یعنی مونږ سره د عملونو پوره ریکارډ موجود دے. په دے وجه ټولو ته به د هغوی د عملونو پوره پوره جزاء ملاویږی.

۵۵ بل قلوبهم الخ: دا د بل لا یشعرون نه هم ترقی ده. او ان الذین هم من خشیة ربهم مشفقون سره متعلق دے. یعنی دا خبره نه ده چه هغوی نهٔ پوهیږی بلکه پوهیږی لیکن د دے باوجود په غفلت کښے پراته دی او د شرك نوے نوے لارے پرانزی. مؤمنان خوهر وخت د الله نه په ویره کښے وی او د ټولو ګناهونو نه حتی الوسع ځان ساتی او د هر قسم شرك نه هم اُوسی. مشرکان په غفلت کښے ډوب شوی دی او د پورته ذکر شوُو نیکو کارونو نه لرے تښتی. هغوی له پکار وه چه د الله پاك نه ویریدلے د هغهٔ سره یے شرك نهٔ کولے او د نورو ټولو بدو کارونو نه یے ځان ساتلے

ولهم اعمال من دون ذٰلك الخ: لیکن په ځائ د دے چه هغوی توحید اُومنی او شرك پریږدی هغوی د شِرك نوی نوی رسمونه ایجاد کوی. په سورۀ حج کښے یے د غیر الله د

نذر او منتنې نه منع اوکړه او دلته یې د دغه مشرکانو بدي بیان کړه او وې فرمائیل چه د غیرالله نذر او منتنه پریښودل خو بو طرفته دا ظالمان خو نور هم څو قسمه شرک کوي.

۵۶ حتی اذا الخ: د دې ځائ نه واخله تر اذا هم فیه مبلسون پورې تخویفونه شکوې، زجرونه دي. حتی اذا اخذنا الخ. دا تخویف دُنیوي دې او د ماقبل دپاره غایت دې. دا مُشرکان به مسلسل په غفلت کښې ډوب پراته وي تردې چه مونږ د دوي رئیسان او سرداران په رسوا کوونکي عذاب کښې مبتلا کړو. دغه وخت به یې سترګې اُوغړیږي او هغوي به منډې وهي او عاجزي او زاري به کوي لیکن هغه وخت به د دې نه هیڅ فائده وانخلي. د عذاب نه مراد د بدر په ورځ د قتل او قید عذاب دې څنګه چه د ابن عباس رض او د نورو امامانو نه نقل شوې دي. والمراد بالعذاب ما اصابهم یوم بدر من القتل والاسر کما روي عن ابن عباس ومجاهد وابن جبیر وقتادة وقد قتل واسر في ذلك الیوم کثیر من صنادیدهم ورؤساءهم (روح ص ۵۲ ج ۱۸)

۵۷ قد کانت الخ: دا د ماقبل علت دې. تنکصون ای ترجعون، مستکبرین، د تنکصون فاعل نه حال دې د به ضمیر د قرآن مجید نه کنایه ده. کوم چه د اٰیتي نه مفهوم کیږي. سٰمرًا تهجرون مفعول به مقدم دې. د سامر نه واعظ او د قرآن قاري مراد دې. چاچه قرآن لوستلو او تاسو ته یې اورولو او د توحید تبلیغ کوي یعني تاسو به ستاسو مدد نه شي کولې ځکه چه مخکښې ستاسو دا حال وُو چه زمونږ اٰیتونه به تاسو ته اورولې شو نو تاسو به تکبر کولو او اٰیتونه اورولکي به مو پریښودهٔ او په پوندو به اوګرځیدئ.

۵۸ افلم یدبروا الخ: دا زجر دې دا خلق د حق نه انکار ولې کوي او په ضد باندې ولې ټینګ دي. ولې دې خلقو په قرآن کښې غور و فکر او نکړو او د توحید د مسئلې په حقیقت پوهه نه شو؟ ام جاءهم الخ یا دا مسئله د توحید څهٔ نوې خبره ده چه د دې دعوت د دوي پلارنیکهٔ ته هُم نه دې رسیدلې؟ ام لم یعرفوا الخ یا هغوي تر اوسه پورې د پیغمبر خُدا صلی الله علیه وسلم امانتداري او رښتینې وینا او ښو کارونو سره هُم هغه اُونه پیژندهٔ؟ ام یقولون به جنة یا یې هغوي په دې وجه نه مني چه هغوي عیاذًا بالله پیغمبر اسلام لیونې ګنړي؟ په دې اٰیتونو کښې د مشرکانو دپاره تاکیدي زجر او توبیخ دې. اوهر ځائ استفهام انکاري دې چه د دې سره د مُشرکانو د خیالاتو بدي ظاهرول مقصود دي. الهمزة لانکار الواقع واستقباحه (روح) پورته ذِکر شوُو اُمورو کښې یو هُم د مُشرکانو د انکار وجه نهٔ وه بلکه د اسمٰعیل علیه السلام په ذریعه د هغوي د پلار او نیکهٔ ته هُم د دوي نه مخکښې د دې دعوت رسیدلې وُو هغوي د نبي علیه السلام د دیانت او امانت او د هغوي صداقت ښهٔ پیژندلې وُو. او هغوي ته دا هُم ښه معلومه وه چه نبي علیه السلام ډیر زیات هوښیار دې او د اعلی درجې د عقل او فراست مالک دې. نو دې وجه د هغوي دا انکار اصل وجه ضد او حسد وُو او بُغض او عناد وُو. قال سفیان

بلیٰ قد عرفوه ولکنهم حسدوه (قرطبی صـ۱۲۰ ج ۱۲) ام یقولون به جنة جنون ولیس کذلك لانهم یعلمون انه ارجحهم عقلا واثبتهم ذهنا (مدارک صـ۹۵ ج ۳)

۵۵ بل جاءهم الخ دا د ماقبل نه اضراب دے یعنی زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا سے پیغام راوړیدے چه ټول حق دے او دا سے ثابت او ښکاره دے چه هر سړے پرے پوهیدے شي او دا هُم هغه حق پیغام دے چه پرُمبي ټولو نبیانو علیهم السلام په خپله خپله زمانه کښې خلقو ته رسولے دے. او د نبوت ورکولو سره د توحید پیغام سره قوم ته ورتلل زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د صدق او امانت واضحه دلیل دے. او بیا چه کوم سړے دا سے د حق پیغام پیش کړي چه د هغه تائید د عقلي او نقلي دلیلونو سره کیږي. هغه ته لیونے او مجنون ویل بالکل باطل دي. په دے وجه د حق د انکار وجه دا نه دي. واکثرهم للحق کرهون. د حق د انکار اصل وجه دا ده چه دے مشرکانو د توحید د مسئلے سره ضد دے او د حق بیانونکي حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره یے ضد دے. په دے وجه هغوی صرف د حسد او ضد د وجے نه انکار کوي. (جاءهم بالحق یعني القرآن والتوحید الحق والدین الحق (واکثرهم للحق کارهون) حسدا وبغیا و تقلیدا (قرطبی)

۵۶ ولو اتبع الحق الخ. دا زجر دے د دینه په ظاهره معلومیږي چه مشرکانو دا غوښتل چه حق د دوی د خواهشاتو تابع شي لیکن دا ناممکنه ده. په دے وجه مطلب دا دے چه هغوی دا غواړي چه حق دا سے شي څنګه یے چه هغوی وائي یعني د هغوی خواهشات د حق او نفس الامر مطابق وي. مثلاً هغوی وائي چه زمونږ معبودان کارساز دي لات مناة عزّیٰ وغیره په دُنیا کښې متصرف دي. د دُعا، د بللو او د نذر او منښتے مستحق دي. او د خدائ په نزد شفیع غالب دي. زمونږ دا عقائد د حق او مطلے شي. دا بالکل دا سے ده لکه چه الشعراء یتبعهم الغاون په ظاهره معلومیږي چه ګمراه خلق شاعرانو پسے روان وي. لیکن مقصود دا دے چه اکثر شاعران په خپله ګمراه وي. لکه چه د دے نه پس ارشاد دے الم تر انهم فی کل واد یهیمون وانهم یقولون مالا یفعلون دا دواړه خبرے په خپله د شاعرانو په باره کښې بیان کړے شویدي. دا شان دلته دوه خبرے بیانول مقصود دي. اول دا چه شاعران په خپله غاوي او ګمراه وي. دوېم دا چه کوم خلق د هغوی تابعداري کوي هغوی هُم ګمراه وي. د دے نه مؤمنان شاعران مستثنیٰ دي د چا په شاعرئ کښې چه د حق ترجماني وي. لفسدت السموٰت الخ: که چرے د دے مشرکانو خواهشات حق وے او د دوی د مرضئ مطابق د دے جهان نظم ونسق د یرو معبودانو او کارسازو ته سپارلے شوے وے نو د عالم ټول نظام به ګډ وډ او خراب شوے وُو. او د یو ساعت د پاره به هُم قائم نه وے پاتے شوے. څنګه چه بل ځائ ارشاد دے. لو کان فیهما الهة الا الله لفسدتا (انبیاء ع ۲) ای لو وافق الامر المطابق للواقع اهواءهم بان کان الشرك حقا لفسدت السموٰت والارض حسبما قرر فی قوله تعالیٰ لو کان

فیهما آلهة الا الله لفسدتا (روح ص ج ۱۸)

۷۱ بَلْ اَتَیْنٰهُمْ الخ د ذکر نه مراد قرآن دے چه په دُنیا او آخرت کښے د هغوی دپاره د شرف او فضیلت باعث دے. دا د هغوی ډیره زیاته بدبختی او بدنصیبي ده. چه کوم قرآن د هغوی دپاره د دُنیا او آخرت د برکتونو او خیرونو سرچشمه ده هغوی دد نه هم اعراض کوی. یا ذکر په معنیٰ د مذکور دے یعنی هُم هغه خبره چه هغه هغوی په خپلو کښے همیشه ذِکر کوی. یعنی د الله د وحده لا شریک کید و اقرار. ښکه چه په حدیث کښے راغلي دي چه مشرکانو به پخپله هُم د حج په تلبیه کښے وئیل. اللهم لبیك لا شریك لك الخ (سنن ابی داؤد) قرآن هُم د دوی د قول او اقرار نوره تشریح کړیده څه نوے خبره یے نه ده کړے نو د دے نه ولے اعراض کوی کوم چه هُم د دوی د خبرے وضاحت کوی. قاله الشیخ رحمه الله ښکه چه د ن صبا مشرکان هُم لا اله الا الله وائی لیکن چه کله د کلمے تشریح کولو سره د هغوی د ځان نه جوړکړے شوی کارسازانو نفي اوکړے شي نو جنګ ته تیار شي.

۷۲ اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ الخ او یا تاسو د دوی نه په دے وعظ او تبلیغ او تعلیم باندے څه اُجرت او تنخواه هُم نه غواړئ. او دوی ته د صراطِ مستقیم (تیغ لارے) طرف ته دعوت ورکوئ چه خالص د الله توحید دے دیو ناجائز او بد کار مطالبه هُم د دوی نه نه کوئ لیکن دد ے باوجود هغوی د حق نه انکار کوی. فخراج ربك خیر ستاسو د مُشرکانو دولت ته څه ضرورت دے. د توحید په دے تبلیغ باندے چه الله تعالیٰ کوم اجر تا ته درکوی هغه د دینه ډیر زیات بهتر او مُبارك دے. او رزق ورکوونکے الله تعالیٰ دے کوم پاکیزه او حلال رزق چه الله ستاسو په قسمت کښے لیکلے دے د هغے نه بهتر هیڅ خیز نشته. ای ما یعطیك الله من رزقه و ثوابه خیر (خازن و معالم ص ج ۸)

۷۳ ان الذین الخ: دے خلقو په زړونو کښے نه د خُدائي ویره شته نه د آخرت د حساب ویره په دے وجه هغوی په بنکاره د حق دین نه اعراض کوی. ولو رحمنٰهم نو د هغوی سرکشي او ضد دے حد ته رسیدلے دے چه که چرے مونږ په هغوی مهرباني اوکړو او هغوی ته د مصیبتونو نه خلاصے ورکړو نو هغوی د حق منلو په ځائ سرکشي ضد او عداوت او بُغض کینه کښے نور هُم مخکښے لاړ شي.

۷۴ وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ الخ: د ضمیر مفعول نه مُشرکان مراد دي او د عذاب نه هغه قحط مراد دے چه اُووۀ کالو پورے په مکه کښے په دوی مسلط وو. هوا القحط والجوع الذی اصابهم بدعاء رسول الله صلی الله علیه وسلم وهذا مروی عن ابن عباس و ابن جریج (بحر ص ج ۶) د هغوی د سرکشي او ضد او عناد انتهاء ده چه اُووۀ کالو پورے د قحط په سخت عذاب کښے مبتلا وو. لیکن بوځل یے هُم د الله په مخکښے عاجزي او زاري اونکړه.

۷۵ حَتّٰی اِذَا فَتَحْنَا الخ: د عذاب نه د آخرت عذاب یا جنګِ بدر یا د فتح مکے د ورځے عذاب مراد دے. او س خوبیے نه مني او ارادکوی چه د اسلام خلاف د دوی منصوبے کامیاب شي. لیکن چه کله مونږ په دوی باندے د دُنیا یا د آخرت د عذاب دروازے

پرانزدی. نو بیا به د اسلام صداقت مني او هغه وخت به د خپلو پروګرامونو د کامیابئ او د هرخیر نه نا اُمیده شي (روح) تر دے ځائ پورے اوله حصه ختمه شوه.

وَهُوَ الَّذِيٓ اَنْشَاَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ

او هغه چا پیدا کړیدي ستاسو دپاره غوږونه لاله او سترګے او زړونه

قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٨﴾ وَهُوَ الَّذِيْ ذَرَاَكُمْ فِي الْاَرْضِ

ډیر لږ تاسو حق منئ او هغه تاسو لره خواره کړیدي په زمکه کښے

وَاِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٧٩﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ وَلَهُ

او هغه ته به جمع کړے شئ او هم هغه دے چه ژوندي کوي او مړه کوي او د هغه

اخْتِلَافُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٨٠﴾ بَلْ قَالُوْا

کار دے بدلول د شپے او د ورځے ایا پس تاسو نه پوهیږئ؟ هیڅ غیره نشته دوي

مِثْلَ مَا قَالَ الْاَوَّلُوْنَ ﴿٨١﴾ قَالُوْٓا ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا

هم هغه خبره کوي څنګه چه وئیل به ړومبنو خلقو ﷲ وائي کله چه مونږ مړه شو او شو خاوره

وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿٨٢﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَ

او هډوکي نو ایا مونږ له بیا ژوندي پورته کیدل شته وعده کولے شي مونږ سره او زمونږ د

اٰبَآؤُنَا هٰذَا مِنْ قَبْلُ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٨٣﴾

پلارانو او نیکونو سره دا د مخکښے نه دي مګر نقلونه دي د مخکینو

قُلْ لِّمَنِ الْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهَآ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٨٤﴾

ته اووایه د چا ده زمکه ﷲ او څه چه په دیکښے دي اووایئ که تاسو پوهیږئ؟

سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَنْ

اوس به اووائي هرڅه د الله دي ته اووایه بیا تاسو فکر نه کوئ ته اووایه څوک دے

رَّبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿٨٦﴾

مالک د اُووُ اسمانونو او مالک د هغه لوئ تخت

سَيَقُولُونَ لِلّٰهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿۸۷﴾ قُلْ مَنْ بِيَدِهٖ

اوس به اووائي چه الله لره دي ته اووايه بيا تاسو نه ويريږئ ؟ ته اووايه دچا په لاس کښې

مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ

حکومت د هر څيز او هغه پناه ورکوي او د هغه نه څوک نشي پناه کيدے اووايئ که

تَعْلَمُونَ ﴿۸۸﴾ سَيَقُولُونَ لِلّٰهِ ۚ قُلْ فَأَنّٰى تُسْحَرُونَ ﴿۸۹﴾ بَلْ

تاسو پوهيږئ اوس به اووائي چه الله لره دي ته اووايه بيا په تاسو د چرته نه سحر شوے هيڅ

أَتَيْنٰهُمْ بِالْحَقِّ وَإِنَّهُمْ لَكٰذِبُونَ ﴿۹۰﴾ مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنْ وَّلَدٍ

نشته موږ دوی ته رسولے دے حق ﷺ او دوی خامخا دروغژن دی نشته نه دے جوړ کړے الله څوک زوی

وَّمَا كَانَ مَعَهٗ مِنْ إِلٰهٍ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلٰهٍۭ بِمَا خَلَقَ

او نه د هغه سره دچا حکم چليږی که داسے وے نو بوتلے به وو هر حکم والا خپل جوړ شوی شی لره

وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۚ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿۹۱﴾

او حمله به کړے وه يو په بل باندے پاک دے الله له دوی د جوړ کړے شوو خبرو نه

عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿۹۲﴾ ع ۱۵

پوهيدونکے دے په پټو او په ښکاره هغه ډير لوئ دے د هغو نه چه دوی ورله شريک جوړوی

نکات: ۱ د دويمے حصے شروع دا رومبے عقلی دليل دے ۱۲ ۲ شکوی ۱۲ ۳ دويم عقلی دليل ۱۲ ۴ دريم عقلی دليل ۱۲ ۵ څلورم عقلی دليل ۱۲

تفسير

دويمه حصه: د شرك اعتقادي په نفي باندے عقلی دليلونه يو تفصيلي او دريے على سبيل الاعتراف من الخصم. ۶۶ وهو الذي انشأ لكم الخ: رومبے تفصيلي عقلی دليل د پاره د نفي د شرك اعتقادي. د اوريدلو، ليدلو او د سوچ کولو قوتونه الله پاك ورکړيدي ليکن انسان نه د دے نعمتونو نه کار اخلی او نه د هغه شکر ادا کوی چه د توحيد دلائل اوويني واوري او په هغے کښے غور او فکر اوکړي او هغه تسليم کړي. د دے قوتونو صحيح استعمال د دے شکر دے. وَهُوَ الَّذِيْ ذَرَأَكُمْ الخ الله تعالى ټول انسانان پيدا کړل په زمکه کښے يے خواره کړيدي او د قيامت په ورځ به ټول انسانان د حشر په ميدان کښے د هغه په مخکښے جمع کولے شي وهو الذي يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ الخ: ژوند او مرګ د هغه په قبضه او اختيار کښے دے. او

د شپې ورځې اختلاف یعنې د شپې او ورځې تلل راتلل او د دے کمې زیاتے هُم دهغهٔ په تصرف کښے دے. افلا تعقلون آیا تاسو اوس هُم په دے حقیقت باندے نهٔ پوهیږئ چه کوم قادر او قیوم هرڅهٔ پیدا کریدی هر کس له یے د اُورېدو، لیدلو او د سوچ کولو قوتونه ورکړیدی، مرګ او ژوند او د عالَم ټول نظام چه د چا په قبضه کښے دے هغه د ټولو کارساز دے هغه وحده لاشریک دے په عبادت او رابللو کښے دهغهٔ سره څوک شریک نشته او هغه په حشر او نشر هُم قادر دے (افلا تعقلون) کنه قدرته وربوبیته ووحدانیته وانه لایجوز ان یکون له شریك من خلقه وانه قادر علی البعث (قرطبی ص۱۴۱ ج۱۲)

۵۳ بَلْ قَالُوْا الخ: دا شکوه ده دا خلق نهٔ صرف د توحید نه انکار کوی بلکه د مشرکانو پشان د حشر او نشر نه هُم انکار کوی. قالواء اذا متنا الخ: وائی چه کله مونږ مړهٔ شُو او خاؤرے سره خاؤرے شُو، نو بیا به دوباره څنګه راژوندی شُو. لقد وعدنا نحن الخ دا خبره صرف مونږ ته نهٔ وشلے کیږی. بلکه زمونږ پلارنیکهٔ ته هُم داوشلے شوے وُو چه تاسو به د مرګ نه روستو د قیامت په ورځ دوباره ژوندی کولے شئ. دا خو ټول باطل او دروغ دی چه په مخکینو خلقو کښے هُم دا شان اوریدل او وئیل راروان دی. د مشرکانو د دے قول په بطلان باندے الله پاک درے عقلی دلیلونه ذکر کړیدی او په هغے کښے یے داسے حقیقتونه ذکر کړیدی چه مشرکان هُم هغه تسلیموی. د دے دریواړو دلیلونو سره جرته چه د شرک اعتقادی نفی کیږی هلته د دے نه د حشر او نشر ثبوت کیږی.

۵۴ قُلْ لِّمَنِ الْاَرْضُ الخ دا دویم عقلی دلیل دے علی سبیل الاعتراف من الخصم. دا خبره منی چه زمکه او په زمکه کښے د اُوسیدونکی د ټول مخلوق مالک الله دے. قل افلا تذکرون. دوی ته او وایه چه بیا هُم تاسو نهٔ پوهیږئ چه کوم د ټولو مالک دے هغه د ټولو کارساز هُم دے. (افلا تذکرون) فتعلموا ان من فطر الارض ومن فیها کان قادرا علی اعادة الخلق وکان حقیقا بان لا یشرك به بعض خلقه (مدارک ص۹۵ ج۳) قل من رب السموٰت الخ دا دریم عقلی دلیل دے. علی سبیل الاعتراف من الخصم مشرکان دا هُم تسلیموی چه اووه آسمانونه او عرش عظیم د دے مالک هُم الله دے. قل افلا تتقون ظالمانو! د خدائ نه خولې. او ویریږئ چه کله یے تاسو منئ چه د ټولو کائناتو خالق او مالک صرف هغه دے. د دے نه واضح شوه چه د ټولو کارساز هُم صرف هغه دے - افلا تخافونه فلا تشرکوا به او افلا تتقون فی جحودکم قدرته علی البعث مع اعترافکم بقدرته علی خلق هذه الاشیاء (مدارک ص۹۶ ج۳) قل من بیده ملکوت الخ دا څلورم عقلی دلیل دے. علی سبیل الاعتراف من الخصم مشرکان د دے خبرے اقرار کوی چه د کائناتو د هر څیز مالک الله دے او هر څیز د هغهٔ په تصرف او اختیار کښے دے. وهو یجیر ولا یجار علیه او چا لره چه هغه او غواړی نو بچ یے کړی لیکن د هغهٔ څوک بچ کولو والا نشته. ای من اراد الله اهلاکه وخوفه لم یمنعه منه مانع ومن اراد نصره و امنه لم یدفعه من نصره وامنه دافع (قرطبی ص۱۴۵ ج۱۲) قل فانّٰی تسحرون نهٔ دوی ته

اووایه چه بیا ستاسو عقلونه ولے بیکاره شویدی. هرکله چه تاسو منئ چه قادر علی الاطلاق صرف الله تعالیٰ دے نو بیا دهغه عاجز مخلوق ولے کارساز گنړئ. ای فانی تخدعون و تصرفون عن توحیده وطاعته (خازن ص۳۳ ج ۵) ای کیف یخیل الیکم ان تشرکوا به ما لا یضر ولا ینفع (قرطبی)

۷۶ بَلْ اَتَیْنٰهُمْ دا د اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِیْرُ الْاَوَّلِیْنَ نه اضراب دے الخ دعقلی دلائلو بیا نولو نه پس د زجر په طورئے اُوفرمائیل چه د توحید مسئله او حشر نشر دروغو خبرے نهٔ دی بلکه حق دی. اوداسے په مضبوطو دلیلونو سره ثابت دی چه هر عقلمند پرے پوهیږی. او انهم لکذبون. ددے وجے نه مشرکان په خپله دعوٰی کښے دروغژن دی. والمراد بالحق الوعد بالبعث وقیل ما یعمه والتوحید ویدل علیٰ ذٰلک السیاق. (روح ص۵۹ ج ۱۸)

۷۷ مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ الخ. د توحید مسئله دلائلو سره ثابتولو نه روستو ئے دعوٰی په صراحت سره ذکر کړے شوی ده چه الله پاک کارساز او عالم الغیب دے او دهغه خو نائب نشته چه هغهٔ تهٔ ئے ما فوق الاسباب د تصرّف اجازت ورکړے وی. وما کان معه' الخ څنگه چه د الله تعالیٰ نائب څوک نشته د اشان په الوهیت کښے دهغهٔ شریک او حصه دار هم څوک نشته. څنگه چه کهٔ چرے د هغهٔ سره څوک شریک وے نو هغه به په خپل مخلوق او په خپل مُلک کښے خود مختار او متصرف وے. ولعلا بعضهم الخ او د هغوی په مینځ کښے به با قاعده د اقتدار او حکومت جنګ وے لیکن مونږ وینُو چه ټول عالم د الله د تصرف لاندے دے او دلته بل څوک متصرف نشته نو معلومه شوه چه هغه وحده لا شریک دے صرف هغه قادر، متصرّف، مختار او کارساز دے او هر څیز د هغهٔ په تصرف او اختیار کښے دے. واذا کان کذالک فاعلموا انه اله واحد بیده ملکوت کل شیء ویقدر علیٰ کل شیء (خازن ص۳۳ ج ۵)

۷۸ سُبْحٰنَ اللّٰهِ الخ لهٰذا الله تعالیٰ د دوی د شریک نه پاک دے عٰلِمِ الْغَیْبِ وَ الشَّهَادَةِ الخ: متصرف او کارساز هم صرف هغه دے او عالم الغیب هم هغه دے. لهٰذا هغه د هر شریک نه پاک او د عیب نه منزّه دے.

پ

قُلْ رَّبِّ اِمَّا تُرِیَنِّیْ مَا یُوْعَدُوْنَ ﴿۹۳﴾ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِیْ

ته اووایه اے ربه! کهٔ ته بنایئے ما ته هغه چه دوی سره ئے وعده شوی ده نو اے ربه! نو مه گرځوه ما

فِی الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۹۴﴾ وَاِنَّا عَلٰٓی اَنْ نُّرِیَکَ مَا نَعِدُهُمْ

کرځوے په دے گنهگارو خلقو کښے ۹۵ او زمونږ قدرت شته چه تا ته اُوښایو هغه چه د دوی سره

لَقٰدِرُوْنَ ﴿۹۵﴾ اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ السَّیِّئَةَ ؕ نَحْنُ

وهغه شوبیا یاڅه د بدي خبري په جواب کښې هغه او وایه کوم چه غوره ده ګڼه مونږ ښه

اَعْلَمُ بِمَا یَصِفُوْنَ ﴿۹۶﴾ وَ قُلْ رَّبِّ اَعُوْذُ بِکَ مِنْ هَمَزٰتِ

پیژنو کوم چه دوی بنائی او او وایه اے ربه زه ستا پناه غواړم د شیطانانو د

الشَّیٰطِیْنِ ﴿۹۷﴾ وَ اَعُوْذُ بِکَ رَبِّ اَنْ یَّحْضُرُوْنِ ﴿۹۸﴾ حَتّٰۤی اِذَا

وسوسو نه او ستا پناه غواړم اے ربه! د دے نه چه ما ته راشي ولا تر دے چه کله

جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ ﴿۹۹﴾ لَعَلِّیْۤ اَعْمَلُ

اوراسي په دوی کښې یو ته مرګ نو وبه وائي اے ربه! ما واپس ولیږه شاید چه زه نیکي

صَالِحًا فِیْمَا تَرَکْتُ کَلَّا ؕ اِنَّهَا کَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ؕ وَ مِنْ

اوکړم په هغه کښې چه ما پریښي دی هرګز داسے نه ده دا یوه خبره ده ګڼه چه دے یې وائي او د دے

وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰی یَوْمِ یُبْعَثُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ فَاِذَا نُفِخَ فِی الصُّوْرِ

خلقو په وړاندے یوه پرده ده تر هغې ورځې پورے چه پورته کړے شي ولا بیا چه کله پوکے وشي په

فَلَاۤ اَنْسَابَ بَیْنَهُمْ یَوْمَئِذٍ وَّ لَا یَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ فَمَنْ

شپیلۍ کښې نو نه به خپلولي وي ګڼه په دوی کښې په دغه ورځ او نه به د یو بل نه تپوس کوي ولا پس

ثَقُلَتْ مَوَازِیْنُهٗ فَاُولٰٓئِکَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ وَ مَنْ

د چا چه دروند شو تول د ده ګڼه نو دغه خلقو کار او شو او د چا چه

خَفَّتْ مَوَازِیْنُهٗ فَاُولٰٓئِکَ الَّذِیْنَ خَسِرُوْۤا اَنْفُسَهُمْ فِیْ

سپک شو تول د هغه نو دغه خلق دی چه تاوان یې اوکړو په نفسونو خپلو په

جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ وَ هُمْ فِیْهَا

دوزخ کښې به وي همیشه وبه سیزي ورله مخونه اور او دوی به پکښې بد شکله

کٰلِحُوْنَ ﴿۱۰۴﴾ اَلَمْ تَکُنْ اٰیٰتِیْ تُتْلٰی عَلَیْکُمْ فَکُنْتُمْ بِهَا تُکَذِّبُوْنَ ﴿۱۰۵﴾

شوي وي ولا ایا تاسو ته نه او رولے کیدل زمونږ ایتونه ګڼه بیا تاسو هغې له دروغژن ګڼل

قَالُوْا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَیْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَآلِّیْنَ ﴿۱۰۶﴾

وُبه وائي اے ربه! زور اوكړو په موږ باندے زموږ كم بختئ او وُو موږ خلق بے لارے

رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْهَا فَاِنْ عُدْنَا فَاِنَّا ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ قَالَ

اے زموږ ربه! اُوباسے موږ د دینه كه موږ بیا اوكړو نو موږ به ګنهګار یُو وُبه فرمائي

اخْسَـُٔوْا فِیْهَا وَلَا تُكَلِّمُوْنِ ﴿۱۰۸﴾ اِنَّهٗ كَانَ فَرِیْقٌ مِّنْ

پراته اُوسئ په دې كښې زیان كاره او ما سره خبرے مكوئ بیشكه وه یوه فرقه زما په

عِبَادِیْ یَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ

بندګانو كښے چه وئیل به یے اے زموږ ربه! موږ یقین اوكړو پس ذُ بخښے موږ ته او رحم اوكړه په موږ

خَیْرُ الرّٰحِمِیْنَ ﴿۱۰۹﴾ فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِیًّا حَتّٰۤى اَنْسَوْكُمْ

او ته د ټولو رحم كونكو نه غوره یے پس تاسو هغو لره اونیول په مسخره سره تر دے چه هیر موكړو

ذِكْرِیْ وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ اِنِّیْ جَزَیْتُهُمُ الْیَوْمَ

یاد زما او وئ تاسو په هغوی پورے خندا كونكي ما ن بدله وركړه هغوی ته

بِمَا صَبَرُوْٓا ۙ اَنَّهُمْ هُمُ الْفَآىِٕزُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِی

د هغوی صبر له چه هغه دی مراد ته رسیدونكي وئیل تاسو څو مره وخت پاتے

الْاَرْضِ عَدَدَ سِنِیْنَ ﴿۱۱۲﴾ قَالُوْا لَبِثْنَا یَوْمًا اَوْ بَعْضَ یَوْمٍ

شوی ئ په زمكه كښے په شمیر د كلونو وُبه وائي پاتے شوی یُو موږ یوه ورځ یا د ورځے نه څه

فَسْـَٔلِ الْعَآدِّیْنَ ﴿۱۱۳﴾ قٰلَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِیْلًا لَّوْ اَنَّكُمْ

كم نو ته تپوس اوكړه د شمیر كونكو نه وُبه وائي تاسو نه یئ پاتے شوی مګر لږ كه تاسو

كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّ

پوهیدئے ایا ستاسو دا خیال دے چه موږ تاسو لره جوړ كړی یئ عبث

اَنَّكُمْ اِلَیْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱۵﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ

او تاسو به موږ ته واپس راننه شئ ف پس ډیر لوئ دے الله هغه بادشاه حق دے

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ ﴿۱۱۶﴾ وَمَنْ يَّدْعُ

نشته معبود دهغهٔ نه سوا مالک دے د عزتمند تخت او څوک چه بلی الله

مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۙ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ ۙ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ

د الله سره بل معبود دلیل یې ورسره نه وی پس دده حساب دے

عِنْدَ رَبِّهٖ ۚ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ

دده د رب په نزد بیشکه فلاح نهٔ مومی منکران او ته او وایه اے ربه! ته معاف

وَارْحَمْ وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۱۸﴾

اوکړے اورحم اوکړے او ته یې غوره د ټولو رحم کوونکو نه.

نکات: ۱ تخویف دُنیوی ۲ د تبلیغ طریقه ۳ تخویف اُخروی ۴ تخویف اُخروی ۵ بشارتِ اُخروی ۶ زجر ۷ ادخالِ الٰهی ۸ د سورت خلاصه

موضح قرآن

ف۱ یعنی دد دُنیا په عذاب کښے ما مه شامِلوه. ف۲ د شیطان وسوسه داده چه په دِینی سوال او جواب کښے بے موقعے سرے غُصه کړی او په جنګ جګړه کښے اخته کړی. ددے وجے نه یے اُوفرمائیل چه د بد و جواب په ښو خبرو ورکړه.

ف۳ معلومه شوه چه کوم خلق وائی چه سړے مړشی بیا واپس راځی دا قول غلط دی. د قیامت په ورځ به راپاسی دهغے نه مخکښے هرګز نه شی.

ف۴ یعنی پلار ځوئ یو بل ته شامل نه وی بلکه د هر یو سره دهغهٔ د عمل حساب دے.

ف۵ سوزیدلو سره به یے بدن اُو پرسیږی لاندینئ شونډه به یے تر نامه پورے او پاسنئ به یے تر کوپړئ رسیدلے وی او ژبه یې په زمکه راخکلے شی خلق به پرے ګرځی.

ف۶ یعنی د فرښتو نه چاچه نیکی او بدی شمارلے ده دا به یے هُم شمارلے وی چه په زمکه کښے مونږ څومره وخت تیر کړو یعنی په قبر کښے یا د دُنیا په ژوند کښے دا به هُم هلته د ډیر لږ په نظر راځی دا تپوس به ددے دپاره وی چه په دُنیا کښے به یے د عذاب را تللو ډیره جلتی کوله او س هغه ډیر په جلتئ سره ورا ورسید ؤ.

ف۷ یعنی په دُنیا کښے خو د نیکئ او بدئ اثر نهٔ ملاویدهٔ. که چرے بله ورځ (د آخرت) هُم نه وی د بدلے دپاره نو بیا خو به دا ټولے لوبے وی.

تفسیر

۱۱۶ قُلْ رَّبِّ لخ. تخویفِ دُنیوی دے. نبی علیه السلام ته حکم ورکړے شو چه تاسو د الله نه دا سے دُعا اُوغواړئ اے الله! چه دکوم عذاب وعده تاسو ددے انکار کوونکو (کافرانو) سره کړیده که چرے هغه عذاب ځما په ژوند کښے په دوی نازل شی نو اے ځما پرورد ګاره! ما دهغے نه بچ کړے. دا دهغے عذاب

د سختۍ او د قباحت د اظهار د پاره او وئيلے شو کنې نو نبي عليه السلام خو د هغے عذاب نه محفوظ وُو دے د پاره چه ظاهره شي چه هغه عذاب به دومره سخت او دردناک وي چه هر چا له د هغے نه پناه غوښتل پکار دي. (روح) وإنا على أن نريك الخ. د کوم عذاب نه چه مونږ هغوي ويرولے دي هغه مونږ ستا سو په ژوند کښې په دوي باندے مسلط کولے شو زمونږ قدرت او طاقت شته دے. ليکن مونږ به عذاب روستو کړو دے د پاره چه څينے خلقو به دوي کښې ايمان راوړي.

٩٦ ادفع بالتي الخ. دا د تبليغ د طريقے تعليم دے. وے فرمائيل چه مشرکان اګر چه په سخته لهجه او په سختو خبرو سره ستا سو دعوت رد کوي او ستا سو دعوت ته اساطير الاولين (د مخکښنو خلقو د دروغو قصے) وائي ليکن بيا هم تا سو د دے خلقو جواب په نرم کلام او په ښو اخلاقو سره ورکړئ ليکن مسئله ښه واضحه او دلائلو سره بيان کړه. نحن أعلم بما يصفون يا في هغوي چه څه وائي هغه ټول مونږ ته معلوم دي د هغے پوره پوره سزا به هغوي ته ملاويږي.

٩٧ وقل رب الخ. د توحيد بيا نولو په وخت تا سو د شيطاني وسوسو نه په الله سره پناه اوغواړئ دا شان د دے نه هم پناه اوغواړئ چه شيطانان ما ته راشي او ما په اعمالو او افعالو کښے څه اثر اوکړي. حتى إذا جاء الخ دا تخويف اخروي دے دا مشرکان خو اوس په غفلت کښے دي او په انکار باندے ټينګ ولاړ دي. ليکن چه کله د مرګ فرشته راشي او دوي خپل انجام په خپلو سترګو اووينی نو اوس به الله پاک ته بيا بيا درخواست کوي چه اے الله! اوس ما دُنيا ته واپس اوليږه ما چه په دُنيا کښے کوم غلطيانے کړيدي د هغے په ځائ به نيکئ اوکړم او ستا توحيد به اومنم تا سره به هرګز شرک نه کوم او ستا په پيغمبر به ايمان راوړم. ارجعون جمع د تکرار د پاره ده. اي ارجعني ارجعني يعني هغه به بيا بيا دا وائي. څنګه چه پل ځائ ارشاد دے ألقيا في جهنم. دا خطاب واحد سره دے او تثنيه د تکرار د پاره ده. اي الق الق دا شان دا امراء القيس قول دے ع قفا نبك من ذكرى حبيب ومنزل. اي قف قف ارجعون على جهة التكرير اي ارجعني ارجعني (قرطبي ص ۱۴۹ ج ۱۲)

١٠٠ كلا الخ كلا د ردع کلمه ده يعني داشان به هرګز نشي کيدے د هغوئ دا خيال غلط او دا اُميد باطل دے چه اُوس به هغه دوباره دُنيا ته اوليږلے شي د حسرت او ندامت د وجے نه به هغه دا خبره کوي مګر بے فائدے به وي. ومن وراءهم برزخ الخ د هغوي د مرګ نه روستو دُنيا ته واپس راتلل ناممکن دي ځکه چه هغوي به عالم برزخ کښے داخل شويدي د عالم برزخ زمانه د مرګ نه تر قيامته پورے ده چه په دُنيا او اخرت کښے حائل او پرده ده. کوم انسان چه هغه عالم ته اُورسيدو اوس دُنيا طرفته د هغه واپسي ناممکن ده.

١٠١ فإذا نفخ في الصور الخ. تخويف اُخروي دے د نفخ نه نفخ ثانيه مراد ده چه کله ټول خلق د قبرونو نه ژوندي راوُځي هغه وخت به عالم برزخ ختم شي او د عالم اخرت

ابتداء به وي په دُنیا کښے خلق په خانداني وجاهت باندے فخر کوي د یو بل خاندان
نپوس کوي لیکن په هغه جهان کښے به د نسلي امتیاز هیڅ قدر او قیمت نهٔ وي او نهٔ به
څوک د بل نه نپوس کوَلے شي چه تهٔ د کوم خاندان سره تعلق لرے هلته به هیڅ رشته
پکار نهٔ راځي او نهٔ به د خانداني فخر او غرور څهٔ فائده وي.

۸۴ فَمَنْ ثَقُلَتْ الخ: دا بشارتِ اُخروي دے. وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ دا تخویفِ اُخروي
دے هلته به نسلي او خانداني لوئي والے او شرافت پکار نهٔ راځي بلکه نیک کارونه به پکار
راځي د چا د نیکو کارونو تله چه درنه وي هغه به خلاصے بیا مومي او د چا چه سپکه وي هغه به
تاوان کښے وي او جهنم ته به ځي. تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ الخ: د جهنم اور به د دوزخیانو مخونه
اُوسیزي او د هغوي شکلونه به سوزیدو سره بدرنګه او قبیح شي.

۸۵ اَلَمْ تَكُنْ الخ: دا زجر دے او د دینه مخکښے یقال لهم مقدر دے کله چه هغوي
جهنم ته واچولے شي هغه وخت به د الله د طرفه فرښتے دوي ته او وائي آیا به دُنیا کښے
خما آیتونه تاسو ته اُورولے نهٔ شو، او تاسو به د هغے نه انکار کولو؟ قَالُوْا رَبَّنَا الخ په جواب
کښے به هغوي او وائي اے زمونږه ربه! زمونږه بدبختي په مونږ باندے غالبه شوه او مونږ
ګمراه شو. زمونږ پروردګاره! یوځل مونږ د دوزخ نه اُوباسه او د عمل کولو موقعه اکړه.
که اوس هم مونږ هغه شان بد کارونه اوکړل نو واقعي چه مونږ به ظالمان یُو. بیا چه څنګه
ته غوارے مونږ ته عذاب راکړه. قَالَ اخْسَئُوْا الخ د الله د طرفه به آواز راشي چه لرے
شئ او خبرے مهٔ کوئ. دا د سپکاوي کلمه ده څنګه چه سپے شړلے کیږي د غسے به
دوي اُوشړلے شي.

۸۶ اِنَّهٗ كَانَ الخ: دا ادخالِ الٰهي دے او جمله د ما قبل د پاره علت دے تاسو ته دا
سزا د دے د پاره درکولے شي چه تاسو په عناد او سرکشئ کښے انتهاء ته رسیدلي وئ تاسو به
حق دِین پورے استهزاء کوله تردے چه کوم خلقو ایمان راوړے وُو هغوي پورے به مو
ټوقے کولے کوم کمزورو مؤمنانو لکه بلال، صهیب او خبیب وغیرهم رضی الله عنهم به
چه د الله نه مغفرت او د رحمت دُعا کانے کولے د قریشو دے سردارانو ابوجهل وغیره به
هغوي پورے ټوقے کولے. دے فرمائیل چه د حق نه انکار او حق منونکو پورے ټوقو
تاسو په عذاب کښے اخته کړي یئ. حَتّٰى اَنْسَوْكُمْ الخ: یعني د ے ایمان والو پورے ټوقو
او دُشمنئ کښے داسے مشغول وئ چه هُم دا څیز ستاسو د پاره خما د ذکر او خما د توحید
منلونه د نسیان (هیرے) سبب ګرځیدلے دے. ای اشغلتم بالاستهزاء بهم عن ذکري.
(قرطبي ص ۱۵۵ ج ۱۲) د دینه معلومه شوه چه د الله توحید منونکي او د توحید تبلیغ کونکي
سپک ګنړل او په ټوقو مسخره سره د هغوي د ذلیله کولو کوشش کول د الله د غضب
او د اخرت د عذاب سبب دے.

۸۷ اِنِّيْ جَزَيْتُهُمُ الخ: تاسو خپل حال خو اُولیدهٔ چه په عذاب کښے اخته یئ د دے
غریبانانو مسلمانانو حال هم واورئ چا پورے به چه تاسو ټوقے کولے او د چا په باره

کښې چه به ستاسو دا خیال وُو چه الله پاک به هغوی ته هیڅ مرتبه ورنکړی نن ما هغوی ته د صبر او تحمل په بدله کښې پوره پوره جزا ورکړیده او نن هغوی خوشحاله او راضی دی او کامیاب او کامران دی.

۸۲ه قَالَ كَمْ لَبِثْتُمْ الخ: کوم کافران به چه دُنیا ته دواپس تلو ارزو کانے کوی د هغوی نه به د قیامت په ورځ تپوس اوشی چه اُوښایئ تاسو په دُنیا کښې څومره کاله پاتے شوی وئ. قَالُوْا يَوْمًا الخ: هغوی به اووائی چه مونږ خو داسے معلومیږی چه یوه ورځ یا د دے نه هم کم پاتے شوی یُو. اے زمونږه ربه! د سختئ ویرے او دعذاب د وجے مونږ هرڅه هیرکړیدی مونږ ته هیڅ یاد نهٔ دی د فرښتو نه تپوس اوکړئ چه د انسانانو عمرونه به یے لیکل هغوی ته به ښه معلومه وی. الملئكة العادين لاعمار العباد واعمالهم (روح ص ج ۱۸)

۸۳ه قَالَ إِنْ لَبِثْتُمْ الخ: الله پاک به په جواب کښې اوفرمائی بیشکه تاسو د اٰخرت په مقابله کښې په دُنیا کښې ډیر کم وخت تیر کړیدے. لَوْ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ لیکن افسوس چه تاسو د دغه کم وخت قدر اونکړو او تاسو ترهیڅ فائده وانخستله دُنیا ته چه تاسو دوباره لاړشئ نو تاسو به څهٔ اوکړئ.

۸۴ه اَفَحَسِبْتُمْ الخ: دا زجر دے چه په دُنیا کښې تاسو داسے غافله وئ او سرکشی موکوله لکه چه تاسو به په دُنیا کښې همیشه اُوسئ او هیڅکله به هم زمونږ په مخکښې نهٔ حاضریږئ. ستاسو دا خیال وُو چه مونږ تاسو بغیر د څهٔ حکمت نه پیدا کړی یئ. او تاسو زمونږ د اوامرو او نواهیو نه بالکل اٰزاد یئ.

۸۵ه فَتَعٰلَى اللّٰهُ الخ: دا د سورة خلاصه ده او په سورة کښې د ټولو بیان شوو عقلی او نقلی دلائلو نتیجه او ثمره ده. یعنی الله پاک چه د ټولو کائناتو مالک او حقیقی بادشاه دے. هغه د ټولو نړیکانو نه پاک دے. د عیب نه منزه او د عبث کار کولو نه د هغهٔ شان اوچت دے. هغه د ټول عالم کارساز او په ټول جهان کښې متصرف او مختار دے د هغهٔ نه سوا بل څوک کارساز او حاجت روا نشته. او نهٔ د هغهٔ نه سوا څوک د دُعا، د بللو او د نذرونیاز مستحق شته. ای تنزه وتقدس الله الملك الحق عن الاولاد والشركاء والانداد الخ (قرطبی ص ج ۱۲) لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الخ: د هغهٔ نه سوا څوک کارساز او مشکل کشا نشته. او هغه د عزت والا عرش مالک دے کوم چه په ټول جهان باندے احاطه کړے دے.

۸۶ه وَمَنْ يَّدْعُ الخ: دا تخویف اُخروی دے کوم خلق چه د الله نه سوا نور کارساز او مُشکل کشا گنړی او اواز ورته کوی. حالانکه د غیر الله الوهیت د کوم دلیل او بُرهان نه ثابت نهٔ دے. الله پاک به د داسے خلقو محاسبه کوی او سخته سزا به ورکوی او داسے کافر او مشرک به بالکل د الله د عذاب نه بچ نهٔ کړے شی. ثم ذكر ان من كان بهذا لك لجزاءه العقاب العظيم بقوله فانما حسابه عند ربه كانه قال ان عقابه ابلغ الى حيث

لا یقدر احد علی محاسبه الا الله تعالیٰ (کبیر ص۳۰۹ ج ٦) د سورت په شروع کښې یې اوفرمائیل قد افلح المؤمنون او په اخر کښې یې اوفرمائیل انه لا یفلح الکفرون ایمان والا به کامیاب وی او کافران او مشرکان به بالکل کامیاب نه شی په اخر کښې یې بنی یکا نو ته د مغفرت او رحمت د غوښتلو تلقین اوکړو.

۸۵ وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ الخ په اخر کښې نبی علیه السلام ته د مغفرت او رحمت طلب کولو حُکم ورکړے شو ځکه چه د عفو او درګزر او د رحمت نه هیڅوک بې نیازه کیدے نه شی. او هُم دا دوه څیزونه دی چه د دے په ذریعه انسان د الله پاک د عذاب نه محفوظ پاتے کیدے شی. لان رحمته اذا ادرکت احدا اغنت عن رحمة غیره ورحمة غیره لا تغنیه عن رحمته (مدارک ص۱۰۰ ج ۳)

په سُورهٔ مُؤمنون کښې د توحید ایتُونه او د هغې خصوصیات

① قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ .... نه تر.... هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ٥ د الله د عذاب نه د بچ کیدو د پاره د دریو اُمورو بیان.

② وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ .... نه تر.... وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ٥ (ع ۱) د شرک فی التصرف په نفی باندے عقلی دلیلونه.

③ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا .... نه تر.... اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ٥ (ع ۲) نفی د شرکِ اعتقادی.

④ يٰۤاَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ .... نه تر.... اِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ٥ (ع ۴) نفی شرک فعلی

⑤ اِنَّ الَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ .... نه تر.... وَهُمْ لَهَا سٰبِقُوْنَ (ع ۴) د عذاب د دفع کولو د پاره د درے اُمورو اعاده.

⑥ وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ اَهْوَآءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ د غیر الله نه د کارسازئ نفی.

⑦ وَهُوَ الَّذِيْۤ اَنْشَاَ لَكُمُ السَّمْعَ .... نه تر.... اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ٥ (ع ۵) د شرکِ اعتقادی نفی.

⑧ قُلْ لِّمَنِ الْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهَاۤ .... نه تر.... قُلْ فَاَنّٰى تُسْحَرُوْنَ ٥ د شرکِ اعتقادی په نفی باندے درے عقلی دلائل په طریقه د اعتراف من الخصم

⑨ مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنْ وَّلَدٍ .... نه تر.... فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ نفی د شرک فی التصرف.

⑩ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ .... نه تر.... وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ (ع ۶) د هر قسمه شرک نفی

سُوْرَةُ نُوْر

ربط :- دسورة نُور د سورة مؤمنون سره اسمي ربط دا دے : چه د سورة مؤمنون په شروع کښے یے اُوفرمائیل : قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ یعني ایمان والا به کامیاب وي او په سورة نور کښے یے اُوفرمائیل اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الخ دالله په توحید سره ټوله دُنیا رَوښانه ده اَو آباده ده. او ایمان والؤ ته به فوز اوفلاح صرف د توحید دد ے نُور په وجه حاصل شی۔

معنوي ربط دا دے په سورة مؤمنون کښے په عقلي او نقلي دلائلو سره ثابته کړے شوه چه د الله نه سوا هیڅوك کارساز او حاجت رَوا نشته په دے وجه په حاجتونو او مُشکلاتو کښے صرف هغه ته اَواز کوئ اوصرف د هغه په نوم نذر او منتے ورکوئ، د هغه نه سوا بل څوك د رابللو لائق نشته او نه د هغه نه سوا څوك د نذر او منتے حقدار شته. دا مضمون د سورة مُؤمنون په اَخري اَیتونو کښے په طور د خلاصے دا شان بیان کړے شوے دے. فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ... نه تر... اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ اوس به په سُورة نُور کښے دا ذکر کیږي. چه دد ے توحید د مسئلے نه د ضد او ناخوښئ د وجے نه به مخالفین (کافران او منافقان) د توحید داعي صلی الله علیه وسلم په مختلفو طریقو سره د بد نامولو کوشش کوي. د دے د پاره چه د مسلمانانو اعتماد پورته شی او هغوی بدګمانه شي او د نبي علیه السلام تابعداري پریږدي او د توحید د مسئلے نه انکار وکړي. په دے سورت کښے الله پاك د نبي علیه السلام د پاکے بي بي عائشے رضي الله عنها د هغه دروغو تُهمت نه د طهارت او براءت اعلان کړیدے کوم چه منافقانو د نبي علیه السلام د عزت داغداره کولو د پاره د خپل ځان نه جوړ کړے وُو۔

خُلاصه :- دسورة نُور دوه حصے دي ړومبئ حصه د سورة د شروع نه تر د اووم رکوع اخر وَلَبِئْسَ الْمَصِيْرُ پورے ده. او د مضامینو خلاصه دا ده. تمهید ترغیب الی القران، د معاشرے د اصلاح د پاره څلور احکام، په تُهمت لګونکو باندے زجرونه، بیا د معاشرے د اصلاح د پاره شپږ قوانین، د توحید دعوٰي چه د هغے د دُشمنئ نه منافقانو تُهمت اُولګولو. د توحید په دعوٰي باندے یو نقلي دلیل او درے عقلي دلیلونه. دویمه حصه د رکوع ۸ شروع یٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِيَسْتَاْذِنْكُمُ نه واخله تر د سورة اَخره پورے ده. د مضامینو خلاصه دا ده چه د معاشرے د اصلاح د پاره درے قوانین، د مخلصینو او منافقینو د اعمالو تقابل، اَداب د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د توحید د دعوے دویم ځل ذِکر د کوم په وجه چه منافقانو تُهمت اُولګولو۔

رومبئ حِصّه

د سُورة په شروع کښے سورة انزلنها وفرضنها الخ تمهید سره د ترغیب دے۔ دا ترغیب په مخکښے دو باره بیا راځي۔
دے نه پس د زِنا او د زنا د تُهمت نه د معاشرے پاکولو د پاره یے څلور احکام ذکر کړیدی۔ رومبے حکم الزانیة والزانی فاجلدوا الخ د زانی او زانیے سزا۔ دویم حُکم الزانی لا ینکح الا زانیة او مشرکة الخ او د فاحِشو ښځو د اخلاقي کمزورئ ذکر۔ دریم حُکم والذین یرمون المحصنٰت الخ په پاک لمنه ښځو باندے د دروغو تُهمت لګونکو سزا. څلورم حکم والذین یرمون ازواجهم الخ په خپلو بیبیانو باندے د تُهمت لګونکو حُکم۔
دے نه روستو د ان الذین جآءو بالافك (۲۶) نه تر وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ (ع ۳) پورے د تهمت لګونکو، په تهمت کښے معمولي حصّه اَخِستونکو او د تُهمت خبرے اوریدو نه پس په هغے چُپ پاتے کیدونکو او د هغے تردید نه کونکو د پاره زجرونه دي۔ اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْا بِالْاِفْكِ الخ دا د هغه منافقانو د پاره زجر دے چا چه دا تُهمت د ځان نه جوړ کړے وو او لګولے وو. لَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ ظَنَّ الخ دا د هغه مُسلمانانو د پاره زجر دے چا چه بالکل خاموشي اختیار کړه، نه یے د تُهمت لګونکو تاشیں اوکړو او نه تردید۔ اِذْ تَلَقَّوْنَهٗ بِاَلْسِنَتِكُمْ .... نه تر .... واللہ علیم حکیم دا د هغه مُسلمانانو د پاره زجر دے چه د دے منافقانو د خبرو نه متأثره شول او د هغوی د ژبو نه هم څه نامناسبه الفاظ او وتل۔ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ اَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةُ الخ دا د رومبئ ډلے د پاره دُنیوی او اُخروی تخویف دے۔ ولا یأتل اُولوا الفضل الخ: کوم مُسلمانان چه په تُهمت کښے ملوّث شول د توبے نه پس هغوی سره د ښه سُلوك جاری ساتلو ترغیب۔ ان الذین یرمون .... نه تر .... هوالحق المبین د رومبئ ډلے د پاره تخویفِ اُخروی دے۔ د دیته روستو الخبیثٰت للخبیثین الخ کښے د بدو او ښو خلقو د کردار او د هغوی د عادت ذکر کړے شویدے۔ د دیته روستو د معاشرے د اِصلاح او پاکولو د پاره شپږ قوانین او ضابطے بیان کړے شویدی اول قانون يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا الخ (ع ۴) چه کله د بل چا کور ته داخلیدل غواړئ نو اول اجازت اوغواړئ بغیرِ اجازت نه د چا کور ته مه داخلیږئ. لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ الخ: لیکن چه کوم کور کښے څوك نه اوسیږی بلکه د عوامي کاروبار د پاره وی مثلاً سرائے، دُکانونه او هوټلونه وغیره، هغے ته د داخلیدو د پاره د اجازت اَخستلو ضرورت نشته. دویم قانون قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ الخ: ایمان والا د خپل نظرونه څکته ساتي دے د پاره چه د محرم ښځو د مخونو او د هغوی د زینت لیدلو نه د دوی نظرونه محفوظ پاتے شي او هغوی د بدکارئ د فتنے نه بچ پاتے شي۔ دریم قانون قل للمؤمنات یغضضن من ابصارهن الخ: په دے کښے د ایمان والا ښځو ته څلور هدایات ورکړے شویدی۔ (۱) خپل نظرونه څکته ساتئ (۲) د خپلو شرمګاهونو حفاظت کوئ (۳) ولا یبدین زینتهن الخ خپل زینت او د بدن قابل ستر حصے مه ښکاره کوئ۔ بلکه پټ یے وساتئ

لیکن د خپل محرم رشته دارانو په مخکښې لا سونه، خپې، مخ او کالی وغیره ظاهرولے شي او (۴) ولا یضربن بارجلهن الخ د تللو په وخت په زمکه خپې په مزه پردې. دسے د پاره چه د کالو آواز غیر محرم وانهٔ وری. څلورم قانون: وانکحوا الایامی منکم د کونډو و نجونو او وینځو نکاح اوکړئ او هغوی د نکاح نه مهٔ منع کوئ. پنځم قانون والذین یبتغون الکتٰب الخ. ستاسو چه کوم غلامان او وینځے مکاتب کیدل او غواړي که چرے تاسو په کښے بهتری اُوینئ نو هغوی مکاتب کړئ. شپږم قانون ولا تکرهوا فتیٰتکم علی البغاء الخ خپلے وینځے په بدکارئ باندے مهٔ مجبوروئ. یا دا د وینځو د نکاح نه د منع کولو ممانعت دے. په دے صورت کښے به دا د قانونِ رابع دیوے حصے تاکید وی. وَلَقَدْ اَنْزَلْنَاۤ اِلَیْکُمْ اٰیٰتٍ الخ: دا د ترغیب اعاده ده کوم چه د سورت په ابتداء کښے ذکر شو او تخویفِ دُنیوی دے.

اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الخ (۵۶) په دیکښے د توحید د دعوے یو مثالی صورت ذکر کړے شوے دے. الله پاك د ټول جهان مالك او کارساز دے د هغهٔ د صفاتِ کارسازئ او د صفاتِ الوهیت په وجه سره ټول جهان قائم او آباد دے. مخکښے د توحید په دعوی باندے یو نقلی دلیل او درے عقلی دلیلونه پیش کړے شوی دی. فی بیوتٍ اذن الله الخ دا چه څوك الله تعالیٰ متصرّف او کارساز منړی او باطل معبودان د الله سره نهٔ شریکوی هغوی د پاره دلیلِ نقلی دے. والذین کفروا اعمالهم کسراب الخ: دا د دلیلِ نقلی متعلق دیوے شبهے جواب دے یعنی د الله عبادت خو مُشرکان هم کوی. په دیکښے د مُؤمنانو کوم خصوصیت دے. نو دے فرمائیل مشرکان چونکه د الله سره شریکان جوړوی. د دے وجے نه د دوی عملونه بے فائدے او ضائع دی. الم تران الله یسبح له الخ (۶۳) د توحید دعوی چه په الله نور السمٰوٰت کښے ذکر شویده په هغے باندے اوّلنے عقلی دلیل د زمکے او اسمان ټول مخلوق خواه ذوی العقول وی یا غیر ذوی العقول، د الله پاك حمد او ثنا او د هغهٔ د وحدانیت اقرار کوی او د هر قسمه شرك نه د هغهٔ پاکی بیانوی. او د هغهٔ د تنزیه اعلان کوی. ولله ملك السمٰوٰت والارض الخ او د زمکے او اسمان مالك او په ټول جهان کښے متصرّف صرف الله تعالیٰ دے. لهٰذا هُم هغه کارساز او د دُعاګانو قبلوُنکے دے.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یُزْجِیْ الخ دا په ذکر شوے دعوی باندے دویم عقلی دلیل دے وُریځے راجمع کول او بیا د هغے نه باران اوګلئ وَرَوَل صرف د الله کار دے. د شپے او ورځے انقلاب هُم صرف د هغهٔ په اختیار او تصرّف کښے دے. والله خلق کل دابۃٍ من ماءٍ الخ: دا د توحید په دعوی باندے دریم عقلی دلیل دے ټول جاندار مخلوق یے د اُوبو د څاڅکی نه پیدا کړیدے لیکن د حیوانانو ټول قسمونه د شکل او صورت او د افعالو او خواصو په اعتبار سره مختلف دی. دا د هغهٔ د کامل

قدرت او د هغهٔ د کامل تصرف کرشمه ده. هُم هغه قادر او طاقتور او قیوم او د پوهې مالك او د ټولو کارساز او قاضی الحاجات دے. لَقَدْ اَنْزَلْنَا اٰیٰتٍ مُّبَیِّنٰتٍ الخ دا د ترغیب الی القرآن دویم ځل اعاده ده چه د سورت په شروع کښے ذکرشوے دے.

ویقولون اٰمنا بالله ... نه تر ... بل اولٰئك هم الظّٰلمون (۶۲) په منافقانو دا شکوی ده چه په ژبه خود ایمان راوړلو دعوٰی کوی لیکن د الله تعالٰی او د هغهٔ د رسول صلی الله علیه وسلم د صریح احکامونه اعراض کوی. دا د منافقانو حال وو. دے نه پس د دوی په مقابله کښے د خالصو مؤمنانو ذکر شوے دے. انما کان قول المؤمنین ... نه تر ... فاولٰئك هم الفآئزون (۶۲) هغوی د الله نه ویریږی او د هغهٔ نافرمانی نهٔ کوی. بلکه د هغهٔ او د هغهٔ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د احکامو په پوره ځول تابعداری کوی. واقسموا بالله ... نه تر ... الا البلٰغ المبین (۶۴) دا په منافقانو زجر دے. وعد الله الذین اٰمنوا ... نه تر ... لعلکم تفلحون. دا خالص مؤمنانو د پاره بشارتِ دُنیوی دے. ومن کفر بعد ذٰلك فاولٰئك هم الفٰسقون ه دا جمله معترضه ده. لا تحسبن الذین کفروا الخ دا د مُنکرینو د پاره تخویفِ اُخروی دے.

دویمه حِصّه

اول د معاشرے د اصلاح د پاره درے قوانین ذکرشوی دی او په آخر کښے د مخلص مؤمنانو او د منافقانو د احوالو مقابله کړے شوی ده. اول قانون یٰاَیها الذین اٰمنوا لیستاذنکم الخ (۶۸) دا رام او خوب په وختونو کښے غلامانو او هوښیارو ماشومانو له اجازت اخستلو سره د ننه داخلیدل پکاردی ځکه چه په دے وختونو کښے زیاتی کپړے لرے کولے شی او په معمولی سپکو شان کپړو اکتفاء کولے شی. والقواعد من النساء الخ. بوډیکانو ښځو ته اجازت دے چه په کور کښے هغوی په معمولی کپړو کښے اوسی. او د زیاتے پردے کولو د پاره زیاتے کپړے نهٔ اچوی. لیکن که چرے احتیاط کوی نو بهتره خبره ده. دریم قانون لیس علی الاعمٰی حرج الخ د نورو کورونو ته د تلو په هرحال کښے ممانعت نشته. بلکه د ضروری کارونو د پاره وتلے شی. کذٰلك یبین الله لکم الخ دا ترغیب الی القرآن دے.

انما المؤمنون الذین اٰمنوا بالله (۶۹) د مؤمنانو او منافقانو د صفتونو تقابل. مؤمنان په الله او د هغهٔ په رسول صلی الله علیه وسلم باندے پوره اخلاص سره ایمان راوړی او د جهاد پشان اُهم کارونو کښے د شرکت نه د معذورئ په صورت کښے د نبی علیه السلام نه اجازت اخستلو سره پاتے کیږی. لا تجعلوا دُعاء الرسول الخ دا زجر دے سره د تخویفِ دُنیوی نه. دا شان د نبی علیه السلام د ادب تعلیم دے. قد یعلم الله الذین یتسللون الخ: دا د منافقانو حال دے چه هغوی د نبی علیه السلام نه د اجازت اخستلو نه بغیر ځی بلکه چه کله یے هُم موقع بیا مُوند له ستر که یے پټے کړے او اُوخوځیدل. الا ان لله ما فی السمٰوٰت والارض په آخر کښے د توحید د دعوے ذکر دے چه د هغے د وجے منافقا

په ضد کښې راغلل او تهمت يې لګولې وُو.

اَوَّله حِصَّه

تمهيد، ترغيب الى القرآن، د معاشرې د اصلاح د پاره غلور احکام، تهمت لګونکو باندې زجرونه، بيا د معاشرې د اصلاح او تطهير د پاره شپږ قوانين، د توحيد دعوىٰ چه د هغې د وجې نه منافقانو تهمت اُولګولو د توحيد په دعوىٰ باندې يو نقلي او درې عقلي دليلونه.

سُوْرَةُ النُّوْرِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّسِتُّوْنَ اٰيَةً وَّتِسْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة نُور سَله مدنی دې او په دې کښې غلور شپيته (۶۴) اٰيتونه او نهه رکوع ګانې دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله د نوم نه چه بيحده مهربانه نهايت رحم والا دې.

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا وَاَنْزَلْنَا فِيْهَآ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لَّعَلَّكُمْ

دا يو سورت دې چه مونږ نازل کړې دې او په ذمه مو لازم کړې دې او مونږ نازل کړيدي په دې کښې ټکي خبرې صفا چه

تَذَكَّرُوْنَ ۝١ اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا

تاسو يې ياد کړئ بدکاري کونکې ښځه او سړې پس اُووهئ هر يو له ځنې په دواړو کښې

مِائَةَ جَلْدَةٍ ۪ وَّلَا تَاْخُذْكُمْ بِهِمَا رَاْفَةٌ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اِنْ

سل سل دُرې او نه دې رانۀ تاسو لره په دوی باندې ترس د الله په حکم چلولو کښې که

كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۚ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا

تاسو يقين لرئ په الله او په ورځ د اٰخرت باندې او حاضر دې شي وهلو د دوی

طَآئِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝٢ اَلزَّانِيْ لَا يَنْكِحُ اِلَّا زَانِيَةً

ته ډله خلق د مسلمانانو نه بدکار سړې به نکاح نه کوي ځنې مګر د بدکارې ښځې

اَوْ مُشْرِكَةً ۫ وَّالزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَآ اِلَّا زَانٍ اَوْ مُشْرِكٌ ۚ

سره يا د مشرکې سره او د بدکارې ښځې سره نکاح نۀ کوئ مګر بدکار سړې يا مشرک

وَحُرِّمَ ذٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ③ وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ

او دا حرام شوي دي څه په ايمان والو باندے وړاندے او كوم خلق چه تهمت عيب لګوي په پاكلمنو ښځو

ثُمَّ لَمْ يَاْتُوْا بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ فَاجْلِدُوْهُمْ ثَمٰنِيْنَ جَلْدَةً

بيا پېش نه كړي څلور سړي ګواهان نو وهئ دوی لره اتيا دُرے

وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا ج وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ④

او مه منئ د دوی ګواهي چرے او دغه خلق دي نافرمانه وړل

اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ج فَاِنَّ اللّٰهَ

مګر هغه چه توبه اوكړه د دے نه روستو او خپله اصلاحيے اوكړه نو الله

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ⑤ وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ

بخښونے والا مهربانه دے او كوم خلق چه عيب اُولګوي په خپلو بيبيانو تهمت او ګواهان نه

لَّهُمْ شُهَدَآءُ اِلَّآ اَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمْ اَرْبَعُ

وي د دوی سره سوا د خپل ځان نه نو د داسے سړي د ګواهئ صورت دا دے چه څلور

شَهٰدٰتٍۢ بِاللّٰهِ لا اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ⑥ وَالْخَامِسَةُ اَنَّ

ځله به په الله قسم اُوخوري او ګواهي به وركړي چه بېشكه دے رښتونے دے او پنځم ځل دا چه د

لَعْنَتَ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كَانَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ⑦ وَيَدْرَؤُا

الله لعنت دِ وی په دهٔ باندے كه وی دے دروغژن او د ښځے نه عذاب د

عَنْهَا الْعَذَابَ اَنْ تَشْهَدَ اَرْبَعَ شَهٰدٰتٍۢ بِاللّٰهِ اِنَّهٗ لَمِنَ

وهلو واپس كيږي څه داسے چه هغه ګواهي وركړي څلور ځله په الله قسم اُوخوري چه خاوند

الْكٰذِبِيْنَ ⑧ وَالْخَامِسَةَ اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَآ اِنْ

د هغه سړے دروغژن دے او پنځم دا چه د الله غضب دِ وی په دے ښځه كه دا سړے

كَانَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ⑨ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَ

رښتونے وی او كه نه وے د الله فضل څه په تاسو باندے او

رَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ حَكِيْمٌ ﴿۱۰﴾ ع

(نو کوم څه به نه وے) د هغهٔ رحمت او دا چه الله معاف کوونکے حکمتونو پیژندونکے دے

نکات :- ۱ د معاشرے د پاکوالی د پاره ۱۲ ۲ دویم حکم ۱۲ ۳ دریم حکم ۴ څلورم حکم

موضح قرآن ف ۱ کهٔ چرے سړے زنا کاروی نو نیکه ښځه د هغهٔ ته په نکاح نهٔ کړے شی د دوو وجهو نه یو دا چه د هغهٔ کفو نهٔ ده هغے د پاره شرم دے دویم دا چه دیو نه بل ته بیماری اُونهٔ لګی. لیکن کهٔ چرے نکاح اوکړی نو صحیح ده. لیکن د سړی د پاره بدکاره ښځه صحیح نهٔ ده څو پورے چه بدکاری کوی اوکهٔ توبه اوکړی نو صحیح ده.

ف ۲ د قید والا (نکاح والا) ښځے یعنی هیڅ کله بے هُم په بده خبره (بدکاری) کښے نهٔ ده لیدلے او هُم دا حکم دے د سړی چه څوک په هغهٔ عیب اُولګوی. عیب بے بدکاری ته ویلے دے.

فتح الرحمن ف ۱ مترجم وائی چه د دے ایت نه معلومه شوه چه همیشه زناکاره ښځه په په نکاح نهٔ شی اخستے او هُم دا مذهب دے د احمدؒ او د ایت تاویل په مذهب د ابوحنیفهؒ او شافعیؒ دا دے چه په مُسلمانانو باندے شِرک او زنا حرام کړے شوی ده یا وائی چه دا خاص دے په یو قوم پورے یا وائی منسوخ دے. وفیه مافیه ۱۲

ف ۲ مترجم وائی چه د بنی مصطلق په غزوه کښے په عائشهؓ باندے تُهمت لګیدلے وو او منافقانو د بدنامئ په خورولو کښے کوشش اوکړو او یو څو مسلمانانو هم ورسره تعلق ساتلو کوم بعض نور خاموش پاتے شول. الله پاک د صدیقے برأت نازل کړو او د منافقانو ذم او د برأت کوونکو مدح او توقف کوونکو د پاره تهدید او زورنه ۱۲

تفسیر: ۲ سورة انزلناها الخ سورة مبتداء د پاره خبر دے ای هذه سورة او انزلناها مع معطوفات د سورة صفت دے (مدارک) دا په سورة کښے د بیان کړے شوو احکامو تمهید او د هغے د تعمیل ترغیب دے یعنی په دے عظیم القدر سورت کښے د توحید مسئله او د ستر او پاکدامنئ په باره کښے احکام بیان شوی دی. هغه منل او په هغے عمل کول مونږ په تاسو فرض کړیدی. انزلنا ماضی په معنی د حال ده یعنی دا سورت چه دا وخت بے مونږ نازلوو. فرضناها ضمیر مفعول نه مخکښے مضاف مقدر دے. ای فرضنا احکامها (روح) د احکامو نه مراد د ستر او عفت واضحه احکام دی. دا څلور احکام دی چه د دینه روستو په تفصیل سره ذکر کړے شوی دی. و انزلنا فیها الخ: د انزلنا اعاده د بُعد عهد په وجه ده. مقصود د مفعول ذکر دے. د ایٰت بیّنٰت نه د توحید روښانه دلائل مراد دی. و فرضنا اشارة الی الاحکام التی بینها اولا ثم قوله وانزلنا فیها ایٰت بیّنٰت اشارة الی ما بین من دلائل التوحید (کبیر ص ۳۱۰ ج ۶)

۳ه الزانية والزاني الخ دا د ستر او عفاف او د معاشرې د پاکوالو متعلق د غلور احکامو نه رومبے حکم دے یعني زناکار سړے او زناکاره ښځه سل سل دُرے او وهئ هغوی بانـدے دا شرعي حد قائم کړئ دے د پاره چه خلق د بدکارئ نه منع شي. لیکن په هغوی بانـدے د حد جاري کولو په وخت د دوئ خبرو خیال اُوساتئ اول ولا تاخذکم بهما رأفة الخ که چرے واقعي تاسو په الله او د اخرت په ورځ بانـدے یقین لرئ نو په زاني او زانیه بانـدے د حد قائمولو په وخت هیڅ قسمه نرمي مه کوئ او نه په هغوی بانـدے ترس اوکړئ او حد بند کړئ او نه د کوړو د هلو په شمیر کښے کمے اوکړئ او نه د ومره په مزه یے اووهئ چه هغوی ته پته هم اُونکي. هغوی د پاره د معافئ یاد رعایت سفارش کول هم د دے نهي د لاندے داخل دي. دویم ولیشهد عذابهما الخ: د حد جاري کولو په وخت د مسلمانانو یوه ډله هلته موجودګیدل پکار دي. د دے د پاره چه مجرمان زیات رُسوا شي او ائنده د پاره هغوی د ګناه جرأت اُونکړي. دا د بغیر واده زاني او زانیے سزا ده. که چرے واده شوے سړے او ښځه زنا اوکړي نو د هغوی سزا رجم ده. د رجم حکم د نبي علیه السلام نه په تواتر سره نقل شوے دے. او د نورو محکماتو په شان محکم او قطعي دے. د رجم حکم بالکل داسے متواتر دے څنګه چه د رکعتونو شمیر او د زکوٰة مقادیر (نصابونه) متواتر دي. ثبوت الرجم منه علیه الصلوٰة والسلام متواتر المعنی کشجاعة علي کرم الله تعالیٰ وجهه وجود حاتم. (روح ص ۷۸ ج ۱۸) د دے نه علاوه رجم په خپله په قراني اشاره سره ثابت دے د نبي په زمانه کښے یو واده شوي یهودي او یهودنړے زنا اوکړه. په تورات کښے چه څونکه د رجم حکم وُو. د دے وجے نه د رجم نه د بچکیدو د پاره هغوی نبي علیه السلام ته مقدمه راوړه د هغوی خیال وُو چه په اسلام کښے د رجم سزا نشته. نبي علیه السلام د هغوی نه تپوس اوکړو چه په تورات کښے د واده شوي زناکار سزا څه ده هغوی اوویل کوپے لګول او مخ تورول. نبي علیه السلام اُوفرمائیل زه به په تاسو بانـدے د تورات حکم نافذ کوم. او په تورات کښے د دے جرم سزا رجم ده. نو نبي علیه السلام د یهودیانو د یو عالم ابن صوریا نه تپوس اوکړو او قسم یے ورکړو چه رښتیا اووایه په تورات کښے د دے ګناه څه سزا ده. هغه اقرار اوکړو چه رجم دے. نو نبي علیه السلام د رجم حکم نافذ کړو د دے سره د سورة مائده دا ایت نازل شو. وکیف یحکمونك وعندهم التوراة فیها حکم الله الخ (ع ۶) د مخکینو شریعتونو احکام په قران کښے بغیر د څه انکار نه ذکر کول د دے خبرے دلیل دے چه زمونږ په شریعت کښے هم هغه نافذ دي.

۴ه الزاني لا ینکح الخ: دا دویم حکم دے د زنا د سزا نه پس د زاني او زانیے د بد عادت ذکر کړے شوے دے. یعني کوم سړے او ښځه چه د زنا په بد عادت کښے مبتلا شي او زنا عیب نه ګڼړي هغه د دے لائق نه دي چه د یو پاکدامن مؤمن سړي یا ښځے سره د هغوی د نکاح تعلق قائم کړے شي. د دوي د پلیت او ذلیل طبیعت تقاضا خو دا ده چه هم د داسے یو بدکار سړي او ښځے یا د دوي نه هم بدتر یو مشرک سړي یا ښځے سره د دوي تعلق قائم کړے شي.

ددوی د بد عادت تقاضا خو دغه ده لیکن الله پاك د مخلفو مصلحتونو په وجه د داسې بدکارو اوتش په نوم مسلمانان د سړي او ښځې د مشرك سړي او ښځې سره نکاح ناجائزه کړځولې ده. دغه شان که څوک چرته د یو بدکار مسلمان سړي او ښځې د یوې نیکې ښځې او سړي سره نکاح اوشي نو هغه یې باطله اونه ګرځوله. د دې ایت نه د زنا د بد عادت بدي او قباحت واضح کول مقصود دي. په دې صورت کښې به د لاینکح معنی دا وي چه هغه د یاره لائق نه ده. یعني د عدم لیاقت نه په عدم فعل سره تعبیر کړې شوې دې. لکه چه محاوره ده. السلطان لا یکذب. یعني دروغ ویل د پادشاه سره مناسب نه دي. دا مطلب نه دې چه بادشاه چرې هم دروغ نه وائي. تقبیح الامر الزاني اشد تقبیح ببیان انه بعد ان رضي بالزنا لایلیق به ان ینکح العفیفة المؤمنة..... وانما یلیق به ان ینکح زانیة هي في طبقته.. (فلا ینکح خبر مراد منه لا یلیق به ان ینکح کما تقول: السلطن لا یکذب اي لا یلیق به ان یکذب نزل فیه عدم لیاقة الفعل منزلة عدمه (روح ص۸۳ ج ۱۸) یا د نکاح نه دلته وطی مراد ده. او مطلب دا دې چه کوم سړي او ښځې پورې دا بد عادت اونخلي هغه هم دا شان د بدکار سړي او ښځې سره یا ددوی نه هم زیات خراب مشرك او مشرکې سره زنا کوي ځکه چه نیک سړې او ښځه خو د دې بد کار نه کلي طور باندې ځان ساتي. فالمعنی الزاني لا یطأ في وقت الزنا الا زانیة من المسلمین اومن هي احسن منها من المشرکات وقد روی عن ابن عباس واصحابه ان النکاح في هذه الأیة الوطء (قرطبي ص۱۶۹ ج ۱۲) یا د نکاح نه شرعي عقد مراد دې. او ایت منسوخ دې په ایت وانکحوا الایامی منکم (قرطبي ص۱۶۹ ج ۱۲) لیکن رومبې مطلب ارجح دې او دویم راجح دې. حضرت شیخ رحمه الله دا دواړه خوښ کړي دي.

ـــه وحرم ذلك الخ په ذلك سره زنا طرفته اشاره ده کوم چه د ما قبل نه مفهوم دې. په دې صورت کښې به د حرمت نه حرمتِ شرعیه مراد وي. او دا جمله به د ما قبل د پاره علت وي. والاشارة یحتمل ان تکون للزنا المفهوم مما تقدم والتحریم علیه علی ظاهره. ولعل هذا الجملة وما قبلها متضمنه لتعلیل ما تقدم الخ (روح ص۸۳ ج ۱۸) یا اشاره پوره ذکرشوې نکاح طرفته ده. او تحریم په معنی د منع سره دې. څنګه چه بل ځائې کښې ارشاد دې. وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ الخ او د مؤمنانو نه کامل افراد مراد دي. او مطلب دا دې چه مونږ تکویني طور باندې د کامل مؤمنانو زړونه د داسې بدکاره سړو او ښځو د نکاح نه نفرت کونکي ګرځولي دي. او د هغوی زړونه د داسې کنده خلقو طرفته نه مائله کیږي. ویحتمل ان تکون لنکاح الزانیة وعلیه فالمراد من التحریم المنع وبالمؤمنین المؤمنون الکاملون ومعنی منعهم عن نکاح الزواني جعل نفوسهم ابیة عن المیل الیه فلا یلیق ذلك بهم الخ (روح)

ـــه والذین یرمون الخ: دا دریم حکم دې کله چه دا خبره واضحه شوه چه د مؤمنانو د شان نه لرې ده چه هغوی د زنا په شان بدکار اوکړي. نو اوس که چرې یو سړې په یوه

پاک دامنه ښځه یا پاکدامن سړی باندے د زنا تهمت اولګوی نو د هغه نه به د څلورو ګواهانو مطالبه کولے شی که چرے هغه څلور د اعتماد قابل ګواهان پیش نه کړل نو په هغه به د حد قذف یعنی د تهمت لګولو د سزا په طور اتیا دُرے لګولے شی۔ ولا تقبلوا لهم شهادة ابدًا۔ او په اشده کښے به په کومه معامله کښے د هغوی ګواهی هم نه شی قبلولے اُولٰئک هم الفاسقون۔ دا د تهمت لګونکو د حال بیان دے او جمله مستانفه ده۔ کلام مستانف غیر داخل فی حیز جزاء الشرط کانه حکایة حال الرامین عند الله بعد انقضاء الجملة الشرطیة (مدارک ص۱۰۳ ج۳) کذا فی البحر المحیط ص۴۳۲ ج۶) الا الذین تابوا الخ دا د الفسقون نه استثناء ده۔ یعنی که چرے تهمت لګونکو توبه اوکړه او په خپلو کړو پښیمانه شو او انده د پاره یے د خپلو عملونو اصلاح اوکړه۔ نو دهغوی نه به د فسق نوم پورته کړے شی۔ ای رجعوا عما قالوا و ندموا علی ما تکلموا استثنا من الفاسقین کما صرح به اکثر الاصحاب کون الاستثناء من الجملة الاخیرة مذهب الحنفیة فعندهم لا تقبل شهادة المحدود فی قذف و ان تاب و اصلح (روح ص۹۸ ج۱۸) ولیس یقتضی ظاهر الایة عود الاستثناء الی الجمل الثلاث بل الظاهر هو ما یعضده کلام العرب وهو الرجوع الی الجملة التی تلیها الخ (بحر ص۴۳۳ ج۶) چه کله دا ایتونه نازل شو نو نبی علیه السلام په دے څلورو کسانو (عبد الله بن ابی رئیس المنافقین، حضرت حسان بن ثابت، مسطح بن اثاثه او حمنه بنت جحش) باندے حد قذف قائم کړو چاچه د عائشه رض په قذف کښے حصه اخستے وه۔ کما فی التفسیر الکبیر ص۳۵۳ ج۶) وارشاد العقل السلیم (ابی السعود ص۱۳۳ ج۶) د څینو مفسرینو قول دے چه نبی علیه السلام په هیچا باندے هم حد قائم نه کړو۔ (کما فی روح المعانی ص۱۱۶ ج۸)

ک والذین یرمون ازواجهم الخ دا څلورم حکم دے مخکښے په پردو پاک دامنو ښځو باندے د تهمت لګولو حکم بیان کړے شو۔ اوس د دے په مناسبت سره په خپلو بیبیانو باندے د تهمت لګولو حکم بیانولے شی۔ لما ذکر حکم قذف الاجنبیات بین حکم قذف الزوجات (مدارک ص۱۰۳ ج۳) که چرے یو سړے په خپله ښځه باندے د زنا تهمت اُولګوی او ګواه پیش نه کړے شی نو په هغه حد قذف نشته۔ بلکه په دواړو ښځه او خاوند باندے به لعان وی یعنی دواړه ښځه او خاوند به څلور څلور ځله قسم اوکړی او د خپل رښتینوالی ګواهی به ورکړی۔ او په پنځم ځل به خپل ځان ته خیرے اوکړی چه که چرے هغه دروغژن وی نو خدائ دِ په هغه لعنت اوکړی۔ فشهادة احدهم الخ دا د تهمت لګونکی د پاره د څلورو شهادتونو طریقه ده چه هغه څلور ځله قسم اُوکړی او ګواهی ورکړی چه هغه په تهمت کښے رښتونے دے۔ والخامسة الخ: او په پنځم ځل دِ دا مے اووائی چه که چرے هغه دروغژن وی نو په هغه دِ د خدائ لعنت وی که چرے خاوند دا شان لعان اوکړی نو په هغه به حدِ قذف نه وی۔

ل ویدرؤا عنها الخ په ان تشهد کښے ان مصدریه دے او جمله په تاویل د مصدر فاعل دے ویدرأ د او العذاب نه حدِ زنا مراد دے یعنی که چرے ښځه هم په دے طریقه لعان اوکړی نو د هغے نه به د زِنا حد ساقط شی۔ اول به څلور ځله قسم اوکړی او وُبه وائی چه د

هغې خاوند دروغژن دے او په پنځم ځل به داسے اووائي چه که چرے دهغې خاوند په خپله دعوی کښے رښتونے وی نو په هغې (ښځه) دِ د الله غضب نازل شی چه کله ښځه او خاوند دواړه په ذکر شوے طریقه لعان اوکړی نو ددے دواړو په مینځ کښے به د زوجیت حقوق ختم شی او د قاضی په جُدا کولو سره به د دوی په مینځ کښے طلاقِ بائن واقع شی (روح و مدارک).

ف ولولا فضل الله الخ د تمهید نه روستو په عائشه رضی الله عنها باندے تهمت لګونکو باندے زجر ونه بیا ئیږی. د مؤمنانو د شان نه دا بعیده ده چه هغوی په پاک لمنو مؤمنو ښځو باندے تهمت اولګوی. که چرے د الله فضل او د هغه مهربانی شاملِ حال نه وے نو په تاسو باندے به فوراً عذاب نازل شوے وے. او تاسو به هلاک کړے شوے وے. د لو جزا دلته ذکر شوے نه ده هغه ځکښے راځی. په دے سورت کښے لو څلور ځله راغلے دے لیکن ددے جواب صرف دوه ځایه ذکر شوے دے. یعنی د اول او د دویم لو جواب یو دے د اشان د دریم او څلورم جواب یو دے.

إِنَّ الَّذِينَ جَاءُو بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ ۚ لَا تَحْسَبُوهُ

کوم خلقو چه راوړے اوکړل ئے بهتان یو ګروه دروغو سره ستاسو نه دے نه ګڼړئ تاسو مه دا لله

شَرًّا لَّكُم ۖ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُم مَّا اكْتَسَبَ

بد په خپل حق کښے، بلکه دا غوره ده ستاسو په حق کښے هر سړی د پاره هغه حصه ده څومره چه ده ګناه

مِنَ الْإِثْمِ ۚ وَالَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ ⑪

اوګټله او چا چه پورته کړے دے لوئ بوج د هغه د پاره لوئ عذاب دے د هغوی نه

لَّوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا

داسے ولے نه وه چه تاسو کله واوریدل دے لره چه خیال کړے وے مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو په خپلو خلقو نیک خیال

وَقَالُوا هَٰذَا إِفْكٌ مُّبِينٌ ⑫ لَّوْلَا جَاءُو عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ ۚ

او وئیلے مو وے چه دا ښکاره دروغ دی ولے رانه وستل هغوی په دے باندے څلور ګواهان ګله

فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَٰئِكَ عِندَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ ⑬

پس چه رائے نه وستل ګواهان نو پس دغه خلق د الله په نزد هم دغه دروغژن دی ف

وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ

او که نه وے د الله فضل په تاسو باندے ګله او د هغه رحمت په دُنیا او آخرت کښے

لَمَسَّكُمْ فِي مَآ أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۱۴﴾ إِذْ تَلَقَّوْنَهُ

نو به تاسو به پرېوتلے وُو په دې چرچا کولو باندې څه آفت لوئ. هر کله چه اخستلو تاسو

بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ وَ

دے لره په خپلو ژبو او وئیله مو به خپلو خُلو سره هغه خبره چه تاسو ته پرې علم نه وُو او

تَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمٌ ﴿۱۵﴾ وَلَوْلَا إِذْ

تاسو گنړله دے لره سپکه خبره او دا د الله په نزد ډېره لويه ده ضرب. او ولے نه کله چه تاسو

سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ لَنَا أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبْحَانَكَ

دے لره آوريدلے وه چه وئیلے مو چه مونږ لره لائق نه دی چه په خُله راوُلو دا خبره الله ته پاک یے

هَٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ ﴿۱۶﴾ يَعِظُكُمُ اللَّهُ أَن تَعُودُوا لِمِثْلِهِ أَبَدًا

دا خو ډیر لوئ دروغ دی. الله تاسو لره پوهوی چه بیا او نه کړئ دا سے کار ځله. چرے

إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿۱۷﴾ وَيُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ

که تاسو ایماندار یئ. او بیانوی الله تاسو ته د پوهے خبرے. او الله

عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿۱۸﴾ إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي

په هر څه پوهه حکمت والا دے. هغه کوم خلق چه غواړی چه خوره شی بدکاری په

الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ

ایمان والو کښے دهغوی دپاره دے عذاب دردناک په دُنیا او په آخرت کښے

وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿۱۹﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ

او الله پوهیږی او تاسو نه پوهیږئ. او که چرے نه وے ځله فضل د الله په تاسو

ع ۱۰ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿۲۰﴾

او دهغه رحمت او دا چه الله نرمی کونکے دے نو څه به نه وُو شوی

نکات: ۱ منافقانو دپاره زجر ۲ مؤمنانو دپاره زجر ۱۲ ۳ د دوېمے ډلے دپاره زجر ۱۲ ۴ هم دا شان زجر د دوېمے ډلے دپاره ۱۲ ۵ تخویفِ دُنیوی او اُخروی ۱۲

موضح قرآن

ف۱ دینه روستو ذکر دی چه د نبی علیه السلام په زمانه کښې په عائشه رضی الله عنها باندې یو لوئ دروغ او وئیلے شو. نبی علیه السلام د یو جهاد نه واپس راتلو د شپې سفر وو. اواز کولے اونغاره نه وه. اُم المؤمنین قضاء حاجت له تلے وه روستو پاتے شوه. یو مُسلمان به د لښکر نه روستو د نبی علیه السلام په حُکم د هر یو تی څیز پورته کولو د پاره تللو. هغه یے اُولیده چه یواځے پاتے شوے وه په اوښ یے سوره کړه په خپله یے مهار نیوه او لښکر ته یے راوُرسوله. کم بخت منافقانو خپل مخونه تور وُل شروع کړل. تر یو میاشتے دا خبرے کیدے نبی علیه السلام به هم اوریدلے. او د تحقیق نه سوا به یے هیڅ نه وئیل لیکن په زړه کښې به خفه وُو. د یو میاشتے نه روستو چه کله اُم المومنین خبره شوه نو ډیره غمژنه شوه. د رسے ورځے یے په ژړا ژړا تیرے کړے. بیا الله پاک دا ایتونه نازل کړل دوه رکوع پورے.

ف۲ ستاسو د پاره بهتره ده ځکه چه د الله پاک (صفائی) بیا نو لو سره تاسو ته نوره بزرگی ملاؤ شوه. او نور مره ګنهګار شول. هغه څوک چه چا خوشحالی کوله. او څنو افسوس او غم کولو. څنو په مجلس کښې خبرے کولے. او شهرت یے ورکولو. نبی علیه السلام به خاموش وو خبرے به یے اوریدلے. څنو نورو چه به واوریدل نو په سوچ کښې شول خاموش به وُو. څنو به دروغ ګنړل.

ف۳ پکار ده چه کله خلق په یو نیک سړی تُهمت اولګوی هغه دروغ اوګنړی. نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه څوک پسې شا (غائبانه) د یو مُسلمان رور مدد اوکړی الله پاک به د هغه غائبانه مدد اوکړی. او بے تحقیقه تهمتونه لګول د ایمان والو نه لرے دی.

ف۴ یعنی الله پاک دا اُمت د پیغمبر په طفیل د عذابونو نه بچ کړے دے کنی نو دا خبره د عذاب قابله وه.

ف۵ یعنی د دے خبرے معلومات درکوو چه دا دروغ چا جوړ کړل. معلومه شوه چه دا منافقانو کړی وُو چه همیشه پټ دُشمنان وُو. په مخکښے تیر شوی ایت کښې یے دغه خبره ښکاره کړیده.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی عبد الله بن ابی منافق ۱۲ ف۲ یعنی یوه د له چه وئیل به یے چه فلانکے فلانکے دا سے وائی او موتر نه ده لیدلے او یقینکړه نه یو هیږم ۱۲

تفسیر

۱۲ ان الذین جاءو بالافک الخ دا د منافقانو د پاره زجر دے. په حضرت عائشے رضی الله عنها باندے د تُهمت په باره کښے خلق په دریے قسمونو کښے تقسیم شول. اول هغه منافقان چا چه دا تُهمت اُولګولو او د هغے تشهیر یے اوکړو. د دوی مشر عبد الله بن ابی رئیس المنافقین وُو. دویم هغه مخلص مؤمنان کوم چه په غلط فهمی سره د منافقانو د خبرو نه متأثره شول او د هغوی د ژبو نه نامناسبه خبرے وتلے د حسان ابن ثابت او مسطح بن اثاثه هم دا شان وُو. دریم عام مخلص مؤمنان چا چه دا خبره واوریده او چُپ پاتے شول نه یے د هغوی تائید اوکړو او نه تردید. الله پاک دے

دربوارو ډلونه زورنه ورکړه. او لے ډلے ته یے د تولو ندریانه زورنه ورکړه. دا په اولنو دواړو ډلو باندے زجر دے. په منکم کښے خطاب تولو مسلمانانو ته دے. د عصبة نه هغه منافقان او مؤمنان مراد دی چا چه په دے تهمت کښے حصه واخستله. منافقانو به خپل ځانونه مسلمانان شمېرل په دے وجه الله تعالیٰ هم په ظاهره مسلمانانو کښے شمار کړل او د منکم لفظ یے استعمال کړو. ومعنی (منکم) من اهل ملتکم وممن ینتمی الی الاسلام سواء کان کذلك فی نفس الامر ام لا فیشمل ابن ابی لانه ممن ینتمی الی الاسلام ظاهرا وان کان کافرا فی نفس الامر (روح ص۱۱۵ ج ۱۸)

۱۱ لا تحسبوه الخ دا افك او تهمت ته بد مه ګڼړه بلکه هغه خو ستاسو د پاره د خیر او برکت بیش خیمه او تمهید دے. ځکه چه الله پاك عائشه رضی الله عنها د تهمت نه پاکه کړه او د سره یے تیرشوی څلور احکام نازل کړل چه د معاشرے دپاره یے د امن او سلامتیا او طهارت او دپاکیزګئ پیغام راوړے دے. بل هو خیر لکم لاکتسابکم به الثواب العظیم وظهور کرامتکم علی الله عزوجل بانزال ثمانی عشرة آیة فی نزاهة ساحتکم الخ (ابوالسعود ص۳۳ ج ۶). لکل امرئ منهم الخ او چا چه په دے تهمت کښے حصه اخستے ده هغوی د خپل جرم د نوعیت مطابق د ګناه بوج پوره کړیے دے.

۱۲ والذی تولی الخ: دے نه عبدالله بن ابی رئیس المنافقین دے په دے واقعه کښے د شر او فساد مشر او لیډر هم دے وو. په دے وجه چا چه په دے کښے حصه اخستے ده هغوی خالص د غلط فهمئ ښکار شول. والاقرب فی الروایة ان المراد به عبدالله بن ابی ابن سلول فانه کان منافقا یطلب ما یکون قدحا فی الرسول علیه السلام وغیره کان تابعا له فیما کان یاتی الخ (بحر ص۴۳۵ ج ۶) (والذی تولی کبره) هو عبدالله بن ابی ابن سلول (معالم و خازن ص۶۳ ج ۵) جمهور او محققینو مفسرینو هم دا لیکلی دی چه دلته د موصول نه مراد عبدالله بن ابی بن سلول دے د زیات حوالو دپاره: مدارک ص۱۰۱ ج ۳، جامع البیان ص۱۳، ابوالسعود ص۳۳۶ ج ۶، روح ص۱۱۵ ج ۱۸، بحر ص۴۳۷ ج ۶ وغیره اوګورئ.

۱۳ لولا اذ سمعتموه الخ دا په دریمه ډله باندے زجر دے. قالوا په ظن باندے معطوف دے یعنی چه کله تاسو دا تهمت واوریده نو د غوخت تاسو د تولو سړو او ښځو په باره کښے د حسن ظن نه ولے کار وانخستلو او فورا موولے اونه ویل چه دا محض بهتان او د دروغو تهمت دے ځکه چه مونږ د هیڅ یو مخلص او رښتوني مؤمن سړی او ښځے په باره کښے دا ګمان نه شو کولے چه هغه د زنا په شان بدکار اوکړی.

۱۴ لولا جاءو الخ دا عام مسلمانانو باندے زجر دے. تهمت لګونکو څلور ګواهان ولے پیش نه کړل؟ چه کله هغوی څلور ګواهان پیش نه کړل نو ظاهره ده چه هغوی دروغژن دی. لهذا اے د ایمان والو! ستاسو په ذمه فرض وو چه تاسو دے غلطے خبرے اوریدو سره اعلان کړے وے چه دا سراسر د دروغو تهمت دے او په دے کښے ذره صداقت هم نشته. لیکن د دے باوجود تاسو چپ پاتے شوئ. وهذا توبیخ وتعنیف للذین

سمعوا الافك ولم يجدوا في دفعه وانكاره الخ (بحر ص ۲۳۸ ج ۲)

۱۵ ولولا فضل الخ اعاده د عهد د بُعد د وجے نه ده. روهبه ولولا فضل الله الخ تیر شوی دے هلته د لَوْ جواب ذکر شوے نه وُو. دلته لمستکم فی ما افضتم الخ د لَوْ جواب دے او خطاب دوارو ډلو ته دے یعني تاسو چه په یوه پاك دامنه او عفیفه ښځه او بیا د پیغمبر علیه السلام په بي بي باندے تهمت لګولے دے. په دے وجه تاسو خو د دے خبرے حقدار وئ چه تاسو فوراً په یو عبرتناك عذاب سره هلاك کړے شوے وے. لیکن الله پاك په تاسو باندے مهرباني اوکړه او فوراً یے اُونه نیولئ بلکه مُهلت یے درکړو. دے معامله کښے چه کوم مخلص مؤمنان ګډ شوي وُو. هغوی د پاره دا تاخیر حقیقتاً د الله پاك رحمت ثابت شو. هغوی ته موقعه ملاؤ شوه. او هغوی رښتینے توبه اووبستله او د اخرت د عذاب نه بچ شول. لیکن رئیس المنافقین ته د دے مهلت نه صرف وقتي فائده اُوشوه لیکن په اخرت کښے به دردناك عذاب کښے ګرفتار وي.

۱۶ إذ تلقونه الخ دا د دویمے ډلے د پاره زجر دے. إذ د لمستکم متعلق دے (روح) یعني د ټولو منافقانو خور شوے خبرے لاس په لاس اُخستلو او په غیر د تحقیق نه یے د هغے اشاعت او خوروَنه کوله. هغه وخت که چرے په تاسو د الله عذاب راغلے وے نو دا سے کیدے شوه لیکن محض په خپل رحمت سره یے په عذاب نازلولو کښے جلتي اُونکړه تحسبونه هینا الخ تاسو دا معامله ډیره معمولي ګنړله. لیکن د الله په نزد دا معامله ډیره درنه وه او ډیر لوئ جُرم وُو. اے د ایمان والو! تاسو ته د دے معاملے د دروند والي احساس پکار وُو. او ستاسو د پاره په دے معامله کښے خُله پرانستل مناسب نه وُو.

۱۷ ولولا اذ سمعتموه الخ دا هُم د دویمے ډلے د پاره زجر دے. یعني چه کله تاسو دا خبره آوریدلے وه نو تاسو دا ولے نه وئیل چه مونږ له د دے باطل قول په خورولو کښے حصه اخستل پکار نه دي. اے الله! بیشکه ته د هر عیب نه پاك یے لیکن دا هُم یو ښکاره بُهتان دے چه په یوه پاك دامنه ښځه باندے لګولے شویدے. یعظکم الله الخ که چرے واقعي تاسو مُؤمنان یئ. نو الله پاك تاسو ته نصیحت کوي چه اَئنده د پاره دلته حرکت مه کوئ. ویبین الله الخ الله په هرڅه پوهیږ وتکے دے او د هغه هر کار په حکمت باندي مبني دے. په دے وجه هغه داسے احکام نازلوي چه په هغے کښے د ټولو بُنیاد مو خیر او کامیابي وي.

۱۸ إن الذين الخ دا د مُنافقانو د ډلے د پاره دُنیوي او اُخروي تخویف دے دا شان د تُهمت لګولو علت طرفته اشاره ده چه دا منافقان تهمت د دے د پاره لګوي چه مُسلمانانو کښے فحش او بے حیائي خوره شي او خلق بد عقیده شي او توحید اُونه مني.

۱۹ ولولا فضل الله الخ: د لَوْ جواب محذوف دے. د دے انعام او احسان د اهمیت احساس ورکولو د پاره او مُسلمانانو ته تنبیه ورکولو د پاره یے د دے ذکر دوباره اوکړو. یعني که چرے د الله پاك فضل او د هغه رحمت نه وے او د الله مهرباني نه وے نو د دے

جرم په سزا کښے به تاسو فورًا هلاکولے شوے. او مُهلت به یے نه ورکولے. تعجل لکم العذاب وکدر المنة بترك المعاجلة بالعقاب مع حذف الجواب مبالغة فی المنة علیهم والتوبیخ لهم (مدارک ص۱۰۵ ج ۳) د حضرت شیخ رحمه الله په نزد د دے جزاء وړاندے راغلے. یعنی مَا زَکٰی مِنکُمْ الخ۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۭ وَمَنْ

اے هغه ایماندارو! مه ځئ په قدمونو د شیطان او څوک

يَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ بِالْفَحْشَاۗءِ وَالْمُنْكَرِ ۭ وَ

چه لاړ شی په قدمونو د شیطان پس هغه خود بیحیائی او د بدے خبرے ښودنه کوی او

لَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ

که نه وے فضل د الله ستاسو باندے او د هغه رحمت نو نه به وو پاک شوے په تاسو کښے یو کس هم

اَبَدًا ۙ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۱﴾

چرے او لیکن الله پاکوی هغه چا لره چه اُوغواړی او الله هر څه آوری پوهیږی

وَلَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ اَنْ يُّؤْتُوْٓا اُولِي

او قسم دے نه خوری د لوئی درجے والا په تاسو کښے او فراخئ والا د دے دپاره چه ورکړی خپلوانو

الْقُرْبٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ښ وَلْيَعْفُوْا

ته او محتاجو ته او وطن پریخودونکو ته د الله په لار کښے او پکار ده چه معاف

وَلْيَصْفَحُوْا ۭ اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

کوی او درګزر کوی آیا تاسو نه غواړئ چه الله تاسو معاف کړی او الله بخښونکے والا دے

رَّحِيْمٌ ﴿۲۲﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ الْغٰفِلٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ

مهربانه دے ۲۲ کوم خلق چه عیب لګوی ۲۳ هغه په پاکو مانو نکاح شوو ناخبرو ایماندارو ښځو

لُعِنُوْا فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۠ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۳﴾ ۙ يَّوْمَ

په دوی لعنت دے په دُنیا او په آخرت کښے او دوی دپاره دے لوئی عذاب په کومه ورځ

تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ اَلْسِنَتُهُمْ وَاَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۴﴾

چه گواهي به دوي ژبې د دوي او لاسونه د دوي او خپې د دوي په هغې چه دوي کول

يَوْمَئِذٍ يُّوَفِّيْهِمُ اللّٰهُ دِيْنَهُمُ الْحَقَّ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ

په دغه ورځ به پوره ورکړي دوي ته الله د دوي هغه سزا چه پکار وه او پوهه به شي چه الله هغه دے

الْحَقُّ الْمُبِيْنُ ﴿۲۵﴾ اَلْخَبِيْثٰتُ لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ

رښتونے ښکاره کوونکے گنده ښځې دي ګله د گنده سړو د پاره او گنده سړي د

لِلْخَبِيْثٰتِ ۚ وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ ۚ اُولٰٓئِكَ

گنده ښځو د پاره دي او پاکې دي د پاکو د پاره او پاک سړي د پاکو ښځو د پاره دي دغه خلق

مُبَرَّءُوْنَ مِمَّا يَقُوْلُوْنَ ۭ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۲۶﴾ ع

ځله بې تعلقه دي د هغه خبرو نه چه دوي ئې کوي دوي د پاره بخښنه ده او روزي ده د عزت ۲

نکات:- سـ۱ تخويف دُنيوي او تخويف اُخروي د پاره د منافقانو ۱۲ سـ۲ بشارتِ اُخروي ۱۲

موضح قرآن

ف۱ چه کله بهتان لګوونکي د روغتن ثابت شول او په هغوي حد اولګول شي آتيا دُرے. په هغوي کښے دوه درے مسلمانان وُو يو کس مسطح د ابوبکر صديق﷛ خورئے چه غريب وُو. ابوبکر﷛ به ورسره احسان کولو. اوس ئے قسم اوکړو چه زۀ به هغۀ ته هيڅ ورکړه نۀ کوم الله پاک د هغۀ سفارش اوکړو هغه مهاجر د بدر والو نه د لوئ درجے والا وُو. ابوبکر﷛ ته ئے اووئيل چه خوښ د دۀ لويه درجه نۀ مني هغه الله سره جګړه کوي بيا هغۀ قسم اوکړو چه کوم احسان به مې ورسره کولو هغه به نۀ بندوم.

ابن عباس﷛ فرمائي چه د هيڅ يو پيغمبر بي بي بدکاره نۀ وي يعني الله تعالیٰ د هغوي د ناموس حفاظت کوي.

فتح الرحمن

ف۱ مترجم وائي چه په دے آيت کښے تعريض دے ابوبکر﷛ ته، چه قسم ئے کړے وُو چه مسطح ته به هيڅ ورکړه نۀ کوم او دے هُم يو کس وُو د بدو خبرو کوونکو نه ۱۲.

تفسير

ف۲ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ الخ ايمان والو ته ئے نصيحت اوکړو چه په پاک دامنو مؤمنانو باندے تهمت لګول ډير بد او د بيحيائي کار دے او د بيحيائي او فحش کارونو ترغيب او خورول د شيطان کار دے ايمان والو د پاره د داسے کارونو نه لرے وسيدل پکار دي او د شيطان تابعداري کول پکار نۀ ده. ومن يتبع الشيطان ارتكب الفحشاء والمنكر فانه لا يامر الا بهما ومن كان كذلك لا يجوز اتباعه وطاعته (روح ص۱۲۳ ج۱۸)

۲۱ ولولا فضل الله الخ اعاده د بعد عهد د وجے نه ده. او مقصود د جزاء ذکر دے. ما زکیٰ منکم الخ جزاء ده. دا د الله پاک مهربانی ده چه هغه د بیحیایئ او بهتان نه دینی دلو دپاره احکام او حد ورد مقرر کړیدی. که چرے داسے نه وے نو د منافقانو د شرارتونو نه به د چا عزت هم محفوظ نه وے. هغوی به نن یو بل نامولے صبا له بلے دیل بے عزتی کوله لیکن الله پاک حد قذف مقرر کړو او د هغوی خُله ئے بنده کړه. یا مطلب دا دے چه الله پاک ایات بینات نازل کړل او د توحید او شریعت لاره ئے واضح کړه. دے دپاره چه ایمان والا په هغے روان شي او د الله نزدیکت حاصل کړي. بیا هغه د توبے دروازه هم پرانستلے ده. دے دپاره چه ګنهګار توبه اوباسي او د ګناهونو نه ځان پاك کړي. نو دا تول د الله مهربانی ده. که چرے هغه داسے نه کولے نو هیڅوك به د ګناه نه نه پاکیدے. ولکن الله یزکی الخ دالله پاك رحمت او د هغه مهربانئ سره انسان ته د عمل او توبے توفیق ملاویږي او چه د هغه فضل او کرم شامل حال وي نو هغه وخت انسان د ګناهونو نه پاکیدے شي. ای ان تزکیته لکم وتطهیره وهدایته انما هی بفضله لا باعمالکم (قرطبی صـ۲۰۸ ج ۱۲)

۲۲ ولا یأتل اولوا الفضل الخ دا ایت د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په باره کښے نازل شو. مسطح بن اثاثة رضی الله عنه د ابوبکر رض نزدے رشته دار وو. دا په اولنو مهاجرینو کښے وو مالی حالت ئے کمزورے وو. صدیق اکبر رض به د مسطح رض د دینی شرف او د صله رحمئ په وجه مالی مدد کولو. د افك په واقعه کښے د مسطح نه هم غلطی شوے وه. او هغه په دو یمه دله کښے شامل وو چه کله د عائشے رضی الله عنها برات نازل شو نو ابوبکر رض قسم اوکړو چه په اینده کښے به هغه په مسطح خرچ نه کوي. په دے بانده دا ایت نازل شو چه ورکړه او احسان خو د مغفرت د اسبابو نه دي. تاسو ولے هغه بندوئ ایا تاسو مغفرت او بخښنه نه غواړئ؟ چه کله دا ایت نازل شو نو ابوبکر رض فوراً اوویل بلیٰ والله یاربنا انا لنحب ان تغفر لنا (روح) دینه روستو ئے د مسطح وظیفه بحال کړه.

۲۳ ان الذین یرمون الخ دا منافقانو دپاره تخویف دنیوی او اخروی دے هغوی په دنیا او په اخرت کښے دالله د لعنت مستحق دي. او په اخرت کښے به هغوی په ډیر سخت عذاب کښے مبتلا کولے شي. دے نه عبد الله بن ابي رئیس المنافقین مراد دے چه د افك د واقعے مشر وو. قال مقاتل هذا خاص فی عبد الله بن ابی المنافق (معالم صـ۷۲ ج ۵، خازن صـ۶۵) یوم تشهد الخ ظرف لغو یا د عذاب عظیم سره متعلق دے. د قیامت په ورځ چه کله دا منافق د خپلو بدو کارونو نه او خرابو عملونو نه انکار کوي. نو الله پاك به د هغوی تر ویناو خبرو طاقت واخلي. او د هغوی اندامونو ته به د وینا طاقت ورکړي. نو د هغوی لاسونه او خپے او ژبه به د هغوی د اختیار نه بغیر خبرے اوکړي د هغوی خلاف ګواهي به ورکړي. بان انطقهن الله من غیر اختیارهم (جامع صـ۳۱۶) یومئذ یوفیهم الله دینهم الخ: د دین معنیٰ حساب او جزاء ده یعنی د قیامت په ورځ به الله پاك عدل او انصاف سره هغوی ته د هغوی د عملونو جزاء ورکړي او په هغوی به ظلم نه کوي. ای حسابهم وجزائهم (قرطبی) ومعنی الحق الثابت الذی هم اهله. (مدارک) ویعلمون ان الله الخ په دنیا کښے منافقان د الله د توحید او دین اسلام د صداقت

نه پرشک کښې وُو. لیکن د قیامت په ورځ به دهغوی ټول شکونه ختم کړے شي او هغوی ته به واضحه کړے شي چه د الله تعالیٰ توحید حق دے او د هغهٔ دین رښتینے دے. عن ابن عباس انها نزلت فی عبدالله بن ابی کان یشك فی الدین فاذا کان یوم القیامة علم حیث لا ینفعه (بحر ص۴۴۳ ج ۶)

۲۴ الخبیثٰت للخبیثین الخ نیکو مؤمنانو د پاره خوشخبري ده. الخبیثات. ناپاکه خویونه او گنده خبرے مراد دي. او الطیّبات نه پاکیزه او نیک عادتونه او خبرے مراد دي یعنې گندهٔ خبرے او عادتونه د گندهٔ او بد کاره خلقو سره مناسب دي. او پاکیزه عادتونه او صفات خبرے د نیک عمله او پاکیزه خلقو سره مناسب دي. عائشه رضی الله عنها یوه پاکیزه ښځه ده. په دے وجه د بد کارئ په شان بدی او ناپاکه خبرهٔ دهغے د ذات سره هیڅ نسبت نهٔ لري د اشان صفوان رضی الله عنه (چا سره چه منافقانو عائشی ؓ پورے تهمت لگولے وُو) هُم یو پاک او عفیف انسان دے او د زنا په شان پلیتئ نه پاك دے. قال مجاهد وابن جبیر وعطاء واکثر المفسرین المعنی الکلمات الخبیثات من القول للخبیثین من الرجال وکذا الخبیثون من الناس للخبیثات من القول الخ (قرطبي ص۲۱۱ ج ۱۲) یا د الخبیثٰت نه بد کاره ښځے او د الطیبات نه نیکے ښځے مراد دي. او مطلب به داوي چه بد کاره او پلیتے ښځے د بد کاره او پلیتو سړو د پاره لائق دي. دا شان بد کار سړي د دے لائق دي چه دهغوی تعلق هُم دهغوی په شان گندهٔ ښځو سره دي. او پاك سړي د خپل ځان په شان نیکو او صفا ښځو د پاره لائق دي او بالعکس. د صفا او پاکو سړو د بد کارو او پلیتو ښځو سره څهٔ تعلق؟ عائشه رضی الله عنها د طیب او طاهر پیغمبر صلی الله علیه وسلم بی بی ده. لهٰذا دا هر گز نهٔ شي کیدے چه د الله د پیغمبر بی بی د بدکارئ د پلیتئ او خباثت نه پاکه او صفا نهٔ وي. الله پاك د خپل پیغمبر د ناموس حفاظت کوي او دهغهٔ په عزت باندے داغ لگیدل نهٔ پریږدي. کان تعالیٰ بیین ان الطیبات من النساء للطیبین من الرجال ولا احد طیب ولا اطهر من الرسول فازواجه اذن لا یجوز ان یکن الا طیبات (کبیر ص۳۶۹ ج ۶) حضرت شیخ قدس سرهٔ روسته مطلب راجح فرمائیلے دے. اولئك مبرءون مما یقولون نه هم دا دے تائید کیږي. یعني پاك خلق د دے ناپاك او پلیتو خبرو نه پاك دي کوم چه پلیت خلق د دے خلقو ته منسوب کوي.

۲۵ اولئك مبرءون الخ یعني طیّبات (پاکے ښځے) او طیّبون (پاك سړي) د دے ناپاکو او پلیتو خبرو نه بیزار دي. کوم چه منافقان د دوی طرفته منسوب کوي. حضرت عائشه رضی الله عنها او صفوان رضی الله عنه د منافقانو د دے خبیث بهتان نه بري دي او پاك دي. او د الله رسول صلی الله علیه وسلم هُم د دے خباثت نه پاك دے چه د هغهٔ بی بی د فاحشه وي. الاشارة قیل الی رسول الله صلی الله علیه وسلم والصدیقة والصفوان (روح ص۱۳۱ ج ۱۸) اولئك مبرءون مما یقولون ای عائشة وصفوان مما یقول الخبیثون والخبیثات (قرطبي) پاکیزه خلق په دُنیا کښې هُم د دے خباثتونو نه پاك دي او په آخرت کښې به په هغوی باندے د الله بے انتها بخښش دي او د عزتمند مقام مستحق به وي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ حَتّٰى

اے ایمان والو! مه داخلیږئ ﺩﭼﺎ کورونه د خپلو کورونو نه بغیر ترڅو چه

تَسْتَاْنِسُوْا وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا ۭ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ

اجازت حاصل نه کړئ او سلام کوئ په دغه کورونو دا غوره ده ستاسو په حق کښے چه یاده

تَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٧﴾ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فِيْهَآ اَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوْهَا حَتّٰى

ونساتئ ف پس که بیا نه مومئ په دیکښے چاڅوک پس دغه ته مه داخلیږئ تر دے چه

يُؤْذَنَ لَكُمْ ۚ وَاِنْ قِيْلَ لَكُمُ ارْجِعُوْا فَارْجِعُوْا هُوَ اَزْكٰى لَكُمْ ۭ

تاسو ته اجازت اوشي او که تاسو ته اووئیلے شي چه واپس شئ نو واپس شئ دا ډیر پاکوونکے دے ستاسو دپاره

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿٢٨﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَدْخُلُوْا

او الله پاک په هغه چه تاسو کوئ هغه پیژنی ف نشته ګناه په تاسو باندے په دے کښے چه داخل شئ

بُيُوْتًا غَيْرَ مَسْكُوْنَةٍ فِيْهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ ۭ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ

هغو کورونو ته چرته چه څوک نه اوسي په دیکښے ستاسو څه سامان وی ف او الله ته معلوم دی څه چه تاسو

وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿٢٩﴾ قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ

ظاهروئ او څه چه پټوئ ف او وایه مؤمنانو ته چه خکته ساتی خپلے سترګے

وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ۭ ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا

او حفاظت کوی د خپل ستر په دیکښے ښه پاکی ده ددوی دپاره بیشکه الله خبردے په هغے

يَصْنَعُوْنَ ﴿٣٠﴾ وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ

چه دوی یے کوی ف او اووایه مؤمناتو ښځو ته چه خکته ساتی خپلے سترګے

وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا ظَهَرَ

او حفاظت د کوی د خپل ستر او نه د ښکاره کوی خپل سنګار مګر چه کوم ښکاره دے

مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰي جُيُوْبِهِنَّ ۠ وَلَا يُبْدِيْنَ

د دینه ف او غوروی د خپل څادر په خپلو سینو باندے او نه د ښکاره کوی

زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ

خپل سنګار مګر د خپل خاوند په وړاندې یا د خپل پلار یا د خپل خاوند د پلار په وړاندې یا

أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ

د خپلو ځامنو یا د خپل خاوند د ځامنو یا د خپلو رونړو، یا د خپلو وریرو

أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ

یا د خپلو خورزینو یا د خپلو ښځو یا د خپلو لاسونو د مال (وینځې، غلامان) ۳۳ یا

التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ

خدمتګارانو هغه سړو چه څه غرض نه لري (یعني د ښځو خیال یې نه وي) یا هغه هلکان چه د

لَمْ يَظْهَرُوا عَلَىٰ عَوْرَاتِ النِّسَاءِ ۖ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ

ښځو په رازونو باندې لا نه پوهیږي او نه دې وهي په زوره پښې خپلې په زمکه باندې

لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ ۚ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا

چه معلوم شي هغه چه دوی یې پټوي د خپل سنګار نه او توبه کوئ الله ته ټول په جمع سره

أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣١﴾ وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنْكُمْ

اے ایمان والو! دے دپاره چه تاسو فلاح بیاموموئ ۳۵ او نکاح کوئ د کومو چه نکاح نه داري

وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ ۚ إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ

تاسو نه ۳۶ او کوم چه نیک وي ستاسو د غلامانو نه او وینځو نه که دغه وي فقیران نو

يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٢﴾ وَلْيَسْتَعْفِفِ

الله به یې غنیان کړي د فضل خپل نه او الله د فراخئ والا دے هرڅه پیژني ۳۶ او ځان دې ساتي

الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ ۗ

ساتي ځانونه چه ۳۷ نه ملاویږي سامان د نکاح تر دے چه طاقت ورکړي دوی له الله د خپل فضل نه

وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ

او کوم خلق چه غواړي ۳۸ لیکل د ازادئ په مال ورکولو د دوی نه چه کوم ستاسو لاس مال دے نو دوی

إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا ۖ وَآتُوهُم مِّن مَّالِ اللَّهِ الَّذِي

نیکي درکړئ که مومئ په دوی کښې څه نیکي او ورکړئ دوی ته د مال د الله نه کوم چه هغه تاسو

آتَاكُمْ ۚ وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا

ته درکړیدے او زبردستي مه کوئ په خپلو وینځو باندے ګټه دیں کارئ دپاره که هغوي غواړي پاکدامني

لِّتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَمَن يُكْرِههُّنَّ فَإِنَّ

ف۳۸ چه تاسو ګټل غواړئ د مال د دنیا د ژوند او څوک چه په دوی زبردستي اوکړي نو

اللَّهَ مِن بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ أَنزَلْنَا

ف۳۹ الله د دوی د بے بسئ نه پس بخښونکے مهربانه دے ف او مونږ نازل کړیدي

إِلَيْكُمْ آيَاتٍ مُّبَيِّنَاتٍ وَمَثَلًا مِّنَ الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلِكُمْ

تاسو ته ایتونه ښکاره واضحه او څه حال د هغو چه تیر شویدي تاسو نه وړاندے

وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٣٤﴾

او نصیحت دپاره د ویریدونکو ف

نکات :- ف۱ د معاشرت دریمے قانون ۱۲ ف۲ د معاشرت دویم قانون ۱۲ ف۳ د معاشرت دریم قانون ۱۲ ف۴ د معاشرت څلورم قانون ۱۲ ف۵ د معاشرت پنځم قانون ۱۲ ف۶ د معاشرت شپږم قانون ۱۲

موضح قرآن ف۱ یعني په ناخبرئ کښے د چا کورته مه داخلیږئ څه معلومه ده - چه هغوي په څه حال کښے دي اول اوازه ورکړئ او د تولو نه بهتر اواز سلام دے.

ف۲ څوک که په کور کښے نه وي. او که اجازت یے کړے وي نو خالي کورته ننوځئ او چه نه وي درکړے شوي نو مه ورځئ او واپس لاړشئ هیڅ بد مه منئ د یکښے په خپل مینځ کښے ملاقات صفا پاتے کیږي یو په بل نه بوجه کیږي.

ف۳ شاید چه داوریدونکو په زړه کښے به راغلے وي چه په کوم کور کښے څوک نه اوسیږي. نو د چا نه اجازت واخستے شي. دا هر وخت اجازت سره ورتلل د خپلو او خان له کورونو والا دپاره دي. او کوم چه دیو کور خلق دي لکه وینځه او غلام یا اولاد هغوي دپاره هر وخت اجازت اخستل ضروري نه دي لیکن د خلوت په دریے وختونو کښے هغه دد سورت په اخر کښے ذکر شویدي.

ف۴ خپل ستر د مضبوط اونیسي یعني نه خو د چا ستر وینی او نه د خپل ستر چاته

بښکاره کوی. او خبره دے څه چه کوم هغوی د کُفر د رسم نه یعنی د کُفر بے لاره روی او بے اعتدالی چه ده دے خبرے څه قید نه وُو.

ف۵ د سنګار نه ښکاره نخیزے هغه تخیز ته وئیلے دے لکه صفا او پاکے جامے او نوے پیزار، یا بے دیته وئیلے دے چه ښځه لږ. شان مخ او د لاس ګوتے او د خپو پنجے ښکاره کړی نو جائز دی او د مجبورئ او ناچارئ په وخت که د لاسونو نکریزے یا د ستر ګو رانجه یا د ګوتے ګوتئ. او باقی بدن او کیسټئ پټول ضروری دی د پردو خلقو نه، لیکن د خپلو محرمونه د سینے نه تر زنګنونو پورے. او خپلے ښځے چه نیک چلن وی د هغوی نه هم دومره ضروری دی او د بد چلن ښځو نه په شنګ کیدل، او بے رغبته سړے چه د چا غرض نه وی یعنی په خوراک او خوب کښے دوب وی، رغبت نه لری. او هلک تر لسو کالو پورے او خپل غلام هم محرم دے د ډیرو عالمانو په نزد. او د خپو د آواز سره چه معلومیږی لکه پازیب او ګونګرو. او نرئ جامے د کوم نه چه بدن ښکاری. دا سے جامے او برېنډ برابر دی. او چه دومره هم ښکاره نه کړی نو بهتره ده.

ف۶ نبی علیه السلام اوفرمائیل اے علیؓ! درے کارونو کښے زوستو والے مه کوه. د فرض مونځ وخت چه کله راشی. جنازه چه کله موجود شی. بے وادهٔ ښځه چه کله هغے د پاره سړے د هغے برابر ملاؤ شی. څوک چه دویم نماونه کوی عیبا کتړی د هغے ایمان سلامت نه دے او کوم چه نیکان وی د ښځه یا غلام یعنی نکاح سره نه مغروره کیږی او د ستاسو د کار او خدمت نه لاس نه اخلی نو د دوی نکاح هم اوکړئ.

ف۷ لیکل او غواړی یعنی د چا غلام، او ښځه او وائی چه زهٔ به تا له په دومره وخت کښے دومره مال اوګټم نو ما آزاد کړه. دا اقرار اولیکی دے ته کتابت وائی. څوک چه په دیکښے نیکی وینی نو دا دِ اولیکی، نیکی دا چه دے د قید نه آزاد شی نو دروغ به نه وائی او غلا او زنا به نه کوی او مال ارو ته یے اوفرمائیل چه د دا سے غلامانو او وینځو سره مالی امداد کوئ دے د پاره چه آزاد شی خواه د زکوٰة نه وی یا د صدقاتو نه. او په وینځو باندے په زنا کارئ سره مالی ګټل لویه ګناه ده. خواه هغوی راضی وی یا نه. په ناخوښئ سره خو بیا ډیره لویه ګناه ده دغه مال ټول پلیت دے. او په ناخوښئ سره وینځه بے ګناه ده.

ف۸ یعنی په مخکینو اُمتونو هم دا شان حُکم وُو.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی وقف رباط ۱۲ ف۲ یعنی د کالو ځایونه ۱۲ ف۳ یعنی مخ او ورغوی ۱۲ ف۴ دده آیت حاصل دا دے چه د ښاشت ځایونه دوه قسمه دی یو هغه چه د هغے په ستر کښے حرج دے او هغه مخ او ورغوی دی او بل هغه چه د هغے په ستر کښے حرج نشته لکه سر، څټ او مټے، څنګلے، پنډئ نو د مخ او ورغوی ستر د پردو خلقو نه فرض نه دے بلکه سُنت دے او د دینه علاوه ستر د پردو خلقو نه فرض دے نه د محارمو نه ۱۲ والله اعلم.

تفسیر:- ل۲۶ یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ د اِفک د قصے د تفصیل نه پس اوس ورانده

شي، قوانین او د معاشرت آداب بیانوئیلے شي دے د پاره چه د بد کارئ او د بد کارئ د تهمت د اسبابو او دواعئ دروازه بنده کړے شي. او ائنده د پاره چاته به چا باندے د الزام او بهتان لګولو موقعه ملاؤ نهٔ شي. دا پروړمبے قانون دے. په دیکښے الله پاك ایمان والو ته هدایت فرمائیلے دے چه هغوی دِ د چا کورته بغیر د اجازت نه نهٔ داخلیږي. حَتّٰی تستأنسوا ای تستأذنوا من یملك الاذن من اصحابها (روح ص۱۳۳ ج۱۸) یعني کله چه د بل چا کورته داخلیدل غواړئ نو دروازه وډبوئ یا د کور خاوند ته به آواز ورکولو سره اجازت واخلئ او داخل شئ. وتسلموا علی أهلها. چه کله اجازت ملاؤ شي نو کورته داخل شئ او په کور کښے اوسیدونکو خلقو باندے مسنون سلام واچوئ.

٤٤ فان لم تجدوا الخ لیکن که چیرے په کور کښے نوك هم موجود نهٔ وي یا په کور کښے صرف ښځے او ماشومان وي. نو ترڅو چه د کور مالك نهٔ وي راغلے او هغه اجازت ورنهٔ کړي نو ترهغے پورے کورته مهٔ داخلیږئ. وان قیل لکم ارجعوا الخ د هغوی نه چه د کور د اخلیدو اجازت ملاؤ نهٔ شي نو واپس لاړ شئ. هُوَ اَزْكٰی لَكُمْ الخ د اجازت نهٔ ملاویدو په صورت کښے ستاسو واپس تلل بهتر دي. په دیکښے ستاسو د دین فائده هم ده او د دنیا هم. ځکه چه دا شان به تاسو د خلقو د شکونو او شبهاتو نه بچ شئ. او س دروازے پورے اِنختل او هلته اودریدل مناسب نهٔ دي. لما فیه من السلامة الصدر والبعد عن الریبة (مدارك ص۱۰۶ ج۳)

٤٥ لیس علیکم الخ. د لته د هغه کورونو او مکانونو ذکر کړے شوے دے په کوم کښے چه د اجازت نه بغیر داخلیدل جائز دي هغه داسے ځایونه دي چه په هغے کښے د چا بال بچ نهٔ اوسیږي. بلکه هغه د عوامي کاروبار د پاره خاص کړے شوے وي مثلاً هوټل، دُکانونه او سرائے وغیره. قال محمد بن الحنفیة وقتادة ومجاهد هي الفنادق التي في طرق السابلة قال مجاهد لا یسکنها احد بل هي موقوفة لیاوی الیها کل ابن السبیل (قرطبی ص۲۲۱ ج۱۲) هي الخانات والمنازل المبنیة للسابلة... وقیل بیوت التجار وحوانیتهم (خازن ص۲۸ ج۵)

٤٦ قل للمؤمنین الخ دا دویم قانون دے. ایمان والو ته یے هدایت او کړو چه هغوی دِ خکته نظرونو سره تلل کوي دے د پاره چه د پردو ښځو نه د هغوی نظرونه محفوظ پاتے شي. دا شان وے فرمائیل چه هغوی دِ خپل شرمګاه ونه د بد کارئ نه بچ اوساتي. دا د هغوی د پاره د طهارت او پاك دامنئ ذریعه ده. پردئ ښځے ته کتل د زِنا دواعي (راښکونکے) دے. ځکه یے دے نه په وړمبے منع اوفرمائیله ځکه چه د دے اسبابو و محرکاتو نه کله بنیادم لرے اوسیږي نو د هغے نه به هم محفوظ وي.

٤٧ وقل للمؤمنت الخ دا دریم قانون دے. په دیکښے ښځو ته د نظرونو خکته ساتلو او د فرج د حفاظت حکم ورکړے شوے دے. دے نه روستو یے ښځو ته زیات هدایت ورکړیدی. ولا یبدین زینتهن الخ: د زینت نه نفس زینت یا د زینت اندامونه مراد دي. ښځے دِ خپل زینت او ښائست یا هغه اندامونه کوم چه د زینت محل دے د پردو سړو

په مخکښې نه ښکاره کوي. لیکن د کوموانداموپو په پټولو کښې چه بالا او د هغې په ښکاره کولو کښې مجبوري وي هغه ظاهرولې شي. کوم ځنځې چه په باقاعده پرده کښې نه اوسیږي بلکه د خپل کار وغیره د پاره د کور نه وتل د هغوي مجبوري وي. هغوي د پاره دلاسونو د ښکاره کولو هم اجازت شته په دے شرط چه د فتنے ویره نه وي. لیکن چه ن صبا کوم فیشن کوونکے جینکۍ لاسونه او مخ بنا شنه کړي او بے پردے بهرته اوځي د دے بالکل اجازت نشته چه په د یکښے تول فتنه ده۔

۳۱۔ ولیضربن بخمرهن الخ دښځې په پیدائش حسن او جمال کښې سینه امتیازي حیثیت لري. په دے وجه د هغې پټولو تاکید یے په خاص طور یاند ے اوکړو چه پړونے د سر نه راز ورنه کړي. او په سینه باندے یے واچوي. د ے د پاره چه د سینے ستر په پوره ډول راشي دا په کور کښې د ستر حکم د ے. که چرے د کور نه بهرته د تللو ضرورت راشي نو برقعه یا خادر دے په سر کړي او بهرته دِ لاړه شي چه په هغه کښې یے ټول بدن پټ شي. دا حکم په یُدنین علیهن من جلابیبهن (احزاب ع ۸) کښې ذکر شوی دے. ولا یبدین زینتهن او خپل ښائست دِ د یو پردي سړي په مخکښې نه ظاهروي. لیکن د خپل خاوند نه علاوه دلاندے لیکلے شوو سړو په مخکښې د ښائست اظهار جائز دے. ځکه چه دا د دوي ذي رحم محرم دي. پلار، سخر، ځوئ، د خاوند د دوېمے ښځے نه ځوئ، رور، وراره او خوریے. اَوْ نِسَآئِهِنَّ د دے رشته دارو سړو نه علاوه د هغه ښځو په مخکښے هم خپل ښائست ښکاره کولے شي کوم چه مسلمانے وي او عادتونه یے ښه وي. د دینه معلومه شوه چه د کافرو ښځو په وړاندے او داشان د بد کاره او ګنده ښځو په مخکښے او کمینه ښځو په وړاندے د ښائست نمائش جائز نه دے. ځکه چه دا قسم ښځے د پرده نا کو ښځو حسن او ښائست د پردو سړو په مخکښے ذکر اوکړي. په د یکښے د فتنے ویره ده. قال ابن عباسؓ لا یحل للمسلمة ان تراها یهودیة او نصرانیة لئلا تصفها لزوجها (قرطبی ص۲۳۳ ج ۲)

۳۲۔ او ماملکت الخ د دے نه مراد وینځې دي ځکه چه غلام غیر محرم دے ای من الاماء ولو کوا فروا اما العبید فهم کلا جانب (روح ص۱۴۳ ج ۱۸) او التابعین الخ یعني هغه نوکران یا هغه سړي کوم چه د کور والو سره اوسیږي او په پاتے شوي خیز باندے ګذاره کوي ګرځے هغوي بوډا اګان وي او ښځو ته د هغوي میته او شوق نه وي د خپل کار سره کار لري او د هغوي په طبیعت کښې څه بے حیائي وغیره نه وي. یا د دے نه هغه ناتر العقل مراد دي چه حواس یے په ځائے نه وي. نو د هغوي په وړاندے هم ښائست ښکاره کولے شي. الرجل یتبع القوم فیاکل معهم ویرتفق بهم وهو ضعیف لا یکترث للنساء ولا یشتهیهن (قرطبی ص۲۳۴ ج ۱۲) المراد بالتابعین غیر اولی الاربة هم الذین یتبعون القوم لیصیبوا من فضل طعامهم لاهمة لهم الا ذلک ولا حاجة لهم فی النساء (خازن ص۷۲ ج ۵) او الطفل الذین دا شان هغه ماشومان چه بلوغ ته لا نه دي رسیدلي، د هغوي په مخکښې هم د ښائست ښکاره کولو اجازت شته. ولا یضربن بارجلهن الخ د تللو په وخت خپلے خپے په مزه مزه ګدي

اوزمکه دې په زړه نۀ وهي دے د پاره چه په خپو کښې د اچوړلے شوُو کالو آواز بردے سړے وانۀ وری ځکه چه هغه به په دے سره د ښځې په کردار شبه اوکړي اوممکن ده چه د هغوی په خپلو زړونو کښې فاسد خیالات پیدا شي. وتوبوا الی الله الخ انسان د خطا پتلا ده د ډیر کوشش باوجود هم په اوامرو او نواهیو کښې د هغهٔ نه قصور غالب دے. په دے وجه د خپلو بې هوښئ نه د توبې کولو او د معافئ غوښتلو حُکم ورکړو. العبد لا یخلو عن سهو وتقصیر فی اوامره ونواهیه وان اجتهدوا فلذا وصی المؤمنین جمیعا بالتوبة وبتامیل الفلاح اذا تابوا (مدارک ص۱۰۹ ج ۳)

۳۳ وانکحوا الایامٰی الخ دا غلورم قانون دے د دے تعلق هم د صلاح، پاک دامنئ او د معاشرے د پاکوالی سره دے. ایامٰی د ایم جمع ده او ایم نا واده کړی سړی او ښځې ته وائي یا هغه سړے او ښځه چه د هغوی د ژوند ملګرے وفات شوے وی. الایم قال نضر بن شمیل کل ذکر لا انثٰی معه وکل انثٰی لا ذکر معها بکرا کان او ثیبا... وفی شرح کتاب سیبویه لابی بکر الخفاف الایم التی لا زوج لها واصله هی التی کانت متزوجة ففقدت زوجها برزء طرأ علیها الخ (روح ص۱۴۳ ج ۸) یعنی د کومے ښځې او سړي چه تر اوسه پورے نکاح نۀ وی شوی یا شوے وی خو کونډه یا کونډ شوے وی. نو مناسب موقعه اوګورئ او د هغوی نکاح اوکړئ. داشان د غلامانو او وینځو نه چه کوم نیکان وی د هغوی نکاح هم اوکړئ ځکه چه د نکاح کولو سره به هغوی کښې د زنا داعیه کمزورے شي. او په نکاح کولو کښې ډیرے خرابئ دی. الصالحین نه یا شرعی معنیٰ مراد ده یعنی نیک او پرهیزګار وی دا قید یې ځکه اولګولو چه هغوی د زوجیت حقونه په صحیح طریقه ادا کړی او د زوجینو (ښځې او خاوند) او د هغوی د اولاد دین محفوظ شي. لیحصن دینهم ویحفظ علیهم صلاحهم (کبیر ص۲۸۵ ج ۶) یا د صلاح نه د دے لغوی معنوی صلاحیت مراد دے یعنی که چرے په وینځو او غلامانو کښې د نکاح صلاحیت وی. هغوی بالغ وی او د زوجیت د حقونو صلاحیت لری. وقیل المراد بالصلاح معناه اللغوی ای الصالحین للنکاح والقیام بحقوقه (روح ص۱۴۵ ج ۸)

۳۴ ان یکونوا الخ د غربت او ناچارئ د وجے نه د دوی په نکاح کښې روستو والے مۀ کوئ ځکه چه فقر او غناء د الله په قبضه کښې دی. که چرے الله ته منظور وی نو هغه به د دوی غریبي په مالدارئ سره بدل کړي. وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِیْمٌ، د هغهٔ خزانے لا محدود دی چه ختمیدے نۀ شي او هغه د خپل حکمت او مصلحت د لاندے چه چاته غواړی فقیر یا غنی یې جوړ کړی.

۳۵ ولیستعفف الذین الخ، د نکاح نه د لته د نکاح اسباب مراد دی (لا یجدون نکاحا) استطاعة تزوج من المهر والنفقة (مدارک ص۱۰۹ ج ۳) یعنی کوم خلق چه د ومره زیات محتاج دی چه د ښځې د نفقے او خرچے انتظام هم نۀ شي کولے. د دینه هم عاجز دی. هغوی دې د صبر او ضبط نه کار واخلي او د خپلو جذباتو قابو کولو کوشش دې اوکړي او د الله د فضل او کرم اُمید دې اوساتي چه کله الله تعالیٰ د هغوی د پاره د نکاح اسباب برابر

کړي نو نکاح دِ اوکړي.

۳۶ والذین یبتغون الخ دا پنځم قانون دے، د نکاح صلاحیت لرونکو وینځو او غلامانو د نکاح کولو حکم ورکولو نه روستو یے دکتابت مستحق غلامانو ته دمکاتب کولو حکم ورکړو. دے دپاره چه هغوی دکتابت بدل اَداکړي او آزاد شي. او د خپلے نکاح تصرفاتو او تجارت وغیره مختار شي. مکاتب هغه غلام ته وائي چه هغه ته د هغه مالک او وائي چه ته دومره رقم اَداکړه نو ته به آزاد یے. د خیرًا نه مراد قدرت او امانت دے یعني که چرے تاسو پوهیږئ چه غلام دکټلو قدرت لري او بد دیانته نه دے چه په مال کښے به خیانت اوکړي نو هغه مکاتب کړئ ای امانته وقدرة علی الکسب (روح) واتوهم الخ چه کله هغه مکاتب کړئ نو د هغه سره مالي امداد هُم اوکړئ دے دپاره چه هغه خپله کار شروع کړي. دکتابت د بدل نه څه تخفیف (کمے) هُم د دیکښے شامل دے. (روح، معالم، خازن)

۳۷ ولا تکرهوا فتیٰتکم الخ دا د صلاح او عفاف (پاک دامنۍ) شپږم قانون دے. د جاهلیت په زمانه کښے به خلقو وینځے په زنا مجبورولے او د هغے د ګټے نه به یے خوراک کولو. مفسرینو ویلي دي چه دا آیت د عبدالله بن اُبي رئیس المنافقین په باره کښے نازل شوے دے. د هغه دوه وینځے وے چه د هغوی ګټه به ده خوړله. د زنا د حرمت نازلیدو نه روستو مے وینځو د زنا نه انکار اوکړو او وے ویل چه اوس اسلام زنا حرام کړے ده. د دے وجے نه اوس به مونږ دا کار نه کوو. ابن اُبي هغوی مجبورے کړے نو هغه دواړه د نبي علیه السلام په خدمت کښے حاضرے شوے او د هغه شکایت یے اوکړو په دے باندے دا آیت نازل شو قال المفسرون نزلت في عبدالله بن ابي ابن سلول المنافق کانت له جاریتان یقال لهما مسیکة ومعاذة وکان یکرههما علی الزنا لضریبة یاخذ منهما الخ (خازن ص ج ۵) دا آیت مورد اګرچه خاص دے لیکن د دے حکم عام دے. لا اختصاص للخطاب بمن نزلت فیه الایة بل هي عامة في سائر المکلفین (روح ص ج ۱۸)

۳۸ اِن اَرَدْنَ الخ د دے نه په ظاهره شُبه کیږي. چه نهي د تحصن اراده سره مشروط ده. یعني که چرے وینځے د پاک دامنۍ اراده لري نو هغوی په زنا باندے مه مجبوروئ، د دے نه دا مفهوم راوتلو چه د تحصن اراده یے که نه وي نو د اکراه اجازت دے حالانکه دا صحیح نه ده. د دے ډیر جوابونه دي. اول دا چه د تحصن اراده ذکر کول محض د زیات تغلیظ او تقبیح فعل دپاره دے یعني چه کله هغوی پاک اوسیدل غواړي نو بیا په هغوی باندے جبر کول ډیر زیات بد فعل دے. څنګه چه په موجوده زمانه کښے یو څو واقعات مخے ته راغلي دي چه څینې بے غیرته خاوندان خپلے ښځے په بد کارۍ باندے مجبوروي. په دے وجه د تغلیظ په طور یے اوفرمائیل. چه کله هغوی د پاک اوسیدو اراده اوکړي نو تاسو له په طریقه اولیٰ د هغوی دپاره د پاک اوسیدو موقعے ورکول پکار دي. څنګه چه بل ځائ کښے ارشاد دے. لا تاکلوا الربا اضعافا مضاعفة (آل عمران) دلته د اضعافا مضاعفة اضافه په طور د تغلیظ ده. دا مطلب نه دے چه سود په سود کښے ناجائز دے او سود مفرد جائز دے

فيه توبيخ للموالى اى اذا رغبن فى التحصن فانتم احق بذالك (مدارك صنا ج ۳) دويم د تحصن اراده ذکر کول د اغلب حالاتو د رعايت په وجه کړے شويدے ځکه چه جبر او اکراه صرف په هغه صورت کښے کيدے شي چه کله وينځه د خپل محفوظ ساتلو اراده اوکړي او په زنا باندے راضي نه وي. ليکن که چرے هغه پخپله رضا وي نو د جبر او اکراه موقع به نه راځي. انما شرط ارادة التحصن لان الاكراه لا يتصور الا عند ارادة التحصن فاما اذا لم ترد التحصن فانها تبغى بالطبع (خازن ص۳۵ ج ۵) دريم لا تكرهوا فتيتكم الخ د نکاح کولو نه کنايه ده مطلب دا دے چه کله ستاسو وينځے د پاکيزه ژوند تيرولو اراده لري نو د هغوي نکاح اوکړئ او د نکاح نه هغوي مه منع کوئ. ځکه چه په دے صورت کښے د هغوي په زنا کښے د واقع کيدو ويره ده ځکه چه د نکاح د خواهش په وخت خلق د نکاح نه منع کول هم زنا طرفته د شوق کولو په اسبابو کښے دي. په دے وجه چه خلق خپلے وينځے د نکاح نه منع کوي گويا هغه دوي لره په زنا مجبوروي. حالانکه هغوي د زنا نه پاک ژوند تيرول غواړي قاله الشيخ قدس سره. ځينے حاکمان او لوئ لوئ بد پېلان ليدلے شويدي چه هغوي د خپلو لونړو و د ونه صرف په دے وجه نه کوي چه هغوي ته د هغوي د شان مطابق زومان نه ملاويږي حالانکه دين ته کتل پکار دي. د غه خلق هم د دے ايت د لاندے داخل دي.

ف۴۵ ومن يكرههن الخ د من جزا محذوفه ده. اى فلا اثم عليهن د دے نهي نه پس چه خلق هغوي په بد کارئ مجبوره کړي د هغے جرم او گناه به په جبر کونکي باندے وي. په وينځو به نه وي. ليکن د جبر او اکراه نه روستو په تقاضاء د بشريت هغه وينځے راضي شي د هغے به ورته الله معافي اوکړي. تعليق المغفرة لهن مع كونهن مكرهات لا اثم لهن... لاعتبار انهن وان كن مكرهات لا يخلون فى تضاعيف الزنا عن شائبة مطاوعة بحكم الجبلة البشرية (روح ص۱۵۱ ج ۱۸)

ف۴۶ ولقد انزلنا الخ: دويم ځل ترغيب سره د تخويف اُخروي ته. ايٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ. دلائل د توحيد، د معاشرے د پاره د احکامو بيانولو نه روستو اصل مقصد طرفته اشاره ده. ومثلا من الذين الخ. د مخکينو خلقو قصے او مثالونه، د دے د پاره چه د خُدائے نه ويريدونکي او توبه ويستونکي خلق د هغے نه نصيحت او عبرت حاصل کړي.

اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِؕ مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ

الله رڼا ده د اسمانونو او د زمکے لکه مثال د رڼا د هغه لکه يو تاخ چه په

فِيْهَا مِصْبَاحٌؕ اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍؕ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا

هغے کښے وي يو ډيوه لکه هغه ډيوه په شيشه کښے وي هغه شيشه داسے وي لکه

كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُوقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ

یو پرقیدونکے ستورے چه بلیږی په د یکښے دیوے مبارکے ونے د تیلو نه چه د زیتون وی نه دی

وَّلَا غَرْبِيَّةٍ ۙ يَّكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ؕ نُوْرٌ

مشرق ته او نه وی مغرب ته. نزدے ده چه تیل د هغے رڼا اوکړی اګرچه نه وی رسیدلے ورته اور رڼا ده

عَلٰى نُوْرٍ ؕ يَهْدِى اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ

په رڼا باندے الله لار ښائی خپلے رڼا ته چاله چه اوغواړی او بیانوی الله

الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۳۵﴾ فِىْ بُيُوْتٍ

مثالونه د خلقو د پاره او الله په هر شی باندے پوهه دے ف په هغو کورونو کښے

اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ ۙ يُسَبِّحُ لَهٗ فِيْهَا بِالْغُدُوِّ

چه الله حکم کړیدے ف د هغے د اوچتولو او هلته د هغه د نوم د لوستلو یاد وی هغه لره هلته سحر

وَالْاٰصَالِ ﴿۳۶﴾ رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ

او ماښام سړی دی چه نه غافله کیږی په تجارت او نه په خرڅولو د یادولو د

اللّٰهِ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ يَخَافُوْنَ يَوْمًا

خدای نه او د مانځه د قائمولو نه او د ورکولو د زکوٰة نه ویریږی د هغے ورځے نه چه

تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ وَالْاَبْصَارُ ﴿۳۷﴾ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ

اُلټه کیږی په کښے زړونه او سترګے چه بدله ورکړی دوی ته الله د دوی

مَا عَمِلُوْا وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ

د غوره نه د غوره کارونو او زیاتی ورکړی دوی ته د خپل فضل نه او الله رزق ورکوی هغه چاته چه

بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۸﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ بِقِيْعَةٍ

اوغواړی بے حسابه ف او هغه خلق چه منکر دی د دوی عملونه داسے دی لکه شګو ګل په بیابان

يَّحْسَبُهُ الظَّمْاٰنُ مَآءً ؕ حَتّٰىٓ اِذَا جَآءَهٗ لَمْ يَجِدْهُ شَيْئًا وَّوَجَدَ

کښے چه ګمان ئے کوی تږے د اوبو ترڅو چه کله ورته ورسی ف هیڅ شے بیا نه مومی او الله بیا مومی

اللّٰهَ عِنْدَهٗ فَوَفّٰىهُ حِسَابَهٗ ؕ وَ اللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۳۹﴾ۙ اَوْ

په خپله خوا کښې پس پوره به ورکړی ده ته حساب دده. او الله ډیر ژر حساب اخستونکے دے او

كَظُلُمٰتٍ فِيْ بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَّغْشٰىهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ

یا (عمل دده) پشان د تیارو دے په ژور دریاب کښې چه پټوی دے لره یوه څپه لګه د پاسه دبلې څپې او

فَوْقِهٖ سَحَابٌ ؕ ظُلُمٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ؕ اِذَآ اَخْرَجَ

د پاسه پرے ورېځ وی تیارے وی یوه دبلے د پاسه هر کله چه راوُباسی

يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا ؕ وَ مَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ

لاس نو نزدے نه وی چه هغه او وینی او چا لره چه الله ورنه کړی ئے رڼا دهغه د پاره چرته

مِنْ نُّوْرٍ ﴿۴۰﴾ؑ

هم رڼا نشته ف۲

ع ۵ ۱۱

نکات: ۔ س ۱ د توحید د دعوے ذکر ۱۲ س ۲ په توحید باندے نقلی دلیل ۱۲ س ۳ پېرذکر شوی نقلی دلیل باندے د شبهے جواب ۱۲

موضح قرآن ف ۱ یعنی الله سره د زمکے او آسمانونو ودانی ده که دهغه مدد نه وی نو تول نخیزونه به وران شي. او د الله د رڼا قصه او خبره هغه ده کوم چه ابن عباس رض وئیلی دی. دا د مؤمن په زړه کښے رڼا ده. په شومره پردو کښے یوه تیزه رڼا لری د قولو نه د ننه ستورے شان دے. او زیتون (خونه) نه شرقي او نه غربي یعنی د باغ په مینځ کښے چه نه یے د سحر نمر خوری نه د ماښام بلکه ښین او تازه وی. یا یے نبی علیه السلام ته اُوفرمائیل چه د زړه نور دهغه نه ملاویږی. هغوی د عربو په ملک کښے پیدا شوُ نه په مشرق کښے او نه په مغرب کښے. دهغه تیل یے تیار کړل د اُور بلولو د پاره تیار دی. یعنی د مؤمن په زړه کښے بغیر د ریاضت نه دهغه په صحبت سره رڼا پیدا کیږی. ورانه یے اوفرمائیل چه هغه رڼا ملاویږی دهغه چا نه څوک چه کامله بندګی کوی په جماتونو کښے صبا او بیګا.. هلته په بندګئ کښے مشغول وی.

ف ۲ د ایمان په برکت سره مؤمن ته د نیک عمل بدله ورکوُلے شي او بد عمل معاف کوُلے شي او د کفر د نامت او نحوست په وجه کافر ته د بد عمل سزا او نیک عمل یے خراب او ضائع. هم دے ته یے ډیر غوره او بهتر کار اووئیل.

ف ۳ کافران په دوه قسمه دی یو عیب طرفته کوری بیا یے لارے شي او د الله تعالٰے دین پریږدی. په غلطه لار روان شي او هغوی د پاره مثال دے چه تنکے یے اُوبه اُوګنړلے او

ورمنږه یې کړه. هلته اُو به مِلاؤ نه شوے. په آخرت کښے ورته ډکنا هُونو سزا مِلاؤ شوه.
دویم قسم هغه دی. چه په دُنیا کښے د رب دیار د کانړو عبادت کوی. د هغوی مثال یې
په ړاتلونکی آیت کښے بیان کړو هغوی سره تنګے هُم نښته په تیارو کښے بند دی.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی باتێ روښانه دهٔ ۱۲ ف۲ یعنی په یو قندیل (لالټین) کښے ۱۲
ف۳ حاصل د دے مثال تشبیه نوری دهٔ چه په سبب د همیشوالی سره
په طهارت او عبادت باندے حاصلیږی. د هغه ډیوے سره چه ډیره زیاته روښانه وی ۱۲
ف۴ د دے مثال حاصل دا دے چه د کافرانو عملونه به برباد شی په آخرت کښے به
هغه د پاره هیڅ نه وی ۱۲
ف۵ د دے مثال حاصل دا دے چه په کافرانو باندے د بهیمیت (حیوانیت) تیرے
راجمع شوی ی او د ملائکو رڼا ګانے د هغوی نه بالکل ختم شویدی ۱۲

تفسیر

۴۲ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ الخ په عائشه رضی الله عنها باندے د تهمت لګولو
منافقانو مقصد دا وو چه د دے سره به مسلمانان د نبی علیه السلام نه خلاف
شی او د توحید د مسئلے او دین اسلام نه به واوړی. د تهمت متعلق احکام او د معاشرے
د اصلاح او تطهیر د پاره قوانین بیانولو نه روستو یے اوس دلته د توحید اصلی دعوی
ذکر کړیده. اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ. الله پاک د ټول جهان نُور دے. د ټول جهان
بناشت د هغه سره قائم دے. د ټول عالم کاروبار د هغه په تدبیر او تصرف سره چلیږی.
او د کائناتو ذرے ذرے نه د هغه قدرت ظاهر او ښکاره دے صرف هغه د ټول
جهان مدبر او د ټول جهان والو کارساز دے. قال مجاهد و ابن عباس فی قوله (الله نور
السمٰوٰت والارض) یدبر الامر فیهما (ابن کثیر ص۲۸۹ ج ۳) ، (روح ص۱۶۴ ج ۱۸) قال مجاهد مدبر
الامور فی السمٰوٰت والارض (قرطبی ص۲۵۶ ج ۱۲) هُم د هغه په قدرت او تصرف سره د زمکے
او اسمانونو بناشت او د ټول جهان نظام قائم دے هر څیز د هغه سره روښانه او موجود
دے. المعنی ای به وبقدرته انارت اضواءها واستقامت امورها وقامت مصنوعاتها.
(قرطبی ص۲۵۶ ج ۱۲) الواجب الوجود الموجد لما عداه (روح) حاصل دا دے چه په ټول جهان کښے کوم
حُسن او خوبی او جمال او کمال دے هغه هُم هغه د ذات نه دے.

۴۳ مَثَلُ نُوْرِهٖ الخ اول یے اُوفرمائیل چه الله نُور دے او په زمکه او اسمان کښے
ظاهر او ښکاره دے. اوس یے د هغے د واضح کیدو مثال بیان کړو. د مثال تقریر دا شان
دے چه یو تاخ وی چه په هغے کښے ډیر صفا او شفاف شمعدان وی. چه د ځلیدو ښکی
ستوری پشان پرقیږی. او په هغه کښے باتێ وی چه د فانوس و نه ډکه د زیتون د ونے
تیلو سره بلیږی. او تیل هُم د ومره اعلیٰ وی چه د زیتون د دغه ونے نه حاصل شوے
دی چه صحرا او مابنام په نمر کښے وی هغه تیل دا سے صفا او لطیف وی چه دا سے معلومیږی
چه د اور نښودلو نه بغیر به بل شی. مشکوٰة تاخ چه کوم کښے ډیوه کیښودلے شی. مصباح
ډیوه، زجاجه: شیشه. کوکب دری، پرقیدونکے ستورے. لا شرقیة ولا غربیة یعنی

هغه نه د باغ شرق طرفته وي نه غربي طرفته بلکه په کولاؤ میدان او صحرا کښے وي د ے دپاره چه تول ورځ په هغے نمر اولګي. ځکه چه د دا سے ونے تیل ډیر زیات صفا او شفاف لطیف او اعلیٰ وي. اي ضاحية للشمس لا يظلها جبل ولا شجر ولا يحجبها عنها شيء من حين تطلع الى ان تغرب وذلك احسن لزيتها (روح ص۱۶۸ ج ۱۸) یوقد من شجرة الخ دالمصباح نه حال د ے او د شجرة نه وړاند ے مضاف مقدر د ے. اي من زيت شجرة نور على نور يعني داشان ډیر ے رڼاګانے جمع شو ے په ډیوه کښے تیل هم د زیتون وي چه ډیر زیات صفا او لطیف وي. بیا ډیوه د اعلیٰ درجے شفاف او چمکدار شیشے په شمعدان کښے وي. بیا هغه قندیل (لالټین) په یو محفوظ تاخ کښے وي. چه هغے سره رڼا راغونډه شي او تیزه شي داشان ډیر ے رڼاګانے جمع شي. هم دا مثال د توحید د مسئلے د ے چه د الله وحدانیت او د هغه کارسازي د ټول جهان د ذرے ذرے نه ظاهر او ښکاره وه. بیا الله پاک د مخکینو نبیانو علیهم السلام تعلیمات او د تیرشوؤ کتابونو رڼاګانو نوره هم واضحه کړه. بیا د نبي علیه السلام او قرآني تعلیماتو رڼاګانو سره دا مسئله نوره هم زیاته روښانه شوه. او بیا د نُورٌ علیٰ نور مصداق جوړه شوه. یهدی الله لنوره من یشاء، الله پاک د خپل ذات او صفاتو په اعتبار سره په ټول جهان کښے ظاهر او ښکاره د ے. د جهان ذرے ذرے سره د هغه معرفت حاصلیدے شي. لیکن د د ے باوجود د توحید لاره ښودل او هدایت ورکول د الله په اختیار کښے دي. هغه چه چاته اوغواړي هدایت ورکړي. د مثال حاصل دا د ے چه څنګه د ذکر شوے ډیوے د رڼا او روښانتیا اخري حد د ے. داشان د الله کارساز او متصرف کیدل واضح او ښکاره دي. تر د ے چه په دیکښے هیڅ د شک او شبهے ګنجائش نشته. ویضرب الله الامثال الخ الله پاک د خلقو د پوهولو دپاره مثالونه بیانوي او د هر څیز نه خبر د ے هغه ته معلوم د ے دا چه څوك د هدایت مستحق د ے او څوك غیر مستحق د ے. هو اعلم بمن استحق الهداية ممن يستحق الاضلال (ابن کثیر ص۲۹۳ ج ۳)

۵۲ فی بیوت الخ د توحید په دعوی باند ے هغه خلقو سره نقلي دلیل د ے څوك چه الله تعالیٰ مدبر د عالم، متصرف، مختار او کارساز ګڼړي. او هغه ته اوازکوي او هر قسمه شرك نه د الله تنزیه او پاکي بیانوي. فی بیوت ظرف متعلق د ے د یسبح سره، بیوت موصوف اذن الله الخ جمله صفت، رجال، د یسبح فاعل د ے. فیها، فی بیوت تکرار د ے دپاره د تاکید. اي یسبح له رجال فی بیوت وفیها تکریر کقولك زید فی الدار جالس فیها (بحر ص۴۵۶ ج ۶) یا فی بیوت خبر مقدم د ے. رجال نکره موصوف مبتداء مؤخر د ه. رجال نه نبیان علیهم السلام او د هغوي تابعدار مراد دي. د اَذِن نه امر او د رفع نه تعظیم مراد د ے او د الله د اسم ذکر کولو نه د هغه توحید مراد د ے. المراد بالاذن الامر وبالرفع التعظیم (روح ص۱۷۴ ج ۱۸) وعن ابن عباس رضي الله عنهما المراد به (بذکر اسمه) توحیده عزوجل وهو قول لا اله الا الله (روح ص۱۷۶ ج ۱۸) یعنی د کومو کورونو د عزت کولو او په کوم کښے چه د توحید ذکر اذکار کولو الله پاك حکم ورکړے د ے. په هغه کښے د الله دا سے بندګان د هغه ذکر کوي او سحر

او مابنام د هغه د تسبیح او تقدیس وظیفه کوي. چه د دُنیا کاروبار هغوی لره د الله د ذکر نه او مونځ قائمولو او د زکوٰة ورکولو نه مانع نه وي یعنی هغوی د دُنیا په کاروبار کښې داسې مشغول وي چه د الله د عبادت نه غافله شي بلکه په کارونو کښې د مشغولیه و باوجود د الله یاد او د هغه په فرائضو کښې سُستي نه کوي. یخافون الخ دا هم د هغه خلقو صفت دے. هغه خلق د هغه ورځ نه ویریږي چه د هغې د ویرے د وجے نه به زړونه بے ارامه او بے قراره شي. مراد د قیامت ورځ ده. لیجزیهم الله. دا د ذکرشوو افعالو سره متعلق دے. یعنی د الله تسبیح او پاکي د هغه د توحید ذکر، اقامت صلوٰة، ایتاء زکوٰة او خوف دے د پاره کړی چه الله تعالیٰ ورته بنه بدله ورکړي. او زیات فضل او مهرباني پرے اوکړي (روح) والله یرزق الخ دا د ماقبل د پاره علت دے یعنی الله پاک چه چاته اُوغواړي خالص په خپل فضل او کرم سره د اصل استحقاق نه زیاته جزاء ورکړي. په دے دلیلِ نقلي کښې بنود لے شویدے چه د الله نیک بندګان یعنی انبیان علیهم السلام او د هغوی تابعداران هر وخت نه هغه یادوي او د هغه د یاد او توحید نه هیڅ کله هُم نه غافله کیږي. هغوی صرف الله پاک متصرف، مختار او کارساز ګنړي او هغه ته آواز کوي. هغوی د قیامت د ورځے نه هُم ویریږي. د دینه معلومه شوه چه الله معبود برحق، مختار مطلق او مالك د ورځے د جزاء دے.

۳۹ والذین کفروا الخ دا په ذکرشوي نقلي دلیل باندے د یوے شُبهے جواب دے. په ذکرشوي دلیل باندے شُبه راتله چه که چرے مُسلمانان الله رابَلي او هغه یادوي نو د نورو مذهبونو والا هُم الله یادوي او هغه رابَلي نو دیکښې د مُسلمانانو څه خصوصیت دے د جواب حاصل دا دے چه د دواړو په عبادت او رابللو کښې د زمکے او اسمان فرق دے مُسلمانان صرف او صرف د الله عبادت کوي او صرف هغه رابَلي او د هغه په عبادت او دُعا کښې څوک نه شریکوي. د دے په عکس مُشرکان د الله د عبادت سره د نورو عبادت هُم کوي او د الله نه سِوا خپل جوړکړے شوي معبودان هُم کارساز ګنړي او هغه رابَلي. په دے وجه د هغوی ټول عملونه بے فائدے او ضائع دي. د مشرکانو عملونه په دوه قِسمه دي. اول هغه کوم چه په ظاهره بنهٔ دي. لیکن په حقیقت کښې بے فائدے دي. لکه چه مُشرکان خیراتونه کوي، سرائے او مسافرخانے جوړوي. دویم هغه چه په ظاهره هُم بد دي او په حقیقت کښې هُم ضرر رسونکي دي. لکه د الله نه سِوا نور کارساز او حاجت روا ګنړل وغیره. اعمالهم کسراب الخ کښې د اول قِسم عملونو مثال بیان شویدے. سَراب هغه شګه چه په نمر کښې پرقیږي او په نظر راځي. قیعة. صفا میدان. یو مسافر چه په یوه ډیره لویه فراخه صحرا کښې سفر کوي د نمر ګرمي تیزه وي او هغه د تندے نه بد حاله شوے وي. د لرے نه هغه ته سراب (شګو ګل) په نظر راشي چه د نمر د پلوشو د وجے نه د اُوبو پشان معلومیږي. لیکن چه کله هلته اُورسیږي نو د شګو نه سِوا هیڅ نه وي. مُشرکانو خپل نیکو کارونو سره اُمید ونه تړلے دي. لیکن د خُدای په نزد چه کله حاضرشي نو د عملونو نوم او نښان به هُم اُونه وِیني. اذا رأی السراب من هو محتاج الی الماء یحسبه ماء قصد لیشرب منه فلما انتهی الیه لم یجده شیئا، فکذلك الکافر یحسب ان عمل

عملا وانه قد حصل شيئا فاذا وافى الله يوم القيامة وحاسبه عليها ونوقش على افعاله لم يجد شيئا بالكلية (ابن کثیر ص۲۹۶ ج ۳)

۴۲ حتّٰی اذا الخ حتّٰی دغایت دپاره وی. لیکن ددے ربط دماقبل سره نه ظاهریږی. ځکه چه مخکښے دسراب مثال بیان شویدے او دهغے نه روستو دشبها توذکر دے. ددے وجے نه دلته به دا محذوف وی چه کافران خوپے اُوس نهٔ منی لیکن چه کله هغوی الله ته ورشی او هلته خپل باطل معبودان بیا نهٔ مومی دهغوی نه د ثواب اُمید وی. لیکن الله به هغوی په سخت عذاب کښے مُبتلا کړی.

۴۳ او کظلمت الخ دا د مشرکانو دد ویم قسم د عملونو مثال دے چه په ظاهره هُم خراب وی او په حقیقت کښے هُم. یعنی دد وی ځنے عملونه خو ظلمات په ظلما تو کښے دی. لکه دیو ډیر ژُور سمندر رونړ چه دهغے دپاسه د اُوبو بے شماره موجونه وی او بیا تورے وُریځے راغورے شوے وی. دا شان تکه توره تیارهٔ وی چه خپل لاس هُم نهٔ وی. مُشرکان د شرک او جهالت په دلے لاندے باندے او په چپو چپو تیارو کښے ډوب دی. او د رُشد او هدایت د رنړا هیڅ قسمه اثر هغوی ته نشی رسیدے. د شرک او گمراهئ په دے ډیل تیارو کښے هغوی چه کوم عملونه کوی. هغه هُم تول تیارهٔ وی. نهٔ د هغے ظاهر ښهٔ دے نهٔ باطن. شبهها (اعمالهم) فی ظلمتها وسوادها لکونها باطلة وخلوها عن نور الحق بظلمات متراكمة من لج البحر والامواج والسحاب (مدارک ص۱۱۳ ج ۳) د مشرکانو د عملونو فهرست ډیر اُوږد دے چه په ظاهر کښے هُم قبیح او شرمناک دی او د هغے انجام هُم تیارهٔ ده. مثلاً د بد کاره سړو او ښځو د بزرگانو د رضا حاصلولو د پاره د کړه په لو او سندرو نذرانو منبتنه کول. او بیا د هغوی په مزارونو باندے د منبتے پوره کولو په طور د کړا او سندرو مظاهره کول. دا شان د ځینو مُشرکو ښځو د ځینو بُزرګانو په زیارتونو باندے د داسے داسے ځیزونو منبتے کول چه د هغے نوم د ژبے او قلم په سُوکه را وړلو ته شرم او حیا منع کوے دی.

۴۴ ومن لم يجعل الله الخ: چا ته چه الله په دُنیا کښے د توحید رنړا ورنکړه او چا چه په دُنیا کښے نیک کار اونه کړو هغه به په اخرت کښے هُم د رحمت د رنړا او مغفرت نه محروم وی یا مطلب دا دے چه چا ته الله د هدایت رنړا ورنکړه هغهٔ ته بل هیڅوک هدایت نهٔ شی ورکولے. ای من لم يشأ الله تعالى ان يهديه الله سبحانه لنوره فى الدنيا فما له هداية ما من احد اصلا فيها وقيل ومعنى الاية من لم يكن له نور فى الدنيا فلا نور له فى الأخرة (روح ص۱۸۵ ج ۱۸)

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَن فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

آیا تا اُونهٔ لیدهٔ چه د الله پاک تسبیح کوی هغوی چه دی ﷺ په اسمانونو او زمکه کښے دی

وَالطَّيْرُ صٰٓفّٰتٍ ۭ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ ۭ وَاللّٰهُ

او الوتونکی مرغان پراخستے وزرشه هر یو پوهه دے دخپل شان بندګۍ او تسبیح کولو او الله پاک ته

عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿۴۱﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ

او د الله حکومت دے په اسمانونو او زمکه کښے

معلوم دی هغه چه کوی

وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۴۲﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُزْجِيْ سَحَابًا

ته نه ګورے چه الله راشړی وریځے لره

او الله ته واپسی ده .

ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهٗ ثُمَّ يَجْعَلُهٗ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ

بیا هغے لره قط په قط کوی الله بیا ته وینے باران چه راوځی

بیا یے یو ځای کوی

مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاۗءِ مِنْ جِبَالٍ فِيْهَا مِنْۢ

او نازلوی د اسمان نه کوم چه په دیکښے غرونه دی د

ددے مینځ نه

بَرَدٍ فَيُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَاۗءُ وَيَصْرِفُهٗ عَنْ مَّنْ يَّشَاۗءُ ۭ

ږلئی بیا هغه غورزوی په چا چه اوغواړی او بچ کوی تریے نه چاله چه اوغواړی

يَكَادُ سَنَا بَرْقِهٖ يَذْهَبُ بِالْاَبْصَارِ ﴿۴۳﴾ يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيْلَ

نزدے ده چه بجلئی برق یوسی نظر د سترګو الله بدلوی شپے

وَالنَّهَارَ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ﴿۴۴﴾ وَاللّٰهُ

او ورځے لره په دیکښے عبرت دے د پاره دخاوندانو د نظر او الله

خَلَقَ كُلَّ دَاۗبَّةٍ مِّنْ مَّاۗءٍ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰي بَطْنِهٖ ۚ

جوړ کړو نے هر ګرځیدونکی لره د اوبو نه پس ځینے هغه دی چه روان وی په خپله خیټه باندی

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰي رِجْلَيْنِ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰٓي اَرْبَعٍ ۭ يَخْلُقُ اللّٰهُ

او ځینے هغه دی چه روان وی په دوو خپو او ځینے هغه دی چه روان دی په څلورو خپو پیدا کوی الله

مَا يَشَاۗءُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۴۵﴾ لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ ۭ

هغه چه اوغواړی بیشکه الله په هر څه قادر دے . مونږ نازل کړل ایتونه ښه واضح بیانونکی .

وَاللّٰهُ يَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴۶﴾ وَيَقُوْلُوْنَ

او الله هدایت کوی چاته چه اوغواړی په نیغه لار باندے او خلق وائی ۵۲

اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ وَاَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مِّنْ

مونږ منلے دے الله لره او رسول لره او تابعداری کوو مونږه بیا واپس کیږی یوه فرقه د دوی نه د دے

بَعْدِ ذٰلِكَ ۭ وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾ وَاِذَا دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ

نه پس او دغه خلق نه دی منونکی او هر کله چه دوی راوبللے شی الله

وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَاِنْ

او رسول طرفته چه فیصله اوکړی په مینځ د دوی کښے بیا هم یوه فرقه د دوی نه مخ اړوی او که

يَّكُنْ لَّهُمُ الْحَقُّ يَاْتُوْٓا اِلَيْهِ مُذْعِنِيْنَ ﴿۴۹﴾ اَفِيْ قُلُوْبِهِمْ

دوی ته حق رسیږی نو راځی هغه طرفته قبلونکی آیا د دوی په زړونو کښے

مَّرَضٌ اَمِ ارْتَابُوْٓا اَمْ يَخَافُوْنَ اَنْ يَّحِيْفَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

مرض دے ۵۳ یا په دوکه کښے پراته دی یاویریږی چه بے انصافی به اوکړی په دوی باندے الله

وَرَسُوْلُهٗ ۭ بَلْ اُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۵۰﴾ ع

او د هغه رسول داسے نه ده بلکه دغه خلق بے انصافه دی ف۱

نکات: ۔ ۱ د توحید په دعوی باندے روښه عقلی دلیل ۱۲ ۲ دویم عقلی دلیل ۱۲ - ۳ دریم عقلی دلیل ۱۲ ۴ په دریم ځل د ترغیب اعاده ۱۲ ۵ شکوه او اعاده احوالِ منافقین۔

موضح قرآن ف۱ په زړه کښے بیماری داوه چه خدائ او رسول یے ربښتیا اُومنلو لیکن مرض هغوی نه پریښودل چه د هغے اقرار موافق عمل هم اوکړی لکه چه بیمار غواړی چه روان شی خو نیغے یے نه شی اُوچتیدے۔

تفسیر ۵۲ الم تر الخ دا د توحید په دعوی باندے روښه عقلی دلیل دے۔ د زمکے او اسمان ټول ذی عقل او غیر ذی عقل مخلوق د الله تسبیح او پاکی بیانوی. او هغه په هر څه خبردار دے. ولله ملك السموٰت الخ د زمکے او اسمان مالک او مختار هم صرف هغه دے. او هر کار او هره معامله د هغه په اختیار کښے ده. نو د دینه معلومه شوه چه معبود برحق او متصرف صرف الله دے. الطیر معطوف دے په مَنْ باندے او صافات د دهٔ نه حال دے. دا په هوا کښے چه کوم مرغان الوزی نیچلے وزرے پراتزی او راغونډوی

اوکوم طرفته چه غواړی هغې طرفته ګکیږی. هغه هم د الله تسبیح بیا نوی. په کُلٌّ کښے تنوین د مضاف الیه نه عوض دے. ای کل واحدٍ ممن ذکر یعني د الله د مخلوق نه هر یو د الله عبادت او د هغهٔ د تسبیح ویلو او لونی بیا نولو طریقے پیژنی. انسانانو ته یے د نبیانو علیهم السلام په ذریعه تعلیم ورکړو او باقی مخلوق ته یے د الهام په ذریعه د الله د ذکر طریقے اوښودلے. المعنی قد علم کل مصل و مسبح صلاة نفسه وتسبیحه الخ (قرطبی ص۲۸۷ ج ۱۲) و یراد بافرادها (الطیر) بالصلوٰة والتسبیح ما الهمه الله تعالیٰ کل واحد منها من الدعاء و التسبیح (ابوالسعود ص۲۳۵ ج ۶)

۴۳ الم تر ان الله یزجی الخ: دا دویم عقلی دلیل دے. په دیکښے د الله د کامل قدرت ذکر دے. الله پاک د مختلفو طرفونو نه وریځے راروانے کړی او یو ځائے یے جمع کړی. بیا د هغهٔ په قدرت سره د هغې وریځو نه باران وریږی. هغه د اسمان د طرفنه د غرونو شان وریځو نه ږلئ ورَوی چه د هغې په وجه سره د ډیرو خلقو جانی او مالی نقصان کیږی. او ډیر ترے محفوظ پاتے کیږی. د وریځو نه چه کله بریښنا برقیږی د هغے رنړا دومره تیزه وی چه د سترګو رنړا نزدے ده چه ختمه کړی. دا ټول نظام د الله په قبضه کښے دے. یُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّیْلَ الخ د دے نه علاوه د شپے او ورځے انقلاب یعني د شپے او ورځے یو بل پسے راتلل او د هغے کمے او زیاتے هم د الله په اختیار کښے دے. اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ الخ کوم خلق چه عقل او پوهه لری هغوی دپاره په دے ټولو تکوینی دلائلو کښے عبرت دے. دیته د الله کارسازی د هغهٔ د معبود برحق کیدل او په ټول عالم کښے متصرف او مختار کیدل ثابتیږی. (لعبرة لاولی الابصار) ای دلالة لاهل العقل والبصائر علی قدرة الله وتوحیده (خازن ص۳۳ ج ۵) دا هغه دعوی ده چه د کوم په وجه سره منافقانو په نبی علیه السلام باندے بد نامئ لګولے. من السماء یعنی د پاس د طرفنه مراد وریځ ده. من جبالٍ من السماء نه بدل دے. او جبال د وریځو نه کنایه ده ځکه چه وریځ د سپینو غرونو په شان په نظر راځی. من السماء ای من السحاب فان کل ما علاک سماء... من جبال ای من قطع عظام تشبه الجبال فی العظم (روح ص۱۹۰ ج ۱۸)

۴۴ والله خلق الخ، دا د توحید په دعوی باندے دریم عقلی دلیل دے. دا هم د الله په کامل قدرت باندے یو واضح دلیل دے چه هغهٔ هر حیوان د اوبو تحاڅکی نه پیدا کړو او بیا یے هغه په ډیرو قسمونو کښے تقسیم کړل. ځینے حیوانات یے داسے پیدا کړل چه د هغوی ځینے نشته هغه په خیټه روان دی لکه مار، ځینے په دوو خپو روان دی. لکه انسان او مرغان. او ځینے په څلورو خپو باندے ګرځی لکه چارپایان. هغه چه څهٔ او غواړی هغه پیدا کړی، که چرے د څلورو نه زیات هم د پښے وی نو هغهٔ د قدرت نه څهٔ لرے نهٔ ده. ځکه چه هغه په هر څهٔ قادر دے هغه قادر مطلق معبود برحق او په ټول جهان کښے متصرف دے.

۴۵ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَا الخ دا ترغیب الی القرآن دریم ځل اعاده ده. وے فرمائیل چه مونږ په قرآن مجید کښے د توحید دلائل واضحه بیان کړیدی. لیکن د دے باوجود د هدایت توفیق صرف هغه خلقو ته ملاویږی څوک چه د زړهٔ په صدق او په اخلاص نیت سره د

هدایت طلب کونکے او تلاش کونکے وی.

۵۱ ویقولون امنا الخ دا په منافقانو باندے شکوی او د منافقانو د حال اعاده ده چه په ژبه خو هغوی د ایمان او اطاعت دعوٰی کوی لیکن د هغوی عملونه دا دی چه د نبی علیه السلام د عزت او ابروے هم خیال اُونه ساتلو او د دروغو تهمت یے پرے اُولګولو په دے وجه دا خلق هرګز د ایمان والا نه دی. او د هغوی د ایمان دعوٰی بالکل دروغ ده. واذا دعوا الخ دا د منافقانو د عام عادت بیان دے چه کله د هغوی د چا سره په څه معامله کښے جګړه شی او دویم فریق هغوی ته اووائی چه راځئ د الله پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته ورشو هغوی چه د الله په حکم سره کومه فیصله اوکړه مونږ ته منظوره ده نو هغوی د دے نه تښتی که چرے هغوی په حقیقت کښے ربښتونی مؤمنان دی نو بیا د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د فیصلے نه ولے ډډه کوی. وان یکن لهم الحق الخ لیکن که چرے هغوی ته معلومه شی چه فیصله به د هغوی په حق کښے وی. نو په منډه منډه نبی علیه السلام ته ورځی. په دے صورت کښے هغوی صرف د دُنیا طلب کولو د پاره نبی علیه السلام ته راځی په دے وجه نه چه هغوی ته د نبی علیه السلام فیصله خوښه وه. ای مسرعین فی الطاعة طلبا لحقهم لا رضا بحکم رسولهم. (مدارک ص۱۱۵ ج ۳)

۵۳ أفی قلوبهم الخ: دا خلق د اسلام د حکم په مخکښے سر ولے نه ټیټه کوی آیا د دوی په زړونو کښے د شک او نفاق بیماری ده. او په خدائے او رسول باندے د هغوی ایمان نشته یا د هغوی د الله په توحید او د پیغمبر علیه السلام په نبوّت کښے شک دے. یا هغوی ته خطره ده چه د الله رسول به په فیصله کولو کښے په هغوی زیاتے اوکړی. او انصاف به نه کوی. بل اولئک هم الظلمون دا خبره نه ده یعنی د هغوی د اعراض وجه دا نه ده چه د هغوی په خپلو ځانو باندے د ظلم ویره ده. ځکه چه هلته خو د ظلم او بے انصافئ احتمال هُم نشته. اصلی خبره دا ده چه دا خلق په خپله بے انصافه دی. هغوی ظلم او بے انصافئ ته ملا تړلے ده. او د نورو حقونه پائمال کوی. په دے وجه د پیغمبر علیه السلام په مخکښے د معاملے پیش کولو نه ویریږی ځکه چه هغوی په ناحقه دی او د نبی علیه السلام فیصله به د هغوی خلاف وی.

إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ

د ایمان والو خبره دا ۵۴ وه چه کله راوغوښتلے شی الله او د هغه رسول طرفته

لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَنْ يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ

د فیصلے کولو د پاره په دوی کښے چه وئیل یے مونږ واؤریدل او حکم مو اُومنه او دغه خلق دی

الْمُفْلِحُونَ ﴿٥١﴾ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَخْشَ اللَّهَ وَيَتَّقْهِ

چه دوی لره خیر دے او څوک چه حکم منی د الله او د هغه د رسول او ویریږی د الله نه او ځان ساتی

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ

پس دغه خلق مراد ته رسیدونکی دی او قسمونه خوری په الله پاخه قسمونه خپل

لَئِنْ اَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ؕ قُلْ لَّا تُقْسِمُوْا ۚ طَاعَةٌ مَّعْرُوْفَةٌ ؕ

که ته ورته حکم اوکړے نو هرخه به ضرور پریږدی وبه وځی ته او وایه قسمونه مه خورئ حکم منل پکار دی د دستور

اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۳﴾ قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا

مطابق بیشکه الله خبردے په هغه څه چه تاسو یے کوئ ته او وایه چه حکم منئ د الله او حکم منئ د

الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ ؕ

رسول ﷺ بیا که تاسو مخ واړوئ نو په هغه دے بوج د هغې چه په هغه ایښے دے او په تاسو دے بوج د هغې چه

وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۵۴﴾

په تاسو دے او که د هغه خبره اومنئ نو لار به بیامومئ او نشته په رسول ذمه واری مګر د ښکاره رسولو

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ

وعده کړیده الله د هغه خلقو سره چه ایمان یے راوړیدے ستاسو نه او کړیدی یے دوی نیک کارونه چه حاکمان به کړی

فِى الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۖ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ

دوی لره په زمکه کښے لکه چه حاکمان کړی یے وو د دوی نه وړاندے لره هم او مضبوط به کړی دوی لره

دِيْنَهُمُ الَّذِى ارْتَضٰى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ

دین د دوی کوم چه غوره شویدے د دوی دپاره او ور به کړی دوی ته د دوی د ویرے په بدل کښے

اَمْنًا ؕ يَعْبُدُوْنَنِىْ لَا يُشْرِكُوْنَ بِىْ شَيْئًا ؕ وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ

امن عبادت به کوی زما شریک به نه جوړوی ما سره هیڅ او څوک چه ناشکری اوکړی د دینه پس

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَ

نو دغه خلق دی نافرمانه ف ۲ او قائم ساتئ مونځ لمونځ او ورکوئ زکوٰة او

اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۵۶﴾ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

حکم منئ د رسول چه په تاسو رحم اوشی خیال مه کوه چه دا کافران به

مُعۡجِزِيۡنَ فِي الۡاَرۡضِ ۚ وَمَاۡوٰىهُمُ النَّارُ ؕ وَلَبِئۡسَ الۡمَصِيۡرُ ﴿۵۷﴾ ع

ولیشي او نه به شي په زمکه کښې ئه او د دوی ځای اور دے او ډیر بد ځای د ورتلو دے۔

نکات: ۱ د مؤمنانو صفات او هغوی د پاره بشارت ۱۲ ۲ منافقانو باندے زجر ۱۲
۳ بشارتِ دُنیوی د پاره د مخلص مؤمنانو ۱۲ ۴ تخویفِ اُخروی ۱۲

موضح قرآن ف د نبی علیه السلام د زمانے خلقو ته یے خطاب اوکړو کوم چه به هغوی کښې نیکان وی روستو د نبی علیه السلام نه به هغوی ته حکومت ورکړی۔ او کوم دین (اسلام) چه هغه ته خوښ دے دهغوی په لاسونو به یے قائم او خور کړی۔ او هغوی به عبادت کوی بغیر د شرک نه۔ دا وعده خلورو وارو خلفاءِ راشدینو سره پوره کړے شوه۔ او زیاتے یے اوفرمائیل بیا چه څوک د دے نعمت ناشکری اوکړی۔ هغوی نافرمانه دی څوک چه د دوی د خلافت نه انکار اوکړی د هغوی په حال باندے خبر ورکړے شو۔

فتح الرحمن ف۱ یعنی لکه بنی اسرائیل یے د عمالقه نه روستو بادشاهان جوړ کړل۔ ۱۲
ف۲ یعنی څنګه چه د حضرت عثمان رضی الله عنه قاتلانو ناشکری اوکړه ۱۲۔

تفسیر ۵۴ اِنَّمَا كَانَ الخ د منافقانو د حال بیانولو نه روستو د هغوی په مقابله کښې د مخلصو مؤمنانو حال بیان کړے شو۔ او هغوی ته اُخروی بشارت ورکړے شو۔ د منافقانو حال تاسو واوریدۀ۔ اوس د مخلصینو حال هم واورئ۔ د مخلصینو حال دا دے چه هغوی د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم فیصلے بغیر د څۀ انکار نه په سر سترګو مني۔ او د هغے په قبلولو کښې معمولی شان تامل او اخوا دیخوا نۀ کوی۔ او د آخرت کامیابي هم د دے خلقو د پاره ده۔ وَمَنْ يُطِعِ اللهَ الخ او کوم خلق چه د الله او د هغۀ د رسول اطاعت اوکړی او د الله نه اوویریږی او د هر قسمه شرك نه ځان اُوساتی هغوی به په آخرت کښې کامیاب وی۔ يَخۡشَ اللهَ یعنی کوم ګناه یے چه کړیدی په هغے باندے د تیږلو نه اوویریږی وَيَتَّقۡهِ او اُننده د پاره د ګناه کولو نه ځان اُوساتی۔ و یخش الله فیما مضی من عمره ویتقه فیما بقی من عمره (قرطبی ص۲۹۵ ج۱۲)

۵۵ وَاَقۡسَمُوۡا الخ منافقانو ته زجر دے سره د شکوے۔ د منافقانو د غلط بیانئ دا حال دے چه هغوی د پیغمبر علیه السلام په مخکښے به دروغو قسمونه کوی او وعده کوی چه کله ستاسو حکم اُوشی مونږ به د جهاد د پاره فوراً د دُشمن مقابلے ته وتلو د پاره تیار شو۔ لیکن چه کله د جهاد وخت راشی نو د دروغو بهانے جوړولو سره ودده کوی۔ قُلۡ لَّا تُقۡسِمُوۡا الخ الله پاك پیغمبر علیه السلام ته حکم ورکړو چه کله منافقان قسمونه اوکړی او تاسو سره وعده اوکړی نو تاسو هغوی ته او وایئ چه دا بے فائدے قسمونه مه کوئ ځکه چه ستاسو اطاعت او حکم منل ما ته د مخکښے نه معلوم دی۔ چه دا محض زبانی دعوی ده۔ د دے حقیقت هیڅ هم نشته۔ ځکه چه الله پاك ستاسو د ټولو ظاهری او باطنی عملونو نه خبر دے هغه ته

معلومه ده چه تاسو به ژبه دروغ قسمونه خورئ او محض د دروغو وعدے کوئ. لیکن ستاسو په زړونو کښے کفر او نفاق ځائ اونیولو. طَاعَةٌ مَّعْرُوْفَةٌ مرکب توصیفی د مبتداء محذوف خبر دے او دا جمله د ماقبل دپاره علت دے. خبر مبتدأ محذوف ای طاعتکم طاعة والجملة تعلیل للنهی کانه قیل لا تقسموا علی ما تدعون من الطاعة لان طاعتکم طاعة معروفة بانها واقعة باللسان فقط من غیر مواطأة من القلب الخ (روح صـ۱۹۹ ج ۱۸)

۵۶ قل اطیعوا الخ نبی علیه السلام ته حکم وکړے شو چه تاسو دے منافقانو ته اووایئ که واقعی تاسو مخلص یئ نو د الله او د هغهٔ د رسول علیه السلام په زړهٔ سره اطاعت اوکړئ فان تولوا الخ که چرے تاسو د الله او د هغهٔ د رسول د اطاعت نه مخ واړولو نو دے سره به تاسو خپل نقصان اُوکړئ او بل هیڅ ته به نقصان ورنکړئ. تَوَلَّوْا جمع مذکر مخاطب فعل مضارع صیغه ده. یوه تاء د تخفیف دپاره حذف کړے شویده. ای فان تتولوا فحذف احدی التائین (قرطبی صـ۲۹۶ ج ۱۲) یرید فان تتولوا فما ضررتموه و انما ضررتم انفسکم (مدارک صـ۱۱۶ ج ۳) ځکه چه پیغمبر علیه السلام صرف د دے ذمه دارئ جواب ورکونکے دے چه د هغهٔ په ذمه لګولے شویده یعنی د اوامرو او د احکام خداوندی خلقو ته رسول او تاسو به د خپلے ذمه وارئ جواب ورکونکی یئ یعنی د خدائ او د رسول اطاعت او حکم منل. په دے وجه که چرے تاسو خپله د اطاعت فریضه ادا کړئ. او په الله او د هغهٔ په رسول صلی الله علیه وسلم باندے ایمان راوړئ او د هغهٔ د احکامو تعمیل اُوکړئ نو د دواړو جهانونو د کامیابئ لاره به بیا مُومئ او په دُنیا او آخرت کښے به خوشحاله اُوسیږئ. کنی ستاسو سرکشی او شرارت سره او ستاسو منافقت سره به د پیغمبر هیڅ نقصان اُونشی. د هغهٔ په ذمه د تبلیغ فریضه وه چه هغهٔ ډیر په ښکلے طریقه ادا کړه. وما علی الرسول الا البلٰغ المبین التبلیغ الموضح فضرر عدم القبول لیس الا لکم (جامع صـ۳۱۱)

۵۷ وعد الله الخ دا د خالص مؤمنانو دپاره بشارتِ دُنیوی دے. د منافقانو د ذکر نه روستو یے خالص او مخلص مؤمنانو ته د دُنیوی حکومت او سُلطنت ملاوید و خوشخبری واؤروله. دا آیت په اصل کښے د صحابه کرامو په باره کښے دے. چه په اصل او حقیقت کښے د دے آیت مخاطب دی. په دے آیت کښے هغوی سره درے وعدے اوکړے شوے. اول دا چه هغوی ته به د عربو په زمکه کښے حکومت او خلافت ورکولے شی. دویم دا چه کوم دین الله د هغوی دپاره خوښ کړیدے هغے دین ته به د هغوی په زمانه کښے قوت او غلبه ورکولے شی. او هغوی به په دغه دین باندے قائم پاتے وی او د توحید نه د شرک طرفته نهٔ واپس کیږی. دریم دا چه د کوم کورنئ یا د بهرنی طاقت نه به هغوی ته هیڅ خطره نهٔ وی. او هغوی به بالکل په امن او حفاظت کښے ژوند تیروی. دا دریواړه وعدے الله تعالیٰ د خلفاءِ راشدین په دَور کښے هغوی ته ورکولو سره پوره کړے. لیکن د حضرت علی رضی الله عنه په زمانه کښے دریمه خبره وُرکه شوه. یعنی امن پوره نهٔ شو. او خانه جنګی شروع شوه. دینه معلومه شو

چه د خلفاءِ راشدین یعنو رضی الله عنهم خلافت به حق او د الله د شوی وعدی خلافت وو (کہ) کما استخلف الخ کښې د بنی اسرائیلو خلافت سره تشبیه ورکړے شوې ده یعنی څنګه چه الله پاک جبابره د مصر او عمالقه د شام هلاک کړل او بنی اسرائیل یې د هغوی په علاقو او د هغوی په مالونو او کورونو باندې قابض کړي ول وو. دا شان به الله تعالیٰ ستاسو دشمنان هلاک کړي او تاسو ته به حکومت درکړي. کما استخلف الذین من قبلهم ای بنی اسرائیل حین اورثهم مصر والشام بعد هلاک الجبابرة (بحر ص ۴۶۹ ج ۶)

۵۵ یعبدوننی الخ دا حال دے د الذین نه یا بدل یا جمله مستانفه ده. دا د هغه خلفاؤ دزیات نورو صفتونو بیان دے. وے فرمائیل هغوی به صرف زما عبادت کوی او صرف ما به د ټول جهان متصرف او کارساز ګنړي او په حاجتونو او مهمّاتو کښې به صرف ما ته آواز کوی او ما سره به هیڅوک نه شریکوی. حاصل دا چه هغوی به په توحید باندې قائم اوسیږي او د شرک طرفته به رجوع نه کوی. اما قوله یعبدوننی لا یشرکون بی شیئا ففیه دلالة علی ان الذین عناهم لا یتغیرون عن عبادة الله الی الشرک (بحر ص ۴۶۹ ج ۶) ومن کفر الخ دا جمله معترضه ده. دیکښې هغه خلقو د پاره تخویف او ویرول دی. څوک چه د دے نعمت ناقدري او ناشکري اوکړي. د دے خلافت په زمانه کښې به د خلقو دین هم په اصلی شکل کښې محفوظ پاتے وی او د هغوی مال او ځان او د هغوی عزت به هم محفوظ وی. په دے وجه کوم خلق چه د دے خلافت خلاف د بغاوت جهنډه اوچته کړي هغوی به فاسقان او د الله ډیر زیات نافرمان وی. د ټولو نه مخکښې د حضرت عثمان رضی الله عنه قاتلانو د دے نعمت ناقدري اوکړه او په فاسقانو کښې شمار کړے شول. د دغه بغاوت او ناشکرئ نتیجه دا شوه چه الله پاک د هغوی نه امن پورته کړو. او په مسلمانانو کښې خانه جنګی شروع شوه. قال اهل التفسیر اول من کفر بهذه النعمة وجحد حقها الذین قتلوا عثمان فلما قتلوه غیر الله ما بهم وادخل علیهم الخوف حتی صاروا یقتتلون بعد ان کانوا اخوانا (خازن ص ۸۳ ج ۵)

۵۶ واقیموا الصلوة الخ د دینه مخکښې واقول لکم محذوف دے. یا دا په اطیعوا الله باندې معطوف دے. اول د اطاعت حکم ورکړے شو د هغې نه روستو مطیعینو مومنانو ته خوشخبري ورکړے شوه او بیا د مانځه او د زکوٰة د ادا کولو خصوصی حکم ورکړے شو ځکه چه دا دواړه عبادتونه په ټولو شریعتونو کښې د ټولو نه زیات اهم دی. معطوف علی اطیعوا الله واطیعوا الرسول ولا یضر الفصل وان طال (مدارک ص ۱۱۷ ج ۳)

۵۷ لا تحسبن الخ دا د توحید د منکرینو د پاره تخویف اخروی دے. مشرکان دا سے په بے فکرئ سره په کفر او شرک کښې ننوتلی دی او زمونږ د احکامو نه په بغاوت او سرکشئ کښې غرق دی لکه چه هغوی به زمونږ نه چرته اوتښتی. او زمونږ د نیولو نه به بچ شی. هغوی د دا سے غلط فهمئ کښې اوسیدل پکار نه دی. هغوی چه چرته وی الله تعالیٰ به هغوی حاضر کړی او د هغوی ځائے جهنم دے چه ډیر زیات بد ځائے دے د هغې نه به دوی هرګز بچ نه کړے شی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِيَسْتَاْذِنْكُمُ الَّذِيْنَ مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ

اے ایماندارو! اجازت دِ اخلي در اللولاله تاسو نه کوم چه ستاسو لاس مال دے ولی

وَالَّذِيْنَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلٰثَ مَرّٰتٍ ۭ مِنْ قَبْلِ

او کوم چه نهٔ وی رسیدلی په تاسو کښے دعقل حد ته درے ځله وړاندے

صَلٰوةِ الْفَجْرِ وَحِيْنَ تَضَعُوْنَ ثِيَابَكُمْ مِّنَ الظَّهِيْرَةِ وَ

د سحر مانځه نه او کله چه وُباسئ تاسو خپلے کپړے په غرمه کښے او

مِنْۢ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَاۗءِ ڜ ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ ۭ لَيْسَ عَلَيْكُمْ

د ماسخوتن مانځه نه روستو دا درے وختونه د پردے دی ستاسو هیڅ تنګی نشته په

وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ بَعْدَهُنَّ ۭ طَوّٰفُوْنَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ

تاسو اونهٔ په هغو د دے وختونو نه پس چه ځنی راځی دیو بل

عَلٰي بَعْضٍ ۭ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ

خوا ته داسے بیانوی الله تاسو ته خبرے او الله په هرڅه پوهه

حَكِيْمٌ ﴿۵۸﴾ وَاِذَا بَلَغَ الْاَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَاْذِنُوْا

حکمت والا دے ﴿۵۸﴾ او هر کله چه اورسی هلکان ۶۳ تاسو نه دعقل حد ته نو دوی له هم دغسے اجازت

كَمَا اسْتَاْذَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ

اخستل پکار دی څنګه چه اجازت اخستے دے د دینه وړاند خلقو دا رنګ بیانوی الله تاسو ته خپلے

اٰيٰتِهٖ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۵۹﴾ وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاۗءِ الّٰتِيْ لَا

خبرے او الله په هرڅه پوهه حکمت والا دے ﴿۵۹﴾ او هغه چه ناستے دی په کور د نو کښے ستاسو د

يَرْجُوْنَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ اَنْ يَّضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ

هغو ښځو نه ۶۴ چه اُمید یے نهٔ وی پاتے شوی د نکاح په دوی ګناه نشته چه وُباسی کپړے خپلے

غَيْرَ مُتَبَرِّجٰتٍۢ بِزِيْنَةٍ ۭ وَاَنْ يَّسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّ ۭ وَاللّٰهُ

داسے نهٔ چه ښکاره کوونکے وی د خپل سنګار او که د دے نه هم ځان وُساتی نو دوی له غوره ده. او الله

سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٦٠﴾ لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ

نوړلے خبرے اوری پیژنی ف۱ نشته په ړوند کله څهٔ تکلیف او نهٔ په ګډ

حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ وَّلَا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَنْ

څهٔ تکلیف او نهٔ په مریض څهٔ تکلیف ف۲ او نهٔ په تاسو خلقو څهٔ تکلیف شته

تَاْكُلُوْا مِنْۢ بُيُوْتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اٰبَآىِٕكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اُمَّهٰتِكُمْ

چه خورئ د خپلو کورونو نه یا د خپل پلار نیکهٔ د کورونو نه یا د خپلو میندو د کورونو نه

اَوْ بُيُوْتِ اِخْوَانِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَخَوٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَعْمَامِكُمْ

یا د خپلو رونړو د کورونو نه یا د خپلو خویندو د کورونو نه یا د خپلو ترونو د کورونو نه

اَوْ بُيُوْتِ عَمّٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَخْوَالِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ خٰلٰتِكُمْ

یا د خپلو ترورګانو د کورونو نه یا د خپلو ماماګانو د کورونو نه یا د خپلو ترورګانو (د مور خویندو) د

اَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَّفَاتِحَهٗٓ اَوْ صَدِيْقِكُمْ ۭ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ

کورونو نه یا د کوم کور د کنجیانو چه تاسو مالکان یئ ځیا د خپل دوست د کوره نه نشته ګناه په تاسو باندے

اَنْ تَاْكُلُوْا جَمِيْعًا اَوْ اَشْتَاتًا ۭ فَاِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوْتًا فَسَلِّمُوْا

چه یو ځائ اوخورئ یا جدا جدا اوخورئ بیا چه کله داخل شئ کورونو ته نو وکړئ سلام کوئ

عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُبٰرَكَةً طَيِّبَةً ۭ كَذٰلِكَ

په خپلو خلقو نیکه دُعا ده د الله د طرفنه د برکت والا پاکه ده دا سے

يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٦١﴾ ع

بیانوی الله تاسو ته خپلے خبرے دے د پاره چه تاسو پوهه شئ ف۵

نکات :۔ سا دسورة د دویم حصے شروع ۱۲ سا د معاشرت رو مبے قانون ۱۲ سا دویم قانون د معاشرت ۱۲ سا دا دریم قانون د معاشرت دے ۱۲

موضح قرآن ف۱ په دے دریو وختونو کښے نابالغه هلکانو د پاره او وینځو د پاره هم اجازت اخستل پکار دی او په نورو وختونو کښے حاجت نشته۔

ف۲ دا شان اجازت لکه چه د پردو کورونو والاهر وخت خبر ورکولو سره راځی او داخلیږی۔

ف۳ یعنی بُوډۍ ښځې که په کورونو کښې په لڅو کپړو کښې اُوسیږي نو صحیح دهٔ. او که پوره پرده اوکړي نو زیاته بهتره دهٔ۔

ف۴ یعني کوم کار چه د تکلیف دے هغه دوی ته معاف دے جهاد، حج، جُمعه او جمعه او داسے نور ځیزونه.

ف۵ یعني د قرابت او رشته دارئ علاقو کښې د خوراك په ځیزونو کښې هر وخت تپوس کولو ته ضرورت نشته نه د خوړلو والا پرده کوي. نهٔ د کور والا سر په کوي. لیکن د ښځې کور د هغې د خاوند کور وي نو د هغه مرضي پکار ده او یو ځائې خوراك کوي که جُدا یعنی دا خیال مه کوئ چه چالرهٔ اُوخوړله او چا ډیره یو ځائې خوراك کوئ او که د یو سړي خوښه نهٔ وي نو هرګز د چا ځیز خوړل صحیح نهٔ دي. او په خپلو کښې د سلام اچولو تاکید یے اُوفرمائیلو ځکه چه د دینه بهتره دُعا نشته ځوك چه دا پریږدي او نور الفاظ د ځان نه جوړوي د هغوی د غه تجویزونه د الله د تجویز نه بهتر نشي کیدے.

فتح الرحمن ف۱ یعنی غُلامان او وینځے ۱۲ ف۲ حاصل دا دے چه محارم او نابالغه هلکان د هُم په درے وختونو کښې اجازت غواړي ځکه چه سړي په دے وختونو کښې د بدن نه کپړے لرے کوي او بربنډ وي. حاصل د دے نمبرے دا دے. چه محارم او نابالغه هلکانو له بربنډ لیدل صحیح نهٔ دي.

ف۲ یعنی نګران او محافظ د هغې حفاظت وي ۱۲ ف۳ یعني هغه اذن او اجازت چه د عادت نه مفهوم دے هغه کافي دے او صریح اجازت ته حاجت نشته ۱۲

تفسیر **دویمه حصه**: د معاشرے د اصلاح او پاکولو د پاره درے قوانین، د مخلصینو او منافقانو د اعمالو تقابل، د رسول الله صلی الله علیه وسلم اداب او د توحید د دعوے دویم ځل ذکر د کوم په وجه چه منافقانو تُهمت لګولے وُو.

ف۵۲ یَا یُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ د دے ځائې نه د سورت دویمه حصه شروع کیږي اول د معاشرت د پاره درے اداب بیان کړے شویدي چه د بدکارئ نه منع کوونکي او د عصمت او عفت د پاره معاون او مدد ګار دي. ګویا چه دا اداب د هغه احکامو او هدایا تو خاتمه ده کوم چه په اوله حصه کښې ذکر شول. قیل هذا رجوع الی تتمة الاحکام السابقة بعد الفراغ من الاٰیات الدالة علیٰ وجوب الطاعة (جامع ص۳۱۳) دا روُمبے قانون د معاشرت دے. درے وختونه داسے دي چه هغې کښې عام طور زیاتي کپړے ویستلے شي یا د شپے جامے اچولے شي، د ښځې خاوند د یو ځائې کیږي او هُم عام طور هُم دا وختونه وي. ځکه په دے وختونو کښې نابالغه هلکانو او وینځو ته هُم باقاعده اجازت اخستل پکار دي. هغه وختونه دا دي. د سحر د مانځه نه مخکښې، د غرمے په وخت او د ماسخوتن د مانځه نه روستو. لَیْسَ عَلَیْکُمْ جُنَاحٌ الخ د دے درے وختونو نه علاوه نابالغه هلکانو او وینځو غُلامانو ته د پردو خلقو په شان د اجازت اخستلو ضرورت نشته. طَوّٰفُوْنَ عَلَیْکُمْ الخ دوی هر وخت تګ راتګ

دي په کورکښې، ددې وجې نه په هر ځل اجازت غوښتلو کښې تکلیف دے. یطوفون علیکم للخدمة وتطوفون علیهم للاستخدام فلو جزم الامر بالاستیذان فی کل وقت لافضی الی حرج و هو مدفوع فی الشرع بالنص (مدارک ص۱۱۸ ج ۳)

۶۲ واذا بلغ الاطفال الخ لیکن چه کله نابالغه هلکان بلوغ ته اُورَسي نو اوس په هغوی هُم لازمه ده چه هغوی هُم اوس دا سے اجازت غواړي څنګه چه نور بالغ سړي اجازت غواړي او کورنه دا خلیږي دکوم حُکم چه مخکښې بیان شوے دے. الله تعالیٰ چه په هر څه باندے عالم دے او حکمت والا دے. هغه تاسو ته د معاشرت د ښائسته اصولو تعلیم درکوي چه په هغے کښې ستاسو دیني او دُنیوي فائده ده. د الله هیڅ حُکم د حکمت او مصلحت نه خالي نه دے.

۶۳ والقواعد الخ دا د معاشرت دویم قانون دے. دلته د بُوډئ ښځے د پردے بیان کړے شوے دے یعنی هغه بُوډئ ښځے چه عُمرونه یے زیات وي او د هغوی جنسي جذبات بالکل ختم شوي وي. که چرے هغوی په کور و کښې لږ و کپړو کښې اُوسیږي نو هیڅ باک نشته خو که چرے پوره پرده اوکړي نو ډیره ښه ده. او د کورنه د بهر تللو په وخت هُم که چرے زیاتے کپړے مثلاً بُرقعه یا غټ څادر نه لیسر کوي نو جائز دي په دے شرط چه د هغه اندامونو او د زینت اظهار نه وي دکوم د پټولو حُکم چه ورکړے شوے دے

۶۴ لیس علی الاعمی الخ دا د معاشرت دریم قانون دے. دلته د خوراک څښک اداب ذکر شوي دي دا شان دد ے شُبهے ازاله شوې ده چه اول پردو کورونو ته د داخلیدو نه منع اوکړے شوه. د دے نه دا شُبه پیدا کیږي له چه شاید دا منع به مطلق وي او په هر حال کښې به منع وي نو دے فرمائیل چه د طعام دعوت وي نو تلل منع نه دي. مفسرینو لیکلي دي چه معذورو خلقو به د صحتمند و خلقو سره یو ځائ خوراک کؤلو ته ډډه کوله چه هسے نه هغوی د دوی نه نفرت اوکړي او هغوی په تکلیف کښې شي. دا شان ځینے معذور نابینا، ګډ او بیمار وغیره به خپلو بے تکلفه ملګرو له ورتلل د دے دپاره چه د هغوی نه د خوراک دپاره څه ملاؤ شي. لیکن د دوست په کورکښې به څه نه وُو نو هغه به دوی روان کړل خپل رشته دار یلبے تکلفه دوست کره بیے بوتلل او په هغوی به یے خوراک اوکړو. دا شان د هغه معذورو کسانو په زړه کښې به خیال تیریدهٔ چه مونږ خوراغلي وُو ده له لیکن ده مونږ د بل کره یو تلو. دد ے قِسمه وسوسو لرے کؤلو دپاره الله پاک دا حُکم نازل کړو. چه د خپلو نزدے رشته دارانو او بے تکلفه دوستانو د کورونو نه په خوړلو څښلو کښې څۀ باک نشته دے. دد ے وجے نه که چرے په معذورو خلقو باندے څوک د خپلو رشته دارانو کورونو کښې خوراک اُوکړي نو هغوی دِ دا نه محسوسوي. دا شان یو ځائ خوراک کؤلو کښې څه باک نشته (روح وغیره) د کومو رِشته دارانو د کورونو ته چه د بے تکلفه خوراک څښاک اجازت دے هغه دالاندے بیان شویدي. د مور پلار کور چه کله څوئ د هغوی نه جُدا اُوسیږي. رور، خور، تره، ترور، ماما او ترور (د مور خور) او ما ملکتم مفاتحه یعنی چا چه تاسو ته د خپل کور کُنجیانے سپارلے وي. او تاسو یے محافظ او نګران کړځولي یئ او ستاسو په تصرف کښې یے درکړے وي د هغه د کورنه هُم تاسو د ضرورت په اندازه خوړل او څښل کولے

شئ. او صد یقکم. د اشان د خپل ترده او بے تکلفه دوستانو د کور نه هم د خوړلو خکلو اجازت دے. لیس علیکم جناح الخ او په دیکښے هم هیڅ باک نشته چه تاسو په یوځائ ټول خوراك کوئ یا جُدا جُدا د دواړو اجازت دے. اگرچه په یوځائ خوراك کول افضل او د برکت باعث وی. فهذه رخصة من الله تعالیٰ فی ان یاکل الرجل وحده ومع الجماعة وان کان الاکل مع الجماعة ابرك وافضل (ابن کثیر ص۳۰۵ ج ۳)

۶۱ فاذا دخلتم الخ دلته کورنه د داخلیں و آدب اُوښودے شو. علیٰ انفسکم په خپل منځه کښے په یو بل باندے څنګه یے چه بنی اسرائیلوته حُکم ورکړو. فاقتلوا انفسکم یعنی توبه دا ده چه تاسو یو بل قتل کړئ. عن الحسن المعنی فلیسلم بعضکم علی بعض نظیر قوله تعالےٰ فاقتلوا انفسکم (روح ص۲۳۲ ج ۱۸) حاصل دا چه کله تاسو د یو بل کور ته اجازت اخستلو سره داخلیږئ نو د ننه ننوتلو سره کور والو ته سلام اوکړئ دا سلام یوه خدائی تحفه ده. په دے سره د الله د طرفنه برکت نازلیږی. د اشان د کور والو په زړونو کښے د خوشحالئ جذبه پیدا کیږی. وصفها بالبرکة لان فیها الدعاء واستجلاب مودة المسلم علیه ووصفها ایضا بالطیب لان سامعها یستطیبها (قرطبی ص۳۱۹ ج ۱۲) کذلك یبین الله الخ دا ترغیب الی القران دے. الله پاك د اشان د توحید دلائل د شریعت احکام او د معاشرت آداب واضح او صفا بیانوی د دے د پاره چه په دے پوهه شئ او په دے عمل اوکړئ. د بعضے خلقو خیال دے چه کله چرے په کور کښے څوك بنیادم نه وی نو بیا هم سلام اچول پکاردی ځکه چه د نبی علیه السلام روح هلته حاضروی دا محض باطل او بے اصل خبره ده. په شریعت کښے د دے هیڅ اصل نشته.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا

ایماندار هغه دی کوم چه یقین اوکړی په الله او د هغه په رسول الله او کله چه وی

مَعَهُ عَلَىٰ أَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوا حَتَّىٰ يَسْتَأْذِنُوهُ ۚ إِنَّ الَّذِينَ

د ده سره د جمع په کار کښے نو نه ځی ترڅو د ده نه اجازت وانخلی کوم خلق چه

يَسْتَأْذِنُونَكَ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ۚ

ستانه اجازت اخلی نو هغه دی کوم چه منی الله لره او د هغه رسول لره ،

فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ

پس کله چه اجازت غواړی ستانه د خپل څه کار د پاره نو اجازت ورکوه چاته چه په دوی کښے ته غواړے

وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٢﴾ لَّا تَجْعَلُوا

او بخښنه غواړه د دوی د پاره د الله نه الله بخښونکے والا مهربانه دے مه گرځوئ

دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بَیْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا ؕ قَدْ یَعْلَمُ اللّٰهُ

بلنه د رسول په خپل مینځ کښې پشان د بللو ستاسو ځینو یو بل لره پوهه دے الله یا الله ته

الَّذِیْنَ یَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْیَحْذَرِ الَّذِیْنَ یُخَالِفُوْنَ

په هغو چه راوځی ستاسو نه په پټه پس ووېرېږی هغه خلق چه خلاف کوی

عَنْ اَمْرِهٖۤ اَنْ تُصِیْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ یُصِیْبَهُمْ عَذَابٌ

د دهٔ د حکم نه چه وبه رسیږی دوی ته څهٔ خرابی یا به ورسیږی دوی ته عذاب

اَلِیْمٌ ﴿۶۳﴾ اَلَاۤ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قَدْ

دردناک ف واورئ الله لره دی څهٔ چه په اسمانونو کښې او په زمکه کښې دی له

یَعْلَمُ مَاۤ اَنْتُمْ عَلَیْهِ ؕ وَیَوْمَ یُرْجَعُوْنَ اِلَیْهِ فَیُنَبِّئُهُمْ

هغه ته معلوم دهٔ په کوم حال چه تاسو یئ او په کومه ورځ به چه واپس شی هغه ته نو وبه ښائی دوی

ع ۹ بِمَا عَمِلُوْا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿۶۴﴾ ۲ ۱۵

ته څهٔ چه دوی اوکړل او الله په هر شی باندے پوهه دے

نکات: ۱ د مخلصینو او منافقینو تقابل ۱۲ ۲ د منافقانو د حال بیان ۱۲ ۳ تخویف اخروی ۱۲ ۴ په اخر کښې د دعوے د دواړو حصتو ذکر ۱۲

موضح قرآن ف د نبی علیه السلام په رابللو حاضریدل فرض کیدل د څهٔ کار دپاره به یے چه رابلل. بیا داهم فرض وو چه د اجازت نه بغیر لاړ نهٔ شی. اوس هم داشان پکار دهٔ چه د خپلو مشرانو سره داسے اوکړے شی.

تفسیر ۱ انما المؤمنون الخ دا په دویمه حصه کښې د مؤمنانو او منافقانو د صفاتو تقابل دے. د ایمان والو صفت دے چه هغوی د نبی علیه السلام د مجلس دادابو پابندی کوی. کله چه هغوی د یو اهم کار او ضروری مقصد دپاره د نبی علیه السلام سره موجود دی نو د هغوی د اجازت نه بغیر د هغه ځائ نه نهٔ ځی. په دے وجه په داسے موقعو کښې چه کوم خلق ستاسو نه اجازت غواړی او د مجلس نه اوځی. هم دا خلق په صحیح معنو کښې مخلص مؤمنان دی. په دے وجه چه کله هغوی ستاسو نه د خپل کوم ذاتی کار دپاره د تللو اجازت اوغواړی نو د چاغوښتل چه تاسو معقول اوګنړئ یا چاله چه تاسو مناسب ګنړئ اجازت ورله ورکوئ. او هغوی دپاره استغفار هم اوکړئ ځکه چه د ذاتی کار دپاره یا سیدل او تلل باطن کښې دنیا ته په دین باندے د ترجیح ورکولو شائبه لری چه ستاسو د استغفا

په برکت سره به د هغه قصور تلافي اُوکړے شي.

۶۷ لا تجعلوا الخ دا هُم د رسول الله صلی الله علیه وسلم ادب د ے یعني د الله پیغمبر چه کله تاسو را اوغواړي نو فورًا حاضر شئ او د هغوی د ارشاد په تعمیل کښے څه روستو والے یا سُستي مه کوئ څنګه چه په خپل مینځ کښے یو بل سره کوئ. چه کله د هغوی په بلنه حاضر شئ نو چرته چه حُکم درکړي هلته کینئ او چه کله اجازت درکړي هله پاسئ. په د ے صورت کښے به دُعا مصدر طرفته مضاف وی. ای اذا احتاج رسول الله صلی الله علیه وسلم الی اجتماعکم عنده لامر فدعاکم فلا تقربوا منه الا باذنه ولا تقیسوا دعاءه ایاکم علی دعاء بعضکم بعضا الخ (مدارک ص۱۳۰ ج۳) یا دُعا خپل مفعول طرفته مضاف د ے. یعني پیغمبر علیه السلام ته د آواز کولو په وخت د هغه د ادب او تعظیم خیال ساتئ چه نه ورته په نوم سره آواز اوکړئ. نه دلرے نه او په اُوچت آواز سره ورته آواز اوکړئ. بلکه نیغے خلقو به ورته یا محمد سره آواز کولو. او ځینے با نبی بچیانو به په چغه ورته آواز کولو. د د ے خبرو نه منع کړے شول. ځکه چه دا د پیغمبر د ادا بو نه خلاف دی یرید یصیح من بعید یا ابا القاسم بل عظموه کما فی الحجرات ان الذین یغضون اصواتهم عند رسول الله الآیة وقال سعید بن جبیر و مجاهد المعنی قولوا یا رسول الله فی رفق و لین ولا تقولوا یا محمد بتجهم (قرطبی ص۳۲۳ ج۱۲)

۶۸ قد یعلم الخ د مخلصینو په مقابله کښے د منافقانو دا رویه بیان کړے شوې ده. مخلص مؤمنان خو به د نبي علیه السلام د مجلس نه بغیر د اجازت نه نه تلل. لیکن منافقان چه موقعه بیا مُومي د بل کوم اجازت غوښتونکي سره په څنګ پټ ځي. الله پاک ته هغوی بنه معلوم دی هغوی دِ دا خیال نه کوی چه د هغوی خفیف حرکتونه د هغهٔ نه پټ دی. لِواذًا مصدر په معنی د اسم فاعل د یتسللون د فاعل نه حال د ے یعني د نورو په څنګ کښے په پټه وځي. بان یستتر بعضهم ببعض حتی یخرج (روح ص۲۲۶ ج۱۸) فلیحذر الذین یخالفون الخ دا د هغه منافقانو د پاره تخویفِ دُنیوی او اُخروی د ے چه د نورو په پناه کښے اُوځي او د پیغمبر علیه السلام مخالفت کوی. هغوی له ویریدل پکار دی چه هغوی ته چرته به دُنیا کښے د د ے سزا ملاؤ نه شي یا په آخرت کښے هغوی په دردناک عذاب کښے مبتلا کړے شي. (ان تصیبهم فتنة) ای لئلا تصیبهم فتنة ای بلاء (عذاب الیم) ای وجیع فی الآخرة (خازن ص۹۲ ج۵).

۶۹ الا ان لله الخ په آخر کښے د توحید دعوی ذکر کړے شوه د کوم په وجه چه منافقانو تُهمت لګولے وُو. یعني د ټول جهان مالک، متصرف فی الامور او عالم الغیب صرف الله تعالی د ے. بل څوک نشته. لله ما فی السموات والارض یعني په زمکه او آسمان کښے چه کوم څه دی هغه ټول د الله مخلوق، مملوک او د هغهٔ د تصرف لاندے دی. من الموجودات باسرها خلقا وملکا وتصرفا ایجادا و اعداما بدأ و اعادة لا لاحد غیره شرکة او استقلالا (روح ص۲۳۱ ج۱۸)

۷۰ قد یعلم الخ هغه ستاسو ټول موجوده حالات او کوائف ښه پیژني. ستاسو اخلاص او نفاق هُم هغهٔ ته معلوم دی. په د ے وجه چه کله د قیامت په ورځ تاسو ټول د هغهٔ سره جمع شئ هغه به ستاسو د ظاهري اعمال او باطني اعمالو نه په پوره تفصیلا تو سره تاسو

خبرکړی. ځکه چه هغه په هرڅه خبر دے. او دقیامت په ورځ به هریو ته دهغه د اخلاص او نفاق مطابق دهغه د اعمالو جزاء او سزا ورکړی. دا منافقانو دپاره تخویف او تهدید دے. قد یعلم ما انتم علیه ای من مخالفة امر الله وامر رسوله وفیه تهدید ووعید والظاهر انه خطاب للمنافقین (بحر ص۱۱۱ ج۲)

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین۰

په سورة نور کښې د توحید ایتونه او دهغے خصوصیات

① ان الذین جآءوا بالافك عصبة الخ (ع۲) نفی دعلم غیب دنبی کریم صلی الله علیه وسلم.
② الله نور السموت والارض الخ (ع۵) عالم الغیب او کارساز صرف الله تعالی دے.
③ الم تر ان الله یزجی سحابا.... نه تر.... ان الله علی کل شیء قدیر (ع۶) نفی د شرك فی التصرف.
④ وعد الله الذین امنوا.... نه تر.... لایشرکون بی شیئا (ع۷) هرقسمه شرك نه ځان ساتونکو دپاره بشارت دنیوی.
⑤ حد زنا، حد قذف، لعان او نور د معاشرت د ادابو بیان.
⑥ د مخلصینو او منافقینو د اعمالو تقابل.
⑦ اداب او حقوق د رسول الله صلی الله علیه وسلم.

سُورهٔ فُرقَان ۱

ربط :- اسمي ربط : په سُورهٔ نُور کښې الله تعالیٰ اُوفرمائيل : اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
يعني د توحيد مسئله د زمکے او اسمان نُور دے. دے سره په ټول عالم کښې رڼا ده او د دے
په وجه ټول عالم قائم دے. او په سُورهٔ فرقان کښې یې اُوفرمائيل. تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ
الْفُرْقَانَ الخ يعني هم دا نُور د توحيد د حق او باطل په مينځ کښې فرقان دے. د دے نُور د
وضاحت د پاره الله تعالے فرقان نازل کړو.
معنوي ربط : د سورة کهف نه واخله دا مضمون بيانولے شي چه لم يتخذ ولدًا يعني
د ټول جهان خالق، د ټول عالم مدبر او په ټولو اُمورو کښې متصرف او مختار الله تعالیٰ دے
او د هغهٔ هيڅوك نائب نشته. او نه هغهٔ څهٔ قسمه اختيارات چا ته حواله کړي دي. لهٰذا هغه
د ټولو کارساز او حاجت روا دے. په مُصيبتونو او مُشکلاتو کښې صرف هغهٔ ته آواز کوئ
او صرف د هغهٔ په نوم باندے نذر او منښتے ورکوئ. اوس په د سورهٔ فرقان نه تر سورهٔ سبا
پورے د ثمرے او نتيجے په طور دا بيان وي چه هر کله کارساز صرف الله دے او د هغهٔ
څوك نائب نشته نو برکتونه ورکونکے او د هر خير و برکت سرچينه هم هغه دے. لهٰذا هغه
برکتونه ورکونکے اُوګڼرئ او هغهٔ ته آواز کوئ او د هغهٔ نه برکتونه اُوغوارئ.

خُلاصه د سُورة دعوىٰ دا ده چه برکتونه ورکونکے الله دے. د دُنيا او اٰخرت خير
او برکت د هغهٔ د طرفه دے. دا د سُورة په دعوىٰ کښې درے ځايه ذکر شوے
دے. اول د سُورة په شروع تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ الخ کښې. دويم تبارك الذي ان
شآء الخ (۲۶) دے دواړو ځايونو کښې د دعوىٰ د ذکر نه روستو دلائلو سره ثابته کړے شوې ده
چه دُنيوي برکتونه ورکونکے الله تعالے دے. دريم تبارك الذي جعل في السماء (۶۶) کښې
دريم ځل د دعوے ذکر کولو نه مقصود دا دے. چه اُخروي برکات هم د الله په اختيار
کښې دي. په دے سورت کښې زيات زور په عقلي دلائلو ورکړے شوے دے. او نقلي دلائلو
طرفته صرف اشاره کړے شوې ده. نو د سورت په دعوىٰ باندے ديارلس عقلي دلائل په
تفصيل سره او اووهٔ نقلي دلائل په اجمال سره ذکر کړے شوي دي. او د دلائلو په مينځ
کښې اووهٔ شکوے ذکر شوي دي.

عقلي دلائل رومبے عقلي دليل. اول ځل د دعوے ذکر کولو سره الَّذِيْ نزل الفرقان
علیٰ عبده الخ يې اُوفرمائيل يعني برکت ورکونکے هغه دے چا چه د ټولو
ديني او دُنيوي برکتونو خزانه قرآن مجيد نازل کړو. دويم عقلي دليل : الذي له ملك
السمٰوٰت والارض الخ د برکاتو سرچينه هغه پاك ذات دے. د چا په قبضه کښې چه ټول
جهان دے او د هغهٔ د پاره څوك نائب او شريك نشته. دريم عقلي دليل وخلق كل شيء الخ

چاچه هرڅيز پيدا کړو- او د هر يو څيز يې يوه اندازه مقرر کړه. هغه برکتونه ورکوونکے دے دهغه نه سوا بل څوك برکتونه ورکوونکے نشته. څلورم عقلي دليل په دعوی باندے عقلي دليلونو نه روستو واتخذوا من دونه الخ کښے په مشرکانو باندے زجر دے. چاچه د الله عاجز او بے وسه بندګان متصرّف او کارساز، مختار او برکتونه ورکوونکي ګنړلے دي. او دده په ضمن کښے څلورم عقلي دليل ذِکر شوے دے. يعنې په اصل کښے خو برکتونه ورکوونکے الله دے چه د ټولو کائناتو خالق دے او ټول نفع، نقصان او مرګ، ژوند چه د چا په قبضه کښے دي. وقال الذين کفروا الخ دا اوله شکوی ده. مشرکانو د عناد په وجه اووئيل دا دعوی چه برکتونه ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے دا الله د طرفنه نه ده بلکه د محمّد (صلی الله عليه وسلم) د ځان نه جوړه کړے ده. واعانه عليه الخ دا دويمه شکوی ده. يعنې ځينو نورو خلقو په ديکښے د هغه سره امداد کوونکي دي. وقالوا اساطير الاولين الخ دا دريمه شکوی ده. هغوی اووئيل چه دا قرآن د مخکينو خلقو قِصّے دي چه سحر او ماښام بيا بيا ئولے شي. قل انزله الذی الخ دا د دريوارو شکوو جواب دے او په اصل دعوی باندے پنځم عقلي دليل دے. دا دعوی چا د ځان نه نه ده جوړه کړے. او نه دا قرآن قِصے دي. بلکه دا دعوی او دا قرآن الله تعالیٰ نازل کړي دي چه په ظاهر او باطن عالم دے. هرکله چه عالم الغيب صرف هغه دے نو د برکتونو ورکوونکے هم هغه دے. وقالوا مالِ هذا الرسول الخ دا څلورمه شکوی ده. دا خوړل څښل او په بازارونو کښے کاروبار کوی دا څنګه رسول کيدے شي. رسول خو فرشته پکار ده. لولا انزل اليه ملك الخ دا پنځمه شکوی ده. که چرے د الله رسول فرشته نه وی نو کم ازکم هغه سره خو به يې يوه فرشته رالېږلے وے چه د هغه تائيد يې کولے. او يلقیٰ اليه کنز الخ شپږمه شکوی. رسول خو ډير ديدني اوشان والا پکار دے. هغه د باغونو او خزانو مالك پکار دے. د دے دريوارو شبهاتو جواب د لف نشر غير مرتب په طور مخکښے راتلونکي کښے دے. وقال الظالمون الخ دا د مذکوره دريوارو شکوو سره متعلق دے. تبٰرك الذی ان شآء الخ (۲۶) دا د سورت د دعوے اعاده ده. او د لف نشر غير مرتب په طور باندے د شپږمے شکوے جواب دے. يعنې الله تعالیٰ په دُنيا کښے هم خپلے خزانے او باغونه ورکولے شي ليکن د اٰخرت نعمتونه ستاسو د پاره د دُنيا د شان و شوکت نه ډير بهتر دي. بل کذبوا بالساعة... نه تر... ثبورًا تخويفِ اُخروی دے. قل اذٰلك خير... نه تر... وعدًا مسئولًا بشارتِ اُخروی دے. يوم يحشرهم... نه تر... نذقه عذابًا کبيرًا. مشرکانو د پاره تخويفِ اُخروی دے او د سورة د خصوصيّت بيان دے. يعنې مشرکان چه څوك په دُنيا کښے برکتونه ورکوونکے ګنړي او اوان ورته کوی. د قيامت په ورځ به هغوی صفا اعلان اُوکړي چه هغوی کارساز او برکتونه ورکوونکي نه وُو. برکتونه ورکوونکے او کارساز صرف الله تعالیٰ دے. وما ارسلنا قبلك من المرسلين... نه تر... وکان ربك بصيرًا دا د څلورمے شکوے جواب دے ستاسو نه مخکښے هم چه څومره پيغمبران راغلي دي. هغه ټول انسانان وُو او ټول د بشريت لوازمو سره متصف وُو. زمونږ جاري طريقه هُم دغه ده. وقال الذين لا يرجون الخ (۳۶)

داد پنځمے شکوے اعاده ده مع الزیادة- یعنی د زیاتے خبرے سره. مشرکان او منکرین بعث وائی- په مونږ فرشتے ولے نه نازلیږي چه مونږ ته راشي او ددے پیغمبر تصدیق اوکړی یا مخامخ مونږ ته په ددے پیغمبر باندے د ایمان راوړلو حکم راکړی- دا زیاتی خبره ده. یوم یرون الملئکة الخ داد پنځمے شکوے جواب دے. فرشتو لیدو سره به هغوی ته هیڅ فائده نه وی نه به ورته خوشحالی وی. فرشتو لیدو سره که چیرے بیا هم هغوی خبره اونه منی نو بیا به په ډیر سخت عذاب کښے مبتلا شي. اصحٰب الجنة یومئذٍ الخ بشارتِ اُخروی- ویوم تشقق السماء ... نه تر ... هٰذا القرآن مهجورًا- تخویفِ اُخروی دے- وکذٰلك جعلنا لکل نبیّ عدوًا الخ کاف دپاره د بیان کمال دے- وقال الذین کفروا لولا انزل علیه الخ دا اووم شکوی ده چه دا قرآن لږ لږ ولے نازلیږي؟ ټول په یو محل ولے نازل نه شو؟ دینه معلومیږي چه تاسو لږ لږ په خپله جوړوئ. کذٰلك لنثبت به فؤادك الخ دا د ذکرشوے شکوے جواب د قرآن مجید لږ لږ نازلو مقصد ستاسو د زړه تثبیت (مضبوطتیا) دے. ولا یأتونك بمثل الخ دا اووه واړو شکوو جواب ورکولو سره یے اوفرمائیل. ددینه علاوه د هغوی د طرفنه چه بله کومه یوه شبه هم راشي د هغے به ډیر کافی او ښائسته جواب ورکولے شی- الذین یحشرون علٰی وجوههم الخ دا تخویفِ اُخروی دے.

نقلی دلائل

دے قومونو ته د الله پیغمبر دے دعوت سره راغے لیکن هغوی اونه منلو. ددے وجے نه هغوی هلاك کړے شول- ولقد اٰتینا موسی الکتٰب الخ (۴۶) دا د سورت په دعوٰی باندے رومبے نقلی دلیل دے- دا شان دعوے نه د انکار کونکو دپاره تخویفِ دُنیوی دے. وقوم نوحٍ لما کذبوا الخ دویم نقلی دلیل سره د تخویفِ دُنیوی. وعادًا وثمودا ... نه تر ... وکلا تبرنا تتبیرا. دلیل نقلی دریم نه تر شپږم سره د تخویفِ دُنیوی- ولقد اٰتوا علی القریة التی الخ اووم نقلی دلیل واذا راٰوك ... نه تر ... بل هم اضل سبیلا زجرونه دی- الم تر الٰی ربك کیف مد الظل الخ (۵۶) دا د سورت په دعوٰی باندے شپږم دلیل دے- د سوری زیاتیدل کمیدل چه د نمر په رفتار باندے منحصر دے- دالله په اختیار کښے دی. وَهُوَ الَّذِیْ جعل لکم الیل الخ اووم عقلی دلیل داد شپے او ورځے تلل راتلل هم دالله په قبضه کښے دی. وهو الذی ارسل الرٰیح بشرًا الخ دا اتم عقلی دلیل. دا د رحمت او برکت خوشخبری راوړونکے هواګانے او باران چه هغے سره شاړے زمکے آبادیږی- او چه په هغے سره ټولو انسانانو او حیواناتو ته د څښلو اوبه حاصلیږی. دا ټول هر څه دالله د طرفنه دی- نو معلومه شوه چه هر خیر او برکت د هغه د طرفنه دے. او هغه برکتونه ورکونکے دے او د هغه نه سوا بل څوك برکت ورکونکے نشته. ولقد صرفنه بینهم لیذکروا الخ دا په هغه معاندینو باندے زجر دے کوم چه د دومره واضحه دلائلو باوجود نه منی او د الله نه سوا نور برکت ورکونکی ګنړی (هغوی رابللی). وهو الذی مرج البحرین الخ نهم عقلی دلیل. دا هم د هغه د کامل قدرت دلیل دے چه دوه مختلف خوندونو والا دریابونه بغیر د څه حائل نه یو ځائې بهیږی. لیکن ددے باوجود هغوی په خپل مینځ کښے نه یو ځائې کیږی

وهو الذی خلق من الماء الخ لسم عقلي دليل - دا هُم د هغهٔ د قدرت کمال دے چه هغهٔ د اُوبو نه داخلکي نه اشرف المخلوقات انسان پيدا کړو. او بيا يے انسان په خپل مينځ کښے رشتو کښے اُوتړل. دا الله دده صفا تو نه معلوميږي چه هغه برکتونه ورکوُنکے دے. او هغه احسان کونکے دے بل هيڅوک نه دے. ليکن دده باوجود مُشرکان خپل ځان نه جوړه کړے شوي معبودان برکت ورکوُنکي ګنړي حالانکه هغوي د دوي د نفع او نُقصان اختيار نه لري. وما ارسلنك الا مبشرًا ونذيرًا دا د مقدر سوال جواب دے. د مُشرکانو مطالبه وه چه موږ کومه معجزه غواړو هغه ښکاره کړه نو موږ به اُومَنو. وئے فرمائيل معجزه ښکاره کوُل ستا په اختيار کښے نهٔ دي. ته نذير او بشير اُوليږلے شوے. وتوکل على الحيّ الخ نبي عليه السلام ته تسلي ده. يعني که څه هم ډيرے دد ومره واضحه دلائلو باوجود هُم مشرکان نهٔ مني او تا سو ته تکليفونه درکوي. نو تاسو په الله بهروسه اُوکړئ چه هميشه ژوندے دے الذی خلق السموت والارض دا د سُورت په دعوي باندے پنځم عقلي دليل دے د ټول جهان خالق هُم هغه دے. او په ټول جهان کښے متصرف او مختار هُم هغه دے هغهٔ د عالم د تدبير هيڅ يو کار هُم چاته حواله کړے نهٔ دے. لهٰذا د هغهٔ نه سِوا برکتونه ورکوُنکے هُم څوك نشته. واذا قيل لهم اسجدوا الخ دا شکوه ده چه کله مُشرکانو ته صرف يو ځُاي ته سجدے کولو وئيلے شي نو هغوي دد ينه نفرت کوي. تبٰرك الذی جعل فی السماء الخ (۶۶) دا د سورت د دعوے دويم ځل اعاده ده. او په دعوي باندے دولسم عقلي دليل دے. څنګه چه په دُنيا کښے برکتونه ورکوُنکے الله تعالىٰ دے. دا شان د اخرت برکتونه هُم د هغهٔ په قبضه کښے دي څنګه چه د الله د کومونيکو بندګانو ورانده ذکر راروان دے. په اخرت کښے به چه هغوي ته کوم برکتونه نصيب شي هغه به ټول د الله د طرفنه هغوي ته مِلاويږي. وهو الذی جعل الیل والنهار الخ دا ديارلسم عقلي دليل دے. وعباد الرحمٰن الذين يمشون ..... نه تر..... واجعلنا للمتقين امامًا کښے د الله نيکو بندګانو آته صفتونه بيان کړے شويدي. اُولٰئك يجزون الغرفة ..... نه تر..... حسنت مستقرا ومقامًا کښے پورته ذکر شوو صفتونو سره متصف د الله بندګانو ته په اخرت کښے ملاويدونکي برکاتو ذکر کړے شويدے. قل ما يعبؤا بکم ربي الخ تخويف دُنيوي.

حاصل دا چه برکتونه ورکوُنکے هغه د برکتونو والا ذات دے چا چه فرقان نازل کړو چه د ټولو کائناتو مالك، د هر څيز خالق، د نفع او نُقصان، د مرګ او ژوند اختيار لرونکے عالم الغيب او د ټولو کائناتو د نظام اختيار چه د چا په اختيار او تصرف کښے دے. دد اسے واضح دلائلو باوجود مُشرکان محض د ضد او عناد د وجے نه قران ته د ځان نه جوړ شوے او د تيرو شوو خلقو قِصے وائي. حالانکه دا قرآن الله نازل کړيدے چه عالم الغيب دے. د پيغمبر عليه السلام په باره کښے هغوي وائي چه هغه خوراك څکاك کوي. د هغهٔ د تائيد د پاره د ولے فرښتے هغه سره راتلل يکاروُو. دا شان چه د هغهٔ سره د دولت خزانے وے. وئے فرمائيل مخکينو ټولو نبيانو عليهم السلام هُم خوراك څکاك کوُلو او بشر وُو. د فرښتو راتلل به د هغوي

دیاره دخوشحالئ باعث نه دی. اوکهٔ چرته الله غوښتلے نو نبی علیه السلام ته به یې په دُنیا کښے بے حسابه دولت ورکړے وے. لیکن دهغهٔ دحکمت تقاضا داده چه دُنیا په محتاجئ په اخرت کښے تاسو ته بے حده او بے حسابه انعام او اکرام درکړی. دمُشرکانو داهم اعتراض دے چه ټول قرآن په یو ځل ولے نازل نهٔ شو. وے فرمائیل لږ لږ نازلولو سره ستاسو د زړهٔ مضبوطتیا مقصد وو. دا ټولے شُبهے دمُشرکانو باطلے دی ځکه چه د ذِکرشوی جوابونو نه واضحه شوه. ددے نه علاوه هم که چرے هغوی څهٔ اعتراض کوی. نو دهغے جواب به هم دیرشافی ورکولے شی. ددے ټولو دلائلونه ثابته شوه چه په دُنیا او اخرت کښے برکتونه ورکونکے صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نشته. دداسے واضحه عقلی دلائلو او شکوک او شُبهاتو داسے شافی جوابونو نه روستو هم که چرے هغوی نهٔ منی. نو هغوی دیاره دقوم فرعون، قوم عاد، قوم ثمود، قوم شعیب علیه السلام اود نورو تیرو شوو اُمتونو د تاریخ نه عبرت حاصلول پکاردی. چه هغوی دانکار او جحود په وجه هلاک کړے شول.

مختصر خلاصه د سُورت ددعوے درے ځله ذِکر. د سُورت په دعوی باندے دیارلس عقلی دلائل او اووهٔ نقلی دلائل ذِکر کول. دذِکر شوے دعوے په باره کښے د اووهٔ شکوک او شُبهاتو جوابونه، زجر او تخویف، تسلّی، د نیکو بندګانو صفتونه.

سُوْرَةُ الْفُرْقَانِ مَكِّيَّةٌ وَّسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورة د فرقان مکّی دے او په دے کښے اووهٔ اویا اٰیتونه او شپږ رکوع ګانے دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم د الله په نوم چه بیحده مهربانه نهایت رحم والا دے.

تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ

لوئی برکت دے لره هغهٔ لره چاچه ئے نازل کړو دفیصلے کتاب په خپل بنده چه شی

لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرًا ۙ ﴿١﴾ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

د مخلوق دیاره ویروُنکے هغه دچاچه ئے حکومت دے په اسمانونو او په زمکه کښے

وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ وَخَلَقَ

او نهٔ دے نیولے هغهٔ څوئ اونهٔ دهغهٔ سره شریک شته په حکومت کښے او پیدا ئے کړو

كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيرًا ۝٢ وَاتَّخَذُوا مِنْ دُونِهٖٓ اٰلِهَةً

هر شي لره پس برابر یې کړو په اندازه سره او نیولي دي خلقو دهغهٔ نه سوا نور معبودان

لَّا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَّهُمْ يُخْلَقُونَ وَلَا يَمْلِكُونَ لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا

چه نشي پیدا کولی څهٔ شے څه او دوی پخپله پیدا کړے شوي دي او نهٔ دي مالکان دځان دپاره دنقصان

وَّلَا نَفْعًا وَّلَا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَّلَا حَيٰوةً وَّلَا نُشُورًا ۝٣ وَ

او نهٔ دنفع او نهٔ دي مالکان دمرګ او نهٔ دژوند او نهٔ دبیا پورته کیدو او

قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اِفْكُ ِۨافْتَرٰىهُ وَاَعَانَهٗ

وائي سته کافران دا نو هیڅ نهٔ دی مګر دروغ یې جوړ کړي دي او مل کړی تیا یې

عَلَيْهِ قَوْمٌ اٰخَرُونَ ۚ فَقَدْ جَآءُوْ ظُلْمًا وَّزُورًا ۝٤ وَقَالُوٓا

کړي دي دهٔ په دې کښې نورو خلقو پس راغلي دي او کړل یې بے انصافي او دروغ او وائي

اَسَاطِيرُ الْاَوَّلِينَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّاَصِيلًا ۝٥

چه نقلونه دي د وړاني خلقو کوم چه دهٔ لیکلي دي پس دغه دهٔ ته لوستلے شي سحر او مابنام ولے

قُلْ اَنْزَلَهُ الَّذِي يَعْلَمُ السِّرَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

ته او وایه چه دا نازل کړے دے هغه کوم چه پوهه دے په پټو رازونو په اسمانونو کښے او په زمکه کښے

اِنَّهٗ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ۝٦ وَقَالُوا مَالِ هٰذَا الرَّسُولِ يَاْكُلُ

بیشکه هغه بخښونکے مهربان دے ولے او وائي چه دا څنګه رسول دے چه خوري

الطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي الْاَسْوَاقِ ؕ لَوْلَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَلَكٌ

طعام او ګرځي په بازارونو کښے ولے نهٔ نازلیږي دهٔ ته فرښته

فَيَكُونَ مَعَهٗ نَذِيرًا ۝٧ اَوْ يُلْقٰىٓ اِلَيْهِ كَنْزٌ اَوْ تَكُونُ لَهٗ

چه اوسیږي دهٔ سره دویرولو دپاره یا چه راغورځیږي دهٔ دخوا نه څه خزانه یا شي دهٔ دپاره

جَنَّةٌ يَّاْكُلُ مِنْهَا ؕ وَقَالَ الظّٰلِمُونَ اِنْ تَتَّبِعُونَ اِلَّا رَجُلًا

یو باغ چه خوراک یې کولے دهغې نه او وائي بے انصافه تاسو پیروي کوئ د دے یو سړي

مَّسْحُورًا ﴿۸﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا

چه جادو پرشوې دے اُوګوره څنګه جوړې دي په تا پورے مثالونه پس ګمراه شول نو اُوس

يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ﴿۹﴾ ع

نه شي مُوندے لار ه ۔

نکات : سا دعوٰی دسُورت ۱۲ سا دعوٰی دسُورت باندے ردمې عقلي دليل ۱۲ سا دویم عقلي دليل ۱۲ سا دريم عقلي دليل ۱۲ سا زجر په طورد شکوے او څلورم عقلي دليل ۱۲ سا شکوٰی ۱۲ سا شکوٰی ۱۲ سا دهردرے شکوُ جواب او پنځم عقلي دليل ۱۲ سا د مُشرکانو اولنۍ شبه ۱۲ سا پنځمه شکوٰی ۱۲ سا شپږمه شکوٰی ۱۲

توضیح قرآن
ف دمُوښه وخت په شروع کښے سحراوما ښام مقرر وو. مُسلمانان نبي عليه السلام ته راجمع شول چه کوم نوے قرآن به نازليږي هغه به يے يادوُلو دپاره ليکلو کافرانو داشان وئيل شروع کړل ۔

ف يعني خپل بخشش او مهربانئ سره يے دا نازل کړو ۔

تفسير
۲ دا دسُورت دعوٰی ده. يعني هرخير اوبرکت او هرنفع د الله د طرف نه ده هغه برکتونه ورکوُنکے دے ۔ دهغه نه سوا خير او برکت دچا په اختيار او تصرف کښے نه دے ۔ جاء بكل بركة وخير (خازن ص۹۳ ج ۵) عن ابن عباس معناه جاء بكل بركة دليله قول الحسن مجيء البركة من قبله (معالم بحاشيه خازن) برکتونه ورکوُنکے چونکه صرف الله دے بل څوک نه دے ۔ په دے وجه دا لفظ (تبارک) غيرالله دپاره نه استعماليږي. وهذا الفعل لا يسند في الاغلب الى غيره تعالى (روح ص۲۳ ج ۱۸) وهي كلمة تعظيم له لا تستعمل الا لله وحده (مدارک ص۱۲۱ ج ۳)

۳ الذى نزل الخ دا دسُورت په دعوٰی باندے اولنے عقلي دليل دے. موصول سره د صلے نه ماقبل دپاره په معرض دعلت کښے دے. د الفرقان نه مراد قرآن دے ځکه چه قرآن حق او باطل توحيد او شرک، حرام او حلال واضحه کوي او يو دبل نه جُدا کوي. سمّاه ههنا الفرقان لانه يفرق بين الحق والباطل والهدى والضلال والغي والرشاد والحلال والحرام (ابن كثير ص۳ ج ۳) ليكون للعلمين نذيرا الله په خپل بنده باندے دا قرآن نازل کړو دے دپاره چه خلق او ويروي چه الله به ستاسو نه حساب اخلي او مجرمانو ته به سزا ورکوي هرکله چه حساب اخستل او سزا ورکول دهغه کار دے نو بلا شبهه برکتونه ورکوُنکے هم صرف هغه دے بل څوک نه دے ۔

۴ الذى له الخ دا دويم عقلي دليل دے. د زمکے او اسمانونو بادشاهي او د ټول جهان دانتظام کار دهغه په قبضه او اختيار کښے دے. د زمکے او اسمانونو په بادشاهئ کښے دهغه هيڅوک نائب او شريک نشته. لهذا دهغه نه سوا برکتونه ورکوُنکے هم څوک نشته ۔

(خالق کل شيء الخ) دا دریم عقلي دلیل دے او صرف هغه هر څیز د هغه د صحیح معیار مطابق پیدا کړو. هر کله چه د ټولو څیزونو خالق او مالک صرف هغه دے او د بادشاهۍ په تخت باندے هم هغه متمکن دے. نو اُوښایئ د برکتونو ورکونکے به بل څوک وي؟ هرگز نه لهذا هم هغه برکتونه ورکونکے دے. لم یتخذ ولدا تعبیر نه معلومیږي چه دلته د نسبي ولدیت نفي مقصود نه ده. بلکه د یهود او نصاراؤ او د مشرکانو د باطل خیال نفي مقصود ده. چه د الله نیک بندې یکان بسے هغه دیاره په منزله د اولاد دی نو یعني څوک یے د اولاد شان نائبان او د کار مختار نه دي گرځولي. ای لم ینزل احدا منزلة الولد (روح ص۳۳ ج۱۸) ولم یتخذ ولدا الظاهر نفي الاتخاذ ای لم ینزل احدا منزلة الولد (بحر ص۴۸۰ ج۶) ولم یتخذ ولدا نبین سبحانه انه هو المعبود ابدا ولا یصح ان یکون غیره معبودا او وارثا للملک عنه (کبیر ص۴۵ ج۶) فقدره تقدیرا. هر څیز هغه برابر برابر اندازے سره ساتلے دے نو ایا برکت اچولو والا به بل څوک وي؟

۵ واتخذوا من دونه الخ دا په مشرکانو باندے زجر دے. او د دے په ضمن کښے څلورم عقلي دلیل ذکر شوے دے. دا مشرکان څومره ضد یان دي چه د دومره واضحه عقلي دلیلونو په موجودگۍ کښے هم خپل دا سے عاجز معبودان برکتونه ورکونکي گڼړي. چه څه څیز پیدا کول خو یو طرفته هغوي په خپله مخلوق دي. او نورو ته نفع او نقصان رسول خو پریږده هغوي د خپل نفع او نقصان اختیار هم نه لري. نه مرګ او ژوند د هغوي په قبضه کښے دے. نه دوباره ژوندي کول د هغوي په اختیار کښے دي. حالانکه الله او برکتونه ورکونکے هغه څوک کیدا سے شي چه د ے پورته ذکر شوو صفتونو سره متصف وي. د مشرکانو د ځان نه جوړ شوي معبودان چونکه د دے صفتونو نه خالي دي په دے وجه خیر او برکت هم د دوي په اختیار کښے نه دے.

۶ وقال الذین کفروا الخ دا اولنۍ شکوی ده. مشرکانو به ویئل چه د محمد صلی الله علیه وسلم دا دعوی چه "برکتونه ورکونکے صرف الله دے" د هغه د ځان نه جوړه شوے دعوی ده. دا الله د طرفنه نه ده. واعانه علیه قوم اخرون. دا دویمه شکوی ده. او د دوي په خیال ځینے نور خلق هم د ده امداديان دي. فقد جاءو ظلما وزورا. دا ادخال الهي دے. په دیکښے د مشرکانو ذکر شوے قول ټول بے انصافه او دروغ گرځولے شوي دي.

(وقالوا اساطیر الاولین الخ) دا دریمه شکوی ده. مشرکانو به ویئل چه دا قرآن خو محض د تیرو شوو خلقو د قصو مجموعه ده. چه ده په چا باندے لیکلے دے. تو صبا بیگا د عبارت او اسلوب بدلولو رابدلولو سره هغه ده ته په خکښے لوستلے شي.

۷ قل انزله الذي الخ دا د دریواړو ذکر شوو شکوو جواب دے. دا شان د سورت په دعوی باندے څلورم عقلي دلیل دے. دا دعوی او دا قرآن چه د دے دعوے بیان کوي د کوم یو بشر جوړ شوے کلام نه دے. او نه قرآن د قصو کتاب دے. بلکه دا قرآن چه د کوم ذکر شوے دعوے حامل دے. دا اول نه تر اخره پورے د هغه رب د طرفنه نازل کړے

شویدے چه د ټول جهان د ټولو پټو خبرو او رازونو نه خبر دے هغه داسے عفوه کوونکے او مهربانه دے چه داسے ضد یانو ته هم مهلت ورکوی او زر یے نه رانیسی فیمهلهم ولا یعاجلهم بالعقوبة وان استوجبوها بمکابرتهم (مدارک ص۱۲۲ ج۳) هر کله چه عالم الغیب هم صرف هغه دے او غفور او رحیم هم نو برکتونه ورکوونکے هم هغه دے بل څوک نه دے.

۸ وقالوا مال الخ دا په مشرکانو باندے څلورمه شکوی ده. هغوی به وئیل چه دا پیغمبر خو خوراک څکاک ته محتاج دے. او د معاش کسب کولو دپاره د بازارونو چکر هم لګوی. بیا مونږ او ده کښے څه فرق باقی دے. او ده ته په مونږ باندے څه فضیلت او برتری حاصله ده چه نبوت ده ته ملاؤ شو. واذا کان کذلک فمن این له الفضل علینا ولا یجوز ان یمتاز عنا بالنبوة (خازن ص۹۵ ج۲) لولا انزل الیه الخ دا پنځمه شکوی ده. یعنی اول خو دا پکار وه چه پیغمبر بشر نه وے بلکه فرشته وے. یا بیا کم از کم د ده سره خو به یوه فرشته راتلے چه د ده تائید او تصدیق یے کولے. هلا انزل الیه ملك من عند الله فیکون له شاهدا علی صدق ما یدعیه (ابن کثیر ص۳۱۱ ج۳)

۹ او یلقی الخ دا په مشرکانو باندے شپږمه شکوی ده. که چرے دے واقعی د الله رسول وے. نو ده ته به د آسمان نه د دولت خزانه نازله شوے وے دے دپاره چه هغه کسب معاش ته نه محتاجه کیدے. یا د ده دپاره یو باغ وے چه هغے سره ده د عزت ژوند تیر ولے. وقال الظلمون الخ دا د ذکر شوو دریو اوړو شکوو سره متعلق دے. یعنی ضدیان او بے انصافه خلق خالص د عناد او مکابرے په وجه وائی چه تاسو کوم سړی ته پیغمبر وائی او د هغه تابعداری کوئی په هغه باندے جادو شویدے او (عیاذا بالله) د هغه عقل په ځائے نه دے. انظر کیف ضربوا الخ دا په مشرکانو باندے زجر دے. دا ظالمان صرف د ضد او عناد په وجه نبی علیه السلام دپاره څنګه مثالونه بیانوی. هغوی د ضد او عناد د وجے نه د صحیح لارے نه ډیر لرے تلی دی. او د هغوی په زړونو باندے د جباریت مهر لګیدلے دے. په دے وجه اوس به هغوی ته هدایت نه نصیب کیږی. مخکښے په ذکر شوو پورتنو دریو شکوو جوابونه ذکر کیږی شویدی. په طور د لف ونشر غیر مرتب.

تَبٰرَكَ الَّذِیْۤ اِنْ شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَیْرًا مِّنْ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ

لوئی برکت دے هغه ذات لره کوم چه اوغواړی نو ښه کړی به تا لره غوره د دے نه باغونه

تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ وَ یَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا ﴿۱۰﴾ بَلْ

چه بهیږی به لاندے د هغوی نه نهرونه او کړی به ستا دپاره محلونه داسے نه ده

كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ ۫ وَ اَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِیْرًا ﴿۱۱﴾

بلکه دوی دروغژن کوی قیامت لره او مونږ تیار کړیدے د هغه چا دپاره چه دروغژن کوی قیامت لره اور

إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ سَمِعُوا۟ لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا ﴿١٢﴾

کله چه هغه اووینی دوی لره د لرے ځائ نه وا به ورې دهغه قهر سلله او چیغې

وَإِذَآ أُلْقُوا۟ مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِينَ دَعَوْا۟ هُنَالِكَ

او کله چه اوغورزولے شي په هغې کښې په تنګ ځائ کښې په زنځیر کښې تړلي شوي راوبه بلي هلته

ثُبُورًا ﴿١٣﴾ لَّا تَدْعُوا۟ ٱلْيَوْمَ ثُبُورًا وَٰحِدًا وَٱدْعُوا۟ ثُبُورًا كَثِيرًا ﴿١٤﴾

مرګ لره مه رابلئ نن یو مرګ لره راوبلئ مرګونه ډیر

قُلْ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ ٱلْخُلْدِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ۚ كَانَتْ

ته اووایه ایا دا ښه غوره دے یا باغ د همیشه اوسیدو چه وعده یې شوې ده د پرهیزګارانو سره دغه

لَهُمْ جَزَآءً وَمَصِيرًا ﴿١٥﴾ لَّهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ خَٰلِدِينَ ۚ

به وي د دوي بدله او د وایسي ځائ دهغوی د پاره هلته دي هر څه چه هغوی غواړي همیشه به پکښې وي

كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْـُٔولًا ﴿١٦﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا

ده په رب ستا باندے وعده غوښتلے شوے ده او په کومه ورځ چه جمع کړي دوي لره او

يَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَقُولُ ءَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ

هغه چه دوي یې عبادت کولو سوا د الله نه پس او به وئیلے شي ورته چه ایا تاسو بې لارې کړي وو

عِبَادِى هَٰٓؤُلَآءِ أَمْ هُمْ ضَلُّوا۟ ٱلسَّبِيلَ ﴿١٧﴾ قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ مَا

ځما دا بندګانو لره یا دوي په خپله بې لارې شول ؟ وبه وائي پاک یې ته نه وو

كَانَ يَنۢبَغِى لَنَآ أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِن

بکار موږ لره چه ونیسو بغیر ستا نه مددګاران لیکن

مَّتَّعْتَهُمْ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ نَسُوا۟ ٱلذِّكْرَ وَكَانُوا۟ قَوْمًۢا بُورًا ﴿١٨﴾

تا دوي ته نفع رسولے وه ګټه او د دوي پلارنیکه ته تر دے چه هیر یې کړو ستا ذکر او وو دا خلق تباه کیدونکي

فَقَدْ كَذَّبُوكُم بِمَا تَقُولُونَ فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفًا وَلَا

پس دوي به دروغژن کړي تاسو ستاسو په خبره کښې ګله پس نه به د دا پس کولو طاقت لرئ او نه د

نَصۡرًا ۚ وَمَنۡ یَّظۡلِمۡ مِّنۡكُمۡ نُذِقۡهُ عَذَابًا كَبِیۡرًا ⑲ وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا

د مدد کولو او څوک چه په تاسو ګنهګار دے هغه له به او څکوو مونږ عذاب لوئ او نه دی لیږلی

قَبۡلَكَ مِنَ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اِلَّاۤ اِنَّهُمۡ لَیَاۡكُلُوۡنَ الطَّعَامَ وَ

دی مونږ ستا نه وړاندې رسولان ټول به خوړلو طعام او

یَمۡشُوۡنَ فِی الۡاَسۡوَاقِ ؕ وَجَعَلۡنَا بَعۡضَكُمۡ لِبَعۡضٍ فِتۡنَةً ؕ

ګرځیدل په بازارونو کښے او مونږ کړی دی ځینے په تاسو کښے د ځینو دپاره ازمائش

اَتَصۡبِرُوۡنَ ۚ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِیۡرًا ⑳ ع

ایا تاسو ثابت قدم پاتے کیږے شئ؟ او ستا رب هر څڅه وینی دے

نکات:- سل د سورت د دعوے اعاده او د شپږمے شکوے جواب دے ۱۲ سل تخویف اُخروی ۱۲ سل بشارتِ اُخروی ۱۲ سل تخویفِ اُخروی ۱۲ اص داد څلورمے شکوے جواب دے ۱۲ سل د جواب تتمه او تسلی دپاره د نبی علیه السلام ۱۲

موضح قرآن ف۱ یعنی چه بوڅل مړه شو نو خلاص به شو په ورځ کښے د زړځله مرګ نه زیات بدحال زمونږ کیږی۔

ف۲ یعنی مؤمنان جنت ته داخلیدل او هلته همیشه اوسیدل د لوئ پروردګار په ذمه دی او وعده ئے پوره کړے شوے۔ یعنی یکار ده چه مؤمنان الله ته د دے درخواست اوکړی یا فرښتے مؤمنانو دپاره د دے درخواست اوکړی۔ او پوره کول د الله په ورکړه دی تفسیر حُسینی کښے دی۔ ف۳ یعنی عذاب واپس کول یا د هغۀ خبره (احکام) اړول۔

ف۴ پیغمبران د کافرانو د ایمان ازمائش دپاره او کافران د پیغمبرانو د صبر ازمائش دپاره۔

تفسیر ۲۱ تبٰرك الذی الخ دا د سورت د دعوے اعاده ده او د لف نشر غیر مرتب په طور باندے د شپږمے شکوے جواب دے۔ یعنی الله تعالیٰ که چرے تاسو ته په دُنیا کښے د دولت خزانے او باغونه ورنه کړل۔ نو په دے کښے هم حکمت پټ دے هغۀ به تاته د دُنیا په عوض کښے په اٰخرت کښے ډیر زیات بهترین باغونه او ډیرے لوړے بنګلے ورکړی۔ اِنۡ شَآءَ جَعَلَ کښے اِنۡ د شک دپاره نه دے بلکه په معنیٰ د اِذا دے۔ او ماضی په معنیٰ د مستقبل دے یعنی الله تعالیٰ مختار دے چه کله اوغواړی په اٰخرت کښے به دا سے کوی۔ بل کذّبوا بالساعة الخ دا د ماقبل نه ترقی ده۔ په دے کښے د مشرکانو د شکوے وجه ښودلے شویده۔ یعنی هغوی چونکه د اٰخرت نه منکر دی د دے وجے نه وائی چه پیغمبر ته په دُنیا کښے دولت او باغونه ولے نه دی ورکړے شوی۔ یا یے مطلب دا

دے چه هغوی خو نه صرف غیرالله برکتونه ورکوونکی گنړی. بلکه هغوی خو د قیامت نه هم انکار کوی۔ واعتدنا لمن کذب نه وادعوا ثبورًا کثیرًا پورے د منکرینو د پاره تخویفِ اُخروی دے۔

۱۱ اذا رأتهم الخ دا د جهنّم د اُور د سختئ بیان دے په رأت کښے ضمیر د جهنم طرف ته راجع دے د قیامت په ورځ چه کله د جهنّم اُور دلرے نه د دوزخیانو په مخکښے وی او هغه دوی اووینی نو د هغه قهر او غُصّه به دومره زیاته په جوش کښے راشی چه هغوی به دلرے نه د هغه قهرجن آوازونه او پریشیدل واوری نو ډیر به ویریږی۔ د زفیر نه د جهنم هغه ویروونکی آوازونه مراد دی چه د هغه د سخت جوش او خوټکیدو نه به پیدا کیږی۔ سمعوا صوت غلیها واشتعالها (بحر ص۴۸۲ ج ۶) واذا القوا منها الخ مکانا مفعول فیه دے او منها د دینه حال مقدم دے۔ ای فی مکان فهو منصوب علی الظرفیة و(منها) حال منه (روح ص۲۴۳ ج ۱۸) مقرنین د القوا د نائب فاعل نه حال دے۔ ثبورًا، هلاکت او مرګ کله چه مجرمان په زنځیرونو کښے اُوتړلے شی، د جهنم په ډیرو تنګو کوټو کښے واچولے شی۔ نو هغوی به په بیقرارئ کښے مرګ اُوغواړی۔ دے د پاره چه د هغوی د ژوند خاتمه وشی او هغوی د عذاب نه بچ شی۔ لاتدعوا الیوم ثبورًا واحدًا الخ د هغوی په جواب کښے به فرښتے اُووائی یعنی که یو ځل مړه شئ نو خلاص به شئ۔ په ورځ کښے به د ز زخله مرګ نه زیات بد حالت کیږی۔ (موضح قرآن)

۱۲ قل اذلک خیر... نه تر... وعدًا مسئولًا. بشارتِ اُخروی دے او استفهام تنبیه د پاره دے۔ آیا دا درد ناک عذاب ښه دے یا هغه جنت د کوم چه د شرک نه او د الله پاک د نافرمانئ نه د بچکیدونکو سره وعده کړے شویده۔ چه هغوی ته به په طور د جزا او ملاویږی او هغے ته به د هغوی آخری ځل ورتلل وی، هر یو د عقل خاوند فیصله کولے شی چه جنت بهتر دے۔ د دے وجے نه هر هوښیار انسان د پاره هغه لاره اختیارول پکار دی چه جنت ته یے بوځی۔ لهم فیها الخ د جنت د زیات خوشحالئ او آرام بیان دے په هغے کښے به جنتیانو ته هر څیز ملاویږی او د هغوی هر خواهش به پوره کیږی۔ خالدین د پورتنو ذکر شوو ضمائرو نه د یو نه حال دے۔ ترجیح دے له ده چه د یشاؤن ضمیر نه حال وی۔ (مدارک) وعدًا مسئولًا. الله تعالیٰ مالکِ حقیقی او غنی او حمید دے۔ د دے وجے نه به هغه باندے د څه څیز مسئولیت نه لازمیږی۔ لهٰذا مسئولیت د لته د وعدے د عظمت نه کنایه ده۔ یا مطلب دا دے چه وعده د دے لائق ده چه خلق په خپلو دُعاگانو کښے د الله نه د دے سوال اوکړی۔ مسئولیته کنایة عن کونه امرا عظیما و یجوزان یراد کون الموعود مسئولا حقیقة بمعنی یسأله الناس فی دعائهم بقولهم ربنا اٰتنا ما وعدتنا علی رسلک الخ (روح ص۲۴۳ ج ۱۸)

۱۳ ویوم یحشرهم الخ دا تخویفِ اُخروی دے او د سورت د خصوصیّت ذِکر دے۔ ویعبدون من دون الله نه د لته انبیاء علیهم السلام، فرښتے او د الله نیک بندګان مراد دی۔ په دُنیا کښے چه د چا عبادت کړے شویدے او کوم چه برکت ورکوونکی گڼړلے شوی او رابللے شویدی۔ یرید المعبودین من الملائکة والمسیح وعزیر (مدارک ص۱۴۳ ج ۳)

قال الجمهور من عُبِدَ ممن یعقل ممن لم یأمر بعبادته کالملائکة وعیسٰی وعزیر وهو الاظهر (بحر ص۴۸۸ ج ۶) د قیامت په ورځ به الله پاک دے معبودانو نه تپوس اوکړی چه ایا تاسو دا بندګان چه تاسو یې په دُنیا کښے کارساز او برکتونه ورکوونکی ګنړلی تا سو ګمراه کړی وُو او د خپل الوهیت مو دوی ته تعلیم ورکړے وُو؟ یا هغوی پخپله ګمراه شوی وُو؟ قَالُوا سُبْحٰنَكَ الخ هغه نیک بندګان به ډیر په عاجزئ سره عرض اوکړی چه اے الله! ته خو پاک یے او ستا شان دسے نه ډیر اُوچت دے چه تاسو سره څوك شریك وی. زمونږ د پاره خو دا هُم جائز نه وه چه مونږ ستا نه سِوا د خپل ځان د پاره بل کوم کارساز او برکتونه ورکوونکے تجویز کړو نو بیا دا څنګه کیدے شی چه مونږ نورو ته د خپلے کارسازئ او الوهیت تعلیم ورکړو ما کان لنا ان نأمرهم بعبادتنا ونحن نعبدك ونحن عبیدك (معالم وخازن ص۹۶ ج ۵)

۱۴ولٰکن متعتهم الخ اے زمونږ پروردګاره! دے ګمراه خلقوته تا د دُنیا نفعے ورکړے دے ظالمانو خو به اُوازونه مونږ ته کول. لیکن د ازمائش په طور به د دوی حاجتونه تاسو پوره کول او دُنیوی نفعے به هُم تاسو دوی ته ورکولے. تردے چه هغوی ستا سو د الوهیت نه غافله شول. او ستا نه سِوا یے نور برکتونه ورکوونکی اُوګنړل. وکانوا قوما بورا داشان بدبختی په هغوی غالبه شوه او ګمراهان شو او هلاك شو. اللهم انت الذی اعطیته جمیع مطالبه من الدنیا حتی صار کالغریق فی بحر الشهوات واستغراقه فیها صار صادا له عن التوجه الی طاعتك والاشتغال بخدمتك (کبیر ص۴۵۹ ج ۶)

۱۵فقد کذبوکم الخ دا دے نه مخکښے فیقال لهم مقدر دے یعنی د نیکو بندګانو د جواب نه روستو به مشرکانو ته او ویلے شی. اُوګورئ تاسو چه څوك برکتونه ورکوونکی ګنړلو نو هغوی رابلل. هغوی هُم تاسو دروغژن اُوګرځولئ. ستا سو دعوی وه چه هغوی ستا سو کارساز او برکتونه ورکوونکی دی. لیکن هغوی د خپل الوهیت نه صفا انکار اوکړو. او دا اعلان یے هُم کړیدے چه هغوی ته خو ستا سو د رابللو هیڅ خبر هُم نه وُو. څنګه چه بل ځائ کښے د هغوی قول نقل کړے شوے دے. فکفی بالله شهیدا بیننا وبینکم ان کنا عن عبادتکم لغٰفلین (سورة یونس ع ۳) فما تستطیعون الخ څوك چه تاسو برکتونه ورکوونکی ګنړل هغوی به نن ستا سو نه عذاب لرے نه کړے شی. او نه به بیا په څه طریقه ستا سو مدد اُوکړی. ومن یظلم منکم الخ عام خطاب دے ټولو مکلفینو ته یعنی ستا سو نه چه څوك ددے مشرکانو په شان کفر او شِرك کوی هغوی ته به د ډیر سخت عذاب مزه اُوڅکوو. ومن یظلم ای یکفر منکم ایها المکلفون ویعبد من دون الله تعالیٰ الٰهًا اٰخر کهٰؤلاء الکفرة الخ (روح ص۱۰ ج ۱۸)

۱۶وما ارسلنا الخ دا د څلورمے شکوے جواب دے یعنی تیر شوی پیغمبران علیهم السلام کوم چه تاسو هُم رسولان منئ. د بشریت لوازم هغوی سره هُم لګیدلی وُو هغوی به خوراك هُم کولو. او د معاش کسب کولو د پاره به بازارونو ته هُم تلل. د دے وجے نه خو ستاسو خبره او منلے شی نو بیا به د تیرو شوو رسولانو د رسالت نفی هُم اُوشی. حاصل دا دے چه زمونږ جاری طریقه هُم دا ده. چه انسانانو ته د انسانانو نه رسول رالیږو. په

دے وجه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم بشر او انسان کیدل څۀ تو بے او عجیبه خبره نۀ دہ۔ چه د دے په وجه ستاسو د رسالت نه انکار اوکړے شی۔ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ الخ دا د جواب تتمه دہ او نبی کریم صلی الله علیه وسلم د پاره تسلی دہ یعنی ځوله غنی کوؤ او ځوک فقیر کوؤ نو نه مقصد ابتلاء او امتحان دے۔ اَتَصْبِرُونَ۔ آیا تاسو به په دے ابتلاء باندے صبر اوکړئ؟ د استفهام نه مقصود امر دے یعنی صبر اوکړئ او الله تعالیٰ ټول هر څۀ وینی هغه صبر کوؤنکے او غیر صبر کوؤنکے پیژنی او هر یو ته به د هغۀ د عمل مطابق جزاء ورکوی۔ فتنة ای محنة وابتلاء وهذا تصبیر لرسول الله صلی الله علیه وسلم عما عیروه به من الفقر ومشیه فی الاسواق یعنی انه جعل الاغنیاء فتنة للفقراء فیغنی من یشاء ویفقر من یشاء (مدارک ص ۱۳۲ ج ۳)

الحمد لله اتلسمه سیپاره ختمه شوه۔

ابو جویریه نعیم الله شبقدر علیزی

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا
او وئیل به ئله هغه کسانو چه اُمید یې نه لرلو زمونږ سره د ملاقات ولے نه نازلیږي په مونږ باندے
الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ نَرٰى رَبَّنَا ؕ لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ
فرشتے یا مونږ لیدلے خپل رب ډیره لوئي کوي په خپلو زړونو کښے
وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيْرًا ﴿۲۱﴾ يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ لَا بُشْرٰى
او سرکشي کوي ډیرے لوئي سرکشۍ سره په کومه ورځ شله چه اووینی فرشتے هیڅ زیرے به نه وي
يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِيْنَ وَيَقُوْلُوْنَ حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿۲۲﴾ وَ
په دغه ورځ ګنهګارانو د پاره او وائي به چه چرته منع کړے شي په ټینګه منع سره او
قَدِمْنَاۤ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا ﴿۲۳﴾
مونږ رسیدلی یو ئله د دوي کارونو ته کوم چه دوي کړیدي بیا مونږ اوګرځول خاوره (ګرد) الوزولے شوے
اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَّاَحْسَنُ مَقِيْلًا ﴿۲۴﴾
د جنتي خلقو ئله په دغه ورځ ښائسته ځائي د اوسیدو دے او ډیر ښائسته ځائي د غرمے د آرام
وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ تَنْزِيْلًا ﴿۲۵﴾
او په کومه ورځ چه وشلیږي آسمان په وریځ سره او نازلے کړے شي فرشتے په راکوزولو سره ئله
اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذِ ۨالْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ ؕ وَكَانَ يَوْمًا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ
دغه ورځ بادشاهي رښتیا ده د رحمان او دغه ورځ به په منکرینو باندے
عَسِيْرًا ﴿۲۶﴾ وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلٰى يَدَيْهِ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِي
ډیره سخته وي او په کومه ورځ چه به چیچونه لګوي ګنهګاران ئله په خپلو لاسونو وائي اے ارمان !
اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا ﴿۲۷﴾ يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِيْ لَمْ اَتَّخِذْ
چه ما نیولے وے د رسول سره لاره اے خما خرابۍ ارمان ! چه ندم وے نیولے
فُلَانًا خَلِيْلًا ﴿۲۸﴾ لَقَدْ اَضَلَّنِيْ عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ اِذْ جَآءَنِيْ ؕ
فلانکے دوست هغهٔ خوژه بے لارے کړم د نصیحت نه ما ته د رارسیدو نه روستو

وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِلْاِنْسَانِ خَذُوْلًا ﴿۲۹﴾ وَقَالَ الرَّسُوْلُ يٰرَبِّ

او دے شیطان انسان لره غولونکے او اووئیل رسول ﷺ اے ځما

اِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوْا هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا ﴿۳۰﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا

رَبه! ځما قوم نیولے دے دا قرآن پریښودلے شوے او دا شان ګرځولی دی

لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ ۭ وَكَفٰى بِرَبِّكَ هَادِيًا

مونږ هر نبی دپاره دُشمنان د ګناهګارانو نه او کافی دے ستا رب لار ښوُدونکے

وَّنَصِيْرًا ﴿۳۱﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ

او امداد کوونکے او اووئیل هغه خلقو چه مُنکر دی ولے نازل نه شو په هغهٔ باندې قرآن

جُمْلَةً وَّاحِدَةً ۚ كَذٰلِكَ ۚ لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ

ټول په یو ځائ، دغه شان نازل کړو مونږ دے دپاره چه قوی کړو مونږ په دے سره ستا زړهٔ او

تَرْتِيْلًا ﴿۳۲﴾ وَلَا يَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَ

لوستلے دے مونږ دا په قلار لوستلو سره او ستا نه راوړی تاته یو مثال چه مونږ نه راوړو تاته صحیح جواب او

اَحْسَنَ تَفْسِيْرًا ﴿۳۳﴾ ۘ اَلَّذِيْنَ يُحْشَرُوْنَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ اِلٰى جَهَنَّمَ ۙ

د هغهٔ نه بهتر بیان کوم خلق چه جمع کیږی به راوستلے شی پړمخے جهنم طرفته

اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿۳۴﴾ ع

دغوی ډیر بد دے درجه د او ډیر خوشی لی دی دلاره

نکات: ۱ د پنځمے شکوے اعاده ۱۲ ۲ د پنځمے شکوے جواب ۱۲ ۳ تخویفِ اُخروی ۱۲ ۴ بشارتِ اُخروی ۱۲ ۵ تخویفِ اُخروی ۱۲ ۶ د نبی علیه السلام دپاره تسلی ۱۲ ۷ او دمه شکوی ۱۲ ۸ تخویفِ اُخروی ۱۲

موضح قرآن ف۱ یعنی کافران دِ ګمراه کول کوی الله چه چاته اُوغواړی په سمه لار به یے راولی. ف۲ یعنی دهرے خبرے جواب چه په خپل وخت راځی نو د پیغمبر زړهٔ به قوی او محکم وی۔

فتح الرحمن ف۱ یعنی اسمان به خپل عادتی شکل سره وی چه ناساپه به وُریځ سره اُوچوی او وُریځ به راښکاره شی ۱۲

تفسیر

۱۷ وَقَالَ الَّذِيْنَ الخ دا د پنځمې شکوے اعاده ده، د پاره د زیاتی بیان.
یعنی اَوْ نَرٰی رَبَّنَا مشرکان چه د بعث نه هم منکر دی وائی چه مونږ ته د
فرښتے راؤلیږلے شی چه د پیغمبر علیه السلام تصدیق او تائید اوکړی. یا مونږ په خپلو
سترګو خدائ اووینو او هغه پخپله د پیغمبر علیه السلام تصدیق اوکړی. او مونږ ته د ایمان
راؤړلو مخامخ حکم اوکړی. لولا انزل علینا الملائکة فتخبرنا انك رسول حقا او نری ربنا فیخبرنا
بذلك (بحر ص۴۹۱ ج ۶) لقد استکبروا فی انفسهم الخ دا زجر دے دا د هغه معاندینو د عناد او
تکبر کولو او د بغاوت او سرکشئ انتها ده.

۱۸ یوم یرون الخ داد پنځمے شکوے جواب دے. دا مطالبه خالص د هغوی د ضد
او سرکشئ په وجه ده ګنی په کومه ورځ چه هغوی فرښتے اووینی په هغه ورځ به هم هغوی
ته هیڅ خوشحالی نه حاصلیږی. په د غه ورځ به فرښتے وائی چه نن به مجرمانو د هرے
خوشحالئ نه ډیر لرے ساتلے شی. حِجۡرًا مفعول مطلق دے او د دے فعل پریښودلے شوے
دے. او محجورًا د دے تاکید دے. وهو من المصادر المنصوبة بافعال متروك اظهارها و
محجورًا لتاکید معنی الحجر کما قالوا موت مائت (مدارك ص۱۲۵ ج ۳)

۱۹ وقدمنا الخ دا تخویفِ اُخروی دے. وقدمنا اراده به کړو او متوجه به شو. قدمنا
ای عمدنا (مظهری ص۱۳ ج ۷) هَبَآءً ګرد دا د باطلولو او ثواب نه ورکولو نه کنایه ده. ای باطلا
لا ثواب له (معالم و خازن ص۹۸ ج ۵) مشرکان او کافران په دُنیا کښے چه کوم نیک کارونه کوی.
مثلاً صدقه، خیرات او صِله رحمی وغیره د هغے بدله به په دُنیا کښے په څه نه څه صورت کښے
ورکولے شی او په آخرت کښے به په هغے هیڅ اجر او ثواب نه ملاویږی. ځکه چه د اعمالو قبلیدو
د پاره د خالص ایمان شرط دے چه کافران او مشرکان د هغے نه محروم دی، په دے وجه د
هغوی ټول د نیکئ کارونه باطل دی، هَبَآءً مَّنۡثُوۡرًا ای باطلا لا ثواب له لفوات شرط
الثواب علیه من الایمان والاخلاص لله تعالیٰ (مظهری)

۲۰ اصحٰب الجنة الخ: دا د مؤمنانو د پاره بشارتِ اُخروی دے. مستقرًا د اُوسیدو
ځائ، مَقِیۡلًا د آرام کولو ځائ. د قیامت په ورځ به د ایمان والو ته د اُوسیدو او آرام کولو د پاره
په جنت کښے چه کوم مقام ورکولے شی. هغه د کافرانو د اُستوګنے د ځائ نه په ډیرو درجو
بهتر وی. ویوم تشقق السماء الخ دا تخویفِ اُخروی دے. الغمام سپینے وریځے مراد ترے
فرښتے دی. فرښتے به د ومره زیاتے نازلیږی چه د هغوی مجموعی حالت به د سپینو وریځو
پشان په نظر راځی. دا شان ونزل الملائکة تنزیلاً د ما قبل بیان دے. او واؤ تفسیریه
دے. یعنی د قیامت په ورځ به اسمان وُچوی. او دا شان فرښتے به وُریځے وُریځے نازلیږی.
الملك یومئذ الحق الخ بادشاهی خو په دُنیا کښے هم د الله ده. لیکن د لته مجازی بادشاهی هم
موجوده ده. د قیامت په ورځ به د الله نه سوا بل هیڅوك بادشاه نه وی په دغه ورځ به ټولو
ته ښکاره شی چه بیشکه نن بادشاه صرف الله دے. نن د دُنیا بادشاه هم د دے حقیقی
بادشاه په مخکښے سر ټکنه ولاړ دے. وَکَانَ یَوۡمًا الخ د کان اسم په دے کښے مستتر ضمیر دے

چه يَوْمَ ذکرشوی ته راجع دے. او علی الکافرین عسیرًا سره متعلق دے.

۲۷ ویوم یعض الخ د قیامت په ورځ به مشرکان او کافران د حسرت او پښیمانتیا نه خپل لاسونه چیچی، او وائی به ارمان! چه مونږ به پیغمبرانو باندے ایمان راوړے وے او د الله توحید او د هغهٔ د برکتونو ورکول مو منلے وے. یٰویلتی لیتنی الخ ارمان چه ما د فلانی فلانی چا چه شرك ته رابلل کول او د کفر د سردارانو منلے نهٔ وے او دوستی مو ورسره نه وے کړے. لقد اضلنی الخ دے ظالمانو خوزهٔ د توحید د لارے نه او د تبارك د دعوے نه لرے کړم. خذولا. خوارونکی. شیطان چه کله انسان ګمراه کوی نو هغهٔ ته د پرښناشتنه شنهٔ باغونه ښکاره کوی. د خلقو په زړونو کښے د توحید په باره کښے عجیبه شکونه پیدا کوی او هغوی په شرك کښے مبتلا کوی. مثلاً په زړونو کښے دا وسوسه اچوی. چه د الله پاك بندګان به د قیامت په ورځ ستاسو پکار راشی. الله ته به ستاسو سفارش کوی. هغوی به دنیا او اخرت کښے برکتونه ورکونکی دی. د دے وجے نه تاسو هغوی ته او کوئی لیکن د قیامت په ورځ به دے مشرکانو ته نه خوچرته شیطان په نظر راشی. نهٔ به د هغوی خود ساخته معبودان او برکتونه ورکونکی ښکاره شی. خذولا هو مبالغة من الخذلان ای من عادة الشیطان ترك من یوالیه (مدارك ص۱۳۶ ج ۳)

۲۸ وقال الرسول الخ د الرسول نه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مراد دے. د قیامت په ورځ به نبی علیه السلام د الله په مخکښے د خپل قوم شکایت کوی چه اے خما پروردګاره! خما قوم دا قران پریخودهٔ. نهٔ یے دا منلو او نهٔ یے په دے عمل کولو. یا دا جمله معترضه ده. نبی علیه السلام په دنیا کښے د خپل قوم انکار، سرکشی، عناد او دشمنی اولیدله او د افسوس د ښکاره کولو د پاره په طور یے الله ته او وئیل چه خما قوم په ضد او عناد او رد او انکار کښے انتهاء ته رسیدلے دے او په هیڅ صورت د قرآن منلو ته تیار نهٔ دی. ان لما اکثروا من الاعتراضات الفاسدة و وجوه التعنت ضاق صدر الرسول صلی الله علیه وسلم وشکاهم الی الله تعالیٰ وقال یارب.... اکثر المفسرین انه قول واقع من الرسول صلی الله علیه وسلم وقال ابو مسلم بل المراد ان الرسول علیه السلام یقول فی الاٰخرة... والاول اولیٰ لانه موافق اللفظ الخ (کبیر ص۷۶ ج ۶)

۲۹ وکذلك الخ کاف د بیان د کمال د پاره دے. دا نبی علیه السلام ته تسلی ده. دا شان د مشرکانو د طرفنه دے ځایه اعتراضونو وجه بیان شوېده. یعنی مشرکان دا اعتراضونه محض د عداوت، ضد او عناد په وجه کوی. او دا څهٔ نوے خبرے نهٔ ده. په هره زمانه کښے د هر پیغمبر د پاره دشمنان تیر شویدی. او په هره زمانه کښے مشرکانو پیغمبرانو ته دا شان تکلیفونه رسولی دی. په دے وجه څنګه چه هغوی صبر کړیدے دا شان یے تاسو هم اوکړی مدد د پاره او د هغوی نه بدله اخستو د پاره زهٔ ستاسو د پاره کافی یم. ای کذلك کان کل نبی قبلك مبتلی بعداوة قومه وکفاك بی هادیا الی طریق قهرهم والانتصار منهم وناصرا لك علیهم (مدارك ص۱۳۶ ج ۳) وکذلك جعلنا لکل نبی عدوا من المجرمین تسلیة للرسول صلی الله علیه وسلم (کبیر)

۳۴ وقال الذین الخ او ومه شکوی - دا قران که څرنګه واقعی دالله کلام دی نو الله به یو ځل یا ندې تول ولې نه نازلولو. لږ لږ ولې نازلوی ؟ دینه معلومه شوه چه دا دالله کلام نه دی بلکه محمد (صلی الله علیه وسلم) پخپله لږ لږ جوړوی وخلقوته یې اوروی - کذلك لنثبت به الخ کذلك د فعل مقدر سره متعلق دی - ای انزلناه - دا د ذکر شوی شبهې جواب دی یعنی درجه په درجه د نازلولو مقصد دا دی - چه ستا سو زړه ته قوت حاصل شی. او تاسو دا په آسانئ سره یاد کړئ. ورتلناه ترتیلا - دا په فعل مقدر مذکورة الصدر باندې معطوف دی یعنی د نور پورته ذکر شوی مقصد له څخه مونږ لږ لږ په مزه مزه او ترتیل سره په تاسو قران نازل کړېدې - (مدارک)

۳۵ ولا یأتونك الخ د مثل نه مراد د مشرکانو عجیبه او باطل سوال دی - او د الحق نه د هغې صحیح جواب مراد دی - بمثل او په بالحق کښې باء تعدیه د پاره ده - یعنی څنګه چه مونږ د مشرکانو پورته ذکر شوو اوؤ شکوو ډیر بهترین جوابونه ورکړیدی - دا شان اینده کښې به هم د هغوی د طرفنه چه به تاسو کوم باطل سوال او فاسد اعتراض کولې شی مونږ به د هغې دا سې بهترین او صحیح جواب ورکوو چه ستاسو د رسالت مقصد به هم په ډیره ښه طریقه واضح کړی. ولا یأتونك بمثل بسؤال عجیب من سؤالاتهم الباطلة کانه مثل فی البطلان الا اتیناك نحن بالجواب الحق الذی لا محید عنه... وما هو احسن تکشیفا لما بعثت علیه ودلالة علی صحته (بحر ص ۴۹۹ ج ۶)

۳۶ الذین یحشرون الخ دا تخویف اخروی دی کوم خلق چه محض د ضد او عناد او د بې انصافئ په وجه انکار کوی او بې فائدې اعتراضونه کوی. د قیامت په ورځ به هغوی پړمخې راخکلې شی - او د هغوی د اوسیدو ځائ به ډیر زیات خراب وی - دا خلق د نیغې لارې نه ډیر لرې دی - ضد او عناد هغوی د حق لار نه دومره لرې کړیدی چه اوس د هغوی په نیغه لاره د راتلو امکان ختم شویدې -

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنَا مَعَهٗٓ اَخَاهُ هٰرُوْنَ

او مونږ ورکړو موسٰی ۳۷ ته کتاب او ګرځولی وو مونږ د هغه سره د هغه رور هارون

وَزِيْرًا ﴿٣٥﴾ فَقُلْنَا اذْهَبَآ اِلَى الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ

مدد کوونکے بیا مونږ او وئیل تاسو دواړه لاړ شئ هغه خلقو ته چاچه دروغ اوګڼړل زمونږ خبرې

فَدَمَّرْنٰهُمْ تَدْمِيْرًا ﴿٣٦﴾ وَقَوْمَ نُوْحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ اَغْرَقْنٰهُمْ

بیا مونږ هلاک کړل هغوی لره په هلاکولو سره - او د نوح قوم چه کله هغوی دروغ اوګڼړل پیغمبران مونږ هغوی ډوب

وَجَعَلْنٰهُمْ لِلنَّاسِ اٰيَةً ؕ وَاَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ۚۖ ﴿۳۷﴾

کړل او ږموږ دوی د خلقو په حق کښې نښه او تیار کړي دي موږ ګنهګارانو د پاره عذاب دردناک

وَّعَادًا وَّثَمُوْدَا۟ وَاَصْحٰبَ الرَّسِّ وَقُرُوْنًۢا بَيْنَ ذٰلِكَ كَثِيْرًا ﴿۳۸﴾

او عاد او ثمود او د کوهي والو ته او ددوي په مینځ کښې ډیرے پړے وې

وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ الْاَمْثَالَ ۫ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيْرًا ﴿۳۹﴾ وَلَقَدْ اَتَوْا

او ټولو ته موږ واوړول مثالونه او ټول موږ هلاک کړل په هلاکولو سره او دا خلق تلي راغلي

عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِيْۤ اُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ ؕ اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا يَرَوْنَهَا ۚ

دي په هغه کلي باندے په کوم چه اوورول شو بد باران ایا لیدلے یې نه وو هغه

بَلْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا ﴿۴۰﴾ وَاِذَا رَاَوْكَ اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ

داسے نه ده بلکه امید نه لري د ژوندي پاڅیدو او چرته کله چه اووینې تا نو دهغوي هیڅ کار نشته تا سره

اِلَّا هُزُوًا ؕ اَهٰذَا الَّذِيْ بَعَثَ اللّٰهُ رَسُوْلًا ﴿۴۱﴾ اِنْ كَادَ لَيُضِلُّنَا

لیکن ټوقے کول ایا دا هغه دے چه الله رسول رالیږلے دے دوي خو به موږ ګمراه کړي

عَنْ اٰلِهَتِنَا لَوْلَاۤ اَنْ صَبَرْنَا عَلَيْهَا ؕ وَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ

دے زموږ د معبودانو نه که چرے موږ مضبوط نه اوسیدے په دوي باندې او په اننده کښې به پوهه شي

حِيْنَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ مَنْ اَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿۴۲﴾ اَرَءَيْتَ

کله چه اووینې عذاب چه څوک ډیر ګمراه دے د لارے نه ایا ویلے تا څوک

مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ ؕ اَفَاَنْتَ تَكُوْنُ عَلَيْهِ وَكِيْلًا ۙ ﴿۴۳﴾

هغه څوک چا چه عبادت اختیار کړو د خپل خواهش چرته ته اخستلے شے د هغه ذمه

اَمْ تَحْسَبُ اَنَّ اَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُوْنَ اَوْ يَعْقِلُوْنَ ؕ اِنْ

یا ته خیال کوے چه ډیر په دوي کښې آوري یا پوهیږي نور هیڅ نه

هُمْ اِلَّا كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿۴۴﴾ ع

دي هغوي برابر دي د چارپایانو سره بلکه هغوي زیات بیوبیدلي دي د لارے نه

ع ۱۰ ۲

نکات: سلـ د سورت په دعوی باندے رومبے نقلی دلیل ۱۲ سلـ۲ دویم نقلی دلیل ۱۲۔
سلـ۳ دریم نه تر شپږم نقلی دلیلونه ۱۲ سلـ۴ اووم نقلی دلیل ۱۲ سلـ۵ شکوی ۱۲

موضح قرآن

ف۱ د کوهی والا، وائی چه یو امت خپل رسول په کوهی کښے قید کړے وُو بیا چه کله په هغوی عذاب راغے نو هغه وخت رسول آزاد شو۔

تفسیر

۲۷ ولقد اٰتینا الخ دا د سورت په دعوی باندے رومبے نقلی دلیل دے داشان د منکرینو دعوے د پاره تخویف دنیوی دے۔ دلته او دا شان په راتلونکو نقلی دلیلونو کښے اګرچه د دعوے صراحت نشته۔ لیکن د سورة په شروع کښے تبارك سره دعوی ذکر شوی ده۔ نو اوس چه په سورت کښے هر څومره دلائل ذکر کیږی خواه نقلی وی یا عقلی وی۔ هغه به ټول د دے دعوے د پاره وی۔ وے فرمائیل موږ موسٰی علیه السلام ته کتاب ورکړو چه هغے کښے د توحید مسئله واضحه کړے شوه۔ او هارون علیه السلام ته مو نبوت ورکړو د هغهٔ مدد ګار مو جوړ کړو۔ لیکن قوم د هغوی تکذیب اوکړو۔ او د توحید دلائل یے دروغ اوګڼړل نو موږ هغوی تباه او برباد کړل۔ وَقَوْمَ نُوْحٍ الخ دا دویم نقلی دلیل دے۔ داشان نوح علیه السلام خپل قوم ته د توحید پیغام راوړو۔ قوم د هغهٔ تکذیب اوکړو نو هغوی مو غرق کړل۔ د راتلونکو قومونو د پاره مونږ د عبرت نښه اوګرځول۔ وعادًا وثمودا ... نه تر ... وقرونا بین ذٰلك کثیرا۔ دا دریم نه تر شپږم نقلی دلیلونه دی۔ قوم عاد هود علیه السلام، قوم ثمود ته صالح علیه السلام، اصحاب الرس (کوهی والا) طرفته شعیب علیه السلام او د دے قومونو په مینځ زمانو کښے نورو ډیرو قومونو ته ډیر پیغمبران اولیږلے شو۔ د غه قومونو د الله پیغمبران دروغژن اوګڼړل او د توحید دعوت یے رد کړو۔ هغوی ټول هلاك کړے شو۔ وکلا ضربنا له الخ دے ټولو قومونو ته مونږ د پیغمبرانو په ذریعه دلائل او مثالونو سره د توحید مسئله واضح کړه۔ لیکن د غه ضدیانو قومونو بیا هم انکار اوکړو۔ نو مونږ هغوی داسے تباه او برباد کړل چه د هغوی نوم او نښان هم پاتے نهٔ شو۔

۲۸ ولقد اتوا الخ دا اووم نقلی دلیل دے۔ په اتوا کښے ضمیر د مکے والو ته کنایه دے او د القریه نه لوط علیه السلام د قوم کلے مراد دے چه په هغوی د کانړو باران اووَرولے شو او هغوی الله برباد کړی وُو۔ مشرکان به د شام ملك ته تلل او په دے کلو به تیریدل۔ افلم یکونوا یرونها۔ ولے مشرکان د مکے دا تباه شوی کلی نهٔ وینی؟ استفهام انکاری دے۔ یعنی بنهٔ یے وینی لیکن بیا هم عبرت نهٔ حاصلوی یعنی إذا مروا بهم فی اسفارهم فیعتبروا ویتفکروا لان مدائن قوم لوط کانت علی طریقهم عند ممرهم الی الشام (معالم وخازن ص۱۱۰ ج ۵) بل کانوا لا یرجون نشورا۔ د هلاك کړے شوُو کلویانو سره هم عبرت نهٔ اخلی ځکه چه په حشر او نشر باندے د دوی ایمان نشته۔ هغوی د آخرت د حساب او عذاب نه مطمئن دی او د جهنم د عذاب نه د دوی په زړونو کښے هیڅ ویره نشته۔ بل کانوا قوما کفرة بالبعث لا یخافون بعثا فلا یؤمنون (مدارك ص۱۲۸ ج ۳) لا یرجون ای لا یخافون او لا یعتقدون۔

۲۹ ف وَاِذَا رَاَوْكَ الخ دا شکوی ده. مُشرکانو به چه کله نبی علیه السلام اُولیده نو ټوقو او
مسخرو په طور به یې وئیل. آیا دا هغه دے کوم چه تاسو ته الله پیغمبر رالیږلے دے بچیرے
مونږ په مستقل مزاجئ سره د خپلو معبودانو په عبادت او راپلو باندے مضبوط نه وے
پاتے شوی نو دهٔ خو مونږ ګمراه کړی وُو او مونږ یې د خپلو معبودانو نه لرے کړی وُو. شُکر
دے چه مونږ مضبوط پاتے شو. یعنون انه کاد یفتنهم عن عبادة الاصنام لولا ان صبروا
وتجلدوا واستمروا علیها (ابن کثیر ص۳۱۹ ج ۳) وسوف یعلمون الخ تخویفِ اُخروی دے. مشرکان
په دُنیا کښے خپل ځانونه په هدایت ګنړی. او خالص توحید ته د ګمراهئ نوم ورکوی. لیکن
چه کله په عذاب کښے مُبتلا کړے شی نو هغوی ته به ډیره ښه معلومه شی چه ګمراه څوک
او په هدایت باندے څوک دی.

۳۰ ف اَرَءَیْتَ مَنِ الخ دا دے مُشرکانو نه د حق قبلولو اُمید بے فائدے دے دوی په
څهٔ غلط فهمئ کښے مبتلا نهٔ دی. بلکه صرف د ضد او د عناد د وجے نه د خپلو نفسانی
خواهشاتو تابعداری کوی. د نفس بندہ یګان دی. او د خپل نفس خواهش هغوی خپل
معبود ګرځولے دے یعنی د خپل نفس خواهش سره یې باطل معبودان حاجت روا او برکتونه
ورکونکی ګنړلے دی. هغوی په خپله مرضئ او خواهش سره چه چاله غواړی خپل معبود
او کارساز یې جوړ دی. دے نه مخکښے اِنْ کَادَ لَیُضِلُّنَا عَنْ اٰلِهَتِنَا هُم قرینه ده چه
مُشرکان خپل خواهش سره چه څوک اُو غواړی برکتونه ورکونکی یې جوړوی. فالاٰیة
شاملة لمن عبد غیر الله تعالیٰ حسب هواه ولمن اطاع الهوٰی فی سائر المعاصی وهو الذی
یقتضیه کلام الحسن (روح ص۲۲ ج ۱۹) هُم د دے مفهوم یو اٰیت په سُورة جاثیه (ع ۳)
کښے دے. افرأیت من اتخذ الٰهه هواه الخ یعنی د نفس خواهش سره یې غیرالله کارساز
او حاجت روا جوړ کړو. تاسو په دوی باندے نګران نهٔ یئ چه هغوی د دینه منع کړئ. ستاسو
کار صرف تبلیغ دے. اَم تحسب الخ او بیا ستاسو څهٔ خیال دے چه په دوی کښے اکثر
ستاسو خبرے توجه سره آوری او په هغے کښے غور او فکر کوی؟ هرګز داسے نهٔ ده. هغوی په
بے توجهئ او غفلت کښے او ګمراهئ کښے د څاروُ نه هُم مخکښے تلے دی. هغوی نهٔ حق خبرو په
توجه سره آوری نهٔ په هغے کښے غور او فکر کوی. لانهم لایلقون الی استماع الحق اذنا ولا الی
تدبره عقلا ومشبهین بالانعام التی هی مثل فی الغفلة والضلالة الخ (مدارک ص۱۳۹ ج ۳)

اَلَمْ تَرَ اِلٰى رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ ج وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهٗ

تا اُونهٔ کتل (۳۱) خپل رب طرفته څنګه یې اُوږد کړو سورے (۳۲) او که غوښتلے یې نو هغه به یې په

سَاكِنًا ج ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيْلًا ﴿۴۵﴾ لا ثُمَّ قَبَضْنٰهُ

ځائ اُودرولے وے بیا مونږ مقرر کړو نمر د هغهٔ لار ښودونکے (۳۳) بیا مونږ راټول کړو هغه

إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ﴿٤٦﴾ وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِبَاسًا

خپل طرفته په لږ لږ راټولولو سره ۴۵ او هم هغه دے چا چه جوړه کړه ستاسو د پاره شپه اغوستل

وَالنَّوْمَ سُبَاتًا وَجَعَلَ النَّهَارَ نُشُورًا ﴿٤٧﴾ وَهُوَ الَّذِي أَرْسَلَ

او خوب آرام او ورځ یې اُوګرځوله د پاڅیدلو او وتلو د پاره او هم هغه دے چا چه راولیږلے

الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ ۚ وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ

هواګانے زیرے ورکوونکی د هغه د رحمت نه مخکښے او نازل کړے مونږ د آسمان نه

مَاءً طَهُورًا ﴿٤٨﴾ لِنُحْيِيَ بِهِ بَلْدَةً مَيْتًا وَنُسْقِيَهُ مِمَّا خَلَقْنَا

اُوبه د پاکی حاصلولو د پاره چه ژوندے کړو په هغے سره مړه زمکه او اُوڅکوو هغه خپل پیدا کړے شوو

أَنْعَامًا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرًا ﴿٤٩﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَاهُ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوا

ډیرو څارویو ته او انسانانو ته او ګټه قسما قسم مونږ تقسیم کړے هغه د دوی په مینځ کښے چه

فَأَبَىٰ أَكْثَرُ النَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٥٠﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِي كُلِّ

فکر اوکړی. بیا هم ډیر خلق نه اُوسی بغیر د ناشکری کولو نه او که چیرے ګټه مونږ غوښتلے نو را لیږلے به مونږ

قَرْيَةٍ نَذِيرًا ﴿٥١﴾ فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَجَاهِدْهُمْ بِهِ

هر کلی ته یو ویروونکے نو خبره مه منه د منکرینو او مقابله اوکړه هغوی سره په دے

جِهَادًا كَبِيرًا ﴿٥٢﴾ وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هَٰذَا عَذْبٌ

د لوئی زور وال او هم هغه دے چا چه ګټه یو ځائ جاری کړی دی دوه دریابونه. دا یو خوږ

فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَ

دے تنده ختموونکے او دا یو تریخ دے او ګرځولے ده د دغه دواړو مینځ کښے پرده او

حِجْرًا مَحْجُورًا ﴿٥٣﴾ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا

بند منع کوونکے او هغه دے چا چه جوړ کړو ۳۵ د اُوبو نه بنیادم

فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهْرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا ﴿٥٤﴾ وَيَعْبُدُونَ

پس وے ګرځولو د لره نسب او سخر ګنی او ستا رب هر څه کولے شی ۳۶ او عبادت کوی ګټه

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ۭ وَكَانَ

د الله نه سوا دهغه څيز چه نه ورته خير رسولے شي او نه شر او دے

الْكَافِرُ عَلٰى رَبِّهٖ ظَهِيْرًا ﴿۵۵﴾ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّ

کافر د خپل رب نه شا گرځونکے او نه يو موږ تا ليږلے څکه د دے زيرى او ويرے

نَذِيْرًا ﴿۵۶﴾ قُلْ مَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِلَّا مَنْ شَآءَ

اورولو د پاره ته او وايه زه نه غواړم تاسو نه په دے باندے څه مزدوری ليکن چه څوک اوغواړي

اَنْ يَّتَّخِذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿۵۷﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِيْ

چه و نيسي خپل رب طرف ته لاره او تکيه کوه ته په هغه ژوندى چه

لَا يَمُوْتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ ۭ وَكَفٰى بِهٖ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ

نه مرکيږي او د هغه تسبيح کوه د ثناء سره او کافى دے هغه د خپلو بندګانو د ګناهونو نه

خَبِيْرَا ﴿۵۸﴾ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا

خبردار چا چه جوړ کړل ټول اسمانونه او زمکه او هغه چه د دوى په مينځ کښے

فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۚ اَلرَّحْمٰنُ

دى په شپږو ورځو کښے بيا قائم شو په عرش هغه لوئ رحمت والا

فَسْـَٔلْ بِهٖ خَبِيْرًا ﴿۵۹﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ

پس تپوس اوکړه د هغه نه چه خبر يے لري او کله چه ئے او ويلے شي دوى ته سجده کوئ رحمٰن ته

قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ ۤ اَنَسْجُدُ لِمَا تَاْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُوْرًا ﴿۶۰﴾

وائى رحمٰن څه دے ؟ آيا سجده اوکړو هغه ته چه ته فرمائے او زياتيږي د دوى نفرت

نکات: ۱ د سورت په دعوى باندے شپږم عقلى دليل ۱۲ ۲ اووم عقلى دليل ۱۲ ۳ اتم عقلى دليل ۱۲ ۴ زجر ۱۲ ۵ تسليه ۱۲ ۶ نهم عقلى دليل ۱۲ ۷ لسم عقلى دليل ۱۲ ۸ شکوى په طور د زجر ۱۲ ۹ جواب د سوال مقدر ۱۲ ۱۰ تسليه ۱۲ ۱۱ شکوى ۱۲ ۱۲ يولسم عقلى دليل ۱۲ ۱۳ شکوى ۱۲

موضح قرآن

ف۱ اول د هر څیز سورے اُوږد پریوځي۔ بیا چه کوم طرفته نمر ځي د هغې د مخے نه سورے لرے کیږي۔ تر دے چه بیخي ته را وُرسیږي۔ خیل طرفته یے را ښکلو او را ټول یے کړو۔ مطلب دا چه سوري خپل اصل ته ځي د ټولو اصل الله دے۔

ف۲ یعني د نبي را تلل تعجب نهٔ دے که الله اُوغواړي د پر نبیان به را وُلیږي په هر یو کلي کښے به یو نبي وي۔ نو د کافرانو انکار ته هیڅ توجه مهٔ ورکوئ۔

ف۳ د خپل اولاد نیکهٔ دے او چرته چه د هغهٔ وادهٔ اُوشو هلته یے سخرګنئ ده او رب هر څهٔ کولے شي یعني مړے کړي بیا یے ژوندے کړي۔

فتح الرحمٰن

ف۱ یعني روستو د صبا نه راکیدو او نمر ختلو نه مخکښے یا په اول دور کښے

ف۱ یعني په هر صفت سره چه نمر تقاضا کوي هغه شان ځي ۱۲

تفسیر

۳۱ الم تر الی ربك الخ داد سُورت په دعوٰی باندے شپږم عقلي دلیل دے دا الله کامل قدرت ته اُوګورئ چه هغه څنګه سورے خوروي او راغونډوي که چرے هغه اُوغواړي نو نمر به په ځائ باندے اُودروي۔ او سوري به هُم په یو ځائ اُودروي۔ څکه چه د نمر په وجه سره د څیزونو سوري په زمکه پریوځي۔ او د هغهٔ په رفتار سره کمیږي او زیاتیږي۔ وهو الذی جعل لکم الخ اووم عقلي دلیل دے۔ الله تعالٰی شپے ته لباس او وئیل او شپه یے لباس اُوګرځوله چه په خپله تیارهٔ کښے هر څیز پټوي۔ خوب یے د راحت باعث او ورځ یے د تلو راتلو او د روزئ لټولو دپاره اُوګرځوله۔ وهو الذی ارسل الریاح الخ دا آتم عقلي دلیل دے۔ د باران راتلو نه مخکښے الله پاکو مزیدارے هواګانے اُوچلوي چه د باران رحمت زیرے د ځان سره راوړي۔ بیا هغه د آسمان نه باران اُووروي چه د هغے اُوبهٔ د ناپاك څیزونو د پاکولو خاصیت لري۔ دا شان هغے سره مړه زمکه او غیر آباد علاقه آبادہ او شنه تروتازه شي او هغه د ټولو ځیوانانو او د بے حسابه انسانانو د څکلو هُم پکار راځي۔ دا ټول کارونه الله تعالٰی کوي۔ او دا ټول انعامات هُم هغهٔ ورکړیدي۔ نو آیا بیا برکتونه ورکونکے بل څوك دے؟ هرګز داسے نهٔ ده۔ بلکه صرف هغه د برکتونو ورکونکے او د احسانانو کونکے دے بل څوك نهٔ دے۔ آناسیّ د اِنسیّ جمع ده څنګه چه کَرَاسِيُّ د کُرسِيّ جمع ده۔ (مدارک)

۳۲ ولقد صرفناه الخ دا زجر دے یعني مونږ د توحید دعوٰی په قسما قسم دلائلو سره او د بیان په مختلفو طریقو سره واضحه بیان کړو۔ دے دپاره چه هغوی په دیکښے غور اوکړي او په دے پوهه شي۔ لیکن اکثر خلق بیا هُم انکار کوي۔

۳۳ و لوشئنا الخ دا تسلّي ده۔ یعني که چرے مونږ غوښتلے نو د تبلیغ رسالت کار به مونږ تاسو نه سپک کړے وو۔ او په مختلفو ښارونو کښے به مونږ ګڼر پیغمبران لیږلے وے۔ لیکن مونږ فیصله اوکړه چه اُوس د ټول جهان د رسالت شرف تاسو ته درکړے شي دے د پاره چه ستاسو مرتبه د ټولو نبیانو علیهم السلام نه اُوچته او ستاسو اجر و ثواب د ټولو نه لوئ شي، په دے وجه تاسو د کافرانو هیڅ خبره مهٔ منئ۔ او د قرآن دلائلو سره د هغوی

سره بنهٔ جهاد اُوکړئ. او هرګز همت مهٔ بائلئ ځکه چه د ټول جهان هادی او رهنما تاسو يئ. حضرت رحمه الله اُوفرمائيل چه د بِهٖ ضمير د قرآن نه کنايه دے. بِهٖ اى بالقرآن يعنى بدلائله يعنى د قرآن دعوت او د قرآن د دلائلو سره واضحه کړئ او هغوى تنبيه اُورسوئ وجاهدهم به اى بالقرآن (خازن ص۷۲ ج ۵) لما علم تعالى ما كابده الرسول من اذى قومه اعلمه انه تعالى لو اراد لبعث فى كل قرية نذيرا فيخف عنك الامر ولكنه اعظم اجرك واجلك اذ جعل انذارك عاما للناس كلهم وخصك بذلك ليكثر ثوابك الخ (بحر ص۵۰۵ ج ۶) وجاهدهم بسبب كونك نذير كافة القرى جهادا كبيرا جامعا لكل مجاهدة (مدارك ص۱۳۱ ج ۳)

۵۳ وهو الذى مرج الخ دا د سورت په دعوٰى باندے نهم عقلى دليل دے دا هم د هغهٔ د توحيد او د کامل قدرت دليل دے. چه دوه سمندرونه يو ځائے روان دى. ديو اُوبهٔ ډيرے خوږے او مزيدارے دى. او د دويم اُوبهٔ ډيرے ترخے دى. او د دوى په مينځ کښے داسے پرده حائل ده چه هيڅ ته په نظر نهٔ راځى يعنى کومه ښکاره پرده نشته محض قدرتى پرده ده. ليکن دے باوجود دواړه په خپل مينځ کښے نهٔ ملاويږى. حَاجِزًا غير مرئى من قدرته (ابوالسعود) کوم الله چه دداسے غالب قدرت والا دے هغه برکتونه ورکوونکے هم دے.

۵۴ وهو الذى خلق الخ دا لسم عقلى دليل دے. الله پاک په کامل قدرت سره د يو څاڅکى اُوبونه انسان پيدا کړو. بيا يے انسانان په دوه قسمه رشتو سره په خپلو کښے يو ځائے کړل. يوه نسبى رشته دويمه د سخرګنئ رشته. دا رشتے هم د الله تعالىٰ د انعاماتو نه دى. نو دينه معلومه شوه چه کوم الله تعالىٰ داسے قادر او منعم دے برکتونه ورکوونکے هم هغه دے

۵۵ ويعبدون الخ دا شکوٰى ده په طور د زجر يعنى د دومره واضحه دلائلو باوجود مشرکان د الله نه سِوا داسے عاجزبندګان برکتونه ورکوونکى او کارساز ګنړى چه هغوى ته خپل ځان ته د نفع رسولو او د ضرر نه د ځان ساتلو هم اختيار نشته. نو څوک چه دومره عاجز وى چه د خپل نفع او نقصان هُم مالک نهٔ وى نورو ته به څنګه برکتونه ورکړى. وَكَانَ الْكَافِرُ عَلٰى رَبِّهٖ ظَهِيْرًا. عَلٰى رَبِّهٖ کښے تضمين دے. اى عاليًا على مخالفة ربه يا على په معنى د الیٰ دے او د ظَهِيْرًا معنى ده شا ګرځوونکے. يا ظهيرًا په معنى د معاون او مددګار يعنى کافر د اسلام سره دُشمنى او په شرک سره د شيطان مدد کوى. يقول عونًا للشيطان على وبه بالعداوة والشرك (ابن كثير ص۳۲۲ ج ۳)

۵۶ وما ارسلناك الخ دا د سوال مقدر جواب دے. مشرکان د ضد او عناد او تکبر په وجه وائى چه څه معجزه اُوښايه نو مونږ به اُومنو. نو وے فرمائيل چه مونږ محمد صلى الله عليه وسلم بشيرا و نذيرا ليږلے دے. معجزات راوړل د هغهٔ په اختيار کښے نهٔ دى. مونږ د مصلحت د لاندے چه کله غواړو او مناسب اُوګنړو. د خپل پيغمبر په لاس باندے معجزه ظاهِروُو. قل ما اسئلكم عليه من اجر الخ تاسو دا هُم اُووايئ چه زهٔ خو تبليغ په تاسو باندے ولے سخت لګى. زهٔ خو ستاسو نه په تبليغ باندے څهٔ مزدورى يا تنخواه نهٔ غواړم. څما خو ستاسو نه صرف دا مطالبه ده چه تاسو د نيت په صدق او د زړهٔ په رضا سره

د توحید لاره اختیار کړي. او د الله دین قبول کړي.

۳۸ و توکل الخ دا نبي علیه السلام ته تسلي ده. یعنې تاسو د مشرکانو په عناد او انکار او ضرر رسولو باندې صبر کوئ. او په هغه همیشه ژوندي رب باندې اعتماد اوکړئ چه د ازل نه دے او تر ابده پورې به وي. او هر قسمه برکتونه او خیرونه چه د هغه په قبضه او اختیار کښې دي. تاسو د هغه تسبیح او تحمید بیانوئ هغه ستاسو حافظ او ناصر دے فانه الحقیق بان یتوکل علیه دون الاحیاء الذین من شانهم الموت فانهم اذا ماتوا ضاع من توکل علیهم (ابو السعود ص ۴۹۵ ج ۶) وکفی به الخ داد کافرانو د پاره تخویف اخروي دے. الله د دے ضد یا تو د جرم او ګناه بے خبره نه دے. بلکه بنه عالم دے او دوی ته به پوره پوره سزا ورکړي.

۳۹ الذی خلق الخ دا د سورت په دعوی باندې پنځم عقلي دلیل دے. زمکه او اسمانونه او څه چه په دیکښې دي هر څیز الله تعالی په شپږو ورځو کښې پیدا کړل او په خپله په دیکښې متصرف دے. او هیڅ اختیار یے چاته نه دے سپارلے. لهذا برکتونه ورکوونکے هم هغه دے الرحمن. مبتدا ء محذوف د پاره خبر دے. ای هو الرحمن فالرحمن خبر مبتدا محذوف (مدارک) څوک چه د ټول جهان خالق او مالک او د ټولو کائناتو متصرف او حکمران دے. د هغه یو نوم رحمن دے هغه ډیر مهربان دے. د دے وجے نه هغه برکتونه ورکوونکے هم دے. او د هر قسمه عبادت او تعظیم او سجود هغه د پاره روا دے. ای هو الرحمن الذی لا ینبغی السجود والتعظیم الا له (کبیر ص ۴۹۳ ج ۶) فسئل به خبیرا د کوم یو عارف خبیر نه د هغه د رحمت په باره کښې تپوس اوکړه. ای فسئل عنه رجلا عارفا یخبرک برحمته (بحر ص ۵۰۷ ج ۶) یا د خبیرا نه مراد الله تعالی دے. په به کښې ضمیر د پورته ذکر شوو څیزونو طرف ته راجع دے. یعنې د ذکر شوو څیزونو په باره کښې د الله نه سوال اوکړه چه هغه ته بنه معلوم دي. ایها الانسان لا ترجع فی طلب العلم بهذا الی غیری وقیل معناه فاسأل عنه خبیرا و هو الله تعالی (خازن ص ۸۵ ج ۵)

۴۰ و اذا قیل الخ دا شکوي ده. مشرکانو ته چه کله او ویلے شي چه خدائې رحمن ته سجده اوکړئ. نو هغوی وائي چه هغه رحمن څوک دے مونږ خو رحمن نه پیژنو. نو ایا نو چه مونږ ته چاته د سجدے کولو حکم راکوے. مونږ ته هغه ته د علم او معرفت نه بغیر سجده اوکړو؟ په مشرکانو کښې د الله دا نوم مشهور او معروف نه وو په دے وجه هغوی دا سوال اوکړو. ای لا نعرف الرحمن وکانوا ینکرون ان یسمی الله باسمه الرحمن (ابن کثیر ص ۳۲۳ ج ۳) لانهم ما کانوا یطلقونه علی الله وکانوا یقولون لا نعرف الرحمن الا رحمان الیمامة یعنون مسیلمة الکذاب یسمونه رحمان الیمامة (مظهری ص ۳۹ ج ۷)

تَبٰرَكَ الَّذِیْ جَعَلَ فِی السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّجَعَلَ فِیْهَا سِرٰجًا

لوئې برکت دے د هغه چا چه جوړ کړل په اسمان کښې برجونه او کیښودو په هغے کښې ډیوه

وَقَمَرًا مُّنِيرًا ﴿٦١﴾ وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً

او سپوږمۍ رڼا کوونکې ۱ او هم هغه دے الله چا چه جوړه کړه شپه او ورځ په یو بل پسے

لِّمَنْ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا ﴿٦٢﴾ وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ

د هغه چا د پاره چه غواړي فکر کول یا غواړي شکر کول ۲ او بندګان د رحمن ۳

الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ

هغه دي کوم چه ګرځي په زمکه باندے په ورو قدمونو ۱ او چه کله خبرے کوي

الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا ﴿٦٣﴾ وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا

د دوي سره ناپوهه خلق نو وائي صاحب سلامت ۳ او هغه خلق چه شپے تیروي خپل رب ته په سجده

وَقِيَامًا ﴿٦٤﴾ وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ

او په ولاړه ۴ او هغه خلق چه وائي اے ربه لرے کړے زمونږ نه د دوزخ

جَهَنَّمَ ۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴿٦٥﴾ إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا

عذاب بیشکه د هغه عذاب دے پوره تباهي بیشکه هغه بد ځائ دے د اوسیدو او د

وَمُقَامًا ﴿٦٦﴾ وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَ

پاتے کیدو او هغه خلق چه کله خرچ کوي نو نه اسراف کوي او نه تنګي کوي او

كَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ

د دواړو په مینځ کښے برابر ګذران کوي او هغه خلق چه نه بلي ۵ د الله سره

إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ

بل معبود لره او نه قتلوي هغه نفس چه منع کړیدے الله مګر په حقه سره

وَلَا يَزْنُونَ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ﴿٦٨﴾ يُضَاعَفْ

او نه کوي زنا او څوک چه اوکړي دا کار هغه به پریوتو په ګناه کښے ۵ دوچنده به وي

لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ﴿٦٩﴾ إِلَّا مَن تَابَ

د هغه لره عذاب په ورځ د قیامت او پروت به وي پکښے سپک شوے ۶ مګر هغه څوک چه توبه

وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمْ

او کړی او ایمان راوړی او عمل او کړی نیک پس دغه له به بدل کړی الله ګناهونه د دوی

حَسَنَٰتٍ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٠﴾ وَمَن تَابَ وَعَمِلَ

په نیکو سره او دے الله بخښونکے مهربانه ف او څوک چه توبه او کړی او نیک

صَالِحًا فَإِنَّهُۥ يَتُوبُ إِلَى اللَّهِ مَتَابًا ﴿٧١﴾ وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ

کار او کړی پس هغه واپس کیږی الله طرفته په واپس کیدو ف او کوم خلق چه نه شاملیږی

الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا۟ بِاللَّغْوِ مَرُّوا۟ كِرَامًا ﴿٧٢﴾ وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا۟

د دروغو په کار کښے او کله چه تیریږی په عبثو کارو تو تیریږی په عزت سره ف او هغه خلق چه کله پوهه کړے

بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا۟ عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا ﴿٧٣﴾ وَالَّذِينَ

شی د رب په خبرو نه پریوځی په هغے باندے کانړه شوی ف۲ او هغه خلق چه

يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ

چه وائی اے ربه راکړے موږ ته زموږ د ښځو طرفنه او زموږ د اولاد د طرفنه د سترګو

أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴿٧٤﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ

یخوالے او کړے موږ لره د پرهیزګارانو پیشوا ف۱ دوی ته ف۲ به بدله ملاؤشی بالاخانے

بِمَا صَبَرُوا۟ وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَٰمًا ﴿٧٥﴾ خَٰلِدِينَ

ځکه چه دوی ثابت قدم پاتے شو او مخامخ کیږی به دوی په هغه ځائ کښے د دعا او سلام سره ف۱ همیشه به وی

فِيهَا ۚ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿٧٦﴾ قُلْ مَا يَعْبَؤُا۟ بِكُمْ

په هغه کښے ښه ځائ دے د اوسیدو او ښه ځائ د اوسیدو ف۱ ته او وایه څه پروا نه لری ځما رب

رَبِّى لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ ۖ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُونُ

ستاسو که تاسو هغه ونه بللی پس تاسو دروغژن کړو پس ډیر زر به دا وبال

لِزَامًۢا ﴿٧٧﴾ ع ۱۴

جان جوړ شی ف۱۳

نکات: - سـ۱ د سورت د دعوے دویم محل اعاده او دولسم عقلی دلیل ۱۲ سـ۲ دیارلسم عقلی دلیل ۱۲ سـ۳ په اخرت کښې برکتونه ورکوونکے هم صرف الله تعالیٰ دے ۱۲ سـ۴ د عباد الرحمٰن الیٰ خیر ۱۲ سـ۵ تخویف دنیوی ۱۲

موضح قرآن ف۱ د اسمان دولس حصے دهغے نوم برج د هر یو د ستورو پټه، دا حصے نه بے د حساب دیاره ایښی دی. ف۲ یو لیدل یے یا خوز یا تیں لو کمیں لوته او وئیل یا یو بل پسے تلل را تلل. یا دا چه یو د بل بدله ده چه د ورځے کار پاتے شی د شپے پوره کړے شی او د شپے کار چه پاتے شی په ورځ کښے هغه پوره کړے شی.

ف۳ یعنی دا سے خلقو ته جواب نه ورکوی په بدو خبرو سره او نه په هغے کښے شاملیږی او نه د هغوی سره جګړه کوی. ف۴ رکوع یے او نه شمارله ځکه چه رکوع چیره اوږه ده نه وی -

ف۵ لیکن چرته چه پکار وی نبی علیه السلام او فرمائیل د مسلمان وژل حلال نه دی سوا د دریو ځایونو نه د قتل په بدل کښے یا په بد کارئ کښے سنګسار و لو سره یا لاره لوټ کولو باندې.

ف۶ یعنی د نورو ګناهونو نه دا ګناه لویه ده. ف۷ بدل به یے کړی یعنی د ګناهونو په ځائ به ورته د نیکو توفیق ورکړی او د کفر ګناهونه به ورته معاف کړی.

ف۸ رومبے د کفر د ګناهونو ذکر و و چه روستو یے ایمان راوړو. دا په اسلام کښے د ګناه کولو ذکر دے. هغه هم چه کله توبه اوکړی یعنی د چل عمل نه را و ګرځی نو د الله په نزد یه ځائ او موږی. ف۹ یعنی په ګناه کښے نه شاملیږی او لوبو طرفته توجه نه کوی نه په هغوی کښے شامل دے او نه ورسره جګړه کوی.

ف۱۰ د سترګو یخوالے دا دے چه هغوی په خپله لاره باندے وی مونږ د پرهیزګار و ورانده یو او هغوی مونږ پسے وی. ف۱۱ یعنی فرشتے به یے وړاندے ورانده یوځی.

ف۱۲ یعنی دے ځائ کښے که لږ ساعت ایسار یدل هم ملاؤ شی نو هم غنیمت دے د هغوی هم د غه کور دے. ف۱۳ یعنی بنده د نه مغرور کیږی. الله ته د هغوی څه پرواه لیکن د د په درخواست باندے رحم کوی. او س کیږی جنګ جهاد.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی تواضع په دا سے خلقو غالبه ده ۱۲
ف۲ یعنی بلکه لیدو آوریدو سره سجده کوی ۱۲

تفسیر ۲۱ تبارک الخ دا دویم محل د سورت د دعوے اعاده ده. او په دعوی باندے دولسم دلیل دے. کوم الله چه اسمان په مختلفو برجونو کښے تقسیم کړو او په هغے کښے یے نمر چه د دنیا رڼا کوونکے دے روښانه ډیوه اوګرځوله. او د شپے په تیاره کښے د رڼا سپین څادر خوروونکے سپوږمئ یے پیدا کړه. هغه برکتونه ورکوونکے دے بل څوک نه دے. د بروج نه د کواکب سیاره منزلونه مراد دی. هی منازل الکواکب السیارة (مدارک ص ۱۳۲ ج ۳)

۲۲ وهو الذی الخ دا دعوی په سورت باندے دیارلسم عقلی دلیل دے. الله پاک شپه

او ورځ دیو بل نه روستو راتلو ئې اوګرځول، دے د پاره چه کوم سړے غور فکر کول غواړي هغه د شپې او ورځې په اختلاف کښې غور او فکر اوکړي او عبرت حاصل کړي. او په کومو انعاماتو چه د الله شکرو یستل پکار دي د هغې شکر په ځائي راوړي.

۴۳ وعباد الرحمٰن الخ اول دا ذکر اوشو چه په دُنیا کښې برکتونه ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے. اوس د لته دا ذکر کوُلے شي چه په اٰخرت کښې هم برکتونه ورکوُنکے او رحمت کوُنکے الله تعالیٰ دے. عباد الرّحمٰن مرکب اضافی مبتدا دے. او د دے نه روستو لس اٰیتونه پریږده دیولسم اٰیت په شروع کښې د دے خبر ذکرشویدے. یعنی اولٰئك یجزون الخ په مینځ کښې د الله د نیکو بندګانو اَته صفتونه ذکر شویدي. د کوم په وجه چه به هغوی په اٰخرت کښې د الله د رحمت او برکت حقدار ګرځي. او هر یو ته به الله تعالیٰ د اخلاص عمل مطابق درجے ورکوي. الذین یمشون الخ دا د عباد الرحمٰن وړومبے صفت دے. چه هغوی غرور او تکبّر نهٔ کوي بلکه د هغوی د خبرو او ګرځیدو نه هم عاجزي او خاکساري ظاهریږي هغوی په زمکه باندے په عاجزئ سره ګرځي. او کچرے کم عقله ناپوهه خلق هغوی سره نامناسبه خبرے کوي نو صفا ورته وائي صاحبه! مونږ دے خبرو نه معاف اوساتئ مونږ په بل خیال کښې مشغول یُو. یعنی د هغوی د زړهٔ تعلق همیشه د الله تعالیٰ سره وي.

۴۴ والذین یبیتون الخ دا دویم صفت دے د الله هغه نیک بندګان ټوله شپه د الله په عبادت کښې مصروف وي. او ټوله شپه په مانځه کښې تیروي. والذین یقولون الخ دریم صفت هغوی هروخت د الله د عذاب نه ویریږي ویرکي وي او د الله نه دُعا غواړي چه اے الله! مونږ د جهنم د عذاب نه بچ کړے ځکه چه د هغهٔ عذاب هلاکوُنکے او تباه کوُنکے دے. او هغه ډیر بد ځائے دے د اوسیدلو. غرام. شر لازم او عذاب همیشه الغرام الشر اللازم والهلاك الدائم (خازن ص۱۰۲ ج ۵) والذین اذا انفقوا الخ دا څلورم صفت دے. هغوی د ژوند په معاملاتو کښې خاصکر مال خرچ کولو کښې د اعتدال او میانه رَوئ په لار روان وي. مال خرچ کولو کښې نهٔ اسراف کوي نهٔ شوُمتوب کوي. په کومو ځایونو کښې چه شرعًا خرچ کول جائز نهٔ دي. په هغې کښې مال نهٔ خرچ کوي او د الله په لاره کښې او د عامو خلقو په فائده کښې د خرچ کولو نه بُخل کوي. په ناجائزو ځایونو کښې خرچ کول اسراف دے او په جائزو ځایونو کښې خرچ نهٔ کول اِقتار دے. الانفاق فی غیر طاعة اسراف والامساك عن طاعة اقتار (بحر ص۵۱۳ ج ۶)

۴۵ والذین لا یدعون الخ دا د عباد الرحمٰن د صفتونو پنځم قسم دے. چه په دیکښے درے صفتونه ذکرشویدي. (۱) هغوی د الله نه سوا بل څوك کارساز او برکتونه ورکوُنکے نهٔ ګڼړي. او په حاجتونو او مُشکلاتو کښې غیرالله ته اواز نهٔ کوي. (۲) هغوی په ناحقه قتل نهٔ کوي. (۳) هغوی بدکارئ ته نژدے هم نهٔ ورځي. د دینه روستو د نافرمانه خلقو د پاره تخویف اُخروي دے. ومن یفعل ذٰلك الخ څوك چه د پورته ذکرشوُو خرابو عملونو کوُنکے شي هغهٔ

نو به سخته سزا ورکړے شي او د قیامت په ورځ به هغه ته دوچنده عذاب ورکولے شي۔ یو د کفر او د شرك د وجے نه دویم د نورو ګناهونو د وجے نه او هغه به ذلت او رسوائۍ سره به هغه عذاب کښے همیشه اوسیږي۔ اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ الخ دا د ماقبل نه مستثنیٰ دے۔ او توبه وِیستونکو د پاره بشارتِ اُخروي دے چا چه د شرك نه توبه کړه او په توحید او رسالت باندے ایمان راؤړو او نیك عملونه یے اوکړل د هغوي بدئ به هُم په نیکو سره بدلولے شي ځکه چه الله ډیر مهربانه دے۔ ومن تاب وعمل صالحًا الخ چا چه د ټولو باطلو عقیدو نه رښتینے توبه اوویستله۔ او نیك عملونه یے د خپل ژوند پروګرام جوړ کړو۔ د مرګ نه روستو به د الله سره د هغه واپس کیدل ډیر لوئ شان او عزت سره وي۔ اي یعود الیه بعد الموت (متابا) اي حسنا یفضل علی غیره الخ (خازن ص۱۱۱ ج۵) یا مطلب دا دے چه کوم کس رښتینے توبه اوکړي هغه به داسے کار کوي چه الله ته خوښ دے چه هغے سره د ده ګناهونه معاف کیږي او هغه د لویو ثواب حقدار ګرځي۔ معناه ان من تاب الی الله فقد اتی بتوبة مرضیة لله مکفرة للذنوب محصلة للثواب العظیم (کبیر ص۵۰۰ ج۶)

۶۹ والذین لا یشهدون الخ دا د عباد الرحمٰن شپږم صفت دے۔ د الزور نه مراد یا خو دروغو ګواهي ده۔ په دے صورت کښے به یشهدون د شهادت نه وي۔ یا د الزور نه مراد شرك دے یا لهو ولعب او ګانے بجانے، په دے صورت کښے به یشهدون د شهود نه وي۔ والظاهر ان المعنی لا یشهدون بالزور او شهادة الزور قاله علي والباقر فهو من الشهادة او المعنی لا یحضرون من المشاهدة والزور الشرك والصنم او الکذب او الة الغناء (بحر ص۵۱۵ ج۶) او د اللغو نه ټول ګناهونه مراد دي۔ یعني هغوي د شرك او معصیت په مجلسونو کښے هرګز نه شریکیږي۔ لیکن که چرے اتفاقًا کله د شرك او ګناهونو والو په مجلسونو باندے تیریږي نو لمن د هغوي د خیرنو والی نه را ټوله کړي او د طبیعت د سلامتیا سره تیریږي۔ المعاصي کلها لغو۔ یعني لم یحضروا مجالسهم واذا اتفق مرورهم بهم لم یتدنسوا بشیء (جامع ص۳۲۱) یعني چه کله د شرك په مجلسونو اتفاقًا تیریږي نو خپل ایمان بچ کړے تیرشي۔ او ایمان او عمل په شرك سره نه خیرنوي۔ دا شان که چرے کله د لهو ولعب په مجلسونو باندے تیریږي نو په وقار او عزت سره تیریږي۔ او په هغے کښے شرکت نه کوي۔

۷۰ والذین اذا الخ دا اووم صفت دے چه کله هغوي ته د الله ایتونه لوستلے شي، نو په هغے کښے غور او فکر کوي او په هغے باندے د پوهیدو کوشش کوي۔ او بے سوچه پرے نه وریریوځي۔ یعني که چرے ایتونه واؤري نو د ډیره ویرے یا د ډیرے خوشحالئ په وجه په سجده پریوځي۔ نو د هغے په مفهوم او مطلب باندے ځان پوهه کړي او دا سے کوي۔ د منافقانو پشان د دروغو تاثر ظاهرولو د پاره د تکلف او تصنع نه کار نه اخلي۔ یعني انهم اذا ذکروا بها خروا سجدا وبکیا سامعین باذان واعیة مبصرین بعیون راعیة لما امروا به ونهوا عنه لا کالمنافقین واشباههم (مدارك ص۱۳۵ ج۳)

۷۱ والذین یقولون الخ دا د عباد الرحمٰن اتم صفت دے چه هغوي د الله تعالیٰ

نه دُعا غواړي چه اے زمونږه ربه! زمونږه بيبيانے او اولاد داسے نيک جوړ کړے چه هغوی نه په کتلو سره زمونږه سترګے یخے شي او زړونو ته مو راحت اُورسي او مونږ د تقوی او پرهیزګاری هغه مقام ته اُورسوے چه مونږ د پرهیزګارانو امامان شُو او په علم او تقوی کښے زمونږ اقتداء اُوکړے شي. او زمونږ نه نورو ته دِيني نفعه حاصله شي. قال ابن عباس والحسن والسدی وقتادة والربیع بن انس ائمة یقتدی بنا فی الخیر (ابن کثیر ص۳۳۰ ج ۳) ائمة یقتدی بنا فی الخیر ولنا نفع متعد الی غیرنا (جامع البیان) حضرت شیخ قدس سره فرمائی للمتقین متعلق محذوف دے یعنی تابعین چه د اجعلنا مفعول ثانی دے او اماما د المتقین نه حال دے. ای حال کونهم ائمة.

۷۵ اولئک یجزون الخ اولئک د عباد الرحمن خبر دے یعنی پورته ذکر شوو صفتونو سره متصف د الله بندګانو ته به په جنت کښے د جزاء په طور بالاخانے ورکولے شي، هغوی خپل ځانُونه د الله په اطاعت او بندګئی باندے قائم اُوساتل او د نفس د خواهشاتو نه منع شو. په جنت کښے به فرښتے مبارکئی او سلام سره د هغوی استقبال کوی. خلدین فیها هغوی به د جنت په نعمتونو او راحتونو کښے همیشه اُوسیږی. نه به جنت فنا کیږی نه به مرګ راځی او نه به هغوی د جنت نه وستلے شي، نو دا څومره ښکلے ځائ او غوره استوګنه ده.

۷۷ قل ما یعبؤا بکم الخ دا تخویف دُنیوی دے او خطاب د مکے مُشرکانو ته دے. بکم کښے باء د تعدیے دپاره ده. ربي د یعبؤا فاعل دے. دُعائکم مصدر د مفعول طرفته مضاف دے. او فاعل الله دے او د لولا جواب محذوف دے. ای لعذبکم. اصل عبارت به داشان وی. لولا دعاء الله ایاکم لعذبکم. یعنی اے ځما پیغمبره! دوی ته اُووایه چه ځما د رب په تاسو هیڅ پروا نشته. که چرے تاسو ته د الله د طرفنه د توحید دعوت نه وے نو تاسو به په عذاب ډیر زر هلاک شوے وے لیکن د الله جاری سُنت دادی چه د تبلیغ دعوت نه مخکښے هغه هیڅوک نه نیسی څنګه چه ارشاد دے وما کنا معذبین حتی نبعث رسولا. یا ما یعبؤا بکم ربي. د لولا جواب دے څنګه چه د امام نسفي، ابو السعود او نورو مفسرینو د تاویل نه معلومیږی. ما یصنع بکم ربي لولا دعاءه ایاکم الی الاسلام (مدارک، ابو السعود وغیرهما) فقد کذبتم لیکن اوس تاسو ته د توحید دعوت اُورسید او تاسو د هغے تکذیب اُوکړو. لهذا اوس نزدے ده چه تاسو ته د تکذیب جزاء لازم درکړے شي هُم هغه شان اُوشوه چه د بدر په جنګ کښے هغوی ته د تکذیب عبرتناکه سزا ورکړے شوه. د څینو په نزد د آخرت عذاب مراد دے. ثم قیل هذا العذاب فی الآخرة وقیل کان یوم بدر وهو قول مجاهد (کبیر ص۵۰۰ ج ۶) فسوف یکون الخ د یکون د ضمیر نه مراد د تکذیب جزاء ده.

⁂ ⁂ ⁂

په سورهٔ فرقان کښې د توحید ایتونه او د دے خصوصیات

(۱) تبٰرك الذی نزل الفرقان ــــ نه تر ــــ وخلق کل شیء فقدره تقدیرًا ○ نفی د شرك فی التصرف۔ او نفی د برکتونو د غیرالله نه۔

(۲) لا یخلقون شیئًا وهم یخلقون ــــ نه تر ــــ ولا یملکون موتا ولا حیٰوة ولا نشورًا ○ باطل معبودان نه خالق دی نه مالك او متصرف، نفع نقصان او مرګ او ژوند هم د دوی په اختیار کښې نه دے لهذا هغوی برکتونه ورکوونکی هم نه دی۔

(۳) الذی یعلم السر ــــ نه تر ــــ انه کان غفورا رحیما ○ صرف الله پاك عالم الغیب دے لهذا برکتونه ورکوونکے هم هغه دے۔

(۴) ویوم یحشرهم وما یعبدون ــــ نه تر ــــ فما تستطیعون صرفا ولا نصرا ○ (۳۶) دا د سورت خصوصیت دے مشرکان په دنیا کښې چه کوم بزرګان برکتونه ورکوونکی ګڼړی او په حاجتونو کښې ورته اواز کوی۔ د قیامت په ورځ به هغوی د خپل کارسازۍ او برکتونو ورکولو نه صفا انکار اوکړی۔

(۵) واذا راوك ان یتخذونك ــــ نه تر ــــ افانت تکون علیه وکیلا ○ (۴۶) د سورت خصوصیت۔ چه چا هم د توحید مسئله کړے ده خلقو هغهٔ پورے تهوقے کړیدی مشرکان د خپل نفس په خواهش سره چه څوك اوغواړی برکتونه ورکوونکے بے اوګڼړی او هغهٔ ته اواز کوی۔

(۶) الم تر الی ربك کیف مد الظل ــــ نه تر ــــ خلقنا انعاما واناسی کثیرا ○ (۵۶) هر کله چه دا ټول تصرفات د الله په اختیار کښې دی نو برکتونه ورکوونکے هم هغه دے۔

(۷) ویعبدون من دون الله ــــ نه تر ــــ علی ربه ظهیرا ○ د سورت خصوصیت چه څوك د نفع او نقصان اختیار نه لری۔ مشرکان هغوی له د برکتونو ورکولو اوګڼړی او اواز ورته کوی۔



سُورَةُ الشُّعَرَاءِ

ربط :- اسمي ربط - په سُورةُ فرقان کښې يې اوفرمائيل تبٰرك الذی نزل الفرقان الخ او په سُورةُ شعراء کښې يې اُو فرمائيل والشعرآء يتبعهم الغاوٗن. يعني د تبارك د دعوٰے وضاحت او تفسير د پاره الله تعالىٰ فرقان نازل کړو داخو شاعرانه خبره نه ده ځکه چه مُشرك شاعران خو ګمراه وي.

معنوي ربط :- په سُورةُ فرقان کښې دا ثابته کړے شوه چه برکتونه ورکوُنکے صرف الله تعالىٰ دے، د هغه نه سوا خير او برکت د هيچا په قبضه کښې نه دے. په دے دعوىٰ بانده درے عقلي دلائل په تفصيل سره ذکر کړے شول. نقلي دلائل د پېريات په اجمال او اختصار سره ذِکر شول او س په سُورةُ شعراء کښې په دے دعوىٰ باندے نقلي دليلونه په تفصيل سره ذِکر کړے شويدي. او عقلي دليل صرف يو ذِکر شوے دے.

دوېم ربط :- د سُورةُ فرقان په اٰخر کښې او وئيلے شو. فَقَدۡ كَذَّبۡتُمۡ فَسَوۡفَ يَكُوۡنُ لِزَامًا. يعني تاسو تکذيب کړيدے. نزدے ده چه د دے سزا به بيا مومئ. بيا په سُورة شعراء کښې د مخکينو اُمتونو واقعات بيا نولونه مخکښې يې په شروع کښې اُو فرمائيل فَقَدۡ كَذَّبُوۡا فَسَيَاۡتِيۡهِمۡ الخ يعني دا مُشرکان د مکے دوي د توحيد دعوت رد کړيدے. اوس نزدے ده د دوي حشر به هم هغه وي کوم چه د مخکينو اُمتونو شو چه د هغے ذِکر په دے سُورت کښې راروان دے.

مُختصر خُلاصَه

خُلاصه :- دا سُورت په لاندينو مضمونو باندے مشتمل دے. تمهيد سره د ترغيب، تسلي، زجر په مُنکرينو سره د تخويفِ دُنيوي، يو عقلي دليل او وه نقلي تفصيلي دليلونه او د مُشرکانو د دوو شبهو جواب، تلك اٰيٰت الكتٰب المبين. تمهيد سره د ترغيب. لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفۡسَكَ الخ تسلي د پاره د نبي عليه السلام. وَمَا يَاۡتِيۡهِمۡ مِّنۡ ذِكۡرٍ الخ زجر د مُنکرينو. فَقَدۡ كَذَّبُوۡا فَسَيَاۡتِيۡهِمۡ الخ تخويفِ دُنيوي. اولم يروا الى الارض الخ دليلِ نقلي او تخويفِ دُنيوي. واذ نادٰى ربك موسىٰ ړومبے نقلي دليل. واتل عليهم نبا ابراهيم (ع ٥) دوېم نقلي دليل. كذبت قوم نوح المرسلين (ع ٦) درېم نقلي دليل. كذبت عاد المرسلين الخ (ع ٧) څلورم نقلي دليل. كذبت ثمود المرسلين الخ (ع ٨) پنځم نقلي دليل. كذبت قوم لوط المرسلين الخ (ع ٩) شپږم نقلي دليل. كذب اصحٰب الايكة المرسلين (ع ١٠) اووم نقلي دليل. وانه لتنزيل رب العٰلمين (ع ١١) د سورت د شروع وما ياتيهم من ذكر الخ سره متعلق او دليلِ وحي دے. وانه لفي زبر الاولين دليلِ نقلي. اولم يكن لهم اٰية الخ دليلِ نقلي. وَمَا تَنَزَّلَتۡ بِهِ الشَّيٰطِيۡنُ د مُشرکانو د ړومبۍ شبهے جواب دے. د دينه پس د مخکيني بيان ثمره ده. چه په هغے کښې څلور

اُمور ذکر شوي دي . اول لَا تَدۡعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ، دويم وَاَنۡذِرۡ عَشِيۡرَتَكَ الۡاَقۡرَبِيۡنَ، دريم وَاخۡفِضۡ جَنَاحَكَ الخ څلورم وَتَوَكَّلۡ عَلَى الۡعَزِيۡزِ الرَّحِيۡمِ ـ هَلۡ اُنَبِّئُكُمۡ عَلٰى مَنۡ تَنَزَّلُ الشَّيٰطِيۡنُ دا د رومبۍ شبهې د جواب تتمه ده. وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الۡغَاوٗنَ الخ د مشرکانو د دويمې شبهې جواب دے .

حاصل- دا د توحيد ډېر واضحه دلائل دي. ددے باوجود که چرے مشرکان بيے نه مني نو دغم په وجه تاسو خپل ځان په هلاکت کښے مه اچوئ. که چرے مونږ غوښتلے وے نو يوه نښه به مونږ هغوی ته ښودلے وے. او هغوی به مونږ په ايمان راوړلو مجبور کړے وے- ليکن جبري ايمان مطلوب نه دے - دا مشرکان ده رنوی او تازه دليل نه انکار کوی ددے وجے نه هغوی د اوس دهغه انجام دپاره تيار شي کوم چه د مخکښے تکذيب کونکو شوے وُو آيا دوی په دے خبره کښے غور نه کوی. چه مونږ په زمکه کښے قِسما قسم د فائدے څيزونه پيدا کړيدي- دلائل خو نور هم ډېر دي. ليکن د پوهے دپاره يو دليل کافي دے په هغے کښے د فکر اوکړی نو پوهه به شي چه د الله نه سِوا څوک برکتونه ورکونکے نشته . دوی د مخکينو اُمتونو مثلاً د فرعون قوم، د نوح ؑ قوم او قوم عاد ، قوم ثمود ، قوم لوط ؑ او اصحٰب الۡاَيۡكَةِ د حالاتو نه عبرت واخلي- دے قومونو ته زمونږ پيغمبرانو د توحيد دعوت ورکړو. او هغوی ته يے اوښودل چه د الله نه سوا څوک برکتونو ورکونکے نشته چه کله دغه قومونو اُونه منل نو هغوی هلاک کړے شول دے نقلي دليلونو نه ثابته شوه چه دا د تبارك دعوی د الله د طرفنه ده. نه خو دا شيطاني وسوسه ده نه شاعرانه خبره ده -

مُفصّل خُلاصه

داسُورت په لاندينو مضمونو باندے مشتمل دے . په شروع کښے تسلّي ده نبی عليه السّلام دپاره. زجر منکرينو باندے سره د تخويفِ دُنيوی ، يو دليلِ عقلي، او بيا اووه تفصيلي نقلي دلائل او په آخر کښے يو دليلِ وحی دوه نقلي دليلونه او د مشرکانو د دوؤ شبهو جواب .

تفصيل تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ الۡمُبِيۡنِ ۞ تمهيد سره د ترغيب. لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفۡسَكَ الخ نبي عليه السّلام دپاره تسلّي. وَمَا يَاۡتِيۡهِمۡ مِّنۡ ذِكۡرٍ الخ زجر منکرينو دپاره

فَقَدۡ كَذَّبُوۡا فَسَيَاۡتِيۡهِمۡ الخ تخويفِ دُنيوی. هغوی هر محل د توحيد دعوی دروغ ګڼړی په دے وجه اوس به د تيرو شوؤ اُمتونو پشان د بدعمل انجام ته رسيږي.

اَوَلَمۡ يَرَوۡا اِلَى الۡاَرۡضِ الخ د توحيد په دعوی باندے عقلي دليل او تخويفِ دُنيوی دے د زمکے ته نه ګوری مونږ هغه په هرقسمه فائده منِ پيداوار سره تروتازه آباده کړے ده. چه کله هغه په دے کار قادر دے نو برکتونه ورکونکے هُم هغه دے او هغه د تير شوؤ اُمتونو پشان ستاسو په هلاکولو هُم قادر دے - دينه روستو اووه نقلي دلائل په تفصيل سره ذکر شويدي چه په اصل کښے د تير شوؤ اُمتونو واقعات دي- او ددے بيان سره د مشرکانو تنبيه مقصود ده . که چرے تاسو د عوی د تکذيب نه منع نه شوئ نو ستاسو حال به هُم داوی

رومبے نقلي دلیل. وَاِذْ نَادٰی رَبُّكَ مُوْسٰی (٢٦) موسیٰ علیه السلام ته یې د توحید پیغام ورکړو او فرعون ته یې اُولیږلو. هغه د توحید پیغام پیش کړو او معجزے یې هم اُوښودلے لیکن فرعون او د هغه قوم د حکومت په نشه کښے مست وُو. هغوی هغه دروغ اُوګڼلو او د توحید دعوت یې رَد کړو. نو الله پاك سره د ټول لښکره فرعون غرق کړو. اسے د مکے مشرکانو د عبرت او نصیحت د پاره خو دا یوه واقعه هُم کافي ده. د دینه عبرت حاصل کړئ. او د ضد او عناد نه منع شئ د حق دعوت قبول کړئ.

دویم نقلي دلیل: وَاتْلُ عَلَیْهِمْ نَبَاَ اِبْرٰهِیْمَ الخ (٥٦) اُوګورئ ابراهیم علیه السلام څومره صفا او واضحه الفاظو کښے خپل پلار او خپل قوم ته د توحید دعوت ورکړو. او صفا صفا یې ورته اُوویل چه نفع نقصان، بیماری او صحت او مرګ او ژوند ټول هرڅه د الله په اختیار کښے دی. او هغه برکتونه ورکوُنکے دے. د پوهیدو د پاره دا هُم ځان له کافي دلیل دے. ابراهیم علیه السلام د دُنیا او اٰخرت ټول خیرونه صرف د الله نه غواړي ځکه چه هر خیر او برکت د هغه په قبضه کښے دے.

دریم نقلي دلیل: كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوْحِ ۨالْمُرْسَلِیْنَ (٢٦) نوح علیه السلام نهه نیم سوه کاله خپل قوم ته د الله د توحید دعوت ورکړو چه د الله نه سِوا څوك کارساز حاجت رَوا او برکتونه ورکوُنکے نشته. لیکن د قوم دُنیا دار طبقے توحید اُونه منلو او مؤمنانو ته یې ډیر په سپك نظر اُوکتل. نو الله پاك هغوی د طوفان په عذاب سره ټول ختم کړل. که څوك د ضد یا نو په زړونو کښے د الله ویره وی او هغوی د انصاف په لاره اُوچلیږی نو عبرت د پاره هُم دا یوه واقعه کافي ده.

څلورم نقلي دلیل: كَذَّبَتْ عَادُ ۨالْمُرْسَلِیْنَ الخ (٢٦) د عاد قوم ته مونږ هُود علیه السلام د لا ټولو سره پیغمبر اُولیږلو. هُود علیه السلام په هره طریقه قوم پوهه کړو. د الله پاك بیشماره نعمتونه یې وریاد کړل او ورته یې اُوښودل چه کوم رَب دا هرڅه تاسو ته درکړي دی هُم هغه کارساز او د برکتونو ورکوُنکے دے په دے وجه صرف هغه ته آواز کوئ لیکن د قوم د ضد او عناد دا حال وُو چه هغوی صفا اُوویل چه اسے هُوده! که ته مونږ ته وعظ اُوکړے او که نه مونږ ستا خبره بالکل نه منو. اٰخر الله تعالیٰ هغوی په عبرتناك عذاب سره هلاك کړل.

پنځم نقلي دلیل: كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِیْنَ الخ (٢٦) قوم ثمود هُم د صالح علیه السلام د ناصحانه تعلیم او تبلیغ او مصلحانه دعوت جواب ډیر په معاندانه انداز کښے ورکړو د اُوښے معجزه لیدو سره هُم متاثره نه شو. صالح علیه السلام هغوی ته د الله تعالیٰ انعامونه وریاد کړل او پوهه یې کړل. چه صرف الله ستاسو د ټولو مالك او کارساز دے. او صرف هغه برکتونه ورکوُنکے دے. لیکن قوم مسلسل په تکذیب باندے قائم پاتے شو. اٰخر د خپلو ګناهونو په سزا کښے دردناك عذاب سره هلاك شو.

شپږم نقلي دلیل: كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطِ ۨالْمُرْسَلِیْنَ الخ (٢٦) لوط علیه السلام خپل بدعمله

قوم ډیر پوهه کړو. په هر ممکنه طریقه یې د هغوی د اصلاح کوشش اوکړو. لیکن هغه بدبخته قوم د خپلو بد عملونو او ګناهونو نه منع نهٔ شول او هلاک کړے شول.

اووم نقلی دلیل:. كَذَّبَ أَصْحٰبُ الْأَيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ (ع ۱۰۶) د شعیب علیه السلام حال هم داشان دے قوم د هغهٔ نصیحت ته هیڅ توجه ورنهٔ کړه او هغه یې دروغژن اوګڼړلو آخر په دنیا کښې پرے سخت عذاب راغے او تباه برباد شول. د پورته ذکر شوو واقعاتو نه یوه یوه واقعه په خپل ځائې د عبرت او نصیحت د پاره کافی ده. لیکن کهٔ چرے دے ټولو واقعاتو آوریدلو او پوهیدلو سره بیا هم کهٔ چرے د مکے مشرکان د توحید د دعوت تکذیب کوی نو بیا دِ هغوی د هم داسے انجام د پاره تیار شی. وَإِنَّهُ لَتَنْزِيلُ رَبِّ الْعٰلَمِينَ (ع ۱۱۶) دا د سورت په شروع کښے د ذکر شوی زجر سره متعلق دے. او د توحید په دعوی باندے دلیل وحی دے. دا ظالمان د توحید د دعوے تکذیب کوی حالانکه دا دعوی د الله د طرفنه د جبرئیل علیه السلام په وساطت سره په تاسو نازله شوے ده. وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الْأَوَّلِينَ. دلیل نقلی دے او دا دعوی په مخکینو کتابونو کښے هم ذکر کړے شوے ده. اولم یکن لهم آیة الخ دا هم نقلی دلیل دے. كذلك سلكنه الخ تخویف دنیوی دے. افبعذابنا یستعجلون الخ په معاندینو باندے زجر دے چه د مخلوق ځائې ئے په عذاب غواړی. وما تنزلت به الشيطين الخ دا وَإِنَّهُ لَتَنْزِيلُ رب العالمين الخ باندے د مشرکانو د دوو شبهو جواب دے. شبه دا وه چه محمد (صلی الله علیه وسلم) ته پیریان راځی چه هغهٔ ته څهٔ نبوت نه کوی، نو په جواب کښے یې اُوفرمائیل چه قرآنی مضمونونه د شیطانانو د قبضے نه بهر دی. د هغوی دا قدرت نشته ځکه چه هغوی رسیدل ملأ اعلی ته ممکن نهٔ دی. په دے وجه قرآنی تعلیمات د شیطانی وسوسو ګډوډ کیدو نه یقیناً پاک دی.

فلا تدع مع الله إلٰها آخر الخ دا د مخکنی بیان ثمره او نتیجه ده چه په هغے کښے شلور امور ذکر شوی دی. دا اولنے امر دے یعنی چه کله دا حقیقت عقلی، نقلی او وحی دلائلو سره او د شبهاتو شافی جوابونو سره ثابت او روښانه شو چه د الله نه سوا څوک کارساز او برکتونه ورکونکے نشته. نو اوس د برکتونو غوښتلو او د خیر سوال کولو د پاره د هغهٔ نه سوا بل هیڅ ته آواز مهٔ کوئ. دویم امر وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الخ چه کله دا خبره حقه ده چه برکتونه ورکونکے صرف الله تعالی دے نو خپل نژدے رشته دارانو ته خصوصی دعوت او تبلیغ کوه دے د پاره چه هغوی هم په دے حقیقت پوهه شی. دریم امر: وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ الخ د ایمان والو سره د نرمئ او د ښهٔ اخلاقو معامله کوه. دے د پاره چه د هغوی په زړونو کښے ستاسو د دعوت قدر او منزلت زیات شی. او هغوی په دے باندے خپل ځان قربان کړی. څلورم امر: وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ الخ ستا سو مسئله حق او ستاسو دعوت ټول خیر او برکت دے. په دے وجه د دے دعوت په لاره کښے چه کوم تکلیفونه راځی هغه په خوشحالئ سره برداشت کړئ او په الله بهروسه اُوساتئ

هغه ستاسو حامي او ناصر دے ځکه چه هغه ستاسو د ټولو حالاتو نه خبردار دے.

هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ الشَّيَاطِينُ الخ دا د آوَلے شُبهے د جواب تتمه ده یعنی شیطانان خو دروغژن او دهوکه ورکوونکو ته راځي - او د خلقو د ګمراه کولو د پاره هغوی ته دروغ ریښتیا خبرے ګډ وډ کولو سره بیا نوي. د الله ریښتونی پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره د دے خبیثو واسطه څنګه کیدے شي.

وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ الخ دا د دویمے شُبهے جواب دے. شُبه دا وه چه دا شاعر دے. په جواب کښے یے اُوفرمائیل چه شاعر خو پخپله هُم ګمراه وی او د هغه مَنُونکی هُم ګمراهان وی. لیکن زمونږ پیغمبر او د هغه مَنُونکی خو په صراط مُستقیم او د هدایت په لاره دی. البته چه کوم شاعر مؤمن وی او د نبی علیه السلام صحیح فرمانبردار وی هغه هُم ګمراه نه دے.

سُوْرَةُ الشُّعَرَآءِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَتَانِ وَسَبْعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّاَحَدَ عَشَرَ رُكُوْعًا

سورۂ شعراء له مکی دے او په دیکښے دوه سوه اوویشت (۲۲۷) آیتونه او یولس رکوع ګانے دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم د الله په نوم سره چه بیحده مهربانه نهایت رحم والا دے.

طٰسٓمّٓ ﴿۱﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ

دا آیتونه دی د کتاب واضحه له شاید ته هلاک ویلے کړے

نَّفْسَكَ اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۳﴾ اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ

خپل ځان په دے خبره چه هغوی یقین نه کوی که موږ اُوغواړو نو نازل به کړو په هغوی

مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ لَهَا خٰضِعِيْنَ ﴿۴﴾ وَ

د آسمان نه یوه نښه بیا شی به د هغوی څټونه هغے ته خکته او

مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنَ الرَّحْمٰنِ مُحْدَثٍ اِلَّا كَانُوْا عَنْهُ

نه دے رسیدلے دوی ته هیڅ نصیحت څه د رحمن نه نوے چه دوی ترے نه

مُعْرِضِيْنَ ﴿۵﴾ فَقَدْ كَذَّبُوْا فَسَيَاْتِيْهِمْ اَنْۢبٰٓؤُا مَا كَانُوْا بِهٖ

مخ نه دے اړولے پس دوی دروغژن کړیدی پس رابه شی دوی ته حقیقت د هغے خبرے چه دوی

يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝٦ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الْاَرْضِ كَمْ اَنْۢبَتْنَا فِيْهَا

دریوږنے مسخرے کولے ایا نۂ کوری هغه زمکے ته چه څومره زرغون کړیدی مونږ په دیکښے

مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ۝٧ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ

د هرقسمه خاص څیزونه په دیکښے خامخا نښے دی او په دوی کښے ډیر

اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝٨ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ

خلق نۂ دی منونکی او بیشکه ستا رب لۂ هغه دے زبردست

الرَّحِيْمُ ۝٩ ع

رحم والا

نکات:- ۱ تمهید سره د ترغیب ۱۲ ۲ تسلّی د پاره د نبی علیه السلام ۱۲ ۳ زجر په مشرکانو باندے ۱۲ ۴ تخویف ۱۲ ۵ په توحید باندے عقلی دلیل ۱۲

موضح قرآن: و یعنی په نۂ منلو باندے زر عذاب نۂ راولیږی۔

تفسیر ۱ دا تمهید دے۔ په دیکښے په قران باندے د عمل کولو ترغیب ورکړے شویدے۔ دا د هغه قرآن ایتونه دی چه د هغے مضمونونه ښه واضحه او د هغے اعجاز او د هغے د من عند الله کیدل دومره ښکاره واضحه دے چه هغے د پاره د بهرنه دلیل راوړلو نۂ ضرورت نشته۔ د الکتاب صفت المبین راوړلو سره دے طرفته اشاره کړے شویده چه په دے سورت کښے زیات نقلی دلیلونه بیان کړے شویدی۔

۳ دا د نبی علیه السلام د پاره تسلّی ده۔ د توحید په دعوٰی باندے څه دلائل په سورۂ فرقان کښے بیان شویدی۔ او نور به په سورۂ شعراء کښے بیان کړے شی د دے دلائلو باوجود هم که چرے مشرکان نۂ منی نو ته دومره غمژن کیږه ځکه چه غرض تبلیغ وُو چه په ډیره ښائسته طریقه اوشو۔ او په زبردستۍ سره په هغوی منل مقصود نۂ دی اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ الخ که چرے مونږ غوښتلے نو د اسمان نه به پرے مونږ یوه داسے نشانی (معجزه) نازله کړے وے۔ چه د هغے په وړاندے به هغوی په عاجزئ سره خکته شوے وے۔ او مجبوراً به یے ایمان راوړلے وے۔ لیکن په زبردستئ باندے منل زمونږ د حکمت خلاف دی۔ ځکه چه مونږ ایمان امتحان اخستل غواړو چه خوک په خپل اختیار باندے ایمان راوړی او خوک انکار کوی۔ اَنْ لَّا يَكُوْنُوْا ای لئلا یکونوا (مدارک) او د تهٔ خضعین نه روستو وَلٰكِنْ لِّنَبْلُوَهُمْ مقدر دے۔ ای لو نشاء لانزلنا اٰیة تضطرهم الی الایمان قهرا ولکن لانفعل ذلک لانا لا نرید من احد الا الایمان الاختیاری (ابن کثیر ص۳۳۲ ج ۳)

سه دا زجر دے. یعنی مشرکان مسلسل د توحید نه انکار کوی نو چه کله هم د الله پاک د طرفنه د توحید مضمون او د تبارك په دعوت باندے مشتمل ایت نازل شی نو هغوی ترے اعراض او د هغے نه انکار کوی. فقد کذبوا فسیاتیهم الخ دا تخویف دنیوی دے یا اخروی. په دے معاندینو باندے زمونږ حجت قائم شوے دے. او د توحید مسئله په هر اړخ په دوی باندے دلائلو سره واضحه کړے شوے ده. لیکن د دے باوجود هغوی انکار او اعراض کوی. په دے وجه نزدے ده چه هغوی ته د انکار او اعراض او استهزاء سخته سزا ورکړے شی څنګه چه مخکینو قومونو ته د انکار او اعراض او عناد او استهزاء سزا ورکړے شوه. نو هغه وخت به په دوی باندے د توحید حقانیت واضحه شی کوم پسے به چه هغوی ټول عمر ټوقے کولے. د عذاب نه د جنګ بدر په ورځ عذاب مراد دے یا د اخرت. وهذا وعید لهم وانذار بانهم سیعلمون اذا مسهم عذاب الله یوم بدر او یوم القیمة الخ (مدارک صفحه ۱۳۶ ج ۳)

۵ دا په توحید باندے عقلی دلیل دے. هغوی ځمکے ته نه ګوری چه مونږ په هغے کښے قسما قسم پیداوار زرغونوو چه په هغے کښے د دوی د پاره مختلف قسمه فائدے دی. اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً دا د دے خبرے واضحه دلیل دے چه د ټول جهان کارساز او برکتونه ورکونکے صرف الله تعالیٰ دے. دلائل خو نور هم ډیر دی. لیکن که چرے هغوی د غور او فکر نه کار واخلی نو د حق پیژندلو د پاره هم دا یو دلیل کافی دے. لیکن د دوی د اکثرو په زړونو باندے د ضد او د عناد د وجے نه د جحود زنګ مهر لګیدلے دے په دے وجه هغوی ایمان نه راوړی. وړاندے د هر نقلی دلیل نه پس د دے ایت دوباره ذکر شوے دے چه هغے ته دا تنبیه مقصود ده چه د هغے نه هر دلیل فی نفسه مستقل او د عبرت او نصیحت د پاره کافی دے. لیکن د دے باوجود بے معاندین نه منی.

۶ ستا پروردګار ډیر طاقتور دے کله چه هغه اوغواړی نو منکرین به اونیسی لیکن هغه رحیم او مهربان دے. په دے وجه مجرمانو ته مهلت ورکوی چه هغوی ته د سوچ فکر کولو موقع ملاؤ شی. او هغوی په سمه لار روان شی یا مطلب دا دے چه هغه د کافرانو نه په بدله اخستلو غالب دے او په توبه ویستونکو باندے مهربان دے. (مظهری)



وَاِذْ نَادٰی رَبُّكَ مُوْسٰۤی اَنِ ائْتِ الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۰﴾

او هر کله چه آواز اوکړو ستا رب شه موسیٰ ته چه لاړ شه هغه قوم ګنهګار ته

قَوْمَ فِرْعَوْنَ ؕ اَلَا یَتَّقُوْنَ ﴿۱۱﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّیْۤ اَخَافُ اَنْ

قوم د فرعون ته آیا هغوی نه ویریږی وے وئیل اے ربه! شه زه ویریږم چه

يُكَذِّبُوْنِ ﴿١٢﴾ وَيَضِيْقُ صَدْرِىْ وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِىْ فَاَرْسِلْ

ما به دروغژن کړي او تنګیږي ځما سینه او نه چلیږي ځما ژبه پس پیغام اولیږه

اِلٰى هٰرُوْنَ ﴿١٣﴾ وَلَهُمْ عَلَىَّ ذَنْۢبٌ فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ﴿١٤﴾

هارون ته او د دوی په ما دیوه ګناه دعوی ده پس ویریږم چه ما به قتل کړي.

قَالَ كَلَّا ۚ فَاذْهَبَا بِاٰيٰتِنَآ اِنَّا مَعَكُمْ مُّسْتَمِعُوْنَ ﴿١٥﴾ فَاْتِيَا

وے ویل هیڅ کله هم نه شی تاسو دواړه لاړ شئ زمونږ د نښو سره مونږ تاسو سره یو اوریدونکی پس لاړ

فِرْعَوْنَ فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾ اَنْ اَرْسِلْ

شئ فرعون ته او او وایئ چه مونږ پیغام راوړونکي یو د پروردګار د عالم نه. دا چه اولیږه

مَعَنَا بَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٧﴾ قَالَ اَلَمْ نُرَبِّكَ فِيْنَا وَلِيْدًا وَّ

مونږ سره بنی اسرائیلو لره ئې وے ویل ایا نه دے پاللے مونږ تا لره په خپل مینځ کښے وړوکے

لَبِثْتَ فِيْنَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِيْنَ ﴿١٨﴾ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ

او پاتے شوے یې په مونږ کښے د خپل عمر ډیر کلونه لله او اوکړو تا خپل هغه کار

الَّتِىْ فَعَلْتَ وَاَنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٩﴾ قَالَ فَعَلْتُهَآ اِذًا وَّ

کوم چه تا اوکړو او ته یې ناشکره ول وے ویل کړے ؤم ما هغه کار او

اَنَا مِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿٢٠﴾ فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ

زه ؤم غلطی کونکے لله بیا وتښتیدم تاسو نه لله کله م چه ستا ویره اولیدله بیا اوکړو

لِىْ رَبِّىْ حُكْمًا وَّجَعَلَنِىْ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٢١﴾ وَتِلْكَ نِعْمَةٌ

ما ته ځما رب حکم او جوړ یې کړو ما لره د پیغام رسونکو نه او ایا هغه لله احسان دے

تَمُنُّهَا عَلَىَّ اَنْ عَبَّدْتَّ بَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿٢٢﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ

چه ته یې په ما بار دے چه غلامان جوړ کړل تا بنی اسرائیلو لره ئې او وویل فرعون لله چه

وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا

څه معنی ده د پروردګار د عالم او وویل پروردګار د اسمانونو او د زمکے او څه چه

بَيْنَهُمَا ؕ إِنْ كُنْتُمْ مُّوقِنِينَ ﴿٢٤﴾ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُ أَلَا

د دے دواړو په مینځ کښے دی که چرے تاسو یقین کوئ وے وئیل ﷲ دخپلے خوا خلقو ته آیا

تَسْتَمِعُونَ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ ﴿٢٦﴾

تاسو نهٔ آورئ وے وئیل رب ستاسو او رب ستاسو د وړاندے پلار نیکونو

قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ الَّذِي أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴿٢٧﴾

وے وئیل ستاسو پیغام راوړونکے کوم چه تاسو ته رالیږلے شوے دے ضرور لیونے دے

قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ إِنْ كُنْتُمْ

وے وئیل رب د مشرق او د مغرب ﷲ او څه چه د دے دواړو په مینځ کښے دی که چرے تاسو

تَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾ قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ

پوهیږئ وے وئیل که تا مقرر کړو بل معبود ځما نه سوا نو خامخا به تا اُوګرځوم

مِنَ الْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ مُّبِينٍ ﴿٣٠﴾

په قید کښے وے وئیل ﷲ او که چرے راوړم تا ته یو شے ښکاره

قَالَ فَأْتِ بِهِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٣١﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ

وے وئیل نو هغه شے راوړه که ته رښتینے وے ﷲ بیا یے اُوغورځوله خپله امسا

فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿٣٢﴾ وَنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا هِيَ بَيْضَاءُ

پس هغه وخت هغه اژدها ښکاره جوړه شوه او د ننه یے راوویستلو لاس خپل پس هغه وخت سپین

لِلنَّاظِرِينَ ﴿٣٣﴾ ع ٢

وُو لیدونکو ته

نکات: ۱ رومبے نقلی دلیل ۱۲ ۲ د فرعون رومبے اعتراض ۱۲ ۳ د فرعون دویم اعتراض ۱۲ ۴ د دویم اعتراض جواب ۱۲ ۵ د رومبی اعتراض جواب ۱۲

موضح قرآن ف ۱ د بنی اسرائیلو وطن شام وُو۔ د ابراهیم علیه السلام په وخت کښے د یُوسف علیه السلام په سبب مصر ته راغلل۔ هلته یے څهٔ زمانه تیره کړه اوس الله تعالٰے هغوی ته د شام مُلک واپس ورکول غوښتل۔ فرعون هغوی نهٔ پریښودل۔

ځکه چه دهغوی نه به بیې د بیګار کار اخستلو. ف۲ یو قبطي دهغهٔ د لاسه وژلے شوے وُو په سورهٔ قصص کښې به راشي.

ف۳ مُوسیٰ علیه السّلام به یوه داسے خبره کوله چه په هغې سره به بې د الله قُدرتونه هغوی ته ښودل او فرعون به د دے مینځ مینځ کښې خپل سرداران تیزول چه د هغوی یقین راننه شي د مُوسیٰ علیه السّلام په خبرو باندے ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعني د بني اسرائیلو غلامان کرځول نعمت نهٔ وُو. نو هُم دا شان پرورش کول چه هغې ته ضرورت وُو نعمت به نه وی ۱۲

تفسیر

ګه دا رومبے نقلي دلیل دے چه دد ے نه دوه خبرے ثابتے شوے. اول دا چه برکتونه ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نه دے. دویم دا چه نه منُونکي په دُنیا کښې هلاک کولے شي. الله تعالیٰ مُوسیٰ علیه السلام ته نبوّت ورکړو او حُکم یې ورکړو چه د غه ظالم قوم یعني د فرعون قوم ته لاړ شه. الا یتّقون هغوی د پرې پروا نشو یدې هغوی د الله نه نهٔ ویریږي شرك کوي او په غریبانو باندے ظُلم کوي او په نافرمانئ او سرکشئ کښې نشه دي.

ھه مُوسیٰ علیه السّلام ته د پیغام رسَولو په سِلسله کښې چه کوم مُشکلات په نظر راغلل او د فرعون نه ورته چه کومه خطره وه د هغې ذکر یې اوکړو او د الله پاك د معاون حاصلول او د فرعون د شر نه حفاظت غوښتل مقصود وُو. د الله د امر په ځای راوړلو کښې توقف مقصود نهٔ وُو. ولم یکن هذا الالتماس من موسیٰ علیه السلام توقفا فی الامتثال بل التماس عون فی تبلیغ الرسالة (مدارك ص۱۳۵ ج ۳) مُوسیٰ علیه السّلام عرض اوکړو اے ځما ربه! ما ته خطره ده چه هغوی به ما د روغژن اوګنړي. او هغې سره به ما ته ډیر سخت ذهني تکلیف اُورسیږي. طبیعت به م خفه او غمژن شي او زړهٔ به م تنګ شي. او بیا به ځما خولهٔ تا ئید کوونکے هُم نهٔ وي. او ځما ژبه به صفا اُونهٔ چلیږي. دد ے وجې نه هارون ته د نبوّت پیغام اُولیږه او هغه ځما سره امدادي جوړ کړه. ځکه چه د هغهٔ خبرے هُم صفا واضحه دي او هغه به ځما امداد هُم کوي. د ژبے نهٔ چلیدلو وجه دا وه چه په ماشوموالي کښې دهغهٔ په ژبه کښې بند بدل غوندے وُو. په عامو خبرو کښې اګرچه د هغې څهٔ اثر ظاهر نهٔ وُو. لیکن د هغه سره ویره وه چه کله د قوم د تکذیب په وجه د هغهٔ په طبیعت کښې تنګي پیدا شي. نو چرته د هغهٔ ژبه دد ے معمولي لکنت د وجې نه بنده نهٔ شي. التکذیب سبب لضیق القلب وضیق القلب سبب لتعسر الکلام علیٰ من یکون فی لسانه حبسة الخ (کبیر ص۱۲۰ ج ۶)

ف۹ او د هغوی په ما باندے د یو قبطي د قتل دعویٰ هُم ده. دد ے وجې نه ځما سره ویره ده چه د تبلیغ فریضه ادا کولو نه مخکښې به ما قتل کړي چه دا هغه سړے دے چه زمونږ یو سړے یې قتل کړے وُو او بیا تښتیدلے وُو. دینه معلومه شوه چه د ظاهري اسبابو لاندے د الله نه سِوا د چا نه ویریدل شرك نهٔ دے.

ف۱۰ الله تعالیٰ د مُوسیٰ علیه السّلام دواړه دُعا ګانے قبولے کړے. تائید د پاره یې ورسره

هارون علیه السلام ملګرے کړو او د فرعون د شر نه د محفوظ کولو وعده یے هم ورسره اوکړه. کَلَّا یعنی تاسو بے فکره اوسئ. هغوی تاسو هرګز نشي وژلے. فَاذْهَبَا تاسو دواړه فرعون ته لاړشئ او هغه ته اووایئ چه مونږ د الله رسولان یو. ته بني اسرائیل مونږ سره اولیږه. په اَنْ اَرْسِلْ کښے اَنْ مفسره دے د ماقبل دپاره. ان ارسل بمعنی ای ارسل لتضمن الرسول معنی الارسال وفیه معنی القول (مدارک ص۱۳۸ ج ۳) اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ په دیکښے د رسالت دعوی او د توحید دعوت ذکر شوید ے. او په اَرْسِلْ مَعَنَا بَنِیْٓ اِسْرَآئِیْلَ کښے د قوم د ازادئ مطالبه ده.

سلله د دوی د دعوت په جواب کښے فرعون په موسٰی علیه السلام باندے دوه اعتراضونه اوکړل. اول دا چه فرعون اووئیل اے موسٰی! ولے د یتیمۍ رو دلو په حالت کښے ما ستا پرورش نه دے کړے. او د ما شوم والی زمانه تا څما په کور کښے په نازا و نعمت سره نه ده تیره کړے؟ تا ته خو څما د احسانانو شکر ادا کول پکار وو. لیکن ته خو دیر احسان فراموش ثابت شوے چه څما نه سوا بل څوک رَب او اِله منے. وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الخ دا دویم اعتراض دے او بیا تا څما د احسانانو ناشکری اوکړه. او د پرورش حق هیرولو سره دِ یو لوئ جُرم اوکړو او څما د قوم یو سړے دِ بغیر د څه وجے قتل کړو. وَاَنْتَ مِنَ الْکٰفِرِیْنَ. دا د کفران نعمت نه دے. قال اکثر المفسرین الجاحدین لنعمتی وحق تربیتی یقول ربیناك فینا فکافیتنا ان قتلت منا نفسًا وکفرت نعمتنا وهی روایة عن ابن عباس (خازن ومعالم ص۹۰ ج ۵)

سلله دا دویم اعتراض جواب دے په طور د لف نشر غیر مرتب. دویم اعتراض چونکه په عصمت کښے قادح (عیب لګونکے) وو. د دے وجے نه د هغے جواب یے مقدم کړو یعنی د قتل فعل څما نه بے ارادے شوے وو. ځکه چه ما قبطی د ادب په طور او وهلو لیکن هغه وهل د هغه د پاره د مرګ سبب شو. وانا من الضالین ای من الجاهلین.. واراد علیه السلام بذلك علی ما روی عن قتادة انه فعل ذلك جاهلا به غیر معتمد ایاه فانه علیه السلام انما تعمد الوکز للتادیب فأدی الی ما أدی (روح ص۶۹ ج ۱۹)

سلله د دے غیر ارادے قتل په وجه ما ته ستاسو نه خطره پیدا شوه نو د هغے په وجه زه د دے ځائ نه لاړم. د هغے نه روستو الله پاك ما ته نبوت راکړو او زه ئے د رسولانو په ډله کښے داخل کړم. د دے وجے نه د نبوت نه مخکښے که چرے غیر ارادے طور باندے څما نه قتل اوشو نو اوس د هغے په وجه څما په نبوت باندے اعتراض نه شی کیدے. د حُکْمًا نه نبوت یا عقل او حکمت مراد دے. حُکْمًا ای حکمة او نبوة (ابوالسعود ص۲۵۳ ج ۶) او دا عقلی دلائلو طرف ته اشاره ده او وَجَعَلَنِیْ مِنَ الْمُرْسَلِیْنَ دا نقلی او وحی دلائلو طرفته اشاره ده یعنی ما چه د الله د طرفه کوم پیغام او کومه دعوی راوړیده. الله تعالی ما ته هغے دپاره دریواړه قسمه دلائل هم راکړیدی.

سلله دا د دریمی اعتراض جواب دے. ای عبدت ای بان عبدت دا د ماقبل سبب

دے یعنې دا ستا څهٔ احسان نهٔ دے۔ ځکه چه تا ځما قوم ذلیله او رُسوا کړے وو۔ په هغوئ دِ ظُلم او زیاتے کولو۔ تا به ځما د قوم ټوئ پیدا کیدو نکی بچی وژل۔ په دے وجه تا د ظُلم زیاتی په وجه دا سے حالات پیدا کړل۔ چه ځما مور پلار ځما تربیت اُونکړے شو۔ که چرے ستا دا ظُلم او زیاتے نهٔ وے نو ځما تربیت به ځما مور پلار کولے۔ بین ان حقیقة انعامه علیه تعبید بنی اسرائیل لان تعبیدهم و قصدهم بذبح ابناءهم هو السبب فی حصوله عنده و تربیته ولو ترکهم لرباه ابواه (مدارک ص ۱۳۸ ج ۳)

۱۵ موسیٰ علیه السّلام په خپله دعوی کښے وئیلی دُو انا رسول ربّ العٰلمین۔ او س فرعون د هغوئ نه تپوس اوکړو چه هغه ربّ العالمین څوك دے او د هغهٔ صفتونه څهٔ دی؟ قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ الخ موسیٰ علیه السّلام اُوفرمائیل چه رَبُّ العٰلمین هُم هغه دے کوم چه د اسمانونو او زمکے او څهٔ چه په دیکښے دی د ټولو کائناتو مالك دے۔ که چرے تهٔ منل غواړے نو هُم دا کافی دی ځکه چه څوك د ټولو کائناتو مالك وی هغه کارساز برکتونه ورکونکے او د هر قسمه عبادت حقدار کیدے شی۔

۱۶ د موسیٰ علیه السّلام د خبرے بے آثره کولو د پاره فرعون خپلو درباریانو ته اووئیل ایا تاسو نهٔ آورئ موسیٰ څهٔ وائی وے ځما نه سِوا بل څوك رَبّ شته؟ ای الا تصغون الی هذه المقالة اغراء به و تعجبا اذ کانت عقیدتهم ان فرعون ربهم و معبودهم (بحر ص ۱۳ ج ۷) قال ربکم و رب اٰباءکم الاوّلین۔ موسیٰ علیه السّلام پوره صبر و تحمل سره اُوفرمائیل آؤ لرے ولے ځے چاچه تهٔ او ستا پلار او نیکهٔ پیدا کړیدی۔ او چه څوك د ټولو کائناتو پرورش کوی۔ او د ټول جهان کارساز او رَب دے۔ قَالَ اِنّ رسولکم الخ موسیٰ علیه السلام چه څو مره سنجیده کیدهٔ۔ هغو مره فرعون غیر سنجیده کیدهٔ۔ هغهٔ ته خطره وه۔ چه چرته د موسیٰ د معقول خبرو نه د هغهٔ درباریان متاثره نهٔ شی۔ دا ځکه هغهٔ د رذالت خبرے شروع کړے۔ او درباریانو ته یے د استهزاء په طور اووئیل چه دا ستاسو رسول خو (عیاذاً بالله) لیونے دے۔ او وائی ایا ځما نه سِوا هُم بل څوك معبود او رَب شته۔ لمجنون حیث یزعم ان فی الوجود الٰهاً غیری و کان فرعون ینکر الالهیة غیره (مدارک ص ۱۳۹ ج ۳)

۱۷ او س هُم موسیٰ علیه السلام غصه نهٔ شو بلکه پوره صبر سره یے د روزانه مشاهداتو سره استدلال پیش کړو د مشرق نه نمر راختل او د مغرب نه د نمر پریوتل مراد دی۔ واراد بالمشرق طلوع الشمس و ظهور النهار و اراد بالمغرب غروب الشمس و زوال النهار (کبیر ص ۱۳ ج ۶) وے فرمائیل چه تهٔ روزانه وینے چه نمر په خپل وخت راخیژی او په خپل وخت پریوځی۔ دے عجیبه دستور او نا اشنا انتظام سره د نمر راختل او پریوتل چه د چا په قبضهٔ قدرت کښے دی۔ هغه ربّ العٰلمین دے۔ که چرے تهٔ د عقل نه کار واخلے نو دا خبره څومره واضحه د عقل موافق ده۔ په دے بانـدے د فرعون شاهانه مزاج غصه شو او د س یے موسیٰ علیه السّلام ته د قید دهمکی ورکړه۔ قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ اِلٰهًا غَیْرِیْ الخ یعنی تهٔ د دے باغیانه خبرو نه منع شه او ځما حکومت اُونهٔ منه۔ که چرے تا ځما حکومت اُونهٔ منه نو تا به قید

کرم۔ د اِلٰهًا نه مراد حاکم دے خُدای ته مراد نه دے ځکه چه فرعون دهریه وُو او د خُدای آدو قائل نهٔ وُو۔

ف۱۸ موسٰی علیه السّلام چونکه مشفق ناصح وُو او غوښتل یے چه فرعون ایمان راوړی په دے وجه یے دهریو غیر معقول او د متکبرانه خبرے جواب په حکیمانه او معقول طریقه ورکړو او په هیڅ یوه موقعه یے د صبر استقلال لمن پرے نخوده۔ د فرعون د دهمکۍ په جواب کښے یے محکم او مضبوطه خبره اوکړه۔ آیا که څرے څما په دے دعوٰی باندے واضح دلائل هم موجود وی نو بیا به هم ما په قید کښے اچوے۔ او په دغه دلائلو کښے به غور او فکر کړلو سره څما د صداقت ازمینت نهٔ کوے۔ والمعنی اتفعل ذلك ولو جئتك بحجة بینة و انما قال ذلك موسٰی لان من اخلاق الناس السکون الی الانصاف والاجابة الی الحق بالبیان (معالم و خازن ص ۹۶ ج ۵)

ف۱۹ فرعون او وئیل آؤ را وړه هغه کوم دلیل دے که ته په دے خپل قول کښے رښتینے یے نو هغه دلیل پیش کړه۔ د فرعون مقصد دا وُو چه شاید دده په پیش کړے شوی دلیل کښے هم د اعتراض او عیب لګولو څه ګنجائش ملاؤ شی۔ فالقٰی عصاه الخ موسٰی علیه السّلام فوراً خپله همسا په زمکه اُوغورځوله چه په زمکه پریوتو سره یوه هیبتناکه اژدها ترے جوړه شوه چه هرچاته په نظر راتله۔ وَنَزَعَ یَدَهٗ الخ دینه روستو یے خپل لاس په ګریوان کښے دننه کړو چه بهر یے راوویسته نو هغه پړقیدهٔ چه تولو حاضرینو هغه صفا صفا لیدهٔ۔

قَالَ لِلْمَلَاِ حَوْلَهٗۤ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِیْمٌ ﴿۳۴﴾ یُّرِیْدُ اَنْ

وے وئیل خپل ګیرچاپیره سردارانو ته تحقیق چه دا خوخامخا جادوګر دے پوهه غواړی چه

یُّخْرِجَکُمْ مِّنْ اَرْضِکُمْ بِسِحْرِهٖ ﷺ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ﴿۳۵﴾ قَالُوْۤا

اُوباسی تاسو له ستاسو د مُلک نه د خپل جادو په زور سره پس اُوس تاسو څه حُکم کوئ وے وئیل

اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَابْعَثْ فِی الْمَدَآئِنِ حٰشِرِیْنَ ﴿۳۶﴾ یَاْتُوْكَ

مُهلت ورکړه دهٔ ته او د دهٔ ورور ته او اُولیږه ښارونو کښے راغونډونکی چه راولی تاته

بِکُلِّ سَحَّارٍ عَلِیْمٍ ﴿۳۷﴾ فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِیْقَاتِ یَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۳۸﴾

کوم چه لوئ جادوګروی پوهه بیا جمع کړے شُو جادوګران په وعده د یوے مقرر شوی ورځے

وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنتُم مُّجْتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ

او وے وئیل خلقو ته ایا تاسو به هم جمع شئ شاید چه مونږ تابعداري وکړو

السَّحَرَةَ إِن كَانُوا هُمُ الْغَالِبِينَ ﴿٤٠﴾ فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ

د جادوګرو که دوی غلبه بیا موسیٰ بیا چه هرکله راغلل جادوګران

قَالُوا لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ الْغَالِبِينَ ﴿٤١﴾

وے وئیل فرعون ته ایا زمونږ به هم څه حق وی که چرے مونږ غالب شو؟

قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ لَهُم

وے وئیل خامخا او تاسو به هغه وخت په مقربو کښے یئ ف وے وئیل هغوی ته ۲۳

مُّوسَىٰ أَلْقُوا مَا أَنتُم مُّلْقُونَ ﴿٤٣﴾ فَأَلْقَوْا حِبَالَهُمْ وَ

موسیٰ ؑ چه اوغورځوئ څه چه تاسو غورځوئ بیا اوغورځولے هغوی خپلے رسئ او

عِصِيَّهُمْ وَقَالُوا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ الْغَالِبُونَ ﴿٤٤﴾

همساګانے او وے وئیل د فرعون په اقبال سره چه فتح خاص زمونږ ده ۲۴.

فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿٤٥﴾

بیا اوغورځوله موسیٰ ؑ خپله همسا بیا هغے تیرول کوم ماران چه هغوی جوړ کړی وو

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِينَ ﴿٤٦﴾ قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٧﴾

پس پریوتل جادوګران په سجده کښے وے وئیل مونږ اومنلو رب د مخلوقاتو

رَبِّ مُوسَىٰ وَهَارُونَ ﴿٤٨﴾ قَالَ آمَنتُمْ لَهُ قَبْلَ أَن

کوم چه رب دے د موسیٰ او د هارون وے وئیل ۲۵ تاسو اومنلو ده لره وړاندے د دینه

آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ

چه حکم اوکړم تاسو ته خامخا دا ستاسو هغه مشر دے چا چه تاسو ته جادو ښودلے دے

فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ

پس اوس به پوهه شئ خامخا به پریکړم ستاسو لاسونه او د بل طرف خپے

خِلَافٍ وَّلَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۴۹﴾ قَالُوْا لَا ضَيْرَ ۫ اِنَّاۤ

او په سولئ به کړم تاسو ټولو لره لله وے وئیل هیڅ ویره نشته زمونږ

اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿۵۰﴾ اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا

خپل رب طرفته واپس تلل دی مونږ طمع لرو چه الله وبخښی مونږ لره رب زمونږ

خَطٰيٰنَاۤ اَنْ كُنَّاۤ اَوَّلَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۱﴾ ع ۱۸

ګناهونه زمونږ په دے وجه چه مونږ شو اول مئونکی -

موضح قرآن ف ۱ یعنی ماسره به ناست یئ ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ - ف ۲ ستاسو مشر دا یے رب ته اووئیل - یعنی موسیٰ علیه السلام او تاسو دیو اُستاذ شاګردان یئ ۱۲ منه -

تفسیر ۲۰ اوس فرعون د موسیٰ علیه السلام پیش کړے شوی عقلی دلیلونو او معجزو په وړاندے بالکل بے بسه او لاجوابه شوے وُو - او هغهٔ خطره محسوس کړه چه چرته درباریان موسیٰ علیه السلام طرفته مائله نهٔ شی په دے وجه یے فوراً خپلو درباریانو او مقربینوته اووئیل چه اوس حقیقت ښکاره شو چه موسیٰ پیغمبر نهٔ دے هغه یو غالب جادوګر دے چه د جادو په زور سره ستاسو په مُلک باندے او تخت او تاج باندے قبضه کول غواړی - اوس تاسو مشوره راکړئ چه د هغهٔ نه د خلاصی مُونږ څه چاره څهٔ کول پکار دی - قال هذا القول علی سبیل التنفیر لئلا یقبلوا قول موسیٰ (خازن)

۲۱ نږدے او مقرب درباریانو مشوره ورکړه چه د موسیٰ او هارون علیهما السلام په وژلو کښے جلتی مهٔ کوه ځکه چه دے سره د فتنے خطره ده بلکه فی الحال ورته مُهلت ورکړه او د دوی د مقابلے دپاره د مُلک د کوټ کوټ نه ماهر جادوګران او د هغوی اُستاذان راجمع کړه چه د هغوی په مقابله کښے دوی شکست اُوخوری نو بیا خپله به رُسوا شی او د خپل نبوت او رسالت نوم به هُم نهٔ اخلی - فَجُمِعَ السَّحَرَةُ الخ د مقابلے دپاره یوه ورځ مقرر شوه او د ټول مُلک نه جادوګران راجمع کړے شو - او خلقو ته هُم ترغیب ورکړے شو چه هغوی هُم په مقرر وخت باندے معلوم ځای ته ځان اُورسوی دے دپاره چه هغوی هُم دا خوندوره مقابله اووینی - هَلْ اَنْتُمْ مُّجْتَمِعُوْنَ الاستفهام مجاز عن الحث والاستعجال (روح ص ۷۸ ج ۱۹) لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ الخ دا مقابله به ډیره اهم وی ځکه چه مونږ به په خپل دین باندے صرف په دے صورت کښے د زړهٔ په اطمینان سره قائم پاتے شُو چه زمونږ جادوګر غالب شی - په دے وجه ټولو خلقو ته هلته تلل او د جادوګرو همت مضبوطول پکار دی -

۲۲ جادوګر چه فرعون ته اُورسیدل د ټولو نه اول یے دا سوال اُوکړو "حضور! که

چرے مونږ په مقابله کښے غالب شُو۔ او مُوسیٰ او هارون ته مو شکست ورکړو نو آیا مونږ ته به په دے باندے څهٔ انعام ملاویږی؟ قَالَ نَعَمْ الخ فرعون اووئیل چه ضرور به انعام ملاویږی او د ټولو نه زیات دا چه تاسو به د دربار په مقربانو کښے شاملولے شئ۔ ظالم او جابر حکمرانان همیشه د حق والو په مقابله کښے داشان د کرائی عالمان ځان سره ساتی۔

۲۳ مقابلے د پاره چه کله مُوسیٰ علیه السلام او جادوګران مخامخ شول نو مُوسیٰ علیه السلام جادوګرانو ته اُوفرمائیل چه کوم څهٔ تاسو راوړیدی هغه په میدان کښے اُوغورزوئ فالقوا حبالهم وعصیهم الخ نو هغوی خپلے همسا ګانے او رسئ یے په میدان کښے اُوغورزولے نو هغوی د مارانو پشان حرکت کول شروع کړل۔ کتونکو ته داسے محسوسیدله چه ټول میدان د مارانو نه ډک شوید ے۔ جادوګرو چه خپلے رسئ او همسا ګانے غورزولے نو دغه وخت یے د فرعون په عزت او د هغهٔ په غلبه او سلطنت باندے قسم اوکړو۔ د دینه معلومه شوه چه د هغوی د خپل فن په مهارت باندے دومره اعتماد وُو چه هغوی خپله کامیابی یقینی ګنړله۔ فالقیٰ موسیٰ عصاه اُوس مُوسیٰ علیه السلام هُم خپله همسا اُوغورزوله چه په زمکه غورزیدو سره دیوے لوئے اژدها شکل یے اختیار کړو۔ چه د جادوګرو ټول ماران یے تیر کړل۔ مُوسیٰ علیه السلام د الله په حُکم سره همسا غورزولے وه څنګه چه بل ځائی کښے ارشاد دے۔ فَاَوْحَیْنَآ اِلٰی مُوْسٰٓی اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ۔

۲۴ چه کله هغوی د دے معجزے مشاهده اُوکړه نو فوراً پوهه شول چه دا جادو نهٔ دے۔ بلکه دا د الله حُکم دے۔ په دے وجه بلا توقف او بے سوچه داسے په سجده باندے پریوتل لکه چه هغوی چا اُونیول او په زمکه یے اُوغورزول۔ او په ژبه یے اعلان اُوکړو۔ چه مونږ په رب العالمین باندے ایمان راوړو کوم چه د مُوسیٰ او د هارون علیهما السلام رَب دے۔ ای خروا ساجدین اثر ما شاهدوا ذلك من غیر تلعثم وتردد لعلمهم بان مثل ذلك خارج عن حدود السحر وانه امر الهی قد ظهر علیٰ یده علیه السلام لتصدیقه (روح ص ۲۸ ج ۱۹)

۲۵ فرعون د جادوګرو په ناکامئ ډیر پریشانه شو او بیا د هغوی په ایمان راوړلو باندے ډیر غُصه شو۔ او د خپلے رُسوائی او شرم لرے کولو او په رعیت باندے د خپلے ځان ایښ رُعب کینولو او د خلقو د زړونو نه د دے ناکامئ اثر ختمولو او د جادوګرو ویرولو د پاره یے اووئیل چه تاسو څما د اجازت نه بغیر په مُوسیٰ علیه السلام باندے ایمان راوړو۔ معلومیږی چه مُوسیٰ ستاسو د ټولو په دے فن کښے اُستاد دے او تاسو ټولو په شریکه یوه منصوبه جوړه کړیده۔ او تاسو د جادو په ذریعه څما په حکومت قبضه کول غواړئ۔ ښه ده ګورئ چه زهٔ اوس ستاسو څهٔ انجام کوم او زهٔ تاسو نهٔ پریږدم۔ اُوس به ستاسو مخالف لاسونه خپے (یعنی ښے لاس ګسه خپه) پریکړم او تاسو به پهانسی کړم دے نه د هغهٔ مقصد دا وُو چه کیدے شی چه جادوګر د دے سزا د ویرے نه د ایمان راوړلو نه منع شی۔ دا شان قوم ته باور کول مقصود وُو چه ناکامی په دے وجه شویده چه جادوګران د دنه نه مُوسیٰ علیه السلام سره ملګری شوی وُو په دے وجه هغوی د خپل فن پوره مظاهره

نه ده کړې۔

۲۶ ځله جادوګرو د فرعون د دهمکۍ په جواب کښے اووئیل چه موږ ته د پهانسۍ کولو پروا نشته ځکه چه یوه ورځ اخر مرګ دے۔ که چرے موږ دا شان د الله په لاره کښے شهیدان شو نو موږ نور څه غواړو؟ اِنَّآ اِلٰی رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ د ماقبل د پاره تعلیل دے۔ تعلیل لنفی الضیر ای لا ضیر فی ذلك بل لنا فیه نفع عظیم لما یحصل لنا من الصبر علیه لوجه الله تعالیٰ من الثواب العظیم (روح ص ۸۰ ج ۱۹)

۲۷ ځله دا د لَاضَیْرَ دویم تعلیل دے۔ اَنْ كُنَّآ ای لان کنا او موږ ته به دے وجه هم پروا نشته ځکه چه موږ ته د دے خبرے اُمید دے چه الله تعالیٰ زموږ ګناهونه معاف کړي ځکه چه موږ د ټولو نه مخکښے ایمان راوړو۔

وَ اَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِيْٓ اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿۵۲﴾

او حکم اُولیږلو موږ موسیٰ ته ۲۸ ځله چه د شپے وُ باسه ځما بندګان یقیناً چه تاسو پسے به درپسے

فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿۵۳﴾ اِنَّ

کیږي بیا اُولیږل فرعون ښارونو ته راغونډوُنکي دا

هٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيْلُوْنَ ﴿۵۴﴾ وَ اِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُوْنَ ﴿۵۵﴾

خلق چه دي یوه ډله ده لږه شان او دوي همیشه موږ له غصه راولي

وَ اِنَّا لَجَمِيْعٌ حٰذِرُوْنَ ﴿۵۶﴾ فَاَخْرَجْنٰهُمْ مِّنْ جَنّٰتٍ

او موږ ټول د دوي نه په ویره کښے یُو بیا بهر اووېستل موږ دوي لره د باغونو

وَّ عُيُوْنٍ ﴿۵۷﴾ وَّ كُنُوْزٍ وَّ مَقَامٍ كَرِيْمٍ ﴿۵۸﴾ كَذٰلِكَ ؕ وَ

او چینو نه ۲۹ ځله او د خزانو او د ښو کورونو نه دغه شان او

اَوْرَثْنٰهَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۵۹﴾ فَاَتْبَعُوْهُمْ مُّشْرِقِيْنَ ﴿۶۰﴾

پلاس موا ونکول دا ځیزونه د بني اسرائیلو بیا ورپسے شو د نمر ختو وخت کښے ۳۰ ځله ف

فَلَمَّا تَرَآءَ الْجَمْعٰنِ قَالَ اَصْحٰبُ مُوْسٰٓى اِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ ﴿۶۱﴾

بیا چه کله مقابل شول دواړه فوجونه اووئیل ملګرو د موسیٰ چه موږ خو ونیولے شو

قَالَ كَلَّا ۚ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٦٢﴾ فَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ

وے وئیل هیڅ کله نه ما سره زما رب دے هغه به ما ته لاره وښائی بیا حکم اولیږلو مونږ

مُوسَىٰ أَنِ اضْرِب بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ۖ فَانفَلَقَ فَكَانَ

موسیٰ ته لګه چه ووهه یو خپله همسا سره دریاب بیا څیرے شو دریاب نو شوه

كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ ﴿٦٣﴾ وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ الْآخَرِينَ ﴿٦٤﴾

هره ټکړه لکه لوئ غر ف۱ او وړورسول مونږ ف۲ هغه ځائے ته نور خلق

وَأَنجَيْنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُ أَجْمَعِينَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا

او بچ کړو مونږ موسیٰ لره او هغوی چه ورسره وو ټول بیا ډوب کړل مونږ

الْآخَرِينَ ﴿٦٦﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم

هغه نورو لره په دے څیز کښے یوه نښه ده او نه وو ډیر خلق په دوی کښے

مُّؤْمِنِينَ ﴿٦٧﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾

مئونکی او ستا رب هغه دے زبردست رحم والا ف۳

توضیح قرآن

ف۱ یوه شپه د الله په حکم سره د مصر په ښار کښے وَبا راغله په هر کور کښے مشر خوئ مړ شو. او بنی اسرائیلو ته د ځکښے نه حکم وُو چه تیار اوسیږئ په دغه شپه اووتل. بیا هغوی خورو ځے په ماتم او غم کښے تیر ے کړے اخر د فرعون په تاکید ټول اووتل او هغوی پسے اولګیدل. دریائے قلزم سره یے رالاندے کړل. ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ.

ف۲ د اوبو ډیر زیات زور والے وُو. دولس ځائی اوچ ودلے لارے او کوڅے پکښے جوړے شوے. د بنی اسرائیلو دولس قبیلو د پاره پکښے بیلے بیلے لارے جوړے شوے په مینځ کښے د اوبو لوئی لوئی دیوالونه د لویو لویو غرونو پشان اودریدل.

ف۳ دا یے زمونږ حضور ته واورول چه د مکے فرعونیان (ابو جهل او د هغه ملګری) به هم د جنګ د پاره مسلمانانو پسے اوځی. بیا به د وطن نه بهر د بدر په جنګ کښے تباه کیږی څنګه چه فرعون تباه شو.

تفسیر

۲۵ چه کله د فرعون په قوم باندے د الله حجت تمام شو او د فرعون د قوم د هلاکت او د بنی اسرائیلو د نجات وخت راغے. نو الله پاک موسیٰ علیه السلام ته حکم ورکړو چه ته د شپے شپے بنی اسرائیل ځان سره کړه او شام طرفته روان

شي. فرعون به سره د خپل لښکره تا سو پسې درځي. فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ. چه کله فرعون ته معلومه شوه چه موسی علیه السلام بني اسرائیل وېستلي دي نو هغوي پسې تلو دپاره یې د مُلک د ټولو ښارونو نه سړي راجمع کړل. اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ الخ دا څوک دي لږ شان خلق دي لیکن زمونږ غلامان او ماتحت دي او زمونږ د اجازت نه بغیر وتلي دي چه د هغې په وجه زمونږ غضب په جوش کښې راغلي دے. وَاِنَّا لَجَمِيْعٌ حٰذِرُوْنَ او اوس مونږ د احتیاط په طور یا ئے دوي پسې ځو چه دوي اُو تیسوا و سخته سزا ورکړو.

۲۹ فاء فصیحه ده. فرعون سره د لښکره بني اسرائیلو پسې اووتلو دا شان مونږ هغوي د باغونو او چینو نه د دولت نه ګوخزانو او د اعلیٰ محلونو نه بهر اوویستل. او پاتے شوي بني اسرائیل مونږ د هغوي ټولو ابا دو مالکان جوړ کړل. كَذٰلِكَ کاف د بیان د کمال د پاره دے. یعني ...... د فرعون قوم د سُلطنت او د ټولے آبادۍ نه محروم کړل او بني اسرائیل د هغے وارث جوړ ول زمونږ کار وُو.

۳۰ چه کله نمر راختلو هغه وخت فرعون سره د قومه د هغوي پیولو پسې روان شو. بني اسرائیل چه د بحیرۀ قلزم غاړے ته اُورسیدل. نو د روستو نه فرعونیا نو را ښکاره کړل. فَلَمَّا تَرَآءَ الْجَمْعٰنِ. چه کله دواړو لښکرو یو بل اُولیدل نو بني اسرائیلو اووئیل چه مونږ خو اُو نیولے شو. قَالَ كَلَّا الخ موسیٰ علیه السلام اُوفرمائیل هرګز داسے نه ده. ځما رب ځما محافظ او ناصر دے. هغه به ماته د دریاب نه پورے وتو د پاره لار ښکاره بیر اُوښائي. د موسیٰ علیه السلام دا یقین وُو چه فرعون به هغه اُونه نیسي او د دریاب نه به هغوي صحیح سلامت تیرشي. لیکن تر اُوسه هغه ته دا معلومه نه وه چه د دے صورت به څه وي. د دینه معلومه شوه چه موسیٰ علیه السلام به غیبو نه پوهیده.

۳۱ اُوس مونږ موسیٰ علیه السلام ته حکم ورکړو چه هغه خپله همسا په سمندر باندې اووهي. فَانْفَلَقَ الخ نو هغه همسا اووهله نو په اُوبو کښے د سمندر د ویشه پورے دولس لارے جوړے شوے. او د اُوبو هره ټکړه د غرۀ پشان اُوچته په نظر راتله د دینه معلومه شوه چه په سمندر کښے د لارو جوړیدل د موسیٰ علیه السلام په قبضه او اختیار کښے نه وُو چه کله هغه په غیبو نه پوهیده او نه متصرف او مختار وُو. نو معلومه شوه چه هغه برکتونه ورکونکے هم نه وُو.

۳۲ چه کله بني اسرائیل د سمندر په اُوچو لارو تیریدل. د هغه وخت مونږ نور خلق یعني د فرعون قوم هم سمندر ته نزدے کړل. چه کله هغوي دا لارے اُولیدے نو هغوي هم سمندر ته ننوتل. فَاَنْجَیْنَا مُوْسٰی الخ موسیٰ علیه السلام او د هغه ټول ملګري مونږ صحیح سلامت د سمندر غاړے ته اُورسول. ثُمَّ اَغْرَقْنَا الْاٰخَرِیْنَ۝ لیکن فرعون او د هغه قوم مونږ غرق کړل. اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً الخ د عبرت حاصلولو د پاره دا کافي دلیل دے. لیکن بیا هُم اکثر خلق د ضد او عناد د وجے نه نه مني. الله دا سے غالب دے چه هغه سرکشه او ضدیان خلق فوراً نیولے شي. لیکن دا د هغه مهرباني

ده چه هغه مهلت ورکوی دے د پاره چه د زیات سوچ کولو موقعه هغوی ته ملاؤ شی۔ بنی اسرائیلو ته یې په سمندر کښے اوچے لارے جوړے کړے الله پورے ایستل، او د فرعون قوم هم هغهٔ غرق کړل۔ دینه معلومه شوه چه کله دا ټول کارونه الله تعالیٰ کوی نو برکتونه ورکونکے هم هغه دے بل څوك نهٔ دے۔

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ إِبْرٰهِيْمَ ﴿٦٩﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ

او واوروه　دوی ته خبر د ابراهیمؑ لکله　هرکله چه یې اووئیل خپل پلار ته او د هغهٔ قوم ته

مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٧٠﴾ قَالُوْا نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عٰكِفِيْنَ ﴿٧١﴾

چه تاسو د څهٔ عبادت کوئ هغوی اووئیل لکله چه مونږ عبادت کوو د بتانو بیا ټوله ورځ هغوته ناست یو

قَالَ هَلْ يَسْمَعُوْنَكُمْ إِذْ تَدْعُوْنَ ﴿٧٢﴾ أَوْ يَنْفَعُوْنَكُمْ أَوْ

وے وئیل ایا ستاسو خبره اوری چه کله یې تاسو ! ابلئی　یا څهٔ نفع درسولے شی یا

يَضُرُّوْنَ ﴿٧٣﴾ قَالُوْا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذٰلِكَ يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٤﴾

ضرر　وے وئیل چه نا بلکه مونږ موندلی دی خپل پلاران نیکونه چه داسې یې کول

قَالَ أَفَرَءَيْتُمْ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿٧٥﴾ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمُ

وے وئیل ایا وینئ لکله د کوم چه تاسو عبادت کوئ　تاسو　او ستاسو پلاران

الْأَقْدَمُوْنَ ﴿٧٦﴾ فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيْ إِلَّا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٧﴾

نیکونه　وړاندینی　پس هغوی خو ځما دښمنان دی　مګر　د مخلوقاتو رب

الَّذِيْ خَلَقَنِيْ فَهُوَ يَهْدِيْنِ ﴿٧٨﴾ وَالَّذِيْ هُوَ يُطْعِمُنِيْ

چا چه زهٔ پیدا کړم　پس هغه ما ته لار ښائی لکله　او کوم چه ما ته خوراک راکوی　او

وَيَسْقِيْنِ ﴿٧٩﴾ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ﴿٨٠﴾ وَالَّذِيْ يُمِيْتُنِيْ ثُمَّ يُحْيِيْنِ ﴿٨١﴾

څکاك راکوی　او چه کله زهٔ بیمار شم نو هغه شفا راکوی　او هغه کوم چه ما له مرګ راکوی بیا م ژوندے کوی

وَالَّذِيْ أَطْمَعُ أَنْ يَّغْفِرَ لِيْ خَطِيْٓئَتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿٨٢﴾ رَبِّ

او هغه چه ځما امید دے چه وُبه بخښی ځما ګناهونه　د انصاف په ورځ　اے ځما ربه !

هَبْ لِي حُكْمًا وَّأَلْحِقْنِي بِالصّٰلِحِينَ ﴿٨٣﴾ وَاجْعَلْ لِّي

راکړې ماته حُکم او پیوست کړې ما د نیکانو سره ﴿٥٣﴾ او کړې خُما

لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْاٰخِرِينَ ﴿٨٤﴾ وَاجْعَلْنِي مِنْ وَّرَثَةِ جَنَّةِ

ربنتونے ذِکر په راتلونکو کښے جاری ﴿ف١﴾ او کړې ما له د وارثانو ﴿٥٤﴾ د نعمت د

النَّعِيمِ ﴿٨٥﴾ وَاغْفِرْ لِاَبِيٓ اِنَّهُ كَانَ مِنَ الضَّآلِّينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا

باغونو نه او معاف کړې خما پلار بیشکه هغه وُو د بے لارے شوُو نه او مه

تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ ﴿٨٧﴾ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّلَا بَنُونَ ﴿٨٨﴾

رُسوا کوے ما په ورځ د بیا ژوندی کیدو. په کومه ورځ چه پکار نه راځی مال او نه اولاد ﴿ف٢﴾

اِلَّا مَنْ اَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٩﴾ وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ

مګر څوک چه راغے الله ته په صفا زړهٔ سره او نزدے به کړے شی جنت

لِلْمُتَّقِينَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ ﴿٩١﴾ وَقِيلَ لَهُمْ

متقیانو ته او راښکاره به کړے شی دوزخ بے لارے شوُو ته او ورته به اوویلے شی

اَيْنَمَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٩٢﴾ مِنْ دُونِ اللّٰهِ ط هَلْ

کوم ځائے دی چه تاسو به عبادت کولو د الله نه سیوا آیا څهٔ

يَنْصُرُونَكُمْ اَوْ يَنْتَصِرُونَ ﴿٩٣﴾ فَكُبْكِبُوا فِيهَا هُمْ وَ

مدد کولے شی ستاسو یا بدله اخستے شی پس نسکور اُوغورځولے شی په دیکښے دوی او تول

الْغَاوُونَ ﴿٩٤﴾ وَجُنُودُ اِبْلِيسَ اَجْمَعُونَ ﴿٩٥﴾ قَالُوا وَهُمْ

بے لارے شوُو لره نه او ابلیس لښکرو تولو لره وُبه وائی چه کله دوی

فِيهَا يَخْتَصِمُونَ ﴿٩٦﴾ تَاللّٰهِ اِنْ كُنَّا لَفِي ضَلٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾

هلته دیو بل سره جګړه کوی قسم دے په الله چه مونږ وو په ښکاره غلطئ کښے

اِذْ نُسَوِّيكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِينَ ﴿٩٨﴾ وَمَآ اَضَلَّنَآ اِلَّا الْمُجْرِمُونَ ﴿٩٩﴾

چه کله مونږ تاسو برابرولئ د رب د مخلوقاتو سره او مونږ بے لارے کړو بس دے مجرمانو ﴿٥٥﴾

فَمَا لَنَا مِنْ شَافِعِيْنَ ﴿۱۰۰﴾ وَلَا صَدِيْقٍ حَمِيْمٍ ﴿۱۰۱﴾ فَلَوْ اَنَّ

پس نشته زمونږ څوک سفارش کوونکے او نه څوک دوست محبت کوونکے نو که پس که شو

لَنَا كَرَّةً فَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً

زمونږ دپاره واپسی نو مونږ به شو په ایماندارو کښے په دے خبره کښے نښه ده

وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ

او ډیر خلق په دوی کښے نه دی منونکی او ستا رب هغه دے

الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۰۴﴾

زبردست رحم والا

نکات:۔ ۳۱ دویم نقلی دلیل ۱۲ ۳۲ دا ادخالِ الٰهی دے ۱۲

توضیح قرآن ف ۱ دا هم کیدے شی چه په اخری زمانه کښے څما په خاندان کښے نبی او امت وی او څما دین تازه کړی ۱۲ منه رحمه الله

تفسیر ۳۳ دا دویم نقلی دلیل دے۔ چه د الله نه سوا بل څوک برکتونه ورکوونکے نشته ځکه چه د ابراهیم علیه السلام په قوم باندے د دعوے نه د انکار کولو په وجه باندے هغه وخت عذاب راغلے ۔ اذ قال لابیه وقومه الخ ابراهیم علیه السلام دخپل پلار او قوم نه تپوس اوکړو چه تاسو دڅه څیز عبادت کوئ ؟ ابراهیم علیه السلام ته معلومه وه چه هغوی دڅه عبادت کوی لیکن هغه په دے خبرو سره په هغوی باندے ثابتول غوښتل چه د کومو معبودانو هغوی عبادت کوی او د هغوی په رابللو کښے مشغول دی هغه د معبودکیدو مستحق نه دی۔ وابراهیم علیه السلام یعلم انهم عبدة الاصنام ولکنه سئلهم لیریهم ان ما یعبدونه لیس بمستحق للعبادة (مدارک ص۱۴۳ ج۳)

۳۴ مشرکانو اوویل چه مونږ د بُتانو عبادت کوو او هر وخت د هغوی په عبادت کښے مشغول اوسیږو۔ قَالَ هَلْ يَسْمَعُوْنَكُمْ ابراهیم علیه السلام اوس دویم سوال اوکړو۔ آیا ستاسو معبودان ستاسو آوازونه آوری۔ د آوازونو کولو په صورت کښے تاسو ته نفع رسولے شی او د نه رابللو په صورت کښے تاسو ته څه نقصان رسولے شی؟ قالوا بل وجدنا الخ دا د مشرکانو جواب دے۔ بَلْ د ماقبل نه اضراب دے۔ یعنی هغوی نه آوری او نه د هغوی په اختیار کښے نفع او ضرر دے۔ مونږ خو خالص خپلو پلارانو او نیکونو ته ګورو او د دوی عبادت کوو. هغوی سره د دے معبودانو په سمیع او نافع ضار کیدلو باندے چونکه هیڅ دلیل نه وو۔ د دے وجے نه هغوی مجبوراً اعتراف او اقرار اوکړو چه د پلار نیکه د عمل نه سوا هغوی سره هیڅ دلیل

نشته. اضربوا عن ان یکون لهم سمع او نفع او ضر اعترافا بما لا سبیل لهم الی انکاره واضطروا الی اظهار ان لا سند لهم سوی التقلید فکانهم قالوا لا یسمعون ولا ینفعوننا ولا یضرون وانما وجدنا اٰبآءنا یفعلون مثل فعلنا ویعبدونهم مثل عبادتنا فاقتدینا بهم (روح ص ۹۳ ج ۱۹)

۳۵ چه کله مُشرکانو د خپلو معبودانو د عاجزئ اقرار اوکړو نو ابراهیم علیه السلام اُوفرمائیل چه د کومو معبودانو عبادت ستاسو پلارانو اونیکونو کولو - چونکه هغوی د خپلو عبادت کونکو نه خبر اوانه آوری نه د هغوی نفع نقصان د هغوی په اختیار کښے دے. په دے وجه ځما د داسے معبودانو د عبادت نه سخت نفرت او دُشمنی ده اِلَّا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ. مستثنیٰ منقطع ده. لیکن د رب العٰلمین د عبادت او را بللو نه نفرت نه کوم. ځکه چه هغه د خپل عبادت کونکو دوست او کارساز دے. د ټولو نفع او نُقصان د هغه په اختیار کښے دی. د دینه پس هغه د الله تعالیٰ د پېر صفتونه ذِکر کړیدی. چه په باطلو معبودانو کښے هغه نه مُوندلے کیږی. نو د دیته ثابته شوه چه د الله نه سِوا څوک برکتونه ورکونکے نشته.

۳۶ که هُم هغه پیدا کړے یم او هغه د دِین او دُنیا منافع او مصالح طرفته ځما لار ښودنه کوی. وَالَّذِیْ هُوَ یُطْعِمُنِیْ الخ ځما روزی رسان هُم هغه دے. وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ الخ د بیمارئ نه شِفا هُم هغه را کوی. والذی یمیتنی الخ مرګ او ژوند هُم د هغهٔ په اختیار کښے دے. والذی اطمع الخ او هُم د هغهٔ نه اُمید دے چه د قیامت په ورځ به هغه ځما خطا معاف کړی. د خطاء نه څهٔ خاص قِسم خطاء مراد نهٔ دهٔ. بلکه مطلب دا دے چه که چرے ځما نه کوم خلافِ اَولیٰ کار شوے وی. نو اُمید دے چه الله پاک به په هغے ځما نیول نهٔ کوی د الله پیغمبر چونکه د الله زیات تابعدار وی او د هغهٔ نه زیات ویریږی. په دے وجه هغه د عمل معمولی شان کمے هُم ګناه ګنړی. ابراهیم علیه السلام د الله دا صفات بیان کړل او په قوم باندے یے حُجت قائم کړو چه ستاسو معبودان عاجز او بے وَسه دی. په دے وجه هغوی کارساز او برکتونه ورکونکی هُم نشی کیدے - او الله پاک د ټولو فریاد آوری او ټول هرڅهٔ د هغهٔ په قدرت کښے دی. په دے وجه هغه د ټولو کارساز او هُم هغه برکتونه ورکونکے دے. وهٰذا کله احتجاج من ابراهیم علی قومه انه لا یصلح للالٰهیة الا من یفعل هٰذه الافعال (خازن ومعالم ص ۹۹ ج ۵)

۳۷ که په حُکما سره کمالِ عِلمی او په الحقنی بالصّالحین سره کمالِ عملی طرفته اشاره ده. یعنی ما ته حکمت او د عِلم کمال راکړے او د عمل کمال توفیق راکړے او د خپلو غوره بندګانو ملګرتیا را نصیب کړے. واجعل لی لسان صدق الخ لسان صدق یعنی ذِکرِ خیر په راتلونکو نسلونو کښے ځما د خیر ذکر باقی وُساتے دے د پاره چه په نیکو کارونو کښے ځما اقتداء کوی او ما ته اجر ملاویږی. حضرت شیخ رحمه الله فرمائی چه د لِسَان صدق نه کلمه صادقه یعنی د توحید د دعوی مراد ده. ځکه چه په بل ځائ کښے ارشاد دے وَجَعَلَهَا

كَلِمَةً بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ (زخرف ع ۳) ممکن ده چه د آخرین نه د نبی علیه السلام اُمت مراد وی - او مطلب دا وی چه په آخری زمانه کښې یو پیغمبر راولیږے چه څما د دین اصولو تجدید اوکړی او څما پشان د توحید دعوت ورکړی. التاویل الثانی انه سأل ربه ان یجعل من ذریته فی آخر الزمان من یکون داعیا الی الله تعالی وذلك هو محمد صلی الله علیه وسلم (کبیر ص ۵۳۰ ج ۶) ویحتمل ان یراد بالآخرین اخر امته یبعث فیها نبی وانه علیه السلام طلب الصیت الحسن والذکر الجمیل فیهم ببعثة نبی یجدد اصل دینه ویدعو الناس الی ما کان یدعوهم الیه من التوحید معلما لهم ان ذلك ملة ابراهیم علیه السلام (روح ص ۹۸ ج ۱۹)

۳۸ او ما د جنت نعیم په وارثانو کښې شامل کړه. واغفر لابی بالهدایة والتوفیق للایمان (ابوالسعود ص ۵۳۹ ج ۶) وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ او د قیامت په ورځ په محشر کښې رُسوا نه کړې. د نبیانو علیهم السلام اعزاز او اکرام خو به د قیامت په ورځ د ټولو نه زیات کولے شی دهغوی د رُسوائئ تصور هم نشی کیدے. ابراهیم علیه السلام د دیر زیات ویرے نه په طور د تواضع یا په غرض د تعلیم ورکولو نورو ته دا دُعا اُغوښتله.

۳۹ دا ادخالِ الٰهی دے د ابراهیم علیه السلام کلام نه دے. دلته د حشر په ورځ د سختت ویرے بیان دے. بِقَلْبٍ سَلِيمٍ. داسے زړه چه د شرك او د شك نه محفوظ وی او د اخلاص نه ډك وی. ای خالص من الشرك والشك (خازن ومعالم ص ۱۰ ج ۵) وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ. جنت به پرهیزګارو ته نزدے کړے شی او دوزخ به کافرانو ته ښکاره کړے شی. وَقِيلَ لَهُمْ او مشرکانو ته به او ویلے شی، چه نن ستاسو هغه معبودان چرته دی کوم چه تاسو په دُنیا کارساز او برکتونه ورکوونکی ګنړل. او اوړ به موږ رته کولو. او تاسو به هغوی د الله په نزد سفارشیان ګنړل. ای این الهتکم الذین کنتم تزعمون انهم شفعاؤکم فی هذا الموقف. (روح ص ۱۰۳ ج ۱۹) ایا هغوی به نن ستاسو پکار راشی یا به ځان د عذاب نه بچ کړے شی؟ استفهام انکاری دے. یعنی دلته به هرګز او نه شی هغوی نه تاسو د عذاب نه بچ کړے شی او نه خپل ځان.

۴۰ دا مشرکان او دوی لره ګمراه کوونکی او د ابلیس ټول لښکر کوم چه انسانان ګمراه کول ټول به په جهنم کښې اُغورزولے شی. قالوا وهم فیها یختصمون. مشرکان به په جهنم کښې د اخلید و نه روستو د باطلو معبودانو سره جګړه کوی او حسرت او پښیمانتیا سره به د خپلے غلطئ اقرار کوی او باطلو معبودانو ته به وائی چه مونږ خو په ډیره لویه ګمراهئ کښې وو کله چه مونږ تاسو لره د عبادت په استحقاق کښې رب العالمین سره برابر ګنړلئ. وما اضلنا الا المجرمون. او زمونږ د ګمراهئ سبب مشرك پیشوایان جوړ شو. هغوی مونږ ګمراه کړو. المجرمون من دعاهم الی عبادة الاصنام من الجن والانس (بحر ص ۲۷ ج ۷)

۴۱ افسوس په دُنیا کښې چه مونږ څوك د الله په نزد سفارشیان ګنړل نن د هغوی نه څوك هم زمونږ سفارش نه کوی او نه څوك دوست پکار راځی. فما لنا من شافعین

وَلَا صَدِیْقٍ حَمِیْمٍ من الذین کنا نعدهم شفعاء واصدقاء لانهم کانوا یعتقدون فی اصنامهم انهم شفعاؤهم عند الله تعالیٰ وکان لهم اصدقاء من شیاطین الجن. کبیر ص۱۲۲ ج ۶)

۴۲ ارمان! چه مونږ بیا دنیا ته یوځل اولیږلے شُو. نو مونږ به په اخلاص او په صدق نیت سره ایمان راوړو توحید به اومنو. او د شرک نه به ډیر لرے اوتښتو او بیا مونږ د مرګ نه روستو دوباره ژوندی کړے شُو. نو مونږ به په دے عذاب کښے مُبتلا نه شُو. ان فی ذٰلک لاٰیة الخ د دے دواړو آیتونو تفسیر تیر شوے دے.

كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوْحِ ِۨالْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ

دروغژن کړل ۴۳ قوم د نوح پیغمبرانو لره هر کله چه دوی ته د دوی رور نوح

نُوْحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۰۶﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۰۷﴾ فَاتَّقُوا

اووئیل آیا تاسو نه ویریږئ زه ستاسو دپاره پیغمبر یم امانت دار شکه پس او ویریږئ

اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۰۸﴾ وَمَا اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِنْ

د الله نه او زما خبره اومنئ او نه غواړم زه ستاسو نه په دے څه بدله زما

اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۱۰﴾

بدله په هغه پروردګار د عالم ده پس او ویریږئ د الله نه او زما خبره اومنئ

قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ قَالَ وَمَا

وے وئیل آیا مونږ به تا لره اومنو لکه او ستا ملګری کم اصله خلق شکه ویے وئیل زما هیڅ

عِلْمِيْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ اِنْ حِسَابُهُمْ اِلَّا عَلٰى

علم نشته په هغے چه دوی یے کوی قبله د دوی د حساب تپوس کول زما د

رَبِّيْ لَوْ تَشْعُرُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ اِنْ

رب کار دے که تاسو پوهیږئ او زه نه یم شړونکے مؤمنانو لره زه خو

اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۱۵﴾ قَالُوْا لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ يٰنُوْحُ لَتَكُوْنَنَّ

بس د عذاب ویرونکے یم ښکاره وے وئیل که ته منع نه شکه شوے اے نوح نو خامخا به ته

مِنَ الْمَرْجُوْمِیْنَ ﴿۱۱۶﴾ قَالَ رَبِّ اِنَّ قَوْمِیْ كَذَّبُوْنِ ﴿۱۱۷﴾ فَافْتَحْ

سنگسار کړے شوے وویل اے ربه زما قوم خو دروغژن کړم پس فیصله اوکړه

بَیْنِیْ وَبَیْنَهُمْ فَتْحًا وَّنَجِّنِیْ وَمَنْ مَّعِیَ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۱۸﴾

زما او د دوی په مینځ کښے فیصله او بچ کړے ما لره او هغوی چه ما سره دی ایماندار

فَاَنْجَیْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ فِی الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿۱۱۹﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا

پس بچ کړو مونږ ده لره او هغوی چه ده سره وو په ډکه کشتۍ کښے بیا ډوب کړل مونږ د

بَعْدُ الْبٰقِیْنَ ﴿۱۲۰﴾ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ

دوی نه پس باقی پاتے شوی لره خامخا په دے خبره کښے نښه ده او په دوی کښے ډیر خلق نه دی

مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۱۲۱﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِیْزُ الرَّحِیْمُ ﴿۱۲۲﴾ ع

منونکی او بیشکه ستا رب دے زبردست رحم والا

نکات: دا دریم نقلی دلیل دے ۱۲

موضح قرآن ف ۱ دوئیل خلق یے او وئیل مخلق خلقوته. هر پیغمبر سره اول غریب خلق ملګری شوی ی. نو وے فرمائیل چه ماته د هغوی صدق او رښتیا قبول دی زما د هغوی د کار سره څه غرض دے چه د هغوی څه پیشه وه. منه ۱۲

تفسیر ۴۳ دا دریم نقلی دلیل دے سره د تخویف اُخروی ته په دے ایت کښے د قوم نوح طرفته د ډیرو رسولانو تکذیب منسوب کړے شویدے حالانکه هغوی صرف دیو رسول تکذیب کړے وُو کوم چه هغوی ته لیږلے شوے وُو د دے وجه دا ده چه ټول نبیان او رسولان علیهم السلام د توحید او د دین په نورو اُصولو کښے متفق وُو او د ټولو دعوت یو وُو. په دے وجه په هغوی کښے د یو تکذیب کول او د هغه دعوت نه منل داسے دی لکه چه ټولو یے تکذیب اوکړو۔ وتکذیبهم المرسلین باعتبار اجماع الکل علی التوحید واصول الشرائع التی لا تختلف باختلاف الازمنة والاعصار (روح ص۱۱۱ ج ۱۵)

۴۴ اَخُوْهُمْ نُوْحٌ ضمیر مجرور قوم طرفته راجع دے۔ او د اخوت نه قومی او خاندانی اُخوت مراد دے. ځکه چه نوح علیه السلام د دے مشرکانو د قوم او د دوی د خاندان نه وُو. اخوهم نسبًا لا دینًا (مدارک ص۱۵۱ ج ۳) د حقیقی اخوت نه علاوه د اخوت نور هم څو قسمونه دی مثلاً قومی اخوت یعنی د یو قوم نه کیدل په دیکښے د یو مذهب والا کیدل ضروری نه دی ځکه چه نوح، هود، صالح او لوط علیهم السلام ته د خپل خپل مشرک قوم رونړه وئیل شویدی۔ او جنسی اخوت په دے لحاظ سره ټول بنیادم په خپل مینځ کښے رونړه رونړه دی او

دِيني رورولي يعني د يو دِين او من هب مننونكي په خپل مينځ كښې رونړه دي. څنګه چه نبي عليه السلام صحابه كرامو ته فرمائيلي وُو. اعبدوا ربكم و اكرموا اخاكم. يعني عبادت د خپل رب كوئ او زهٔ ستا رور يم ځما چه كوم احترام په تاسو فرض دے. هغه په ځائ راوړئ دلته د اخوت نه دِيني اخوت مراد دے. چه كله نبي عليه السلام د خپل اُمت دِيني رور اُوګرځيد نو ظاهره ده چه په دے تولهٔ دِيني رورولئ كښې نبي عليه السلام د ټولو نه لوئ او مشر رور او د ټولو نه افضل او اشرف اُوګرځيدهٔ. په تقوية الايمان كښې د شاه اسمٰعيل شهيد رحمة الله عليه د عبارت هُم دا مفهوم دے.

۵۵ انبياء عليهم السلام هميشه د نبوت نه مخكښې هُم په ښائسته اخلاقو او په ښهٔ صفتونو باندے ښائسته وي. او په خپلو قومونو او ماحول كښې ديانت او امانت او نورو اخلاق صفتونو سره مشهور وي. د دے وجے نه نوح عليه السلام او نورو انبياء عليهم السلام د كوم ذِكرچه مخكښې راروان دے. د خپل خپل قوم توجه يے دے مسلم حقيقت طرفته راوګرځوله چه ځما ديانت او امانت خو تاسو ته د مخكښې نه معلوم دے د دے وجے نه زهٔ چه څهٔ وايم هغه به حقيقت وي. زهٔ د الله رسُول يم. د دے وجے نه تاسو ځما تابعداري اُوكړئ او د الله نه اُووېرېږئ او د هغهٔ توحيد اُومنئ. او هغهٔ سره شِرك مهٔ كوئ. فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ فيما امركم به من التوحيد والطاعة لله تعالىٰ (روح ص۱۱۱ ج ۱۵) او بيا دا سوچ هُم اوكړئ چه په دے وعظ او تبليغ باندے زهٔ ستاسو نه هيڅ معاوضه (بدله) هُم نهٔ غواړم. په دے وجه په ما باندے د څهٔ لالچ وغيره الزام لګولو كښې د الله نه اُووېرېږئ او ځما خبره اُومنئ.

۵۶ مشركانو نوح عليه السلام ته جواب وركړے وُو چه ستا منونكي ډېر بيكاره او د لاندے درجے خلق دي كهٔ چرے مونږ هُم په تا ايمان راوړُو نو بيا به مونږ هُم د دے ذليل خلقو سره كينو پاسو. دا خبره مونږ نهٔ شُو برداشت كولے. د سرمايه دار او دولتمن طبقے هميشه هُم دا ذهنيت پاتے شوے دے اګرچه د حسب او نسب په اعتبار سره هرڅومره خكته وي. غريبه او نادارهٔ طبقه هغوي هميشه سپكه او ذليله ګڼړلے ده. اګرچه د حسب او نسب او د ښو اخلاقو په اعتبار سره هغوي كهٔ هرڅومره شريف او اُوچت وي. يا د اَرْذَلُوْنَ نه مراد منافقان دي. يعني هغه خلق په ظاهر كښې په تا باندے ايمان راوړے دے او په باطن كښې ستا دِين مخالف دي. وحاصله وما وظيفتي الا اعتبار الظواهر دون الشق عن القلوب والتفتيش عما فى السرائر فما يضرني عدم اخلاصهم فى ايمانهم كما تزعمون (روح ص۱۱۲ ج ۱۹)

۵۷ نوح عليه السلام اُوفرمائيل چه ځما كار په ظاهر حال باندے حُكم لګول دي. د باطن حال ما ته معلوم نهٔ دے. اِنْ حِسَابُهُمْ الخ په تاسو كښې دومره شعور هُم نشته چه د باطن حساب كتاب خو الله ته معلوم دے ځما كار خو په ظاهر حُكم لګول دي. څوك چه د شرك نه توبه كړي او په توحيد باندے ايمان راوړي هغوي د خپل ځان نه نهٔ شم شړلے. اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ؕ چه ځما كار خو خلقو ته د الله پيغام رسول دي او د هغهٔ د عذاب نه وېرول دي خواه هغوي

شریفان وی یا رذیلان وی بیا ددے دوارو د لونه چه څوك هم ځما دعوت قبول کړی هغه ځما ملګرے او مؤمن دے۔

۲۸ نوح علیه السلام د ډیرے اوږدے مودے پورے خپل قوم ته د توحید دعوت ورکړلو. او قوم یے په ضد باندے ټینګ وو. آخر د قوم سردارانو نوح علیه السلام ته دو وژلو دهمکی ورکړه چه اے نوحه! که چرے ته د دے خپلے عقیدے او ددے وعظ نه منع نه شوے نو مونږ به تا سنګسار کړو. قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي كَذَّبُونِ او س نوح علیه السلام الله ته عرض اوکړو چه اے ځما پروردګاره! ځما د مسلسل تبلیغ باوجود ځما قوم په تکذیب باندے قائم دے. په دے وجه ځما او ددوی په مینځ کښے آخری فیصله اوکړے یعنی په دوی باندے عذاب نازل کړے او هلاك یے کړے او ما او ایمان والا د دغه عذاب نه بچ کړے.

۲۹ د نوح علیه السلام د دُعا مطابق مونږ دهغه په قوم باندے طوفان راولیږلو. نوح او دهغه ملګری مو په کشتئ کښے محفوظ کړل او د طوفان نه مو بچ کړل. لیکن باقی ټول کافران مو غرق کړل او هلاك مو کړل. د دے واقعے نه معلومه شوه چه برکتونه ورکونکے صرف الله تعالیٰ دے چاچه نوح علیه السلام او مؤمنان د طوفان نه بچ کړل او هم دا د نوح علیه السلام دعوت وو. دا شان د قوم نوح د مشرکانو د بد انجام نه د مکے مشرکانو له عبرت حاصلول پکار دی۔

كَذَّبَتْ عَادٌ الْمُرْسَلِينَ ﴿۱۲۳﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ

دروغژن کړل عادیانو پیغمبرانو لره ﷺ هر کله چه اوویل دوی ته رور د دوی هود

أَلَا تَتَّقُونَ ﴿۱۲۴﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿۱۲۵﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ

آیا تاسو نه ویریږئ زه تاسو ته پیغام راوړونکے امانتدار یم پس او ویریږئ د الله نه

وَأَطِيعُونِ ﴿۱۲۶﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ

او ځما خبره اومنئ ﷺ او زه نه غواړم تاسو نه په دے څه بدله ځما بدله په

إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿۱۲۷﴾ أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً

مالك د جهان باندے ده آیا جوړوی په هره اوچته زمکه یوه نښه

تَعْبَثُونَ ﴿۱۲۸﴾ وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ ﴿۱۲۹﴾

د لوبو د پاره او جوړوئ محلونه شاید تاسو به همیشه اوسیږئ ف

وَإِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ ﴿١٣٠﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ

او چه کله ونيسئ اچوئ تاسو نيغ اچوئ په ظلم سره پس د الله نه او ويريږئ او

أَطِيعُونِ ﴿١٣١﴾ وَاتَّقُوا الَّذِي أَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُونَ ﴿١٣٢﴾ أَمَدَّكُمْ بِأَنْعَامٍ

حکم اخيره اومنئ او او ويريږئ د هغه چا نه چه دريغه کړل تاسو ته هغه څيزونه چه تاسو يې پيژنئ درکړل تاسو

وَبَنِينَ ﴿١٣٣﴾ وَجَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٣٤﴾ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ

ته څاروي او اولاد او باغونه او چينې زه ويريږم په تاسو د يوې لوئې ورځې د

عَظِيمٍ ﴿١٣٥﴾ قَالُوا سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَوَعَظْتَ أَمْ لَمْ تَكُنْ مِنَ

آفت نه او وئيل برابر دے موږ ته که ته نصيحت کوے او که نه کيږے ته

الْوَاعِظِينَ ﴿١٣٦﴾ إِنْ هَٰذَا إِلَّا خُلُقُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحْنُ

نصيحت کوونکے نور هيڅ نه دي دا خبرے مګر عادت دے د پخوانو خلقو او په موږ

بِمُعَذَّبِينَ ﴿١٣٨﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَهْلَكْنَاهُمْ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ

باندے آفت نه دے راتلونکے پس هغه يې دروغژن کړل نو موږ هغوی لره هلاک کړل په دے کښې

وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ

نښه ده او په دوی کښې ډير خلق نه دي منونکي. او بيشکه ستا رب هغه دے

الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٤٠﴾

زبردست رحم والا

نکات: ١٥ خلورم نقلي دليل ١٢

موضح قرآن ف دے خلقو ډير زيات شوق وو د اوچتو او مضبوطو منارو جوړولو چه هغه هيڅ هم پکار نه و انغلل صرف د نوم مشهورتيا د پاره. او د اوسيدو آبادئ به يې هم ډير مضبوط او په تکلف سره جوړولے چه مالونه به يې په هغے خرابول باغ ارم هم د هغوی مشهور دے ١٢ منه رحمه الله تعالى

تفسير ١٥ دا څلورم نقلي دليل دے او تخويف دنيوي دے. إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ ... نه تر ... إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ د دے تفسير اوس تير شوے دے. أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ الخ ريع اوچت ځائ. آية علامه او مناره. مصانع

اُوچت او لوړ لوړ محلونه. هُود علیه السّلام خپل قوم ته د توحید دعوت ورکولو نه
پس خبردار کړو چه تاسو په هر اُوچت غر او غونډئ باندے د خپل شان او اظهار
د پاره بے مقصده اُوچتے او چتے منارے جوړوئ. او ډیر لوړ لوړ محلونه جوړوئ۔
داسے معلومیږی چه تاسو په دُنیا کښے د همیشه اُوسیدو اُمیدونه تړلے دی. وَاِذَا
بَطَشۡتُمۡ الخ اول بطشتم شرط او دویم جزاء ده. او جَبَّارِیۡنَ د بَطَشۡتُمۡ ثانی د فاعل نه
حال دے. یعنی د دولت او ریاست په نشه کښے په غریبانو باندے ظلم زیاتے هم کوئ.
۵۱ په دے وجه تاسو د الله نه اوویریږئ او دغه ټول عبث او ظالمانه کارونه
پریږدئ او د الله د طرفنه چه کوم احکام ما راوړیدی د هغے تابعداری اوکړئ. وَاتَّقُوا
الَّذِیۡۤ اَمَدَّکُمۡ الخ قوم ته یے د الله نعمتونه وریاد کړل. دے د پاره چه د هغوی په زړونو
کښے د شکر ادا کولو جذبه پیدا شی یعنی د هغه الله نه اوویریږئ څوک چه تاسو ته هغه
ټول نعمتونه درکړل. کوم چه تاسو ته ښه معلوم دی او د کوم نه چه تاسو شپه او ورځ
فائده اَخلئ. اَمَدَّکُمۡ بِاَنۡعَامٍ الخ دا د اَمَدَّکُمۡ بِمَا تَعۡلَمُوۡنَ نه بدل دے یعنی چا چه تاسو ته
چارپایان درکړل چه تاسو د هغے نه قسما قسم فائدے حاصلوئ هغه تاسو ته خامن درکړل
چه هغه سره ستاسو د ژوند ښائست او ستاسو بقاء ده هغه ستاسو د پاره باغونه زرغون
کړل او د اُوبو چینے یے پکښے رَوانے کړے.
۵۲ اے زما قومه! ما ته خطره ده چه که چرے تاسو د الله د مسلسل انعامونو
باوجود د نعمتونو ناشکری اوکړئ او د الله نه سیوا نورو ولره کارساز او برکتونه ورکونکی گڼلو
سره زا تبلیغ نو اخر یوه ورځ به په ډیر زیات دردناک عذاب کښے گرفتار کړے شئ. قَالُوۡا
سَوَآءٌ عَلَیۡنَاۤ الخ سرکشه او ضدی قوم په جواب کښے اوویل اے هُوده! ستا د وعظ او
تبلیغ په مونږ هیڅ اثر نه کیږی. نه مونږ ستا خبره منو. په دے وجه ستا وعظ کول او
نه کول زمونږ د پاره برابر دی. ای لا نقبل کلامك ودعوتك وعظت ام سکت (مدارک
ص۱۶۶ ج ۳)
۵۳ خُلُقُ یعنی عادت. دا لوړ لوړ محلونه جوړول او یادگارونه جوړول او د
دُنیوی نعمتونو نه فائده اخستونکی کیدل یا دا سے توحید وعظ اوریدل او اَوړول
څه نوے خبره نه ده. بلکه دا خو یو زوړ رواج او دستور دے. چه په هغے باندے
د مخکښے نه خلق چلیږی. ستاسو نه مخکښے ډیر وعظ کونکی راغلی دی لیکن زمونږ
پلار نیکه به خپل دِین باندے قائم پاتے شول. او مونږ هم د هغوی په دِین باندے
قائم یو. هغوی راغلل او لاړل، مونږ هم راغلی یو او اخر به مړ شو. دا سلسله به
دغه شان رَوانه وی. هیڅ حشر نشر نشته او نه څه جزاء او سزا شته. ما هذا الذی نحن
علیه من الدین الا خلق الاولین وعادتهم کانوا به یدینون ونحن بهم مقتدون او ماهذا
الذی نحن علیه من الحیاة والموت الا عادة لم یزل علیها الناس فی قدیم الدهر او ما
هذا الذی جئت به من الکذب الا عادة الاولین کانوا یلفقون مثله ویسطرونه (کبیر ص۵۳۶ ج۶)

۵۴ د امر ه کیدل ژوندی کیدل د دُنیا پخوانے دستور دے۔ د دے نه روستو شه حشر نشر او ثواب عذاب نشته، فکذبوه الخ آخر قوم د هُود علیه السلام تکذیب اوکړو، نو هغوی هلاک کړے شو. په دے واقعه کښے کافی عبرت او نصیحت دے.

كَذَّبَتْ ثَمُودُ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٤١﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَٰلِحٌ

دروغژن کړل ثمودیانو پیغمبرانو لره ۵۵ هر کله چه اووئیل دوی ته رور د دوی صالح

أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ

آیا تاسو نه ویرېږئ زه تاسو ته پیغام راوړونکے یم امانت دار پس اوویرېږئ د الله نه

وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ

او زما خبره اُومنئ ۵۶ او زه نه غواړم ستاسو نه په دے باندے څه بدله ځما بدله د

إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٤٥﴾ أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هَاهُنَا

جهان په پالونکی ده آیا پریښودی به تاسو لره دے ځائے په څیزونو

آمِنِينَ ﴿١٤٦﴾ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٤٧﴾ وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ

کښے په امن په باغونو او په چینو کښے او په فصلونو کښے او په کجهورو کښے

طَلْعُهَا هَضِيمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا

چه د هغے وږے (میوه) پسندیدی او تراشئ په غرونو کښے کورونه

فَارِهِينَ ﴿١٤٩﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيعُوا

په تکلف سره پس اوویرېږئ د الله نه او ځما خبره اُومنئ او مه منئ

أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾ الَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ

حکم د بے باکه خلقو کوم چه خرابي کوی په مُلک کښے

وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾ قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ ﴿١٥٣﴾

او اصلاح نه کوی وے وئیل په تا خو چا جادو کړیدے ۵۷

مَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۚ فَاْتِ بِاٰيَةٍ اِنْ كُنْتَ مِنَ

نه ئې ته مګر سړے یو زمونږ په شان پس راوړه څه نښه که ئې ته

الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۵۴﴾ قَالَ هٰذِهٖ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَّلَكُمْ شِرْبُ

رښتونے وے وئیل دا ښځه اوښه ده ، دے دپاره د اوبو څکلو یو وارے او ستاسو

يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۱۵۵﴾ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابُ

دپاره واریوه ورځ مقرر دے ول او مه چیړئ دے لره په بدئ سره بیا به ونیسي تاسو لره عذاب

يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۵۶﴾ فَعَقَرُوْهَا فَاَصْبَحُوْا نٰدِمِيْنَ ﴿۱۵۷﴾ فَاَخَذَهُمُ

دیوے ورځے لوئے پس شل یے کړه هغه اوښه ول بیا صباله شول پښیمانه ول بیا ونیول دوی لره

الْعَذَابُ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۭ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ

عذاب خامخا په دے خبره کښے نښه ده او نه هغوی کښے اکثر خلق نه دی

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۵۸﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۵۹﴾

ع ۸ ۹ ۱۲

منونکی . او ستا رب هم هغه دے ، زبردست رحم کونکے

نکات: ـ ۵۵ـ پنځم نقلی دلیل ۱۲

موضح قرآن ول د الله په قدرت د صالح علیه السلام په دعا سره د کښتے نه اوښه پیدا شوه او آزاده به ګرځیده کوم ځنګل ته به چه ځی دپاره تلله نو ټول څاروی به د هغے نه تښتیدل بالاخر دا فیصله یے اوکړه چه یوه ورځ به اوبوله هغه ځی او یوه ورځ په د نورو څاروی ځی ۱۲ منه رحمه الله .

ول دیوے بد کارے ښځے په کور کښے ډیر زیات څاروی وُو د ګیاه او د اوبو د تکلیف په وجه یے یوخپل یار ته اووئیل چه د دے اوښے خپے پریکړه د هغے خپے پریکولو نه درے ورځے روستو عذاب راغے ۱۲ منه رحمه الله تعالی .

تفسیر: ۵۵ـ دا پنځم نقلی دلیل دے او تخویف اخروی دے. اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ صٰلِحٌ ... نه تر ... عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ د دے تفسیر تیر شوے دے. اَتُتْرَكُوْنَ الخ مَا موصوله هٰهُنَآ صله دے. اٰمِنِيْنَ، د تُتْرَكُوْنَ د نائب فاعل نه حال دے. فِيْ جَنّٰتٍ الخ د فِيْ مَا هٰهُنَآ نه بدل دے (روح) ایا تاسو ته په دُنیا کښے په دے باغونو او چینو کښے، په دے شنو فصلونو او ترو تازه او د ګنړو غنچونو د کو کجورو کښے همیشه د عیش ژوند تیروئی او الله ته به نه حاضریږئ؟ وَتَنْحِتُوْنَ الخ دا په تُتْرَكُوْنَ باندے معطوف دے. فٰرِهِيْنَ

ای اشرین بطرین کما روی عن ابن عباس ... قال ابو صالح حاذقین وبذلك فسره الراغب (روح ص۱۱۳ ج ۱۹) یعني آیا تاسو به په دُنیا کښې همیشه غرونه پریکوئ او د فخر په طور بانده یا د مهارت او فنکارئ د اظهار د پاره به عظیم الشان کورونه جوړوئ.

۵۶ تاسو به همیشه په دُنیا کښې نهٔ اُوسیږئ. په دے وجه د خُدائی پاك نه اوویریږئ او د هغهٔ سره شرك مهٔ کوئ او خما خبره اُومنئ زهٔ د الله په حُکم د صراط مستقیم طرفته ستاسو رهنمائی کوم. وَلَا تُطِيعُوْا اَمْرَ الْمُسْرِفِيْنَ نه په کفر او شرك کښې د قوم رهنمائی کوُنکی او سرداران مراد دی. والمسرفین هم کبراء هم واعلامهم فی الکفر والاضلال وکانوا تسعة رهط یفسدون فی الارض (بحر ص۳۵ ج ۷) المسرفین قال ابن عباس المشرکون (خازن ومعالم ص۱۰۲ ج ۵) کوم خلق چه د کُفر او شرك او د گمراهئ په خورولو کښې په مُلک کښې فساد خوروی د هغوی تابعداری مهٔ کوئ.

۵۷ قوم صالح علیه السلام ته جواب ورکړو اے صالحه! تا ته هیڅ وحی نهٔ ده راغلے اصل خبره دا ده چه په تا باندے چا جادو کړیدے چه د هغې د وجے نه (العیاذ بالله) ستا په عقل کښې خلل راغلے دے او تا د نبوّت دعوی کړیده. کنی ته خو زمونږ په شان بشر او انسان یې مَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا. بیا په تا کښې کومه یوه امتیازی خوبي ده چه ته د نبوّت د پاره غوره کړے شوے یې. فَاْتِ بِاٰيَةٍ الخ که رښتیا واقعی ته رښتینو نے یې نو د خپلے دعوے په صداقت باندے څهٔ عجیبه او نا آشنا نښان پیش کړه. د دینه معلومه شوه چه مُشرکانو د خپلے کم عقلئ او نا پوهئ د وجے نه د نبوت او بشریت په مینځ کښې منافات گنړلو. د هغوی خیال وُو چه نبوّت یو داسے اُوچت اعزاز دے چه یو بشر ته نشي ملاویدے. په دے وجه د دے د پاره خو یوه نورانی فرښته پکار ده نهٔ چه د خاورے نه جوړ شوے انسان. انك بشر مثلنا فکیف تکون نبیًّا وهذا بمنزلة ما کانوا یذکرون فی الانبیاء انهم لو کانوا صادقین لکانوا من جنس الملائکة (کبیر ص۵۲۳ ج ۶)

۵۸ مشرکانو د صالح علیه السلام نه مطالبه کړے وه چه د یو خاص کاڼړی نه اُوښه پیدا شي او د غه وخت د هغې یو بچے پیدا شي چه په جسم او قد و قامت کښې د هغې برابر وی. نو صالح علیه السلام مُونځ اوکړو او د الله نه یې سوال اوکړو نو الله پاك د مشرکانو د خُلے غوښتلے شوے معجزه ښکاره کړه. روی انهم قالوا نرید ناقة عشراء تخرج من هذه الصخرة فتلد سقبا فجعل صالح یتفکر فقال جبریل صل رکعتین واسئل ربك الناقة ففعل فخرجت الناقة ونتجت سقبا مثلها فی العظم (مدارك ص۱۴۱ ج ۳) او س په طور د اَزمائش په هغوی باندے پابندی اُولگولے شوه چه د چینے نه به یوه ورځ هغوی اُوبهٔ څکی او به خپلو څارو به اُوبهٔ څکوی او یوه ورځ به د اُوښے د پاره خاص وی د دوی په نمبر کښې به اُوښه اُوبهٔ نهٔ څکی او د اُوښے په نمبر او ورځ به هغوی اُوبهٔ نهٔ څکی. وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ الخ دا شان اُوښے ته به څهٔ قسمه تکلیف هُم نهٔ رسوئ گنی د یر سخت عذاب کښې به مبتلا شئ.

۵۹ د اُوبو يوه ورځ ناغه کيږي وسره هغوی په تکليف کښې شول. په دې وجه هغوی د اُوښې د وژلو پروګرام جوړ کړو او ټولو په خوشحالئ سره يو سړی په دې کار مقرر کړو چه هغه دده ښچې اووهلے او پرے يې کړے. د ينه روستو چه کله د الله تعالیٰ عذاب راغے نو اوس په عېپلو کړو پښيمانه شول. ليکن اوس څه فائده؟ نو دصيحه (دجبرئيل ؑ آواز) په عذاب سره الله هغوی هلاک کړل. اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ لَاٰیَةً ددے تفسير مخکښے تير شوے دے.



كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطِ ۨالْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۶۰﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ

دروغژن کړل د لوط ؑ قوم پيغمبرانو لره کله چه اووئيل دوی ته رور ددوی

لُوْطٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۶۱﴾ اِنِّیْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۶۲﴾ فَاتَّقُوا

لوط آيا تاسو نه ويريږئ زه ستاسو د پاره پيغام راوړونکے امانتدار يم پس اووېريږئ

اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۶۳﴾ وَمَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ

د الله نه او زما خبره اُومنئ او زه نه غواړم تاسو نه ددے څه بدله نشته

اَجْرِیَ اِلَّا عَلٰی رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶۴﴾ اَتَاْتُوْنَ الذُّكْرَانَ

بدله د پروردګار عالم په ذمه ده آيا تاسو راتلل کوئ سړو ته

مِنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶۵﴾ وَتَذَرُوْنَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ

په عالم کښې او پريږدئ کوم چه تاسو د پاره پيدا کړې دي ستاسو رب

مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ عٰدُوْنَ ﴿۱۶۶﴾ قَالُوْا لَئِنْ

ستاسو بيبيانے بلکه تاسو خلق د حد نه وَتونکي يئ وے وئيل که چرته

لَّمْ تَنْتَهِ يٰلُوْطُ لَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِيْنَ ﴿۱۶۷﴾ قَالَ

منع نه شوے نو اے لوط ؑ! خامخا نو ته به خامخا اووېستلے شې وے وئيل

اِنِّیْ لِعَمَلِكُمْ مِّنَ الْقَالِيْنَ ﴿۱۶۸﴾ رَبِّ نَجِّنِیْ وَاَهْلِیْ

زه خامخا ستاسو ددے کار نه بيزاره يم اے ربه! خلاص کړے ماله او زما کور والو لره

مِّمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٦٩﴾ فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٧٠﴾ اِلَّا عَجُوْزًا

د هغه کار نه چه دوی یې کوی لله بیا نجات ورکړو مونږ ده او د ده کور والا ټول مګر یوه بوډۍ

فِى الْغٰبِرِيْنَ ﴿١٧١﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿١٧٢﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ

پاتے شوه په پاتے کیدونکو کښے بیا هلاک کړل مونږ نورو لره او اُورول مونږ په دوی

مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿١٧٣﴾ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۖ وَمَا كَانَ

ورول پس څه بد ورول وُو د دغه ویرولی شوو خامخا په دیکښے نښنه ده او په دوی کښے

اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٧٤﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٧٥﴾ ع ٩ / ١٢

ډیر خلق نه دی منونکی او بیشکه ستا رب هغه دے زبردست رحم والا

نکات: راشیږم نقلی دلیل ۱۲

تفسیر ۱۶۰ دا شپږم نقلی دلیل دے او تخویفِ دُنیوی دے۔ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ لُوْطٌ ... نه تر ... عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ٥ دے تفسیر تیر شوے دے۔ اَتَاْتُوْنَ الذُّكْرَانَ الخ د لُوط علیه السلام قوم د فطرت نه خلاف فعل عادتیان وُو۔ لُوط علیه السلام هغوی د دے بد فعل نه منع کړل او ورته یے اُوفرمائیل چه څومره کم عقلی ده چه تاسو د سړو سره د فطرت خلاف فعل کوئ۔ او د جنسی تسکین د پاره چه الله پاک ستاسو د پاره کوم بیبیانے پیدا کړیدی هغه پریږدئ۔ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ عٰدُوْنَ الخ بیا د دے خراب عمل په ارتکاب کښے تاسو دومره زیات د حد نه تیر شوی یئ چه ستاسو فطرت مسخ شوے دے او تاسو په ډک مجلس کښے هم دا کار کوئ او نه شرمیږئ څنګه چه بل ځائی ارشاد دے۔ وتأتون فی نادیکم المنکر (عنکبوت ع ۳)

۱۶۷ د لُوط علیه السلام د مشفقانه وعظ او نصیحت په جواب کښے سرکشه قوم ډیر تیز او د سرکشئ جواب ورکړو۔ اے لُوطه! که چرے ته د خپلے نبوت دعوے نه او د دے وعظ او نصیحت نه منع نه شے نو مونږ به تا د ښار نه بهر اُوباسو او دلته به د پریږو نه دو۔ قال انی لعملکم من القالین۔ لُوط علیه السلام د قوم د دهمکئ ذره پروا اُونکړه او صفا یے اُوفرمائیل چه ځما ستاسو د دے بد فعل نه نفرت دے۔ زه په خپله تاسو نه بیزاره یم او تاسو نه لرے ولاړ غواړم۔ قابل علیه السلام تهدیدهم ذلک بما ذکر تنبیها علی عدم الاکتراث به وانه راغب فی الخلاص من سوء جوارهم لشدة بغضه لعملهم (روح ص ۱۱۶ ج ۱۹)

۱۶۹ او بیا الله طرفته متوجه شو او هغه سره یے مناجات (راز و نیاز) اوکړو چه اے پروردګاره! ما ته او ځما د کور خلقو ته د دے بد عمل د وبال او عذاب نه خلاصے

راکړے۔ فَنَجَّيْنٰهُ وَ اَهْلَهٗۤ الخ موږ لوطؑ او د هغهٔ اهلِ بیت د عذاب نه بچ کړل لیکن
بوډۍ چه مشرکه وه هغه او باقي قوم مو هلاک کړو۔ دا بوډۍ د لوط علیه السلام
بي بي وه۔ وَ اَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ الخ د هغوی کلي مو لاندے باندے کړو او د پاسه مو په
هغوی باندے د سختو کاڼو باران اوکړو۔ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً الخ قدمر تفسیره۔

كَذَّبَ اَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۷۶﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ

دروغژن کړل د بڼو اوسیدونکو پیغمبرانو لره هر کله چه اوویل دوی ته شعیبؑ

اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۷﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۷۸﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

آیا تاسو نه ویریږئ زهٔ تاسو ته رالیږلے شوے یم امانتدار پس اوویریږئ د الله نه

وَ اَطِيْعُوْنِ ﴿۱۷۹﴾ وَ مَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِنْ اَجْرِيَ

او زما خبره اومنئ او زهٔ نهٔ غوارم تاسو نه په دے څهٔ بدله زما بدله

اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۰﴾ اَوْفُوا الْكَيْلَ وَ لَا تَكُوْنُوْا مِنَ

په پروردګار عالم ده پوره کوئ پیمانه او مهٔ کیږئ د

الْمُخْسِرِيْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَ زِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ ﴿۱۸۲﴾ وَ لَا تَبْخَسُوا

نقصان کونکو نه کله او تول کوئ په برابره تله سره او مهٔ کموئ

النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَ لَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿۱۸۳﴾

خلقو له د هغوی څیزونه او مهٔ خوروئ په ملک کښے فساد

وَ اتَّقُوا الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَ الْجِبِلَّةَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۸۴﴾ قَالُوْۤا

او اوویریږئ د هغهٔ نه چه پیدا یے کړل تاسو لره او وړاندینی مخلوق وے ویل

اِنَّمَاۤ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ﴿۱۸۵﴾ وَ مَاۤ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا

به تا خو چا جادو کړے دے ګڼه او ته خو یو سړے یے زمونږ په شان

وَ اِنْ نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۱۸۶﴾ فَاَسْقِطْ عَلَيْنَا

او زمونږ په خیال کښے خو ته دروغژن یے پس راوغورزوه په مونږ باندے

كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١٨٧﴾ قَالَ

ټکړے ټکړه د اسمان که يے ته رښتونے وے وئيل

رَبِّيْٓ اَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٨٨﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمْ عَذَابُ

رب زما پوهه دے په هغے چه تاسو يے کوئ پس دروغژن يے کړو هغه بيا ونيول دوی لره عذاب

يَوْمِ الظُّلَّةِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٨٩﴾ اِنَّ فِيْ

د ورځے د ساېبان لله ف۱ بيشکه وو هغه عذاب د لوئے ورځے ف۱ بيشکه په د

ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٩٠﴾ وَاِنَّ

کښے نښه ده او نه وو دوی کښے ډير خلق نه دی منونکی او ستا

رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٩١﴾ ع

رب همه هغه دے زبردست رحم والا

نکات

٤۔ ف۱ اووم نقلی دليل ۱۲

موضح قرآن

ف۱ د ځير په ورځ ورېځه راغله د هغے نه اور اووريده. تول قوم په هغے سره هلاک شو ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ.

فتح الرحمٰن

ف۱ يعنی اور د ځير په شکل کښے ظاهر شو او هلاک کړے شول ۱۲۔

تفسير

ف۶۳ دا اووم نقلی دليل او تخويف اخروی دے. اِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ ... تر ... عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ٥ د دے تفسير تير شوی دے. د شعيب عليه السلام نسبی تعلق چونکه د مدين والو سره وو د اصحاب الأيكه سره نه وو نو ځکه يے دلته اَخُوْهُمْ شُعَيْبٌ اونه فرمائيلو او چرته يے چه د اهل مدين طرفته د دوی دليل لو ذکر کړيدے هلته يے وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا (هود ع ۸) او فرمائيل. لم يقل هنا اخوهم شعيب لانه لم يكن من نسبهم بل كان من نسب اهل مدين ففی الحديث ان شعيبًا اخا مدين ارسل اليهم و الى اصحاب الأيكة (مدارك ص۱۳۵ ج ۳)

ف۶۴ د شرک نه علاوه په دے خلقو يوه خرابی داوه چه هغوی به ناپ تول کښے خيانت کولو. په دے وجه شعيب عليه السلام او فرمائيل چه پيمانه صحيح پوره کوئ. او کم تول کولو سره د خلقو حقونه مه وهئ. وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ الخ او صحيح تلے سره تول کوئ. معلوميږی چه هغوی پيمانے او تلے د کم و زيات مقدار جوړ کړی وو داخستو

په وخت به یې د زیات مقدار پیمانه او تله استعمالول - او د ورکولو په وخت به یې د کم مقدار والا - وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ الخ دا بد دیانتي سره د خلقو حقونه مه وهئ - وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ - او په قتل، داړه او غلا سره په مُلک کښې بدامني او بې آرامي مه پیدا کوئ - وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ الخ د هغه الله نه اوویریږئ چا چه تاسو هُم پیدا کړي یئ او ستاسو نه مخکښې خلق یې هُم پیدا کړیدي - دا په حقیقت کښې تخویفِ دُنیوی دے - یعني د الله نه اوویریږئ چا چه تاسو پیدا کړي یئ او ستاسو نه مخکښې خلق یې پیدا کړیدي څنګه چه هغه په پیدا کولو باندے قادر دے دا شان هغه تاسو په عذاب سره هُم هلاکولے شي - وامرهم ثانیا بتقوی من اوجدهم واوجد من قبلهم تنبیها علی ان من اوجدهم قادر علی ان یعذبهم ویهلکهم (بحر ص۳۸ ج۷)

ف۶۵ قوم په جواب کښې اوویل چه دا سے معلومیږي چه په تا باندے چا جادو کړیدے (عیاذًا بالله) ستا دِماغ متأثر شویدے او د نبوّت دعوی دِ کړیده ځکه چه ته خو زمونږ پشان بشر یې - آیا بشر هُم نبي کیدے شي؟ په دے وجه مونږ خو تا لره په دے دعوی کښې دروغژن ګنړو په دیکښې زیاتي کلام په حاشیه ۵۷ کښې تیر شویدے فَاَسْقِطْ عَلَيْنَا الخ که ته په خپله دعوی کښې رښتونے یې نو په مونږ باندے آسمان را وغورځوه او مونږ هلاک کړه - قَالَ رَبِّيْ اَعْلَمُ الخ ورته فرمائیل چه عذاب راوستل ځما په اختیار کښې نه دي - ځما رب ستاسو ټولو عملونو نه خبر دے چه کله هغه اوغواړي نو تاسو به اونیسي -

ف۶۶ آخر چه کله قوم په تکذیب باندے قائم پاتے شو - نو الله پاک هغوی لره د ظُلّه په عذاب باندے هلاک کړل چه ډیر دردناک عذاب وو - د ابن عباسؓ نه نقل شویدي چه الله پاک اصحاب الایکه باندے سخته ګرمي مسلط کړه هغوی د ګرمئ نه اُوتښتیدل او کورونو ته ننوتل نو هلته د بهر نه هُم زیاته ګرمي وه - آخر بیا د کورونو نه راووتل بیا الله پاک یوه وُریځ (ظُلّة) راولیږله ټول د هغے په سوري کښې جمع شول نو الله پاک د هغے وُریځ نه اُور راوُورولو چه هغے سره ټول اُوسوزیدل او هلاک شول - هی سحابة اظلتهم بعد ما حبست عنهم الریح وعذبوا بالحر سبعة ایام فاجتمعوا تحتها مستجیرین بها مما نالهم من الحر فامطرت علیهم نارا فاحترقوا (مدارک ص۱۲۹ ج۳) اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً الخ ددے دوارو آیتونو تفسیر مخکښې تیر شویدے او س په اتلسو آیتونو کښې د تَبَارَكَ دعوی باندے یو دلیلِ وحی او زیاتي نور دوه نقلي دلیلونه ذِکر شویدي - یو د مخکښنو کتابونو سره او یو د بني اسرائیلو علماؤ سره -

وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۹۲﴾ نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ

او دا قرآن نازل کړے شویدے د پروردګار عالم له طرفه راوړیدے دے لره فرښته

الْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ ﴿١٩٤﴾

امانتدار رښتے ستا په زړه باندے چه ته شے ویروُنکے

بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ﴿١٩٥﴾ وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الْأَوَّلِينَ ﴿١٩٦﴾ أَوَلَمْ

په ښکاره عربئ ژبه کښے او دا یقیناً ذکر شوے دے په کتابونو کښے د مخکښنو آیا دوی

يَكُن لَّهُمْ آيَةً أَن يَعْلَمَهُ عُلَمَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿١٩٧﴾ وَلَوْ

دپاره نښه نه ده دا خبره چه دوی خبر لری علماء د بنی اسرائیلو او که

نَزَّلْنَاهُ عَلَىٰ بَعْضِ الْأَعْجَمِينَ ﴿١٩٨﴾ فَقَرَأَهُ عَلَيْهِم مَّا

نازل کړے وے مونږ دا کتاب یو عجمی ژبے والا باندے لره او هغه دوی ته لوستلے نو هم به

كَانُوا بِهِ مُؤْمِنِينَ ﴿١٩٩﴾ كَذَٰلِكَ سَلَكْنَاهُ فِي قُلُوبِ

دوی پرے یقین نه کولو دغه شان ننویستلے دے مونږ دا انکار لره د ګناهګارو په

الْمُجْرِمِينَ ﴿٢٠٠﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِ حَتَّىٰ يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٢٠١﴾

زړونو کښے لهٰذا هغوی به یے اونه منی ترڅو چه ونه وینی عذاب دردناک

فَيَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾ فَيَقُولُوا هَلْ نَحْنُ

پس راشی به دوی ته ناساپه او دوی به خبر نه وی بیا به اووائی چه آیا مونږ ته به

مُنظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿٢٠٤﴾ أَفَرَأَيْتَ إِن

څه فرصت ملاوېږی آیا زمونږ عذاب زر غواړی لهٰذا آیا ته ګورے که فائده

مَّتَّعْنَاهُمْ سِنِينَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ جَاءَهُم مَّا كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿٢٠٦﴾

اورسولو مونږ دوی ته ډیر کلونه بیا راشی دوی ته هغه شے چه دوی سره یے وعده وه

مَا أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا يُمَتَّعُونَ ﴿٢٠٧﴾ وَمَا أَهْلَكْنَا مِن

نو څه بکار به راشی دوی ته کومه چه دوی نفع اخستے وه او یو کلے مونږ داسے نه دے لهٰ

قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ﴿٢٠٨﴾ ذِكْرَىٰ وَمَا كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿٢٠٩﴾

هلاک کړے چه ویروُنکے ورله نه وُو د پاره د یادولو او نه یو مونږ ظلم کوُنکی

وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيٰطِيْنُ ﴿٢١٠﴾ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهُمْ وَمَا

او نه دے نازل کړے دے قرآن لره شیطانانو ۳ او نه دے دوی له کیدے شي او نه یې

يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿٢١١﴾ اِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُوْلُوْنَ ﴿٢١٢﴾ فَلَا تَدْعُ

دوی کولے شي　دوی خو د آوریدو د ځائ نه لرے کړے شوی دی　نو مه رابله

مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَكُوْنَ مِنَ الْمُعَذَّبِيْنَ ﴿٢١٣﴾ وَاَنْذِرْ

د الله سره بل معبود　بیا به ته پریوځې په عذاب کښې ۳　او او ویروه

عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ ﴿٢١٤﴾ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ

خپلو نزدے رشته دارو لره ۵　او خپلے اوږے خکته کړه د هغو د پاره

اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢١٥﴾ فَاِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ اِنِّيْ

کوم چه تا سره دی　ایمان دار ۵　بیا که ستا نافرمانی کوی نو ته وایه زه

بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٢١٦﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ﴿٢١٧﴾

بیزاره یم　ستا سو د کار نه ۶　او تکیه کوه په هغه زبردست رحم والا باندے

الَّذِيْ يَرٰىكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ﴿٢١٨﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِي السّٰجِدِيْنَ ﴿٢١٩﴾

هغه چه وینی تا لره　کله چه ته پورته کیږے ۸　او ستا کیناستل پاسیدل هم په مونځ کونکو کښے

اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٢٢٠﴾ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ عَلٰى مَنْ

بیشکه هغه دے آوریدونکے پوهیدونکے ۹　ایا زه اوښایم تاسو ته　چه په چا باندے

تَنَزَّلُ الشَّيٰطِيْنُ ﴿٢٢١﴾ تَنَزَّلُ عَلٰى كُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ ﴿٢٢٢﴾

نازلیږی شیطانان ؟ ۱۰　نازلیږی په هر دروغژن گنهګار

يُّلْقُوْنَ السَّمْعَ وَاَكْثَرُهُمْ كٰذِبُوْنَ ﴿٢٢٣﴾ وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ

غوږ ږدی ورته آوریدلے خبره　او ډیر په دوی کښے دروغژن وی ۱۱　او د شاعرانو په خبره باندے ځی

الْغَاوٗنَ ﴿٢٢٤﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّهُمْ فِيْ كُلِّ وَادٍ يَّهِيْمُوْنَ ﴿٢٢٥﴾ وَ

هغه چه بے لارے وی ۱۲　ته نه وینے چه دوی په هر میدان کښے سرګردانه ګرځی ۱۳　او

أَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴿٢٢٦﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا

دوی هغه خبرې وائی چه کوی یې نه ف۱۱ لیکن هغه خلق چه ایمان راوړی

وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانْتَصَرُوا

ف۵ او نیک عملونه اوکړی او یاد کړی الله ډیر او بدله واخلی

مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا ۗ وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ

پس د هغے چه په دوی ظلم اوشی او زر دے چه معلوم به کړی ظالمان چه په

مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾ ع

کومه ډډه اوړی نه ف۱۲

ع ۲۶ ۱۵

ثکات: ۱ متعلق دے د سورت د شروع وَمَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ الخ سره ۱۲۔ ۲ تخویفِ دُنیوی ۱۲ ۳ زجر ۱۲ ۴ تخویفِ دُنیوی ۱۲ ۵ د مُشرکانو د رومبئ شُبهے جواب ۱۲ ۶ د ماقبل نتیجه ۱۲ ۶ متعلق دے د اوّلے شُبهے د جواب سره ۱۲۔ ۷ د مُشرکانو د دویمے شُبهے جواب ۱۲ ۸ تخویفِ دُنیوی ۱۲

موضح قرآن

ف۱ یعنی دا دے قرآن خبر لیکلے شوے دے په مخکینو کتابونو کښے او ودے مدّعا هُم دا ده۔

ف۲ کافرانو به وئیل چه قرآن په عربئ ژبه کښے نازلیږی او دے پیغمبر ژبه هُم عربی ده۔ شاید پخپله یے جوړ کړے وی۔ که چرے د عربو ژبے نه بغیر بله ژبه کښے نازلیدے نو مونږ به یقین کړے وے۔ وے فرمائیل چه د دهوکه کونکو زړه هیڅ کله هُم په یوه خبره باندے تینګ نه وی۔ دغه وخت به یے نورے نورے خبرے راویستلے چه بل خوک یے ورزده کوی ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ۔ ف۳ دا یے رسول ته اُوفرمائیل او نورو خلقو ته یے واؤرَوُلو ۱۲ منه رح

ف۴ چه کله دا آیت نازل شو نو نبی علیه السّلام تولو قُریشو ته په اُوچت آواز سره واؤرَوُلو۔ تر دے چه خپلے ترور، لُور او ترهٔ ته یے هُم واؤرَوُلو چه د الله نه د ځان خلاصولو فکر اوکړئ هلته زهٔ تاسو سره هیڅ نه شم کولے ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ۔

ف۵ یعنی ایمان والا په شفقت کښے اُوسا ته که خپل وی یا پردی ۱۲ منه رح۔

ف۶ یعنی د الله د حُکم نه چه خوک خلاف اوکړی د هغه نه بیزار شه خپل وی یا پردی ۱۲

ف۷ یعنی چه کله ته تهجّد ونه پاسے او د ملګرو خبر اخلے چه (د الله) په یاد کښے دی یا په غفلت کښے دی ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ

ف۸ یو قسم خلق وُو چه هغوی ته به کاهن وئیلے شو نو د کوم یو شیطان سره به یے دوستی سا تله. نذرو نیاز به یے ورکولو. دا تول شیطانانو کښے حساب بیری د فرشتو خبرے به یے آوریدلے هلته به په سکروتو ویشتلے شو. کوم ستوری چه پریوتو تکی په نظر راځی چه یوه خبره د وه به یے واوریدلے هغه به یے خپل دوست ته راوړلے هغه به خلقو ته بیان کړی خلق به د دے قائل شو چه ریښتونے کاهن دے. او ډیر خلق دروغ جوړوی. ځینے خیزونه د انسان نه پټ دی او شیطان ته معلوم دی لکه د سل پنځوس میله حالات. یا دا چه د چا په جیب کښے څه دی یا د هغه په زړه کښے څه خیال دے. او را تلونکے خیز شیطان ته هُم معلوم نه دے. لیکن یو د وه خبرے چه د فرشتو نه یے واوریدے او لس شل یے ورسره د ځان نه یو ځائے کړے او د آتکل سره آتکل ملاؤ کړی که دروغ اُوختل یا رښتیا نو شیطان د نیک ښختونه بیزار دے ځکه چه دے هغوی لره پند کښری. د دروغژنو دهوکه بازو نه خوشحاله دے ځکه چه د هغه د مرضئ سره موافق دی ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ.

ف۹ کافرانو به پیغمبر ته کله کاهن وئیل کله به یے ورته شاعر وئیل. نو وے فرمائیل چه د شاعر په خبرو چا ته هدایت نه کیږی او د پیغمبر په صحبت سره به زرګونو خلق په نیکئ باندے راځی ۱۲ منه رح. ف۱۰ یعنی چه کوم مضمون یے اُونیوه بس هُم هغے یے لوستلو ۱۲ منه رح ف۱۱ لکه د بهادرئ خبرے کوی خو بهادری پکښے نه وی د عشق خبرے کوی خود روغ، د بیمارئ خبرے کوی خود روغ ۱۲ منه رح

ف۱۲ لیکن چه څوک په شعر کښے د الله حمد بیان کړی یا د ګناه مذمت بیان کړی. یا کافر د اسلام بد اووائی دے د هغے جواب ورکړی نو دا سے شعر عیب نه دے ۱۲ منه رح.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی د قیام نه رکوع ته او د رکوع نه سجدے ته ۱۲ ف۲ یعنی مؤمنانو کونکی ۱۲ ف۳ یعنی هر مضمون کښے مبالغه کوی ۱۲

تفسیر ۱۹۲ دا د سُورت د ابتداء وما یأتیهم من ذکر من الرحمٰن الخ سره متعلق دے. او په اِنَّهٗ کښے ضمیر منصوب د تبارك دعوے ته کنایه ده. او په تبارك دعوی باندے دلیل وحی دے. یا د ضمیر نه مراد قرآن دے. مشرکان د دے دعوے تکذیب او دے پورے تو که کوی. حالانکه دا دعوی خود ربّ العالمین د طرف نه نازله شوے ده. نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِیْنُ الخ چه هغه روح الامین جبرئیل علیه السلام ستاسو په زړهٔ مبارك باندے نازله کړیده دے د پاره چه تاسو د دے دعوے تبلیغ اُوکړئ او نه منونکی د الله د عذاب نه اوویروئ. د نبی علیه السلام اول مخاطب چونکه عرب وُو. د دے وجے نه دیته د فصیحے ژبے جامه آغوستولو سره نازله کړے شوه.

۱۹۶ دا دلیل نقلی دے مخکینو کتابونو طرفته اشاره ده یعنی دا دعوی څه نوے دعوی نه ده بلکه په مخکینو کتابونو کښے هُم ذکر شوے ده. او که چرے د ضمیر نه قرآن مراد وی. نو د بکښے به تاویل ته ضرورت وی یعنی ذکر القرآن. یا به مطلب دا وی چه د قرآن زیات مضمونونه په مخکینو کتابونو کښے موجود دی. ای وذکر القرآن لفی الکتب المتقدمة

وقیل وان معناه لفی الکتب المتقدمة وهو باعتبار الاغلب فان التوحید وسائر ما یتعلق بالذات والصفات وکثیر من المواعظ والقصص مسطور فی الکتب السابقة (روح ص۱۲۱ ج۱۹) چونکه په دے صورت کښے به تاویل کول وی په دے زیات مناسب دا دی چه د ضمیر منصوب نه دعوی د تبارک مراد وی څنګه چه د حضرت شیخ قدس سره رائے ده. اَوَلَمۡ یَكُنۡ لَّهُمۡ اٰیَةً الخ دا د بنی اسرائیلو علماؤ سره د نقلی دلیل طرفته اشاره ده. آیا هغوی دپاره دا دلیل کافی نه دے چه دا دعوی د بنی اسرائیلو علماء هم منی او دد دے د حق کیدو اقرار کوی. د بنی اسرائیلو د عالمانو نه هغه عالمان مراد دی کوم چه ایمان راوړے وو. علماء بنی اسرائیل عبدالله بن سلام و نحوه قاله ابن عباس و مجاهد (بحر ص۴۱ ج۷)

۹۶ دا د بنی اسرائیلو د ډیر زیات عناد بیان دے چه د نقلی او عقلی دلائلو باوجود یے نه منی. د دوی د ضد او عناد دا حال دے چه که چرے مونږ دا قرآن چه په فصیح او بلیغ عربی ژبه کښے نازل شوے دے په یو عجمی باندے نازل کړے وے چه د عربی ژبے سره بالکل نا اشنا وے او دد دے باوجود معجزانه طور باندے صحیح صحیح لوستلو سره یے دوی ته اوړولے وے نو هغوی به بیا هم نه منلے او د نه منلو دپاره به یے ډیرے بهانے جوړے کړے وے. المراد بیان فرط عنادهم وشدة شکیمتهم فی المکابرة (روح ص۱۲۲ ج۱۹) وَلَوۡ نَزَّلۡنٰهُ عَلٰی بَعۡضِ الۡاَعۡجَمِیۡنَ الذی لا یحسن العربیة فضلا ان یقدر علی نظم مثله فقرأه علیهم هکذا معجزا لکفروا به کما کفروا و لتمحلوا لجحودهم عذرا و سموه سحرا (مدارک ص۱۵۱ ج۳) یا مطلب دا دے چه که چرے مونږ دا قرآن په یو عجمی باندے په عجمی ژبه کښے نازل کړے وے نو د غرور او تکبر د وجے نه به یے ایمان نه راوړلے. او عذر به یے کولے چه مونږ خو د دے په ژبه نه پوهیږو. وقیل المعنی ولو نزلناه علی بعض الاعجمین بلغة العجم فقرأه علیهم ما کانوا به مؤمنین لعدم فهمهم واستنکافهم من اتباع العجم (ابوالسعود ص۵۵۸ ج۶) لیکن علامه ابوالسعود دا معنی د مقام مناسب نه ده ګڼړلے. هغه د دے ذکر شوے معنی نه روستو فرمائی ولیس بذلك فانه بمعزل من المناسبة لمقام بیان تمادیهم فی المکابرة والعناد.

۹۷ دا تخویف دنیوی دے. په سلکنٰه کښے ضمیر مفعول د شرک او تکذیب یا استهزا نه کنایه دے. قال ابن عباس والحسن و مجاهد ادخلنا الشرك والتکذیب (معالم وخازن ص۱۰۱ ج۵) د مشرکانو په زړونو کښے د شرک بیماری او بیا د توحید تکذیب او په هغے پسے د استهزاء بیماری ننو ټلے ده. او هغوی تر هغے پورے ایمان نه راوړی تر څو چه دردناك عذاب اونه وینی. فیاتیهم بغتة الخ لیکن عذاب به په هغوی ناساپه راځی او د هغے نه څخکښے به هغوی ته علم نه وی. د دے دپاره چه د هغے د راتلو نه وړاندے هغوی ایمان راوړی. فیقولوا الخ چه کله عذاب راورسیږی نو اوس به په حسرت او افسوس سره ارمان وکوی چه هغوی ته مهلت ورکړے شی د دے دپاره چه هغوی د خپلو ګنیو بد و عملونو په ځائے نیك کارونه اوکړی.

۱۶ دا په مشرکانو باندے زجر دے یعنی دا ظالمان یو طرفته خو مطالبه کوی، چه عذاب زر راشی. او بل طرفته چه کله عذاب راځی نو بیا مهلت غواړی. افرءیت ان متعنهم ... نه تر... ما کانوا یمتعون ه دا د مشرکانو دعناد او تکبر زیات وضاحت دے. دا ئان دا ښودل مقصود دی چه ایمان او نیک عمل نه بغیر په عمر کښے اضافه هغوی هرګز د الله د عذاب نه نشی بچ کولے. یعنی که چرے مونږ هغوی ته زیات مهلت هم ورکړو. او هغوی دد دے دژوند نه خوند اومزه واخلی. د هغے نه روستو ددوی د مسلسل کفر او شرك د وجے نه عذاب راشی دکوم چه وعده کړے شویده نو دے مهلت نه به هغوی ته څۀ فائده اورسیږی نه به هغوی د ضد او عناد د وجے نه د کفر او انکار نه منع شی اونه به د خدائی عذاب د هغوی نه لرے کړے شی.
۱۷ تخویف د نیوی دے یعنی مونږ د خپل حجت قائمولو نه مخکښے هیڅ یو قوم هلاك کړے نۀ دے. مونږ هر قوم ته د توحید دعوت پیش کونکی اوزمونږ د عذاب نه ویرونکی پیغمبران لیږلی دی چه کله قوم مسلسل تکذیب اوکړو نو موتږ هغوی هلاك کړل مونږ په هیڅ یو قوم باندے ظلم نۀ دے کړے او د حجت قائمولو نه مخکښے مونږ چا ته عذاب نۀ دے ورکړے.
۱۸ دا د وَاِنَّهٗ لَتَنْزِیْلُ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ سره متعلق دے. دد دے په یاره کښے مشرکانو دوه شبهے پیکاره کړے وے اوله دا چه د محمد (صلی الله علیه وسلم) پیریان تابع دی. چه دۀ ته خبرونه راوړی. دویمه دا چه دے شاعر دے اود دۀ کلام شاعرانه وی چه اوریدونکی فوراً متأثره کوی. دا د مشرکانو د اولے شبهے جواب دے. وهو رد لقول مشرکی قریش ان محمد صلی الله علیه وسلم تابعًا من الجن یخبره کما تخبر الکهنة وان القران مما القاه الیه علیه الصلوة والسلام (روح ص۱۳۰ ج۱۹) یعنی دا قرآن چه د تبارك په دعوی باندے مشتمل دے شیطانانو نۀ دے راوړے ځکه چه شیطانان خو پلیت اوخبیث دی هغوی د دے لائق نۀ دی اونۀ د هغوی دا طاقت شته ځکه هغوی د ملأ اعلی (فرشتو) د خبرو نه لرے کړے شویدی او ددوی رسیدل هلته ممکن نۀ دی.
۱۹ فاء فصیحه دۀ او دا د ماقبل ثمره او نتیجه دۀ چه په پنځه امورو مشتمل دۀ. دا اول امر دے. یعنی ثابته شوه چه برکتونه ورکونکے الله تعالی دے. بل څوك نۀ دے. او دا دعوی د الله د طرفنه دۀ. نو او س د الله نه علاوه په حاجتونو کښے بل چاته اواز مه کوئ ګنی سخت عذاب به وی. وَاَنْذِرْ عَشِیْرَتَكَ الْاَقْرَبِیْنَ. دا دویم امر دے. خپل نزدے رشته دار هم اوویروه چه هغوی د الله نه سوا بل څوك برکتونه ورکونکے اوګنړی. وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ الخ دا دریم دے چا چه ایمان راوړیدے هغوی سره د نرمئ معامله کوه. فَاِنْ عَصَوْكَ الخ دا څلورم امر دے. مشرکان چه ستا خبره نۀ منی هغوی ته صفا اووایه چه زۀ ستاسو د مشرکانه عملونو نه بیزاره یم. وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِیْزِ الرَّحِیْمِ الخ دا پنځم امر دے. او په د یکښے نبی علیه السلام ته تسلی ورکړے

مشرکان ستاسو خبره نه منی نو تاسو فکرمه کوئ. هغوی ستاسو هیڅ نقصان هم نشی کولے تاسو په الله باندے بهروسه اوکړئ هغه به تاسو په مشرکانو باندے غالب کړی ځکه چه هغه غالب او مهربان دے. هغه خپل دشمنان مغلوب او خپل دوستان غالب کوی.

۵۵ الله تعالیٰ ستاسو حافظ او ناصر دے هغه ستاسو ټول نقل و حرکت وینی. حِيْنَ تَقُوْمُ ه چه کله تاسو مانځه دپاره اودریږئ. وَتَقَلُّبَكَ فِي السّٰجِدِيْنَ ه او چه کله صحابو ته مونځ ورکوئ هغه وخت د مانځه دیو حالت نه بل حالت ته ستاسو کرځیدل هم پیژنی. یعنی قیام، رکوع، سجود او قعود وغیره حالاتو کښے. (حِيْنَ تَقُوْمُ) ای الی الصلوٰة (وتقلبك) ای ویری سبحانه تغیرك من حال کالجلوس والسجود والی اخر کالقیام (فِي السّٰجِدِيْنَ) ای فیما بین المصلین اذا امهتم (روح ص۱۳۶ ج ۱۹) یا مطلب دا دے چه کله ته د تهجد و مانځه ته پاسے هغه وخت هم تا وینی. وَتَقَلُّبَكَ فِي السّٰجِدِيْنَ ه او د تهجد و مونځ کونکو کښے ستاسو کرځیدل راکرځیدل هم وینی. د السّٰجِدِيْنَ نه صحابه کرامؓ مراد دی چه د تهجد و مونځ به یے کولو. نبی علیه السلام به د شپے چکر لګولو چه صحابهؓ څنګه عبادت کښے مشغول دی او کوم قسم عبادت کوی. وهو ذکر ما کان یفعله فی جوف اللیل من قیامه للتهجد وتقلبه فی تصفح احوال المتهجدین من اصحابه لیطلع علیهم من حیث لا یشعرون ولیعلم کیف یعبدون الله ویعملون لآخرتهم (مدارک ص۱۵۲ ج ۳) اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ه دا د ماقبل دپاره علت دے. یعنی هغه ستاسو ټول حالات پیژنی. په دے وجه هغه هرڅه اوریدونکے او په هرڅه باندے خبر دے. سیوطیؒ وغیره او شیعه ګانو د سٰجِدِيْنَ نه د نبی علیه السلام پلار نیکه مراد اخستی دی. او دینه یے ثابته کړیده چه د نبی علیه السلام په پلرونو او نیکونو کښے څوك مشرك نه وُو. لیکن دا مفهوم د ظاهر نه خلاف دے. او نه په دے سره استدلال صحیح دے څنګه چه علامه الوسیؒ فرمائی انی لا اقول بحجیة الآیة علی هذا المطلب (روح ص۱۳۵ ج ۱۹)

۵۶ دا د اول جواب سره متعلق دے. او په د یکښے بنودلے شویدی چه په نبی علیه السلام باندے د شیطانانو نازلیدل ناممکن دی. یعنی شیطانان خو کاهنانو ته راځی چه ډیر زیات دروغژن او بد عمله وی. هغوی د شیطانانو خبرے په غور سره اوری او د هغوی اکثر خبرے دروغ او بے اصله وی. لیکن د دے برعکس نبی علیه السلام ټول رښتونے او صفا دے. هغه نزنته پورے په ټول ژوند کښے چرته هم دروغ نه دی ویلی د هغه عمل هم د اُتلنے پښان پاك او صفا دے. د دے وجه نه د شیطانانو راتلل نبی علیه السلام ته ناممکن دی. وحیث کانت ساحة رسول الله صلی الله علیه وسلم منزهة عن ان یحوم حولها شائبة شئ من تلك الاوصاف اتضح استحالة تنزلهم علیه علیه الصلوٰة والسلام (ابو السعود ص۵۲۳ ج ۶)

۵۷ دا د مشرکانو د دویمے شبهے جواب دے. مشرکانو ویلی وُو چه محمد (صلی الله علیه وسلم)

شاعر دے۔ او د شاعرانو پشان شعر جوړوی نو دلته د هغې جواب ورکړے شو. مسوق لتنزیهه علیه الصلوٰة والسلام ایضا عن ان یکون وحاشاه من الشعراء وابطال زعم الکفرة ان القران من قبیل الشعر (روح ص۱۴۵ ج ۱۹) یعنی د شاعرانو تابعداری خو ګمراه خلق کوی. مطلب دا چه شاعران په خپله ګمراه وی. د دے وجے نه هغوی په خپلو اشعارو کښے د کفر او شرک او ضلالت کوم مضمونونه چه بیانوی ګمراه خلق د هغې تابعداری کوی. قاله الشیخ قدس سرهٗ.

۷۸ے دا د شاعرانو د ګمراه کیدو اولنے دلیل دے. دا خبره مشاهده کښے راغلے ده. چه شاعران په هره وادئ کښے ګمراه ګرځی هغوی د حق او باطل او د یو څیز په صفت او بدی بیانولو کښے په کمی زیاتی کښے غرض دا چه په هر میدان کښے طبع آزمائی کوی وانهم یقولون الخ دا د هغوی د ګمراه کیدو دویم دلیل دے چه د دوی په قول او عمل کښے موافقت نشته. هغوی په ژبه یو څه وائی او کوی بل څه. لیکن د نبی علیه السلام ذات د دے دوارو ګمراهونه پاک دے د هغه ژبه صرف حق وائی او چه په ژبه څه وائی په هغې عمل هم کوی. فقد ظهر بهٰذا ان حال محمد صلی الله علیه وسلم ما کان یشبه حال الشعراء (کبیر ص۵۹۴ ج ۶)

۷۹ے مؤمنان او نیک شاعران د ماقبل نه مستثنیٰ کړے شول. کوم شاعران چه مؤمنان او صالحان دی. او په خپلو اشعارو کښے د الله توحید او د هغه حمد او ثناء او د پیغمبر صفت او د ترغیب او ترهیب ذکر کوی. هغوی د چا په بدو ویلو کښے شروع نه کوی. کهٔ چرے څوک په اسلام یا د پیغمبر علیه السلام په ذات باندے حمله او کړی نو د هغې جواب ورکوی. ای کان ذکر الله وتلاوة القران اغلب علیهم من الشعر واذا قالوا شعرا قالوه فی توحید الله تعالیٰ والثناء علیه والحکمة والموعظة والزهد والادب ومدح رسول الله صلے الله علیه وسلم والصحابة وصلحاء الامة ونحو ذٰلک مما لیس فیه ذنب (مدارک ص۱۵۳ ج ۳)

۸۰ے دا تخویف دُنیوی دے. اَلَّذِیْنَ ظَلَمُوْٓا نه مُشرکان مراد دی چه د توحید نه یے انکار کولو او په نبی علیه السلام به یے قسما قسم اعتراضونه کول. ای اشرکوا وهجوا رسول الله صلے الله علیه وسلم وهو الطاهر المطهر من الهجاء (خازن ومعالم ص۱۱ ج ۵) اُوس مشرکان قسما قسم اعتراضونه کوی او د ضد او عناد په وجه د توحید دعوی نهٔ منی لیکن نزدے ده چه پوه به شی چه د هغوی انجام څهٔ دے. دا د مُشرکانو دپاره سخت وعید دے. ولما ذکروا انتصروا من بعد ما ظلموا توعد الظالمین هٰذا التوعد العظیم الهائل الصادع للاکباد وابهم فی قوله اَیَّ مُنْقَلَبٍ یَّنْقَلِبُوْنَ (بحر ص۴۹ ج ۷) تهدید شدید ووعید اکید (روح ص۱۵۳ ج ۱۹)

وَاٰخِرُ دَعْوٰنَآ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ
رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ۝

په سورة الشعرآء کښې د توحید آیتونه

① اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الْاَرْضِ ـــ نه تر ـــ مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ۝ هر کله چه ټول کارونه الله کوي نو برکتونه ورکونکے هُم صرف هغه دے بل څوك نۀ دے.

② اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ ـــ نه تر ـــ وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا كَذٰلِكَ يَفْعَلُوْنَ ۝ (ع ۵) نفي د شرك في التصرف.

③ اَلَّذِيْ خَلَقَنِيْ فَهُوَ يَهْدِيْنِ ـــ نه تر ـــ وَالَّذِيْ يُمِيْتُنِيْ ثُمَّ يُحْيِيْنِ ۝ دا ټول کارونه د الله په اختيار کښې دي، د دے وجے نه کارساز او برکتونه ورکونکے هُم هغه دے.

④ وَقِيْلَ لَهُمْ اَيْنَمَا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ـــ نه تر ـــ وَمَآ اَضَلَّنَآ اِلَّا الْمُجْرِمُوْنَ ۝ مُشرکان چه څوك برکتونه ورکونکي او سفارشيان ګڼړي د قيامت په ورځ به هغوی دوی لره د الله د عذاب نه خلاص نکړے شي. معلومه شوه چه دُنيا او آخرت کښې الله تعالی برکتونه ورکونکے دے بل څوك نۀ دے.

⑤ وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ـــ نه تر ـــ عُلَمٰٓؤُا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ (ع ۱۱) د تَبٰرَكَ دعوی د الله د طرفنه نازله شويده، هغه په مخکينو کتابونو کښې هُم ذِکر ده او د اهلِ کتابو عالمان هُم د دے صداقت پيژنی.

⑥ فَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَكُوْنَ مِنَ الْمُعَذَّبِيْنَ ۝ هر کله چه ثابته شوه چه د الله نه سِوا بل څوك برکتونه ورکونکے نشته. نو په حاجتونو او مصيبتونو کښې د هغۀ نه سِوا بل چا ته آواز مه کوئ.

۲۷ سُورَةُ النَّمْلِ

ربط :- د سورة نمل ماقبل سره اسمی ربط دا دے. په سُورة فرقان کښے یے اُوفرمائیل
چه دا د توحید دعوی دحق اوباطل په مینځ کښے فرق کوُنکے ده بیا یے په سورة شعراء
کښے اُوفرمائیل چه دا شاعری نه ده بلکه د الله له طرفه نازل کړے شویده. اوس به په
سورة نمل کښے بیان وی چه ددے په باره کښے د نمل (میږی) بیان هم واوری. يَا أَيُّهَا
النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ۝ اے میږو!
خپلو سوړو ته ننوځئ چرته سلیمانؑ او د هغهٔ لښکر تاسو په ناپوهئ سره دخپولا لاندے نه کړی
شکه چه سلیمان علیہ السلام او د هغهٔ ملګری چه اولیاء الله وو عالم الغیب نهٔ وُو. وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ
دقیق نه معلومه شوه چه د میږو نو هم دا عقیده وه چه سُلیمان علیه السلام او د هغهٔ ملګری
عالم الغیب نهٔ وُو.

د سورة نمل د ماقبل سره معنوی ربط دا شان دے چه په سورة فرقان کښے دعوی
تَبَارَكَ یاند ے زیات عقلی دلائل ذکر کړے شول او په سورة الشعراء کښے زیات نقلی
دلائل ذکر کړے شول. اوس په سورة نمل کښے د څلورو واقعاتو په ضمن کښے د منکورة
دعوے دوه علتونه بیانولے شی. یعنی عالم الغیب کیدل او کارساز او متصرف او مختار
کیدل. چونکه عالم الغیب او کارساز صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نهٔ دے. ددے وجے
نه برکتونه ورکوُنکے هم بس هغه دے.

خلاصه :- تِلْكَ آيَاتُ الْقُرْآنِ - نه تر - وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ۝ تمهید مع ترغیب
الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ الخ بشارت. إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ - نه تر - هُمُ الْأَخْسَرُونَ
تخویف اُخروی. وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْآنَ الخ ترغیب الی القرآن مع تسلی. إِذْ قَالَ مُوسَىٰ
لِأَهْلِهِ - نه تر - فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ۝ دا اوله واقعه ده او ددے په
ضمن کښے د تَبَارَكَ دعوی دا اول علت بیان مقصود دے. یعنی صرف الله تعالیٰ عالم الغیب
دے. د موسیٰ علیه السلام ددے واقعے د تفصیلاتو نه معلومیږی چه هغه په غیبو عالم نهٔ وُو
وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ عِلْمًا (ع۲) - نه تر - وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَانَ لِلَّهِ رَبِّ
الْعَالَمِينَ ۝ دا دویمه واقعه ده - او ددے په ضمن کښے هم دا اول علت ذکر دے. د هُدْهُد
د غائب کیدلو وجه، د ملکهٔ سبا او د هغے د قوم د حالاتو علم حضرت سُلیمان علیه السلام
ته نهٔ وُو. دینه معلومه شوه چه هغه په غیبو عالم نهٔ وُو - عالم الغیب صرف الله تعالیٰ
دے. ددے وجے نه برکتونه ورکوُنکے هم صرف هغه دے.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا... نه تر... وَأَنجَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا
يَتَّقُونَ ۝ (ع۴) دا دریمه واقعه ده چه ددے په ضمن کښے د دعوے دویم علت بیان
شوید ے. صالح علیه السلام او ایمان والا الله بچ کړل او مشرکان یے هلاک کړل. ایمان

والا بچ کول او مشرکان هلاکول د الله کار دے او دا د هغه په تصرف کښے دی. دینه
معلومه شوه چه برکتونه ورکوونکے هم صرف هغه دے بل څوک نه دے. وَلُوْطًا اِذْ قَالَ
لِقَوْمِهٖ ۔ نه تر۔ فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِیْنَ۔ دا څلورمه واقعه ده. او ددے په ضمن کښے هم
دویم علت بیان شوے دے۔ الله پاک حضرت لوط علیه السلام او مومنان بچ کړل ۔ او
مجرمان یے هلاک کړل. قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الخ (۵۶) دا د لف نشر غیر مرتب په طور په دریمه
او څلورمه واقعه باندے تفریع ده. یعنی ددے دوارو قصو نه معلومه شوه چه د
کارسازئ د صفاتو مالک الله تعالیٰ دے. د کافرانو هلاکول او خپل بندګان د عذاب نه
بچ کول او هغوی ته سلامتی ورکول د هغه کار دے لهٰذا برکتونه ورکوونکے هم صرف هغه دے
او په حاجتونو کښے صرف هغه ته اواز کول پکار دی. دینه روستو په دے علت باندے پنځه
عقلی دلیلونه پیش کړے شوی دی. علی سبیل الاعتراف من الخصم (یعنی مقابل یے هم منی) اول
عقلی دلیل: اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ الخ. دویم عقلی دلیل اَمَّنْ جَعَلَ الْاَرْضَ
قَرَارًا الخ دریم عقلی دلیل: اَمَّنْ یُّجِیْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ الخ دا مقصودی دلیل دے کله
چه دا ټول تصرفات د الله تعالیٰ په اختیار کښے دی او حاجت روا هم هغه دے نو ددے نه
ثابته شوه چه برکتونه ورکوونکے هم صرف هغه دے. لهٰذا په مصیبتونو او حاجتونو کښے صرف
هغه ته اواز کول پکار دی. څلورم عقلی دلیل: اَمَّنْ یَّهْدِیْکُمْ الخ. پنځم عقلی دلیل:
اَمَّنْ یَّبْدَؤُا الْخَلْقَ الخ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَکُمْ الخ دا د ذکر شوو پنځو دلیلونو سره متعلق
دے۔ یعنی مونږ خو په خپله دعوی باندے واضح دلیلونه بیان کړیدی. لیکن که چرے
اوس یے هم نه منئ نو که کوم دلیل تاسو سره وی هغه پیش کړئ.

قُلْ لَّا یَعْلَمُ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ الخ دا د لف نشر غیر مرتب په طور باندے په اولنو
دوارو قصو باندے متفرع دے. یعنی په زمکه او اسمان کښے د الله نه سوا څوک
عالم الغیب نشته. وَقَالَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا الخ (۶۶) شکوه ده. د دوباره ژوندی کیدو
خبره زمونږ پلرونو او نیکونو ته زمونږ نه مخکښے هم ویلے شوے وه. ایا چه مونږ مړه شو
او خاورے شو نو دوباره به څنګه ژوندی کړے شو. دا خالص یوه قصه ده.

قُلْ سِیْرُوْا فِی الْاَرْضِ الخ منکرینو د پاره تخویف دنیوی دے. وَلَا تَحْزَنْ عَلَیْهِمْ الخ
تسلی ده نبی علیه السلام ته. وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ الخ دا دویمه شکوی ده. قُلْ
عَسٰی اَنْ یَّکُوْنَ الخ دا جواب شکوه دے. اوس په اخر کښے په هر علت باندے عقلی دلیل
ذکر کړے شوے دے۔

وَاِنَّ رَبَّکَ لَیَعْلَمُ مَا تُکِنُّ الخ دا ردمے عقلی دلیل دے او د اول علت سره متعلق
دے یعنی په هر شے باندے عالم صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نه دے. اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ
جمله معترضه ده د نبی علیه السلام د صداقت بیانولو د پاره. فَتَوَکَّلْ عَلَی اللّٰهِ الخ دا
نبی علیه السلام ته تسلی ده. وَاِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ الخ تخویف دنیوی دے. وَیَوْمَ نَحْشُرُ مِنْ
کُلِّ اُمَّةٍ (۸۳) دا تخویف اخروی دے. اَلَمْ یَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا الَّیْلَ الخ دا دویم عقلی دلیل دے

اودویم علت سره متعلق دے یعنی متصرف او مختار الله تعالیٰ دے. لهٰذا برکتونه ورکوونکے هم الله دے. وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ الخ دا تخویفِ اُخروی دے. وَمَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ بشارتِ اُخروی دے. وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ الخ تخویفِ اُخروی دے.

اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ الخ په اخر کښې په ذکرشوے دعوٰی باندے دلیلِ وحی په طور ذکر شوے دے. اِنَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ دا په رومبو دوارو قِصو باندے متفرع دے. یعنی ما ته معلومه نه ده چه عذاب به کله راځی. زه خو صرف ویرونکے یم. قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ الخ دا په رومبو دوارو قِصو باندے متفرع دے یعنی ټول صفات د کارسازئ الله تعالیٰ پورے خاص دی.

مختصر خلاصه

په ابتداء کښې تمهید سره د ترغیب. درے ځله د تسلئ ذکر یو ځل په شروع کښې دویم ځل په اخر کښې د انبیاء علیهم السلام شلور قِصے. د رومبو دوه قِصو په ضمن کښې اول علت بیان کړے شوے دے. او په روستو دوو قصو کښې دویم علت ذکر شوے دے. د هر دلیل نه روستو ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ اُوفرمائیل. د بند یکانو نه سوال کړے شوے دے چه په دے دلیل کښې غور اوکړئ او ووایئ. ایا د الله نه سوا څوک بل اِلٰه کیدے شی؟ او دیته روستو دے د دوو قِصو ثمره ذکر کړه. بیا د لف نشر مرتّب په طور دوارو علتونو باندے یو عقلی دلیل پیش کړے شوے دے. په اخر کښې په طور د ثمره دوارو باندے یو دلیلِ وحی ذکر کړے شوے دے په اخر کښې په طور د لف نشر مرتب باندے اول د مخکینو دوارو قِصو بیا د دوارو روستنو قِصو ذکر کړے شوے دے.

سُوْرَةُ النَّمْلِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثٌ وَّتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورۂ نمل ټوله په مکه کښې نازل شوې او په دیکښے اوه کم سل ایتونه او اووه رکوع ګانے دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع کوم په نوم د الله تعالیٰ چه بے حده مهربانه نهایت رحیم والا دے.

طٰسٓ قف تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ وَكِتَابٍ مُّبِيْنٍ ۝۱ هُدًى وَّبُشْرٰى

دا ایتونه دی د قرآن او ښکاره کتاب د هدایت او خوشخبری

لِلْمُؤْمِنِيْنَ ۝۲ لا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ

د ایماندارو د پاره کوم چه قائم ساتی مونځونه او ورکوی زکوٰة

وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝۳ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

او دوی په اخرت باندے یقین ساتی. کوم خلق چه نه منی که

بِالْاٰخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ اَعْمَالَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُوْنَ ۝٤ اُولٰٓئِكَ

اٰخرت لره نو ښکاره کړي دي مونږ عملونه د دوي پس دوي سرګردانه دي۔ دغه دي

الَّذِيْنَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْعَذَابِ وَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ۝٥

د کومو دپاره چه بد قسم عذاب دے۔ او په اٰخرت کښے هم دوي دي خراب

وَاِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْاٰنَ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ عَلِيْمٍ ۝٦ اِذْ قَالَ

او تاته خو قران رسیږي ﷺ د یو حکمت والا او خبردار د طرفه۔ هر کله چه اووئیل

مُوْسٰى لِاَهْلِهٖٓ اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا ؕ سَاٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِخَبَرٍ اَوْ

موسیٰ ؑ خپل کور والو ته ما لیدلے دے یو اور اوس راوړم تاسو ته د هغے نه څه خبر یا

اٰتِيْكُمْ بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ۝٧ فَلَمَّا جَآءَهَا

راوړم تاسو ته سکروټه بلله شایئ تاسو ګرم شئ بیا چه هر کله اورسیدو

نُوْدِيَ اَنْۢ بُوْرِكَ مَنْ فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا ؕ وَسُبْحٰنَ

هغے ته شو اواز او شو چه برکت دے په هغه چا چه په اور کښے دے او هغوی چه د دے خوا او شا ته دي او

اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٨ يٰمُوْسٰٓى اِنَّهٗٓ اَنَا اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٩

پاک دے ذات د الله چه رب د ټول جهان دے والا اے موسیٰ ؑ هغه زه الله یم زبردست حکمتونو والا

وَاَلْقِ عَصَاكَ ؕ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا

او اوغورزوه همسا خپله۔ بیا چه کله یے اولیده ئے نو خوزیده ونکے لکه د مار چه ګرځي واپس شو چه

وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ يٰمُوْسٰى لَا تَخَفْ ۫ اِنِّيْ لَا يَخَافُ لَدَيَّ

چه په شا یے نه کتل۔ اے موسیٰ! مه ویریږه ﷺ زه چه یم زما په خوا کښے نه ویریږي

الْمُرْسَلُوْنَ ۝١٠ اِلَّا مَنْ ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًۢا بَعْدَ سُوْٓءٍ

رسولان ﷺ مګر چا چه زیاتے اوکړو بیا یے په بدله کښے نیکي اوکړه پس د بدئ نه

فَاِنِّيْ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝١١ وَاَدْخِلْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ

پس زه بخښنے والا مهربان یم ﷺ او داخل کړه خپل لاس په خپل ګریوان کښے ﷺ راوبه وځي

بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٍ ۟ فِىۡ تِسۡعِ اٰيٰتٍ اِلٰى فِرۡعَوۡنَ وَقَوۡمِهٖ ؕ

تک سپین بغیر د څه نقصان نه، د دې دوولس معجزو په شمېر کې ورشه فرعون او د هغه قوم ته لاړ

اِنَّهُمۡ كَانُوۡا قَوۡمًا فٰسِقِيۡنَ ﴿۱۲﴾ فَلَمَّا جَآءَتۡهُمۡ اٰيٰتُنَا مُبۡصِرَةً

شه، بیشکه د هغه خلق وُو نافرمانه وو بیا چه کله ورسیدې هغوته زمونږ معجزې د پوهولو

قَالُوۡا هٰذَا سِحۡرٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۱۳﴾ وَجَحَدُوۡا بِهَا وَاسۡتَيۡقَنَتۡهَاۤ

د پاره وې وئیل دا جادو دې ښکاره او انکار یې ترې اوکړو کله او یقین کړې وُو په هغو

اَنۡفُسُهُمۡ ظُلۡمًا وَّعُلُوًّا ؕ فَانۡظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ

زړونو د هغو د ظلم او تکبر نه پس اوګوره څنګه شوا نجام د

الۡمُفۡسِدِيۡنَ ﴿۱۴﴾ ع

خرابی کونکو

ع ۳
۱۶

نکات:- سر۱ تمهید سره د ترغیب ۱۲ سر۲ تخویفِ اُخروی ۱۲ سر۳ ترغیب الی القرآن ۱۲ سر۴ اولنۍ قصه متعلق د اول علت سره ۱۲

موضحِ قرآن ف۱ اور کښې دننه او بو خوا یل خوا مقرب فرښتې وې او رڼه وُو د هغوی نور وُو او د غیب نه آواز ورکړو الله تعالیٰ ۱۲ منه رح۔

ف۲ او د همسا پیغان نرې مار جوړ شو چه کله یې د فرعون مخې ته اوغورځولو نو اژدها جوړه شوه او غټ شو۔ منه رح ۱۲ ف۳ د موسیٰ علیه السلام نه په خطا سره یو قتل شوې وُو د هغې ویره ورسره وه په زړه کښې، هغه اوبخښلې شو ۱۲ منه رح۔

ف۴ سورة اعراف کښې هغه اووه معجزې ذکر شوې۔

فائده:- هغه نښانې دا دی: قحط، او د میوو کمیدل او طوفان او ملخان او سپږې او چینده خان او وینه او لاس سپین بې عیبه او همسا۔ دا دواړه دلته ذکر شوي دي او اووه په سورة اعراف کښې هغه رکوع کښې د کوم شروع چه وَلَقَدۡ اَخَذۡنَاۤ اٰلَ فِرۡعَوۡنَ بِالسِّنِيۡنَ نه شوې ده۔ منه رحمه الله علیه۔

فتح الرحمٰن ف۱ مترجم وائي چه هغه څوک چه په اور کښې دې ملائکې په هغه نور کښې مصور په صورت د اور دې او هغه څوک چه د اور نه کیرچاپیره وُو نورې فرښتې وې چه د هغوی نه په مرتبه کښې لاندې وې ۱۲

تفسیر

۲ دا تمهید او ترغیب الی القرآن دے. دکِتَابٍ مُّبِيْنٍ نه مراد قرآن دے. د قبیل د عطف د صفت نه په صفت باندے ځکه چه القرآن او کتاب مبین دواړه دیو څیز صفتونه دی. والمراد به القرآن وعطفه علیه مع اتحاده معه فی الصدق کعطف احدی الصفتین علی الاخری کما فی قولهم هذا فعل السخی والجواد الکریم (روح ص۱۵۵ ج۱۹) یا دکتٰبٍ مُّبِيْنٍ نه جنس کتاب مراد دے چه ټولو مخکینو کتابونو ته شامل دے. په دے صورت کښے به اٰیٰتُ الْقُرْاٰنِ سره دے طرفته اشاره وی چه په دے سورت کښے څخه مضامین داسے ذکر شویدی چه په مخکینو کتابونو کښے نه وو لکه اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ یَقُصُّ عَلٰی بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ اَکْثَرَ الَّذِیْ هُمْ فِیْهِ یَخْتَلِفُوْنَ ۔ نه معلومیږی. او کِتَابٍ مُّبِيْنٍ نه هغه مضامینو طرف ته اشاره ده کوم چه په مخکینو کتابونو کښے ذکر شویدی. قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ.

۳ دا د اٰیٰتُ الْقُرْاٰنِ نه حال دے. یا د تِلْكَ دپاره خبر بعد خبر دے (مدارک) یعنی په دے سورت کښے د ذکر شوو غلورو واړه قصو په ضمن کښے د توحید چه کوم مضامین ذکر شویدی په هغے کښے هدایت او صراط مستقیم طرفته رهنمائی وه. دا شان ذکر شوو اوصافو سره متصف مؤمنانو دپاره د بشارت ذکر دے. اَلَّذِیْنَ یُقِیْمُوْنَ الصَّلٰوةَ الخ دا سورت هغه مؤمنانو دپاره هدایت او بشارت دے ځوک چه مونځ قائموی زکوٰة ورکوی او په اٰخرت باندے یقین لری.

۴ دا د منکرینو دپاره تخویفِ اُخروی دے. ځوک چه د اٰخرت نه منکر دی هغوی دے نه علاوه شرک هم کوی او خپل مشرکانه عملونه ډیر ښه خیال کوی. هغوی غیر الله له کارساز او برکتونه ورکونکے گنړی او د هغه د بلل ډیر لوئ نیک کار خیال کوی. هغوی ته به دے ډیره زیاته سخته سزا ورکولے شی. او په اٰخرت کښے به هغوی په لوئ تاوان کښے وی ځکه چه د اجر او ثواب نه به محروم وی او په عذاب کښے راگیر وی. او بس دا د ټولو نه زیاته خساره ده. ای اشد الناس خسرانا لفوات الثواب واستحقاق العذاب (ابو السعود ص۵۰۲ ج۶)

۵ دا ترغیب الی القرآن دے. دا قرآن عظیم الشان کتاب دے چه حکیم او علیم خدائ په خپل پیغمبر نازل کړیدے. په دے وجه دا ضرور منل او په دے باندے عمل کول پکار دی. په دیکښے نبی علیه السلام ته تسلی ده. د سورت په اٰخر کښے هم دپاره د تسلئ ذکر دے. وَلَا تَحْزَنْ عَلَیْهِمْ الخ او فَتَوَکَّلْ عَلَی اللّٰهِ الخ (۶۶) یعنی دا رفیع المنزلة کتاب الله تعالیٰ په تاسو نازل کړیدے. تاسو د الله ربښتونے رسول یئ. که چرته معاندین انکار کوی نو تاسو غم مه کوئ. او په الله بهروسه اوکړئ. د هغه په تبلیغ کښے او اشاعت کښے مشغول اوسئ ستاسو دعوت یقیناً حق دے او اٰخری فتح او کامیابی به ستاسو نصیب شی.

ت دا اوله قصه ده او اول علت دے چه داولے دعوے سره متعلق دے. دد قصے د تفصیلا تو نه معلومیږی چه موسٰی علیه السلام عالم الغیب نه وو. په دے واقعه کښے ایمان والو د پاره هدایت هم دے او بشارت هم. موسٰی علیه السلام د اجارے موده پوره کړه کله چه د خپلے بی بی سره مدین نه مصر ته روان شو په لاره کښے په وادی طوٰی کښے شپه راغله تیاره وه دے وچ نه یے لاره ورکه کړه. او یخنی هم ډیره زیاته وه دغه وخت یو طرفته اور په نظر راغے نو خپلے بی بی ته یے اووئیل چه تاسو دلته ایساره شئ زه د اور خواته ورځم هلته به خوك انسان وی د هغه نه به دلاره تپوس اوکړم که چرے خوك موجود نه وی کم از کم د ګرمید و تود یدلو د پاره خو به یوه لمبه راوړم شهاب ای شعلة مضیئة (مدارك ص۱۵۵ ج ۳) قبس د اسم مفعول په معنو کښے دے او د شهاب د پاره صفت دے یا د هغے نه بدل دے. ای بشعلة نار مقبوسة ای ماخوذة من اصلها فقبس صفة شهاب او بدل منه (روح ص۱۵۹ ج ۱۹)

ث موسٰی علیه السلام چه کله هلته اورسیده نو معلومه شوه چه کوم هغه اور ګڼلو هغه دنیوی اور نه دے بلکه هغه نورانی اور دے او د الله د نور تجلی ده. أن بُورِكَ. ان مخففه من المثقله دے دده اسم مقدر دے او دے نه مخکښے باء مقدر ده. مخففة من الثقیلة وتقدیره نودی بانه بورك والضمیر ضمیر الشان (مدارك ص۱۵۵ ج ۳) چه کله موسٰی علیه السلام هلته اورسیده نو اواز راغے په دے اور کښے چه د کوم ذات د تجلی نور ظاهر دے هغه مبارك دے او ددے نه ګیرچاپیره چه د زمکے کومه حصه ده یا ښکلو ر و طرفونو ته چه کومے فرښتے دی هغه هم مبارك دی اصل برکتونه ورکونکے صرف هغه دے دچا د تجلی نور چه ظاهر یږی. او باقی څیزونو ته هم هغه برکت ورکړو. من فی النار هو نور الله و من حولها الملائکة وهو مروی عن قتادة والزجاج (کبیر ص۵۵۴ ج ۶)

ځ ددے نه مخکښے اَقُوْلُ مقدر دے. یا دا د نُوْدِیَ دلاندے داخل دے او په أَنْ بُوْرِكَ باندے معطوف دے. والظاهر ان قوله وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ داخل تحت قوله نُوْدِیَ الخ (بحر ص۵۶ ج ۷) یعنی الله تعالٰی د مکان، جهت، جسم رنګ او د مخلوقاتو د نور و صفاتو نه پاك او منزه دے په اور کښے د هغه د نور د ظهور مطلب دا نه دے چه معاذ الله د هغه ذات په ده کښے حلول (ننوتل) اوکړو او راغے. بلکه مراد دا دے چه په دیکښے د هغه د ذات تجلی ظهور اوشو.

ڤ اے موسٰی! دا وخت تاسره خبرے کونکے زه یم چه په ټول جهان کښے متصرف او فاعل مختار یم. اَلْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ دا د ماقبل د پاره په منزله د علت دے ځکه چه زه د قدرت په اعتبار سره په ټولو غالب یم او د علم او حکمت په اعتبار سره په هر څیز حاوی یم. وَاَلْقِ عَصَاكَ دا الله تعالٰی د خپل قدرت او حکمت ذکر کړونه روستو موسٰی علیه السلام ته د خپلے همسا په زمکه باندے د غورزولو حکم ورکړو دے د پاره چه دا

خبره واضحه شي چه دا د همسا او د يد بيضاء معجزه اګرچه د موسىٰ عليه السلام په لاس ظاهره شوه ليکن دا د ظهور خالص د الله په قدرت سره اوشو. ديکښې د موسىٰ عليه السلام د اختيار او تصرف هيڅ دخل نشته.

نله هغه وړوکے مار چه په تيزئ سره حرکت کوي. بل ځائې کښې دے مار ته په ثعبان (اژدها) سره تعبير شوے دے. او دلته د وړوکي مار سره تشبيه ورکړے شوې ده. يعني اګرچه هغه ډير لوئې مار جوړ شو ليکن په حرکت کولو کښې د وړوکي مار په شان وو. شبهها سبحانه فى شدة حركتها و اضطرابها مع عظم جثتها بصغار الحيات السريعة الحركة الخ (روح ص ۱۶۳ ج ۱۹)

للّه موسىٰ عليه السلام اژدها اوليده نو په شا يې منډه کړه او شاته يې هم اونه کتل نو ارشاد اوشو اے موسىٰ! مه ويريږه ځکه چه ځما په نزديکت کښې پيغمبر د هيڅ څيز نه نه ويريږي. ديته معلومه شوه چه موسىٰ عليه السلام ته د دومره لوئې شان باوجود دا معلومه نه شوه چه دا مار به هغه ته ضرر نشي رسولے. د ديته دا خبره واضحه شوه چه هغه عالم الغيب نه وو او په هر څيز باندے علم لرل د الله تعالىٰ خصوصيت دے. په دے سره ايمان والو ته هدايت او رهنمائي ملاويږي. چه برکتونه ورکونکے صرف الله تعالىٰ دے بل څوک نه دے. اِلَّا مَنْ ظَلَمَ الخ استثناء منقطع ده او الا په معنىٰ د لكن سره دے. او بدل په معنىٰ د تَابَ قال صاحب المطلع والمعنى عليه لكن من ظلم من سائر العباد ثم تاب فانى اغفرله (روح ص ۱۶۵ ج ۱۹) يا لَا يَخَافُ په معنىٰ د لَا يَتَضَرَّرُ يعني تكليف نه اوچتوي او الا په معنىٰ د بَلْ دے چه د ترقئ د پاره راغلې دے صورت کښې به حاصل دا وي چه اے موسىٰ! زه په چا باندے ظلم نه کوم دے د پاره چه څوک ځما نه په ويره اوتښتي. بلکه که څوک ظلم اوکړي او د هغې نه روستو توبه کړي او خپله اصلاح اوکړي نو زه هغه هم معاف کوم او په هغه رحم کوم ځکه چه زه غفور او رحيم يم قاله الشيخ رحمه الله

للّه دا دويمه معجزه ده. مِنْ غَيْرِ سُوْءٍ يعني د لاس سپين ښکاره کيدل به د برص (برګي) وغيره د کومے بيمارئ په وجه نه وي بلکه دا يوه معجزه ده. مِنْ غَيْرِ سُوْءٍ من غير برص (معالم و خازن ص ۱۱۳ ج ۵) فِىْ تِسْعِ اٰيٰتٍ الخ دا د فعل مقدر سره متعلق دے. اى ارسلنا. يعني موږ هغه د نهه معجزو سره اوليږه. دوه دلته ذکر شوي دي او اووه د ديته علاوه دي. فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ الخ مبصرة د اٰيٰتُنَا نه حال دے. دا د فرعون او د قوم فرعون د فسق او فجور او د هغوي د ضد او عناد حد وو. کله چه هغوي واضحه او روښانه معجزے اوليدے نو د منلو په ځائې يې صفا اووئيل چه دا ټول د جادو کارنامه ده.

۳له ظُلْمًا وَّعُلُوًّا دا دواړه د جَحَدُوْا د پاره مفعول له دي. او وَاسْتَيْقَنَتْهَآ اَنْفُسُهُمْ جمله د جحدوا د فاعل نه حال دے. د فرعون قوم د زړه نه د موسىٰ عليه السلام د معجزو د حق کيدو پوره پوره يقين وو. ليکن هغوي محض د بے انصافئ او د غرور او تكبر د وجے نه د هغې نه انکار اوکړو. فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ الخ بيا اوګوره د دغه معاندينو او سرکشو انجام څه شو. الله پاک هغوي غرق کړل. د هغوي ټول غرور يې د ځاوړو سره

ملاؤ کړو. موسیٰ علیه السلام او بنی اسرائیلو ته چاچه په موسیٰ علیه السلام باندے ایمان راوړو هغوی ته
یې د مصیبتونو نه نجات ورکړو او په دُنیا او اخرت کښے یې هغوی ته آرام او راحت او
عزت ورکړو. دیکښے مؤمنانو دپاره د خوشخبری اړخ دے.

۞

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ عِلْمًا ۚ وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ

او مونږ ګاله ورکړو داؤد او سلیمان ته یو علم. او دواړو اوویل شکر دے دالله

الَّذِىْ فَضَّلَنَا عَلٰى كَثِيْرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۵﴾ وَ

چاچه مونږ له غوره والے راکړیدے په ځیلو ډیرو بندګانو ایماندارو باندے. او

وَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ وَقَالَ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا

قائم مقام شو سلیمان د داؤد او وے ویل اله اے خلقو! مونږ ته ښودلے شویدی

مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَاُوْتِيْنَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ ؕ اِنَّ هٰذَا

خبرے د الوتونکو ځناورو او راکړے شویدے مونږ ته د هر شی نه. بیشکه دا دے

لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۶﴾ وَحُشِرَ لِسُلَيْمٰنَ جُنُوْدُهٗ مِنَ

فضیلت ښکاره ف او جمع کړے شوے سلیمان ته د دهٔ لښکرے د

الْجِنِّ وَالْاِنْسِ وَالطَّيْرِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَتَوْا

پیریانو او انسانانو او د الوتونکو ځناورو بیا د دوی دپاره جوړے شوے ترڅو چه کله ورسیدل

عَلٰى وَادِ النَّمْلِ ۙ قَالَتْ نَمْلَةٌ يّٰۤاَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا

د میږو میدان ته اله وے ویل یوے میږی اے میږو! ننوزئ

مَسٰكِنَكُمْ ۚ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ ۙ وَهُمْ لَا

ځیلو کورونو ته چه ونهٔ چقوی تاسو لره سلیمان او دهٔ فوجونه او هغوی خبر

يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۸﴾ فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّنْ قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ

هم نهٔ وی ف بیا مسکے شو وے خندل د دے په خبرهٔ اله او وے ویل اے ځماربه!

أَوْزِعْنِيٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِيٓ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى
په قسمت کښې راکړه چه شکر اوکړم ستا د احسان هغې چه تا اوکړو په ما او څما په
وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَأَدْخِلْنِي
مور او پلار او دا چه اوکړم کار نیک چه ستا خوښ شي او داخل کړې ما
بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصّٰلِحِيْنَ ⑲ وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ فَقَالَ
په خپل رحمت سره په عملو نیکو بندګانو کښې ۳۱ او حاضري یې واخستنه د الوتونکو مرغانو
مَا لِيَ لَآ أَرَى الْهُدْهُدَ ۖ أَمْ كَانَ مِنَ الْغَآئِبِيْنَ ⑳
نو وې وئیل څه دي چه زه نه وینم هُدْهُد لره ئله یا دے هغه غائب
لَأُعَذِّبَنَّهٗ عَذَابًا شَدِيْدًا أَوْ لَآ أَذْبَحَنَّهٗٓ أَوْ لَيَأْتِيَنِّيْ
ده له به سزا ورکړم سخته سزا یا به یې ذبحه کړم یا به راوړي ما ته
بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ㉑ فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيْدٍ فَقَالَ أَحَطْتُّ بِمَا
څه دلیل واضحه بیا د پیروخت نه وو شوے ئله چه راغے هُدْهُد وئیل ما راوړیدلے خبر دیو
لَمْ تُحِطْ بِهٖ وَجِئْتُكَ مِنْ سَبَإٍۭ بِنَبَإٍ يَّقِيْنٍ ㉒ إِنِّيْ
شي چه تا ته یې خبر نه وو او راغلم تا ته د سبا نه په یو خبر حقیقي دي ما
وَجَدْتُّ امْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ وَأُوْتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ
بیا موندلې ده ئله یوه ښځه چه په دوي باندې بادشاهي کوي او دے ته هر شے ورکړے شوے
وَّلَهَا عَرْشٌ عَظِيْمٌ ㉓ وَجَدْتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُوْنَ
او د هغې یو لوئې تخت دے ۵ ما بیا موندلې ده هغه او قوم د هغې چه سجده کوي
لِلشَّمْسِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ أَعْمَالَهُمْ
نمر ته د الله نه سِوا او ښائسته ښکاره کړي دي دوي ته شیطان کارونه د دوي
فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُوْنَ ㉔ أَلَّا يَسْجُدُوْا
پس منع کړي یې دي دوي لره د لارې نه پس هغوي لار نه مومي ولې نه کوي سجده

لِلّٰهِ الَّذِیْ یُخْرِجُ الْخَبْءَ فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ یَعْلَمُ

الله ته کوم چه راوباسي پټ شيزونه چه اسمانونو کښے او په زمکه کښے او پوهيږي

مَا تُخْفُوْنَ وَ مَا تُعْلِنُوْنَ ﴿۲۵﴾ اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ رَبُّ

په هغه څه چه تاسو يے پټوئي او ښکاره کوئي وف الله دے چه نشته د عبادت لائق ګر هغه دے۔

الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ ﴿۲۶﴾ قَالَ سَنَنْظُرُ اَصَدَقْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ

پروردګار د لوئي تخت وله سليمان او وئيل مونږ ګورو چه تا رښتيا او وئيل او که ته

الْكٰذِبِیْنَ ﴿۲۷﴾ اِذْهَبْ بِّكِتٰبِیْ هٰذَا فَاَلْقِهْ اِلَیْهِمْ ثُمَّ

دروغژن يے۔ يوسه زما دا خط او ورے غورزوه هغوی ته بيا د

تَوَلَّ عَنْهُمْ فَانْظُرْ مَا ذَا یَرْجِعُوْنَ ﴿۲۸﴾ قَالَتْ یٰۤاَیُّهَا

هغوی نه واپس راځه بيا ګوره چه هغوی څه جواب درکوی وف وے وئيل ملکه اے

الْمَلَؤُا اِنِّیْۤ اُلْقِیَ اِلَیَّ كِتٰبٌ كَرِیْمٌ ﴿۲۹﴾ اِنَّهٗ مِنْ سُلَیْمٰنَ

دربار والو ما ته راغورزولے شوے دے يو خط عزتمن شه دغه خط دے د سليمان د طرفه

وَ اِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ﴿۳۰﴾ اَلَّا تَعْلُوْا عَلَیَّ

او هغه دا دے شروع د الله د نوم نه چه بيحده مهربانه نهايت رحم والا دے چه زور مه کوئ زما په

وَ اْتُوْنِیْ مُسْلِمِیْنَ ﴿۳۱﴾ ع ۱۷

مقابله کښے او راشئ ما ته حکم منونکی وف

نکات: ۱ دوېمه قصه هم دا شان متعلق ده د اولنی علت سره ۱۲ ۲ د عقلی دليل ثمره په توحيد باندے ۱۲ ۳ دوے نه مخکښے انډ ماچ دے ۱۲

موضح قرآن: ف ۱ وارث شو يعنی نبی شو او بادشاه شود پلار په ځائی، نور خامن يے هم وو، ليکن هغوی دے مقام باندے نه شول۔ او هر څيز يے درکړو يعنی کوم څيزونو نه چه په دنيا کښے ضرورت پيښيږی ۱۲ منه رحمه الله تعالی۔

ف ۲ د ميږی آواز هيڅ نه آوريده او هغه ته معلوم شو۔

ف ۳ دا دوی په پلار باندے خواحسان وو او په مور باندے به يے هم څه احسان وی يو خو مشهوره ده چه ډيره نيکه وه وائي چه هغه داؤد کوم چه په سورة ص کښے دے، دے

میږی په خبره باندے پوهه شو هغهٔ ته شکر یاد شو.

ف۴ سلیمان ﷺ ته د دغه مُلک مفصل حال نهٔ وُو رسیدلے او س ورته اُورسیده
سبا دیو قوم نوم دے د هغوی ملک په عربو کښے وُو د یمن طرفته ۱۲ منه
ف۵ ټولو څیزونو کښے مال اسباب او حسن وجمال هُم راغے. او د هغے د ناستے تخت
دومره د تکلف وُو چه د دغه وخت د هیڅ یو بادشاه نهٔ وُو ۱۲ منه
ف۶ د هُدهُد روزی ده د شکو نه چینجی راویستل او هغه خوړل نهٔ دانه خوری او
نهٔ میوه خوری. د هغهٔ د الله هُم دے قدرت سره کار دے ۱۲ منه رحمه الله تعالٰی.
ف۷ یعنی تهٔ تر ے نه یو خوا ته پټ شه لیکن د هغے د دربار حالاتو نه ځان پوره
خبر کړه. هُدهُد خط یوړو چرته چه بلقیس یوا ځے اُوده وه. د کمرے په کهړکئ کښے
داخل شو او خط یے د هغے په سینه کیښودهٔ ۱۲ منه رحمه الله تعالٰی.
ف۸ ویلے شی چه د سرو زرو په کاغذ باندے لیکلے وُو ۱۲ منه رحمه الله تعالٰی.
ف۹ هغوی ته یو حق دین ښودل یے مقصد وُو ۱۲ منه

تفسیر

کله دا دویمه قِصه ده او د دے په ضمن کښے هُم د اولنی علت بیان مقصود دے. سُلیمان ﷺ ډیر لوئ شان والا پیغمبر وُو الله تعالٰی
هغهٔ ته لوئ عِلم او فضل ورکړے وُو. د انسانانو نه علاوه وحوش او طیور او پیریان
هُم د هغوی تابع وُو لیکن د دے باوجود هغه په غیبو عالم نهٔ وُو هغهٔ ته دا پته
نهٔ لګیده چه هُدهُد چرته دے دا شان هغه د ملکه سبا او د هغے د قوم د حالاتو
نه هُم واقف نهٔ وُو. دا شان د ملکه سبا تخت په راوړلو باندے قادر نهٔ وُو. د دے وجے
یٰاَیُّهَا الْمَلَؤُا اَیُّكُمْ یَاْتِیْنِیْ بِعَرْشِهَا الخ اُو فرمایل. په دے واقعه کښے مؤمنانو د پاره
رهنمائی او هدایت دے چه په ټول هر څهٔ باندے الله تعالٰی عالِم دے بل څوک نهٔ دے
عِلْمًا نه علم دین او نور علوم مراد دی کوم ته چه د هغهٔ ضرورت وُو. تنوین تقلیل
د پاره یا د تعظیم او تفخیم د پاره. یعنی د علومو او فنونو یوه حصه کوم چه د هغهٔ د حال
سره مناسب وه. یا عظیم الشان او کثیر المنفعت علم. ای اٰتینا کل واحد منهما طائفة
من العلم لائقة من علم الشرائع والاحکام وغیر ذلك مما یختص بکل منهما کصنعة
لبوس و منطق الطیر او علما سنیا عزیزا فالتنوین علی الاول للتقلیل وعلی الثانی
للتعظیم (روح ملخصا ص ۱۶۹ ج ۱۹) وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ فَضَّلَنَا عَلٰی كَثِیْرٍ مِّنْ
عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِیْنَ ۝ داؤد او سلیمان د واړه زمونږ شکرګزار بندګان وُو او زمونږ
په نعمتونو باندے به یے زمونږ شکر ادا کولو.

ھله د لته د وراثت نه علمی وراثت مراد دے. د مال وِراثت ترِ مراد نهٔ دے. یا
وراثت د قائمقام کیدلو نه کنایه ده. په دے صورت کښے به علم، نبوت او ملک ټول په
دیکښے داخل دی. ای نبوته وعلمه وملکه دون سائر اولاده وکان لداؤد علیه السلام
تسعة عشر ابنا (معالم وخازن ص ۱۱۲ ج ۵) ای قام مقامه فی النبوة والملك وصار نبیا ملکا

بعد موت ابیه داؤد علیه السلام ؟ انته ، ایا ازعن قیامه مقامه فیما ذکر بعد موته (روح ص۱۷۱ ج ۱۹)

۱۶ د تحدیث بالنعمة په طور باندې یې حصفو ته خطاب کښې د الله دا نعامات ذکر اوکړو - یعنی د الله شکر دے چه ماته یې د ضرورت موافق د مارغانو په خبرو باندې پوهه او علم راکړے دے - او د دینه علاوه هم د هغه انعامات بیشماره دي. دا ټول هر څه محض د الله فضل او کرم دے. د عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ مفهوم دا دے چه د مواقع مطابق الله تعالیٰ ماته د مارغانو په خبرو پوهه راکړې ده یعنی په طور د معجزے. کانت الطیر تکلمه معجزة له کقصة الهدهد (بحر ص۵۹ ج ۷) مِنْ كُلِّ شَيْءٍ کښې كُلّ استغراق دپاره دے. ټول د ضرورت څیزونه څنګه چه په اُوتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ کښې دي.

عن ابن عباس رضی الله عنهما هو ما یهمه علیه السلام من امر الدنیا والاخرة وقد یقال انه ما یحتاجه الملك من آلات الحرب وغیرها (روح ص۱۷۱ ج ۱۹) یا دا د کثرت نه کنایه ده او استغراق حقیقي مراد نه دے. المراد به كثرة ما اوتی كما تقول فلان یعلم كل شیء ومثله واوتیت من كل شیء (مدارک ص۱۵۶ ج ۳)

۱۷ د سلیمان علیه السلام د پیریانو، انسانانو او د مرغانو لښکر جمع کړے شو. او د سفر کولو نه مخکښې هغه په یو خاص ترتیب مرتب کړے شو او په ګنړو دستو کښې تقسیم کړے شول او په هره دسته باندې یو سردار مقرر کړے شو دے دپاره چه ډیر اژدهام او کثرت د وجې نه په تلو راتلو کښې اسانی وی او نظم وضبط قائم پاتے شي.

۱۸ حَتّٰی ابتدائیه دے چه د کلام په شروع کښې راځي. لیکن د یکښې د غایت مفهوم هم دے. یُوْزَعُوْنَ سره چه کوم روانیدو او سفر کولو طرفته اشاره ده دا د هغې غایت دے. کانه قیل فساروا حتی اذا اتوا الخ (روح) یا دا د اٰتَیْنَا دَاوٗدَ وَسُلَیْمٰنَ عِلْمًا غایت دے. یعنی غرض دا چه د هغه د علم نوبت او حد دے ته اُورسیده. چه هغوی ته الله تعالیٰ د میږو خبرے هم واورولے. قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ.

۱۹ د سلیمان علیه السلام لښکر سره د راتلو علم الله تعالیٰ د الهام په طور د میږی په زړه کښې واچولو نو هغه نورو میږو ته اووئیل چه تاسو فوراً خپلو سوړو ته ننوځئ هسے نه چه هغوی تاسو خپو سره میده کړي. ځکه چه هغوی ته ستاسو دلته د موجود والي علم نشته. الظاهر ان علم النملة بان الآتی هو سلیمان علیه السلام وجنوده کان عن الهام منه عزوجل الخ (روح ص۱۷۱ ج ۱۹) د دینه خو یوه دا خبره معلومه شوه چه میږی ته هم دا معلومه وه چه سلیمان علیه السلام او د هغه ملګری مؤمنان پیریان او انسانان په غیبو خبر نه دي. دویمه خبره دا معلومه شوه چه یو میږی ته هم د دے خبرے احساس شته چه د پیغمبر ملګري به قصداً عمداً یو میږے هم د خپو لاندے کوُلے نه شي - لیکن دا علمي په وجه که چرے دا سے اوشي نو دا یوه جُدا خبره ده. کوم خلق چه د خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم په صحابو باندے عیب لګوي هغوی له د دینه عبرت حاصلول پکار

دی. ولیت من طعن فی اصحاب النبی صلے اللہ علیہ وسلم ورضی اللہ تعالٰی عنہم تأسی بہا فکف عن ذلک واحسن الادب (روح ص۱۸۲ ج ۱۹)

۲۰ اللہ تعالٰی د الهام په ذریعه د میږی خبره د سُلیمان علیه السلام په زړهٔ کښې واچوله نو د هغهٔ په خبره باندے تعجب سره مُسکے شو او د اللہ تعالٰی شکریے ادا کړو. انه علیه السلام لم یسمع صوتا اصلاً وانما فهم مافی نفس النملة الهامًا من اللہ تعالٰی (روح ص۱۷۶ ج ۱۹)

رَبِّ اَوْزِعْنِیْٓ. څما پروردِ ګاره! ما ته توفیق راکړے چه زهٔ همیشه د هغهٔ انعاماتو په شکر کښې مصروف یم کوم چه تا په ما باندے او څما په مور پلار باندے کړیدی. مثلاً څما د راتلو علم دِ د میږی په زړهٔ کښې واچولو او د میږی خبره دِ څما په زړهٔ کښې واچوله دا هم انعام دے او په باقی ژوند کښې د نیکو اعمالو په ځائ راوړلو م قائم اوساته او محض په خپله مهربانئ ما د نیکانو په ډله کښې یعنی د مخکینو نبیانو علیهم السلام په ډله کښې شامل کړے.

۲۱ دے دوران کښې سُلیمان علیه السلام د مرغانو خبر واخستهٔ نو هُد هُد (ټلاچړک) یے په نظر رانغے. وے فرمائیل چه څهٔ خبره ده چه هُد هُد په نظر رانغے هغه دے غیر حاضر. لَاُعَذِّبَنَّهٗ الخ چه کله معلومه شوه چه هغه غیر حاضر دے نو وے فرمائیل چه هغهٔ ته به سخته سزا ورکړم یا به هغه ذبح کړم یا به هغه ما ته د خپلے غیر حاضرئ یو معقول او واضح دلیل پیش کړی. دینه واضح شوه چه سُلیمان علیه السلام په غیبو عالم نهٔ وو.

۲۲ بس لږ وخت پس هُد هُد واپس راغے او راتلو سره یے سُلیمان علیه السلام ته او وئیل چه ما داسے معلومات حاصل کړیدی او راغلے یم کوم چه ستا په علم کښې نشته. د ملکهٔ سبا د حالاتو صحیح او یقینی خبر م راوړیدے. د هُد هُد د دے کلام نه معلومه شوه چه د هغهٔ عقیده هم داوه چه سُلیمان علیه السلام عالم الغیب نهٔ وو.

۲۳ دا د هُد هُد کلام دے اوس هغه مُلکِ سبا حالات بیانوی. ماهلته اولیدل چه یوه ښځه په هغوی بادشاهی کوی د حکومت او بادشاهئ ټول ضروریات د هغے سره موجود دی او د هغے څیز کمے نشته. او د هغے تخت ډیر عالی شان دے. وَجَدْتُّهَا وَقَوْمَهَا الخ د سبا سیاسی حالات بیانولو نه پس اوس د هغے مذهبی حالت بیانوی. چه هغه خلق مشرکان دی. ملکهٔ سبا او د هغے قوم ټول نمر ته سجده کوی. شیطان هغوی دهوکه کړیدی او د هغوی مُشرکانه عملونه یے د هغوی په نظرونو کښې ښائسته کړیدی او هغوی یے د توحید د لارے نه منع کړیدی. په دے وجه هغوی په صحیح لاره نهٔ راځی. دا قوم مجوسیان وُو او د ستورو عبادت به یے کولو. انهم کانوا مجوسًا یعبدون الانوار (بحر ص۶۸ ج ۷) کانت هی وقومها مجوسًا یعبدون الشمس (کبیر ص۵۶۰ ج ۶)

۲۴ دینه مخکښې لام تعلیل مقدر دے او هغه د فَصَدَّهُمْ سره متعلق دے. ای فصدهم عن السبیل لئلا یسجدوا فحذف الجار مع ان وادغمت النون فی اللام (مدارک ص۱۵۹ ج ۳) هُد هُد خپل بیان جاری ساتلو کښې اُووئیل چه شیطان هغوی لره د توحید د لارے نه منع کړیدی دے دپاره چه هغوی د کائناتو خالق او د زمکے اسمانونو مالک ته

سجده اونکړي. خوك چه د آسمانونو او زمکے پټ څیزونه ظاهروي او هر ظاهر او باطن پیژنی. د آسمان د پټوشیزونو نه باران او د زمکے د پټو څیزونو نه نبات (شینکی) مراد دے. قال اکثر المفسرین خبأ السماء المطر وخبأ الارض النبات (معالم ص۱۱۹ ج ۵) دهُد هُد کار چونکه دادے چه هغه زمکه اُوکنی او په هغے کښے پټ شوی چینې را اوباسی او هغه خوری په دے وجه هغهٔ د الله تعالیٰ هم دا صفت بیان کړو چه دا پټ څیزونه هم هغه راوباسی.

۲۵ چه کله دا خبره ثابته شوه چه عالم الغیب او کارساز صرف الله تعالیٰ دے. نو معلومه شوه چه د رابللو لائق هم هغه دے بل څوك نه دے. هُد هُد دا ثمره په خپل عقلی دلیل باندے بیان کړیده.

۲۶ د هُد هُد دے عجیبه انکشاف نه پس سُلیمان علیه السلام اُوفرمائیل بنه اوس تحقیقات کوم چه ته رښتیا وائے یا دروغ. دینه هم معلومه شوه چه سُلیمان علیه السلام غیب دان نه وُو. کنی تحقیقاتو ته څه ضرورت وُو. اِذْهَبْ بِّكِتٰبِیْ هٰذَا الخ سُلیمان علیه السلام یو خط اُولیکهٔ او هُد هُد ته یے حواله کړو او ورته فرمائیل دا خط یوسه او د ملکهٔ سبأ ته دے جواب راوړه.

۲۷ دے نه مخکښے اندماج دے یعنی هُد هُد د سُلیمان علیه السلام خط یوړهٔ او بلقیس ته یے اُورسولو. بلقیس خط اُولوستهٔ او خپل مشیران یے راوغوښتل او ورته یے اُووئیل کله چه هُد هُد خط اُورسولو دغه وخت بلقیس په خپل محل کښے اُوده وه. ټول دروازے بندے وے. هُد هُد په یو روشندان کښے ورننوتلو او خط یے دهغے په سینه کیښودهٔ. بلقیس چه راویښه شوه چه کله یے خط اُولیدهٔ نو اُوریدیه چه د دروازو د بندیدو باوجود دا خط څنګه دننه راورسیدهٔ. چه کله هغے خط اُولوستهٔ نو په هغے باندے زیات رُعب او هیبت غالب شو. مشیران یے راجمع کړل او د خط په باره کښے یے ورته اووئیل چه ما ته یو سر بمهر خط رالیږلے دے هغه خط د سُلیمان د طرفه دے. او مضمون یے دا دے: د خدائے رحمٰن او رحیم په نوم سره. ته ځان په مخکښے د خپلے لوئی او د کبر او غرور اظهار مهٔ کوه. او مؤمنه ما ته راشه. د کریم معنیٰ ده مُهر پرے وهلے شوے دے. وقد فسر ابن عباس وقتادة وزهیر بن محمد (الکریم) هنا بالمختوم (روح ص۱۹۱ ج ۱۹) د اول اِنَّهٗ ضمیر کتاب طرفته راجع دے او د اِنَّهٗ دویم ضمیر د کتاب د مضمون نه کنایه ده. حضرت شیخ قدس سرهٔ اُوفرمائیل. د بسم الله متعلق صیغه د امر ده یعنی استعینو بسم الله خاصة ولا تشرکوا یعنی صرف د الله په نوم استعانت کوئ او د غیر الله او ستو رو عبادت مهٔ کوئ.

قَالَتْ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا اَفْتُوْنِیْ فِیْٓ اَمْرِیْ ۚ مَا كُنْتُ قَاطِعَةً

وے وئیل اے درباریانو! مشوره راکړئ ما ته زما په کار کښے ۲۸ زهٔ نه فیصله کوم

أَمْرًا حَتّٰى تَشْهَدُوْنِ ﴿٣٢﴾ قَالُوْا نَحْنُ اُولُوْا قُوَّةٍ وَّ اُولُوْا

یو کار ترهغې چه تاسو حاضر شئ. هغوی او وئیل موږ خلق زور اور یو او سخت

بَاْسٍ شَدِیْدٍ ۙ وَّ الْاَمْرُ اِلَیْكِ فَانْظُرِیْ مَاذَا تَاْمُرِیْنَ ﴿٣٣﴾

جنګ کوونکي یو او کار ستا په اختیار کښې دے پس ته اوګوره چه څه حکم کوے

قَالَتْ اِنَّ الْمُلُوْكَ اِذَا دَخَلُوْا قَرْیَةً اَفْسَدُوْهَا وَ

وے وئیل ملکې بیشکه بادشاهان چه کله ننوځي یو کلي ته خراب یې کړي او

جَعَلُوْۤا اَعِزَّةَ اَهْلِهَاۤ اَذِلَّةً ۚ وَ كَذٰلِكَ یَفْعَلُوْنَ ﴿٣٤﴾ وَ اِنِّیْ

کړي دهغه ځائ سردارانو لره بے عزته او هم داسے کوی دا او زه

مُرْسِلَةٌ اِلَیْهِمْ بِهَدِیَّةٍ فَنٰظِرَةٌۢ بِمَ یَرْجِعُ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٣٥﴾

لیږم هغوی ته څه تحفه ته بیا ګورم چه څه جواب راوړي لیږلے شوی دا

فَلَمَّا جَآءَ سُلَیْمٰنَ قَالَ اَتُمِدُّوْنَنِ بِمَالٍ ۫ فَمَاۤ اٰتٰىنِ ـَۧ

بیا چه کله راغلل سلیمان ته اّله وے وئیل آیا تاسو ما مدد کوئ په مال سره پس څه چه الله

اللّٰهُ خَیْرٌ مِّمَّاۤ اٰتٰىكُمْ ۚ بَلْ اَنْتُمْ بِهَدِیَّتِكُمْ تَفْرَحُوْنَ ﴿٣٦﴾

ما له راکړي دي غوره دي دهغې نه چه تاسو له یې درکړي دي. بلکه تاسو په خپله تحفه خوشحاله اوسئ.

اِرْجِعْ اِلَیْهِمْ فَلَنَاْتِیَنَّهُمْ بِجُنُوْدٍ لَّا قِبَلَ لَهُمْ بِهَا وَ

واپس شه هغوی ته اوس موږ به راسو دوی ته د لښکرو سره چه مقابله د لښکو یې نه دوی نه

لَنُخْرِجَنَّهُمْ مِّنْهَاۤ اَذِلَّةً وَّ هُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿٣٧﴾ قَالَ یٰۤاَیُّهَا

او وبه باسو دوی لره د دغه ځائ نه په بے عزتئ او دوی به خوار وی وو دا وے وئیل اے

الْمَلَؤُا اَیُّكُمْ یَاْتِیْنِیْ بِعَرْشِهَا قَبْلَ اَنْ یَّاْتُوْنِیْ

درباریانو کوم یو په تاسو کښې شوک دے چه راوړي ما ته د هغې تخت ددے نه وړاندے چه هغوی ما ته راشي

مُسْلِمِیْنَ ﴿٣٨﴾ قَالَ عِفْرِیْتٌ مِّنَ الْجِنِّ اَنَا اٰتِیْكَ بِهٖ قَبْلَ

حکم منونکي وي او وئیل یو دیو د پیریانو نه زه به راوړم تا ته هغه مخکښې ددے نه

أَنْ تَقُومَ مِنْ مَقَامِكَ ۖ وَإِنِّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٌ ﴿٣٩﴾
چه ته پورته شې د ځپل ځای نه . او زه په دے زور اور یم معتبر ق
قَالَ الَّذِي عِنْدَهُ عِلْمٌ مِنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ
او وئیل هغه سړی چا سره چه وو یو علم د کتاب زه به راوړم تاته هغه مخکښے د دے
أَنْ يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ ۚ فَلَمَّا رَآهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهُ قَالَ
نه چه واپس شی تاته ستا نظر . پس هر کله چه وے لیدهٔ هغه لره پروت په خپل خوا کښے
هَٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِي أَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ ۖ وَمَنْ
۳۵ وے وئیل دا خما د رب فضل دے چه ازمائش اوکړی خما چه زه شکر کوم او که ناشکری . او چه
شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ
څوک شکر کوی پس شکر کوی د ځان د پاره او چه څوک ناشکری اوکړی پس خما رب بے حاجته
كَرِيمٌ ﴿٤٠﴾ قَالَ نَكِّرُوا لَهَا عَرْشَهَا نَنْظُرْ أَتَهْتَدِي أَمْ تَكُونُ
دے کرم والا ق وے وئیل شکل بدل کړئ ورته د دے ښځے تخت ته هغے مونږ گورو چه هغه پوهیږی
مِنَ الَّذِينَ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٤١﴾ فَلَمَّا جَاءَتْ قِيلَ أَهَٰكَذَا
یا کیږی د هغو خلقو نه چه نه پوهیږی . ق بیا چه کله هغه راغله چا ورته اووئیل آیا داسے دے
عَرْشُكِ ۖ قَالَتْ كَأَنَّهُ هُوَ ۚ وَأُوتِينَا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهَا وَ
ستا تخت؟ وے وئیل گویا دا هغه دے او مونږ ته معلومه شوې وه د دے نه . او
كُنَّا مُسْلِمِينَ ﴿٤٢﴾ وَصَدَّهَا مَا كَانَتْ تَعْبُدُ مِنْ دُونِ
مونږ شو حکم منونکی ق او منع یے کړه دے لره د هغو څیزونو نه د کوم چه یے عبادت کولو د
اللَّهِ ۖ إِنَّهَا كَانَتْ مِنْ قَوْمٍ كَافِرِينَ ﴿٤٣﴾ قِيلَ لَهَا ادْخُلِي
الله نه سوا ئکه البته هغه وه د منکرو خلقو نه . چا ورته اووئیل ځه چه د ننه شه
الصَّرْحَ ۖ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَكَشَفَتْ عَنْ
محل ته پس چه دے ولیده گمان یے پرے اوکړو چه دا اوبه دی ژورے او ښکاره یے کړے خپلے

سَاقَيْهَا ۚ قَالَ إِنَّهُ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّنْ قَوَارِيرَ ۚ قَالَتْ

پنډۍ دے وئیل چه دا یو محل دے چه چراؤ شویدے په پرے شیشه. وے وئیل

رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَانَ لِلَّهِ

اے ربه! ما ظلم کړیدے په خپل ځان اوزه حکم منونکے شوم سره د سلیمان د الله په وړاندے

رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٤﴾ ع ۱۳

چه رب دے د ټول مخلوق ویا

نکات: ۱-ما د دے نه مخکښے ا نه ما ج دے ۱۲

موضح قرآن ف۱ یعنی دا بادشاه به هم دا شان کوی ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ. ف۲ غرض ئی دا وو چه ددغه بادشاه شوق معلوم کړی چه د کوم څیز شوق لری، د مال یا د ښائسته خلقو یا د عجیبه سامان او اسباب هر قسمه څیزونه یے ورلیږلی وو ۱۲ منه رحمه الله تعالےٰ.

ف۳ او هیڅ یو پیغمبر دا سے نه دی فرمائیلی هغه سره د الله د سلطنت زور وو. ځکه یے دا سے او فرمائیل ۱۲ منه رح. ف۴ کافر چه په خپل امان کښے نه وی د هغه مال په زبردستی سره حلال دے کله چه هغه مسلمان شی بیا حلال نه دے ۱۲ منه رح.

ف۵ د خپل ځائی نه یعنی دربار نه د یکښے بیا هم څه زمانه وخت لګیدو. او معتبر یے ځکه او وئیل چه په هغے کښے قیمتی جواهر لګیدلی وو ۱۲ منه رح.

ف۶ یعنی ظاهری اسبابو سره راتلل د الله فضل دے چه څما رفیق (ملګرے) دغه درجے ته رسیدلے. چه هغه نه کرامت صادریږی چه واپس شی نظر یعنی کوم طرف ته کتلو نه. بیا خپل ځان طرفته اوګوری او د هغه سره یو علم وو د کتاب. یعنی د الله د نومونو او کلام اثر کولو. هغه سړے آصف وو د سلیمان علیه السلام وزیر ۱۲ منه رح.

ف۷ شکل بدلول دا چه په هغے کښے جواهر چراؤ شوی وو د هغے نه یے جواهر اوویستل او بیا بل کومه طریقه سره یے ښائسته کړو ځکه چه د هغے د عقل آزمیښت مقصود وو او خپله معجزه ښکاره کول ۱۲. ف۸ یعنی د دے معجزے حاجت نه وو.

ف۹ دیوان خانه کښے ناست وو سلیمان علیه السلام. په هغے کښے د کانړو په ځائی د شیشے فرش وو. د لاندے نه به د زورو اوبو د ډهنډ پشان ښکاریدو. هغے پنډئ ښکاره کړے په اوبو کښے ګډاستو د پاره. سلیمان علیه السلام آواز اوکړو چه دا د شیشو فرش دے اوبه نه دی. هغے ته د خپل عقل قصور او د سلیمان علیه السلام د عقل کمال معلوم شو پوهه شوه چه په دین کښے هم کوم چه دوی خیال کوی نو هم هغه صحیح دے. سلیمان علیه السلام هم اوریدلی وو چه په پنډو باندے یے ویښته دی د چیلئ پشان. په دے طریقه با ند ے معلومه

شوه چه رښتیا ورو د هغې علاج او دوائی یې تجویز کړه. نو هغې اووئیل چه د ښا پېرئ د کیدے
نه پیدا شوے وه. دا اثر د هغې وو.

فتح الرحمٰن فلا سلیمان ﷺ مخپله دے چه بلقیس ته معجزه ښکاره کړی او د هغې عقل او جمال معلوم کړی. که چرے مناسب اوګنړی نو چه نکاح ورسره اوکړی نو تن بیرے برابر کړو. ۱۲

تفسیر ۲۸ د خط مضمون خپلو وزیرانو او مشیرانو ته اورولو نه روستو بلقیس د دباره تولو ته متوجه شوه وے وئیل اے امیرانو! ما ته په دے معامله کښے مشوره راکړئ چه اوس ما له څه پکار دی. ستاسو د مشورے نه بغیر به زۀ هېڅ فیصله نۀ کوم. دے نه د ملکهٔ سبا د طرزِ حکومت اندازه لګی چه هغې سره دخپلو مشیرانو د رائے څومره احترام او قدر دے. قَالُوْا نَحْنُ اُولُوْا قُوَّةٍ الخ د مشیرانو جواب څۀ د هوښیارتیا نۀ دے. د هغې نه د خوشامندئ او نیازمندئ بوئی راځی. دربار والو مشوره ورکړه چه مونږ به د سلیمان سره جنګیږو. ځکه چه زمونږ جنګی او فوجی قوت ډیر زیات مضبوط دے او مونږ په جنګ کښے ډیر بهادر او زړور یو. مونږ خو ستاسو د حکم منتظر یو څۀ حکم چه تاسو کوئ د هغې اطاعت به کوو.

۲۹ بلقیس ډیره هوښیاره حکمرانه وه هغې ته د جنګ انجام ښۀ معلوم وو. هغې د سلیمان ﷺ د خط نه د هغۀ د قوت او غلبے اندازه کړے وه. په دے وجه هغې د دربار یانو مشوره خوښه نۀ کړه او د هغې د خرابئ اظهار یې دا شان اوکړو چه جنګ ښۀ څیز نۀ دے. د هغې انجام ډیر خوفناک او عبرتناک وی. چه کله یو بادشاه په یو ښار حمله کوئ نو هغه تباه او برباد کړی. او د هغې د عزتمن او شریفو خلقو عزت د خاورو سره ملاو کړی او هغوی خوار او ذلیل کړی. د بادشاهانو عادت هم دا دے. د دے وجے نه جنګ کول څۀ ښه مشوره نۀ ده.

۳۰ بلقیس امیرانو ته اووئیل چه زۀ به سلیمان ته تحفے لیږلو سره معلومه کړم چه هغه محض بادشاه دے یا واقعی د الله پیغمبر دے. که چرے هغۀ زما تحفے قبولے کړے نو هغه یو بادشاه دے زۀ به د هغۀ مقابله کوم او که چرے هغۀ تحفے قبولے نۀ کړے او واپس یې کړے نو هغه د الله پیغمبر دے. بیا مونږ له د هغۀ پیروی او د هغۀ اطاعت قبلول پکار دی. قالت لقومها ان کان ملکا دنیویا ارضاه المال وعملنا معه بحسب ذلک وان کان نبیا لم یرضه المال وینبغی ان نتبعه علی دینه (روح ص ۱۹۸ ج ۱۹)

۳۱ چه کله د بلقیس قاصد تحفے راوړے او سلیمان ﷺ ته راورسیدۀ نو هغۀ ته یې اوفرمائیل. آیا تاسو زۀ د مال او دولت محتاج اوګنړلم او ما ماله مدد کول غواړئ؟ ما ته د دے ضرورت نشته. الله تعالیٰ د دین او دنیا کوم نعمتونه چه ما ته راکړی دی. هغه ستاسو د دولت او حکومت نه ډیر زیات دے. تاسو دا هم په ورکوئ او ډیر زیات خوشحالیږئ. ما ته ستاسو د تحفو ضرورت نشته. نه زۀ د دُنیا د دولت طلبګار یم زما

مطالبه صرف داده چه تاسو ایمان راؤړئ - وما ارضی منکم بشیٔ ولا افرح به الا بالایمان وترك المجوسیة (مدارک ص۱۷۲ ج ۳)

۳۷ سُلیمان علیه السلام د بلقیس د قاصدانو لپاره رته حکم ورکړو چه تاسو واپس لاړ شئ او بلقیس او د سلطنت امیرانو ته اووایه چه هغوی مؤمنان ما ته راشی کنی داسے بے حسابه لښکر و سره به په هغوی حمله اوکړم چه د هغې د مقابلے کولو طاقت به په هغوی کښے نه وی او هغوی به د سبا ملک نه ذلیله او رُسوا اُوباسم - دلته په عبارت کښے حذف او تقدیر دے - کانه قیل ارجع الیهم فلیأتونی مسلمین والا فلنأتینهم الخ (روح ص۲۰۱ ج ۱۹)

۳۸ د دینه مخکښے اند ماج دے - چه کله د بلقیس قاصدان واپس اُورسیدل - او ټول حالات یے ورته بیان کړل نو هغه پوهه شوه چه سُلیمان علیه السلام واقعی پیغمبر دے - د دے وجے نه هغے د ایمان راؤړلو او د سُلیمان علیه السلام د اطاعت قبلولو فیصله اوکړه - هغے سرے اُولیږه او یے د چیلے اراده نه سُلیمان علیه السلام خبر کړو - او بیا یے د حکومت منتران او رئیسان ځان سره کړل او د سُلیمان علیه السلام طرفته روانه شوه چه کله ورته د هغے د راتلو خبر ملاؤ شو - نو فیصله یے اوکړه چه د هغې د راتلو نه مخکښے د هغې تخت دلته راشی دینه مقصد دا وُو چه د هغې په حیرت او استعجاب کښے اضافه اُوشی او هغه دالله د قدرت مشاهده اوکړی - سُلیمان علیه السلام دخپل دربار حاضرینو ته اُوفرمائیل چه تاسو کښے څوك شته چه د هغې د راړسیدلو نه مخکښے د بلقیس تخت اُوچت کړی او ما ته یے دلته راؤړی -

۳۹ کله یو دیرلوئ طاقتور پیری اووئیل چه ستاسو مجلس ختمیدو نه مخکښے زهٔ تخت ستاسو مخکښے راؤړم - ځکه چه زهٔ طاقتور هم یم او امین هم یم او د هغے په زراو جواهرو کښے د هیڅ قسمه خیانت هم نهٔ کوم - سُلیمان علیه السلام ته چونکه د دے نه مخکښے تخت بکار وُو - په دے وجه هغوی د دهٔ خبرے ته هیڅ توجه ورنکړه - قَالَ الَّذِیْ عِنْدَهٗ الخ یو سړی اووئیل چا سره چه د کتاب علم وُو چه زهٔ یے د سترګے د رپ نه هم مخکښے راؤړے شم - الَّذِیْ عِنْدَهٗ عِلْمٌ مِّنَ الْکِتٰبِ نه یا خو اصف بن برخیا مراد دے - چه د سُلیمان علیه السلام وزیر وُو - او د اسم اعظم عامل وُو - لیکن د دے باندے اعتراض کیدے شی چه دا شان خو اُمتی د سُلیمان علیه السلام په مخکښے په فضل او کمال کښے د هغهٔ نه زیات شو - دا شان په آیت کښے د دے سړی ته علم الکتاب سره متصف وئیلے شوے دے - او د دے صفت کښے سُلیمان علیه السلام لا محاله فائق (اُوچت) وُو - ان سلیمان علیه السلام کان اعرف بالکتاب منه لانه هو النبی فکان صرف هذا اللفظ الی سلیمان علیه السلام اولی (الثانی) ان احضار العرش فی ذلك الساعة اللطیفة درجة عالیة فلو حصلت لاصف دون سلیمان لاقتضی ذلك تفضیل اصف علی سلیمان علیه السلام وانه غیر جائز (کبیر ص۵۶۶ ج ۶) لیکن که چرے بالفرض د دے نه اصف بن برخیا مراد وی - نو دا به د هغهٔ کرامت وی او کرامت د ولی په اختیار او تصرف کښے نه وی بلکه د

الله په قدرت کښے وی او د هغهٔ په تصرف سره د ولی په لاس ظاهریږی. اهل بدعت وائی.
اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ کښے آصف د راوړلو نسبت ځان طرفته کړیدے. دینه معلومیږی چه
دا کار د هغهٔ په تصرف او اختیار کښے وو لیکن دا ښکاره دهوکه ده ځکه چه دلته اسناد
حقیقی نهٔ دے بلکه مجازی دے. دا کرامت چونکه د آصف بن برخیا په لاس ظاهر شو
او په ظاهر کښے راوړلو والا هغه وو. د دے وجے نه د راوړلو نسبت مجازًا د هغهٔ طرفته
شویدے. د ځینو خیال دے چه د دے نه په خپله سلیمان ﷺ مراد دے. په دے صورت
کښے به دا د هغهٔ معجزه وی وی. امام نخعی فرمائی. چه دینه مراد جبرئیل علیه السلام
دے. (روح، بحر، مدارک) د حضرت شیخ قدس سرهٔ په نزد هم دا قول راجح دے. بعضے
جاهلان د عِلْمٌ مِّنَ الْکِتٰبِ نه کالا علم (جادو) راوباسی. حالانکه جادو سراسر کفر دے
ځکه چه د یکښے د غیر الله نه امداد غوښتل دی. د دے وجے نه دا بالکل بے اصله او
ښکاره غلط بلکه کفر دے.

۳۵ په هر صورت چه کله د سترګے په رپ کښے د بلقیس تخت د هغهٔ په مخکښے موجود
شو نو د الله تعالیٰ شکریے اداکړو. او په دومره لږ وخت کښے د دومره لرے ځائ نه د
تخت راتلل یے د الله فضل او احسان اوګڼړلو. دینه معلومه شوه چه د تخت
راوړلو والا په ظاهر کښے خواه چه هر څوک وو لیکن په حقیقت کښے معجزانه طور
باندے د هغهٔ موجود والے محض د الله تعالیٰ په قدرت او د هغهٔ په تصرف سره
وو. لِيَبْلُوَنِيْٓ الخ الله تعالیٰ دا نعمتونه ما ته ځکه راکړیدی چه ځما ازمائش اوکړی
چه زهٔ د هغهٔ شکر ادا کوم یا ناشکری کوم کوم سړے چه د الله شکر ادا کوی هغه یے
د خپل ځان د پاره کوی ځکه چه د هغے نفع هغهٔ ته ملاویږی. او څوک چه ناشکری
کوی هغه نقصان هم خپل کوی. الله تعالیٰ خو د بندګانو د شکر او ناشکرئ نه
بے نیازه دے. او دا سے کریم دے چه ناشکری کونکی ژر نهٔ نیسی. د انعاماتو دروازے
په هغوی نهٔ بندوی.

۳۶ سلیمان ﷺ اوفرمائیل چه په دے تخت کښے جزوی بدلون راولئی او د دے
شکل بدل کړئ چه د بلقیس د عقل او پوهے امتحان واخستلے شی چه آیا هغه یے
پیژنی یا نه؟ فَلَمَّا جَآءَتْ الخ چه کله بلقیس راورسیده نو د هغے نه تپوس اوشو آیا
ستا تخت هم دا شان دے؟ په سوال کښے دا اونهٔ وئیل شو چه اَهٰذَا عَرْشُكِ. آیا دا
ستا تخت دے؟ د دے د پاره چه دا سوال نور هم مشکل شی. قَالَتْ كَاَنَّهٗ هُوَ بلقیس
ډیر د هوښیارتیا جواب ورکړو چه بالکل هم دا شان دے. دا یے اونهٔ وئیل چه بالکل
هم دا دے یا هغه دا نهٔ دے. ځکه چه دواړه جوابونه د سوال مطابق نهٔ وو. د مِنْ
قَبْلِهَا ضمیر سره د احضار عرش (د تخت حاضرولو) معجزه مراد ده. یعنی د دے نه
مخکښے د هُد هُد په ذریعه د خط ملاویدلو او د خپلو سفیرانو نه ستا سو حالات اوریدو
سره مونږ د الله په کامل قدرت او ستاسو په نبوت باندے ایمان راوړیدے او ستاسو

اطاعت مونږ قبول کړے وو. اوس د معجزے ظاهرولو څه ضرورت وو. من تتمة کلامها علی ما اختاره جمع من المفسرین وَ اُوْتِیْنَا الْعِلْمَ بکمال قدرة الله تعالیٰ وصحة نبوتك من قبل هذه المعجزة .... بما شاهدناه من امر الهدهد وما سمعناه من رسلنا الیك من الآیات الدالة علی ذلك وکنا مؤمنین من ذلك الوقت فلا حاجة الی اظهار هذه المعجزة (روح ص۲۰۵ ج ۱۹)

۳۷ ما کانت تعبد الخ جمله صَدَّهَا د پاره فاعل دے. یعنی د زوړ دستور مطابق د ستورو عبادت هغه د توحید نه منع کړے وه. د هغې پیدائش او تربیت چونکه په مشرکانو کښے شوے وو. د دے وجے نه دغه ماحول هغه تر اوسه د اسلام په غیږ کښے د راتلو نه منع کړے وه. صَدَّهَا عن التقدم الی الاسلام عبادة الشمس ونشوئها بین اظهر الکفرة (مدارک ص۱۶۳ ج ۳) یا ضمیر فاعل سلیمان علیه السلام دے. مَا کَانَتْ نه مخکښے حرف جار مقدر دے یعنی هغه ئے دا د نمر د عبادت نه منع کړه. وصدها الله او سلیمان عما کانت تعبد بتقدیر حرف الجار (کبیر ص۵۶۹ ج ۶)

۳۸ سلیمان علیه السلام د بلقیس په مخکښے د خپل عظمت شان او برترئ ظاهرولو دپاره یو محل جوړ کړے وو چه د هغې شیشے د غټ ځادر نه جوړے شوے وے. د هغې دلاندے داؤبو حوض وو چه په هغې کښے به مهیان او نور حیوانات پریښی وو چه دغه محل کښے یې تخت برابر کړو. او بلقیس ته هغې ته د داخلیدو دپاره اووئیل شو. بلقیس چه کله هغې ته داخلیدله نو هغې خیال اوکړو چه دیکښے اوبه دی. د دے وجے نه یې د پنډو نه پائنچے پورته کړے. قَالَ اِنَّهٗ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ الخ سلیمان علیه السلام اوفرمائیل چه دا اوبه نه دی، بلکه صفا او شفاف فرش دے او د شیشے نه تیار شوے دے. قَالَتْ رَبِّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ الخ بلقیس چه کله دا اولیدل نو فوراً ئے اووئیل چه اے خدائے پروردګاره! ما د شرك په وجه په خپل ځان باندے ظلم کولو اوس زه توبه کوم او سلیمان سره په رب العالمین باندے ایمان راوړم. حضرت شیخ قدس سره اوفرمائیل. اِنِّیْ ظَلَمْتُ الخ یعنی څنګه چه ما د لته غلطی کړیده چه د شیشے فرش م اوبه ګڼړلے دا شان د نمر په عبادت کښے هم زه په غلطئ باندے وم. په څینو روایتونو کښے دی چه د پیریانو سره خطره پیدا شوه چه چرته سلیمان علیه السلام د بلقیس سره واده اونکړی. د دے وجے نه هغوی د سلیمان علیه السلام د نفرت پیدا کولو دپاره اووئیل چه د بلقیس خپے د یرے بد شکله دی او د هغې په پنډو باندے ویښته وی. د دے وجے نه سلیمان علیه السلام پورته ذکر شوے محل جوړ کړو. د دے دپاره چه کله هغه د پنډو نه پائنچے پورته کړی نو هغه به د دے پنډئ او خپے اووینی. دا سراسر غلط او بے اصله روایت دے او د انبیانو علیهم السلام د عصمت سره منافی دے.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا اَنِ اعْبُدُوا

او مونږ لیږلے وُو ثمود طرفته د دوی ورور صالح لره ٣٩ چه بندګی کوئ

اللّٰهَ فَاِذَا هُمْ فَرِیْقٰنِ یَخْتَصِمُوْنَ ﴿٤٥﴾ قَالَ یٰقَوْمِ لِمَ

د الله بیا ناګهانه دوه فرقے شول جهګړه کوونکی ٤٠ نو وے وئیل اے زما قومه ولے

تَسْتَعْجِلُوْنَ بِالسَّیِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ ۚ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُوْنَ

زر غواړئ بدئ لره وړاندے د نیکئ نه ولے بخښنه نه غواړئ

اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٤٦﴾ قَالُوا اطَّیَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَّعَكَ ؕ

د الله نه شاید چه په تاسو رحم اُوشی وے وئیل مونږ منحوس ګڼړو تا لره او ستا ملګرو لره ٤١

قَالَ طٰٓئِرُكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَكَانَ

وے وئیل ستاسو بد قسمتی د الله ٤٢ سره ده . (هسے) بلکه تاسو په ازمیښت کښے غورزولے شوی یئ

فِی الْمَدِیْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ یُّفْسِدُوْنَ فِی الْاَرْضِ وَلَا

وو او وو په دغه ښار کښے ٤٣ نهه سړی چه خرابی به یې کوله په مُلک کښے او اصلاح

یُصْلِحُوْنَ ﴿٤٨﴾ قَالُوْا تَقَاسَمُوْا بِاللّٰهِ لَنُبَیِّتَنَّهٗ وَاَهْلَهٗ ثُمَّ

به یې نه کوله وے وئیل چه په خپل مینځ کښے قسمونه وُخورئ په الله چه خامخا به د شپے ورپریوځو به ده او

لَنَقُوْلَنَّ لِوَلِیِّهٖ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ اَهْلِهٖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿٤٩﴾

او په اهل د ده بیا به او وایو د ده دعوی کوونکی ته چه مونږ نه دی لیدلی کله چه تباه شو اهل کور د ده او مونږ بیشکه رښتیا وایو

وَمَكَرُوْا مَكْرًا وَّمَكَرْنَا مَكْرًا وَّهُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ ﴿٥٠﴾

او جوړ کړو دوی فریب ٤٤ او جوړ کړو مونږ یو تدبیر او دوی خبر نه شول ٤٥

فَانْظُرْ كَیْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ ۙ اَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ وَقَوْمَهُمْ

بیا وګوره چه څنګه شو انجام د دوی د فریب چه هلاک کړل مونږ دوی لره او د دوی قوم

اَجْمَعِیْنَ ﴿٥١﴾ فَتِلْكَ بُیُوْتُهُمْ خَاوِیَةًۢ بِمَا ظَلَمُوْا ؕ اِنَّ فِیْ

ټولو لره . پس دا پریوتی دی د دوی کورونه د پیرے شوی په سبب د ظلم د دوی . خامخا په دیکښے

ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَاَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

نښې دي د هغو خلقو د پاره چه پوهیږي ۵۲ او . بچ کړل مونږ هغو لره چه ایمان یې

وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۵۳﴾ وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَتَاْتُوْنَ

راوړے وُو او وُو خان یې ساتلو (د ګناه نه) ۵۳ او لوط کله چه اوویل ده خپل قوم ته ایا تاسو کوئ

الْفَاحِشَةَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴿۵۴﴾ اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ

بے حیائي او تاسو وینئ ۵۴ ایا تاسو راتلل کوئ سړو ته ۵۴

شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿۵۵﴾

په شهوت سره ښځو لره پریږدئ بلکه تاسو خلق یئ بے پوهے .

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَخْرِجُوْٓا اٰلَ لُوْطٍ

بیا هیڅ جواب نه وُو ددهٔ د قوم مګر دا چه ووئیل یې وُباسئ د لوط کور والو لره

مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿۵۶﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ وَ

د خپل ښار نه دا خلق دي صفائي کوي ۵۶ بیا بچ کړل مونږ ددهٔ لره او

اَهْلَهٗٓ اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۡ قَدَّرْنٰهَا مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۵۷﴾ وَاَمْطَرْنَا

اهل ددهٔ لره مګر ددهٔ ښځه مقرر کړے وه مونږ دے لره پاتے کیدونکو نه او اوورول مونږ

عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۵۸﴾ ع قُلِ

په دوی باندے وروُل پس بد هومره بد وروُل وُو د ویرولو شوو ۵۸ ته اووایه

الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ؕ

ټول تعریفونه الله لره دي ۵۸ او سلام دے دهغه په بنده ګانو کومو لره چه هغه غوره کړل

آٰللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۹﴾

ایا الله غوره دے یا کوم لره چه دوی شریکوي ۵۹

نکات: ۱. د دریمه قصه متعلق د دویمے دعوے سره ۱۲ ۲. څلورمه قصه متعلق د دویمے دعوے سره ۱۲ ۳. د دریمے او څلورمے قصے ثمره ۱۲

موضح قرآن

ف۱ یعنی ایمان والا او یو منکر لکه د مکے خلق د پیغمبر را تلو سره په جګړو شول. ف۲ یعنی د کفر د شامت او بدئ په وجه سره په تاسو باندے سختئ را پریوتے دی دے د پاره چه اوګورئ چه تاسو پوهیږئ یا نه.
ف۳ یعنی د هغوی د هلاکیدو اسباب پوره کیدل تر کومے پورے چه شرارت حد ته نه وُو رسیدلے تر هغے پورے عذاب نه را تلو. ف۴ یعنی هم دغه حال دے د دے کافرانو. ف۵ یعنی وینځ نخوړه بد کار دے.
ف۶ د سلیمان علیه السلام په قصه کښے یے اوفرمائیل چه مونږ به لښکرے اولو چه د هغے مقابله به اونکړے شی هم هغه خبره اوشوه د رسول الله ﷺ او مکے والو به میتځ کښے. په صالح علیه السلام باندے نهه کسان متفق شول چه د شپے په وخت د صالح علیه السلام په کور ورننوځی. الله هغه بچ کړو. او هغوی یے تباه کړل. د مکے مخلقو هم دا غوښتل (هغه ته یے کومے کښنے وُو لیکن هغه شان اونه شوه په خپله د بدرئیه کومی کښنے پریوتل) کومه شپه چه نبی علیه السلام هجرت اوکړو د مکے کافرانو د نبی علیه السلام د کور نه محاصره کړے وه چه د شپے په تیاره کښے به راوځی نو ټول به یے په شریکه قتل کړو. نبی علیه السلام را وو تلو او هغوی پریوهه نه شول او قوم غوښتل چه د بشارنه یے اوباسی د دی یعنی مکے والو هم غوښتل چه نبی علیه السلام اوباسی. لیکن په خپله الله هغوی ته د وتلو حکم ورکړو او وسے ویستلو. او د هغه کار ته یے ترقی ورکړه.
ف۷ د الله تعریف کول او په پیغمبر باندے د سلام لیږلو نه روستو یے خلقو ته د بلے خبرے شروع کول ور اوښودل.

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی مصیبتونه دا الله د تقدیر موافق جاری کولے شی ۱۲

تفسیر

۳۹ دا دریمه قصه ده او د دویمے دعوے سره متعلق ده یعنی کارساز صرف الله دے. صالح علیه السلام خپل قوم ته اوفرمائیل اعْبُدُوا اللهَ په حاجتونو کښے غائبانه صرف الله ته اواز کوئ د الله نه سوا هیڅوک بل کارساز نشته. اعبدوا الله ای وحده ولا تشرکوا به شیئًا (خازن ص۱۲۶ ج۵) قوم اونه منل نو الله تعالیٰ مومنان بچ کړل او منکرین یے هلاک کړل. مومنان بچ کول او منکرین هلاکول د الله تعالیٰ په اختیار کښے وُو. صالح علیه السلام سره د دے اختیار نه وُو دا شان په دے واقعه کښے هدایت هم دے او بشارت هم.
۴۰ چه کله صالح علیه السلام د خپل قوم په مخکښے دعوت پیش کړو نو قوم په دوه ډلو کښے تقسیم شو څو خلقو د هغوی دعوت قبول کړو او څو خلقو د هغوی دعوت قبول نه کړو او په کفر او شرك باندے قائم پاتے شول دواړه ډلے په خپل مینځ کښے په جګړه شول. او هره ډله خپله حق کیدو او د مخالف فریق باطل کیدو باندے دعوے کولے وُو. والمعنی فاذا قوم صالح فریقان مومن به وکافر به یختصمون فیقول کل فریق الحق معی الخ (مدارك ص۱۶۴ ج۳) د دے نه معلومه شوه چه کله د توحید مسئله بیانولے شی نو دا ډله بازی

لازمي طور باندې په وجود کښې راځي - دې ته فتنه خوړولو او مذموم افتراق سره تعبير کول تبوله غلطي او ناپوهي ده.

۴۱ د صالح علیه السلام د دعوت په جواب کښې مُشرکے ولے د عذاب مطالبه اوکړه. او وې وئیل مونږ ستا خبره نه منو. که چرې ته واقعي رښتونے پیغمبر یې نو د کوم عذاب نه چه مونږ ویروې هغه راوله څنګه چه په بل ځائې کښې د هغوی قول نقل کړے شویدے. یٰصٰلِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ (اعراف ع ۱۰) نو صالح علیه السلام اُوفرمائیل اے ځما قومه! تاسو د الله تعالٰے نه د خپلو ګناهونو معافي ولے نه غواړئ دې د پاره چه هغه ستاسو ګناهونه معاف کړي تاسو د توبې او استغفار نه ځکښې د الله عذاب او غضب ولے غواړئ؟ السیئة عذاب وعقوبة الحسنة توبه او استغفار (روح)

۴۲ چه کله قوم ثمود د صالح علیه السلام تکذیب اوکړو نو الله تعالٰی په هغوی باندې قحط مسلط کړو او په دوی کښې اختلاف خود ځکښې نه پیدا شوے وُو. او س هغوی صالح علیه السلام ته اووئیل چه مونږ ستا خبره څنګه اُومنو. ته او ستا ملګری عیاذًا بالله څنګه نامبارک یئ چه د کله نه تاسو دا نوے دین (صرف دیو الله عبادت او راببل) ایجاد کړے دے د هغه وخت نه مونږ په قحط کښې راګیر شوی یُو او په خپلو کښې یو بل سره په جنګ جګړه یُو. تشاءمنا بك لانهم قحطوا عند مبعثه لتكذيبهم فنسبوه الى مجیئه (مدارک)

۴۳ صالح علیه السلام په جواب کښې اُوفرمائیل دا خیر او شر او نفع او نُقصان خود الله تعالٰی په قضاء (فیصلے) او قدر (تقدیر) سره دی. شر زمونږ طرفته منسوب کول ستاسو جهالت او نادانی ده. شیطان تاسو غلُولی یئ او په دے فتنه او ګمراهئ کښې یے مبتلا کړی یئ. طائرکم عندالله ای السبب الذی منه یجیءُ خیرکم و شرکم عندالله وهو قضاءه وقدره ان شاء رزقکم وان شاء احرمکم (کبیر ص ۲ ج ۲)

۴۴ د صالح علیه السلام په ښار کښې نهه کسان اُوسیدل چه ډیر فسادیان او غنډه وُو. هغوی په تبوله علاقه کښې شر او فساد خور کړے وُو. هغوی به هیڅ یو تعمیری کار یا نیک کار نه کولو دا د هغوی همیشه عادت وُو. قَالُوْا تَقَاسَمُوْا الخ د غه غنډه کانو صالح علیه السلام او د هغه په تابعدارانو باندې چاچه د توحید مسئله منلے وه د شپے په وخت د حملے کولو پروګرام جوړ کړو او په خپل مینځ کښې یے په الله پاک قسمونه اوکړل او وعده یے اوکړه چه د شپے به حمله اوکړو صالح او د هغه ملګری به قتل کړو. او چه کله زمونږ نه تپوس اُوشی. نو صفا به اووایو چه مونږ خود قتل په موقع موجود نه وُو. تَقَاسَمُوْا. د جمهورو مفسرینو په نزد د فعل امر صیغه ده. او قَالُوْا د پاره مقوله ده. او ځینو دا فعل ماضي وئیل هم جائز وئیلے ده. په دے صورت کښې به هغه د قَالُوْا نه بدل وی یا به د هغه د فاعل نه حال وی. امر من التقاسم ای التحالف وقع مقول القول وهو قول الجمهور وجوز

ان یکون فعلا ماضیا بدل من (قالوا) او حالا من فاعله الخ (روح ص۲۱۳ ج ۱۹)

۵۵ ګه د قوم ثمود بد معاشانو د صالح علیه السلام او د هغهٔ د اهل او عیال د وژلو منصوبه جوړه کړه. دلته موږ د هغهٔ د بچ کولو او د هغهٔ د دښمنانو او د قوم د سرکشو د هلاکولو فیصله اوکړه د هغوی د پروګرام او منصوبې علم موږ ته وُو. لیکن زموږ د فیصلې نیالکل بې خبره وُو. ومکرهم ما اخفوه من تدبیر الفتك بصالح واهله ومکر الله اهلاکهم من حیث لا یشعرون (بحر ص۸۵ ج ۷)، وَمَكَرُوْا مَكْرًا وَّ مَكَرْنَا مَكْرًا د دواړو فعلونو سره د مفعول مطلق تنوین د تعظیم او تفخیم د پاره یعنی مُشرکانو هم ډیره کلکه او مضبوطه منصوبه جوړه کړه. او موږ هم ډیره مضبوطه او ناقابل تسخیر منصوبه جوړه کړه.

۵۶ ګه دا د هغه مکر او فریب د انجام بیان دے او خطاب هر مخاطب ته دے اُوګوره د هغه مکر او فریب انجام څهٔ شو. موږ نه یوازې هغه بد معاشان بلکه د هغوی ټول قوم تباه او برباد کړل. فَتِلْكَ بُيُوْتُهُمْ خَاوِيَةً الخ د هغوی کورونه وُران پراته دی دا سزا هغوی ته د هغوی د ظُلم او زیاتی په وجه ملاؤ شوه. په دے واقعه کښې د علم او فهم لرونکو او غور و فکر کونکو د پاره ډیر لوئ عبرت دے.

۵۷ ګه ایمان والا او د کُفر او شرك نه ځان ساتونکي موږ بچ اُوساتل. مشرکان او مفسد هلاك هم موږ کړل او ایمان والا هم موږ بچ کړل. دے کښې د صالح علیه السلام تصرف او اختیار ته هیڅ دخل نهٔ وُو. اَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ او اَنْجَيْنَا د جمع متکلم صیغو سره چه د عظمت او جبروت ظاهرولو د پاره دی، معلومه شوه چه منکرین هلاکول او حضرت صالح علیه السلام او مؤمنانو ته نجات ورکول د الله تعالیٰ کار دے. نو دینه معلومه شوه چه برکتونه ورکونکے هم صرف هغهٔ دے بل څوك نهٔ دے.

۵۸ ګه دا اُخلورمه قصه ده او د ویمے دعوے سره متعلق ده. لُوط علیه السلام خپل قوم د ناکاره عملونو نه منع کړل لیکن قوم د هغهٔ اطاعت او نکړو او په سرکشئ ټینګ پاتے شول نو الله تعالیٰ هغوی هلاك کړل. اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ۝ د بصر نه د زړهٔ بصر مراد دے. یعنی د علم مطلب دا دے چه تاسو د دے بے حیائئ د فعل ارتکاب کوئ حالانکه تاسو ته ښه معلومه ده چه دا سراسر بے حیائی ده. من بصر القلب ای اتفعلونها والحال انتم تعلمون علما یقینا کونها کذلك (روح ص۲۱۶ ج ۱۹)

۵۹ ګه دا د هغه فاحشه یعنی د قبیح فعل بیان دے. فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖ الخ د دے ناصحانه تبلیغ په جواب کښې قوم اُو وئیل چه لوط او د هغهٔ منونکی د ښار نه اُوباسئ ځکه چه دوی ځان ډیر پاکول غواړی او زموږ د کارونو نه نفرت کوی. فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ اخر په هغه سرکش او ضدی قوم باندے الله تعالیٰ خوفناك عذاب نازل کړو او هغوی یے هلاك کړل. لُوط علیه السلام او د هغهٔ تابعداران یے بچ کړل. د لُوط علیه السلام بی بی چونکه کافره وه د دے وجے نه هغه هم د کافرانو سره په عذاب کښې مبتلا شوه فَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا الخ د قوم لوط کلے لاندے باندے کړے شو او په هغوی باندے د کانړو

باران اوشو څنګه چه په سورهٔ هود ۶، کښے یے اوفرمائیل: فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا جَعَلْنَا
عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَ اَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ الخ فَاَنْجَيْنٰهُ او اَمْطَرْنَا نه
معلومه شوه چه لوط علیه السلام او د هغه تابعدارو ته الله تعالٰی د عذاب نه خلاصے ورکړو
او کافران هم هغه هلاک کړل نو دینه واضحه شوه چه کارساز او برکتونه ورکوونکے هم
صرف هغه دے بل څوک نهٔ دے۔
۵۰ دا د ربعے او خلورمے قصے ثمره ده. ددے دواړو قصونه واضحه شوه چه
الله پاک خپل نیک او خوښ بندګان د مُصیبتونو او عذابونو نه خلاصوی او هم
هغه معاندین بنولره هلاکوی، نو دینه معلومه شوه چه د کارسازئ د ټولو صفتونو مالک
الله تعالٰی دے. پس هم هغه برکتونه ورکوونکے دے. هیڅ یو پیغمبر یا ولی برکتونه ورکوونکے نهٔ
دے. وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الخ د الله غوره کړے شوی بندګان د کارسازئ د صفتونو
مالکان نهٔ دی بلکه هغوی ته د مصیبتونو او تکلیفونو نه چه کوم سلامتی او امان
نصیب کیږی هغه د الله تعالٰی د طرفه وی. آٰللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۔ خپل غوره
کړے شوو بندګانو ته د خلاصی ورکولو او د کافرانو هلاکولو نه روستو یے د الزام او اتمام
حجت په طور اُوفرمائیل ایا الله بهتر دے چه ټول هرڅهٔ کوُلے شي یا هغه باطل معبودان
چه د هغوی په اختیار کښے هیڅ نشته. فیه تبکیت للمشرکین والزام الحجة علیهم بعد هلاک
الکفار الخ (خازن ص۱۳۷ ج ۵) اَمَّا يُشْرِكُوْنَ کښے ام متصله دے. دینه روستو د تنویر
(رنړا اچولو) په طور دویمه دعوٰی بانده پنځه عقلی دلیلونه ذکر کړے شوی دی. علٰی
سبیل الاعتراف من الخصم (یعنی مقابل هم د هغے اقرار کوی.)

✤ ✤ ✤

اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ
ایا چا پیدا کړل اسمانونه ۵۱ او زمکه او نازل یے کړے تاسو پاره د
السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ۚ مَا
اسمان نه اوبه بیا زرغون کړل مونږ په دے سره باغونه ښائسته ستاسو
كَانَ لَكُمْ اَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلْ هُمْ
کار نهٔ وو چه زرغونے کړے موږے ددے ونے ۵۲ اوس د الله سره بل معبود شته؟ بلکه
قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ ﴿٦٠﴾ اَمَّنْ جَعَلَ الْاَرْضَ قَرَارًا وَّجَعَلَ
دغه خلق د لارے نه اوړی ایا چا جوړه کړه زمکه لائقه د قرار ۵۳ و جوړ یے کړل

خِلٰلَهَآ اَنْهٰرًا وَّ جَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَ جَعَلَ بَيْنَ
دوے په مینځ کښے نهرونه، او جوړے کړل دوے د قرار د پاره غرونه، او جوړه یے کړه په مینځ
الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا
د دوؤ دریابونو کښے پرده اوس د الله سره بل معبود شته؟ بلکه اکثر د دوی نه
يَعْلَمُوْنَ ﴿٦١﴾ اَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَ يَكْشِفُ
پوهیږی ایا څوک قبلوی بلنه د بے اسرے کله چه هغه لره بلی او لرے کوی
السُّوْٓءَ وَ يَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ الْاَرْضِ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ قَلِيْلًا
سختی او گرځوی تاسو لره خلیفه گان د ړومبو په زمکه کښے. اوس د الله سره څوک بل معبود شته؟
مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٦٢﴾ اَمَّنْ يَّهْدِيْكُمْ فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَ
تاسو ډیر کم فکر کوئ ایا څوک لار ښائی تاسو ته په تیارو د ځنګل او
الْبَحْرِ وَ مَنْ يُّرْسِلُ الرِّيٰحَ بُشْرًاۢ بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ
د دریاب کښے او څوک چلوی هواګانے خوشخبری راوړونکے د هغه د رحمت نه وړاندے
ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ تَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٣﴾ اَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ
اوس د الله سره څوک معبود شته؟ لوئے دے الله د هغے نه چه دوی ورله شریک جوړوی. ایا څوک اول پیدا
ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَ الْاَرْضِ
کوی بیا به یے دوباره پیدا کوی ته او څوک رزق درکوی د آسمان نه او د زمکے نه.
ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ
اوس د الله سره بل معبود شته؟ او وایه راوړئ دلیل خپل که تاسو
صٰدِقِيْنَ ﴿٦٤﴾ قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَ
رښتونی یئ ته او وایه چه خبر نه لری څوک چه دی په آسمانونو او په
الْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ وَ مَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ
زمکه کښے د غیبو مگر الله پاک دوی ته خبر نشته چه کله به

يُبْعَثُوْنَ ﴿٦٥﴾ بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ قف بَلْ هُمْ

پورته کولے شي بلکه ستړے شوے او عوړ زیږ و فکر د دوی د اخرت په باره کښې شک بلکه دوی

فِيْ شَكٍّ مِّنْهَا قف بَلْ هُمْ مِّنْهَا عَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ ع

په شک کښې دي د دے نه بلکه دوی د دے نه ړانده دي ف

نکات: ﴿١﴾ تنویر دعوٰی د پاره اولنئ عقلي دلیل ۱۲ ﴿٢﴾ دویم عقلي دلیل ۱۲ ﴿٣﴾ دریم عقلي دلیل ۱۲ ﴿٤﴾ څلورم عقلي دلیل ۱۲ ﴿٥﴾ پنځم عقلي دلیل ۱۲ ﴿٦﴾ د رحمو دوارو قصو ثمره ۱۲

موضح قرآن ف یعنی عقلونه یې ډیر او چلول او ستړي شول لیکن حقیقت یې اونه موندهٔ کله شک کوي او کله منکر کیږي۔

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی ترهغې چه پریکړے شهٔ او ختم شهٔ ۱۲

تفسیر ﴿٥٩﴾ دا دریم عقلي دلیل دے دلته او دا شان مخکښې راتلونکو څلورو دلیلونو کښې اَمْ منقطع دے په معنٰی د بَلْ او دے سره یو دلیل نه بل دلیل ته انتقال مراد دے۔ مطلب دا دے چه بنه دهٔ د دینه علاوه دا راته او وایئ چه ستاسو معبودان د خپلو عبادت کونکو په حق کښې بنهٔ دي یا اللّٰه تعالٰی د خپلو عابدانو په حق کښې بنهٔ دے۔ تاسو چه کوم پیغمبران او اولیاء کارساز او برکتونه ورکونکي ګنړئ او هغوی رابلئ، هغوی نه تاسو ته فائده رسولے شي نه تاسو نه ضرر لرے کولے شي۔ د دے وجې نه صفا ظاهره ده چه اللّٰه تعالٰی بهتر دے۔ والمعنی اللّٰه خیر لمن عبده ام الاصنام لمن عبدها فان اللّٰه خیر لمن عبده وامن به لاغنائه من الهلاك والاصنام لمن تغن عن عابدیها شیئا عند نزول العذاب ولهذا السبب ذکرانواعا تدل علی وحدانیته وقدرته (خازن ص۱۳۷ ج۵)

﴿٦٠﴾ دا خطاب مخصوص خلقو ته نه دے بلکه ټول مخلوق ته دے۔ ماکان لکم ای لجمیع جنسکم یعنی ټول جنس مخلوق ته دا اختیار حاصل نه دے څنګه چه سورة بني اسرائیل (ع۱۱) کښې دي۔ قُلْ لَّوْ اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ الخ او په سورة یٰسین کښې دي وَمَا عَمِلَتْهُ اَیْدِیْهِمْ۔ دلته هم جنس مخلوق مراد دے۔ ءَ اِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ۔ دهر دلیل نه روستو دا سوال بیا بیا شوید دے چه په دے سره د مشرکانو د لاجوابه کیدو اظهار مقصود دے په دلیل کښې چه کوم صفات ذکر کړے شوي دي۔ مشرکانو هم منل چه هغه د اللّٰه تعالٰی نه سوا په بل چا کښې نه موندل کیږي۔ او اِلٰه هغه څوك کیدے شي چه په هغهٔ کښې دا صفات موجود وي۔ او ایا د اللّٰه نه سوا بل کوم کارساز شته دے؟ بَلْ هُمْ قَوْمٌ یَّعْدِلُوْنَ ۰ د دے جواب هغوی بنهٔ پیژني چه په نفی کښې دے۔ لیکن د سرکشئ ضد او عناد د وجې نه د حق اقرار نه کوي بلکه د حق یعنی د توحید نه اعراض کوي۔ یعدلون

عن الحق الذی هو التوحید (مدارک و روح) یا دا دے معنی برابرول دی. یعنی هغوی د ځان نه جوړ شوی معبودان په عبادت او را بللو کښے د الله برابر ګنړی. ای یساوون به غیره تعالیٰ من الهتهم (روح ص۵ ج۲۰)

۵۳ دا دویم عقلی دلیل دے چا چه زمکه ساکن اُوګرځوله او په دیکښے یے دریابونه او نهرونه جاری کړل. دد ے د حرکت لرے ګولو د پاره یے په هغے باندے غرونه کیښودل. او د دوو مختلفو خوندونو سمندرونو په مینځ کښے یے پرده حائل کړه. ایا هغه بهتر دے یا ستاسو عاجزه او بے بسه معبودان. او س تاسو په خپله اووایئ چه د الله نه سوا څوک معبود او کارساز شته دے چه دا ذکر شوی کارونه اُوکړی؟

۵۴ دا دریم عقلی دلیل دے. دا دلیل مقصودی دے یعنی څوک چه دے بے قراره او پریشانه مخلوق ٗاوازونه آوری او هغه قبلوی او مصیبتونو او تکلیفونو نه یے خلاصوی چه د ټولو خالق او ټولو ته د هغوی ضرورتونه رسوی صرف هغه د ټولو کارساز او حاجت روا دے. او د هغهٔ نه سوا بل څوک حاجت روا او کارساز نشته.

۵۵ دا څلورم عقلی دلیل دے چه کله تاسو په ځنګلونو او سمندرونو کښے لاره وُرکه کړئ نو صرف الله تعالیٰ ستاسو راهنمائی کوی هغهٔ په زمکه او اسمان کښے دا سے علامتونه مقرر کړیدی چه تاسو هغے سره د خپل منزل مقصود صحیح طرف معلوموئ لے شئ. د رحمت باران نه مخکښے د باران زیرے راوړونکے هواګانے هم هغه چلوی. ایا دا صفتونه د الله نه سوا په بل چا کښے موجود دی. او ایا د الله نه سوا بل څوک کارساز شته دے؟ هر کله چه د الله نه سوا په بل چا کښے دا صفتونه موجود نهٔ دی نو بیا کارساز هم بل څوک نشته. ایا په دیکښے اُوس هم څهٔ شک شته دے. بیشکه الله تعالیٰ د دے ټولو شریکانو نه پاک دے کوم چه مُشرکان د الله نه سوا رابَلی. دینه معلومه شوه چه په ځنګلونو او دریابونو کښے الله رهنمائی کوی. باقی پاتے شو حدیث، اَعِیْنُوْنِیْ یَا عِبَادَ اللهِ. نو دیکښے د عباد الله نه اولیاء الله مراد نهٔ دی. بلکه فرشتے مراد دی چه الله تعالیٰ په ځنګلونو کښے د دے مقصد د پاره مقرر ے کړیدی. څنګه چه د ابویعلیٰ په روایت کښے دا الفاظ موجود دی. ان لله ملئکة.

۵۶ دا پنځم عقلی دلیل دے. چا چه ټول پیدا کړل او څوک چه به ټول دوباره پیدا کوی او څوک چه د زمکے او اسمان نه د مخلوق د روزئ انتظام کوی ایا د هغهٔ نه سوا بل څوک کارساز کیدے شی هرګز نهٔ شی کیدے. قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ. دا د ذکر شوُو پنځو دلیلونو سره متعلق دے. یعنی مونږ په خپله دعوٰی باندے واضحه دلیلونه بیان کړیدی. که چرے اوس یے هم تاسو نهٔ منئ نو په خپل شرک باندے کوم یو دلیل پیش کړئ. د ړومبی دلیل په اخر کښے یے اوفرمائیل بَلْ هُمْ قَوْمٌ یَّعْدِلُوْنَ. دا خلق د توحید نه اعراض کوی. د دویم دلیل نه روستو یے د دینه ترقی اوکړه او وے فرمائیل بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ. بلکه د دوی اکثریت خو بالکل جاهل دی. توحید بالکل

نه پېژنی. د دریم دلیل نه روستو یې د دینه ترقی اوکړه او وې فرمائیل قَلِیۡلًا مَّا تَذَکَّرُوۡنَ.
د دوی دننا او جهالت دې حد ته رسیدلې دې چه د دا سې واضحه دلائلو باوجود هم
هغوی عبرت نه حاصلوی. د څلورم دلیل نه روستو یې اُوفرمائیل: تَعٰلَی اللّٰہُ عَمَّا
یُشۡرِکُوۡنَ. د ذِکرشوی بیان نه واضحه شوه چه الله تعالیٰ د هر شریک نه پاک دې. په
آخر کښې د پنځم دلیل نه روستو یې مُشرکانو ته چیلنج ورکړو چه هَاتُوۡا بُرۡهَانَکُمۡ الخ که
چرې اُوس هم تاسو نه منئ نو په خپله دعوی باندې څه دلیل خو پیش کړئ.
۵۷ دا د ړومبو دوو قصو ثمره ده او د لف نشر غیر مرتب په طور باندې د ړومبۍ
دعوې سره متعلق دې. مَنۡ فِی السَّمٰوٰتِ. فرښتې، حضرت عیسی علیه السلام او ارواح د نبیانو
علیهم السلام. وَالۡاَرۡضِ یعنې انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرام. یعنې د الله نه سوا هیڅوک
غیب دان نشته. نه د اسمان والا او نه د زمکې والا بلکه هغوی ته خو دا هم معلومه
نه ده چه حشر او نشر به کله وی هر کله چه د الله نه سوا څوک عالم الغیب نشته.
نو د هغه نه سوا برکتونه ورکوونکې هم څوک نشته. یعنی ان من فی السمٰوات وهم الملائکة
ومن فی الارض وهم بنو ادم لا یعلمون متی یبعثون والله تعالیٰ تفرد بعلم ذلک (خازن ص ۱۲۵ ج ۵)
۵۸ اِدّٰرَکَ په معنی د فَنِیَ و اضمحل. یعنی د قیامت قائمیدلو وخت پېژندل
خو پریږده د اخرت په باره کښې هم هغوی ته هیڅ علم نشته. دې ځائې نه د کلام رُخ
مکې والو طرفته دې. وقد فسرها الحسن باضمحل علمهم فی الاخرة و تدارک (مدارک ص ۱۶۸
ج ۳، بحر ص ۹۳ ج ۷) یا د دې معنی استحکام او تکامل ده. او دا په طور د استهزاء او
تهکم ویلې شوې دې لکه چه جاهل ته د استهزاء په طور او ویلې شي چه هغه ډیر لوئې
عالم دې. ان وصفهم باستحکام العلم تهکم کما تقول لاجهل الناس ما اعلمک علی
سبیل الهزء (کبیر ص ۶۱۵ ج ۶) بَلۡ هُمۡ فِیۡ شَکٍّ مِّنۡهَا دا د ماقبل نه ترقی ده یعنی
هغوی ته د قیامت په قائمیدو کښې شک دې. بَلۡ هُمۡ مِّنۡهَا عَمُوۡنَ. دا د دینه هم
ترقی ده یعنی شک هم نه دې. بلکه د مُهر جبّاریت په وجه انکار کوی.

وَقَالَ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡۤا ءَاِذَا کُنَّا تُرٰبًا وَّ اٰبَآؤُنَاۤ اَئِنَّا

او وائی هغه خلق چه کافران دی ۵۹ آیا هر کله چه شو مونږ خاوره او پلار نیکه

لَمُخۡرَجُوۡنَ ﴿۶۷﴾ لَقَدۡ وُعِدۡنَا هٰذَا نَحۡنُ وَ اٰبَآؤُنَا مِنۡ

آیا مونږ به د زمکې نه راوویستلې شو وعده شوې وه د دې مونږ سره او زمونږ د پلار نیکه سره د

قَبۡلُ ۙ اِنۡ هٰذَاۤ اِلَّاۤ اَسَاطِیۡرُ الۡاَوَّلِیۡنَ ﴿۶۸﴾ قُلۡ سِیۡرُوۡا

مخکښې نه هیڅ نه دی دا مګر نقلونه دی د ړومبنو ته اووایه اُوګرځئ په

فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ ۝٦٩

زمکه کښې ٦٩ نو اوګورئ چه څنګه شو انجام کار د ګنهګارانو

وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُنْ فِي ضَيْقٍ مِمَّا يَمْكُرُونَ ۝٧٠

او غم مه کوه ٧٠ په دوی او مه خفه کيږه د دوی په فريب جوړولو

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ۝٧١ قُلْ

او وائي ٧١ کله به وي دا وعده که تاسو رښتوني يئ . ته ووايه

عَسَىٰ أَنْ يَكُونَ رَدِفَ لَكُمْ بَعْضُ الَّذِي تَسْتَعْجِلُونَ ۝٧٢

چه لرې نه ده چه ستاسو په شا راسيدلې وي ځينې هغه شے د کوم چه تلوار کوئ ـ

وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ

او ستا رب خو ٧٣ خاوند د فضل دے په خلقو او ليکن په دوی کښې ډير خلق

لَا يَشْكُرُونَ ۝٧٣ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ

شکر نه کوي او ستا رب پوهه دے ٧٤ په هغو چه پټوي دوی په سينو خپلو کښې

وَمَا يُعْلِنُونَ ۝٧٤ وَمَا مِنْ غَائِبَةٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ

او په هغو چه ظاهروي او هيڅ شے نشته چه غائب وي په اسمان او په زمکه کښې

إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ۝٧٥ إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَقُصُّ عَلَىٰ

مګر موجود دے په ښکاره کتاب کښې بيشکه دا قرآن ٧٥ اوروي

بَنِي إِسْرَائِيلَ أَكْثَرَ الَّذِي هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۝٧٦ وَ

بنی اسرائيلو ته ډير خيزونه په کوم کښې چه دوی اختلاف کوي وه او

إِنَّهُ لَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ ۝٧٧ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي

بيشکه هغه هدايت او رحمت دے دايماندارو د پاره ٧٧ ستا رب به ددوی فيصله

بَيْنَهُمْ بِحُكْمِهِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ ۝٧٨ فَتَوَكَّلْ عَلَى

او کړي په خپل حکم سره ٧٨ او هغه دے زبردست په هر څه پوه دے . پس ته تکيه کړه په

اللّٰهِ ؕ اِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِيْنِ ﴿۷۹﴾ اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى

الله باندے ځکه بیشکه ته یه په صحیح ښکاره لاره باندے یے. بیشکه ته نه شے اورولے مړوته

وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿۸۰﴾ وَمَآ اَنْتَ

او نه شے اورولے کڼړو ته خپل اواز هر کله چه هغه په شا اوګرځی۔ او نه

بِهٰدِى الْعُمْىِ عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ؕ اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا مَنْ يُّؤْمِنُ

هدایت کوونکے ړندو ته کله چه هغوی بے لارے شی ځله ته خو اورولے شے هغه چاته چه یقین

بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۸۱﴾ وَاِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ

ساتی زمونږ په ایتونو پس هغوی حکم منونکی دی۔ او هر کله چه پریوزی په دوی وعده خبره

اَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ الْاَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ ۙ اَنَّ النَّاسَ

راوبه باسو مونږ د دوی دپاره یو ځناور د زمکے نه د دوی سره به خبرے کوی په دے وجه چه

كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿۸۲﴾ ع ۱۹

خلقو زمونږ په خبرو یقین نه کولو ۔

نکات:۔ س ۱ شکوی ۱۲ س ۲ تخویفِ دُنیوی ۱۲ س ۳ دویم محل تسلی ۱۲ س ۴ دویمه شکوی ۱۲ س ۵ په دواړو دعوو باندے یو یو زباتی عقلی دلیل دا پړمبے دلیل په رومبئ دعوی باندے دے ۱۲ س ۶ جمله معترضه د پاره د بیان د صداقت د نبی کریم ﷺ ۱۲ س ۷ تسلی ۱۲ س ۸ تخویفِ دُنیوی ۱۲

توضیح قرآن

ف ۱ ځینے قِصّے هغوی ته په یو طریقه نقل شوے وی د هغے په باره کښے یے داسے اوفرمائیل کوم چه صحیح وے اکثر عقائد او اکثر مسئلے په دے کښے یے دے طرفته اشاره اوکړه. د هغے نه معلومه شوه چه صرف هغه صحیح وے۔

ف ۲ د قیامت نه مخکښے به د زمکے صفا غر څیرے کیږی د هغے نه به یو دابه راوځی او خلقو سره به خبرے کوی چه اوس قیامت نزدے دے او ربښتونی مؤمنان او پټ کافران به جُدا جُدا کړی او په نښه به یے کړی۔

تفسیر

ف ۷۵ دا شکوی ده. مشرکان وائی چه دا خو ډیره د تعجب خبره ده چه کله مونږ او زمونږ پلاران او نیکونه مړۀ شی او د خاورو سره ملاؤ شی نو بیا به دوباره ژوندی کولے شو. لَقَدْ وُعِدْنَا هٰذَا الخ نن محمد (ﷺ) مونږ ته دا خبره کوی د دے نه مخکښے زمونږ پلاران او نیکونه هم ویونکو دے خبرے نه

اوویرول. مونږ خو دا خبره بالکل یوه افسانه (قیصې) او بې حقیقته معلومیږي چه د مخکینو خلقو دځان نه جوړه شوې ده. ترننه پورې خو مونږ دې هیڅ نتیجه اثر اونه لیده ذکروا انهم وعدوا ذلك هم وآباؤهم فلم یقع شیء من هذا الموعود ثم جزموا وحصروا ان ذلك اکاذیب من تقدم (بحر ص۹۴ ج۷)

نـه ۶۹ دا تخویف دنیوی دے یعنې تاسو په زمکه کښې اوګرځئ او د هغه مجرمانو انجام اوګورئ چا چه شرك کولو او د حشر نشر نه یې انکار کولو هغوی د جرمونو او ګناهونو په سزا کښې هلاك او تباه کړے شول. د هغوی باقي پاتے نشانات اوګورئ او عبرت حاصل کړئ او د شرك او د بعث د انکار نه منع شئ.

ـــه ۷۰ دا د نبي اکرم ﷺ دپاره دویم ځل تسلي ده. یعنې په تاسو باندې مونږ عظیم الشان قرآن نازل کړیدے تاسو ددے د تعلیماتو او هدایاتو مطابق د توحید د مسئلے تبلیغ اوکړئ. که چرے مشرکان یې نه مني او په کفر او انکار باندې همیشوالے کوي نو تاسو په دے باندې مه غمژن کیږئ. او نه د دشمنانو د سازشونو نه زړه تنګي شئ. تاسو په حقه یئ. په دے وجه په الله بهروسه اوکړئ او خپل کار جاري وساتئ الله تعالی ستا سو حافظ او ناصر دے.

ـــه ۷۲ دا دویمه شکوي ده. مشرکانو به د استهزاء او سپکاوي په طور ویل چه هغه عذاب به کله راځي د کوم نه چه ته مونږ ویروے. مونږ تا نه منو صفا انکار کوو بیا هغه عذاب ولے نه راځي. قُلْ عَسٰى أَنْ يَكُوْنَ الخ دا جواب شکوي دے وفرمائیل دومره جلتي مه کوئ صبر اوکړئ د کوم عذاب نه چه تاسو ویرولے شوي یئ هغه نزدے رارسیدلے دے. رَدِفَ لَكُمْ اي تبع والمراد به هنا لحق و وصل وهو مما یتعدی بنفسه وباللام کنصح (روح ص۱۱ ج۲۰) او د عذاب نه د بدر د ورځے عذاب مراد دے (روح وغیره) عَسٰى او دا شان لَعَلَّ او سَوْفَ د بادشاهانو په کلام کښې د امید او شك دپاره نه وي بلکه د حتمي او یقیني وعد او وعید دپاره وي. ان عسی ولعل في وعد الملوك ووعیدهم یدلان علی صدق الامر وانما یعنون بذلك اظهار وقارهم وانهم لا یعجلون بالانتقام لوثوقهم بان عدوهم لا یفوتهم فعلی ذلك جری وعد الله ووعیده (کبیر ص۵۶۹ ج۶)

ـــه ۷۳ دا په خلقو باندې د الله مهرباني ده چه هغه په کفر او شرك او انکار او تکذیب باندې زر هغوی نه رانیسي دے دپاره چه هغوی ته د سوچ فکر کولو موقع ملاؤ شي. لیکن بیا هم اکثر خلق د هغه شکر نه ادا کوي او د هغه په نافرمانو کښې ډوب پراته وي.

ـــه ۷۴ په آخر کښې په دواړو دعوو باندې د لف نشر مرتب په طور باندې زباني یو یو عقلي دلیل ذکر کړے شوے دے. دا اومے عقلي دلیل دے چه د اولے دعوے سره متعلق دے. یعنې غیب دان صرف الله تعالی دے. د هر یو په سینه کښې پټے خبرے هم

پېژني. او د هر یو د ظاهري عملونو نه هم خبردے. په دے وجه هر یو ته به د هغهٔ د اعمالو مطابق جزا او سزا ورکوي. وَمَا مِنْ غَآئِبَةٍ الخ كِتَابٍ مُّبِيْنٍ نه علمِ الٰهي یا لوحِ محفوظ مراد دے. وهو اللوح المحفوظ ... وقيل المراد بالكتاب المبين علمه تعالٰى الازلي الذي هو مبدأ لاظهار الاشياء بالارادة والقدرة (روح ص۱۱ ج ۲۰)

۶۵ دا جمله معترضه ده او د دے نه د نبي اکرم ﷺ د صداقت بیان مقصود دے. یعني دا قرآن د ډیرو داسے مسئلو صحیح صحیح فیصله کوي. په کومو کښے چه بني اسرائیل په خپل مینځ کښے مختلف وو. او هیڅ یقیني فیصله به یے نهٔ شوه کولے مثلاً د حضرت مسیح او حضرت مریم په باره کښے د هغوی اختلاف. هغوی د دوی په باره کښے افراط او تفریط (زیاتی کمي) کښے گرفتار وو. قرآن په دے معامله کښے د افراط او تفریط په مینځ کښے صحیح لار اُوښودله. یهودیانو دوی لره بد کلمات او عیب به یے پرے لگولو. عیسایانو به ورته خُدائي او د خُدائي ځوئي او دواړه یے کارساز گڼل. قرآن دواړه نظریے باطلے اُوگرځولے او صحیح فیصله یے اوکړه چه هغه دواړه زمونږ نیک او خوښ بندیگان دي. هغوی نهٔ خُدایان دي، نهٔ د خُدائي د نور نهٔ دي او نهٔ کارسازدي. داسے غیبي امور صحیح صحیح بیانول د نبي اکرم ﷺ د صداقت او نبوت دلیل دے.

۶۶ دا قرآن د مؤمنانو د پاره د هدایت چینه او کامل رحمت دے. اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ الله تعالٰی د خلقو په مینځ کښے په حق او انصاف سره فیصله کوي. هغه ډیر طاقتور دے د هغهٔ فیصله نشي رد کیدے. او هغه په هر څهٔ پوهیږي په دے وجه د هغهٔ فیصلے ټولے حق وي. په دے وجه د قرآن په ذریعه د بني اسرائیلو په مینځ کښے اختلافي مسائل هغهٔ په حق او انصاف او حکمتِ بالغه سره فیصله کړیدي.

۶۷ دا هم نبي اکرم ﷺ ته تسلّي ده یعني کهٔ چرے مشرکان نهٔ مني نو ته غم مهٔ کوه په الله بهروسه اوکړه او خپل کار جاري ساته. ځکه چه ته په حقه یے. اِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِيْنِ. دا د ماقبل د پاره رومبے علّت دے. اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى. دا د تسلّي دویم علت دے. یعني کهٔ چرے دا مشرکان نهٔ مني نو ته غم ولے کوے ته په الله بهروسه ساته د دے مشرکانو په زړونو باندے د جبّاریت مُهر لگیدلے دے. د دے وجے نه په هغوی باندے به ستاسو د تبلیغ هیڅ اثر نهٔ وي او هغوی به هرگز حق نهٔ قبلوي. د هغوی مثال خو د مړو پشان دے چه نهٔ اَوریدل کولے شي. هم دا حال د دوي دے. د مُهرِ جبّاریت په وجه سره د دوي ټول حواس معطل شویدي. یا د دوي مثال د داسے کنړو پشان دے چه کانړهٔ هم دي او بیا په شا اوګرځي او لرے لاړ شي. ځکه چه دوي ستا خبره نشي اَوریدے. دا شان په دے مشرکانو باندے هم ستا خبره اثر نهٔ کوي. په دے آیت کښے د کافرانو تشبیه د مړو سره ورکړے شویده. ځکه چه د مړو ټول حواس معطل او بیکاره شوي وي هغوی نهٔ په څهٔ پوهیږي او نهٔ ویني

داشان دا کافران چونکه خپل دے حواسو نه فائده نه اخلی۔ په دے وجه د دوی تشبیه د مړو سره ورکړے شوې ده۔ گویا چه د دوی دا حواس د مړو پشان معطل او بیکاره شوی دی۔ د دینه صفا صفا د سماع الموتیٰ نفی کیږی۔ که چرے مړی آوری نو دا تشبیه به صحیح نه وی۔ واستدل بقوله سبحانه (اِنَّکَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰی) علیٰ ان المیت لا یسمع کلام الناس مطلقاً (روح صـ۲ ج ۲۰) د سماعِ موتیٰ پوره تحقیق به د سورهٔ روم په تفسیر کښے راشي ان شاء الله۔

۶۸ دا دریمه تشبیه ده۔ په دیکښے د مشرکانو تشبیه د ړندو سره ورکړے شوې ده ځکه چه یو ړوند د ړوند والی په وجه لار نه وینی۔ دا شان مشرکان هم د هدایت لاره بانده نه راځی۔ اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا مَنْ یُّؤْمِنُ الخ ستا د تبلیغ نه صرف هغه خلق فائده پوره کولے شي ځوک چه قرآن د الله کلام اُوگنړی او په اخلاص سره د حق لاره تلاش کړی۔

۶۹ دا تخویفِ دُنیوی دے۔ د قول نه د قیامت د قائمیدو وعده او د وقوع قول نه د قیامت نزدے کیدل مراد دی۔ (مدارک وروح) یعني په اخري زمانه کښے به د قیامت د نزدے کیدو د علامت په طور بانده مونږ د زمکے نه یو عجیبه او نااشناحیوان پیدا کړو چه صفا صفا خبرے به کوی۔ اِنَّ النَّاسَ الخ دینه مخکښے حرفِ جر مقدر دے ای تکلمهم بانهم کانوا لا یتیقنون بایات الله تعالیٰ الناطقة بمجیئ الساعة (روح صـ۲۱ ج ۲۰) یعني هغه دابه به خلقو سره خبرے کوی چه خلقو هغه نښے نه منلے کومے چه الله پاک د قیامت د پاره قائم کړیدی۔ او حضرت شیخ رحمه الله اُوفرمائیل دلته د دابة نه څه خاص دابه مراد نه ده۔ بلکه عام ده۔ اَلْقَوْلُ نه مراد عذاب دے یعني چه کله به یو قوم بانده د توحید نه د انکار په وجه د الله تعالیٰ د عذاب وخت راشي۔ نو الله تعالیٰ په طور د معجزے حیواناتو ته د خبرو طاقت ورکړی هغوی د حق په صداقت بانده گواه گرځوی ځکه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے یو دے سمسارے د هغوی د صداقت گواهي ورکړے وه۔ د دے قسمه نور هم ډیر واقعات تیر شویدی۔ هر کله چه د دا سے معجزانه شهادتونو نه روستو هم خلق دِین اُونه منی۔ نو په هغوی بانده د الله عذاب راځی۔ تکلمهم یعني هغه دابه (حیوان) د حق دِین د صداقت او د نورو دینونو د بطلان گواهي ورکوی۔ تکلمهم ببطلان الادیان کلها سوی دین الاسلام (مدارک صـ۱۷۱ ج ۳) اَنَّ النَّاسَ کَانُوْا الخ دا به د ما قبل علت وی۔ یعني مونږ دابه د دے وجے نه راُوباسو چه خلق زمونږ ایتونه نه منی۔ د دابة معجزانه خبرے به هغوی د ایمان طرف ته مائله کوی۔

وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّنْ يُّكَذِّبُ بِاٰيٰتِنَا

او په کومه ورځ چه راجمع کړو مونږ د هر اُمت نه یو فرقه څه کومو چه دروغژن گڼل زمونږ ایتونه

فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿٨٣﴾ حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوا قَالَ أَكَذَّبْتُم بِآيَاتِي

بیا به د دوی دلے جوړے کړے شي ۔ تر دے چه کله حاضر شي ؤ به ویلے شي ورته آیا دروغژن کړل تاسو ځما

وَلَمْ تُحِيطُوا بِهَا عِلْمًا أَمَّاذَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾ وَوَقَعَ

آیتونه او نه وو ئي پوه شوي پرے ، یا او وایئ چه تاسو څه کول ۔ او پرے به ولګي

الْقَوْلُ عَلَيْهِم بِمَا ظَلَمُوا فَهُمْ لَا يَنطِقُونَ ﴿٨٥﴾ أَلَمْ يَرَوْا

په هغوی خبره د عذاب په سبب د دے چه ظلم یے کړے وو پس دوی به هیڅ نشي ویلے ۔ آیا دوی نه ګوری

أَنَّا جَعَلْنَا اللَّيْلَ لِيَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

چه مونږ جوړه کړیده شپه چه آرام پکښے حاصل کړي او ورځ د لیدو دپاره ۔ خامخا په دے کښے

لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٨٦﴾ وَيَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ فَفَزِعَ

نښے دي د هغو خلقو دپاره چه یقین کوي او په کومه ورځ چه پوکے او شي په شپیلۍ کښے نو ویریږي

مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَن شَاءَ اللَّهُ ۚ

څوک چه دي په آسمانونو کښے او څوک چه دي په مزکه کښے مګر کوم لره چه الله او غواړي ۔

وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَاخِرِينَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا

او ټول به راشي هغه ته په عاجزۍ سره ۔ او ته به وینے غرونو لره ګمان به پرې کوے

جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي

د ولاړو او هغه به ځي په شان د ورېځے دا کار د هغه الله دے چا چه

أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ ﴿٨٨﴾ مَن

مضبوط کړیدي ټول څیزونه بیشکه هغه خبردار دے د هغے نه چه تاسو یے کوئ ۔ څوک چا چه

جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِّنْهَا ۖ وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ

راوړه نیکي نو پس هغه ته به ملاؤ شي د هغے نه غوره او هغوی به د ویرې د دغے ورځے نه به

آمِنُونَ ﴿٨٩﴾ وَمَن جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِي

امن وي او چا چه راوړه بدي پس پرے مخے به اوغورزولے شي په

النَّارِ هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٠﴾ اِنَّمَآ اُمِرْتُ

اور کښې . هغه بدله به بیا مومئ ته چه تاسو کول

بیشکه ماته دا حکم دے

اَنْ اَعْبُدَ رَبَّ هٰذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِیْ حَرَّمَهَا وَلَهٗ كُلُّ

ته چه بندګي کوم د دے ښار د مالک کوم چه دے لره حرمت ورکړو او د هغه

شَیْءٍ ؗ وَّاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ ﴿٩١﴾ وَ اَنْ

دے هر یو شے او ماته حکم دے چه شم زه د حکم منونکو نه او دا چه

اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰی فَاِنَّمَا یَهْتَدِیْ لِنَفْسِهٖ ۚ

وا اورومه قرآن بیا چه څوک په لاره شو نو په لاره شو ځکان د فائدے دپاره .

وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ اِنَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِیْنَ ﴿٩٢﴾ وَقُلِ

او چه څوک بے لارے شو نو ته او وایه چه زه خو یم د یره اوروونکے او او وایه

الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَیُرِیْكُمْ اٰیٰتِهٖ فَتَعْرِفُوْنَهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ

ټول تعریف الله لره دے زر به وښائي تاسو ته خپلې نښے نو تاسو به یې وپیژنئ او ستا رب

بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾ ع

ع ۱۱ ۲

نا خبره نه دے د هغه کارونو نه چه تاسو یے کوئ۔

نکات: ، سا تخویفِ اُخروی ۱۲ سلا دویم عقلی دلیل د دویمے دعوے سره متعلق ۱۲ سل بشارتِ اُخروی ۱۲ سک تخویفِ اُخروی ۱۲ سه د ټولو ذکر شوو دلائلو ثمره ۱۲ سلا په تخکینو دوارو قصو باندے متفرع دے ۱۲

توضیح قرآن

ف۱ یعنی دهرے ګناه والا به پوره بدله وی۔ ف۲ یو ځل چه شپیلئ اُوپوکی هغه سره به ټول مخلوق مړه شی۔ په دویم ځل یے چه پوکړ وهی نو راژوندی به شی دے نه پس چه یے اُوپوکی نو ډُبه ویریږی۔ چه بل ځل یے پوکړ وهی نو بیهوشه به شی، بیا یے چه پوکړ وهی نو را بیدار به شی۔ د شپیلئ پوک وهل به په خلقو ډیره سختی راولی۔

ف۳ دا به دی په قیامت کښے څنګه یے چه په سورة طٰه کښے فرمائیلی دی۔

تفسیر

سکه دا تخویفِ اُخروی دے د قیامت په ورځ چه کله مونږ انکارګونکی ډلے ډلے په حشر میدان کښے راجمع کړو نو هغوی به په یو ځائ کښے د مخکښے تللو

نه منع کړے شي. دے د پاره چه روستو خلق هم هغوی سره یو ځائ شي او ټول جمع کړے شي او حساب د پاره بو تللے شي. حَتّٰٓى اِذَا جَآءُوْ قَالَ اَكَذَّبْتُمْ الخ چه کله ټول کافران په موقف کښے جمع شي د غه وخت به هغوی ته او وئیلے شي چه تما ایتونه تاسو واوریدل د هغے نه منکر شوئ او په هغے کښے د غور فکر کولو او پوهیدلو او د هغے د حقیقت موندلو کوشش هم اونکړو. کُنْتُمْ الخ چه کله تاسو زمونږ په ایتونو کښے غور او فکر اونکړو نو اوښایئ تاسو په دُنیا کښے څۀ اوکړل. ولے تاسو مونږ د عبث او بیکاره کارونو د پاره پیدا کړی وئ.

۱ۍ د عذاب وعده به پوره کولے شي او هغوی ته به د کُفر او شرك او انکار او تکذیب په بدله کښے عذاب ورکولے شي او هغوی به هیڅ جواب ورنکړے شي او نه به څۀ معقول عُذر او معذرت پیش کړے شي.

۲ۍ دا دویم عقلي دلیل دے چه د دویمے دعوے سره متعلق دے. یعني کارساز صرف الله تعالیٰ دے بل څوك نه دے. هغوی دینه نۀ ګوری چه مونږ شپه پیدا کړه دے د پاره چه هغوی په دیکښے آرام او راحت اوکړی او ورځ مونږ پیدا کړه دے د پاره چه هغوی په دیکښے خپل کاروبار جاری اوساتي د دے شپے او ورځے تلل راتلل د الله په اختیار کښے دي. لهٰذا کارساز او حاجت روا هم هغه دے. په دے ایت کښے صنعت احتباك دے. یعني په مخکنۍ جُمله کښے جَعَلْنَا د پاره مفعول ثاني مقدر دے یعني مُظْلِمًا او په دویمه جمله کښے د مفعول ثاني متعلق محذوف دے. یعني لینشروا فیه. والمشهور ان فی الأیة صنعة الاحتباك والتقدیر جعلنا اللیل مظلماً لیسکنوا فیه والنهار مبصرا لینشروا فیه (روح ص ۲۹ ج ۲۰)

۳ۍ په دے دلیل کښے د ایمان والو د پاره خو عظیم الشان نښانات موجود دي چه دوی په هغے سره د الله په توحید باندے استدلال کولے شي. ولما ذکر اشیاء من احوال یوم القیٰمة لیرتدع بسماعها من اراد الله تعالیٰ ارتداعه نبههم علی ما هو دلیل علی التوحید والحشر والنبوة بما هم یشاهدونه فی حال حیاتهم وهو تقلیب اللیل والنهار (بحر ص ۹۹ ج ۷)

۴ۍ دا تخویفِ اُخروی دے. دلته د نفخه نه د اکثرو په نزد نفخهٔ اولیٰ مراد ده یعني چه کله اول ځل شپیلئ پوکے وهلے شي نو د زمکے او آسمان ټول مخلوق به اوویریدلے شي لیکن د چا زړونه چه الله مضبوط اوساتل هغوی به د دے ویرے نه محفوظ اوسي. مثلاً جبرئیل، میکائیل، اسرافیل، ملك الموت (عزرائیل) علیهم السلام (کبیر، مدارك وغیره) د نفخات په تعداد کښے د علماءُ اختلاف دے. دوه، درے او څلور اقوال موجود دي. په دیکښے ډیر خلق دے طرفته تللے دي چه نفخه به دوه ځله وي یو اوله نفخه چه هغے سره ټول خلق هلاك شي. د دے ذکر د زیرِ تفسیر ایت نه علاوه په یو بل ایت کښے داشان راغلے دے. وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ (زمر ع ۷) د دے نه معلومه شوه چه نفخ د فزع او نفخ د صعق د واړه یو شے دے.

دویمه نفخه هغه ده چه د هغې نه روستو به ټول خلق ژوندی شي (او د قبرونو نه به را پاسي. ځکه چه د نفخ صعق د ذکر نه روستو د الله تعالیٰ ارشاد دے. ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنظُرُونَ. امام قاضی عیاض رح فرمائي چه نفخات درے دي، نفخهٔ اولیٰ یعنی نفخهٔ صعق. نفخهٔ ثانیه یعنی نفخه د بعث دا دواړه ایتونه فَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ الخ کښے ذکر شویدي. او نفخهٔ ثالثه یعنی نفخه د فزع دا په زیر تفسیر ایت کښے ذکر شویده. والله اعلم (روح)

۸۸ د قیامت په ورځ به تاسو ته داسے محسوسیږي چه غرونه په زمکه ولاړ دي حال دا دے چه هغه به د وریځو پشان د یو طرف نه بل طرفته الوزي. صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي الخ دا د مقدر فعل مفعول مطلق دے د پاره د تاکید د مضمون د جملے. ای صنع الله تعالیٰ ذلك صنعًا (روح) یعنی کوم الله تعالیٰ چه زمکه او اسمان په بیمثاله کاریګرئ سره محکم او مضبوط جوړ کړیدي. د قیامت په ورځ به هم غرونه د وریځو پشان والوزوي. دا د هغه قدرت او طاقت دے.

۸۹ دا بشارتِ اُخروي دے. کوم خلق چه په توحید باندے قائم پاتے شول او د هغې مطابق یے عمل اوکړو. هغوی ته به بهترینه جزا ملاویږي او د قیامت د ویرې و نه به هم هغوی محفوظ وي. بِالْحَسَنَةِ ای بکلمة الاخلاص وهی شهادة ان لا اله الا الله (معالم وخازن ص ۱۳۲ ج ۵) ای بقول لا اله الا الله عند الجمهور (مدارک ص ۱۶۱ ج ۳) وعن ابن عباس رضی الله عنهما الحسنة کلمة الشهادة (ابوالسعود ص ۳۵ ج ۶)

۹۰ دا تخویفِ اُخروي دے کوم خلقو چه شرک اوکړو. هغوی به په مخ په جهنم کښے واچولے شي او هغوی ته به اوویلے شي چه تاسو ته دا سزا ستاسو د اعمالو د کوَلے شي. بالسیئة وهو الشرك وبه فسره من فسر الحسنة بشهادة ان لا اله الا الله الخ (روح ص ۳۷ ج ۲۰)

۹۱ په اخر کښے د ټولو ذکر شوو دلائلو ثمرے او نتیجے په طور باندے د دلیل وحي ذکر کړے شویدے. چه ماته د وحي په ذریعه الله حکم راکړیدے چه زهٔ د دے عزت او حرمت والا د مکے د ښار د رب عبادت اوکړم هغه کارساز اوګڼړم او په حاجتونو او مصیبتونو کښے صرف هغه راوبلم. وَلَهُ كُلُّ شَيْءٍ ځکه چه د ټولو کائناتو مالک او په ټول جهان کښے هغه متصرف او مختار دے. وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ. ماته دا حکم هم راکړے شویدے چه زهٔ د ژوند په هره معامله کښے د الله د احکامو په وړاندے د تسلیم سر خکته کړم. وَأَنْ أَتْلُوَ الْقُرْآنَ. او ماته دا حکم هم راکړے شویدے چه زهٔ د قرآن په تبلیغ او اشاعت کښے هیڅ کمے اُونکړم ای اواظب علیٰ قراءته علی الناس بطریق تکریر الدعوة وتثنیة الارشاد (روح ص ۳۹ ج ۲۰)

۹۲ زما کار خو تبلیغ دے. څوک چه یے اُومني هغه به خپله فائده اوکړي او چه څوک یے او نه مني هغه به خپل نقصان اوکړي زما فرض دا دے چه زهٔ نه منونکي د الله د

عذاب نه او وېرولم او د تکذیب او انکار د بد انجام نه هغوی خبر کړم. باقي د دے څيز علم ما ته نشته چه هغه عذاب به کله راځي. ځکه چه زهٔ خو صرف وېرونکے يم زهٔ په غيبو خبر نهٔ يم عالم الغيب صرف الله تعالىٰ دے. دا په رومبو دوارو قصو باندے متفرع دے په طور د لف نشر مرتب.

نشه دا په ځکينو دوارو قصو باندے متفرع دے په طور د لف نشر مرتب. يعني د کارسازئ صفتونه الله لره دي پيغمبرانو د پاره نهٔ دي. صرف الله تعالىٰ هغوی لره د مصيبتونو او سختونه بچ کوي. او د هغوی دُشمنان هلاکوي. سَيُرِيكُمْ اٰيٰتِهٖ الخ تاسو مشرکانو ته اُو فرمايئ. ځکښے تلو سره به الله تعالىٰ تاسو ته خپل د صداقت نښانات ښکاره کړي. چه د هغے ليدو سره به تاسو يقين اوکړئ چه واقعي دا هغه نښانات دي د کوموچه مونږ ته خبر راکړے شو. ليکن دا ځان له خبره ده چه هغه وخت به تاسو ته دے معرفت او اقرار څهٔ فائده وي اوکهٔ نهٔ وي. مراد د دُنيا او د آخرت د عذاب نښانات دي سيريهم الله من اياته في الاخرة فستيقنون بها وقيل هو انشقاق القمر والدخان وما حل بهم من نقمات الله في الدنيا (مدارک ص ج ۳)

نشه دا د وعد او وعيد طرفته ډيره باريکه اشاره ده. يعني الله تعالىٰ ستاسو د عملونو نه بے خبره نهٔ دے. هغهٔ ته ستاسو ټول نيک او بد عملونه ښهٔ معلوم دي. په دے وجه هر يو ته به د هغهٔ د عملونو مطابق اجر و ثواب او سزا او عذاب ورکړي. کلام مسوق من جهته سبحانه بطريق التذييل مقرر لما قبله متضمن للوعد والوعيد. (ابوالسعود ص ۶۳ ج ۶)

په سورهٔ النَّمل کښے د توحيد اٰيتونه او د هغے خصوصيات

(۱) يٰمُوْسٰٓى اِنَّهٗٓ اَنَا اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۙ نفي د شرك في التصرف.

(۲) فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ ــــ نه تر ــــ لَا يَخَافُ لَدَيَّ الْمُرْسَلُوْنَ ۙ نفي د علم غيب د موسىٰ عليه السلام نه.

(۳) لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ ۙ وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۙ (ع ۲) نفي د علم غيب د سليمان عليه السلام او د هغهٔ د ملګرو نه.

(۴) اَلَّا يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ ــــ نه تر ــــ هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ۙ نفي د شرك في العلم او د شرك في التصرف.

(۵) قَالَ سَنَنْظُرُ اَصَدَقْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝ نفی د علم غیب د سلیمان علیه السلام نه۔

(۶) اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمٰنَ ـــــ نه تر ـــــ وَاْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ ۝ د الله نه سِوا د بل چا نه مدد مه غواړئ۔

(۷) وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰى ثَمُوْدَ ـــــ نه تر ـــــ فَاِذَا هُمْ فَرِيْقٰنِ يَخْتَصِمُوْنَ ۝ (۴۶) نفی د شرك فی التصرف۔

(۸) قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ـــــ نه تر ـــــ آٰللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝ (۵۶) تول د کارسازئ صفتونه د الله تعالٰی سره خاص دی لهٰذا هُم هغه برکتونه ورکونکے دے۔

(۹) اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ـــــ نه تر ـــــ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ نفی د شرك فی التصرف باندے پنځه عقلی دیلونه علٰی سبیل الاعتراف من الخصم۔

(۱۰) قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ ـــــ نه تر ـــــ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ۝ (۵۶) نفی د شرك فی العلم۔

(۱۱) وَاِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ ـــــ نه تر ـــــ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝ (۶۶) نفی د شرك فی العلم

(۱۲) اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى ـــــ نه تر ـــــ فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ۝ د کافرانو د مړو سره تشبیه ورکړے شویده۔ د دے نه د سماع موتٰی نفی کیږی۔

(۱۳) اَلَمْ يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا الَّيْلَ ـــــ نه تر ـــــ لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝ (۶۷) نفی د شرك فی التصرف۔

(۱۴) اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ ـــــ نه تر ـــــ وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝ نفی د شرك فی التصرف۔



سورة القصص

ربط دَ سورۃ قصص ماقبل سره دَ توم په اعتبار ربط دا دے چه دَ سورۃ نمل پورے دَ توحید مسئله اودَ تبارك دعوٰی عقلی اونقلی دلائیلو سره واضحه کړے شویده تردے چه دَ میږی (نمل) دَ خبرے نه معلومه شوه چه دَالله تعالیٰ نه سیوا څوک په غیب عالم نشته لهٰذا برکات ورکوونکے هم هغه دے دَ دے مسئلے دَ وجے نه به په تاسوهم تکلیفونه راځی دَ موسیٰ علیه السلام قصوته اُوګورئ دَ توحید په خاطر په هغوئ څومره ډیر تکلیفونه راغلل لیکن اخر غلبه هغهٔ ته حاصل شوه۔

دَ القصص النمل سره معنوی ربط دا دے چه الفرقان، الشعراء اوالنمل کښ عقل اونقل او وحی دلائیلوسره واضحه او ثابت کړے شوه چه برکات ورکوونکے۔ عالم الغیب لائق دَ عبادت او رابللو، متصرف، کارساز او مختار صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نهٔ دے، دَ دے توحید دَ مسئلے دَوجے نه به مشرکانو نبی علیه السلام ته تکلیف ورکولو او ضرر به ئے هغوئ ته رسولو۔ اُوس په القصص کښ دَ موسیٰ علیه السلام دعوت وتبلیغ او دَ کافرانو په تکلیف رسولو باندے دَ هغوئ دَ صبر او استقلال ذکر اُوکړے شو۔ مقصد دا دے چه اے رسولﷺ! دَ توحید مسئله بیانوه په دعوت او تبلیغ کښ مصیبتونه راځی هغه برداشت کوه او ثابت قدم اُوسیږه تاسو ځما ریښتونی پیغمبریئ اخری غلبه به هم ستاسووی او ستاسو دُشمن به مغلوب وی۔ ځکه چه موسیٰ علیه السلام دَ توحید په دعوت باندے مسلسل مصائب اُوچتول۔ کافرانو دَ هغهٔ دعوت اُونهٔ منلو او هغه ته ئے ډیر تکلیف اُورسولو اخر مونږ هغه او دَ هغهٔ تابعداران اُوچت او غالب کړل او دَ هغوئ دُشمنان مو دَ هغوئ په مخکښ هلاک کړل۔

خلاصه دا سورت دَ حضرت موسیٰ علیه السلام دَ نبوت نه مخکښ دَ ژوند حالات دَ نبوت نه روستو دَ توحید دعوت، دَ قوم رداو انکار او تکلیف رسول اخر دَ حضرت موسیٰ علیه السلام او دَ هغهٔ دَ متبعینو غلبه او دَ فرعون او دَ هغهٔ دَ قوم دَ مغلوبیت او هلاکت په واقعاتو مشتمل دے۔ دینه روستو شکوی ده تخویفونه، بشارتونه ذکر شوی دی او دَ موسیٰ علیه السلام پیش کړے شوے دعوٰی توحید باندے پنځه عقلی دلیلونه چه په هغے کښ دریم اُوځلورم په طریقه دَ اعتراف من الخصم دے او دَ اولنو دوونه روستو دَ هغے ثمره هم

بیان کړے شوی دہ او یو دلیل نقلی دَ اهلِ کتابو علماؤ سرہ هم ذکر کړے شوی دے.

تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ دا تمهید مع ترغیب دے. نَتْلُوْا عَلَيْكَ ــــ تا ــــ مَا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ ۝ دا دَ ټولے قصے اجمال دے دینه روستو وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّ مُوْسٰٓى ــــ تا ــــ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ (۴۲) کښې دَ قصے دَ تفصیلاتو ذکر دے. دے قصه کښې شپږ اُمور ذکر شوی دی.

اول امر: اِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِى الْاَرْضِ الخ فرعون ډیر لوئے سرکشه وو هغه په محکوم قوم باندے زیاتے کولو. دویم امر: اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَيْكِ الخ دَ موسٰی علیه السلام والدے ته مونږ دَ الهام په ذریعه اُوښودل چه غم مکوه مونږ به موسٰی علیه السلام تاسو ته واپس راولو. دریم امر: وَجَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ تاسو ته دَ دے علم نشته مونږ به حضرت موسٰی ته دَ رسالت مرتبه هم ورکوو. څلورم امر: قَالَ رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَىَّ فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ ۝ موسٰی علیه السلام دَ الله سره وعده اُوکړه تا چه په ما مهربانی اُوکړه او زما خطاء دِ معاف کړه زهٔ وعده کوم چه په اینده کښې به دَ مجرمانو امداد نه کوم. پنځم امر: وَقَالَ مُوْسٰى رَبِّىْٓ اَعْلَمُ بِمَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى الخ (۴) دَ قوم دَ رد او انکار په جواب کښې موسٰی علیه السلام اُوئیل په هدایت څوک دے او بهتر انجام به دَ چا وی. دا ټول هرڅهٔ زما پروردګار ته معلوم دی. شپږم امر: وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الخ (ع ۷) دَ الله نه سیوا دَ دُعا او رابللو لائق نشته دا اُمور دَ حضرت موسٰی علیه السلام دَ حالاتو متعلق دی. دَ سورت په اخر کښې به دا شپږ اُمور ذکر کیږی چه دَ نبی علیه السلام دَ حالاتو سره متعلق دی. وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الخ مخکنو قومونو دَ توحید مسئله اُونهٔ منله نو هغوئ هلاک کړے شول بیا موسٰی علیه السلام دعوتِ توحید پیش کړو او فرعون او دَ هغهٔ قوم انکار اُوکړو نو هغوئ هم هلاک کړے شو. اُوس قرآن تاسو ته درکړے شو اُولیږلے شوئ ستاسو نه انکار کوونکی به هم هلاکولے شی او اخر غلبه ستاسو دَ پاره وی.

دَ حضرت موسٰی علیه السلام دَ قصے ذکر کولو نه روستو په طور دَ جمله معترضه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ صداقت ذکر اُوکړے شو وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِىِّ ــــ تا ــــ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۝ (ع ۵) دا ټول واقعات چه په سوونو کاله ستاسو نه مخکښې راغلی دی په هغے تاسو موجود نهٔ وئ لیکن مونږ خپلے مهربانئ سره تاسو ته دَ رسالت منصب درکړو او دَ وحی په ذریعه دا ټول واقعات مونږ تاسو ته اُوښودل.

وَلَوْلَآ اَنْ تُصِيْبَهُمْ مُّصِيْبَةٌ الخ دا تخویف دُنیوی دے. فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ دا شکوی ده یعنی څمونږ دَ پاره هم داسے کتاب نازل کړے شوے وے لکه چه موسٰی علیه السلام ته ورکړے شو. اَوَلَمْ يَكْفُرُوْا الخ دا جواب شکوی ده. دَ هغوئ دا مطالبه محض په ضد مبنی ده ځکه چه کَ دے نه مخکښې دَ موسٰی علیه السلام دَ کتاب نه هم هغوئ انکار کړے دے. وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ الخ (۶۴) دا ترغیب الی القرآن دے. اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ الخ دا دَ مخکښې تیر شوو عالمانو په کتابونو سره دلیل نقلی دے. انصاف خوښونکی عالمان دَ اهلِ کتابو نه په قرآن باندے ایمان راوړی دا دَ هغهٔ دَحق کیدو دلیل دے. اُولٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ الخ دَ مؤمنین اهلِ کتابو دَپاره بشارت اُخروی دے. اِنَّكَ لَا تَهْدِىْ مَنْ اَحْبَبْتَ الخ نبی علیه السلام ته تسلی ده. وَقَالُوْٓا اِنْ نَّتَّبِعِ الْهُدٰى الخ دا دویمه شکوی ده. کهٔ چرے مونږ ستا خبره اُومنو نو نور مشرکان به مونږ دَ دے ځائے نه اُوباسی. اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ الخ دا جواب شکوی ده. یعنی مونږ هغوئ ته په حرم کښې پناه ورکړے ده چه دَ ټولو په زړونو کښې دَ هغهٔ احترام موجود دے. دَ دے وجے نه کهٔ چرے هغوئ هدایت قبول کړی نو څوک هغوئ ته نقصان نهٔ شی رسولے. وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍۭ بَطِرَتْ الخ دا تخویفِ دنیوی دے. وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ الخ (ع ۷) تخویف اُخروی دے. فَاَمَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ الخ بشارت اُخروی. دینه روستو دِ دے دعوٰی توحید باندے پنځه عقلی دلیلونه ذکر کړے شویدی چه دَ هغے نه دوه علٰی سبیل الاعتراف من الخصم دے

اوّلنے عقلی دلیل، وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ الخ دَ ټول جهان خالق متصرّف او مختار الله تعالٰی دے. لِهٰذا برکات ورکوونکے او دَ رابللو لائق هم صرف هغه دے. دوَیم عقلی دلیل:- وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ه عالم الغیب هم صرف هغه دے لِهٰذا هم هغه حاجت روا او دُعا قبلوونکے دے وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الخ دا دَ مذکورو دواړو دلیلونو ثمره ده. کله چه متصرّف، مختار او عالم الغیب صرف هغه دے نو په غائبانه حاجاتو کښې دَ رابللو لائق او برکات ورکوونکے هم صرف هغه دے دریم عقلی دلیل په طریقه دَ اعتراف من الخصم. قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ الخ. څلورم عقلی دلیل، علی سبیل الاعتراف من الخصم. قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ دا ټول نظام شمسی دَ الله تعالٰی په اختیار کښې دے دَ ورځے او شپے تلل راتلل دَ دے نظام حصه ده دَ چا په قبضه کښې چه دا ټول هرڅهٔ دی هغه دَ رابللو لائق دے. پنځم عقلی دلیل. دا په اصل کښې دَ دریم او څلورم دلیل بالاجمال اعاده ده.

وَمِنْ رَّحْمَتِهٖ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ الخ الله تعالیٰ خپل رحمت سره ورځ او شپه پیدا کړل. شپه ستاسو د آرام د پاره ده او ورځ د کاروبار د پاره. د هغه رحیم او مهربان خدائے شکر ادا کړئ او په عبادت او پکار ایللو کښې هیڅوک د هغهٔ سره شریک مهٔ جوړوئ. وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ اَيْنَ الخ دا تخویف اُخروی دے. اِنَّ قَارُوْنَ كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوْسٰى الخ دا تخویف دنیوی دے. د قارون حال ته اُوګورئ څومره لوئے دولت مند او څومره ډیر وسائیل ئے لرل لیکن د توحید نه د انکار په وجه د الله د عذاب نه هغه هیڅ شی بچ نهٔ کړے شو. تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ الخ (ع ۹) دلته نه د هغه شپږو اُمورو ذکر شروع کیږی کوم چه په مذکورة الصدر رکوع چه په مخکښې ذکر شوو) شپږو اُمورو باندے متفرّع دی لیکن په طور د لف ونشر غیر مرتب. دا په اول امر تفریع ده. فرعون متکبّر او سرکش ووچه هغه په دُنیا کښې هلاک کړے شو او دلته ئے اُوفرمائیل کوم خلق چه په زمکه باندے سرکشی او فساد نهٔ کوی بلکه د الله فرمانبرداری کوی په آخرت کښې به نیک انجام صرف د هغوئ وی. اِنَّ الَّذِىْ فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ الخ دا دویم امر باندے متفرع دے. څنګه چه الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام د هغهٔ والدے ته واپس اُولیږلو داشان به هغه په آخرت کښې د عظیم الشان کور او ځائے طرف ته. یا د هجرت نه روستو د مکے طرف ته تاسو واپس کړی. قُلْ رَّبِّىْٓ اَعْلَمُ مَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى الخ دا په پنځم امر باندے متفرّع دے څنګه چه موسیٰ علیه السلام وئیلی ووچه الله ته معلومه ده چه په هدایت باندے څوک دے او نیک انجام به د چا وی. داشان نبی علیه السلام ته هم د دے جواب ورکولو حکم ورکړے شو. وَمَا كُنْتَ تَرْجُوْٓا اَنْ يُّلْقٰٓى الخ دا په دریم امر باندے متفرّع دے څنګه چه د حضرت موسیٰ علیه السلام د والدے وهم او ګمان هم نهٔ ووچه د هغے ځوئے به لوئے شی او پیغمبر به وی داشان د نبی علیه السلام په خوب او خیال کښې هم نهٔ وه چه په هغوئ باندے به وحی نازله کړے شی. فَلَا تَكُوْنَنَّ ظَهِيْرًا لِّلْكٰفِرِيْنَ ٥ دا په څلورم امر باندے متفرع دے موسیٰ علیه السلام عهد کړے ووچه زهٔ به د مجرمانو سره تعاون نهٔ کوم. دلته نبی علیه السلام د دیته منع کړے شو. وَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ الخ دا په شپږم امر متفرّع دے او د سورت ثمرة ده. د دے سورت کښې ذکر شوو عقلی او نقلی دلیلونو نه ثابته شوه چه متصرّف، کارساز، عالم الغیب او برکات ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نهٔ دے. لِهٰذَا په حاجتونو او مصیبتونو کښې غائبانه آواز صرف هغهٔ ته کوئ.

سُوْرَةُ الْقَصَصِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّتِسْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة قصص مکی دے او دے اته اتیا آیتونه او نهه رکوع گانے دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ○

شروع د الله په نوم چه ډیر مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

طٰسٓمّٓ ﴿۱﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِیْنِ ﴿۲﴾

دا آیتونه دی د کتاب واضح ۲ه

نَتْلُوْا عَلَیْكَ مِنْ نَّبَاِ مُوْسٰی وَفِرْعَوْنَ

آورووو موږ تا ته څهٔ احوال د موسیٰ ۳ه او د فرعون

بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ یُّؤْمِنُوْنَ ﴿۳﴾ اِنَّ فِرْعَوْنَ

تحقیقی هغه خلقو د پاره چه یقین کوی ۵. فرعون

عَلَا فِی الْاَرْضِ وَجَعَلَ اَهْلَهَا شِیَعًا

لوئی کوله ۶ه په ملک کښ او گرځولی ئے وو د هغے خلق څو ډلے

یَّسْتَضْعِفُ طَآىِٕفَةً مِّنْهُمْ یُذَبِّحُ

کمزورے ئے گرځولے وه یو ډله د هغوئ ۴ه حلالول به ئے

اَبْنَآءَهُمْ وَیَسْتَحْیٖ نِسَآءَهُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ

ځامن د هغوئ او ژوندئ به ئے پریښودلے ښځے د هغوئ بیشکه هغه وو

مِنَ الْمُفْسِدِیْنَ ﴿۴﴾ وَنُرِیْدُ اَنْ نَّمُنَّ عَلَی

فساد کوونکے ۵ه. او موږ غواړو چه احسان اوکړو ۶ه په

الَّذِیْنَ اسْتُضْعِفُوْا فِی الْاَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ

هغه خلقو باندے کوم چه کمزورئ کړے شوی وو په ملک کښ او جوړ کړو هغوی

اَىِٕمَّةً وَّنَجْعَلَهُمُ الْوٰرِثِیْنَ ﴿۵﴾ وَنُمَكِّنَ

سرداران او جوړ کړو هغوی قائمقام. او مضبوط کړو

لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ
هغوئ په ملک کښې او اوښایو فرعون او هامان ته
وَجُنُوْدَهُمَا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ ⑥
او د هغهٔ لښکرو ته د هغوئ په لاس نو د کوم څیز چه هغوئ سره ویره وه ف۳

نکات: تمهید مع ترغیب ۱۲.

موضح قرآن ف۱ یعنی مسلمانان خلق دِ خپل حال قیاس کړی د ظالمانو په مقابله کښې. ف۲ ځامن به ئے ذبح کول چه دا قوم زیات نهٔ شی چه طاقتور شی (یعنی بنی اسرائیل).
ف۳ هامان د فرعون وزیر وو په ظلم کښې د هغهٔ سره شریک شی.

تفسیر: ۲ ه دا تمهید مع ترغیب دے یعنی دا د کتاب مبین ایتونه دی هغه په توجه سره واورئ او په هغې باندے عمل اوکړئ. د اَلْكِتٰبُ صفت اَلْمُبِيْنِ سره دے، دِے طرف ته اشاره ده چه دِے سورت کښې اگرچه عقلی دلیلونه هم ذکر شوی دی لیکن زیات زور دلیل نقلی باندے ورکړے شوے دے. ۳ ه دلته نه واخله مَا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ پورے د فرعون او موسیٰ علیه السلام قصه مجملاً ذکر کړے شوے ده. مخکښې هغې تفصیل راځی. لِقَوْمٍ جار مجرور متعلق د نَتْلُوْا سره دے. مونږ د موسیٰ علیه السلام او فرعون عجیبه او نا اشنا قصه صحیح صحیح تا سو ته آوروو. دِے د پاره چه مؤمنان د دینه عبرت او نصیحت حاصل کړی د حضرت موسیٰ علیه السلام واقعه بیانولو نه مقصود دا دے چه هغهٔ د فرعون او د هغهٔ د قوم په مخکښې د توحید دعوت پیش کړو او د هغې په خاطرئے د ډیرے زمانے پورے تکلیفونه برداشت کول آخر هغه کامیاب شو. اے پیغمبره تا سو هم همت او استقلال سره د دعوت کار جاری سا تئ او څو مره مصائب چه راځی حوصله مند ئ سره د هغې مقابله کوئ آخیری کامیابی به ستاسو وی او ستاسو دشمن به نامراد او سر ښکته وی انبیاء علیهم السلام باندے همیشه مصیبتونه راځی.

شعر

آن بلا ہا کہ شدہ با انبیاء
ہیچ کس نہ دیدہ شان در کربلاء

۴ ه فرعون د مصر په زمکه کښې سرکش شو او د ظلم زیاتے انتهاء ته اورسید و وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا الخ د مصر خلق ئے په مختلفو جماعتونو کښې تقسیم کړل او د هغوئ نه به ئے مختلف قسم سخت او گران خدمتونه

اخستل یا مطلب دادے چه رعیت ئے په مختلفو ډلوکښې تو تے تو تے کړو او دَ هغوئ په مینځ کښې ئے دَ بغض او دُ شمنئ تخم اُوکرلو چه هغوئ متفق نهٔ شی اوخپل مینځ کښې په اختلافاتوکښې مشغول وی او دَ هغهٔ په نیکو او بدو کارونو چا ته دَ تنقید موقع ملاؤ نهٔ شی دَ انګریزانو بعینه دا پالیسی وه بلکه هر ظالم او جابر حکمران هم دا پالیسی اختیاروی. اصنافا فی استخدامه لیستعمل کل صنف فی عمل من بناء وحرث وحفر وغیر ذلك من الاعمال الشاقة .... او فرقا مختلفة قد اغری بینهم العداوة والبغضاء لئلا تتفق کلمتهم (روح ج ۲۰ ص ۴۳).

۵ طَائِفَةً نه بنی اسرائیل مراد دی چه ډیرے زمانے پورے دَ فرعون دَ قوم په لاس په مصیبتونوکښې مبتلا شوی وو دا جماعت هغهٔ بالکل کمزورے اوبے وسه ګرځولے وو او هغوئ ئے دَ هر قسم ظلم نشانه ګرځولی وو. یُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ دا دَ ماقبل تفسیر دے. یا دَ یَسْتَضْعِفُ دَ ضمیر نه حال دے. یذبح تبیین للاستضعاف وتفسیره اوفی موضع الحال من ضمیر یَسْتَضْعِفُ الخ (بحر ج ۷ ص ۱۰۵). فرعون به دَ بنی اسرائیلو په کورونوکښې پیداکیدونکے جینکئ ژوندئ پریښودے چه هغه لوئے شی نو دَ دهٔ دَ قوم خدمت به کوی. لیکن هلکان به ئے وژل ځکه چه فرعون خوب لیدلے وو چه دَ بیت المقدس نه اُور اُوتلو او په ټول مصر باندے ئے احاطه اُوکړه خورشو او هغه ټول قبطیان (دَ فرعون قوم) ئے اُوسیزل. لیکن بنی اسرائیل دَ هغے نه بالکل په امن کښې محفوظ او په امن پاتے شول. فرعون تعبیر ویستونکو نه دَ دے تعبیر غوښتنه اُوکړه نو هغوئ اُوئیل چه دَ کوم ښار نه بنی اسرائیل راغلی دی چه په هغے کښې به یو سړے پیداکیږی دَ مصر تباهی به دَ هغهٔ په لاس کیږی دَ دے وجے نه فرعون دَ بنی اسرائیلو هلکان وژل شروع کړل. یا وجه دا وه چه مخکنو انبیاؤ علیهم السلام په بنی اسرائیلو کښې دَ دے جلیل القدر پیغمبر دَ پیدا کیدلو خوشخبری ورکړے وه فرعون ته دا خبره معلومه وه. دَ دے وجے نه هغوئ دَ بنی اسرائیلو بچی وژل. دَ دے دواړو قولونو نقل کولو نه روستو امام رازی فرمائی وَهٰذا الوجه هوالاولی بالقبول (کبیر ج ۶ ص ۵۸۶).

۶ اُوس الله ته دا منظور شوه چه دِے مظلوم او مغلوب قوم باندے دَ کرم نظر اُوکړی هغوئ دَ دین او دُنیا مقتدی جوړکړی هغوئ دَ فرعون دَ حکومت او سلطنت وارثان جوړکړے شی او دَ مصر په ملک باندے هغوئ ته حکومت ورکړے شی فرعون، هامان او دَ هغوئ لښکر ته

هغه څه اُوښودلے شي چه دَ کوم خطره هغوئ سره وه. ائمة مقتدی بهم
فی الدین والدنیا علی ما فی البحر (روح ج ۲۰ صـ ۴۴) ای قادة فی الخیر یقتدی
بهم وقیل ولاة ملوکا (خازن ج ۵ صـ ۳۴۴) مَّا كَانُوا يَحْذَرُونَ ۝ دَ کوم تحیز
چه هغوئ ته ویره او خطره وه یعنی دَ بنی اسرائیلو دَ یو بچی په لاس دَ هغوئ
دَ تباهئ او سلطنت نه محروم کیدل.

وَاَوۡحَيۡنَاۤ اِلٰٓى اُمِّ مُوۡسٰٓى اَنۡ اَرۡضِعِيۡهِ‌ۚ فَاِذَا
اوحکم اُولیږلو مونږ که مور ته دَ موسیٰ چه پئی ورکوه هغهٔ ته بیا چه کله
خِفۡتِ عَلَيۡهِ فَاَلۡقِيۡهِ فِى الۡيَمِّ وَلَا تَخَافِىۡ
ویره پیدا شی تا سره په هغهٔ باندې نو اُوغورځوه هغه په دریاب کښې او مهٔ ویریږه
وَلَا تَحۡزَنِىۡ‌ ۚ اِنَّا رَآدُّوۡهُ اِلَيۡكِ وَجَاعِلُوۡهُ
او مهٔ غمژنه کیږه مونږ به بیا هغه را رسوو تا ته او جوړه وو به هغه
مِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ۝٧ فَالۡتَقَطَهٗۤ اٰلُ فِرۡعَوۡنَ
دَ رسولانو نه ف بیا پورته کړو هغهٔ لره څه دَ فرعون دَ کور خلقو
لِيَكُوۡنَ لَهُمۡ عَدُوًّا وَّحَزَنًا ‌ؕ اِنَّ فِرۡعَوۡنَ
چه دَ هغوئ دشمن شي او په غم کښې اچوونکے بیشکه فرعون
وَهَامٰنَ وَجُنُوۡدَهُمَا كَانُوۡا خٰطِـئِيۡنَ ۝٨
او هامان او دَ هغوئ لښکر وو خطا کار ف۲.
وَقَالَتِ امۡرَاَتُ فِرۡعَوۡنَ قُرَّتُ عَيۡنٍ
اُو وئیل ښځې دَ فرعون دا خو یخوالے دے دَ سترګو
لِّىۡ وَلَكَ‌ ؕ لَا تَقۡتُلُوۡهُ ‌ۖ عَسٰٓى اَنۡ يَّنۡفَعَنَاۤ
ځما دَ پاره او ستا دَ پاره مهٔ وژنئ دا لرے نهٔ ده چه پکار به راشي ځمونږ
اَوۡ نَـتَّخِذَهٗ وَلَدًا وَّهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ ۝٩
یا به مونږ دے اُونګرځوو ځوئے او هغوئ ته نهٔ وو هیڅ خبر ف۳

وَاَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰى فٰرِغًا ؕ اِنْ كَادَتْ

او صباله زړه ګښې د مور د موسٰی قرار پاتې نهٔ شو ټله نژدې وه

لَتُبْدِیْ بِهٖ لَوْلَاۤ اَنْ رَّبَطْنَا عَلٰى قَلْبِهَا

چه ښکاره کړې ئې وې بې قرارئ که چرې مونږ نهٔ وې محکم کړې د هغې زړهٔ ئله

لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ (10) وَقَالَتْ لِاُخْتِهٖ

دې دپاره چه شي د یقین کوونکو نه . او وې وئیل ئله خور د هغهٔ ته

قُصِّیْهِ ؕ فَبَصُرَتْ بِهٖ عَنْ جُنُبٍ وَّهُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ (11)

روستو ځه د هغهٔ نه بیا ګوره هغهٔ ته لکه د پردو خلقو او هغوئ نهٔ پوهیدل .

نکات : سلـ دلیل نقلی ۱۲ . سلـ۲ فاء فصیحیه ده ۱۲ .

موضح قرآن ف۱ دا د هغهٔ د مور په زړهٔ ګښې واچولې شوه یائې خوب اُولیدو ورته لارهٔ کوښه کښې به ګرځیدل چا سره چه په ئې ځوئې بیا مونږ و هغه به ئې وژلو . ف۲ د لړکي په یو صندوق کښې ئې واچولو او هغه ئې په یو نهر کښې خوشې کړو هغه بهیدو تلے نهر د فرعون په محل کښې بهیدو د هغه ښځې د پاللو دپاره اُوچت کړو . ف۳ خبره نهٔ وه چه لوئے شي نو ځهٔ به کوی . لیکن پوهه شول چه په بني اسرائیلو کښې چا دویرې په وجه غوږ ځولے دے بیا کهٔ یو هلک اُونهٔ وژلے شي نو ځهٔ اُو شو .

تفسیر : کـه اُوس د دې ځائې نه د هغهٔ اجمالِ تفصیل شروع کیږي کوم چه په مخکښې ایتونو کښې وو یعني د هغه کمزورو ګڼړلے شوو اُوچتوالے او د سرکشانو ښکته والے دا شان شروع کیږي . هغه نیک بخته ماشوم پیدا شویدے د کوم په لاس چه د بني اسرائیلو غلبه او د فرعون د قوم تباهي او رسوائي کیدونکے ده . وَاَوْحَیْنَاۤ کښې وحي نه الهام او القاء فی القلب مراد ده یعني مونږ د موسٰی علیه السلام د والدې په زړهٔ کښې دا خبره واچوله چه اُوس هغه د ځان سره پټ اُوساته هغهٔ ته پئ ورکوه کهٔ چرې د هغهٔ د وژلو خطره تا سره پیدا شي نو هغه په صندوق کښې بند کړه دریاب ته ئې اُوغورځوه او بیا د هغهٔ د ضائع کیدلو ویره او د هغهٔ د جدائي غم مکوه هغه به زر واپس تا ته راولم او زهٔ هغه د رسالت په منصب بانددې هم فائزکوونکے یم دا معامله نبي علیه السلام ته هم مخې ته راغله هغوئ د مشرکانو د ضرر رسولو په وجه مکه مجبوراً پریښودله لیکن اخر الله

هغوئ مکه مکرمه کښ فاتحانه داخل کړل. ۸ه فاء فصیحیه ده یعنی کله چه د موسیٰ علیه السلام والدې ته خطره پیدا شوه نو بچے ئے د الهام ربانی مطابق په صندوق کښ بند کړو دریاب ته ئے اُوغورځولو. اتفاقاً دغه ورځ فرعون د دریاب په غاړه خپل د باړ تکولے وو ډے دوران کښ هغه صندوق لاهبو وهونکے د هغهٔ د نا ستے ځائے ته را اُورسید او د فرعون خلقو هغه را اُویستو کله چه صندوق بیرته کړے شو نو په هغے کښ ئے ډیر زیبات ځائسته او خوبصورت ماشوم اُولید و ټول حیران شول.
لِيَكُوْنَ لَهُمْ، کښ لام عاقبت د پاره دے یعنی هغوئ دے اُوچت کړو چه په اخر کښ د هغوئ دشمن او د هغوئ د غم باعث جوړ ید وینکے وو حال دادے چه د هغوئ غرض دانهٔ وو. خٰطِـِٕيْنَ، د کفر او شرک او حق نه د انکار په وجه ګناهګار او مجرم وو.
۹ه د فرعون په زړهٔ کښ پخپله یا د چا توجه پیدا کولو سره داخیال پیدا شو ممکن ده چه دا هغه مولود وی د کوم په لاس چه د هغهٔ د سلطنت زوال مقدر وی د دے وجے نه هغه وژل پکار دی لیکن د فرعون ښځے آسیے بنت مزاحم سفارش اُوکړو او وے وئیل چه دا خو ځما او ستا د سترګو یخوالے دے د دے وجے نه دے مهٔ وژنئ ممکن ده چه د دهٔ په ذریعه مونږ ته ځهٔ فائده اُورسیږی یا مونږ دے په ځوئے اُونیسو ځکه چه ځمونږ خو ځوئے هم نشته. فرعون د آسیے خبره اُومنله او د بچی د وژلو نه ئے لاس اُونیوو. وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ○ دا ټول هر څهٔ اُوشول لیکن هغوئ کښ چا ته هم دا معلومه نهٔ وه چه دا هم هغه معصوم بچے دے چه د دهٔ په لاس به د هغوئ زوال او هلاک وی. ای لا یشعرون انه الذی یفسد ملکهم علی یدیه قال قتادة (بحر ج ۷ صلنا).
۱۰ه فٰرِغًا، یعنی د صبر نه خالی یا د ځوئے د خیال نه سیوا د هر خیال نه خالی (روح) د حضرت موسیٰ علیه السلام والده (یحیانة بنت یصهربن لادی) ته چه کله معلومه شوه چه فرعون د هغے عزتمند ځوئے پوته کړے دے او هغه صحیح سلامت او ژوندے بچ شوید ے نو د هغے زړهٔ د صبر او استقلال نه خالی شو او نزدے وه چه د خوشحالئ په وجه هغے فرعون ته ښودلے وے چه د هغے ځوئے دے قیل المعنی انها کادت تظهر امره من شدة الفرح بنجاته وتبنی فرعون ایاه (روح ج ۲۰ صلی) یا مطلب دادے چه کله هغے بچے په صندوق کښ بند کړو هغه ئے دریاب ته واچولو نو چیږو موجونو هغه یوخوا بل خوا ویشتل شروع کړهٔ کله چه هغه د فرعون لاس ته ورغے نو د مور سره ئے غم پیوست شو چه فرعون به هغه ضرور

وژني نو د ډیر غم نه نزدې وه چه د هغې چغې وتلې وې او راز ښکاره شوې وې. قيل لما رأت الامواج تلعب بالتابوت كادت تصيح وتقول وا ابناه وقيل لما سمعت ان فرعون اخذ التابوت لم تشك انه يقتله فكادت تقول وا ابناه شفقة عليه (مدارك ج ۳ ص۱۷۲).

لله لیکن موږ د موسیٰ علیه السلام د والدې زړهٔ مضبوط او محکم کړو د هغې په زړهٔ موږ غوټه واچوله زیات صبر مو ورکړو. لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ، دا د ما قبل د پاره علت دے یعنی موږ د هغې زړهٔ د دے د پاره مضبوط کړو چه څموږ د وعدے هغې ته زیات تصدیق اوشي ای من المصدقين وعد الله اياها. (خازن ج ۵ ص۱۳۱) یا مطلب دا دے دے د پاره چه هغه په ایمان باندے ثابت قدم پاتے شي ځکه چه هغه خو مؤمنه د مخکښ نه وه. قاله الشيخ رحمه الله تعالىٰ. لَوْلَآ د پاره جواب مقدر دے اى لا بدته بقرينة إِنْ كَادَتْ لَتُبْدِيْ بِهٖ (روح).

لله موږ ته د موږ ولئی د محبتا د وجے کله قرار نه راتې خپلې لور د موسیٰ علیه السلام خور حضرت مریم بنت عمران (دا مریم بنت عمران د عیسیٰ علیه السلام د والدے نه علاوه ده) ته د حالاتو د تفتیش د پاره د فرعون کور ته هغهٔ پسے د روستو روستو اولیږله چه معلوم کړی چه هغه د ده سره څهٔ قسم معامله کوی نو چه کله هغه لاړه او د لرے نه ئے تول هرڅهٔ لیدل چه چا ته پته اونهٔ لږی چه هغه د حالاتو د تفتیش د پاره هلته ولاړه ده. عَنْ جُنُبٍ اى عن بعدٍ یعنی د لرے نه (بحر).

وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ فَقَالَتْ

او منع کړے موږ د موسیٰ نه پئ ورکوونکے ښځے د مخکښ نه لله بیا ئے اوئیل

هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰٓى اَهْلِ بَيْتٍ يَّكْفُلُوْنَهٗ

زهٔ به اوښائم تاسو ته د یو کور والا چه هغه دے اوپالی

لَكُمْ وَهُمْ لَهٗ نٰصِحُوْنَ ﴿۱۲﴾ فَرَدَدْنٰهُ اِلٰٓى

ستاسو د پاره او هغه د دهٔ خیرغوښتونکی دی ول. بیا موږ اورسوو هغه خپلے

اُمِّهٖ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ

مور ته کله چه یخے شي سترګے د هغې او خفه نهٔ وی او پوهه شي

أَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ
چه وعده د الله تعالیٰ صحیح ده بیا ډیر خلق
لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَاسْتَوٰى ع
نه پوهیږي ۱۳. او کله چه اورسیدو قوله خپل زور ته برابر شو
اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ۚ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي
ورکړو مونږ هغهٔ ته حکمت (نبوت) او علم او هم داشان مونږ بدله ورکوو
الْمُحْسِنِينَ ﴿١٤﴾ وَدَخَلَ الْمَدِينَةَ عَلٰى حِينِ
نیکي کوونکو ته. او راغے ښار ته دننه کله چه
غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ
ناخبره وو د هغه ځائے خلق بیائے بیا موندل هلته دوه سړي
يَقْتَتِلٰنِ ۫ هٰذَا مِنْ شِيعَتِهٖ وَهٰذَا
جهګړه کوونکي دا یو د هغهٔ د ملګرو نه وو او دا دویم
مِنْ عَدُوِّهٖ ۚ فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِي مِنْ شِيعَتِهٖ
د هغهٔ د دشمنانو نه وو بیا فریاد اوکړو هغه ته هغه کس چه وو د هغه د ملګرو نه
عَلَى الَّذِي مِنْ عَدُوِّهٖ ۙ فَوَكَزَهُ مُوسٰى
د هغه کس چه وو د هغه د دشمنانو نه بیا په سوک اووهلو هغهٔ لره موسیٰ
فَقَضٰى عَلَيْهِ ۫ قَالَ هٰذَا مِنْ عَمَلِ
نو بیائے کار تمام کړو د هغهٔ وے وئیل دا د کار
الشَّيْطٰنِ ۭ إِنَّهُ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ قَالَ
د شیطان نه وو کله بیشکه هغه دشمن دے ګمراه کوونکے ښکاره ۱۵. وے وئیل
رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَغَفَرَ لَهٗ ۭ
اے ځما ربه ما بد اوکړه د خپل ځان سره نو ښنه اوکړې ما ته بیائے ښنه اوکړه هغهٔ ته،

إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿١٦﴾

بیشکه هغه دے بښونکے مهربان

موضح قرآن ف۱ د فرعون ښځه د بنی اسرائیلو نه وه د حضرت موسیٰ د تره لور وه د دے لفظ نه هغه اُو پیژند وچه هلک د بنی اسرائیلو دے او کله چه ئے په څوځے اُو بیوو نو دایا نئے طلب کړے هغهٔ د هیچا پئ اُو نهٔ رودل چه لاچار شول نو هغه وخت ئے د هغهٔ مور را اُوغوښتله د هغے پئ رودل ئے شروع کړل هغے ته ئے حواله کړو د پاللو د پارهٔ ئے یو دینار روزینه مقرر کړه. ف۲ یعنی وعدهٔ د الله رارسیږی په مینځ کښ لوئے لوئے کنړاوونه پراوونه راځی هغے کښ ډیر خلق بے یقین کرځی. ف۳ کله چه حضرت موسیٰ ځوان شو د فرعون د قوم او د هغوئ د کفر نه به بیزاره اُوسیدو او هغه بنی اسرائیلو سره اُوسیدو دغه دوه کسان ئے په جهګړه اُولیدل فرعونی سړے ظالم وو هغه ئے د ادب د پاره اُوهلو د هغهٔ نیته پوره شوه. موسیٰ علیه السلام په هغے پښیما نه شو چه بے قصد او بے ارادے قتل اُوشو او د هغهٔ د مور کور د ښار نه بهر وو چرته چه ټول بنی اسرائیل اُوسیدل. حضرت موسیٰ علیه السلام کله هلته تللو کله به د فرعون کور ته راتللو او د فرعون قوم د هغهٔ دشمنان وو چه دے خوځمونږ د قوم نه نهٔ دے هسے نه چه طاقتور شی.

تفسیر: ۱۳له تحریم د منع نه کنایه ده. مَرَاضِعَ د مُرْضِعٌ جمع ده یعنی هلته د مریم رسیدو نه مخکښ موسیٰ علیه السلام مونږ د پیو رودلو نه منع کړو. اُوس هغوئ ټول پریشان وو چه څهٔ اُوکړی معصوم بچی د هیڅ یو دائ پئ ځلے ته راؤنړل. کله چه مریم صورتِ حال اُولیدو نو بهادری ئے اُوکړه او نزدے ورغله او وے وئیل کهٔ چرے اجازت وی نو زهٔ هم د یوے بی بی پته درکوم کیدا ے شی دا بچے د هغے پئ واخلی هغه بی بی او د هغے د کور نور خلق ټول به د دے بچی مینے، محبت او خیر خواهئ سره تربیت کوی. ۱۴له فاء فصیحیه ده یعنی هغوئ د دے خبره اُومنله او هغے د دوئ په وینا باندے خپله والده هغوئ ته حاضره کړه کله چه موسیٰ علیه السلام د خپلے مور خوشبوئی بوئے کړه نو سمدستی ئے د هغے پئ څکل شروع کړل فرعون د بچی پالنه هغے ته حواله کړه. داشان مونږ موسیٰ د هغهٔ مور ته واپس کړو دے د پارهٔ چه د هغے سترګے یخے وی او د هغهٔ د جُدائ غم ورسره نهٔ وی داشان چه د هغے یقین اُوشی چه د الله وعده رښتونے ده. ۱۵له موسیٰ علیه السلام چه کله د ځوانئ عمر ته

اُورسیدا و او د هغهٔ جسمانی او ذهنی قوتونه د کمال حد ته اُورسیدل نو مونږ هغهٔ ته د عقل او علم و فهم دولت ورکړو یعنی د دین په معاملاتو کښې ژوره پوهه او حکمت یعنی صحیح قوتِ فیصله مونږ ورکړه - ای الفقه و العقل والعلم فی الدین فعلم موسٰی وحکم قبل ان یبعث نبیًا (معالم ج ۵ ص۱۳۸) ځنو د حکم او علم نه نبوت او علم نبوت مراد اخستې دے لیکن دے صورت کښې به د قصے په ترتیب کښې تقدیم او تاخیر وی ځکه چه موسٰی علیه السلام ته نبوت د مدین نه واپسئ سره په لاره کښې ملاؤ شو او د قبطی قتل او د مدین سفر وغیره واقعات د نبوت نه مخکښې دی لیکن په اول صورت کښې تقدیم او تاخیر منلو ته ضرورت نشته.

۲۶ یوه ورځ د موسٰی علیه په ښار کښې داسے وخت داخل شو چه ټول خلق د غرمے په وخت د بهر د حالاتو نه ناخبره وو په خپلو کورونو کښې د غرمے خوب (قیلوله) کوله هغه ځائے ګوری چه دوه سړی په خپل مینځ کښې په جهګړه وو په هغوئ کښې یو د هغهٔ د خپلے قبیلے یعنی د بنی اسرائیلو نه دے او دویم د هغهٔ د دُشمن د قبطیانو د قوم نه دے اسرائیلی د موسٰی علیه السلام لیدلو سره د قبطی په مقابله کښې هغهٔ ته امداد کولو د پاره آواز اُوکړو موسٰی علیه السلام اول خو قبطی زبانی طور پوهه کړو چه هغه اسرائیلی پریږدی لیکن هغه اُلټه ګستاخئ سره مخے ته راغے دے سره موسٰی علیه السلام را مخکښې شو هغه ئے په یو سُوک اُوهلو دے سره د هغهٔ اراده د ظالم د ظلم نه د مظلوم د بچ کولو وه د قتل اراده ئے نهٔ وه او نهٔ عادتًا سُوک د قتل باعث ګرځی لیکن قبطی د هغے طاقت اُونهٔ لرلے شو او مړ شو دے تقریر نه معلومه شوه چه دا واقعه د عصمتِ انبیاء علیهم السلام د کبائر نه مخکښې د نبوت سره منافی نهٔ ده ځکه چه موسٰی علیه السلام ځهٔ ګناه نهٔ ده کړے هغهٔ د یو مظلوم امداد کړے وو چه هغے سره بلا ارادہ یو سړے مړ شو. لا یشکل ایضا علی القول بعصمتهم عن الکبائر والصغائر مطلقا لجواز ان یکون علیه السلام قد رای ان فی الوکز دفع ظالم عن مظلوم ففعله غیر قاصد به القتل وانما وقع مترتبًا علیه لا عن قصد (روح ج ۲۰ ص۵۳)

۲۷ دا د دے خبرے دلیل دے چه د حضرت موسٰی علیه السلام اراده د قبطی د قتل هرګز نهٔ وه کله چه د هغهٔ سوک سره غیر متوقع طور باندے د قبطی مرګ واقع شو نو ډیر پښیمانه شو او وے وئیل دا خو یو شیطانی فعل دے شیطان د انسان ښکاره دُشمن دے چه هغه دهوکه کوی او په غلطه لاره ئے روانوی. قَالَ رَبِّ اِنِّیۡ ظَلَمۡتُ الخ دے غیر ارادی لغزش باندے ئے الله تعالٰی ته د معافئ درخواست اُوکړو نو الله تعالٰی معاف اُوکړه ځکه چه

دَ معاف کولو والا او مهربان په حقیقت کښې صرف هغه دے۔

قَالَ رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَیَّ فَلَنْ اَكُوْنَ

وے وئیل اے ربه ځکه چه تا فضل اوکړو په ما باندے څله بیا به زهٔ هیڅکله نهٔ شم

ظَهِیْرًا لِّلْمُجْرِمِیْنَ ﴿۱۷﴾ فَاَصْبَحَ فِی الْمَدِیْنَةِ

مدد گار دَ گناهګارانو ف بیا صبا پاسیدو وګله دغه ښار کښې

خَآئِفًا یَّتَرَقَّبُ فَاِذَا الَّذِی اسْتَنْصَرَهٗ

ویریدو و تکے چه انتظار ئے کولو بیا ناڅاپه چاچه مدد غوښتے وو دَ هغهٔ نه

بِالْاَمْسِ یَسْتَصْرِخُهٗ ؕ قَالَ لَهٗ مُوْسٰٓی

پرون بیا فریاد کوی هغه ته اووئیل موسٰی علیه السلام

اِنَّكَ لَغَوِیٌّ مُّبِیْنٌ ﴿۱۸﴾ فَلَمَّآ اَنْ اَرَادَ

بیشکه ته بے لارے ئے ښکاره ف. بیا چه کله ئے اراده اوکړه

اَنْ یَّبْطِشَ بِالَّذِیْ هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ۙ

چه حمله اوکړی په هغهٔ باندے ځوک چه دشمن وو دَ هغه دواړو

قَالَ یٰمُوْسٰٓی اَتُرِیْدُ اَنْ تَقْتُلَنِیْ كَمَا

وے وئیل اے موسٰی ایا تهٔ غواړے چه ما قتل کړے لکه چه

قَتَلْتَ نَفْسًا بِالْاَمْسِ ۖ اِنْ تُرِیْدُ اِلَّآ

قتل دِ کړیدے ډیو نفس پرون ستا نهٔ دا غواړی

اَنْ تَكُوْنَ جَبَّارًا فِی الْاَرْضِ وَمَا تُرِیْدُ

چه ته زورور شے په زمکه کښې او ته غواړے

اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْمُصْلِحِیْنَ ﴿۱۹﴾ وَجَآءَ

چه شے ته صلح کوونکے ف۳ فه او راغے نه

رَجُلٌ مِّنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ يَسْعٰى ز قَالَ
یو سړے اخري سر نه د ښار چه منډه ئے وهله وے وئیل

يٰمُوْسٰى اِنَّ الْمَلَاَ يَاْتَمِرُوْنَ بِكَ
اے موسٰی درباریان (مشران) مشورے کوی ستا په حق کښ

لِيَقْتُلُوْكَ فَاخْرُجْ اِنِّيْ لَكَ مِنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿۲۰﴾
چه مړ کړی تا نو اُوزه زهٔ ستا خیر خواه یم ف

فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ ز قَالَ رَبِّ
بیا اُوتو د هغه ځائے نه ویرېدو ونکے چه کتل ئے هر طرف ته وے وئیل اے ربه

نَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۱﴾ وَلَمَّا
نجات راکړه ماته د دے قوم بے انصافو نه او کله چه ئے

ع

تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسٰى رَبِّيْٓ
مخ کړو په طرف د مدین وے وئیل اُمید دے چه زما رب به

اَنْ يَّهْدِيَنِيْ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿۲۲﴾
بوځي ما لره په سمه لار باندے ف

موضح قرآن ف ښائي چه د دے فریادی هم څهٔ تقصیر وو او بښنه هغهٔ معلومه کړه الهام سره پیغمبران خلق د نبوت نه مخکښ ولیان خودی. ف۲ یعني هره ورځ د ظالمانو سره اتختے ئے او ما په جهګړه اخته کوے. لار ته ئے کتل ځکه چه د قتل شوی سړی وارثانو فرعون ته فریاد وړلے دے کوری چه په چا باندے ثابتیږی او څما سره به څهٔ معامله کوی. ف۳ د لاس اچولو اراده ئے اُوکړه په ظالم باندے مظلوم خیال اُوکړو چه غصه ئے ماته اُوکړه تو لاس به هم ماته اچوی پرونے قتل پټ پاتے وو چه چاکړیدے نن د هغهٔ په ژبه مشهور شو. ف۴ دائے څمون رسول ته واؤرول چه دے به هم د وطن نه اُوځي. د ځان د ویرے نه کافران تول جمع شول چه په هغهٔ حمله اُوکړی. هم په هغه شپه ئے هجرت اُوکړو اُوتل. ف۵ دهٔ ته لار نهٔ وه معلومه الله دے په سمه لار روان کړلو.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی کله چه موسیٰ ؑ هغهٔ ته غَوِیٌّ اومضل مُّبِیْنٌ اُوئیل هغهٔ خیال اُوکړو چه قهر او غُصے سره به په ما راځی ما لره وهی ۱۲۔

تفسیر: ۱۸ حضرت شیخ فرمائی بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَیَّ نه روستو فلاتُهِنِّیْ محذوف دے یعنی ما مهٔ رسوا کوه یا په بِمَآ کښ بآءِ قسمیه ده او جواب قسم محذوف دے او فَلَنْ اَکُوْنَ الخ جواب باندے معطوف دے. ای اقسم بانعامك علی لا متنعنّ عن مثل هٰذا الفعل الخ (روح ج ۲۰ صـ۵۵) او دَ انعام نه یا خودَ فرعون دَ شرنه محفوظ پاتے کیدل مراد دی یا په مذکوره لغزش باندے معافی. ځکه چه الهام یا رؤیاءِ صادقه (ربښتونے خوبونو) سره موسیٰ علیه السلام ته معلومه شوے وه چه الله پاك دَ هغوئ لغزش معاف کړے دے (ایضاً) دِے باندے به امرِ خامس متفرّع وی. ۱۹ حضرت موسیٰ علیه السلام شپه په دے اُمید او ویره کښ تیره کړه چه اُوګوری چه فردِ جُرم په چا واقع کیږی راتلونکی ورځ چه کله هغه دَ کور نه بهر شو نو وے کتل چه هم هغه اسرائیلی نن دَ یو بل قبطی سره مُشتِ ګریوان او په جهګړه دے هغه چه موسیٰ علیه السلام اُولیدو نن ئے بیا دَ امداد دَ پاره اواز اُوکړو موسیٰ علیه السلام اُوئیل تهٔ خو ډیر بے فائدے انسان ئے. دَ هغهٔ مطلب دا وو چه ستا خو روزانه داکار دے. فَلَمَّآ اَنْ اَرَادَ الخ دینه روستو چه موسیٰ علیه السلام دَ قبطی دَ نیولو دَ پاره اودَ روستو راښکلو دَ پاره وړاندے شو نو اسرائیلی خیال اُوکړو چه ما رانیسی ځکه چه هغه ئے ملامته کړے وو دَ دے وجے نه ئے فوراً اُوئیل اے موسیٰ څنګه چه تا پرون یو سړے قتل کړے وو دا شان نن ما لره وژل غواړے تهٔ خو دَ جهګړے او صلح صفایئ ختمولو په ځائے جبر تشدد دَ ظلم او زیاتی سره لوئے سړے جوړیدل غواړے.

۲۰ دَ اسرائیلی دَ خبرو اترو نه دَ قبطی دَ قتل مُعمّه حل شوه او دا خبره سمدستی فرعون ته اُورسیده فرعون اودَ هغهٔ مُشیرانو دَ موسیٰ علیه السلام دَ قتل فیصله اوکړه دَ فرعون دَ رشته دارانو نه یو نیک انسان (چه روستو ئے په موسیٰ علیه السلام ایمان راؤړو او په قرآن کښ چه چا ته رَجُلٌ مُؤمن وئیلے شوے دے) شمعون یا حزقیل ته خبر اُورسیده هغه په منډه منډه موسیٰ علیه السلام ته راغے او دَ فرعون دَ دربار دَ فیصلے نه ئے هغه خبر کړو او مشوره ئے ورکړه چه هغه فوراً دَ دے ښار نه هجرت اُوکړی لاړ شی.

۲۱ دَ موسیٰ علیه السلام بغیر دَ څهٔ توقف کولو نه دَ ښار نه اُوتو

لیکن دا ویره هم وه سره ده چه چرته د فرعون سړی هغه اُونه نیسی یا ئے
قتل نه کړی دے سره د الله طرف ته متوجه شو درخواست کوی چه ځما
پروردګاره ما د ظالمانو نه بچ کړه ځکه چه د هغه نه سیوا بل د پناه ځائے نیولو
او د رجوع ځائے نشته یعنی ینتظر الطلب هل یلحقه فیأخذه ثم لجأ الی
الله تعالی لعلمه انه لا ملجأ الا الیه (خازن ج ۵ ص۱۳۱)

۲۲ مدین د حضرت شعیب علیه السلام ښار وو دا ښار د فرعون
د حکومت نه بهر وو او مصر ته نزدے هم وو د دے وجے نه ئے د مدین
طرف ته مخه اُوکړه. ومدین قریة شعیب علیه السلام سمیت بمدین
بن ابراهیم ولم تکن فی سلطان فرعون وبینها وبین مصر مسیرة ثمانیة
ایام (مدارک ج ۳ ص۱۷۲) لاره چونکه هغه ته صحیح معلومه نه وه د دے
وجے نه ئے خالص په اټکل یوه لاره اُونیوله او د خدائے په توکل باندے
روان شو نو هغه په خپله مهربانئ سره صحیح لاره باندے روان کړلو

وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً
اوکله چه اُورسید ۲۳ اُوبو ته د مدین بیائے مونده یوه ډله

مِّنَ النَّاسِ يَسْقُونَ ۖ وَوَجَدَ مِن
د خلقو چه اُوبه ئے ورکولے او بیائے مونده لے د

دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ ۖ قَالَ
هغوئ نه دوه ښځے چه منع کړے ئے وے خپلے چیلئ وے وئیل

مَا خَطْبُكُمَا ۖ قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّىٰ يُصْدِرَ
څه دے حال ستاسو وے وئیل مونږ نه اُوبه کوو واپس کیدلو پورے

الرِّعَآءُ ۖ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ﴿٢٣﴾ فَسَقَىٰ
د شپونکو او پلار ځمونږ بوډا دے د ډیر عمر ۲۵ بیا هغه اُوبه کړلے

لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰ إِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ
د هغوئ څاروی ته بیائے شاه اُوګرځوله او سوری طرف ته راغے. وے وئیل اے ربه

إِنِّي لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ ﴿٢٤﴾

زۀ هغې ته ته چه کوم څیز را اولیږې ځما طرف ته د خیر نه محتاج یم وسل

فَجَآءَتْهُ إِحْدَىٰهُمَا تَمْشِي عَلَى ٱسْتِحْيَآءٍ

بیا راغله هغۀ ته یوه د هغه دواړو نه چه تلله حیاء سره وسل

قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا

وې وئیل ځما پلار غواړی تا لره چه په بدله کښې درکړی حق د هغې

سَقَيْتَ لَنَا ۚ فَلَمَّا جَآءَهُۥ وَقَصَّ عَلَيْهِ

چه تا اوبه ورکړې څمونږ څاروته بیا چه کله هغه را اورسیدو او بیان ئې کړلو هغۀ ته

ٱلْقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفْ ۖ نَجَوْتَ مِنَ

احوال وې وئیل مۀ ویریږه خلاصې بیاموندو تا هغه

ٱلْقَوْمِ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَتْ إِحْدَىٰهُمَا

قوم بې انصاف نه. اووئیل هغه دواړو نه یوې

يَـٰٓأَبَتِ ٱسْتَـْٔجِرْهُ ۖ إِنَّ خَيْرَ مَنِ ٱسْتَـْٔجَرْتَ

اې پلاره دا نوکر اوساته لدله بیشکه بهتر مزدور چه ئې ساتل غواړې هغه دې څوک چه

ٱلْقَوِيُّ ٱلْأَمِينُ ﴿٢٦﴾

طاقتور او امانت داروی وسل

موضح قرآن

ف د مصر نه (مدین ته) د لسو ورځو لار ده چه هلته اورسیدو او روږے تږے خلقو چیلئ اوبه کولے **ف۲** هغوئ حیاء سره یو غاړے ته ولاړے وے او چیلئ ئے یو طرفته کړے وے او طاقت ئے نۀ لرلو چه د ډیرو خلقو نه ئې بوکه راوباسي چه کوم اوبۀ به پاتې شوے هغه به ئې په څاروو اوڅکولے. **ف۳** ښځو اوپیژندو چه سړی ته کینا ستو نکے مسافر دے د لرې نه راغلے دے او روږے او ستړے دے. لاړے او خپل پلار ته ئې اووئیل. هغۀ ته هم یو داسې نیک بخت

سړے پکار وو چه چیلئ هغهٔ د پاره اُوساتی او لوړ هم ورته په نکاح کړی
ف۲ طاقت ئے اُولیدهٔ و بوکے راویستلو سره او امانت دار ئے اُولیدهٔ و
بے طمع کیدلو سره چه هیڅ طمع نهٔ لری.

تفسیر: ۲۳ه الله الله ئے کولو مدین ته اُورسیدهٔ و. لاد ښار ته بهر
وو چه په یو کوهی باندے ئے د خلقو گڼړ تیا اُولیدهٔ چه خپلو څاروو ته
اُوبهٔ ورکوی. موسیٰ علیه السلام اُولیدل چه دوه ښځے لرے یو طرف
ته ولاړے دی خپله رمه ئے منع کړیده. موسیٰ علیه السلام ته د دوئ
حالت عجیبه شان معلوم شو رانحکښ شو هغوئ نه ئے پوښتنه اُوکړه څهٔ
خبره ده چه تاسو خپلے چیلئ لرے اُودرولی دی؟. هغوئ جواب ورکړو
ترڅو چه دے خلقو خپلو څاروو ته اُوبهٔ نهٔ وی ورکړی او نهٔ وی فارغ
شوی تر هغه وخته پورے مونږ خپلو چیلو ته اُوبهٔ نهٔ شو ورکولے ځکه
چه مونږ پخپله د کوهی نه اُوبهٔ نهٔ شو راویستلے او ځمونږ پلار هم بوډا
کمزورے دے هغه هم د دے کار نه عاجز دے د دے وجے نه چه کله دا خلق
خپل څاروی اُوبهٔ کړی او لاړشی نو په حوض کښ پاتے شوے اُوبهٔ مونږ
په خپلو چیلو باندے اُوڅکوو. انا امرأتان لا نطیق ان نستسقی ولا نستطیع
ان نزاحم الرجال فاذا صدروا سقینا مواشینا ما افضلت مواشیهم فی
الحوض (معالم ج ۵ ص۱۱۳) مشهور قول دادے چه دا دواړه ښځے د حضرت
شعیب علیه السلام لونړه وے د مشرکانو حضرت شعیب علیه السلام سره
دومره ډیر ضد او عناد وو چه هغوئ انسانی مروّت او اخلاق یو طرف ته
لرے کیښودلی وو چه نهٔ خو هغوئ د هغهٔ د بوډاوالی خیال ساتلو نهٔ ئے
د هغهٔ د لونړو د ضعفِ صنفی خیال ساتلو بلکه چه خپل څاروی به ئے
اُوبهٔ کړل د کوهی خُلهٔ باندے به ئے یو درون کټ کیښودلو او بوکه هم
دومره درنه وه چه څو طاقتور ځوانانو به راویستله.

۲۴ه د حضرت موسیٰ علیه السلام د دوئ په حال رحم راغے هغوئ
راوړاندے شول خلق ئے یو طرف ته کړل ځانله یوازے ئے بوکه راویستله
او په څاروو باندے ئے اُوبهٔ اُوڅکلے هغوئ ئے رخصت کړلے او پخپله
نزدے د یوے اُونے یا دیوال سوری ته کیناستو. بوکه دومره درنه وه
چه څو تنه به یو ځائے شول نو هله به ئے راویستله. روی انه نحی القوم عن
رأس البئر وسألهم دلوا فاعطوه دلوهم وقالوا استق بها وکانت لا ینزعها
الا اربعون فاستقی بها وصبها فی الحوض الخ (مدارک ج ۳ ص۱۶۲) سوری ته
کیناستو خپل مولیٰ ته ئے د لوږے شکایت اُوکړو چه ځما مولیٰ دا وخت
څهٔ لږ ډیر څهٔ هم چه ما ته د کوم ځائے نه ته راُولیږے زهٔ هغے ته

محتاج یم. ۲۵ په دے خیال کښ وو چه د دواړو ښځو نه یوه راغله د هغے د را تللو نه شرم او حیاء ظاهریدله هغه چه راغله وے وئیل څما پلار تا رابلی دے د پاره چه ستا د احسان بدله تا ته درکړی. حضرت موسیٰ علیه السلام هغے سره روان شو او ښځے ته ئے اُوئیل چه ته څما نه روستو روستو راځه دِے د پاره چه څما نظر ستا په بدن نهٔ لګی او بنی طرف او کینړ طرف ته ما ته لار راښایه. روی انه علیه السّلام اجابها فقام معها فقال لها امشی خلفی وانعتی لی الطریق فانی اکرہ ان تصیب الریح ثیابك فتصف لی جسدك ففعلت الخ (روح ج ۲۰ ص ۶۵) کله چه هغه حضرت شعیب علیه السلام ته اُورسید و ټوله واقعه ئے بیان کړه نو هغهٔ اُوفرمائیل اُوس مهٔ ویریږه دلته د فرعون ﷺ تسلط نشته او الله ستا دُعا قبوله کړه او د ظالمانو نه ئے تا ته نجات درکړو.

۲۶ ده دواړو خوېندو نه یوے اُوئیل. او دا هم هغه وه کومه چه د هغهٔ د راوستلو د پاره تللے وه. بابا جانه! دا ځوان تا سو مزدور اُونیسئ چه د دے رمے د څرولو، دیته د اُوبو ورکولو او د دے نګرانی کوی ځکه چه تا سو ته مزدور داسے پکار دے چه طاقتور هم وی او نیک هم وی او دِے ځوان کښ دا دواړه صفتونه موجود دی د موسیٰ علیه السلام د قوت اندازه خو هغے د دے نه لګولے وه چه هغهٔ یواځے ډوکه راویستلے وه چه څوانسانانو به په شریکه راویستله او د هغهٔ د نیکئ او امانت دارئ اندازه ئے د دیته اُولګوله چه کله ئے د ځان سره را روان کړو کور ته راتلل نو هغهٔ دیته اُوئیل ته څما نه روستو روستو راځه دِے د پاره چه څما نظر په تا نهٔ پریوځی.

قَالَ اِنِّیۡۤ اُرِیۡدُ اَنۡ اُنۡکِحَکَ اِحۡدَی

وے وئیل زهٔ غواړم ځکه چه واده کړم تا ته یوه لور

ابۡنَتَیَّ هٰتَیۡنِ عَلٰۤی اَنۡ تَاۡجُرَنِیۡ ثَمٰنِیَ

د خپلو دواړو لونړو نه په دے شرط باندے چه ته به څما مزدوری کوے اته

حِجَجٍ ۚ فَاِنۡ اَتۡمَمۡتَ عَشۡرًا فَمِنۡ

کاله بیا کهٔ چرے ته پوره کړے لس کلونه نو هغه به

عِنْدِكَ ۚ وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ اَشُقَّ عَلَيْكَ ؕ
ستا د طرفه وي او زه نه غواړم چه تکليف واچوم په تا باندے
سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۲۷﴾
ته به بيا موے ما لره که چرے اوغوښتل الله تعالیٰ د صالحانو نيک بختونه.
قَالَ ذٰلِكَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ ؕ اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ
وے وئيل دا وعده اوشوه ځما او ستا مينځ کښ کومه يوه موده چه د دواړو نه
قَضَيْتُ فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى مَا
زه پوره کړم نو زياتے به نه وي په ما باندے او په الله تعالیٰ د هغه خيز
نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴿۲۸﴾ فَلَمَّا قَضٰى مُوْسَى
کوم چه مونږ وايو بهروسه ده ول. بيا چه کله پوره کړه موسیٰ (عليه السلام)
الْاَجَلَ وَسَارَ بِاَهْلِهٖٓ اٰنَسَ مِنْ جَانِبِ
هغه موده او ځان سره ئے روان کړل خپل کور والا وے ليدل د طرف
الطُّوْرِ نَارًا ۚ قَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓا اِنِّيْٓ
د کوه طور نه يو اور وے وئيل خپل کور والو ته حصار شئ ما
اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيْٓ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِخَبَرٍ
اوليدو يو اور بنائی چه زه راوړم تاسو ته د هغه ځائے نه څه خبر
اَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ﴿۲۹﴾
يا سکروټے د اور دے د پاره چه تاسو تاؤده شئ
فَلَمَّآ اَتٰىهَا نُوْدِيَ مِنْ شَاطِئِ الْوَادِ
بيا چه کله اورسيدو هغے ته وکړے اواز اوشو د ميدان د بنئ
الْاَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ الْمُبٰرَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ
غاړے نه په ټوټه د برکت والا کښ د يوے اوني نه

أَنْ يَّمُوسَىٰٓ إِنِّيٓ أَنَا اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِينَ ﴿۳۰﴾

چه اے موسیٰ زهٔ یم الله رب د جهان

وَأَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا

او دا چه اوغوره څوه خپله همساء بیا چه کله ئے اولیدله هغه خوزیدله لکه

جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ ۚ يٰمُوسٰىٓ

د مار نو شائے کړه مخ ئے وا ړولو او روستوئے نهٔ کتل. اے موسیٰ

أَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ ۖ إِنَّكَ مِنَ الْاٰمِنِينَ ﴿۳۱﴾

مخکښ لا ړشه او مهٔ ویرېږه تا ته هیڅ خطره نشته.

نکات: ۳۱ اوله معجزه ۱۲.

موضح قرآن ف محمونږ نبی (صلی الله علیه وسلم) هم د وطن نه هجرت اوکړو اتهٔ کلونه پس راغے مکه ئے فتح کړه کهٔ چرے غوښتلے وے نو هغه وخت ئے بیا ړ خالی کولے شو د کافرانو نه لیکن خپله خوښه ئے لس کاله روستو د کافرانو نه پاک کړه. د دے بزرګ نوم ئے نهٔ دے بیان کړے په قرآن کښ او په تورات کښ نوم څهٔ بل شان دے مشهوره دا ده چه حضرت شعیب پیغمبر وو

تفسیر: ۲۷ حضرت شعیب علیه السلام ته چه کله د حضرت موسیٰ علیه السلام د قوت او دیانت او امانت علم حاصل شو نو وے فرمائیل زهٔ غوا ړم کهٔ چرے تهٔ مخما اتهٔ کاله نوکری اوکړے نو زهٔ به یوه لور تا ته په نکاح درکړم کهٔ چرے تهٔ دا تو په مخائے لس کاله پوره کړے نو دا به ستا د طرفه احسان او تفضّل وی او په کار مار کښ به په تا سو بانـدے د سختئ او زیات مشقت اچولو اراده هم نهٔ لرم او انشاء الله چه تهٔ به دے معامله کښ مالره ښهٔ بیا موے. قَالَ ذٰلِكَ بَيْنِيْ وَ بَيْنَكَ الخ موسیٰ علیه السلام اووئیل مخما او ستا مینځ کښ معاهده اوشوه چه مخما اختیار دے اته کلونه پوره کړم یا لس کلونه او لس کاله پوره کولو کښ به په ما بانـدے دباؤ نهٔ شی اچولے او محمونږ دے معاهده بانـدے الله گواه دے. مقصود دا دے چه دا معاهده مضبوطه کړے شویده محمونږ نه به یوهم د خپلے معاهدے نه واپس نهٔ گرځی. دا اصول دی چه کهٔ چرے تیر شوی شرائع بغیر د څهٔ انکار

نه نقل کړے شی نو هغه به محمولتر د پاره هم حجت وی. د دے وجے نه حنفیانو دے سره دلیل نیولے دے چه دا شان خدمت د خاوند د طرفه مهر گرځیدلے شی د مدارک صاحب په دے باندے د اجماع دعوی کړیده. والتزوج علی رعی الغنم جائز بالاجماع لانه من باب القیام بامر الزوجیة (روح ج ۲۰ ص۶۹) لیکن یوه شُبه کیدے شی چه د کارو چیلو میعاد او وخت خو معیّن دے لیکن منکوحه مُبهم ده نو د دے جواب دا دے چه دا خو صرف وعده ده عقد نکاح نهٔ دے د عقد نکاح په وخت د منکوحه تعیین ضرور وی. وهذه مواعدة منه ولم یکن ذلک عقد نکاح اذ لو کان عقداً لقال قد انکحتک (مدارک ج ۳ ص۱۵۸).

۲۸ ټول مفسرین په دے متفق دی چه حضرت موسٰی علیه السلامُ لس کاله مُوده پوره کړه د مُودے پُوره کولو نه روستو ئے خپله ښځه ځان سره روانه کړه د مصر طرف ته ئے مخه اُوکړه دے د پاره چه هلته د خپلے مور، خور او ورور ملاقات اُوکړی د هغهٔ خیال وو چه ډیر وخت تیر شویدے اُوس به د قبطی د قتل معامله رفع دفع (ختم شوے) وی. په لاره کښ چه کله وادی طور ته اُورسیدو چه د کوه طور په لمن کښ ده نو لاره ئے ورکه کړه. د شپے وخت وو او یخنی هم وه ناڅاپه د کوه طور طرف ته ئے اُور اُولیدو نو بی بی ته ئے اُوئیل چه تاسو دلته حصار شئ ما ته اُور په نظر راځی زهٔ هلته به ځم هلته به څوک انسان وی هغهٔ نه به د لارے تپوس اُوکړم یا کم از کم ستاسو د تودیدلو د پاره به د هغه ځائے نه اُور راؤړم. ۲۹ مِنْ شَاطِئِ مبدل منه او مِنَ الشَّجَرَةِ د دهٔ نه بدل دے کله چه هغه اُور ته نزدے اُورسیدو نو هغه با برکت او د سرسبز او اباد وادئ د ښئ غاړے د طرفه د یوے اُونے نه اواز راغے چه اے موسٰی زهٔ الله یم یعنی په ټول کائنات کښ متصرّف او د ټول جهان مالک یم. اَنْ یّٰمُوْسٰی کښ اَنْ تفسیریه دے چه د نداء تفسیر کوی وَاَنْ اَلْقِ عَصَاكَ دا په اَنْ یّٰمُوْسٰی باندے معطوف دے. فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ الخ کله چه هغوئ اُوکتل چه همساء نه لویه اژدها جوړه شویده او هغه د چمچمار په شان ډیر تیزئ سره حرکت کوی نو د ویرے نه ئے شا اُوګرځوله منډه ئے کړه. یٰمُوْسٰی اَقْبِلْ الخ بیا اواز راغے اے موسٰی مخکښ لاړ شه او مهٔ ویریږه او هغه اُوتیسه تهٔ د هر قسم د ویرے او خطرے نه محفوظ یئ دے اژدها نه به تاسو ته هیڅ نقصان نهٔ رسیږی اژدها اګرچه ډیره لویه وه لیکن د وړوکی مار په شان به ئے تیزئ سره حرکت کولو د دے وجے نه د هغے تشبیه ئے د جَانٌّ (وړوکی مار) سره

ورکړه - کَاَنَّهَا جَآنٌّ ای فی سرعة الحرکة مع غایة عظم جثتها (ابو السعود ج ۶ ص ۵۶) د مار لیدلو سره موسیٰ علیه السلام د بشری تقاضے په وجے سره اُویریدو. دینه معلومه شوه چه معجزه د الله تعالیٰ فعل دے او د پیغمبر اتو په اختیار کښ نه وی.

اُسْلُكْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ

ننه باسه لاس خپل په ګریوان خپل کښ نو راوځی به تک سپین

مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ۡ وَّاضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ

بغیر د څه عیب نه او پیوست کړه سینے نه لاسونه خپل

مِنَ الرَّهْبِ فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ مِنْ رَّبِّكَ

د ویرے د وجے نه نو دا دوه دلیلونه دی نو د طرفه د رب ستا

اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا

فرعون او د هغه سردارانو ته یاتړے بیشکه هغه وو

قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ۝٣٢ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ قَتَلْتُ

خلق نافرمان فرمائیل اے ربه زما ما چه کوم قتل کړیدے

مِنْهُمْ نَفْسًا فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ۝٣٣

د هغوئی نه د نفس نو زه ویریږم چه ما به قتل کړی.

وَاَخِيْ هٰرُوْنُ هُوَ اَفْصَحُ مِنِّيْ لِسَانًا

او څما ورور هارون دے د هغه چلیږی څما نه زیاته ژبه

فَاَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْاً يُّصَدِّقُنِيْٓ ۡ اِنِّيْٓ اَخَافُ

نو هغه اُولیږه څما سره امداد د پاره چه څما تصدیق اوکړی زه ویریږم

اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ۝٣٤ قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ

چه ما به دروغ اُوګڼړی. وے فرمائیل مونږ به مضبوطے کړو ستا متے

بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَٰنًا فَلَا
ستا ورور سره ۳۴ او دربه کړو تاسو ته غلبه بیا به
يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا ۚ بِـَٔايَٰتِنَآ ۚ أَنتُمَا وَمَنِ ٱتَّبَعَكُمَا
هغوئ نهٔ رسیږی تاسو ته، څمونږ نشانو سره تاسو او څوک چه ستاسو سره وی
ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا
غالب به یئ بیا چه کله اُورسیدو هغوئ ته ۳۵ موسیٰ څمونږ معجزو سره
بَيِّنَٰتٍ قَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى
ښکاره وے وئیل دا نو هیڅ نهٔ دی دا جادو دے په دروغ تړلے شوے
وَمَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِىٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٦﴾
او نهٔ دی آوریدلی مونږ دا په پلارانو (نیکونو) مخکنو کښ.

نکات: ۳۵ دویمه معجزه ۱۲۔

موضح قرآن ف لاسونه (سینې پورې) پیوست کړه د ویرې نه یعنی د مار ویره به ختمه شی۔

فتح الرحمٰن ف مترجم وائی د دواړو لاسونو یوځائے کول کنایه ده د زړهٔ جمع کیدلو او ویرے ختمیدلو نه لکه چه خفضِ جناح کنایه ده د تواضع نه۔

تفسیر: ۳۵ دا دویمه معجزه ده مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ الخ یعنی د لاس سپینوالی به د څهٔ بیمارئ د وجے نه نهٔ وی۔ وَاضْمُمْ إِلَيْكَ الخ یعنی کهٔ چرے ویره وغیره وی نو لاس په سینه کیدہ دے سره به ویره او خطره ختمه شی د ویرے او خطرے په وخت کهٔ چرے انسان لاس په سینه باندے کیدی نو دے سره زړهٔ ته قوت حاصلیږی او ویره کمیږی۔ مِنَ الرَّهْبِ ای من اجل المخافة---- ومن شان الانسان اذا فعل ذلك فی وقت فزعه ان یقوی قلبه (روح ج ۲۰ ص ۷۶)۔ یا دا د عدم خوف نه کنایه ده څکه چه کله مارغان د ویرے او خطرے نه په امن کښ وی نو وزرے اطمینان سره راتولے کړی وهو ماخوذ من فعل الطائر عند الامن بعد الخوف وهو فی الاصل مستعار من فعل الطائر عند هذه الحالة الخ (روح)۔

۳۱ دا دواړه معجزې عصاء او ید بیضاء ستا د رسالت واضح دلیلونه دي اوس فرعون او د هغهٔ د دربار خلقوته لاړ شه او دا دواړه معجزې خپل صداقت بانډې د دلیل په طور پیش کړه د هغوئ په مخکښ او هغوئ ته د توحید دعوت ورکړه هغوئ د الله په نافرمانئ او فسق فجور کښ انتهاء ته رسیدلی دي۔

۳۲ منصب رسالت بانډې فائز کیدلو نه روستو حضرت موسٰی علیه السلام ته یقین وو چه اوس به هر وخت د الله تعالٰی تائید او حمایت د هغهٔ سره شامل حال وي. لیکن هغهٔ د قبطي د قتل معامله د الله په مخکښ پیش کړه د الله د جانبه د حفظ او امان د وعدې صراحت ئې غوښتلو د دې وجې نه ئې د هغې ذکر اوکړو دینه د هغهٔ مطلب هرګز دا نهٔ وو چه هغه د رسالت نه استعفاء غواړي۔ طلب من الله تعالٰی ما یقوی قلبه و یزیل خوفه (کبیر ج ۶ ص۶۶) والمراد بهذا الخبر طلب الحفظ والتائید لابلاغ الرسالة علی اکمل وجه لا الاستعفاء من الارسال (روح ج ۲۰ ص۷۷)

۳۳ دا دویم درخواست وو چه هارون ځما نه زیات فصیح او قادر الکلام دې هغه ځما امدادی اوکړځوه ځما سره دې اولیږلې شي دې د پاره چه هغه ځما تائید اوکړي او ځما تقریر تفصیل سره پیش کړي او د کافرانو د مجادلې ځلهٔ ما توکې جواب ورکړي. ومعنی تصدیقه موسٰی اعانته ایاه بزیادة البیان فی مظان الجدال ان احتاج الیه لیثبت دعواه (مدارک ج ۳ ص۱۷۵) ۳۴ الله تعالٰی د موسٰی علیه السلام دواړه درخواستونه منظور کړل او وې فرمائیل ستا ورور به ستا امدادی هم جوړ کړم او تاسو ته به داسې غلبه درکړم چه هغه به تاسو ته هیڅ نقصان هم نهٔ شي رسولې او تاسو ته به داسې رُعب درکړم چه هغوئ به د خوف او هیبت د وجې نه په بد اراده تاسو ته نزدې هم رانهٔ شي. بِاٰیٰتِنَا متعلق محذوف دې. ای اذهبا بِاٰیٰتِنَا۔ یا نجعل یا سلطانًا. یا لایصلون سره متعلق دې یا دا ظرف اَلْغٰلِبُوْنَ سره متعلق دې او د ظرف تقدیم د رعایت فاصله یا حصر د پاره دې (روح)۔

۳۵ موسٰی علیه السلام چه کله هغوئ ته لاړو او هغوئ ته ئې معجزات اوښودل هغوئ اوئیل دا خو ډیر زیات طاقتور جادو دې چه موسٰی بخپله ایجاد کړیدې داسې جادو خو مونږ تر نن وخت پورې ځمونږ د پلار نیکهٔ په زمانه کښ هم مونږ نهٔ دې لیدلې او نهٔ مونږ اوریدلې

(بحر) یا د دیته مراد د موسیٰ علیه السلام نبوت او دعوت دے چه د الله نه سیوا د ټول جهان مالک او کارساز نشته او نهٔ د هغهٔ نه سیوا څوک د رابللو او او زګولو لائق دے. وَمَا سَمِعْنَا بِهٰذَا یعنی بالذی تدعونا الیه (معالم و خازن ج ۵ ص۱۴۰).

وَقَالَ مُوْسٰى رَبِّيْٓ اَعْلَمُ بِمَنْ جَآءَ

او اُوئیل ۳۷ موسیٰ څما رب ته ښهٔ معلومه ده چا چه راؤړیده

بِالْهُدٰى مِنْ عِنْدِهٖ وَمَنْ تَكُوْنُ لَهٗ

د هدایت خبره د هغهٔ د جانبه او چا ته چه به ملاو یږی

عَاقِبَةُ الدَّارِ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ۳۷

د آخرت کور بیشکه چه بریٔ به نهٔ مومی بے انصاف

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ مَا عَلِمْتُ

او اُوئیل ۳۸ فرعون اے درباریانو ما ته خو معلوم نهٔ دے

لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ ۚ فَاَوْقِدْ لِيْ يٰهَامٰنُ

ستاسو څوک حاکم سیوا څما نه تو اُو بل کړه اے هامانه

عَلَى الطِّيْنِ فَاجْعَلْ لِّيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ

څما دپاره په خټه بیا جوړه کړه څما دپاره یوه ماڼۍ چه زهٔ اُوخیژم

اَطَّلِعُ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى ۙ وَاِنِّىْ لَاَظُنُّهٗ

اُوګورم رب د موسیٰ او څما په ګمان خو

مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۳۸ وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُوْدُهٗ

هغه دروغژن دے ف. او کبر اُوکړو هغهٔ او د هغهٔ لښکر ۳۸ ف

فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ

په ملک کښې ناحق او خیال ئے اُوکړو چه هغوئ به

إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ ﴿٣٩﴾ فَأَخَذْنَٰهُ وَجُنُودَهُ

ځمونږ طرف ته واپس نه راځي . بیا اُونیولو مونږ هغه ﷺ او د هغهٔ لښکرے

فَنَبَذْنَٰهُمْ فِي الْيَمِّ ۖ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ

بیا اُوغورځول مونږ هغوئ په دریاب کښ نو اُوګوره څنګه شو

عَاقِبَةُ الظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾ وَجَعَلْنَٰهُمْ أَئِمَّةً

انجام د ګناهګارانو او مونږ کړځولی وو هغوئ پیشوایان

يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَٰمَةِ

چه رابلل به ئے دوزخ طرف ته او په ورځ د قیامت به

لَا يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ وَأَتْبَعْنَٰهُمْ فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا

هغوئ ته امداد نهٔ ملاویږی . او روستو کیښودو مونږ دوئ پاتے په دے دُنیا کښ

لَعْنَةً ۖ وَيَوْمَ الْقِيَٰمَةِ هُم مِّنَ

لعنت او په ورځ د قیامت په دوئ پاتے

الْمَقْبُوحِينَ ﴿٤٢﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى

بدا شکلی دهٔ او ورکړو مونږ موسیٰ ته

الْكِتَٰبَ مِن بَعْدِ مَا أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ

کتاب ﷺ روستو د هغے نه چه مونږ هلاک کړل قومونه

الْأُولَىٰ بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَ

مخکنی پوهوونکے دو د خلقو اولار ښودونکے او

رَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٣﴾

رحمت دے د پاره د هغه چا چه هغوئ نصیحت یاد کړی ۲ ف

نکات: ۱ تیر شوی سرکش قوموته ۱۲.

موضح قرآن ف۱ په ختنه او بل کره یعنی بخے بنختے جوړے کړه وائی چه بخے بنختے اول هغهٔ و یستلے چه اوچته مانړئ جوړه کړی نو بیا به ډګتو ډوزن په وجه نهٔ پریوځی.

ف۲ ډ توراتِ نه روستو داسے ډ هلاکولو عذاب کم راغلے دے ځکه چه په عالم کښ خلق ډ شریعت په حکم پاتے شوه تا ځهٔ قائم پاتے شول

تفسیر: ۳۶ حضرت موسیٰ علیه السلام ډ هغوئ په جواب کښ اوفرمائیل کوم الله تعالیٰ چه چا لره ډ رسالت او نبوت اهل ګنړلے دے او ډ هدایت پیغام ورکولو سره ئے رالیږلے دے او چا سره چه الله تعالیٰ ډ حسن عاقبت وعده کړے ده الله تعالیٰ هغه ستاسو نه زیات پیژنی که چرے هغه ساحر او مفتري وے لکه چه ستاسو خیال دے نو هغهٔ ته به ئے داډ رسالت منصب نهٔ ورکولے ځکه چه داسے مفتري ډ هغهٔ په نزد ډ فوز او فلاح مستحق نهٔ وی (روح ومدارک) امر ثالث یعنی قُلْ رَبِّیٓ اَعْلَمُ مَنْ جَآءَ بِالْهُدٰی الخ په دے متفرع دے ځنګه چه موسیٰ علیه السلام جواب ورکړے وو ډ داسے جواب ورکولو حکم نبي علیه السلام ته هم ورکړے شو.

۳۷ فرعون سره خطره پیدا شوه چه هسے نه چرته ځنے خلق ډ موسیٰ علیه السلام ډ دعوت نه اثر قبول کړی ډ دے وجے نه ئے اصل حقیقت باندے ډ پردے اچولو او ډ هغوئ په زړونو کښ ډ شبهات اچولو ډپاره ډ خیر خواهئ په طور خلقو ته مخاطب شو وے وئیل چه اے ډ قوم شریفانو! په تیره شوے زمانه کښ خو ماته ډ خپل ذات نه سیوا ستاسو کوم بل معبود معلوم نهٔ دے که چرے څوک وے نو ما به ضرور تاسو ته ښودلے وے او اوس زهٔ زیات تحقیق کوم. فَاَوْقِدْ لِیْ یٰهَامٰنُ عَلَی الطِّیْنِ الخ اے هامانه! فوراً ډ پخو خښتو بنیٔ جوړه کړه او په یو ډیر اوچت لوړ ځائے باندے ډیر زیات اوچت رصدګاه جوړه کړه چه زهٔ اوخیژم او اوګورم چه ډ موسیٰ خدائے چرته دے کوم ته چه هغه رب العالمین وائی ماته خو ډ موسیٰ دعوی سراسر غلط او دروغ معلومیږی (العیاذ بالله). اعلم ان فرعون کانت عادته متی ظهرت حجة موسیٰ ان یتعلق فی دفع تلك الحجة بشبهة یروجها علی اعمار قومه وذکر ههنا شبهتین الاولی قوله ما علمت لکم من الٰهٍ غیری الشبهة الثانیة قوله فَاَوْقِدْ لِیْ یٰهَامٰنُ عَلَی الطِّیْنِ الخ (کبیر ج ۶ ص ۶۰۸) ډ ځنو خلقو خیال دے چه ډ فرعون ډ حکم مطابق هامان یوه ډیره

زیاته لوړه ماڼۍ جوړه کړه لیکن داخبره صحیح نهٔ ده فرعون صرف د دفع الوقتۍ د پاره داخبره کړې وه نهٔ ئې هغه جوړه کړه اونهٔ ئې ددې اراده وه - الاقرب انه کان اوهم البناء ولم یبن (کبیر) حضرت شیخ قدس سرهٔ فرمائي سورهٔ مؤمن کښ ددې قصې د انداز بیان نه هم معلومیږي چه څهٔ محل وغیره جوړ نهٔ کړې شو ځکه چه هلته د فرعون د حکم نه روستو یَاهَامٰنُ ابْنِ لِیْ صَرْحًا لَّعَلِّیْٓ الخ د آل فرعون د مؤمن تقریر دې اوهغې نه روستو د فرعون او د هغهٔ د قوم په عذاب کښ د گرفتاریدلو او د هلاکیدلو ذکر دې۔

۳۸ دا د فرعون او د هغهٔ د قوم د سرکشۍ او د هغوئ د کبر او غرور بیان دې فرعون او د هغهٔ د قوم خلقو ته خلق ډیر حقیر او ذلیل ګڼړل د هغوئ خیال وو چه په دنیا کښ عزت او عظمت د هغوئ حق دې حال دا دې چه هغوئ ته د خپل ځان لوئې او د نورو د غلامانو پشان ګڼړلو هیڅ حق نهٔ وو د دې کبر او غرور په وجه هغوئ حق اونهٔ منلو۔ یعنی تعظموا عن الایمان ولم ینقادوا للحق (خازن ج ۵ ص۱۴۵) هغوئ د حکومت او دولت په نشه کښ دومره نشه وو چه د هغوئ د قیامت په ورځ د الله په وړاندې د حاضریدلو یقین هم نهٔ وو. لوئي صرف الله تعالیٰ سره ښکلی کوي او صرف د هغهٔ حق دې - فی الحدیث القدسي الکبریاء ردائی والعظمة ازاری فمن نازعنی واحدا منهما القیته فی النار (روح ۲۰ ص۸۳)

۳۹ فرعون او د هغهٔ دربار امراءُ او د هغهٔ فوجونو، او د هغهٔ ټول قوم استکبار او غرور سره حق نه انکار اُوکړو نو مونږ ټول اُونیول او دریاب کښ مو غرق کړل اُوس اُوګوره چې آخر د هغه ظالمانو انجام څهٔ شو؟ نهٔ ئې حکومت په کار راغې، نهٔ دولت، نهٔ ډله، نهٔ ساماتونه اولښکرې۔ وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً یَّدْعُوْنَ اِلَی النَّارِ الخ هغوئ څهٔ وو؟ د کفر او ضلال امامان او پیشوایان هغوئ خلقو ته د کفر او شرک طرف ته دعوت ورکولو۔ او خلق ئې دینِ حق او د الله تعالیٰ د توحید نه ګمراه کول۔ وَیَوْمَ الْقِیٰمَةِ لَا یُنْصَرُوْنَ په دنیا کښ ئې چه د چا په زور باندې کفر او شرک کولو په آخرت کښ به هغوئ د دوئ هیڅ امداد اُونکړې شي نهٔ به ئې د عذاب نه بچ کړې شي۔ وَاَتْبَعْنٰهُمْ فِیْ هٰذِهِ الدُّنْیَا الخ په دنیا کښ مونږ هغوئ د خپل رحمت نه لرې کړل او د ټول مخلوق د لعنت او بد وئیلو نشانه مو اُوګرځول او په آخرت کښ به هم هغوئ شړلې شوي (د رحمت نه) او لعنتیان وي۔ ۴۰ الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰی، تیر شوي سرکش قومونه مراد دي د غه قومونو ته د الله پیغمبرانو د توحید پیغام راوړو او د

توحید دعوت ئې هغوئ ته ورکړو لیکن هغوئ د توحید دعوت اُونهٔ منلو او خپل پیغمبران ئې دروغژن اُوګڼړل هغوئ دنیاکښ عذاب سره هلاک کړې شول اُوس ئې د دې دین د احیاء او ژوندی کولو د پاره موسی راُولیږلو او هغهٔ ته ئې تورات ورکړو چه د هغهٔ په هدایت کښ د نوړ بصیرت سامان وو هغهٔ سراسر هدایت او د رحمت باعث وو ځکه چه د هغې په هدایت باندې عمل کولو سره انسان د الله د رحمت مستحق ګرځید و د هغه زمانې د ضرورت مطابق ئې تورات نازل کړو موسی علیه السلام دا د توحید دعوت فرعون او د هغهٔ د قوم په مخکښ پیش کړو لیکن هغوئ د دې نه انکار اُوکړو نو الله تعالیٰ هغوئ غرق کړل اُوس چونکه بیا ضرورت وو چه دین حق چه د یهودو علماؤ او د نصاراؤ په لاس مسخ او محوه شوې وو د سره ته بیا ژوندې کړې شي د دې وجې نه اُوس محمد صلی الله علیه وسلم ته قرآن ورکړې شو او رسول اُولیږلې شو چه په هغې کښ هم دا د توحید دعوی پیش کړې شویده کومه چه موسی او د هغهٔ نه مخکښ نورانبیاء علیهم السلام د خپلو قومونو په مخکښ پیش کړې وه اُوس چه اهل عرب د دې دعوې نه انکار کوی نو په هغوئ باندې به هم په دُنیاکښ د الله عذاب رائحی ځنګه چه موسی علیه السلام او نورو انبیاء علیهم السلام ته الله غلبه ورکړې وه هغه شان به نبی علیه السلام ته هم الله تعالیٰ په مشرکانو باندې غلبه ورکړی. اُوس د دې تعلق د سورت د ابتداء یعنی تِلْكَ اٰیٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِیْنِ سره ظاهر شو. والتعرض لبیان کون ایتاءها بعد اهلاکهم للاشعار بانها نزلت بعد مساس الحاجة الیها تمهیدا لما یعقبه من بیان الحاجة الداعیة الی انزال القرآن الکریم علی رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه واٰله وسلم الخ

(روح ج ۲۰ ص ۸۴)

وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ إِذْ قَضَيْنَآ

او نهٔ وې ته لکه طرف ته د غرب کله چه مونږ اُولیږلو

إِلَىٰ مُوسَى الْأَمْرَ وَمَا كُنْتَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۴۴﴾

موسیٰ ته حکم او نهٔ وې ته کتونکې د

وَلٰكِنَّآ اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ

لیکن موږ پیدا کړل ډیر قومونه لکه بیا اوږده شوه په هغوی

الْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنْتَ ثَاوِيًا فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ

زمانه او ته نهٔ اوسیدلے په ۳۳ لکه مدین والو کښې

تَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۙ وَلٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ﴿٤٥﴾

چه هغوی ته دې اورول ځمونږ آیتونه بیا موږ یو چه رسولان مو اولیږل

وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّوْرِ اِذْ نَادَيْنَا وَلٰكِنْ

او نهٔ وې ته ۴۴ لکه په غاړه د طور کله چه موږ آواز اوکړو لیکن دا

رَّحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ

انعام دے د رب ستا دِ دے د پاره چه ته اوویرو ے هغه خلق چا ته چه نهٔ دے راغلے

مِّنْ نَّذِيْرٍ مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٦﴾

څوک ویره وونکے ستا نه مخکښې دے د پاره چه هغوی نصیحت یاد کړی.

وَلَوْلَآ اَنْ تُصِيْبَهُمْ مُّصِيْبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ

او د دومره خبرے د پاره چه کله راشي دوئي باندے عذاب د هغه کارونو په وجه کوم چه لیږلی دی

اَيْدِيْهِمْ فَيَقُوْلُوْا رَبَّنَا لَوْلَآ اَرْسَلْتَ

لاسونو د هغوئ نو اوبه وائي اے ربه ځمونږ ولے دِ نهٔ را اولیږلو

اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ وَنَكُوْنَ

موږ ته رسول نو موږ به تللے ستا په خبرو باندے او شوے به وے

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٧﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ

د ایمان والو نه. بیا چه کله اورسیدله هغوئ ته ۴۶ لکه صحیح خبره

مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْا لَوْلَآ اُوْتِيَ مِثْلَ مَآ

ځمونږ د طرفه وے وئیل ولے ورنکړے شو دے رسول ته څنګه چه

أُوتِيَ مُوسَىٰٓ ۚ أَوَلَمْ يَكْفُرُوا بِمَآ أُوتِيَ

ورکړے شوے وو موسیٰ ته ولے اُوس منکر شوی نهٔ وو دغے ته کوم چه ورکړے شوے وو

مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۖ قَالُوا سِحْرَانِ تَظَاهَرَا

موسیٰ ته د دهٔ نه مخکښ وے وئیل دوا ره جادو گر دی خپل مینځ کښ موافق مـ

وَقَالُوٓا إِنَّا بِكُلٍّ كَٰفِرُونَ ﴿٤٨﴾

او وے وئیل مونږ دوا ره نهٔ منو ولـ.

نکات:- سـ د نبی علیه السلام د صداقت بیان ۱۲ - سـ شکوی ۱۲

موضح قرآن ف یعنی د طور د غربی طرف ته چرته چه موسیٰ علیه السلام ته تورات ملاؤ شو. فـ د مکے کافرانو چه کله د موسیٰ علیه السلام معجزات واؤریدل نو وے وئیل چه کهٔ چرے دے پیغمبر سره هم داسے معجزے وے نو مونږ به منلے وے کله چه دوئ د یهودو نه پوښتنه اُوکړه او د تورات حکم ئے د دے نبی سره موافق او د خپلے خوښے مخالف چه بُت پرستی کفر دے او بعث بعد الموت حق دے او د الله د توم نه بغیر چه ذبح اُوشی هغه مُردار ده. او نورے ډیرے خبرے نو هغه وخت ئے دوارو ته جواب ورکول شروع کړل

فتح الرحمٰن ملـ یعنی تورات او قرآن ۱۲

تفسیر:- سـ دے ځائے نه تر لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ پورے د نبی علیه السلام د صداقت بیان دے حاصل دا دے چه تاسو د تیرشوے زمانے حالات بغیر د ظاهری اسبابو نه صحیح صحیح بیانوئ دا د دے خبرے دلیل دے چه تاسو د الله رسول یئ او الله تعالیٰ د وحی په ذریعه سره دا ټولے خبرے تاسو ته ښودلے دی. اِنَّ الوقوف علی ما فصل من الاحوال لا یتسنی الا بالمشاهدة والتعلم ممن شاهدها وحیث انتفی کلاهما تبین انه بوحی من علام الغیوب لامحالة (ابوالسعود ج ۶ صـ)
یعنی کله چه مونږ د کوه طور غربی جانب موسیٰ علیه السلام ته نبوت ورکړو هغه وخت تاسو هلته موجود نهٔ وئ دا شان چه کله موسیٰ علیه السلام د الله سره ملاقات کولو د پاره اویا تنه مشران منتخب کړل او کوه طور ته ئے بوتلی وو تاسو هغوئ کښ هم شامل نهٔ وئ. یا مطلب دا دے چه کله موسیٰ ته مونږ وحی کوله هغه وخت هم تاسو موجود نهٔ وئ

ای من جملة الحاضرین للوحی الیه او الشاهدین علی الوحی الیه علیه الصلوٰة والسلام وهم السبعون المختارون للمیقات (روح ج ۲۰ ص ۸۷)

۴۲ لیکن ستاسو او د موسیٰ علیه السلام مینځ کښې موږ ډیر قومونه پیدا کړل او په سوونو کلونه تیر شول دینه روستو موږ تاسو اولیږلئ

دا شان فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ نه روستو قاره سَلْنَاكَ مقدر دے په قرینه د وَلٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ. ۴۳ ثَاوِيًا ای مقیمًا، دا شان تاسو اهلِ مدین یعنی د شعیب علیه السلام قوم کښې هم موجود نهٔ وئ او نهٔ تاسو ځمونږ اېتونه هغوئ ته آؤرول. لیکن مونږ تاته د رسالت منصب درکړو او د وحی په ذریعه مونږ تاته د تیرو شوو واقعاتو خبر درکړو.

ولکنا ارسلناك واخبرناك بها وعلمناکها (مدارک ج ۳ ص ۱۸۲)

۴۴ کله چه د کوه طور په لمن کښې مونږ موسیٰ ته آواز اوکړو هغه وخت هم تاسو هلته موجود نهٔ وئ لیکن دا د الله تعالیٰ په تاسو رحمت دے چه هغهٔ تاسو ته د نبوت منصب درکړو دے د پاره چه تاسو دا سے قوم ته د توحید دعوت ورکړئ چه هغوئ ته ستاسو نه مخکښې ځوک دعوت ورکوونکے نهٔ دے راغلے یعنی د حضرت عیسیٰ علیه السلام نه روستو د فترت په زمانه کښې. فی زمان الفترة بینك وبین عیسیٰ وهو خمسمائة وخمسون سنة (مدارک ج ۳ ص ۱۸۲)

۴۵ دا تخویف دنیوی دے لَوْ د پاره جواب په آخر کښې مقدر دے ای لَمَّا ارسلنا رسولًا او فَيَقُوْلُوْا اَنْ تُصِيْبَهُمْ الخ باندے متفرع دے. مُصِيْبَةٌ، دنیوی عذاب. بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ، مشرکانه اعمال. یعنی کهٔ چرے دا خبره نهٔ وے چه کله د کفر او شرک په وجے سره عذاب راغلے وے نو وئیل به ئے اے ځمونږ پروردګاره تا مونږ ته ولے رسول ولے نهٔ رالیږلو چه مونږ د هغهٔ پیروی کړے وے او په هغهٔ باندے مو ایمان راؤړے وے. نو مونږ به ځوک رسول نهٔ لیږلے. حاصل دا دے چه د مشرکانو عذر ختمولو د پاره مونږ تاسو او نور رسولان اولیږل

والمعنی لولا انهم قائلون اذا عوقبوا بما قدموا من الشرك والمعاصی هلا ارسلت الینا رسولا محتجین بذلك علینا ما ارسلنا الیهم ای انما ارسلنا الرسل ازالة لهذا العذر (بحر ج ۷ ص ۱۲۳، کبیر ج ۶ ص ۶۱۳).

اَنْ تُصِيْبَهُمْ، ضمیر غائب نه مراد کهٔ چرے اهلِ مکه وی نو جواب مقدر به لَمَّا اَرْسَلْنَاكَ وی. یا مقدر جواب لَعَذَّبْنَا هم دے یعنی مونږه ستاسو د مبعوث کولو نه وړاندے د مکے مشرکانو د شرک له وجے ځکه هلاک نه کړل چه هغوی به نے منکور عذر پیش نه کړی ورنه هغوی د کفر او شرک او د نورو

ګناهونو له وجې ډ دې لائق دواو هغوی په هلاک کړے شوے وو قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ

۴۸ داشکوی ده بیا چه کله د رښتونی رسول الله صلی الله علیه وسلم په ذریعه قرآن هغوئ ته راغے نو اوس د ایمان راوړلو په ځائے ضد او عناد او جهګړے کوی اوس وائی دا قرآن د تورات په شان په یو ځل ولے نازل نه شو دا سوال کوونکی یا خو یهودیان وو یا مشرکانو د یهودو په ښودنه سوال کړے وو. اَوَلَمۡ یَکۡفُرُوۡا الخ دا جواب شکوی دے یعنی د هغوئ سوال محض د عناد او سرکشئ په وجه دے د حق طلب کولو د پاره نه دے ځکه چه هغوئ خو د دینه مخکښ د تورات نه هم انکار کړے وو د تورات او قرآن بارکښ هغوئ وائی سِحۡرٰنِ تَظٰهَرَا، دا دواړه جادو دے چه د یو بل تصدیق او تائید کوی. په یو قرأت کښ سٰحِرٰنِ دے نو دے سره به د هغوئ اشاره نبی اکرم صلی الله علیه وسلم او موسیٰ علیه السلام ته وی. وَاِنَّا بِکُلٍّ کٰفِرُوۡنَ الخ چونکه دا دواړه کتابونه جادو دے او د دے راوړونکی کوډګران جادوګران دی (عیاذاً بالله) د دے وجے نه مونږ دواړه نه منو.

قُلۡ فَاۡتُوۡا بِکِتٰبٍ مِّنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ هُوَ

نه او وایه اوس تاسو راوړئ کتاب کوم چه د جانبه د الله تعالیٰ چه

اَهۡدٰی مِنۡهُمَاۤ اَتَّبِعۡهُ اِنۡ کُنۡتُمۡ صٰدِقِیۡنَ ﴿۴۹﴾

بهتر وی د دے دواړو نه چه زهٔ په هغے چلیږم که چرے تاسو رښتونی یئ.

فَاِنۡ لَّمۡ یَسۡتَجِیۡبُوۡا لَکَ فَاعۡلَمۡ اَنَّمَا

بیا که چرے ستا دا خبر په ځائے راؤ نړی نو پوهه شه چه بیشکه

یَتَّبِعُوۡنَ اَهۡوَآءَهُمۡ ؕ وَمَنۡ اَضَلُّ مِمَّنِ

هغوئ ځی په خپلو خواهشاتو باندے او څوک دے زیات ګمراه د هغهٔ نه

اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَیۡرِ هُدًی مِّنَ اللّٰهِ ؕ

څوک چه روان شی خپل خواهش باندے بغیر د لارښودلو د الله تعالیٰ نه

ع ۸ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّلِمِينَ ﴿٥٠﴾

بیشکه الله تعالیٰ لاره نه ښائی خلقو بے انصافو ته

وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ

او مونږ مسلسل رالیږلو ۵۳ هغوئ ته خپل کلام دے د پاره چه هغوئ

يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥١﴾ الَّذِينَ آتَيْنَهُمُ الْكِتَبَ

په هغے کښې فکر اوکړی. چا ته چه مونږ ورکړے دے کتاب ۵۴

مِنْ قَبْلِهِ هُمْ بِهِ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٢﴾ وَإِذَا

د دینه مخکښې هغوئ په هغه باندے یقین کوی. او کله چه

يُتْلَى عَلَيْهِمْ قَالُوا آمَنَّا بِهِ إِنَّهُ الْحَقُّ

واؤرولے شی ۵۵ هغوئ ته نو وائی مونږ یقین اوکړو په دے باندے دا رښتونی دے

مِنْ رَبِّنَا إِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهِ

مونږ د رب د طرفه مونږ وو د دے نه مخکښې

مُسْلِمِينَ ﴿٥٣﴾ أُولَئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُمْ

حکم منونکی . هم دغه خلق به بیا موهی خپل ثواب ۵۶

مَرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوا وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ

دوچنده دے خبره باندے چه قائم پاتے شول او نیکی کوی په جواب کښې

السَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنَهُمْ يُنْفِقُونَ ﴿٥٤﴾

د بدئ او ځمونږ د ورکړے شوی نه خرچ کوی.

وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ وَقَالُوا

او کله چه واؤری بے فائدے خبرے ۵۷ هغه ډډه اوکړی د هغے نه او وائی چه

لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ سَلَمٌ

ځمونږ د پاره ځمونږ کار او ستاسو د پاره ستاسو کار سلامتی سره

عَلَيۡكُمۡ لَا نَبۡتَغِي الۡجٰهِلِينَ ﴿۵۵﴾

او سیرئ موتږ نهٔ غواړو ناپوهه خلق ول ملے

نکات: ملے ترغیب الی القرآن ۱۲۔

موضح قرآن ف دا د حبشو نصاری وو د نجاشی ملګری چه قرآن ئے واؤریدلو او یقین ئے اوکړو او کوم جاهل نه چه امید نهٔ وی چه نصیحت سره به نصیحت قبول کړی نو ده هغهٔ نه ځان لرے ساتل بهتر دی۔

فتح الرحمٰن ملے مترجم وائی یهود فخکش د دینه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم مدینے ته هجرت اوکړی او د یهودیت په نسخ کیدلو اعلان اوکړی د قرآن معتقد وو او وئیل به ئے په عربو باندے د قرآن فرمان لازم دے ۱۲ والله اعلم۔

تفسیر: ۴۷ که چرے قرآن او تورات د خدائے کتابونه دی او تاسو په خپله دعوی کښ رښتونی یئ نو تاسو د الله د طرفه یو کتاب راؤړئ موتږ. ته ئے راکړئ چه د دے دواړو نه زیات په رشد او هدایت باندے مشتمل وی. فَإِنۡ لَّمۡ يَسۡتَجِيبُوا لَكَ الخ که چرے تاسو د دینه بهتر کوم کتاب راؤنړو او نهٔ د دهٔ پیروی کوئ نو دا د دے خبرے دلیل دے چه محض د ضد او عناد د وجے نه اعتراض کوئ او د خپلو خواهشاتو نفسانیه غلامان یئ۔ دا شان به دا آیت د سِحۡرٰنِ تَظٰهَرَا سره متعلق وی۔ یا دا آیت تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ الۡمُبِيۡنِ او وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡكِتٰبَ الخ سره متعلق دے یعنی قرآن د رشد او هدایت واضح او بیِّن کتاب دے او تورات هم د نور، هدایت، بصیرت او رحمت سرچشمه وه که چرے ستاسو په خیال کښ دا دواړه کتابونه د الله د طرفه نهٔ دی نو تاسو د دینه کوم یو بهتر کتاب د الله د طرفه راوړئ۔ وَمَنۡ اَضَلُّ، حقیقت دا دے چه تاسو د هدایت طالبان نهٔ یئ بلکه د نفس د خواهشاتو غلامان یئ او کوم سړے چه محض د نفس د خواهش پیروی کوی او حق نهٔ منی د دینه لوئے ګمراهی بله نشته او بیا د داسے ضدی او عنادګرو په زړونو باندے د جبّاریت مهر لګیږی۔ د دے وجے نه هغوئ ته د هدایت د قبلولو توفیق نهٔ ملاویږی۔

۴۸ دا ترغیب الی القرآن دے موتږ د مکے کافرانو ته پے درپے او مسلسل آیتونه اولیږل او د توحید مسئله مو په هره طریقه واضحه کړه، دے د پاره چه هغوئ پوهه شی او اومنی لیکن د دے باوجود هم چه هغوئ

نه منی نو او دِ نهٔ منی چا ته چه الله تعالیٰ توفیق ورکړی دے هغوئ به ئے ضرور منی. ۴۹ دا د مخکنو کتابو نو علماؤ سره نقلی دلیل دے. د اهلِ کتابو په عالمانو کښې چه کوم انصاف خوښونکی او خدائے نه ویریدونکی دی نو هغوئ دِ دے کتاب باندے ایمان راؤړیدے او دِ دے باندے کَمَا حَقَّهٗ عمل هم کوی لکه چه په بل ځائے کښې ئے اُو فرمائیل یَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ اُولٰٓئِكَ یُؤْمِنُوْنَ بِهٖ (بقره ع ۱۴)

۵۰ دا د مؤمنانو اهلِ کتابو صفتونه دی کله چه هغوئ د قرآن حکیم ایتونه آؤری نو بے اختیاره وائی اٰمَنَّا وَصَدَّقْنَا، دا قرآن ټول حق دے او مخونږ د رب کلام دے مونږ د دهٔ د نزول نه مخکښې د الله په توحید باندے قائم وو او محمد صلی الله علیه وسلم او په هغهٔ باندے نازلیدونکے وحی باندے مونږ ایمان راؤړے وو. مخونږ په کتابونو کښې د دهٔ ذکر موجود دے. ای من قبل القراٰن مسلمین مخلصین لله بالتوحید مؤمنین بمحمد صلی الله علیه وسلم انه نبی حق (معالم ج ۵ ص۱۲۸) اِنَّا کُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِیْنَ لما شاهدوا ذکره فی الکتب المتقدمة وانهم علی دین الاسلام قبل نزول القراٰن (روح ج ۲۰ ص۹۳).

۵۱ دغه خلقو ته به دوچند اجر ملاویږی ځکه چه هغوئ اول په خپل کتاب باندے ایمان راؤړو او بیائے په قرآن ایمان راؤړو. بِمَا صَبَرُوْا په خپلو دواړو ایمانونو باندے قائم پاتے شول او د دُشمنانو په تکلیف رسولو باندے ئے صبر اُوکړو. وَیَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّیِّئَةَ د گناهونو نه ځان بچ ساتی او نیک اعمال کوی. یا د مشرکانو په تکلیف او ضرر رسولو باندے حلیم او عفو سره جواب ورکوی. یدفعون بالطاعة المعصیة وبالحلم الاذی (مدارک ج ۳ ص۱۸۳) ۵۲ هرزه خرایه او فضول خبره یا د شرک پشان لکه چه امام ضحاك فرمائیلی دی (روح) یعنی کله چه هغوئ د مشرکانو نه لغوه، بیهوده او مشرکانه خبرے آؤری نو د هغے نه مخ اړوی او وائی تاسو مونږ په خپل حال باندے پریږدئ مونږ د خپلو عملونو ذمه واریو او تاسو به د خپلو عملونو جواب ورکوونکی یئ تاسو ته سلام دے مونږ ستاسو پشان کم عقلو سره کیناستل هم نهٔ خوښوو. دا سلام متارکه دے نهٔ چه سلام د تحیة. قال الزجاج سلام المتارکة لا سلام تحیة (بحر ج ۷ ص۱۲۶).

إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ
ته نهٔ شې راوستلے لاره ته ۵۵ څوک چه ته غواړے بیا الله تعالیٰ
يَهْدِي مَن يَشَاءُ ۚ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾
لار ته راولی چا لره چه اوغواړی او هغهٔ ته ښهٔ معلوم دی څوک چه لار ته راتلونکی دی
وَقَالُوا إِن نَّتَّبِعِ الْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ
او وې وئیل ۵۵ که چرے روان شو مونږ په لار ستا سره نو وابه لوزولے شو او به شړلے شو
مِنْ أَرْضِنَا ۚ أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا
د خپل ملک نه ولے آیا مونږ ځائے نهٔ دے ورکړے هغوئی ته حرمت والا
آمِنًا يُجْبَىٰ إِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ
د پناه مکان کښې چه راوړلے شي هغے طرف ته میوے د هر څیز
رِّزْقًا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ
رزق څمونږ د طرفه بیا ډیر د دوئی نه
لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ
پوهه نهٔ لري وي. او څومره هلاک کړل مونږ ۵۵ کلی
بَطِرَتْ مَعِيشَتَهَا ۖ فَتِلْكَ مَسَاكِنُهُمْ لَمْ
چه سرکشي ئے کړیوه په خپل معاش کښې او س دادی کورونه د هغوی چه
تُسْكَن مِّن بَعْدِهِمْ إِلَّا قَلِيلًا ۖ وَكُنَّا
آباد نهٔ شول روستو د هغوئی نه لیکن لږ او مونږ یو
نَحْنُ الْوَارِثِينَ ﴿٥٨﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ
اخستونکی په آخر کښې د ټولو څیزونو. او نهٔ دے رب ستا ۵۶
مُهْلِكَ الْقُرَىٰ حَتَّىٰ يَبْعَثَ فِي أُمِّهَا
هلاکوونکے د کلو ترڅو چه او نهٔ لیږی د هغوئی په لوئے کلی کښې لیکن

رَسُوۡلًا یَّتۡلُوۡا عَلَیۡهِمۡ اٰیٰتِنَا ۚ وَ مَا کُنَّا

څوک پیغام راوړونکے چه واوروی هغوئ ته څمونږ خبرے او مونږ هرګز نه یو

مُهۡلِکِی الۡقُرٰۤی اِلَّا وَ اَهۡلُهَا ظٰلِمُوۡنَ ﴿۵۹﴾

هلاکوونکی د کلو لیکن چه کله د هغے خلق ګناهګار وی۔

وَ مَاۤ اُوۡتِیۡتُمۡ مِّنۡ شَیۡءٍ فَمَتَاعُ الۡحَیٰوةِ

او تاسو ته چه ملاؤ شوی دی کوم څیز نو فائده اخستل دی په ژوند کښ

الدُّنۡیَا وَ زِیۡنَتُهَا ۚ وَ مَا عِنۡدَ اللّٰهِ خَیۡرٌ

د دُنیا او د دے (دنیا) ښائست دے او کوم څه چه د الله سره دی نو هغه بهتر دی

وَّ اَبۡقٰی ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۶۰﴾ ع ۶

او باقی پاتے کیدونکی ایا تاسو کښ عقل نشته۔

نکات: سل متعلق دے وَلَقَدۡ وَصَّلۡنَا الخ سره ۱۲۔ سل دویمه شکوه ۱۲۔ سل جوابِ شکوه ۱۲۔ سل تخویف دنیوی ۱۲۔ سل ترغیب الی الایمان ۱۲

موضح قرآن ف۱ نبی علیه السلام د خپل تره د پاره ډیر کوشش کولو چه د مرګ په وخت کلمه اُوائی هغه قبول نه کړه دا ایت نازل شو۔ ف۲ دا د مکے خلقو وئیل چه که چرے مونږ مسلمانان شو نو دا ټول عرب به څمونږ دُشمنان شی الله تعالی اُو فرمائیل اُوس د دوئ د دُشمنئ نه د چا په پناه کښ تاست یئ دا د حرم ادب اوهم دا الله تعالی ته پناه ورکووُنکے دے۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی دا سړی به مونږ اوباسی۔

تفسیر: سل ۵۳ دا وَلَقَدۡ وَصَّلۡنَا لَهُمُ الۡقَوۡلَ سره متعلق دے او نبی علیه السلام د پاره تسلی ده د صحیح احادیثو نه ثابته ده چه کله د ابوطالب د وفات وخت نزدے شو نو نبی علیه السلام ډیر کوشش اُوکړو چه هغه اسلام راوړی لیکن د هغوئ ارزو پوره نه شوه چه دے سره نبی علیه السلام ډیر غمژن شو دا ایت نازل شو۔ (بخاری، مسلم، نسائی، ترمذی، احمد وغیرهم رحمهم الله تعالی)۔ یعنی مونږ د اهل مکه د لاره بسودنے د پاره مسلسل ایتونه نازل کړل او نصیحتونه مو را اولیږل

او تاسو هم په دعوت او ارشاد کښې هیڅ قصور اُو نه کړو لیکن هدایت خو د الله په اختیار کښې دے د دے وجے نه که چرے څخے مشرکان ستاسو د انتهائي ناصحانه تبلیغ او مشفقانه دعوت او د دوئ سره د قلبي محبت او اُلفت با وجود ایمان نه راوړی نو دِے بانډے تاسو مه غمژن کیږئ ځکه چه دا معامله ستاسو د اختیار نه بهر ده د چا په قسمت کښې چه هدایت لیکلے شوے دے هغه الله ته معلوم دی او صرف هغوئ ته به هدایت حاصلیږی. مساق الآیة لتسلیته صلی الله تعالٰی علیه وسلم حیث لم ینجع فی قومه الذین یحبهم و یحرص علیهم اشد الحرص انذاره علیه الصلوٰة والسّلام ایاهم (روح ج ۲۰ ص ۹۶).

۵۴ دا دریمه شکوه ده. څخے مشرکان راغلل نبی علیه السلام ته ئے اُوئیل موږ ته معلومه ده چه ته په حقه رسول ئے لیکن خبره دا ده چه موږ د ټولو عربو د مخالفت طاقت نه لرو که چرے تاسو اُومنو نو ټول عرب به په موږ حمله اُوکړی او موږ به د ملک نه اُوشړی بے وطنه به شو. اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ الخ دا جواب شکوی دے یعنی د دوئ دا خطره بے بنیاده ده ولے دوئ نه گوری چه موږ هغوئ ته په پاک حرم کښې ځائے ورکړے دے چه د امن او سلامتیا کور دے دلته اُوسیدونکو بانډے څوک د ظلم لاس نه شی اُوکړ ولے او د دینه زیات هغه دا چه د هر ځائے نه هر قسم میوے دلته راچلولے شی لیکن اکثر خلق دِے کښې غور فکر نه کوی. حاصل دا چه اُوس هغوئ شرک کوی لیکن د دے با وجود د حرم برکت سره په امن کښې دی او په آرام او راحت سره ژوند تیروی او که چرے هغوئ ایمان راوړی نو د حُرمتِ مقام سره حُرمتِ ایمان هم حاصل شی چه د هغے په وجه به هغوئ د مکښې نه هم زیات مامون او محفوظ اُوگرځی. حاصل الرد انه لا وجه لخوف من التخطف ان آمنوا فانهم لا یخافون منه وهم عبدة اصنام فکیف یخافون اذا آمنوا وضموا حرمة الایمان الی حرمة المقام (روح ج ۲۰ ص ۹۷). ۵۵ دا تخویف دنیوی دے ډیر خلق مخکښې تیر شوی دی چه د اهلِ مکه په شان ئے د عیش او آرام ژوند تیر ولو هغوئ د دغه امن او آرام په وجه غرور کښې راغلل او تکبر ئے اُوکړو او څمونږ د نعمتونو شکر ئے ادا نه کړو بلکه د الله رزق ئے خوړلو او د هغهٔ نعمتونه ئے استعمال کړل او د هغهٔ د توحید نه ئے انکار اُوکړو او غیر الله ئے الله سره شریک جوړ کړو. ای اشرت وطغت قال عطاء عاشوا فی البطر فاکلوا رزق الله وعبدوا الاصنام (معالم وخازن ج ۵ ص ۱۴۸). نو موږ هغوئ

هلاک کړل اُوکوم دا د هغوئ کلی تر اُوسه پورې وران او غیر اباد پراته دی قَرْیَۃٍ، نه مراد اهلِ قریه دی. ف۵۶ حٔمونږ جاری سُنت دا دے چه ترڅو پورې مونږ په مرکزی ښار کښ خپل رسول لیږلو سره د هغه علاقے کلو ته خپل پیغام اُونهٔ رسوو او ترڅو پورې چه هغه خلق حٔمونږ د ایتونو نه انکار اُونهٔ کړی تر هغه وخته پورې مونږ هغوئ نهٔ هلاکوؤ اے د مکے خلقو اُوس ستاسو د هلاکت وخت را نزدے شوید ے ځکه چه تاسو ته حٔمونږ رسول هم راغے چه هغوئ کَمَا حَقُّهٗ حٔمونږ پیغام تاسو ته اُورسوؤ اُو تاسو د هغے نه انکار هم اُوکړو.

ف۵۷ دا ترغیب الی الایمان دے یعنی راشئ اُومنئ او ایمان راوړئ او د دُنیا په عیش او راحت مهٔ مغرور کیږئ ځکه چه دا دولت او دا ساز او سامان د څو ورځو او د مستعار ژوند خائست او ښکلا ده دیته بقاء او هیښوالے نشته لیکن د ایمان راوړلو په صُورت کښ چه په کوم اجر او ثواب ملاویږی هغه به د دے دنیوی دولت نه په زرګ درجے بهتر وی او همیشه به وی. اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ؁ ایا تاسو دومره سُوچ هم نهٔ کوئ چه د دے دواړو نه کوم یو ډیر فائده مند او کوم یو د تاوان دے.

اَفَمَنْ وَّعَدْنٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيْهِ

ایا یو سړے چه هغهٔ سره مونږ وعده کړیده وعده ښهٔ ف۵۸ نو هغه هغے وعدے له رارسیدونکے دے برابر دے

كَمَنْ مَّتَّعْنٰهُ مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ثُمَّ

د هغه چا سره چه مونږ هغهٔ ته فائده ورکړه د ژوند د دُنیا بیا

هُوَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿٦١﴾ وَيَوْمَ

هغه په ورځ د قیامت نیولے شوے راغے ملا او په کومه ورځ

يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ

چه هغوئ ته اواز اُوکړی ف۵۹ نو اُوبه وائی (الله) چرته دی شریکان ځما د کوم چه

كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿٦٢﴾ قَالَ الَّذِيْنَ حَقَّ

تاسو دعوٰی کوله . اُوبه وائی په چاچه ثابت شوه

عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ رَبَّنَا هٰؤُلَاءِ الَّذِينَ

خبره نو ووائي اے ربه داخلق دي

کوم چه

أَغْوَيْنَا ۚ أَغْوَيْنٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۚ تَبَرَّأْنَا

مونږ ګمراه کړل مونږ دوئ ګمراه کړل څنګه چه مونږ ګمراه وو ۲ مونږ منکر شولو

إِلَيْكَ ۖ مَا كَانُوا إِيَّانَا يَعْبُدُونَ ﴿٦٣﴾

ستا په مخکښې دوئ زمونږ عبادت نه کولو ۱.

وَقِيلَ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ

او ووئیلے به اواز اوکړئ شریکانو خپلو ته نو بیا به اواز اوکړی هغوئ ته

فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ وَرَأَوُا الْعَذَابَ ۚ

نو هغوئ به جواب نه ورکوی دوئ ته او اُوبه وینی عذاب

لَوْ أَنَّهُمْ كَانُوا يَهْتَدُونَ ﴿٦٤﴾ وَيَوْمَ

کاش چرته وے په صحیح طریقه لار موندونکی ۲. او په کومه ورځ

يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَا أَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِينَ ﴿٦٥﴾

چه اواز اوکړی هغوئ ته (الله) نو وائی به څه جواب ورکړے وو تاسو پیغمبرانو ته ۳

فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْأَنْبَاءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ

بیا به بند شی په هغوئ خبرے په دغه ورځ نو خپل مینځ کښې به

لَا يَتَسَاءَلُونَ ﴿٦٦﴾ فَأَمَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ

تپوس نه کوی ۳ ۱. نو چا چه توبه کړه ۱ او یقین ئے اوکړو

وَعَمِلَ صَالِحًا فَعَسَىٰ أَنْ يَكُونَ مِنَ

او عمل ئے اوکړو نیک نو امید دے چه هغه به وی د

الْمُفْلِحِينَ ﴿٦٧﴾ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ

خلاصی موندونکو نه. او رب ستا پیدا کوی څه چه اوغواړی

وَيَخْتَارُ ۗ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ۗ سُبْحٰنَ

او غوره کوي چا لره چه اوغواړي نشته د دوئ په لاس کښې غوره کول پاک دے

اللّٰهِ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۸﴾

الله او ډیر اوچت دے د هغه څیز نه چه دوئ ئے شریکوي.

نکات: ۱ـ د توحید په دعوی باندے اوڵنے عقلي دلیل.

موضح قرآن
ف۱ دا به د شیطان وینا وي ځکه چه گمراه کړي خو هغه دي بیا به د نیکانو نوم واخلي هغوئ به د دے ته جواب ورکړي چه ځمونږ عبادت خوئے نه کولو. ف۲ یعنی هغه وخت به دا ارزو کوي د کومو نیکانو عبادت چه ئے کولو هغوئ به جواب نه ورکوي ځکه چه هغوئ په دے راضي نه وو یا ناخبره وو.
ف۳ یعني چاله به جواب نه ورځي ۱۲

فتح الرحمٰن
ف۱ یعني په عذاب کښې ۱۲. ف۲ یعني د کفر سردارانو ف۳ یعني بغیر د زور نه ف۴ یعني صحیح جواب به ورسره نه وي ۱۲.

تفسیر: ۵۸ استفهام انکاري دے. یو هغه مؤمن دے چه هغه سره الله تعالیٰ د جنت او همیشه نعمتونو وعده کړے ده او ضرور د وعدے مطابق هغه ته هرځه ملاویږي ونکي دي. او یو هغه مشرک دے چه د ایمان د دولت نه محروم دے لیکن د نیوي ساز او سامان او دولت ورسره ډیر دے او اخر د قیامت په ورځ د جهنم په عذاب کښې مبتلا کیدونکے دے ایا دا دواړه برابر کیدے شي؟ هرگز دا سے نه ده. ۵۹ دا تخویف اخروي دے. شُرَكَآءِ نه هغه ټول معبودان د الله نه سیوا مراد دي کوم چه مشرکانو کارساز او سفارشیان گڼړلي وو او رابلل به ئے خواه هغه پیریان وي یا انسانان وي یا فرشتے. المراد بالشركاء من عبد من دون الله تعالیٰ من ملك او جن او انس او كوكب او صنم او غير ذلك (روح ج ۲۰ ص ۱۰۰، بحر ج ۷ ص ۱۲۸).
د قیامت په ورځ به د مشرکانو په حسرت او افسوس کښې زیاتوالي د پاره الله تعالیٰ د هغوئ نه تپوس اوکړي نن ستاسو هغه معبودان چرته دي کوم چه تاسو حاجت روا او کارساز گڼړل او د کومو باره کښې چه ستاسو عقیده وه چه هغوئ به د خدائے پاك په نزد ستاسو سفارشیان وي. نن هغوئ ستاسو امداد ولے نه کوي او تاسو ځما د عذاب نه ولے

نهٔ خلاصوی ؟ - آیْنَ مَا کنتم تعبدونه وتجعلونه شریکا فی العبادة وتزعمون انه یشفع این هو لینصرکم وَیخلصکم من هذا الذی نزل بکم (کبیرج ۶ صـ۲۲). ۶۰ـه دَ موصول نه دَ کفر او شرک امامان او پیشوایان مراد دی یعنی مشرک پیران ځوک چه نور خلق دَ کفر او شرک په لاره روانوی. او هٰؤُلَآءِ نه هغه دَ دوئ مشرکان تابعداران او منونکی مراد دی. کَمَآ اَغْوَیْنَا، ماقبل دَ پاره په منزله دَ علت دے. الذین حق علیهم القول ای الشیاطین وائمة الکفر ورؤسه (بحر) یعنی مونږ چونکه پخپله گمراهان ووگ دے وجے نه مونږ هغوئ هم گمراه کړل هغوئ ته خو معلومه وه چه مونږ گمراه یو دَ دے وجے نه هغوئ مونږ پسے ولے راتلل لهٰذا اے ځمونږ پروردګاره! مونږ دَ دوئ بری الذمه یو (بیزار یو) مَا کَانُوْٓا اِیَّانَا یَعْبُدُوْنَ، دا ځمونږ پیروی او اطاعت کولو سره نهٔ دی گمراه شوی بلکه دوئ خو دَ خپلو خواهشاتو نفسانیه تابعداری کړے وه او دَ هغے بندګئ ئے کړے وه خپلو خواهشاتو پسے لاړل گمراه شول. بل یعبدون اهواء هم ویطیعون شهواتهم (مدارک ج ۳ صـ۱۸۶)

۶۱ـه هغوئ ته به بیا اُوئیلے شی کوم معبودان چه تاسو کارساز او سفارشیان گڼلی وو نن هغوئ امداد دَ پاره طلب کړئ نو هغوئ به ئے راطلب کړی لیکن دَ یو ځائے ته به هم هغوئ ته څهٔ جواب نهٔ راځی. اُوس به دَ جهنم عذاب دَ هغوئ مخے ته وی او دَ حسرت او افسوس نه به وائی کاش چه هغوئ په دُنیا کښ هدایت قبول کړے وے نو نن به دَ حسرت او پښیمانتیا او دَ دے دردناک عذاب سره نهٔ وے مخامخ شوے لَوْ شرطیه دے او دَ دے جواب لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ محذوف دے (روح) یا لَوْ تمنی دَ پاره دے، دِ دے صورت کښ به دَ جواب ضرورت نهٔ وی او لَوْ نه مخکښ به فعل تمنا مقدر وی ای تَمَنَّوْا لو انهم کانوا مهتدین فلا یحتاج الی الجواب (روح ج ۲۰ صـ۱۰۲)

۶۲ـه دَ قیامت په ورځ به دَ مشرکانو نه دا سوال وی چه هغوئ په دنیا کښ دَ الله رسولانو ته څهٔ جواب ورکړے وو او هغوئ سره په کومه طریقه ملاؤ شوی وو چاچه دوئ دَ شرک نه منع کول او دَ توحید دعوت به ئے ورکولو. فَعَمِیَتْ عَلَیْهِمُ الْاَنْۢبَآءُ الخ دَ دهشت او هیبت په وجے سره به دَ هغوئ نه هر څهٔ هیر شی او هغوئ به دَ یو بل نه تپوس کولو سره هم هیڅ جواب نهٔ شی ورکولے. ۶۳ـه دا دَ مؤمنانو دَ پاره بشارت اُخروی دے کوم خلق چه دَ شرک نه توبه کړه او په توحید او رسالت باندے ئے ایمان راؤړو او نیک کارونه ئے اُوکړل دا شان خلق به په آخرت کښ کامیاب وی. ۶۴ـه دِ دے ځائے نه واخله وَلَعَلَّکُمْ تَشْکُرُوْنَ پورے هم هغه دعوی عقلی

دلائیلو سره ثابت کړے شویده د کوم په تبلیغ او اشاعت کښې چه حضرت موسیٰ علیه السلام ټول عمر مصیبتونه برداشت کړی وو او کوم چه فرعون رد کړے وه او په مقابله کښې ئے مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ دعویٰ کړے وه هغه دعویٰ داوه وَ هُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الخ یعنی په غائبانه حاجتونو کښې د رابللو لائق صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نهٔ دے.
وَرَبُّكَ يَخْلُقُ الخ دا په مذکوره دعویٰ باندے اولنے عقلی دلیل دے.
یعنی د ټول کائنات خالق او د ټول جهان متصرف او مختار الله تعالیٰ دے او د هغهٔ په مخلوق کښې هیڅوک مختار نشته د الله تعالیٰ ذات دینه پاک دے چه څوک په اختیار او تصرف کښې د هغهٔ سره مقابل شی او هغه د مشرکانو د شرک نه اوچت او پاک دے. ای تنزه بذاته تنزها خاصًا به من ان ینازعه احد اویزاحم اختیاره (ابوالسعود ج ۶ ص۵۶)

وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ
او ستا رب ته معلوم دی هغه څهٔ چه پټوی سینې د دوئ
وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿۶۹﴾ وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا
او څهٔ چه ظاهروی - او هم دا الله دے د چا بندګی چه نشته د هغهٔ نه سیوا
هُوَ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْاُوْلٰى وَالْاٰخِرَةِ
هغهٔ د پاره ده ثناء په دنیا او آخرت کښې
وَلَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۷۰﴾ قُلْ
او د دهٔ په لاس کښې حکم دے او هم دے الله ته به واپس کرځولے شئ. ته اووایه
اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ
ایا وینئ تاسو که چرے اوګرځوی الله تعالیٰ تاسو باندے شپه
سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ
همیشه د ورځے د قیامت پورے څوک حاکم دے
غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِضِيَآءٍ اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ﴿۷۱﴾
سیوا د الله نه چه راولی تاسو ته رنړا ایا تاسو نهٔ اورئ.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ
ته اُووايه اُوګورئ که چرے اُوګرځوی الله تعالیٰ په تاسو باندے
النَّهَارَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ
ورځ همیشه د ورځے د قیامت پورے
مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ
څوک حاکم دے سیوا د الله نه چه راولی تاسو ته شپه
تَسْكُنُوْنَ فِيْهِ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَمِنْ
چه ارام اُوکړئ په هغے کښ بیا تاسو نه وینئ . او ځنے
رَّحْمَتِهٖ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ
مهربانئ سره ئے ګرځولے پیدا کړیدی ستاسو د پاره شپه او ورځ
لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ
او چه ارام هم اُوکړئ په دے کښ او چه اُولټوئ د هغهٔ د فضل نه هم څهٔ شے
وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۳﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ
او دے د پاره چه تاسو شکر ادا کړئ . او په کومه ورځ چه دوئ ته (الله) اواز اُوکړی
فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِىَ الَّذِيْنَ
نو اُویه وائی (الله) چرته دی زما شریکان د کوموچه
كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۷۴﴾
تاسو دعوی کوله .

نکات : ۔ ۱ دویم عقلی دلیل ۱۲ ۔ ۲ دریم عقلی دلیل ۱۲ ۔ ۳ څلورم عقلی دلیل ۱۲ ۔ ۴ پنځم عقلی دلیل ۱۲ ۔ ۵ تخویف اُخروی ۱۲ ۔

تفسیر ۶۵ دا د توحید په دعوی باندے دویم عقلی دلیل دے یعنی الله تعالیٰ عالم الغیب دے بل څوک نه دے .

وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الخ داد مذکورو دواړو دلیلونو ثمره ده یعني چه کله متصرف او مختار هم هغه دے او عالم الغیب هم صرف هغه دے نو لامحاله په مشکلاتو او حاجاتو کښ د رابللو لائق هم صرف هغه دے لَهُ الْحَمْدُ فِي الْاُوْلٰی الخ دُنیا او اخرت کښ د صفاتِ کارسازئ مالک هم صرف هغه دے بل څوک نهٔ دے دنیا کښ هم هغه کارساز دے او په اخرت کښ هم. د ذکر شوو دواړو دلیلونو مینځ کښ د علت او معلول رشته ده اول د دویم دلیل د پاره علت دے یعني کله چه ټول هرڅهٔ کوونکے صرف هغه دے نو په ټول هرڅهٔ خبردار هم هغه دے د ثبوت دعوٰی مدار چونکه په اول امر (دلیل) بانَدے دے د دے وجے نه مخکښ (راتلونکو) دواړو دلیلونو سره ئے دا ثابت کړے دے. وَلَهُ الْحُكْمُ الخ غائبانه حکم یعني د قضاء او قدر فیصله هم د دهٔ په اختیار کښ ده او د دهٔ نه سیوا د هیچا اختیار دے کښ نشته. برکات ورکوونکے او د حاجتونو پوره کولو فیصله هم د دهٔ په اختیار کښ ده. ٦٦ دا دریم عقلي دلیل دے علی سبیل الاعتراف من الخصم یعني دا خبره تاسو ته معلومه ده او منئ هم چه ورځ او شپه د الله په قبضه کښ ده کهٔ چرے اوغواړي چه د قیامت د ورځے پورے ئے شپه اوګرځوي او ورځ هیڅکله رانهٔ شي نو ایا ستاسو معبودانو کښ د الله نه سیوا څوک داسے کارساز نشته چه تاسو ته د ورځے رڼړا درکړي. قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ الخ دا څلورم عقلي دلیل دے علی سبیل الاعتراف من الخصم. داشان کهٔ چرے هغه تر قیامته پورے ورځ اوګرځوي نو د ارام او راحت د پاره د الله نه سیوا څوک شپه راوستلے شي؟ هرګز ئے نهٔ شي. اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ، ایا تاسو د عقل او بصیرت نه کار نهٔ اخلئ. دے دلائیلو کښ غور فکر کولو سره د الله توحید نهٔ منئ. ٦٧ دا پنځم عقلي دلیل دے. الله تعالٰی خالص خپل رحمت سره ستاسو د پاره د شپے او ورځے سلسله جوړه کړیده شپه کښ ارام کوئ او د ورځے معاش طلب کوئ دا ورځ او شپه هم د الله تعالٰی ډیر لوئے نعمت دے چه د دے شکر د هغهٔ په بندګانو واجب دے د الله سره شرک کول او باطل معبودان کارسازګنړل د الله تعالٰی د ټولو نه زیاته ناشکري ده. ٦٨ دا تخویف اُخروي دے. د قیامت په ورځ به د مشرکانو نه تپوس کولے شي. ځما هغه شریکان چرته دي؟ کوم تاسو ځما نه سیوا کارساز او سفارشیان ګنړل تن هغوئ ستاسو امداد ولے نهٔ کوي. دا ایت د نیکو پیرانو په حق کښ دے کوم چه روستو خلقو کارسازګنړلي او په حاجتونو کښ به ئے غائبانه رابلل.

وَنَزَعْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا

اوجدا به کړو موتږ له د هرې ډلې نه

یو احوال بیانوونکے نو مونږ به

فَقُلْنَا هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ فَعَلِمُوٓا

بیا به وائی راوړئ خپل سند دغه وخت به معلومه کړی

أَنَّ الْحَقَّ لِلَّهِ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا

چه رښتیا خبره ده د الله او ضائع به شی (ورکے به شی) د دوئ نه کومے خبرے

يَفْتَرُونَ ﴿٧٥﴾ إِنَّ قَارُونَ كَانَ مِن ع ۱۵

چه هغوئ جوړولے وے. بیشکه قارون وو اکه د

قَوْمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ ۖ وَآتَيْنَاهُ

قوم د موسیٰ نه بیا سرکشی اوکړه قارون په دوئ باندے او مونږ ورکړی وے هغهٔ ته

مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوٓأُ

خزانے دومره چه د هغے د کنجیانو نه به ستړی کیدل

بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُ

ډیر سړی طاقتور کله چه اُوئیل هغهٔ ته

قَوْمُهُ لَا تَفْرَحْ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ

د هغهٔ قوم کبر (غرور) مهٔ کوه الله تعالیٰ نهٔ خوښوی

الْفَرِحِينَ ﴿٧٦﴾ وَابْتَغِ فِيمَآ آتَاكَ اللَّهُ

کبر کوونکی فـ۱. او اوکټه کوم څهٔ چه درکړی دی تاته ئکه الله تعالیٰ

الدَّارَ الْآخِرَةَ ۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ

هغے سره کور روستنے (د آخرت) او مهٔ هیره وه خپله حصه

مِنَ الدُّنْيَا ۖ وَأَحْسِن كَمَآ أَحْسَنَ اللَّهُ

د دُنیا نه فـ۲ او نیکی کوه څنګه چه نیکی کړیده الله تعالیٰ

إِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ ۖ

ستا سره او مهٔ لټوه فساد کول په ملک کښې

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴿٧٧﴾ قَالَ

الله تعالی نهٔ خوښوی فساد کوونکی ف۳. وے وئیل ۳ که

إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِي ۚ أَوَلَمْ

مال خو ما ته ملاؤ شوے دے یو هنر سره چه ما سره دے آیا هغهٔ ته

يَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِ

دا معلومه نهٔ ده چه الله تعالی هلاک کړی دی د دهٔ نه مخکښې

مِنَ الْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ

ګومره خلق (د زمانې) چه لرلوئے زیات د دهٔ نه

قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا ۚ وَلَا يُسْأَلُ عَنْ

طاقت او زیات مال ئے لرلو او تپوس به نهٔ کیږی د

ذُنُوبِهِمُ الْمُجْرِمُونَ ﴿٧٨﴾

د ګناهګارانو نه د هغوئ د ګناه ف۴ ف۵

نکات: سا تخویف دنیوی ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ احوال بیانوونکے پیغمبر یا د هغهٔ نائب. یا چه کوم نیک بخت وی. ف۲ قارون د حضرت موسٰی علیه السلام د نیکهٔ اولاد (د تره ځوئے) وو د فرعون په حکومت کښې ډیر په ترقئ وو په بنی اسرائیلو باندے به کاربیګار هم دهٔ کولو او مزدوری به هم هغهٔ ته د دهٔ په لاس ملاویدله ډے کار کښې به ئے ډیر مال ګټلو. کله چه بنی اسرائیل د حضرت موسٰی علیه السلام د حکم نه لاندے راغلل او فرعون غرق شو نو د هغهٔ د مال ترقی هم بنده شوه او مشری سرداری ئے هم پاتے نهٔ شوه په زړهٔ کښې ئے حسد لرلو موسٰی علیه السلام سره منافق شو او موسٰی علیه السلام باندے به ئے عیب تهمت لګولو. یوه ورځ ئے یوے ښځے ته د تهمت خبره اُوښودله او موسٰی

علیه السلام ته ئے مخالف راوستله هغه ښځه د خدائے نه اُویریدله او رښتیا ئے اُوئیل چه دا خبرے ما ته قارون ښودلے وے دغه وخت حضرت موسیٰ علیه السلام خیرے اُوکړے او د هغهٔ خیر وسره قارون غرق شو او د هغهٔ کور او خزانه هم غرق شوه - ف۳ فساد مهٔ کوه یعنی د حضرت موسیٰ علیه السلام سره ضد مهٔ کوه او خپله حصه مهٔ هیره وه د دُنیا نه یعنی د حصے موافق خوره او اغوندہ او زیات مال سره آخرت اُوګټه - ف۴ هُنر سره ما ته ملاؤ شوی دے یعنی د دنیا ګټلو استعداد م لرلو او په خپل قابلیت م ګټلے دے او پوښتنه به نهٔ کیږی د ګناه یعنی چه د ګناه هګار په عقل کښ نقصان نهٔ وی او عقل ئے صحیح وی تو ګناه به ولے کوی کله چه د دوئ په عقل کښ نقصان دے نو د مُلزم کولو نه څهٔ فائده چه دا بد کار دِ ولے کړیدے - کهٔ چرے هغهٔ ګناه بند کړلے نو ولے به ئے کولے.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی هر پیغمبر به په خپل قوم باندے ګواهی ورکوی ۱۲- ف۲ یعنی په دُنیا کښ نیک عمل په ځائے راؤړی ۱۲- ف۳ یعنی په صورت د سزا او بدلے لازمیدلو کښ به د هیڅ عذر مجال نهٔ لری ۱۲-

تفسیر

۷۵ شَهِیْدًا، نه د هر اُمت نبی مراد دے چه د خپل اُمت پاره کښ به بیان ورکوی چه هغهٔ خپل اُمت ته دعوت رسولے وو. او کله چه هغهٔ خپل اُمت ته د توحید دعوت ورکړو اُمت څهٔ جواب ورکړو یعنی نبیهم لان الانبیاء للامم شهداء علیهم یشهدون بما کانوا علیه (مدارک ج ۳ ص۱۸۶) وَالشهید یشهد علی تلك الامة بما صدر منها وما اجابت به لما دعیت الی التوحید وانه قد بلغهم رسالة ربهم (بحر ج ۷ ص۱۳۱) نکه مشرکانو ته به حکم وی دنیا کښ چه تاسو کوم کفر او شرک کولو د هغے په صحت باندے څهٔ دلیل یا د خپلو جُرمونو اوګناهونو د پاره کهٔ څهٔ عذر وی نو هغه پیش کړئ. لیکن هغوئ سره به څهٔ ناڅهٔ دلیل وی نهٔ عذر د دے وجے نه اُوس به هغوئ ته عین الیقین حاصل شی چه د اُلوهیت او کارسازئ حق خو صرف الله تعالیٰ د پاره وو مونږ خو بغیر دلیل نه نور کارساز ګڼړل. ان الحق لله فی الالوهیة لایشارکه سبحانه فیها احد (روح ج ۲۰ ص۱۰۱) د غیر الله کارساز ګڼړل او سفارشی ګڼړلو باطل خیال به په آخرت کښ هیڅ فائده نهٔ وی او د دوئ ټولے آرزوګانے به باطل اُوګرځی. ما کانوا یفترون من الوهیة غیرالله والشفاعة لهم (مدارک).

۱ کے دا تخویف دنیوی دے او وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ الخ سره متعلق دے
دَ دُنیا دَ بے ثباتئ حال اُوګوره ئ دَ قارون سره څومره ډیر دولت وو لیکن
هغهٔ په دولت کښ دَ الله تعالیٰ حق ادا نهٔ کړو کفر او شرک ئے کولو دَ دے
وجے نه دولت سره تباه او برباد شو قارون دَ موسیٰ علیه السلام دَ ترهٔ
ځوئے وو دَ موسیٰ علیه السلام والد عمران او دَ قارون والد یصهر دواړه
حقیقی رونړه وو چه دَ قاهث بن لادی بن یعقوب ځامن وو (روح)
قارون منافق وو دَ دے وجے نه موسیٰ علیه السلام سره دریاب پاندے
پورے وتلو. ولم يكن في بني اسرائيل اقرأ منه للتوراة ولكنه نافق كما
نافق السامری (خازن ج ۵ ص۱۵۰) هغهٔ دَ مال دَ ډیروالی دَ وجے نه په نورو
اسرائیلیانو باندے ظلم زیاتے کولو. مفاتح نه مراد خزانے دی نهٔ ګنجیانے
لکه چه حضرت ابن عباس او نورو مفسرینو وئیلی دی. قال السدی
ای خزائنه وفی معناه قول الضحاك ای ظروفه واوعيته وروی نحو ذلك عن
ابن عباس رض والحسن رح (روح ج ۲۰ ص۱۱۱). او عُصْبَةٌ، د ریو نه واخله تر لسو تنو
جماعت ته وئیلے شی یعنی موږ هغهٔ ته ډیر دولت ورکړے وو چه دَ هغهٔ
خزانے یو طاقتور جماعت دَ انسانانو هم ډیر په مشکل پورته کولے.
اِذْ متعلق دے قَالَ سره یا دَ دهٔ متعلق محذوف دے ای اظهر التفاخر والفرح
(روح). ۲ کے دَ قوم خلقو دَ هغهٔ دَ پوهه کولو کوشش اُوکړو او هغه ته ئے اُووئیل
الله تعالیٰ چه کوم دولت تا ته درکړے دے دَ هغے نه دَ الله حق ادا کړه او دَ الله
دَ حکم مطابق ئے خرچ کړه دَ آخرت سامان تیار کړه او دَ دُنیا دَ فانی ژوند نه
فائده واخله. څنګه چه الله په تا احسان کړے دے او تا ته ئے دولت درکړے
هغه شان ته هم دَ الله په بندګانو احسان اُوکړه او دَ دولت په وجه زمکه باندے
شر او فساد مهٔ کوه ځکه چه الله تعالیٰ شر پسند خلق نهٔ خوښوی.
۳ کے قارون خپلو نصیحت کوونکو ته دَ سرکشئ جواب ورکړو او وے وئیل
چه کوم یو احسان دے دا دولت خو ما په خپل علم او هُنر سره حاصل
کړے دے. علم نه مراد تجارت او دَ معاش دَ ذرائع علم مراد دے څنو علم
کیمیا مراد کړے دے. اراد به علمه بوجوه المكاسب والتجارات (کبیر ج۶ ص۶۲۹)
قال ابن المسيب علم الكيمياء (روح).
۴ کے دا قارون دَ پاره تنبیه ده او هغه ویرول دی آیا دَ تورات تلاوت نه
هغهٔ ته دا خبره معلومه نهٔ ده چه دَ دهٔ نه لوئے لوئے سرکش قومونه
الله تعالیٰ هلاک کړل چه په مال دولت او خدمتګارانو کښ دَ دهٔ نه
ډیر زیات وو او بیا دَ داسے سرکش او متکبر مجرمانو دَ ګناهونو څهٔ حساب
نهٔ شی کولے او هغوئ بغیر دَ حساب نه جهنم ته غورځولے شی ځکه چه

د جرم او ګناه نه سیوا د هغوئ تله او چاپېرې کښ هیڅ هم نه وی. لعلمه تعالیٰ بهم بل یدخلون النار بغیر حساب (مدارک ج ۳ ص۱۸۸) -

فَخَرَجَ عَلٰی قَوْمِهٖ فِیْ زِیْنَتِهٖ ؕ قَالَ

بیا راووتو شو دخپل قوم په مخکښ خپل شان او شوکت سره وے وئیل

الَّذِیْنَ یُرِیْدُوْنَ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا

هغه چا چه طلب ئے کولو د ژوند د دُنیا

یٰلَیْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ اُوْتِیَ قَارُوْنُ ۙ اِنَّهٗ

اے کاشکے چه موږ ته ملاؤشی څنګه چه ورکړے شوی دی قارون ته بیشکه

لَذُوْ حَظٍّ عَظِیْمٍ ﴿۷۹﴾ وَقَالَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا

د هغهٔ قسمت ډیر لوئے دے. او اُوئیل چا ته چه ورکړے شوے وو

الْعِلْمَ وَیْلَکُمْ ثَوَابُ اللّٰهِ خَیْرٌ لِّمَنْ

عقل اے افسوس ستاسو د رب ورکړے شوے بدله بهتر ده هغه چا د پاره

اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ۚ وَلَا یُلَقّٰهَآ اِلَّا

چا چه یقین اُوکړو او عمل ئے اُوکړو نیک او داخبره د هغه چا په زړهٔ کښ پریوځی

الصّٰبِرُوْنَ ﴿۸۰﴾ فَخَسَفْنَا بِهٖ وَبِدَارِهِ

خوک چه صبر او برداشت کوونکی دی ف. بیا ننوېستلو موږ هغه لئه او د هغهٔ کور

الْاَرْضَ قف فَمَا کَانَ لَهٗ مِنْ فِئَةٍ

په زمکه کښ بیا نهٔ وه د هغهٔ یو ډله

یَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۗ وَمَا کَانَ

چه امداد ئے کړے وے د هغهٔ سره سیوا د الله نه او نهٔ وو هغه (پخپله)

مِنَ الْمُنْتَصِرِیْنَ ﴿۸۱﴾ وَاَصْبَحَ الَّذِیْنَ

د امداد کوونکو نه. او صباله وېونکی شول چا چه

تَمَنَّوْا مَكَانَهٗ بِالْاَمْسِ يَقُوْلُوْنَ

ارزو کوله د هغهٔ د درجے پشان پرون ما ښام ۵۵ه اے افسوس

وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ

دا خو الله تعالیٰ فراخه کوی روزی چا ته چه اُوغواړی

مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ ۚ لَوْلَآ اَنْ مَّنَّ اللّٰهُ

په خپلو بندګانو بانديے او تنګوی که چرے احسان نهٔ وے کړے الله

عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ؕ وَيْكَاَنَّهٗ لَا يُفْلِحُ

په موږ باندے نو موږ به ئے هم په زمکه ننو یستلے وے اے افسوس دا خو خلاصے نهٔ مومی

الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۲﴾ تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ

کافران . هغه کور د آخرت (روستنئ دے) ۵ه

نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي

موږ به هغه ورکوؤ هغه خلقو ته څوک چه نهٔ غواړی خپله لوئی په

الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۸۳﴾

په ملک (زمکه) کښ او نهٔ فساد کول او ښهٔ خاتمه د پرهیزګارانو ده ف۲.

نکات: ۵ سلے بشارتِ اُخروی ۱۲.

موضح قرآن ف۱ یعنی د دُنیا نه آخرت هغه څوک بهتر ګنړی چه د دُنیا محنت په ځان برداشت کولے شی او بے صبره خلق د مرض په وجے سره د دُنیا ارمانونو پسے لګیدلی وی. نا پوهه انسان د دُنیا دار آسوده ګنړئ او آرام نه ګوری او هغه خوش قسمت او بختور ګنړی او د آخرت ذلت او رسوائی ته نهٔ ګوری او دیته هم نهٔ ګوری چه په دنیا کښ خو آرام لس شل کلونه دے او د مرګ نه روستو زرګونه کاله بیا په قسم قسم تکلیفونو کښ تیریږی. ف۲ یعنی د قارون دولت ته نا پوهانو خوش قسمتی اُوئیله. داسے نهٔ ده د آخرت ګټه ملاویدل خوش قسمتی ده تو هغه به هغه چا ته ملاویږی چه په دُنیا کښ تکبر نهٔ کوی او شر فساد نهٔ کوی بلکه عاجزی کوی.

تفسیر: ۷۵ قارون یوځل خپل پوره شان او شوکت سره د خپلو نوکرانو او خادمانو په جلوه (جلوس) کښې ډیر زیات قیمتي لباس او سامانونو سره را اُوتو. کله چه دنیا داره خلقو د هغهٔ شان شوکت، رُعب او دبدبه په اُولیدله نو وے وئیل هائے کاش چه څمونږ سره هم دومره مال دولت وے قارون خو ډیر خوش قسمت دے وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ الخ د دنیا دارو خبرو آوریدلو سره دیندارو او اهلِ علمو دے آرزوګانو باندے هغوئ ته زور ته ورکړه او ملامته ئے کړل او وے وئیل په تاسو افسوس تاسو د دُنیا تمنا کوئ حال دا دے چه د ایمان او عمل صالح ثواب او اجر د دینه ډیر و زیات او درجو سره بهتر دے. لیکن دا خیال صرف د هغه خلقو په زړونو کښې راځي څوک چه په عمل صالح او ایمان باندے قائم وي او د شهواتو او ګناهونو نه خپل نفس امّاره په قابو کښې ساتلے شي. ۷۶ د قارون د سرکشئ او د هغهٔ د عناد، تکبر او انکار په وجے سره مونږ د هغهٔ عالي شان محلونه د دولت او خزانو سره په زمکه کښې دننه کړل. فَمَا كَانَ لَهٗ مِنْ فِئَةٍ الخ په دنیا کښې په زرګونو افراد د هغهٔ د خدمت او امداد کولو والا موجود وو لیکن د خدائے د عذاب نه هغه هیڅ هم بچ نهٔ کړے شو. د قارون باره کښې ډیرے بے حقیقته قصے موجود دے دي او مشهورے دي چه په هغے کښې یوه هم صحیح نهٔ ده مثلاً د هغهٔ خزانے دومره زیاتے وے چه د هغے چابیانے به شپیتو یا څلویښتو خچرو اُوچتولے او یوه یوه چابي صرف د ګوتے برابر اُوګډه وه او دومره سپکه وه چه د څرمن نه جوړه شوے وه. دا شان چه کله هغه شان شوکت سره اُوتلو نو د هغهٔ نه څنګ کښې روستو بني طرف او کینړ طرف ته او یا زره پیاده، څلور زره آسونو باندے سوارهٔ او دوے زره خدمتګارے وینځے په جلوس کښې شامل وے. علی هٰذا د هغه وخت نه واخله تر اُوسه پورے په زمکه کښې ښخ روان دے او تر قیامته پورے ښخیږي او روان به وي. وغیره وغیره دا ټولے بے سنده او دروغ قصے دي. علامه الوسی لیکي چه د فلکیاتو د ماهرینو مطابق د زمکے د قطر مقدار معین دے. د دے وجے نه دا د ښخیدلو واقعه د اشکال نه خالي نهٔ ده. والله تعالی اعلم بصحة ذلك بل هو مشكل ان صح ما قال الفلاسفة في مقدار قطر الارض (روح ج ۲۰ صـ۱۲۳) ۷۷ کوم خلقو چه د قارون شان شوکت اُولیدو د هغهٔ په شان د دولت او د هغهٔ په شان د شان شوکت تمنا ئے کړے وه هغوئ په خپلو خبرو باندے د پښیمانتیا اظهار شروع کړو او وے وئیل د دولت فراخي او تنګي د الله په اختیار کښې ده هغه چه چا ته اُوغواړي نو مالدار ئے کړي

او چه چاله اوغواړی نو نادارئے کړی او د دے حکمتونه هم هغهٔ ته معلوم دی. د الله شکر او احسان دے چه هغهٔ مونږ ته دومره ډیر دولت نهٔ دے راکړے گنی تو مونږ به هم د قارون په شان سرکش او د خدائے نافرمان او باغیان گرځیدلے وے او څمونږ حشر به هم د قارون په شان وے.

۸۲ دا بشارت اُخروی دے په شروع کښ د حضرت موسٰی علیه السلامٔ قصه ذکر کړے شوه او وے فرمائیل چه هغوئ د دعوت توحید په خاطر ډیر مصیبتونه برداشت کړل. دا شان اے پیغمبره تا سو باندے به هم د دے دعوت په وجے سره مصیبتونه راځی. لیکن د موسٰی علیه السلامٔ په شان به آخری کامیابی ستا سو وی اوس به د سورت په آخر کښ شپږ امور داسے ذکر کولے شی چه هغے سره به د موسٰی علیه السلام او نبی علیه السلام مینځ کښ مماثلت او مشابهت ظاهر شی. دا اولنے امر دے د موسٰی علیه السلام ذکر ئے اُوفرمائیلو.

اِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْاَرْضِ الخ څنگه چه د موسٰی علیه السلام واسطه د سرکش او نافرمان فرعون سره راغله د نبی علیه السلام واسطه هم د دهٔ په شان سرکش او نافرمانو سره راغله. دے آیت کښ د بشارت په طور د هغه خلقو ذکر کړے شوے دے چه سرکشی او نافرمانی نه کوی یعنی د آخرت راحت به داسے خلقو ته حاصل وی لیکن سرکش او باغیان به په دردمند عذاب کښ گرفتار کړے شی.

مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ

چاچه راؤړه نیکی نو هغهٔ ته به ملاویږی بهتر د هغے نه

وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى الَّذِيْنَ

او چاچه اوکړه (راٸے وړه) بدی نو هم هغه سزا به ملاویږی

عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۸۴﴾

بدئ کوونکو ته کوم چه هغوئ کول ف

اِنَّ الَّذِيْ فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لَرَآدُّكَ

بیشکه چاچه حکم اُولیږو شه تا ته د قرآن هغه بیا راوستونکے دے تا لره

إِلَىٰ مَعَادٍ ۚ قُل رَّبِّي أَعْلَمُ مَن جَاءَ
مخکنی ځائے ته ف۱ ته اُوایه ک۸۱ چه زما رب ته ښه معلومه ده چا چه راوړے ده

بِالْهُدَىٰ وَمَنْ هُوَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٨٥﴾
لاره سمه او څوک چه پروت دے په ګمراهئ ښکاره کښې ف۲.

وَمَا كُنتَ تَرْجُو أَن يُلْقَىٰ إِلَيْكَ الْكِتَابُ
او ته ک۸۲ امید نه لرلو چه نازل به کړے شی په تا باندے کتاب

إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا
لیکن مهربانئ سره ستا د رب نو ته مه کیږه ک۸۳ امداد کوونکے

لِّلْكَافِرِينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ آيَاتِ اللَّهِ
د کافرانو ف۳ او ته دِ تا لره منع کړی د حکمونو د الله ته

بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَ ۖ وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ
روستو د هغې نه چه نازل شی ستا طرف ته او رابله د خپل رب طرف ته

وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَا تَدْعُ
او مه کیږه د شرک کوونکو نه ف۴ او مه رابله ک۸۴

مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ ۘ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ كُلُّ
سیوا د الله نه بل حاکم (معبود) نشته بندګی د هیچا سیوا د هغهٔ نه ف۵ هر

شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ ۚ لَهُ الْحُكْمُ
څیز ک۸۵ فناء دے لیکن د هغهٔ ذات د هغهٔ حکم دے

۹ع وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾
او د هغهٔ طرف ته به واپس کولے شئ ف۶.

نکات: ک۱ بشارت اُخروی ۱۲۔ ک۲ تخویف اُخروی ۱۲۔

موضح قرآن

ف۱ نیکئ بانده ئې د نیکئ وعده ورکړه چه هغه به یقیناً ملاویږي او په بدئ ئې د بدئ وعده اونه کړه
کیدے شي چه معاف شي او د خپلو بدو نه به زیاته سزا هغهٔ ته نهٔ ملاویږي.
ف۲ بیا به راولی تا ځکنی ځائے ته دا ایت د هجرت په وخت نازل شوبیائے
تسلي ورکړه چه مکے ته به واپس راځئ نوبشهٔ پوره غلبے سره راغے.
ف۳ یعنی خپل قوم خپل مهٔ ګڼړه چاچه تاسو سره دا بدئ اوکړه (په هجرت ئے
مجبور کړئ) اوس چه ستا سره څوک امداد کوي هغه دِ خپل دي.
ف۴ یعنی د خپل قوم خیال مهٔ کوه د دین په کار کښ او خپل ځان د هغوئ
نه مهٔ ګڼړه اګرچه خپل رشته دار وي. ف۵ دینه معلومه شوه چه هر
څیز فناء کیدونکے دے خواه هر کله چه وي لیکن د هغهٔ مخ (ذات).

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی آخرت ۱۲.

تفسیر:

۷۹ دا د نیکو خلقو د پاره بشارت دے او بدانو د پاره
تخویف دے یعنی د نیکئ بدله خو به د اصل نیکئ نه
زیاته ورکولے شي، لیکن د بدو کارونو سزاء به د هغے مطابق وي په هغے
کښې به زیاتے نهٔ وي. ۸۰ دا دویم امر دے چه په اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَیْكِ بانده
متفرع دے یا د موسٰی علیه السلام مصر ته واپس د مدین طرف ته تللو
او هغه ځائے نه واپس مصر ته راتللو سره متعلق دے. څنګه چه موسٰی
علیه السلام د فرعون د ویرے نه مدین ته هجرت اوکړو لار لیکن
موتر هغه واپس مصر ته راوستلو دا شان به تاسو هم مکے ته واپس عزت
او اکرام سره راولم. ابن عباسؓ فرمائي مراد د مکے فتح ده د فَرَضَ معنٰی
اَنْزَلَ ده قال مقاتل انزله علیك وکذا قال الفراء و ابو عبیدة ......
وقال ابن عباس ایضاً ومجاهد المعاد مکة واراد رده الیها یوم الفتح (بحر ج۷ ص۱۳۶)
دا نبي علیه السلام ته تسلي ده چه تاسو مطمئن اوسیږئ آخر به هم تاسو
غالب یئ او ستاسو دشمنان به مغلوب وي.
۸۱ دا دریم امر دے چه په وَقَالَ مُوْسٰى رَبِّیْٓ اَعْلَمُ بِمَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى الخ
بانده متفرع دے موسٰی علیه السلام د خپل قوم د معاندانه کلام جواب
ورکړے وو نبي علیه السلام ته هم د دے قِسم جواب ورکولو حکم ورکړے شو.
۸۲ دا څلورم امر دے چه په بَجَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِیْنَ بانده متفرع دے
دا د دویم امر د پاره په منزله د دلیل دے یعنی څنګه چه ستا و هم او ګمان
هم نهٔ وو چه په تاسو به الله وحي نازل کړي او تاسو ته به د نبوت منصب
ورکړي. لیکن الله تعالٰی محض خپل رحمت سره تاسو ته دا منصب درکړو.

داشان به هغه محض خپل فضل او احسان سره تاسو شان، شوکت او عزت سره مکے ته داخل کړی دے کښ هم موسیٰ علیه السلام سره مماثلت کے. د موسیٰ علیه السلام مور چه کله هغه په ماشوم والی کښ صندوق کښ بند کړو د دریاب چپوته ئے او سپارلو هغه وخت د هیچا په خیال کښ هم داخبره نه وه چه هغه به پیغمبر کیږی علیٰ هذا کله چه موسیٰ علیه السلام د مدین ته روان شو او په لاره کښ ئے اور اولیدو او هلته ته اور راؤړلو د پاره لاړو هغه وخت د هغهٔ داخیال قدر ے هم نهٔ وو چه ما ته د نبوت منصب راکولے شی. ۸۳ دا پنځم امر دے او فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ ۞ باندے متفرع دے. حضرت موسیٰ علیه السلام وعده کړے وه چه هغه به د مجرمانو تعاون نهٔ کوی. دلته نبی علیه السلام ته حکم ورکړے شو چه تاسو هم د مشرکانو سره تعاون او موافقت مهٔ کوئی. وَلَا يَصُدُّنَّكَ الخ تاسو نهٔ خو په څهٔ معامله کښ د کافرانو معاون جوړیږئی او نهٔ د هغوئی په وینا د قرآن د تبلیغ نه منع شئ ځکه چه الله تعالیٰ د قرآن آیتونه د تبلیغ په خاطر په تا نازل کړل. تاسو د الله د توحید دعوت ورکوئی او په دین کښ د مشرکانو سره هرګز موافقت مهٔ کوئی. داخطاب اګرچه په ظاهره نبی علیه السلام سره دے ځکه چه د قرآن اول مخاطب هغه دے لیکن دینه مراد د هغهٔ اُمت دے. اِلٰى رَبِّكَ کښ مضاف مقدر دے ای الی عبادته جل وعلیٰ وتوحیده سبحانه (روح ج ۲۰ ص۱۳۱) (اِلٰى رَبِّكَ) الی معرفته وتوحیده (وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ) قال ابن عباس رضی الله عنهما الخطاب فی الظاهر للنبی صلی الله علیه وسلم والمراد به اهل دینه ای تظاهروا الکفار ولا توافقوهم (معالم ج ۵ ص۱۵۱).

۸۴ داشپږم امر دے چه په وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الخ باندے متفرع دے هم دا هغه دعوت دے کوم چه موسیٰ علیه السلام خپل قوم او فرعون ته پیش کړو او د کوم په خاطر چه ئے ټول عمر مصیبتونه برداشت کړل دا د ټول سورت د بیان ثمره او نتیجه ده. داخطاب هم د مخکښ په شان اُمت ته دے. په سورت کښ بیان کړے شوی دلائلو نه داخبره واضحه شوه چه خالق، مالک، متصرف، مختار او عالم الغیب صرف الله تعالیٰ دے. نفع نقصان، منع او ورکړه د هغهٔ په اختیار کښ دی لهٰذا د الله نه سیوا هیڅوک کارساز مهٔ ګڼړئ په مصیبتونو، مشکلاتو، حاجاتو او بلیاتو کښ غائبانه صرف هغه رابلئ. لا تتخذ غیره وکیلا علی امورك کلها ولا تعتمد

علی غیره (خازن ج ۵ ص۱۵۱) و یجوز ان یکون المعنی لا تعتمد علی غیر الله ولا تتخذ غیره وکیلا فی امورك فان من وثق بغیر الله تعالی فکانه لم یکمل طریقه فی التوحید (کبیر ج ۶ ص۶۳۲).
۸۵ دَ الله نه سیوا په حاجتونو کښې ما فوق الاسباب بل چا ته آواز مهٔ کوئ ځکه چه الله نه سیوا څوک کارساز نافع، ضار، مانع او معطی نشته او هغهٔ نه سیوا هر څیز فانی دے. لا اله الا هو ای لا نافع ولا ضار ولا معطی ولا مانع الا هو کقوله رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا.
۸۶ وَجْهَهٗ نه دَ الله تعالیٰ ذات مراد دے. لفظ وَجْه دَ ذات باری تعالیٰ نه کنایه ده یعنی دَ الله تعالیٰ دَ ذات نه سیوا هر څیز هَالِک او فانی دے. اِلَّا وَجْهَهٗ ای الا ذاته عزوجل (روح) ومعنی الا وجهه الا ایاه قاله الزجاج (بحر ج ۷ ص۱۳۷)
لَهُ الْحُكْمُ، قضاء او قدر دَ هغهٔ په قبضه او تصرف کښې دے ځهٔ چه کیږی دَ هغهٔ په مشیت او اراده سره کیږی او دَ قیامت په ورځ به تاسو ټول دَ جزاء او سزاء دَ پاره دَ هغهٔ په مخکښې حاضرولے شئ ځنګه چه قضاء او قدر دَ هغهٔ په اختیار کښې دی داشان به دَ قیامت په ورځ حکم او فیصله هم دَ هغهٔ په اختیار کښې وی او هلته به دَ هیچا هم ځهٔ اختیار نهٔ وی.

سورة القصص کښې د توحید آیتونه او د هغې خصوصیات

① قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتّٰى يُصْدِرَ الرِّعَآءُ الخ (۲۳) د شعیب علیه السلام په خاندان دا تنګی قوم محض د توحید د ضد د وجې نه کیښودلے وه۔
② تَمْشِيْ عَلَى اسْتِحْيَآءٍ۔ ښځې له هر حال کښې شرم او حیاء سره او سیدل پکار دی۔
③ قَالَ اِنِّيْ اُرِيْدُ اَنْ اُنْكِحَكَ الخ لس کاله موسٰی علیه السلام ته د دے خدمت په ذریعه تربیت ورکړے شو دے د پاره چه په راتلونکی وخت کښې د مصیبتونو د برداشت کولو قابل او ګرځي۔
④ قَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْا ــــ نه تر ــــ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ (۲۹) نفی د علم غیب موسٰی علیه السلام نه۔
⑤ اِنِّيْ اَنَا اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ د ټولو جهانونو پرورد ګار او په ټول عالم کښې متصرّف او مختار صرف الله تعالٰی دے۔
⑥ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ ــــ نه تر ــــ اِنَّكَ مِنَ الْاٰمِنِيْنَ۔ نفی د علم غیب موسٰی علیه السلام نه۔
⑦ وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ ــــ نه تر ــــ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ (۴۶) نفی علم غیب او حاضر ناظر د نبی علیه السلام نه۔
⑧ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ ــــ نه تر ــــ لَوْ اَنَّهُمْ كَانُوْا يَهْتَدُوْنَ (۶۴) نفی د شرک فی التصرف ۱۲
⑨ وربك يخلق مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ــــ نه تر ــــ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ۔ نفی د شرک فی التصرف او شرک فی العلم۔
⑩ اِنَّ الَّذِيْ فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ الخ د توحید په خاطر مصیبتونو برداشت کولو نه روستو آخری غلبه به هم ستاسو وی۔
⑪ وَمَا كُنْتَ تَرْجُوْا اَنْ يُّلْقٰى الخ نفی د علم غیب د نبی علیه السلام الله تعالٰی د توحید منلو توفیق درکړو نو د مشرکانو سره تعاون کول نه دی پکار۔
⑫ وَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ الخ نفی د شرک فی التصرف۔

نن په تاریخ پنځم د ذی الحجة ۱۴۲۵ھ مطابق ۱۶ جنوری ورځ د اتوار شپږ نیمے بجے مابنام د سورة القصص تفسیر ختم شو۔

کاتب :- ارقم جان

سورۂ عنکبوت

ربط دَ سورۂ عنکبوت ماقبل یعنی سورۃ القصص سره اسې ربط دا دے دَ موسیٰ علیه السلام القصص (قِصّے) نه معلومه شوه چه هغه دَ توحید دَ مسئلے (دَ الله نه سِوا څوک کارساز او برکات ورکونکے نشته لهٰذا په حاجتونو کښې دَ هغه نه سِوا غائبانه آواز چاته مه کوئ) په خاطر ډیرو تکلیفونه برداشت کړل او اوس ئے اوفرمائیل غیر الله برکات ورکوُنکے او کارساز کنټرول بالکل دا سے بے فائده دے څنګه چه دَ عنکبوت (جولاګۍ) کور دَ یخنۍ ګرمۍ او طوفان او باد باران نه هغه نشی بچ کولے. دا شان دَ غیر الله پناه په مصیبتونو او تکلیفونو کښې پکار نشی راتللے.

معنوی ربط دا دے چه په سورۃ الفرقان کښې دا دعوٰی پیش کړے شوه چه دَ الله نه سِوا څوک برکات ورکوُنکے نشته. الفرقان کښې دے دعوٰی باندے عقلی دلائل او هغے نه روستو الشعراء کښې نقلی دلائل ذکر کړے شول. بیا په نمل کښې دَ هغے حلتونه بیان کړے شول او په القصص کښې بیان اوکړے شو چه اے پیغمبر دَ توحید دَ مسئلے په وجه سره به په تاسو باندے مصیبتونه راځی او کوره دَ دے دعوٰی په وجه سره په موسیٰ علیه السلام څومره ډیر مصیبتونه راغلل اوس په عنکبوت کښې به بیان اوکړے شی چه اے دَ ایمان والو دَ دے دعوٰی منلو نه روستو به په تاسو باندے هم امتحانونه راځی دَ دے وجے نه ثابت قدام او سیرئ.

خلاصه دَ سورۂ عنکبوت دوه خصوصی دعوے دی او یوه عام چه دَ ټول قرآن مرکزی دعوٰی ده هغه خصوصی دعوے دا دی.

(۱) دَ توحید دَ مسئلے په وجه به ایمان والو باندے مصیبتونه راځی. (۲) دَ توحید دَ مسئلے نه انکار کوُنکی به زمونږ دَ نیولو نه بچ نکړے شی. دینه روستو اووه واقعات ذکر کړے شویدی چه په هغے کښې اولنی درے واقعات په اولنۍ دعوٰی باندے او روستنی څلور واقعات په دویمه دعوٰی باندے دَ لف نشر مرتب په طور باندے مرتب دی عمومی دعوٰی دَ توحید دعوٰی ده چه دَ سورت په مینځ کښې ذکر شویده دینه روستو پنځه څلور عقلی دلیلونه چه په هغے کښې دوه علیٰ سبیل الاعتراف من الخصم دی یو دلیل وحی او یو دلیل نقلی ذکر شویدے.

اوله دعوٰی — په ایمان والو باندے به ازمائشونه راځی

أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا ــــ نه تر ــــ وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِيْنَ دے بانديے درے واقعات مرتب دی. اوله واقعه دَ حضرت نوح علیه السلام ده وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ (۲۶) ــــ نه تر ــــ وَجَعَلْنٰهَا اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ نوح علیه السلام نهه نیم سوه کاله دَ توحید دَ مسئلے په خاطر دَ مشرکانو دلاسه نه قسم قسم تکلیفونه برداشت کړل ایمان والو! دا شان به په تاسو باندے هم ازمائشونه راځی. دویمه واقعه دَ حضرت ابراهیم علیه السلام ده. وَاِبْرٰهِيْمَ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ (۲۶) نه تر وَاِنَّهٗ فِى الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ. ابراهیم علیه السلام دَ توحید دَ مسئلے په وجه دَ خپل قوم دلاسه څنګه تکلیفونه برداشت کړل. تردے چه هغوئ په اور کښ واچول شول. دریمه واقعه دَ حضرت لوط علیه السلام ده وَلُوْطًا اِذْ قَالَ ــــ نه تر ــــ اٰيَةًۢ بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ (۲۶) لوط علیه السلام دَ خپل سرکش قوم په لاسونو تکلیفونو مصیبتونو کښ مبتلا شو دَ قوم نه طعنه او عیب لګول واوریدل او قوم دَ هغهٔ دَ عزتمندو میلمنو دَ بے عزتئ اراده اوکړه هغهٔ ته ئے تکلیف اورسولو. ایمان والو! دَ انبیا اکرامو پشان په تاسو باندے به هم دَ توحید دَ مسئلے په خاطر تکلیفونه راځی دَ دے وجے نه په هغے باندے به صبر کول وی.

دا درے واړه قصّے اګرچه بالذات او بلاواسطه په اوله دعویٰ سره متعلق دی لیکن بالواسطه په دویمه دعویٰ هم دَ دینه ثابتیږی. یعنی دا دَ توحید نه منکر او معاندین قومونه زمونږ دَ ګرفت او نیولو نه بچ نکړے شول کله چه خمونږ عذاب راغلے نو هغوئ هلاک کړے شول. مَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ اللّٰهِ الخ (۱۶) دا دَ اول دعویٰ سره متعلق دے دَ الله دَ دین په خاطر چه کوم مصیبتونه مقدر دی هغه به ضرور راځی دَ هغے نه مهٔ ویریږئ. وَمَنْ جَاهَدَ فَاِنَّمَا يُجَاهِدُ الخ دَ توحید او حق دین په خاطر چه کوم خلق تکلیفونه برداشت کوی په هغے کښ دَ دوئ خپله فائده ده په چا څه احسان نشته. اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الخ بشارت اخروی دے. وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ دَ توحید دَ مسئلے په وجه سره به تاسو ته تکلیفونه رسیږی دا ډیره عظیم الشان دعویٰ ده دَ دے وجے نه مونږ انسان ته وصیت اوکړو چه هغه دَ خپل مور پلار سره نیک سلوک کوی. لیکن که چرے مشرک والدین تاسو په شرک مجبوره وی نو په دا سے معامله کښ به دَ هغوئ اطاعت هم جائز نهٔ وی. وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الخ بشارت اخروی. وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا الخ دَ منافقانو دَ حال بیان. یعنی څنی خلق دا سے هم دی چه لږ شان تکلیف سره هم ایمان پریږدی. وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ شکوئ سره دَ تخویف اخروی نه.

دویمه دعوی: مشرکان زمونږ دَ نیولو نه نشی بچ کیدلے

اَمْ حَسِبَ الَّذِیْنَ یَعْمَلُوْنَ السَّیِّاٰتِ اَنْ یَّسْبِقُوْنَا الخ دے دعوی باندے خلور قصے متفرع دی. اوله قصه دَ شعیب علیه السلام دَ قوم ده. وَاِلٰی مَدْیَنَ اَخَاهُمْ شُعَیْبًا ——— نه تر ——— فَاَصْبَحُوْا فِیْ دَارِهِمْ جٰثِمِیْنَ (۳۷) دویمه او دریمه قصه دَ عادیانو او ثمودیانو او دَ هود او صالح علیهما السلام ده. وَعَادًا وَّثَمُوْدَاْ ——— نه تر ——— وَکَانُوْا مُسْتَبْصِرِیْنَ ۝ خلورمه قصه دَ موسی علیه السلام ده وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ ——— نه تر ——— وَلٰکِنْ کَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَ ۝. دے قومونو ډیره زیاته سرکشی اوکړه او دَ ضد او عناد دَ وجے نه ئے دَ توحید دَ مسئلے نه انکار اوکړو هغوئ په فسق او فجور او نافرمانئ او انکار کښ دومره مخکښ لاړل لکه چه دَ هغوئ خیال وو چه دَ الله په قبضه قدرت کښ به رانشی او دَ هغهٔ دَ نیولو نه به خلاص شی. لیکن مونږ هغوئ ټول په مقرر وخت باندے اونیول او په دردناک عذاب مونږ هلاک کړل او په هغوئ کښ هیڅوک هم څمونږ دَ عذاب نه بچ نکړے شول. فَاسْتَکْبَرُوْا فِی الْاَرْضِ وَمَا کَانُوْا سٰبِقِیْنَ ۝

مرکزی دعوی: دَ الله نه سوا څوک دَ برکات ورکونکے او کارساز نشته

مَثَلُ الَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِیَآءَ ——— نه تر ——— وَمَا یَعْقِلُهَآ اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ ۝ دینه روستو په دعوی باندے خلور عقلی دلیلونه یو دلیل وحی او یو دلیل نقلی ذکر کړے شوے دے. وَخَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ. دا اولنے عقلی دلیل دے. زمکه او آسمان ئے دَ حق ظاهرولو په خاطر پیدا کړل. دَ کائنات ذره ذره دَ هغهٔ دَ قدرت کامله دَ هغهٔ دَ وحدانیت او کارسازئ دلیل دے. اُتْلُ مَآ اُوْحِیَ اِلَیْکَ الخ (۴۵) دا دلیل وحی دے کوم کتاب چه تاته دَ وحی په ذریعه لیږلے شی تاسو دَ هغهٔ په رڼا کښ دَ توحید مسئله بیانوئ. وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ دا امر مصلح دے. دَ مشرکانو دَ تکلیف دفع کولو دَ پاره تاسو مونځ قائم کړئ. وَلَا تُجَادِلُوْٓا اَهْلَ الْکِتٰبِ. دا دَ تبلیغ طریقه ده یعنی نرمئ سره تبلیغ کوئ. فَالَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْکِتٰبَ. دلیل نقلی دَ اهل کتاب مؤمنانو سره یعنی دَ اهل کتاب انصاف خوښونکی خلقو هم دَ توحید مسئله منلے ده دا هم دَ دے دَ صداقت او رښتینوالی دلیل دے.

وَمَا کُنْتَ تَتْلُوْا الخ دا جمله معترضه ده دَ پاره دَ بیان دَ صداقت دَ نبی علیه السلام یعنی دَ لیک لوست نه پیژندلو باوجود تاسو دا علوم او معارف بیانوئ دا دَ دے خبرے دلیل دے چه تاسو دَ الله رښتونے پیغمبر یئ او په تاسو باندے

دَ الله له طرفه نه وحی راځی او کوم دَ توحید دعوٰی چه تاسو پیش کوئ په هغې کښې تاسو رښتونی یئ. وَقَالُوا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَیْهِ الخ دَ شکوٰی ده. مشرکانو به وئیل دا پیغمبر خو مونږ دَ خوښې معجزات مونږ ته ولې نهٔ ښکاره کوی؟ قُلْ اِنَّمَا الْاٰیٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ الخ جواب شکوٰی ده. معجزات دَ الله پهٔ اختیار کښې دی. اَوَلَمْ یَکْفِهِمْ اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَیْکَ دا هم دَ جواب شکوٰی سره متعلق دے ولے دَ حضور صلی الله علیه وسلم دَ صداقت معلومولو دَ پاره دا معجزه کافی نهٔ ده چه مونږ په هغهٔ باندے قرآن نازل کړیدے چه هر لحاظ سره معجزه ده او دَ هغې دَ مثال پیش کولو نه دوی عاجز دی. وَیَسْتَعْجِلُوْنَکَ بِالْعَذَابِ الخ زجر سره دَ تخویف دنیوی او اخروی نه. وَیَسْتَعْجِلُوْنَکَ بِالْعَذَابِ الخ اعاده دَ زجر سره دَ تخویف دنیوی او اخروی نه.

یٰعِبَادِیَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا الخ دا دَ سورت په شروع یعنی وَمَنْ جَاهَدَ فَاِنَّمَا یُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ کښې دَ کوم څیز طرف ته چهٔ اشاره وه دلته دَ هغې صراحت دے. یعنی دَ توحید پهٔ وجه سره که چرے مشرکان تاسو ته تکلیفونه رسوی او پهٔ خپل وطن کښې تاسو په آرام سره نهٔ پریږدی. نو دَ الله زمکه فراخ او خوره ده خپل وطن پریږده داسے ځائے ته لاړشه هجرت او کړه چرته چه تاسو خالص زما عبادت او کړے شئ. وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ بشارت اخروی. وَکَاَیِّنْ مِّنْ دَآبَّةٍ (الاٰیة) دا دَ مقدر سوال جواب دے یعنی که چرے دَ وطن نه هجرت او کړو لاړشو نو رزق به دَ کوم ځائے نه راځی. ولے فرمائیل دا بے زبے (گونگیان) چارپائے کله دَ خپل ځان سره خپله روزی گرځوی او وړی؟ څنګه چه هغه چارپایانو (حیوانات) ته روزی ورکوی تاسو ته به ئے هم درکوی هیڅ فکر مه کوئ.

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ الخ دا دَ توحید پهٔ دعوٰی باندے دویم عقلی دلیل دے علی سبیل الاعتراف من الخصم. کله چه مشرکان دا منی چه دَ زمکے او آسمان مالک او خالق او دَ کائنات پهٔ نظام کښې متصرف او مختار صرف الله تعالیٰ دے. نو بیا دَ هغوئ عقل ولے ړوند دے هغوئ دَ الله نه سوا نورو (خلق) برکات ورکوونکی او کارساز گنړی او غائبانه ئے رابلی. اَللّٰهُ یَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ یَّشَآءُ الخ دا دریم عقلی دلیل دے. دَ رزق فراخی او تنگی دَ الله په اختیار کښې ده او په ټول هر څهٔ خبردار هم هغه دے. لهٰذا کارساز او مستحق دَ دعا او رابللو هم هغه دے. وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ الخ دا څلورم دلیل دے علی سبیل الاعتراف من الخصم مشرکان دا هم منی چه دَ آسمان نه باران ورول او دَ زمکے نه تروتازه شینکی او فصلونه راټوکول هم دَ الله تعالیٰ کار دے. قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الخ کله چهٔ دا ټول هر څهٔ الله تعالیٰ کوی نو معلومه شوه چهٔ ټول دَ کارسازیٔ صفتونه هم پهٔ الله پورے خاص دی دَ هغهٔ نه سوا څوک کارساز او دَ رابللو لائق نشته.

فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ الخ (۶۰) زجر په مشکرینو باندے کله چه دَ هغوئ کشتئ په خطرات کښې راګیرے شی نو هغوئ ټول هر څه پریږدی خالص الله ته آواز کوی. کله چه الله تعالیٰ دَ هغوئ کشتئ صحیح سلامت غاړے ته پورے باسی نو بیا شرک شروع کړی أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا الخ په دلائلو کښې هم غور فکر او کړئ او خمونږ احسانات هم اوګورئ او دَ هغے شکر په ځائے راوړئ مونږ تاسو دَ خپل حرم په کاونړو کښې اوسولے یئ او دَ امن او اطمینان ژوند هم ورکړے دے. وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ الخ زجر سره دَ تخویف اُخروی. وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا الخ دا هم دَ سورت دَ ابتداء سره متعلق دے. دَ توحید دَ مسئلے په وجه سره به دَ کافرانو دَ طرف نه مصیبتونه راځی څوک چه جوانمردئ سره دَ هغے مقابله اوکړی او دَ توحید په خاطر دَ وطن نه بے وطن کیدلو باندے آماده او تیار شی مونږ به هغوئ دَ توحید په لاره باندے ثابت قدم اولرو او هغوئ ته به په سمه (نیغه) لاره باندے دَ قائم پاتے کیدلو توفیق ورکړو.

سُوْرَةُ الْعَنْكَبُوْتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّسِتُّوْنَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورۃ عنکبوت مکی دے او نهه شپیته آیتونه دی او اووه رکوع گانے دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان ډیر رحم والا دے .

الٓمّٓ ﴿۱﴾ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا

الٓمّٓ . آیا گمان کوی دا خلق ےٓه چه پریښودلے به شی

اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ ﴿۲﴾

دومره وینا سره چه مونږ ایمان (یقین) راوړیدلے او په هغوی به امتحان نه کولے شی

وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

مونږ ازمائیلی دی کوم چه د دوی نه مخکښ وو

فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ

نو الله به ضرور معلوم کړی کوم خلق چه رښتینی وو او ضرور به معلوم کړی

الْكٰذِبِيْنَ ﴿۳﴾ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ

دروغژن . آیا دا خیال کوی ےٓه چه کوی

السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّسْبِقُوْنَا ؕ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۴﴾

بد (گناه) چه زمونږ نه به بچ کړے شی ، بد ه خبره فیصله کوی دا .

مَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ اللّٰهِ فَاِنَّ

څوک چه امید لری ےٓه د ملاقات د الله نو

اَجَلَ اللّٰهِ لَاٰتٍ ؕ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۵﴾

وعده د الله راتلونکے ده ، او هغه دے آوریدونکے خبردار .

وَمَنْ جَاهَدَ فَاِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ ؕ

او څوک چه محنت اوکړی نو د خپل ځان (د نفع) د پاره ئے کوی .

إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعَلَمِينَ ۝٦ وَالَّذِينَ
دَ الله پرواه نشته دَ ټول جهان والو. او کوم خلق چه

آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ
چه يقين اوکړې او کوي نيک کارونه مونږ به لرے کړو دَ هغوئ نه

سَيِّاٰتِهِمْ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَحْسَنَ الَّذِي
ګناهونه او بدله به ورکړو هغوي ته دَ غوره نه غوره

كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝٧
دَ کارونو - ۵

نکات موضح قرآن ۱ دَ سورت اوله دعوىٰ ۱۲ ۲ دويمه دعوى ۱۲ ۳ بشارت اخروى ۱۲
ف اول دوه آيتونه دَ هغه مسلمانانو په باره کښې وو څوک چه دَ کافرانو په تکليف رسولو کښې ګرفتار وو او دا آيت دَ هغه کافرانو متعلق دے چه مسلمانانو ته به ئے تکليفونه رسول ف يعني دَ ايمان په برکت سره به ورته نيکئ (فائده) ملاويږي او بدئ به ئے معاف کيږي

تفسير ۲ دَ سورت اولنۍ دعوىٰ. آيا دَ خلقو دا خيال دے چه دَ الله دَ رضا منډئ او دَ جنت دَ نعمتونو حاصلولو دَ پاره صرف دَ توحيد دعوىٰ منل کافي ده او دينه روستو هغوي آزاد دي او دَ ازمائشونو او تکليفونو سره به نه مخامخ کيږي؟ استفهام انکاري دے يعني دَ خلقو دا خيال صحيح نه دے بلکه دَ توحيد دَ دعوىٰ په وجه سره به هغوئ ته دَ مشرکانو په لاس مصيبتونه او مشکلات مخې ته راځي. وَلَقَدْ فَتَنَّا الخ ځکه چه تيرشوي انبياء عليهم السلام ته هم داشان تکليفونه مخې ته راغلي او رسيدلي وو. کله چه هغوئ دَ خپلو قومونو په مخکښې دَ توحيد دعوت پيش کړو نو قومونو هغوئ ته قسم قسم مصيبتونه اورسول، داشان ئے دَ هغوئ تابعدارو او مننونکي هم په تکليفونو مصيبتونو کښې اخته او راګير کړل. فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الخ دا دَ ابتلاء او امتحان حکمت او علت دے او علم دلته په معنىٰ دَ اظهار او تبيين دے ومعنى الاية فليظهرن الله الصادقين من الكذبين (خازن ومعالم ج ۵ ص۱۵۵). يعني مونږ به هجرت او مصيبتونو او مشکلات سره او دَ واجبات او فرائض په قائمولو سره په مسلمانانو باندے ازمائش کوو دے دَ پاره چه مخلص او منافق، راسخ الايمان او ضعيف الايمان کښې امتياز راشي او هر يو ته دَ هغهٔ دَ اعمالو موافق جزاء او سزا ورکړے شي. انه تعالى يمتحنهم بمشاق التكاليف كالمهاجرة والمجاهدة

ورفض الشهوات ووظائف الطاعات وفنون المصائب فی الانفس والاموال لیتمیز المخلص من المنافق والراسخ فی الایمان من المتزلزل فیه فیعامل کل بما یقتضیه ویجازیهم سبحانه بحسب مراتب اعمالهم (روح ج ۲۰ ص ۱۳۳).

۳ :- دا دویمه دعوی ده د مشرکانو خیال باطل دے چه هغوئ به څمونږ د عذاب نه بچ کړے شی. السَّیِّاٰتِ، کفر، شرک او ګناهونه فعل مضارع په حدوث او تجدد باندے دلالت کوی یعنی کوم خلق چه هر وخت کفر، شرک او فسق و فجور کښ غرق وی او غیرالله ته آواز کوی آیا د هغوئ خیال دا دے چه مونږ به هغوئ ته د هغوئ د بدو اعمالو سزا ورنکړو او هغوئ به څمونږ د عذاب نه بچ شی. سَآءَ مَا یَحْکُمُوْنَ دا ډیره بده خبره او صریح غلط خیال دے کله چه د الله عذاب راشی نو هغوئ به هرګز بچ نکړے شی.

۴ دلته نه واخله د رکوع تر آخر پورے د اول دعوی سره متعلق د بشارت او تخویف ذکر دے. مَنْ کَانَ یَرْجُوْا الخ د توحید د وجے نه به په تاسو مصیبتونه راځی لیکن د چا په زړونو کښ چه د آخرت ویره ده هغوئ له د توحید په خاطر هر قسم مصیبتونو تکلیفونو برداشت کولو ته هر وخت تیار او سیدل پکار دی. هغوئ به د کافرانو د لاسه هجرت هم کوی. د غه وخت هغوئ له دا خیال کول نهٔ دی پکار چه هغوئ د کورونو نه او ځی د لوږے او نورو مصیبتونو تکلیفونو نه به هلاک شی. ځکه چه د مرګ وخت مقرر دے او هغه به په خپل وخت باندے ضرور راځی خواه هغوئ په کورونو کښ ولے نهٔ وی. وَمَنْ جَاهَدَ الخ لیکن چه کوم خلق خالص د دینِ حق په خاطر وطن پریخودل او د دینه علاوه نور مشکلات او تکلیفونه برداشت کړی د هغے فائده به هم دوئ ته ملاویږی او الله تعالیٰ به د دوئ ګناه معاف کړی او لوئے اجر او لوړے مرتبے به ورکړی جهاد نه دلته کافرانو سره جهاد کول مراد نهٔ دے ځکه چه سورت مکیه دے بلکه د جهاد نه د کافرانو په تکلیف رسولو صبر کول مراد دے (موضح) ای ومن جاهد فی الذین وصبر علی قتال الکفار و اعمال الطاعات فانما یسعی لنفسه ای ثواب ذلک کله له (قرطبی جلد ۱۳ ص ۳۲۷)

۵ دا هغه مؤمنانو ته خوشخبری ده د آخرت چا چه د توحید په خاطر مصیبتونو تکلیفونو باندے صبر اوکړو. اٰمَنُوْا د الله په توحید باندے ئے ایمان راوړو وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او د توحید په لاره کښ ئے مصیبتونه برداشت کړل. وَلَنَجْزِیَنَّهُمْ اَحْسَنَ الخ د هغوئ د اعمال به مونږ هغوئ ته احسن (د ټولو نه بهتر) جزاء ورکوو یعنی د یوے نیکئ په بدله کښ به لس چنده یا د دینه هم زیاته بدله او ثواب لکه چه بل ځائے ارشاد دے

مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ای احسن جزاء اعمالهم والجزاء الحسن ان یجازی بحسنة حسنة واحسن الجزاء ان تجازی الحسنة الواحدة بالعشر و زیادة (روح ج ۲۰ ص ۱۳۸). حضرت شیخ رحمه الله اوفرمائیل یا مطلب دا دے چه مونږ به هغوئ ته دَ احسن الاعمال یعنی دَ هجرت جزاء ورکوو ځکه چه دَ هجرت ذکر اشارةً مخکښ تیر شوے دے یعنی مونږ به هغوئ ته دَ هغوی دَ دوی بهترین عمل پوره پوره جزاء ورکوو او مفهوم مخالف به مراد نهٔ وی. یعنی دا مفهوم به مراد نهٔ وی چهٔ کوم عمل احسن نهٔ وی بلکه حَسَنٌ وی دَ هغې جزاء به نهٔ ملاویږی دلته دَ هغې دَ جزاء او عدام جزاء ته هیڅ تعرض نهٔ دے کړے شوے

وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ط

او مونږ تاکید اوکړو ئے انسان ته دَ خپل مور پلار سره دَ ښهٔ سلوک کولو،

وَاِنْ جَاهَدٰكَ لِتُشْرِكَ بِيْ مَا لَيْسَ لَكَ

او کهٔ چرے هغوئ په تا محنت اوکړی چه ته شریک جوړ کړې ځما سره دَ کوم چه تا ته

بِهٖ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ط اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ

علم نشته نو دَ هغوئ خبره مهٔ منه، ما ته بیا راتلل دی ستاسو

فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۸﴾ وَالَّذِيْنَ

نو زهٔ به خبر درکړم تاسو ته کوم چه تاسو کول. او کوم خلق چه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ

یقین اوکړی ئے او نیک کارونه کوی مونږ به هغوئ داخل کړو

فِي الصّٰلِحِيْنَ ﴿۹﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ

نیکو خلقو کښ. او بو (قسم) هغه خلق دی ئے چه

يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ فَاِذَآ اُوْذِيَ فِي اللّٰهِ

وائی یقین اوکړو مونږ په الله باندے بیا چه کله هغوئ ته تکلیف اورسیږی دَ الله په لار کښ

جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللّٰهِ ط

نو ګرځوی دَ خلقو تکلیف رسول برابر دَ عذاب دَ الله سره،

وَلَىِٕنْ جَآءَ نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ

او که چرے راؤرسیږی د الله امداد له ستا د رب لطرفه نو وائی

اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ؕ اَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِمَا

موږ خو ستاسو سره یو، آیا (دا ښه) نه ده چه الله ښه خبردار دے په هغې

فِيْ صُدُوْرِ الْعٰلَمِيْنَ ۝١٠ وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ

کوم چه په سینو کښ دی د جهان د خلقو. او ضرور به معلوم کړی الله

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ ۝١١

هغه خلق چا چه یقین اُوکړو او ضرور به معلوم کړی خوک چه منافقان دی.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او اُوئیل انکار کوونکو (کافرانو) لَه مؤمنانو ته

اتَّبِعُوْا سَبِيْلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ ؕ وَمَا

لاړ شئ خموږ لار پاندے او موږ به پورته کړو ستاسو گناهونه، او نه به شی

هُمْ بِحٰمِلِيْنَ مِنْ خَطٰيٰهُمْ مِّنْ شَيْءٍ ؕ

هغوئ پورته کولے د دوئ هیڅ گناه

اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝١٢

بیشکه هغوئ دروغژن دی.

نکات

۱ ادخال اللهی. ۲ بشارت اُخروی ۱۲. ۳ شکوی او تخویف ۱۲.

موضح قرآن

ف دُنیا کښ د مور پلار نه زیات حق د هیچا نشته بیا د الله حق د دوئ نه زیات دے د دوئ په خاطر دین مه پریږدئ ۱۲

تفسیر

له اے د ایمان والو د توحید د مسئلے په وجه سره به په تاسو باندے امتحانات کوے شی. دا ډیر لوئ اهم او عظیم الشان دعوی ده. هم دا وجه ده چه یو طرف ته خو موږ حکم ورکړو چه د مور پلار سره ښه سلوک کوی او دے سره هم دا حکم ورکړے دے چه په توحید باندے قائم او سیږی لیکن

که چرے ستاسو مور پلار مشرکان وی او تاسو په شرک باندے مجبور کوی او ستاسو په انکار کولو باندے تاسو ته تکلیفونه او ضرر رسوی نو دے معامله کښ د هغوئ خبره هرګز مهٔ منئ او هر قسم تکلیف، ضرر، استقلال او ثابت قدمئ سره برداشت کړئ.

۷ دا بشارت اُخروی دے کوم خلق چه د الله په توحید باندے ایمان راؤړئ او د توحید په لاره کښ راتلونکے هر مصیبت او تکلیف کښ ثابت قدم پاتے شی هغه به مونږ په صالحانو کښ اُوشماروا و هغوئ ته به د هغے په شان ښهٔ بدله ورکړو. ای یجعلهم منهم و یدخلهم فی عدادهم کما یقال الفقیه من العلماء (کبیر ج ۶ ص۶۴۵).

۸ دا ایت د منافقانو باره کښ دے الآیة نزلت فی المنافقین (قرطبی ج ۱۳ ص۳۲۹) اُوْذِیَ فِی اللّٰهِ الخ یعنی د الله د توحید په خاطر او د هغهٔ په لاره ای لاجله عزوجل علی ان فی للسببیه او المراد فی سبیل الله بان عذبهم المشرکون علی الایمان به تعالٰی (روح ج ۲۰ ص۱۳۹) د ایمان والو ته به د توحید په وجه ډیر مشکلات مخے ته راځی هغوئ ته به د دے صبر او استقلال سره مقابله کول وی او د دے منافقانو په شان د کمزورئ اظهار کول به نهٔ وی چه په ژبے سره خو د ایمان دعوٰی کوی لیکن کله چه د الله د توحید او د الله د دین په خاطر د مشرکانو د طرفه تکلیف اُورسیږی نو د الله عذاب ئے اُوګڼړی او ډیر ګبراؤ شی نو د فریاد او بے صبرئ اظهار شروع کړی او ایمان ته رخصت ورکړی کافر شی. ای نزلوا ما یصیبهم من اذیتهم منزلة عذابه تعالٰی فی الاٰخرة فجزعوا من ذلك ولم یصبروا علیه واطاعوا الناس وکفروا بالله تعالٰی (روح ج ۲۰ ص۱۴۰)

۹ لیکن کهٔ چرے مسلمانانو ته فتح او غنیمت حاصل شی نو د مال په لالچ کښ هغوئ ته وائی ولے مونږ ستاسو سره په دین کښ نهٔ وو؟ د دے وجے نه په غنیمت کښ مونږ ته هم حصه راکړئ. اَوَ لَیْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ الخ، الله اُوفرمائیل دروغ وایئ ولے زهٔ د دوئ په سینو کښ پټے خبرے نهٔ پیژنم؟ څنګه چه د مؤمنانو اخلاص پیژنم دا شان د هغوئ نفاق هم پیژنم. مَا فی صدور هٰؤلاء من النفاق وَما فی صدور المؤمنین من الاخلاص (مدارک ج ۳ ص۱۹۳) ۱۰ دا مؤمنانو د پاره خوشخبری ده او منافقانو د پاره تخویف دے او د علم نه مراد مجازاة دے. والمراد بالعلم المجازاة ای لیجزینهم بمالهم من الایمان والنفاق (روح).

۱۱ کافرانو باندے شکوٰی او تخویف اُخروی دے د کافرانو سرکشئ او بے باکئ ته اُوګورئ پخپله کفر او شرک کوی او مسلمانانو ته هم وائی

چه هغوئ هم د دوئ په لار روان شي او د گوم عذاب نه چه ستا سو خطره
ده د هغې بوج به مونږ پوره ته کړو. حال دا دے چه هغوئ به د دوئ د گناهونو
هیڅ بوج هم نهٔ شي پوره ته کولے. وَلْنَحْمِلْ اتَّبِعُوْا باندے معطوف دے
او امر په معنیٰ د خبر دے. قول ابن عطیة قوله ولنحمل خبر یعنی امر او
معناه الخبر (بحر ج ۷ ص ۱۴۴).

وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ

او خامخا پوره ته به کړی خپل ۱ بوج او ډیر بوجونه د خپل

أَثْقَالِهِمْ ۖ وَلَيُسْأَلُنَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَمَّا

بوج سره او خامخا به تپوس کیږي د دوئ نه په ورځ د قیامت کومے خبرے

كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا

چه هغوئ دروغ جوړولے واو. او مونږ اُولیږلو ۱۳

نُوْحًا إِلٰى قَوْمِهٖ فَلَبِثَ فِيْهِمْ أَلْفَ

نوح د هغهٔ قوم ته. بیا ئے وخت تیر کړو په هغوئ کښ زر

سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِيْنَ عَامًا ۖ فَأَخَذَهُمُ

کلونه پنځوس کاله کم بیا اُونیول هغوئ

الطُّوْفَانُ وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۴﴾ فَأَنْجَيْنٰهُ

طوفان او هغوئ گناهگار وو ۲. بیا مونږ بچ کړو هغه

وَأَصْحٰبَ السَّفِيْنَةِ وَجَعَلْنٰهَا آيَةً

او د جهاز والا او اُوگرځولو مونږ جهاز نښه

لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۵﴾ وَإِبْرٰهِيْمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ

د جهان والو د پاره ۳. او ابراهیم کله چه هغهٔ اُوئیل خپل قوم ته ۴

اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ ۖ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ

بندگی کوئ د الله او ویریږئ د هغهٔ نه دا بهتره ده

لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿١٦﴾ إِنَّمَا

ستاسو په حق کښ که چرے تاسو پوهیږئ . بیشکه

تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ أَوْثَانًا

عبادت کوئ تاسو سیوا د الله نه د دے بتانو

وَّتَخْلُقُوْنَ إِفْكًا ۭ إِنَّ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ

او جوړوی دروغ خبرے بیشکه چه ﴿ف۱﴾ د کوم عبادت کوئ تاسو

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُوْنَ لَكُمْ رِزْقًا

سیوا د الله نه هغوئ مالکان نهٔ دی ستاسو د روزئ

فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوْهُ

نو تاسو طلب کړئ د الله سره روزی او بندګی کوئ د هغهٔ

وَاشْكُرُوْا لَهٗ ۭ إِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿١٧﴾ إِنْ تُكَذِّبُوْا

او حق اومنئ د هغهٔ ، د هغهٔ طرف ته به واپس کیږئ. او که چرے تاسو دروغ اوګڼرئ (رسول)

فَقَدْ كَذَّبَ أُمَمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ۭ وَمَا

نو دروغ ګڼلی وو (رسولان) ډیرو قومونو ستاسو نه مخکښ ﴿ف۲﴾ او د

عَلَى الرَّسُوْلِ إِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿١٨﴾

رسول په ذمه خو صرف دا ده چه پیغام رسول دی ښکاره ﴿ف۳﴾.

نکات: ﴿۱﴾ اوله قصه متعلق ده د اولے دعوے سره ۱۲. ﴿۲﴾ دویمه قصه متعلق ده د اولے دعوے سره ۱۲.

موضح قرآن ﴿ف۱﴾ کهٔ څوک اوغواړی چه رفاقت (ملګرتیا) اوکړی د ګناه نخیله اوکه واخلی نو دا نهٔ شی کیدے لیکن څوک چه ئے ګمراه کړو او د دهٔ په ګمراه کولو سره ئے ګناه اوکړه نو هغه ګناه به د دهٔ هم وی او په هغهٔ هم. ﴿ف۲﴾ وائی چه د طوفان نه مخکښ ئے دومره ژوند تیر کړو او روستو هم څهٔ زمانه ژوندے وو ټول عمر ئے څوار لس سوه کلونه وو. ﴿ف۳﴾ کوم وخت چه دا سورت نازل شو نو د نبی کریم

صلی الله علیه وسلم ډیر یا ران د کافرانو د ضرر رسولو نه کشتئ کښ سواره شول د حبشو ملک ته لاړل کله چه نبی علیه السلام مدینے ته هجرت اوکړو راغلو نو بیا هغه وخت هغوئ هم سلامتئ سره راغلل او بیړئ (جهاز) ئے نښه اوګرځوله خلقو د پاره یعنی دُنیا کښ کشتئ سره ډیر کار ونه چلیږی او د الله قدرت نو ته په نظر راځی. ف۵ د رزق باره کښ ئے دا سے اُوفرمائیل چه اکثر خلق روزئ پسے ایمان ورکوی نو پوهه شئ چه د الله نه سیوا روزی هیڅوک نهٔ شی ورکولے صرف هغه روزی ورسوی د خپلے خوښے موافق.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی باره د ګمراه کیدلو او د ګمراه کولو بوره کړی او د تابعدارانو باره به د دوئ د سرونو نه هیڅ شے نهٔ دفع کوی ۱۲.

تفسیر

۲ له هغوئ به د ډیر و بوج نځهٔ پوره ته کړی هغوئ خود خپلو ګناهونو د بوجونو لاندے راګیر شوے وی یوځو به د هغوئ خپل د کفر او شرک، فسق او فجور بوج وی او د دینه علاوه زیاتے به د نورو خلقو د ګمراه کولو او په کفر او شرک باندے د وراچولو د ګناه بوج وی دنیا کښ چه هغوئ کوم افتراء او د دروغو خبرے جوړوی په آخرت کښ به د هغے باره کښ د دوئ نه جواب طلبی وی.

۳ له دا اوله قصه ده او د اولے دعوے سره متعلق ده یعنی اُوګورئ حضرت نوح علیه السلام خپل قوم ته د الله د توحید پیغام ورکړو او هغهٔ د توحید په خاطر نهه نیم سوه ۹۵۰ کاله تکلیفونه او د مشرکانو ضررونه برداشت کول. ایمان والؤ تاسو باندے به هم مصیبتونه راځی د هغے نه مهٔ ویریږئ بلکه په هغے صبر اُوکړئ. د حضرت نوح علیه السلام په قوم کښ نهه نیم سوه کاله د اُوسیدلو ذکر صرف د دے ځائے کښ راغلے دے. دینه معلومه شوه چه دلته دا ښودل مقصود دے چه هغوئ د ډیرے زمانے پورے د توحید په خاطر د مشرکانو د لاس نه مصیبتونه برداشت کړل. وَ اَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ الخ دا ضمنًا د دویمے دعوے سره متعلق دے. مشرکانو خموئز پیغمبر ته نهه نیم سوه کاله تکلیفونه رسول او په شرک کښ مبتلاء وو. د هغوئ خیال وو چه الله به هغوئ اُونهٔ نیسی لیکن الله هغوئ په طوفان کښ غرق کړل او په هغوئ کښ یو هم د الله د عذاب نه بچ نهٔ کړے شو. فَاَنْجَيْنٰهُ الخ نوح علیه السلام او چا چه په هغهٔ باندے ایمان راوړے وو په کشتئ کښ سواره وو هغوئ مونږ خو د طوفان نه بچ کړل لیکن هغوئ نهه نیم سوه ۹۵۰ کاله د مشرکانو په لاس تکلیفونه برداشت کول.

۱۴ دا دویمه قصه ده او د اولے دعوے سره متعلق ده حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل قوم په مخکښ د توحید دعوت پیش کړو لیکن د هغې په وجے سره د وخت بادشاه د نمرود د خپل قوم او د خپل پلار د مسلسل مصیبتونو او مشکلاتو لښانه اوګرځیدو. مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا. اَوْثَانًا، د تَعْبُدُوْنَ مفعول او ذوالحال مؤخر دے او مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حال مقدم دے. اے ځما قومه! صرف د الله عبادت کوئ او په حاجتونوکښ غائبانه صرف هغه ته آواز کوئ او په شرک کولوکښ د الله نه اُوویریږئ کوم چه تاسو د الله نه سیوا رابلئ هغه خو بتان دی هغوئ کله د الوهیت لائق دی تاسو هغوئ کار ساز ګنړئ صریح غلط او د دروغو نظریه پیش کوئ. ای تکذبون کذبا حیث تسمونها الهة وتدعون انها شفعاؤکم عند الله سبحانه (روح ج ۲۰ ص۱۴۴).

۱۵ دا هم د حضرت ابراهیم علیه السلام د تقریر حصه ده. وے فرمائیل د الله نه سیوا چه تاسو د کومو معبودانو عبادت کوئ او رابلئ یئ هغوئ ستاسو د تولو نه بنیادی ضرورت هم نه شی پوره یعنی ستاسو روزی د هغوئ په اختیار کښ نه ده باقی حاجتونوکښ به هغوئ ستاسو څه پکار راشی. د تولو رازق الله تعالیٰ دے د دے وجے نه روزی هم د هغه نه غواړئ او هر قسم عبادت هم د هغه د پاره په ځائے راوړئ او په تولو حاجتونو تکلیفونو کښ غائبانه صرف هغه رابلئ او د هغه د نعمتونو شکر ادا کړئ د تولو نه لوئے شکر دا دے چه د هغه سره شرک مه کوئ.

۱۶ دے ځائے ته واخله تر لَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ پورے یا خو د حضرت ابراهیم علیه السلام کلام چلیږی یا دا جمله معترضه ده او دے کښ نبی علیه السلام او د هغه د اُمت حال ذکر شوے دے. وهذه الآيات محتملة ان تكون من جملة قول ابراهيم عليه السّلام لقومه وان تكون معترضة وقعت في شان رسول الله صلى الله عليه وسلم وشان قريش (مدارك ج ۳ ص۱۹۳). یعنی که چرے تاسو ځما تکذیب کوئ نو دا کومه نوے خبره نه ده ستاسو نه مخکښ اُمتونو هم خپل پیغمبران دروغ ګڼلی دی د پیغمبرانو کار په خلقو باندے منل نه دی بلکه د الله تعالیٰ پیغام رسول د هغوئ ذمه ده.

اَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللّٰهُ الْخَلْقَ ثُمَّ

آیا گوری نه ئے | چه څنګه | شروع کوی | الله | پیدائش | بیا به ئے

يُعِيدُهُ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١٩﴾ قُلْ

دویم ځل هم پیدا کړي، دا په الله آسان دی ف. ته اووایه

سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ

اوګرځئ په ملک کښې بیا اوګورئ څنګه شروع کړې دے

الْخَلْقَ ۚ ثُمَّ اللَّهُ يُنشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ ۚ

الله پیدائش بیا به الله راپاڅوي. راپاڅول روستوني (په آخرت کښې)،

إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾

بیشکه الله هر څیز کولے شي.

يُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ وَيَرْحَمُ مَن يَشَاءُ ۖ

عذاب به ورکړي چا ته چه اوغواړي لله او رحم به اوکړي په چا چه اوغواړي

وَإِلَيْهِ تُقْلَبُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ

او د هغهٔ طرف ته به بوتللے کیږئ. او نهٔ یئ تاسو عاجز کوونکي

فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ ۖ وَمَا لَكُم

په زمکه کښې او نهٔ په آسمان کښې او هیڅوک نشته ستاسو

ع ۲ ۹ ۱۴ مِّن دُونِ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٢٢﴾

سوا د الله نه حمایت کوونکے او نهٔ مدد ګار.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَلِقَائِهِ

او کوم خلق چه منکر شول د خبرو د الله نه او د هغهٔ د ملاقات نه

أُولَٰئِكَ يَئِسُوا مِن رَّحْمَتِي وَأُولَٰئِكَ

هغوئ ناامیده شول ځما د رحمت نه. او هغوی

لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٣﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ

د پاره عذاب دردناک دے. بیا نهٔ وو هیڅ جواب

قَوْمِهٖۤ اِلَّاۤ اَنْ قَالُوا اقْتُلُوْهُ اَوْ حَرِّقُوْهُ

دَ هغهٔ دَ قوم لیکن دا چهٔ وے وئیل هغه قتل کړئ یا ئے او سیزئ

فَاَنْجٰىهُ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ

بیا هغه بچ کړو الله دَ اور نه ، دے کښ لوئے

لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۴﴾

نښے دی هغه خلقو دَ پاره څوک چه یقین کوی ف۲ .

موضح قرآن ف۱ یعنی شروع خو وینئ دو باره ژوندی کول دَ دینه معلوم کړئ . ف۲ مخکښ دَ حضرت ابراهیم علیه وسلم کلام ذکر شوے وو دَ هغے موافق الله تعالیٰ په مینځ کښ څو ارشادات اُوفرمائیل بیا ئے دَ هغهٔ دَ قوم جواب ذکر کړو . (اور) نهٔ سوزیدلو نه دا معلومه شوه چه دَ هر څیز تاثیر دَ هغهٔ په حکم سره دے کله چه حکم نهٔ وی نو دَ اور په شان څیز هم سوزول اُونکړے شول .

تفسیر: ۱۷ ایا هغوئ غور نهٔ کوی الله څنګه خپل قدرت کامله سره مخلوق اول ځل پیدا کړو دا شان هغه په دوباره پیدا کولو باندے قادر دے دا کار خو هغهٔ ته ډیر آسان دے .

قُلْ سِیْرُوْا الخ داخطاب کهٔ چرے حضرت ابراهیم علیه السلام ته وی نو دَ دینه مخکښ به وَقُلْنَا لَهٗ محذوف وی او کهٔ چرے خطاب نبی علیه السلام ته وی نو دَ حذف ضرورت نشته یعنی په زمکه کښ اُوګرځئ دَ الله قِسم، قِسم مخلوق اُوګورئ دَ مخلوق دَ انواعو او قسمونو هیڅ حساب نشته . جنسونه او قسمونه ، مختلف شکلونه او طبیعتونه مختلف ، رنګ او ژبے مختلف ، کوم قادر ، طاقتور او حکیم دانا چه داټول هر څهٔ پیدا کړیدی هم هغه به انسانان دوباره ژوندی او پیدا کړی ځکه چه دَ هغهٔ قدرتِ کامله په ټول کائنات حاوی دے .

۱۸ هغه دَ قانونِ عدل دَ لاندے چاته چه اُوغواړی سزا ورکړی او چاته چه اُوغواړی نو خپلے مهربانئ سره په هغهٔ رحم اُوکړی . تاسو ټول به دَ حشر په میدان کښ دَ الله په حضور کښ حاضر ولے شئ .

وَمَاۤ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِیْنَ ، تاسو زمکه او اسمان کښ نهٔ چرته دَ الله دَ عذاب نه تښتیدے شئ او نهٔ خلاصیدے شئ او نهٔ دَ الله نه سیوا ستاسو څوک حمایت کوونکے او مددګار شته چه دَ الله دَ عذاب نه تاسو ته نجات

درکړی. وَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا الخ تخویف اُخروی دے کوم خلق چه د الله د توحید
او د رسولانو او حشر نشر نه انکار کوی هغوئ به د رحمت نه محروم
شویدی او هغوئ د پاره دردناک عذاب دے.
۱۹ د حضرت ابراهیم علیه السلام د ناصحانه تبلیغ جواب قوم ورکړو
چه دے قتل کړئ یا د دینه هم زیاته عبرتناکه سزا ورکړئ او دے په
اور کښ اُوسیزئ. فَاَنْجٰهُ اللّٰهُ الخ مشرکانو اخر هغه په اُور کښ واچولو
لیکن الله هغه د اُور نه بچ کړو صحیح سلامت ئے را بهر کړو.

وَقَالَ اِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ

او ابراهیم او وئیل نشه کوم چه تاسو مقرر کړیدی سیوا د الله نه

اَوْثَانًا مَّوَدَّةَ بَیْنِكُمْ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ۚ

د بتانو مجسمے نو دوستی او کړئ په ژوند د دنیا کښ

ثُمَّ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ یَكْفُرُ بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ

بیا به په ورځ د قیامت لِـه منکر شی د یو بل نه

وَّیَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا ؗ وَّمَاْوٰىكُمُ

او لعنت به وایئ په یو بل او ځائے ستاسو

النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِیْنَ ﴿۲۵﴾

اُور دے او څوک نشته ستاسو امداد کونکے ف۱.

فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ ۘ وَقَالَ اِنِّیْ مُهَاجِرٌ

بیا ایمان راوړو په هغه باندے لوط لِـه او هغه اووئیل زه خو وطن پریږدم

اِلٰی رَبِّیْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ﴿۲۶﴾

د خپل رب طرف ته بیشکه هغه دے غالب او حکمت والا ف۲.

وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ

او ورکړو موږ هغه ته اسحق او یعقوب لِـه

وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ

او کیښوده موږ د هغهٔ په اولاد کښې پیغمبري او کتاب

وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِي الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ

او ورکړو موږ هغهٔ ته ثواب په دُنیا کښې او هغهٔ

فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۲۷﴾ وَلُوْطًا

په آخرت کښې ضرور د نیکانو نه دے ٣. او لیږلے وو (موږ) لوط

اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ ۡ

کله چه ئے او وئیل خپل قوم ته چه تاسو راتلل کوئ د بے حیایئ کار ته

مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ اَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۸﴾

ستا سو نه مخکښې چه نهٔ وو کړے هیچا په دنیا کښې

نکات: سلّ د ریمه قصه متعلق ده د اولے دعوے سره ۱۲.

موضح قرآن ف یعنی هغه د شیطان په توم بتان به د الله په مخکښې منکرشی چه موږ خو تاسو ته نهٔ وو وئیلی چه ځموږ عبادت کوئ عبادت کوونکی به په هغوئ لعنت لیږی چه ځموږ نه د دنیاز وغیره تاسو واخستو او د مطلب په وخت تاسو ځموږ ته نځ وار ولو. ف۲ حضرت لوط علیه السلام د حضرت ابراهیم علیه السلام ورارهٔ وو د ابراهیم علیه السلام د قوم نه دے هیچا اُو نه منلو لوط علیه السلام نه سیوا. د دوئ (دواړو) وطن بابل ښار وو په عراق کښې) بیا د خدائے په توکل اُوتل د شام ملک ته ئے هجرت اوکړو بیا هلته الله تعالیٰ د استوګنے وسائیل هغوئ د پاره پیدا کړل. ف۳ دنیا کښې الله تعالیٰ مال او عزت او همیشه نوم ئے ورکړو او د شام ملک ئے د هغهٔ اولاد ته ورکړو.

تفسیر: ۲۵ مَوَدَّةَ مفعول لهٔ دے او د ما بعد طرف ته مضاف دے. بَيْنِ اسم دے په معنیٰ د وُصْلَة او پیوست والی سره یعنی تاسو غیرالله معبود دے د پاره نیولی دے چه د دے په وجے باندے ستاسو په دنیا کښې خپل مینځ کښې محبت، او پیوست والے او اتحاد باقی پاتے شی او مخالفت پیدا نهٔ شی ای لیتوادوا و یتواصلوا و یجتمعوا علی عبادتها کما یجتمع ناس علی مذهب فیقع التحاب بینهم (بحر ج ۷ صـ ۱۴۸) یا مطلب

دا دے چه تاسو د خپلو اسلافو سره د محبت او عقیدت د وجے نه د هغوئ په شکل بتان جوړ کړیدی او د هغے عبادت کوئ۔ ان الاوثان اول ما اتخذت بسبب المودة وذلك انه کان اناس صالحون فماتوا واسف علیهم اهل زمانهم فصوروا احجارا بصورهم حبالهم فکانوا یعظمونها فی الجملة ولم یزل تعظیمها یزداد جیلا فجیلا حتی عبدت فالآیة اشارة الی ذلك فالمعنی انما اتخذتم اسلافکم من دون الله اوثانا الخ (روح ج ۲۰ ص۱۵۰)

۲۱ په دنیا کښ تاسو د تعلق او محبت د پاره د باطلو معبودانو عبادت کوئ لیکن د قیامت په ورځ به تاسو د یو بل نه بیزاره یئ او په یو بل به لعنت لیږئ یعنی معبودان به د خپلو عبادت کوونکو نه او گمراه پیشوایان به د خپلو تابعدارانو نه بیزاره وی او عوام به د خپلو گمراه پیرانو نه او شرک ورزده کوونکو مشرانو باندے به لعنت لیږی۔ تتبرأ الاوثان من عابدیها وتتبرأ القادة من الاتباع ویلعن الاتباع القادة (خازن ومعالم ج ۵ ص۱۵۸) او تاسو ټول به جهنم ته ځئ او د جهنم د اور نه به تاسو هیڅوک هم بچ نه کړے شی (وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ) یخلصونکم منها کما خلصنی ربی من النار التی القیتمونی فیها (ابو السعود ج ۲ ص۲۹۰)۔

۲۲ لوط علیه السلام د حضرت ابراهیم علیه السلام د وروره هاران بن تارخ ځوئے وو هغه د حضرت ابراهیم علیه السلام په نبوت بلا تأمل ایمان راوړو او د هغه د ټولو خبرو تصدیق ئے اوکړو۔ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ ای الی الجهة التی امرنی ربی بالهجرة الیها (روح ج ۲۰ ص۱۵۲)۔ یعنی د الله د حکم مطابق هجرت کوم چرته چه د تللو حکم وی هلته ځم دے هجرت کښ لوط علیه السلام او د هغه ښځه ساره د هغوئ سره وه هغوئ د کوثے نه حران ته او بیا د حران نه د شام ملک ته هجرت اوکړو او د فلسطین په یو ښار کښ اوسیدل (روح وغیره) حضرت ابراهیم علیه السلام د توحید د مسئلے په خاطر هجرت اوکړو د مشرکانو د ضرره رسولو په وجه ئے خپل وطن پریښودو او د شام زمکے ته لاړل۔ ایمان والؤ تاسو هم تیار اوسیږئ تاسو له به هم د خپل دین او ایمان او توحید په خاطر هجرت کول وی۔ ۲۳ ابراهیم علیه السلام د توحید په خاطر لوئے مصیبتونه برداشت کړل موږ هم د دین او د دنیا نعمتونه په هغه پوره کړل. د اسحٰق په شان لائق ځوئے او د یعقوب غوندے نوسے مو ورکړو او نبوت مو د هغه په اولاد پورے خاص کړو او د دنیا دولت مو هم ډیر زیات ورکړو او په دنیا کښ مو د هغه نوم همیشه ژوندے پاتے کړو یا ټول دینونو والا هغه خپل پیشوا گنړی۔ فَلَمْ یَبْعَثِ اللهُ نبیا بعد ابراهیم الا من صلبه ..

..... اهل الملل كلها تدعيه وتقول هو منا ---- ان اهل كل دين يتولونه (قرطبي ج ۱۳ ص۳۴۳). او په آخرت کښې به هغه دَ الله دَ نزدے بندګانو په درجاتو باندے فائز وی. ۲۴ دا اوله قصه ده او متعلق ده دَ اولے دعوے سره. دَ لوط علیه السلام قوم دَ فطرت نه خلاف کار کښې مبتلاء وو دُنیا کښې دَ دے فاحشه ابتداء دَ دے قوم نه اُوشوه مَا سَبَقَكُمْ بِهَا الخ یعنی ستاسو نه مخکښې دا بد کار هیچا نهٔ دے کړے. اِئِنَّكُمْ لَتَأْتُوْنَ الخ تاسو دومره زیات بے باک شوی یئ چه دَ مسافرو لارې نیسئ او هغوئ هم دَ خپل نفسانی خواهش ښکار ګرځوئ یا مراد ډاکه اچول دی. تَقْطَعُوْنَ السَّبِيْلَ بالقتل واخذ المال كما هو عمل قطاع الطريق وقيل اعتراضهم السابلة بالفاحشة (مدارك ج ۳ ص۱۹۶)

أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُوْنَ الرِّجَالَ وَتَقْطَعُوْنَ السَّبِيْلَ ۙ

آیا تاسو راتلل کوئ سړو ته او شوکوئ لارے ۲۵

وَتَأْتُوْنَ فِیْ نَادِيْكُمُ الْمُنْكَرَ ۭ فَمَا كَانَ

او کوئ په خپلو مجلسونو کښې ناکاره کار. بیا نهٔ وُو

جَوَابَ قَوْمِهٖٓ إِلَّآ أَنْ قَالُوا ائْتِنَا

جواب دَ قوم دَ هغهٔ لیکن دا چه وے وئیل راوله مونږ ته

بِعَذَابِ اللّٰهِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۹﴾

عذاب دَ الله که چرے ته ئے دَ رښتینو نه.

قَالَ رَبِّ انْصُرْنِیْ عَلَى الْقَوْمِ

وے وئیل اے ربه ځما امداد اوکړے ځما پدے قوم (خلقو)

الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۳۰﴾ ع وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ

فساد کوونکو باندے ٥. او کله چه لاړل اُورسیدل لیږلے شوی ځمونږ

إِبْرٰهِيْمَ بِالْبُشْرٰى ۙ قَالُوْٓا إِنَّا مُهْلِكُوْٓا

ابراهیم ته زیری آوړونکو سره وے وئیل مونږ هلاکوونکی یو

أَهْلِ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ ۖ إِنَّ أَهْلَهَا

د دې کلي والا بېشکه د هغې خلق

كَانُوا ظَالِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ۚ

وو ګنهګار . وې وئیل دیکښ لوط هم دے .

قَالُوا نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَنْ فِيهَا ۖ لَنُنَجِّيَنَّهُ

هغوئ اووئیل مونږ ته ښه معلوم دي خوک چه په دیکښ دي ، مونږ به خلاصے ورکړو هغه ته

وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ ﴿٣٢﴾

او د هغه کور والو ته لیکن د هغه ښځه چه وي به په روستو پاتے کیدونکو کښې .

وَلَمَّا أَنْ جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيءَ

او کله چه راورسیدل ځله لیږلے شوی زمونږ لوط ته خفه شو

بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالُوا لَا

په هغوئ راتلو او تنګ شو په زړه کښې او هغوئ اووئیل مه

تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ ۖ إِنَّا مُنَجُّوكَ

ویریږه او مه غم کوه مونږ به خلاصے درکړو تا ته

وَأَهْلَكَ إِلَّا امْرَأَتَكَ كَانَتْ مِنَ

او ستا د کور خلقو ته مګر ښځه ستا پاتے شوه په

الْغَابِرِينَ ﴿٣٣﴾ إِنَّا مُنْزِلُونَ عَلَىٰ أَهْلِ

پاتے کیدونکو کښې ۔ مونږ نازلوونکي یو په دے

هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا مِنَ السَّمَاءِ

کلي والو باندے یو عذاب د آسمان نه

بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿٣٤﴾

په دے خبره چه هغوئ نافرماني کوونکي وو .

موضح قرآن
ف لاره وهل (شوکه ډاکه) هم د هغوئ دستور وو یا هم دے بد کارئ سره به ئے د مسافرو لارې وهله چه دے طرف ته به هغوئ د خپل عفت او عصمت له ویرے نه ؤ راوتل او په مجلس کښ بد کار شائد چه هم دا بد کاری به ئے د خلقو سره کری وی د دے خبرے شرم به ئے هم نه کولو. یا د هغے نه زیات به ئے تور هم توقے استهزاء لاس اچول او د بے شرمئ خبرے ئے کولے.
ف دے په دے خفه شو چه دا میلما نه څنګه بچ کړی د خپل قوم د بد کارئ نه

تفسیر:
۲۵ ستاسو بے حیائی دے حد ته رسیدلے ده چه تاسو په ډک مجلس کښ هم د دے بد کار کولو نه شرمیږئ.
ای اتیان الرجال فی مجالسهم یری بعضهم بعضا قاله منصور ومجاهد والقاسم بن محمد وقتادة وابن زید (بحر ج ۷ ص۱۵۱) د حضرت لوط علیه السلام وعظ نصیحت په هغوئ هیڅ اثر اونه کړو. فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ الخ او هغوئ لوط علیه السلام ته جواب ورکړو چه مونږ خو د دے بد کار پریښودو نکی نه یو که چرے ته رښتیا وائے چه د دے بد فعل په وجے سره به د الله عذاب راځی نو هغه عذاب راوله په هغے کښ ولے روستو والے کوئ. قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي الخ آخر لوط علیه السلام د الله تعالیٰ نه د دے مفسد او سرکش قوم د هلاکولو درخواست اوکړو.
۲۶ الْبُشْرَىٰ نه یا خو د ځوئے د پیدائش زیرے مراد دے یا د لوط علیه السلام د قوم هلاکت او د لوط علیه السلام د نجات زیرے مراد دے بالبشری ای بالبشارة بالولد والنافلة (روح ج ۲۰ ص۱۵۵) استنصر لوط علیه السلام ربه فبعث علیهم ملائکة لعذابهم فجاءوا ابراهیم اولا مبشرین بنصرة لوط علی قومه (قرطبی ج ۱۳ ص۳۳۳) کله چه ځمونږ فرشتے زیری راوړلو سره حضرت ابراهیم علیه السلام ته راغلے نو هغوئ ته ئے اوئیل مونږ د لوط علیه السلام د کلی د خلقو هلاکولو د پاره راغلی یو ځکه چه دا خلق د حد نه تجاوز کوونکی دی او ډیر بے انصاف دی. قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا الخ ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل دوئ کښ خو لوط هم موجود دے. فرشتو جواب ورکړو لوط علیه السلام او د هغهٔ نه علاوه هم چه څا ایمان راوړیدے او په دے کلی کښ موجود دی مونږ ته هغه ټول معلوم دی مونږ به هغه ټول بچ کړو لیکن د لوط علیه السلام ښځه به د مشرکانو سره هلاکیږی ځکه چه هغه هم مشرکه ده. د لوط علیه السلام قوم د نورو بدو عملونو سره شرک هم کولو. د شرک او نورو بدو عملونو په سزاء کښ الله تعالیٰ هغوئ هلاک کړل. عن ابن عباس قال ان قوم لوط کانت فیهم ذنوب

غیر الفاحشة .... ومع هذا کله کانوا یشرکون باللّٰه (قرطبی ج ۱۳ ص ۳۴۲).

۲۴ کله چه فرښتې لوط علیه السلام ته راورسیدلې نو هغوئ چونکه ډیر زیات ښکلې ځوانانو په شکلونو کښ راغلي وے ځکه دے وجې نه هغه دا اونه پیژندلے چه دا فرښتې دي او د خپل قوم د بد عادت د وجې نه ډیر زیات غمژن شو او د میلمنو د بے عزتئ د ویرې نه ئے زړۀ ډیر زیات خفه شو. قَالُوا لَا تَخَفْ الخ فرښتو د لوط علیه السلام خطره او ویره معلومه کړه او وے وئیل چه تاسو مۀ ویریږئ او مۀ غمژن کیږئ مونږ خو د اللّٰه فرښتې یو. اِنَّا مُنْزِلُوْنَ الخ او ستا د قوم د نافرمانئ او ګناهونو د وجې نه د هغوئ د عذاب د پاره راغلي یو تا لره او ستا تابعدارانو به بچ کړو او باقي ټول قوم به ستا د ښځې سره هلاک کړو.

وَلَقَدْ تَّرَكْنَا مِنْهَاۤ اٰيَةًۢ بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ

او پرېښودله مونږ د هغه نښه ښکاره د پاره د داسے قوم

يَّعْقِلُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۙ

چه هوښیار وي ـ او اُولیږلو (اهل) مدین ته ئ۬له روړ د هغوئ شعیب

فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَارْجُوا الْيَوْمَ

بیا ئے اووئیل اے قومه ځما عبادت کوئ د اللّٰه او اُمید اُوساتئ (د ثواب) د ورځے

الْاٰخِرَ وَلَا تَعْثَوْا فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿۳۶﴾

روستنئ او مۀ ګرځئ په زمکه کښ فساد کوونکي وئ ـ

فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا

بیا ئے هغه دروغژن اوګڼلو ځه نو اُونیول هغوئ زلزلے بیا صبا له پاتے شول

فِىْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿۳۷﴾ وَعَادًا وَّثَمُوْدَا۠

په خپلو کورونو کښ پرېوتلي په ګنډونو. او هلاک کړل مونږ عادیان او ثمودیان ئله

وَقَدْ تَّبَيَّنَ لَكُمْ مِّنْ مَّسٰكِنِهِمْ ۛ قف

او ښکاره شویدے تاسو ته د هغوئ حال د کورونو د هغوئ نه

وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ

و ښائسته کړل هغوئ ته شیطان د هغوئ کارونه بیا ئے منع کړل هغوئ

عَنِ السَّبِيْلِ وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ ﴿۳۸﴾

د لارې نه او وو هغوئ هوښیار ف۳

نکات: ۱ـــ تخلوره مه قصه متعلق ده د دویمې دعوې سره ۱۲۔
۲ـــ پنځمه او شپږمه قصه متعلق ده د دویمې دعوې سره ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ یعنی هغه ښارو د لارې نه (مکې والوته) البته کرې شوې په نظر راځي او وینې۔ ف۲ د دوئ عبادت وو دهوکه بازي، په معامله او راکړه ورکړه کښ چه سود او غیر مشروع گټه به ئے خوړله لیکن داهم امکان لري چه غلا او لار به ئے هم شوکوله ف۳ یعنی د دنیا په کارو کښ هوښیار وو او په خپل گمان کښ هوښیار او عقلمند وو بیا د شیطان د غولولو او دهوکه کولو نه بچ نۀ شول۔

تفسیر: ۲۸ـــ مونږ د دې قوم د هلاکت او تباهئ نشانات باقي پریښودل دې د پاره چه عقل او بصیرت لرونکي د دینه عبرت حاصل کړي۔ د نشانئ نه د هغوئ د برباد شوو باقي پاتې آثار مراد دي یا تورې اوبۀ چه هلته د زمکې نه راښکاره شوې۔ یا هغه کاڼي چه په هغوئ اوورولے شو۔ ځنې مفسرین لیکلي دي کۀ دا ټول مراد دي تو دې کښ څۀ تعارض نشته (قرطبي) تر دې ځائے پورې د حضرت لوط علیه السلام قصه وه چه بالذات د اولې دعوې سره متعلق ده۔ دې سره دا ښودل مقصود دي چه لوط علیه السلام ته د حق دین په خاطر د سرکش قوم په لاسو توکوم کوم قسم تکلیفونه او ضررونه اورسیدل۔ اے د ایمان والو په تاسو باندې به هم ازمائښتونه راځي ضمنًا دویمه دعوی هم د دینه ثابتیږي چه دا سرکش او په فسق او فجور کښ غرق قوم ځمونږ د عذاب نه بچ نۀ کړې شو۔
۲۹ـــ دا تخلوره مه قصه ده او د دویمې واقعې سره متعلق ده یعنی د مشرکانو داخیال غلط دې چه هغوئ به ځمونږ د نیولو نه بچ پاتې شي۔ د شعیب علیه السلام قوم ډیر طاقتور او سرکش وو۔ د شرک نه علاوه ظلم بے انصافي او بد دیانتي او د خلقو حق تلفي د هغوئ عادت وو۔ حضرت شعیب علیه السلام د دغه کارونو نه منع کړل او وې فرمائیل صرف د یو الله عبادت کوئ او هغۀ سره شرک مۀ کوئ د قیامت د ورځے حساب نه

او ویر یږي او ظلم او بې انصافۍ سره په زمکه باندې شر او فساد مه پیدا کوئ. وَارْجُوا الْيَوْمَ الْاٰخِرَ اخشوا اليوم الآخر وخافوه (خازن ج ۵ صـ۱۵۸)

ــ۳۰ هغوئ په خپل طاقت، قوت، دولت، رعب او دبدبه کښې بیهوشه وو. د شعیب علیه السلام د پاصحانه تبلیغ او تعلیم په هغوئ هیڅ اثر او نه شو او هغوئ هم هغه شان په تکذیب او انکار باندې ټینګ ولاړ وو.

فَكَذَّبُوْهُ ای اصروا علی التکذیب (قاله الشیخ رحمه الله) د هغوئ خیال وو چه هغوئ د الله د ګرفت نه بهر دي. فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ الخ لیکن الله تعالی د الرَّجْفَةُ په صورت کښې په هغوئ عذاب نازل کړو چه هغې سره د هغوئ زړونه اوشلیدل او هغوئ په خپلو کورونو کښې په ګونډو پړمخې پراته وو. الرَّجْفَةُ نه سخته زلزله یا د جبرائیل علیه السلام هیبت ناک اواز مراد دې. الرجفة الزلزلة الشدیدة او صیحة جبریل علیه السلام لان القلوب رجفت بها (مدارک ج ۳ صـ۱۹۶)

ــ۳۱ دا د قوم عاد او ثمود قصو طرف ته اشاره ده او دا دواړه قصې هم د دویمې دعوې سره متعلق دي دا مشهور او معروف قومونه د دوئ هم دا خیال وو چه هیڅوک د دوئ هیڅ نقصان نشي کولې لیکن د مکې مشرکانو! د هغوئ تباه شوی کلي او د هغې کنډرې نن په زبان حال سره د هغوی د بربادئ خبرې بیانوی. وَزَيَّنَ لَهُمُ الخ شیطان د هغوئ مشرکانه اعمال او قبیح افعال د هغوئ په نظرونو کښې خائسته او مستحسن اوګرځول او هغوئ ئې په سمه لیګه لاره روان نه منع کړل حال دا دې چه هغوئ عقلمند وو که چرې هغوئ د عقل او فکر نه کار اخستې وې نو په حق او باطل کښې به ئې تمیز کړې وې. مستبصرین ای عقلاء یمکنهم التمییز بین الحق والباطل بالاستدلال والنظر ولکنهم اغفلوا ولم یتدبروا (روح ج ۲۰ صـ۱۵۸)

وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ ۣ قف وَلَقَدْ

او هلاک کړو مونږ قارون او فرعون او هامان ــ۳۲ او یقیناً

جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ فَاسْتَكْبَرُوْا

راغې هغوئ ته موسیٰ ښکاره نښانانو سره بیا ئې لوئي شروع کړه

فِى الْاَرْضِ وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ ﴿۳۹﴾

په ملک کښې او نه وو ځمونږ نه خلاصې مونده ونکي.

فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنبِهِۦ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ

بیا ټول او نیول مونږ په خپله خپله ګناه پاندے بیا ځینې دوئ کښې وو

أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا ۖ وَمِنْهُم

چه راؤرول مونږ کاڼړي په هغوئ پاندے هوا سره او ځینې وو

مَّنْ أَخَذَتْهُ ٱلصَّيْحَةُ ۖ وَمِنْهُم مَّنْ

چه هغوئ لره اونیول چغې او ځینې وو چه

خَسَفْنَا بِهِ ٱلْأَرْضَ ۖ وَمِنْهُم مَّنْ

ننه ویستل مونږ په زمکه کښې او ځینې وو چه

أَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ

مونږ هغوئ غرق کړل او نه وو الله چه ظلم ئے اوکړے په دوئ پاندے

وَلَٰكِن كَانُوٓا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٠﴾

بیا هغوئ وو په خپلو ځانونو پاندے ظلم کوونکي .

مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا مِن دُونِ ٱللَّهِ

مثال د هغه خلقو چه اونیول الله پریښودلو سره

أَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلْعَنكَبُوتِ ۖ ٱتَّخَذَتْ

نور دوستان په مثال د جولاګۍ دے چه جوړ کړے ئے وي

بَيْتًا ۖ وَإِنَّ أَوْهَنَ ٱلْبُيُوتِ لَبَيْتُ

کور، او په ټولو کورونو کښې کمزورے نو هغه کور

ٱلْعَنكَبُوتِ ۖ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ إِنَّ ٱللَّهَ

د جولاګۍ دے که چرے هغوئ پوهیدے ئ ما . الله ته

يَعْلَمُ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ مِن شَىْءٍ ۚ

معلوم ده ټول هغه چه دوئ ئے رابلي د هغه نه سوا هر څه چه دي ،

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٤٢﴾ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ

او هغه دے غالب حکمتونو والا ف. او دا مثالونه

نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا

بیانوو مونږه خلقو ته او نه دے پوهیږی هغه څوک چه

الْعَالِمُونَ ﴿٤٣﴾ خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ

پوهه ورسره ده. پیدا کړو الله آسمان

وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً

او زمکه ئے ښځاله چه مناسب وو، دے کښ دلیل (د قدرت) دے

لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٤﴾

یقین کوونکو د پاره ف.

نکات: ۱. اومه قصه متعلق ده د دویمے دعوے سره ۱۲. ۲. دا د سورت مرکزی دعوی ده ۱۲. ۳. د توحید په دعوی باندے اولنے عقلی دلیل ۱۲.

موضح قرآن ف۱ یعنی کور د دے د پاره دے چه د ځان او مال د بچاؤ حفاظت په کښ وی تو د جولاګی (غنړی) کور ته کور نه شی وئیلے ځکه چه په یو معمولی حرکت او خوزولو سره شلیږی هم دا شان مثال د هغه کسانو دے څوک چه د الله نه سیوا بل څوک د خپلو ځانونو د پاره د حفاظت ذریعه ګڼړی. ف۲ یعنی آوریدونکی به تعجب کوی چه ټول ئے په یو همساء اوشړل (په یو ځنځیر کښ ئے اوتړل کوم یو ئے مستثنی نه کړو) ځنی خلق د بُت عبادت کوی. ځنی د اور او بو، ځنی اولیاؤ او انبیاؤ یا د فرشتو نو الله اوفرمائیل چه الله ته ټول معلوم دی که چرے کوم یو څه کولے شوے نو الله به ټول په یو قلم نه موقوف کول الله ته د هیچا د ملګرتیا او امداد ضرورت نشته غالب او طاقتور دے د هیچا مشوره ته ئے ضرورت نشته ځکه چه هغه حکیم مطلق دے. ف۳ یعنی په دے کار کښ څوک هم هغه سره شامل نه وو نو په وړوکو (معمولی) کارونو کښ هغه ته د چا د شریکولو څه حاجت او ضرورت دے.

فتح الرحمن ف۱ حاصل د مثال دا دے چه دوئ بتان حفاظت کوونکی پناه ورکوونکی ګرځولی دی او بتان هیڅ نفع

نهٔ شي ورکولے لکه چه دَ جولاکور هيڅ فائده ورکوونکے نهٔ دے ۱۲۔

تفسیر

۳۲ دا اووَمه قصّه ده او دَ دویمے دعوے سره متعلق ده هغوئ ته موسیٰ علیه السلام دلائل او ښکاره معجزات سره راغلے۔ دغه خلق دَ دولت او حکومت په نشه کښ بیهوش وو دَ هغهٔ خبره یې کله منله او کله یې اوریدله۔ هغوئ دَ حق قبلولو نه تکبر اوکړو۔ دَ هغوئ خیال ووچه دَ الله دَ گرفت نه ووځي او هغهٔ ته په لاس ورنشي لیکن په هغوئ کښ هیڅوک هم بچ نهٔ شو۔ فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنْبِهِ۔ مونږ ټول اونیول او دَ هغوئ دَ گناهونو عبرتناکه سزا هم په دنیا کښ هغوئ ته ورکړه۔ دَ دے څلورو قومونو دَ ذکرنه روستو یې اوفرمائیل وَمَا كَانُوا سَابِقِينَ۔ دینه معلومه شوه چهٔ دا څلور قِصّے أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ أَنْ يَسْبِقُونَا سره متعلق۔ څنی قوم خوحاصب یعنی دَ باد په طوفان سره هلاک کړے شو مراد دَ لوط علیه السلام قوم دے څنی په صیحه (چغه) سره دینه اهل مدین او ثمود مراد دے۔ څنی په زمکه کښ ننه ویستل شو یعنی قارون او څنی په اوبو کښ غرق کړے شول او دینه فرعون او دَ هغهٔ قوم مراد دے۔ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ الخ دا قومونه په قسم قسم عذابونو هلاک کړے شول الله په دوئ ظلم اونکړو بلکه هغوئ پخپله کفر او معاصي اختیار کړل په خپلو ځانونو باندے یې ظلم اوکړو۔ الله تعالیٰ خو پیغمبران رااولیږل او کتابونه یې نازل کړل هغوئ ته یې حق واضح کړو لیکن هغوئ دا قبول نکړل۔ دا دَ دغه استکبار او حق نه دَ انکار سزا ده ۱۲

۳۳ دا دَ سورت مرکزي دعویٰ ده یعنی کله چهٔ ټول هرڅهٔ کوونکے او په ټول هرڅهٔ خبردار الله تعالیٰ دے نو په مصیبتونو او مشکلات کښ حمایتي او کارساز هم صرف هغه دے۔ دے دعویٰ باندے په یو ډیر واضح مثال سره خلق پوهه کړل۔ کوم خلق چهٔ په مصیبتونو او مشکلات کښ دَ الله نه سوا نور یې حمایتیان او کارسازګنړي دَ هغوئ مثال دَ جولاګۍ ښان دے چهٔ دَ ډیر باریک، اوکمزورو تارونو نه جال او بونړي دَ خپل ځان دَ پاره کور جوړ کړي۔ دَ جولاګۍ دا کور ډیر کمزورے وي چهٔ نهٔ دَ یخنۍ نه بچ کولے شي نهٔ دَ ګرمۍ نه نهٔ دَ باد باران نه۔ بعینه هم دا حال دَ غیرالله دَ پناه او دَ باطل معبودانو دَ امداد دے هغوی هم دومره زیات کمزوري دي چهٔ په هیڅ یو مصیبت کښ دَ هیچا په کار نهٔ شي راتلے۔ دے مثال کښ دَ شرک تشبیه دَ جولاګۍ سره ورکړے شوې ده او دَ غیرالله دَ حمایت او پناه دَ جولاګۍ دَ جال سره ورکړے شوې ده۔ (اتَّخَذَتْ بَيْتًا) لنفسها تأوي اليه وان بيتها في غاية الضعف والوهن لا يدفع عنها

حرا ولا بردا فكذلك الاوثان لا تملك لعابديها نفعًا ولا ضرًا (معالم وخازن ج ۵ صـ۱۷۵)

۳۴ یعنی په ټول هر څه خبردار الله تعالی دے او مشرکان چه څوک رابلی نو هغوئ د دغه رابلونکو د حالت نه هم خبرنهٔ دی نو بیا هغه وے رابلی بیا هغه حکیم او غالب هم دے د دے وجے نه علیم او خبیر او عزیز او قدیر پریښودل او عاجز مخلوق کار ساز گنړل په حاجتونو کښ غائبانه رابلل کومه عقلمندی او هوښیار توب دے وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ الخ مونږ مثالونه ورکولو سره خلق د توحید په مسئله بان دے پوهه وو لیکن د دے کښې غور فکر هغهٔ خلق کوی څوک چه راسخ فی العلم وی او عقل او بصیرت لری.

۳۵ دا پهٔ مرکزی دعوی د توحید بان دے اولنے عقلی دلیل دے الله تعالی زمکه او آسمان او ټول کائنات پیدا کړل د حق ظاهرولو د پاره د کائنات ذره ذره د هغهٔ پهٔ وحدانیت او قدرت کامله بان دے دلالت کوی (بِالْحَقِّ) ای للحق و اظهار الحق (معالم وخازن ج ۵ صـ۱۷۶) انها مع اشتمالها علی جمیع ما یتعلق به معاشهم شواهد دالة علی شئونه تعالی المتعلقة بذاته وصفاته (ابو السعود ج ۶ صـ۴۹) ایمان والو د پاره دے کښ ډیر لوئے دلیل دے. د مؤمنانو تخصیص دے د پاره او شوچه د دے نه استفاده صرف هغوئ کوی. هسے خو د هر غور او فکر کوونکی ذهن دے سره د الله په وحدانیت او د هغهٔ لوے قدرت ته رسیدل حاصلولے شی.

نن په ۲۹ ربیع الثانی ۱۴۲۸ھ په ورځ د زیارت د څلورم جلد کتابت ختم شو
بفضل الله تعالی



وحیدی کتب خانہ

قصہ خوانی بازار پشاور